نور الایضاح

مولانا ابو الفضل علامۃ الدہر

محمد عبید اللہ الایوبی

القندھاری السلیمانخیلی الحنفی

کتبہ ورتبہ بقلمہ

محمد فضل الحق حقانی

مدرس جامعہ تجوید القرآن کوئٹہ

پروپرائٹر
شمس الحق شمس

مکتبۃ القراۃ والتجوید
کانسی روڈ شالدرہ نزد مسجد نور کوئٹہ

Maktaba Tul Ishaat.com


Maktaba Tul Ishaat .com


تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

بسم الله الرحمن الرحیم

من یرد الله به خیرا یفقهه فی الدین

الحمد لله چی پـه دی زمانه کی خدای تعالی د دی بنا بسته کتاب
یعنی پښتو نور الایضاح سره د مسئلو د طبع توفیق راکړ

نور الایضاح

پښتو

مع مسائل جدیده

حقانی کمپیوټر سنټر
هرقسم کتابت و الطباعت

وقد کتبه ورتبه بقلمه
محمد فضل الحق حقانی
مدرس جامعه عربیه مرکزیه تجوید القرآن
کوئټه

تالیف

الحاج ابو الفضل مولانا محمد عبد الله الایوبی القندهاری النقشبندی الحنفی

الناشر
مکتبة القراءة والتجوید
کانسی روډ شالدره کوئټه

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

اَلحمدُ للہ وَحدہ وَالصَّلوٰۃ وَالسلامُ عَلیٰ مَنۡ لَّانَبِیَّ بَعدَہٗ۔ اما بعد محترمو مسلمانانو ورونړو، اوخویندو، مشرانو اوکشرانو، د اللہ تبارک وَتعالیٰ شکر ادا کوم چې دہ جَلجَلالہٗ راته د لیکلو توفیق راکړ:

حضرت ابوالفضل الحاج محمد عُبید اللہ ته دې رب کائنات صحت او ژوند وړله عطا کړي إن شَاءَ اللّٰهُ ثُمَّ إن شَاءَ اللّٰهُ د افغانانو د زړونو ارمانونه به وړپوره کړي. ولې چې حضرت ایوبي خپل د ژوند پاتې برخه خاص اوخاص د داسې شروحو اوتراجمو دپاره وقف کړې ده. چې د هغوی نه د عامه وهرخاص وعام، هرخواننده او هر نر او ښځې، هر مشر او کشر ته ور سیږي.

محترمو لوستونکو:

هغه افغانان چې په بهرنیو هیوادونو کې ژوند تیروي. د هغو دپاره د حضرت ایوبي تصانیف دیوه مستقل استاذ کامل حیثیت لري. داخو لا څه چې د هغو دپاره د حضرت ایوبي تصنیفونه په ډول ډیوی عظیمې تحفې لیږل کیږي.

یوه لویه خوشخبري

ګرانو لوستونکو هم دا اوس اوس حضرت ایوبي زما فضل الحق حقاني سره داوعده کړیده. چې إن شَاءَ اللّٰهُ العزیز نکاح قدوري یعنې قدوري جلد ۲ دوهم به هم په تفصیل سره پښتو کوم ولې چې د نکاح، طلاق، اورضاع، مسئلې ډیرې مشکلې دي او عوام ډیر زیات په مبتلا دي خدای پاک دې ده ته د تصنیف کولو اوماته د لیکلو توفیق راکړي، نور موبر لوی خدای جل جلالہٗ ته سپارو.

ستاسو ورور محمد فضل الحق حقاني
مدرس جامعه عربیه مرکزیه تجوید القرآن کوئټه

الناشر
مکتبة القراءت والتجوید
کانسي روډ کوئټه

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

اَلحَمدُ لِلّٰہِ رَبِّ العٰلَمِیۡنَ وَالصَّلوٰۃُ وَالسَّلَامُ عَلیٰ سَیِّدِ الاَنۡبِیَاءِ وَالمُرۡسَلِیۡنَ وَعَلیٰ اٰلِہٖ وَاَصۡحَابِہٖ اَجۡمَعِیۡنَ»

خوارہ خوارہ بیتونه د عُبید عاصي له خوا

که ثنا د خدای پاك وایمه شرمیږم ... او کې نه وایم د خدای څخه بیریږم
نعمتونه د خدای پاك پر ما عاصي ... دونه ډیر چې په حساب یې نه رسیږم
هر نعمت چې زما د حاله مناسب دئ ... خدای راکړي دي وماته زه پوهیږم
ددې دونه نعمتو ثنا په خوله زما ... نه کیدونکې او نه زه پسې رسیږم
کم نعمت د خدای پاك یاد کړم زه په خوله ... څوك مې هیر دي او بعض یاد لرم په زړه
د ثنا ویل نعمت هم د خدای پاك دئ ... پر ثنا شاویل طاقت د چا دئ
بیا د زما جزوي ثنا دي خدای منظور کړي ... د کریم په لوی دربار کې دي قبول کې
چونکه عجز د بنده د خدای پاك خوښ دئ ... دا زما عجز مسکنت دي خدای پاك خوښ کړي
معاصي او ګنهونه زما ای خدایه ... تر حد ډیر دي زه به څه کړم باري خدایه
مغفرت او لوی رحمت ته ستا امید دئ ... چې دا ټول له ماته وبخښې یو ځایه
دا ثیا کاله په عمر کښې چې زما دئ ... سترګې دید کړي زړه ادراك سمع غوږونه
پښې روانې پر هر لوري مې زړه غواړي ... دوا ړه لاسه اماده وخپل کار ته یې اراده
ددې قسمه خارجي نعمت هم ډیر دئ ... ددې ټولو شکر ویل مشکل ښکاریږي
کریم ده لَئِنۡ شَکَرۡتُمۡ چې راپیاد کړم ... د اخر څخه مې زړه په لرزه کیږي
د عُبید د خوشحالۍ به هغه وخت وي ... چې د نفس مطمئنه زیری پرې کیږي

Maktaba Tul Ishaat.com

درود پر احمد مجتبیٰ صلی اللہ علیہ وسلم

پس له حمد درود وایم پر احمد مجتبیٰ — چې سید المرسلین دی او محمد مصطفیٰ
شفاعت د ټوله امت به کوی څوک — هغه څوک چې دی محمود مرتضیٰ
په سجده کی د امت غم به کی څوک — هغه څوک چې دی حامد مقتدیٰ
پس له خدایه غیرت مندسړی دی څوک — هغه څوک چې د نبیانو دی پیشوا
د یَآ اَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا صَلُّوۡا عَلَیۡهِ انعام د چا — هغه څوک دی چې اول دی په ویلو د بلیٰ
محبت د هغه چا سره کړه ورور ه — چې په سخت حالت کی ستاوی راهنما
د عُبَید د خوشحالی وخت به هغه وي — چې قبول سی په دربار کښی د پیشوا
لمن تینګه د احمد به عُبَید نسی — چې یوه دیوال تی مخ وبل تی شا

پس له حمده له صلوته — دا رنګ وایم زه وټاته
چې طلب د علم فرض دی — لازم سوی تکه قرض دی

" رشید بیان "

پوه سه چې پر هر اد بنځی هغه قدر علم اوزده کړه فرض عین دی چې دی د هغو کار و په کولو مکلف دي یا اجمالاً لکه اجمالی عقائد چې په آمنت بالله ته کښی ذکر سوی دي = او یا تفصیلاً لکه او د اسې علم اوده لمانځه علم او غنی سړی ته احکام د زکوٰة صدقه فطر اضحیه د احکامو زده کړه او د هر زنګه د حج د احکامو علم حتی پر بنځه باندی زده کړه د احکامو د حیض او نفاس هم فرض عین ده = نا ټه د زده کړه او علم هیڅ دانه ده
چې هر اد بنځه خواه د فقهی شریفی کتابونه وایي بلکه د خولی څخه د علماوو هم زده کړه دد غو شیانو کافی ده
شکایت بعض واعظان په خپلو مساجدو کښی هغه قصې بیانوي چې خلګ پروتراړي او د ته مقبولیت په عوامو کښی پیدا سی اواو د اسې غسل لمانځه وغیره احکام نه بیانوي = او نه پوهیږي چې عوام د دغو احکامو ته سخت ضرورت لري والی الله المشتکی = منه

دَ نورُ الایضاح د پښتو شرح ضرورت څرُوو!

پوه سه: چې نور الایضاح په فقه حَنیفی کښی یو معتبر او د اعتماد وړ کتاب دی. او پر صحیح احکامو د فقه شریفی مشتمل دی، او په عین حال کښی ډیر مُغلق او سخت کتاب دی.

متأسفانه دا کتاب جلیل الشانه وړو مبتدی بلکه کچنی هلکانو ته ویل کیږی یعنی تر شروط الصلوٰة او قدوری وروسته دا کتاب و درس ته داخلیږی، او ددی سره سره چې لوستونکی یې کوچنیان دی، ښوونکی یې هم هغه طالبان یا امامان دي، چې هغو د فقهی حنیفی د مسائلو څخه بیخی ناخبره وي،

نو د فوق الذکر حاله سره به د غو هلکان ددی کتاب څخه څه فائده واخلی؟ او څه فقه به زده کړي!

مَتَل، رُوند به ورانده ته څه لاره وښيي، نو هم له دی کبله و دی عاصی ته تحریکی مطالبی او شفاهی مطالبی د طالبانو د خوا څخه وړاندی سوی چې پر نُورُ الایضاح، د قدوری په شکل او د ول، چې تا په پښتو شرح پری کړیده هم هغه سی ترجمه او شرح پر وکړه. چې دا مشکل د تعلیم او تعلّم د نور الایضاح د ما بین و لاړ سی. عاصی چې د دوی په دې مطالبه کښی غور وکړی بیله لګیا کیدلو، می بله چاره و نه لیدله، اول ددی سبب چې په حدیث صحیح نبویؐ کښی راغلی دی. که چا د مستحقو کسانو څخه علم منع او پټ کړي په ورځ د قیامت بی داور ملونه په خوله کښی ورواچول سی. دوهم سبب دا دی چې دا خود دین خدمت او د ثواب کار دی.

دریم وجه دا ده، چې امکان لری بلکه غالبه ده چې هغه څوک چې ددی شرحې څخه فائده واخلی و ما عاصی ته به دعاء وکړی او د عاصی به سبب د مغفرت و ګرځي. څلرم دلیل دا دی، چې د خپلو پښتنو ورونړو او خوندو په خپل مورنۍ ژبه به خدمت د دین و ګرځي. حق محض کم نړ یا بنځه چې پښتو خط په زده وی د فقهی حنیفی پر ټولو احکامو بی علم راسی، او د ر بدری څخه به په امان سی، وَمِنَ اللهِ التوفیق

مُصنّف دَ نُورُ الایضَاح څولک دیٔ

حضرت المولی ابوالحسنات المولوی عبدالحی اللکهنوی رحمه الله دطربُ الاماثل بتراجم الافاضل،، په صفحه ۲۶۸ کښی داسی وائیٔ: الشیخ حسن بن عمار بن علی ابوالاخلاص المصری الشرنبلالی الفقیه الحنیفی،، دیٔ ،، دی وائیٔ چه دغه شیخ دلویو فقها وو او فاضلانو څخه دِ خپلی زمانی وو. اوپه فقه حنیفی کی یه تر ټولومتأخرینو بنه ملکه اوقوت یردرلودیٔ. او په قواعدو د فقه بنه خبر شخص وو. اوده په کشنو الی سبقان پرشیخ محمد الحمویؒ، اوپرشیخ عبدالرحمٰن المسیریؒ وئیلی دی. اوپه لوی والی یه ټول فقه د شیخ عبدالله النحریریؒ اود علامه محمد المحبیؒ څخه زده کړه کړیده. اود یرعلماء بیاد شیخ شرنبلالیؒ شاگردان دی چی ناموړی کسان یه دغه دی،،

العلامة احمد العجمیؒ والسید احمد الحمویؒ والشیخ شاهینؒ شاگردان دی چی ناموړی کسان دی اوهمدارنگه العلامة اسمٰعیل النابلسیؒ وغیرهؤلاء من الفقهاء رحمهم الله وللشرنبلالیؒ رسائل کثیرة نافعة وتصنیفات جلیلة ،، اولوی کتاب دده حاشیه ده پر دُرر وغرر ،، د ملاخسرو اوده په سنه ۱۰۶۹ه وفات سوی دی. اوعمریه تقریبًا ۷۵ کاله وو.

اود تصنیفاتو څخه د شرنبلالیؒ یو متن متین دی چی په فقه کښی چی دنور الایضاح په نامه شهرت لری. اود امتن تر بابُ الاعتکاف یعنی کړکه پوری دیٔ. اوبیاده پر دغه خپل کتاب دوی شرحی کړی دی. یوه غټه شرحه اوبله کشنی،، اوده د مختصری شرحی چی مراقی الفلاح په نوم دیٔ داسی لیکلی دی،، چی شروع د دغی مختصری شرحی په آخیر کښی د جمادی الاخیر یعنی وروستی خور اوختم یه په اولو ورځوکی د رجب د میاشتی وسو. چی تخمینًا یوه میاشت کیږی. او دا کتاب اوس موجود دی او یو مجلد کبیر دی،، چی زما خیال دی چی په شپږ میاشتی کی بی کاتب نوشته هم نه وکړی. اود اشرحه په سنه ۱۰۵۴ه سوی ده. اوهغه کوټی شرحه چی امداد الفتاوی یه نوم دی په سنه ۱۰۴۵ه په مابین کی د ربیع الاول یعنی نومړی خور اود مسوده ختم یه اخیر د رجب د میاشتی د دغه کال انجام سو.

اوده وئیلی دی چی زما اراده سوه چی عبادات خمسه پوره کړم په زیاتوالی د زکوٰة اوحج مختصرًا فقلتُ کتاب الزکوٰة آه

د روکیش وائی: چی بیا مولوی عبدالحیؒ د شیخ شرنبلالیؒ د رسائلو او تصنیفاتو ذکر مفصلًا کړی چی د لته ضرورت ورته نسته. دا اوو بیان د مصنف د نور الایضاح،،

وَلَيْسَ عَلَى اللهِ بِمُسْتَنْكَرٍ ۞ اَنْ يَجْمَعَ العَالَمَ فِي عَالِمٍ،،

همت بلند دارد کزز خدا و خلق ۞ باشد بقدر همت تو اعتبار تو ۞ مرزا غالبؒ

دا باران چی پر همه وو ځمکو ووری ۞ مشرف یه کی دا ذات کیمیا وَلی عبدالرحمٰن باباؒ

دَ فقه حَنیفی مَأخذ څه شیٔ دیٔ!

پوه سه: چی مبنیٰ د فقه حنیفی آیات قرآنیه دی چی تعداد د احکامی آیاتو یه ۵۰۰ ته رسیږی کذا فی التفسیرات الاحمدیة،، اوبل مأخذ یه احادیث نبویه ﷺ دی او اجماع دی او قیاسات صحیحه په مَذهب حنیفی کښی لویه برخه لری. اود اپه ټولو کتابو کښی دَ فقهی حنیفی یوه معلومه خبره ده،، او پوه سه ،، چی فقه حنیفی په اکثر احادیثو شریفه وو کښی پر روایت د عبدالله بن مسعودؓ مبنیٰ ده. او ناموړی یو صحابی جلیل القدر حافظ الحدیث وو اوپه عین حال کښی ستر مجتهد هم وو، د تاریخ پاڼی دده د منا قبو ډکی دی،، چی تفصیلًا بیان یه په دی مختصرو اوراقو کښی نه ځائیږی.

اود افقه دده رض څخه علقمه رح روایت کړی ده،، اود هغه څخه ابراهیم النخیعیؒ روایت کوی اود هغه څخه حمادؒ روایت کړی دی اود حماد څخه امام الامة ابوحنیفه رح روایت کوی اود هغه څخه قاضی ابویوسفؒ او محمدؒ اونورو په زرو شاگردانو روایت کړیده ثم وثم الی یومنا هذا عبدالله بن مسعودؓ د سا یتنیو مسلمانانو څخه دی حتیٰ تر حضرت عمرؓ د مخه مسلمان سوی دی اود بدر یتنیو څخه هم دی،، امام نوویؒ په تقریب کښی وائی چی مسروق څخه روایت دی چی هغه وویله چی علم د صحابهؓ وو شپږو کسانو و پای ته رسیږی.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱ عمرؓ ۲ علیؓ ۳ أبیؓ ۴ زیدؓ ۵ ابوالدرداءؓ ۶ عبدُ الله بن مسعودؓ آه

دَ نفس علم فقه فضیلت څه دیٔ

پوه سه: چې خدای جل شانهٔ په قرآن کریم کی داسی وائی، وَمَنۡ یُّؤۡتَ الۡحِکۡمَةَ فَقَدۡ اُوۡتِیَ خَیۡرًا کَثِیۡرًا. ترجمه: که چاته ورکړه سی حکمت نوهغه ته ورکړه سو لوی خیر" د مفسرینؒ حضرات دحکمت تفسیر په علم الفروع چې فقه ده کړیده" اودا دفقه لوی شرف دی، وایضا داسی راغلی دی" فَقِیۡهٌ وَّاحِدٌ مُّتَوَرِّعٌ اَشَدُّ عَلَی الشَّیۡطَانِ مِنۡ اَلۡفِ عَابِدٍ" یعنی یوفقیه یعنی عالم د فقهې چې پرهیزگاره وی سخت دی پر شیطان تر زر عبادت کونکی یعنی چې فقهاء نه وی" امام محمد بن الحسن الشیبانیؒ داسی وائی ؎

تَفَقَّهْ فَاِنَّ الْفِقْهَ اَفْضَلُ قَائِدٍ ۞ اِلَی الْبِرِّ وَ التَّقْوٰی وَ اَعْدَلُ قَاصِدٍ

فقه حاصله کړه ولې چې فقه بهترقائد دی ؛ وښو کارو ته او پرهیزگاری ته او ښه عادل قاصد دی.

وَکُنْ کُلَّ یَوْمٍ مُسْتَفِیۡدًا زِیَادَةً ؛ مِنَ الْفِقْهِ وَاسْبَحْ فِیۡ بُحُوۡرِ الْفَوَائِدِ

او سه هر ورځ اخستونکی د زیاتوب ؛ د علم فقه څخه او غوټې وهه په دریابو کښی د فوائدو یعنی علم فقه د فائدو څخه

فَاِنَّ فَقِیۡهًا وَّاحِدًا مُتَوَرِّعًا ؛ اَشَدُّ عَلَی الشَّیۡطٰنِ مِنۡ اَلۡفِ عَابِدٍ۔

ولې د فقهې یو عالم چې پرهیزگاره وی ؛ سخت دی پر شیطان باندی تر زرو عبادت کونکو؛

ګرانو ورونړو اوخوندو

که زه د فقهې شریفې فضائل او فوائد او ښی ګڼړی په تفصیل سره وخیرم یو لوی دفتر به څندی جوړ سی" نو ښه داده چې پر دغه جزوی بیان په بس کړم؛ ګفته اند شت نمونه خروار۔

حضرت الامام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه څرنګه شخصیت دیٔ

پوه سه: چې حضرت الامامؒ سراج الامت دیٔ" او په اجتهاد کی امام الائمة دیٔ" او په تقوی او په پرهیزګاری دخدایؒ د قدرت علامه دی" او د تابعینو څخه پر صحیح روایت دیٔ۔

اصل نوم دده نعمان دپلار نوم یې ثابت دی اُبوحنیفه" دده کُنیت دی؛

" سَبَبُ دَ ابُوحَنِیۡفَه دَ کُنیت "

سبب یې دادی چې حنیفه د عراقیانو په ژبه مشوانړی ته وائی. خطیب بغدادی په تاریخ بغداد کښی وائی چې د حضرت الامام په درس ګاه کی به (۴۰۰) څلورسوه مشوانړی وقفی پرتې وی همیشه" چې شاګردانو بې دده مبارکه څخه اوریدلی مسئلی په نوشته کولې وقیل غیر ذالك فی وجه الکنیة۔

خطیب بغدادی په تاریخ بغداد کی د یحیی بن نصر څخه روایت کړیٔ دی چې حضرت الامامؒ د روژې په میاشت کی شپیته ختم د قران کریم کوله؛ اوداسی روایت یې هم کړی دی چې حضرت الامام په هغه خونه کښی چې دی په کښی وفات سو اویازره واره یې د قرآن کریم ختم کړی وو"

اوخطیب مذکور د یحیی بن نصر څخه روایت کوی چې هغه بیاوائی چې ما د اسد بن عمروؒ څخه اوریدلی دی چې حضرت الامامؒ د ماخستن په اودا سه د سحار لمونځ څلوېښت کاله کړی دیٔ.

وَکَانَ هُوَ قَدْ یَقْرَأُ الْقُرْآنَ کُلَّه فِیۡ رَکۡعَةٍ وَّاحِدَةٍ انتهی" درولش وائی؛ چې د غه څلوېښتو کلو د ماخستن لمونځ کول" مخالفینو حضرت الامامؒ تر قسم قسم تنقید لاندی نیولی دهٔ" بلکه دوی وائی چې داسی کار عادةً هیڅ امکان نه لري. سره د دی د غه موضوع درمختار او نورو کتابو دتواریخو ذکر کړی ده. عاصی درولش د تنقید و بیان او د هغو په زړه پوری جواب په شرح کښی د ابوالمنتهی چې پښتو ژبه عاصی جوړه کړی ده، او هم دا اوس په خلکو او طالبانو کښی ښه شهرت او مقبولیت لری ذکر کړی ده هغی شرحی ته رجوع وکړئ۔

علاوه تر دی درولش په هغه شرح کی د امام اعظمؒ نسب او مناقب او نور سوانح عمری په حواله د تاریخ د کتابو په ډیر تفصیل سره بیان کړی" نو لازمه دهٔ چې حنیفیان او د حضرت الامام پر مذهب عاشقان په هغه ناموړي شرح کښی د حضرت الامام په تاریخ او مناقبو خپل زړونه روښانه کړی" او حضرت الامامؒ ۵۵ واره حج ته تللی دیٔ؛ او یوه شپه یې په خونه کښی د کعبې شریفې په دوه رکعته کی ټول قرآن مبارك ختم کړیٔ دیٔ؛

اوعلامه حافظ النجم الغیطیؒ وَائی چی حضرت الامامؒ وویل چی ماربّ العزت ۹۹ واره پر خوب ولیدی نوزما په زړه کی دا سودا پیدا سوه که چیری دی خدای جَلَّ شَانُه په خوب کی بیا ولیدی نو به پوښتنه ځندی کوی چه په څه شی خلک ستا د عذابه څخه خلاصیږی په ورځ دقیامت، هغه وو چی ښلم وار چی می په خوب ولیدی هغه عرض می ورته وړاندی کی ربُّ العزت وفرمایل چی هرڅوک چی سحار او ماښام دغه تسبیح همیشه وائی زما د عذابه څخه به نجات ومومی تسبیح دا ده،

سُبْحَانَ الْاَبَدِیِّ الْاَبَدِ، سُبْحَانَ الْوَاحِدِ الْاَحَدِ، سُبْحَانَ الْفَرْدِ الصَّمَدِ، سُبْحَانَ رَافِعِ السَّمَآءِ بِغَیْرِ عَمَدٍ، سُبْحَانَ مَنْ بَسَطَ الْاَرْضَ عَلٰی مَاءٍ جَمَدٍ، سُبْحَانَ مَنْ خَلَقَ الْخَلْقَ فَاَحْصَاهُمْ عَدَدًا، سُبْحَانَ مَنْ قَسَمَ الرِّزْقَ فَلَمْ یَنْسَ اَحَدًا، سُبْحَانَ الَّذِیْ لَمْ یَتَّخِذْ صَاحِبَةً وَّلَا وَلَدًا، سُبْحَانَ الَّذِیْ لَمْ یَلِدْ وَلَمْ یُوْلَدْ، وَلَمْ یَکُنْ لَّهٗ کُفُوًا اَحَدٌ، کذا فی هامش الدر المختار۔

او بله خبره دا ده چی "ری پوهیږی" خطیب بغدادی سره ددی چی د لویو دښمنانو او طعن ویونکو څخه د حضرت الامام دی لکه چی تاریخ بغداد د دغه شاهد دی، وائی چی ما د ابی یحیٰ حمانی څخه واوریده هغه وائی چی ما د ابوحنیفهؒ څخه واوریده چی ما یو شپه خوب ولیدی او ډیر یه وارخطا کړم، هغه دا چی ما قبر د آنحضرت صلی الله علیه وسلم سره شنی، نو زه بصری ته ورغلم هلته ما یو سړی امر کړی چی ته زما د خوب تعبیر د رئیس المعبرین محمد بن سیرینؒ څخه وپوښته۔ او ما ته ورښیه هغه سړی د ابن سیرین څخه د ناموړی خوب پوښتنه وکړه هغه ورته وویل چی دا خوب لیدونکی هرڅوک چی دی تعبیر د خوب یه دا دی چی دغه سړی به اخبار او احادیث او شریعت د نبی علیه السلام په خلکو کښی نشر کوی، عَبْدُ اللهِ بن المبارکؒ چی مسلّم محدث دی۔ او امام بخاریؒ هم دده احادیث په خپل کتاب کښی راوړی دی۔ او د حضرت الامامؒ مخلص شاگرد دی، هغه په مدح کی د حضرت الامام داسی وائی؛

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولمن شاركه نشر: مکتبة القراءت والتجوید کوئٹه

لَقَدْ زَانَ الْبِلَادُ وَمَنْ عَلَیْهَا ؛ اِمَامُ الْمُسْلِمِیْنَ اَبُوْحَنِیْفَه
بِاَحْکَامٍ وَاٰثَارٍ وَفِقْهٍ ؛ کَاٰیَاتِ الزَّبُوْرِ عَلَی الصَّحِیْفَه
فَمَا بِالْمَشْرِقَیْنِ لَهٗ نَظِیْرٌ ؛ وَلَا بِالْمَغْرِبَیْنِ وَلَا بِکُوْفَه
یَبِیْتُ مُشَمِّرًا سَهِرَ اللَّیَالِی ؛ وَصَامَ نَهَارَه لِلّٰهِ خِیْفَه
فَمَنْ کَاَبِیْ حَنِیْفَةَ فِیْ عُلَاه ؛ امام للخلیقة والخلیفه
رَئَیْتُ العائبین له سفاهًا ؛ خلاف الحق مع حجج ضعیفه
وکیف یحل ان یؤذی فقیهٌ ؛ له فی الارض اٰثارٌ شریفه
فقال ابن ادریس مقالًا ؛ صحیح النقل فی حکم لطیفه
بان الناس فی فقه عیال ؛ علی فقه الامام ابی حنیفه
فلعنة ربنا اعداد رمل ؛ علی من رد قول ابی حنیفه

پوهسه: چی مراد د عبد الله بن مبارکؒ د ابن ادریس امام المذهب حضرت الامام محمد ابن ادریس الشافعیؒ دی۔ او د عبد الله ابن المبارکؒ مراد دا دی چی لعنت دی خدایٰ پر هغه چاوی چی د حضرت الامامؒ مذهب عنادًا او تعصبًا او جهلًا رده وی۔ لکه وها بیان او په نامه مُوَحِّدِین، او سلفیان، په موجوده عصر کښی نه هغه کسان چی د اجتهاد د لاری د امام اعظمؒ مذهب رده وی۔

ګرانو او ریډونکو دا وو مشت نمونه خروار بیان د مناقبو د حضرت امام الائمة سراج الامت ابوحنیفهؒ که په پښتو ژبه تفصیل غواړی نو شرح د عاصی پرابوا المنتهی مطالعه کړه او که په عربی ژبه تفصیل غواړی بیا نو "الانتصار لامام ائمة الامصار" تر پایه مطالعه کره چی زړه دی روښان سی، وَمَا عَلَیْنَا اِلَّا الْبَلَاغ،

ښهانه فائده او ضروری خبرتیا

پوهسه: چی مسئلی د فقه حنیفی پر دری قسمه دی ۱ اصول چی ظاهر الروایه به هم بولی هغه هغه مسئلی دی چی د اصحاب المذهب ابوحنیفهؒ او ابو یوسفؒ او محمدؒ چی

Maktaba Tul Ishaat.com

د علماء ثلثة په نامه دفقهي په كتابوكښې يادېږي، څخه يه روايت ثابت وي، اودغه
مسئلې د ظاهر الروايه اواصول دي.
په دغوكتابوكې ذكركېږي چې ټوله يه تصنيف د امام محمدؒ دي يعنی الجامع الكبير، والجامع
الصغير، والزيادات، والمبسوط، والسير الكبير والسير الصغير، چونكه دَدغو
كتابو مسئلې د حضرت الامام محمدؒ په روايت دَمعتمدو راويانو څخه ثابتې دي، نو يه ئې
ظاهرالروايت بولي: په يوه تاريخ كښې داسې راغلي دي، چې يوه ورځ امام محمدؒ د يوه سړي
څخه بل سړي ته كړه كيدی نو دا ټوله خپل كتابونه كه د ظاهر الروايه اوكه نورو پريوه اوښ
په باركړي وه، د يوه مسلمان په دكان كې يو يهودي ناست ؤو دا په اوښ بار كتابونه
چې يهودي وليدله نو د مسلمان څخه پوښتنه وكړه چې دا څومره ډېر كتابونه دي.
اودا چا جوړكړي او تصنيف كړي دي؟
مسلمان ورته وويل چې دا ټوله تصنيفونه د محمد بن الحسن الشيبانيؒ چې يهودي هم پيژندی
نو يهودي وويل، هذا محمدكم الاصغر فما بال محمدكم الاكبر اشهد ان لا اله الا الله و اشهد
ان محمدا عبده ورسوله.
او دويم نوادر المسائل دي: اودا هغو مسئلوته وائي چې د ائمه ثلاثه وو څخه مروي وي
لكن په مذكوره كتابوكښې نه وي بلكه يا د امام محمدؒ په نوروكتابوكښې وي، لكه هارونيات
كيسانيات، جرجانيات، رُقيات، چونكه دَدغوكتابو د مسائلو روايت د حضرت امام محمدؒ څخه په
اسانيدو معتبره ووسره نه دي ثابتې سوي لكه د هغه نوروكتابو د مسئلو نو دي كښله غير ظاهر الروايه
مسئلې بولي او دغه كتابونه هم كتب غير ظاهرة الروايه بولي. او يا د غير څخه د امام محمدؒ
مروي وي لكه، كتاب المجردات د حسن بن زيادؒ.
او دريم كتب الامالي، د حضرت امام ابويوسفؒ **يوه سَه**: چې امالي جمع د املاء ده، املاء كا
چې څه وخت به مدرس ودرس ته كښيناستي او شاګردان به ګرد اتول سول د هر طالب سره به
خپل كاغذ، اوقلم او مشواني وه نو استاذ چې به تقرير كاوه شاګردانو به سمدلاسه نوټ
كاوه، بيا به يه هغه تقارير د استاذ سره جمع كړه نو د املاء به يه په كښېښنو.

او ډېرو هغوكتابونه امالي وَيَله. اودا كار په پخواني زمانوكې عادت د محدثانو، او د
فقهاوو او د اهل عربيت ټولو وو.
ولې په هغو زمانوكې شوق او ذوق د علم ډېر وو په كراركرار د علم شوق لږ ى دَى نو دا كار
بيخي د بين ولاړي، سه وهكذا يذهب الزمان على العبر ؞ ويفنى العلم ويدرس الاثر ؞

شِكايَت

د سنه ۱۴۰۰ هجري قمري په پښتنو طالبانوكې بيخي د علم د تحصيل پر
وجه اتم او اكمل باندې شوق د ما بين څخه تللي دي حتى تر سنه ۱۴۲۱ هجري
قمري په هركال كښې په زرو طالبان لنګوټي تړي او شهادت نامې تر لاسه كوي او مولوي
صاحِب يه بولي. لكن دا مولويان د هداية النحو او كافيه يا ايساغوجي او نور الايضاح پر
درس قدرت نه لري، او جاه طلب مدرسان څرنګه چې طالب وغواړي چې ما ته سند راكړه
لنګوټه راوتړه هغه مدرس ورته وائي ډېر اعلى. والى الله المشتكى من صنيع هؤلاء العلماء والطلباء.

مُقَدِّمَةٌ جَلِيلَةٌ نَافِعَةٌ

يوه سَه: چې دين سماوي او مذهب اسلامي، او شرع نبويﷺ. دوه جانبه يعنی دوه اړخه
لري، چې د دواړو زده كړه ضروري ده، او بيا په هغه باندې عمل واجب دی.
اوله جنبه د عَقائدُو دَه: عقيده معنئ د زړه يقين كول پر يو مضمون باندې.
لكه زمونږ يقين چې ايمان پورته او محكم كښيښته ده، عقائد د اسلام د مثال په دول
يقين كول چې خدائ سته او يو دئ، او قيامت حق دئ، رسول عليه السلام دَخداى
جَلَّ جَلالُهُ نبي برحق دئ او دغه قسمه څخه نور عقائد.
واوره: چې د عقائدو سمول پر هر مؤمن او مؤمنې فرض عين دی. او چه عقائد
يه صحيح نه وي لمونځ روژه وغيره په بېنه نه دي: او د عقائدو زده كړه دوه قسمه ده يو
لتفصيلي زده كړه يعنی د هر عقيدې جلا جلا زده كړه دا تفصيلي زده كړه د عقائدو دكتابو
په وسيله سره كيږي. پخوا خو عوامو ته دا عذر وو چې كتابونه د عقائدو عربي دي

اوموږ په عربي نه پوهیږو. اوس اوس، په توفیق دخدایؒ دا عذر قطع سو، ولحچي عاصي دعقائدو دوه کتابه یعني نورظلم او ابوالمنتهیٰ په مورنۍ ژبه په پښتو کړه اوډیر ښه آسانو الفاظو ترجمه وکړه او فراخي شرحي می پر وکړي، اوس نو صرف چي د پښتو خط ویلای سی، په دغو دوو کتابو کښي خپل عقائد زده کولای سی ان شاء الله تعالیٰ، او بله اجمالي زده کړم یه ده چي د هغه دپاره د اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ زده کړه سره د ترجمي کافي او بس ده»

د اٰمَنْتُ بِاللّٰه ترجمه واوره!

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ زما یقین دی پر خدایؒ یعني چي خدای سته او یو دئ شریک نه لري د دی عقیدی څخه مخالف څو ډلي کافران دی (۱) دهریان چي دهغو عقیده داده چي هیڅ خدای نسته او عالم لره خالق نسته عالم په خپله پیدا دی» داده روسانو او کمیونسټانو مذهب دی. (۲) خدای خوسته لکن په ذات کی شریك لري یعني دوه خدایان دي. چي ددوی په عقیده یو خدای فائده مند شیان پیدا کوی، لکه انسانان پسونه، آسان، وغیره او فائده مندی میوی پیدا کوی لکه، انګور، انار، سیب، وغیره اودی خدایؒ ته دوی یزدان وائي. او بل خدای ضرر مند شیان پیدا کوی لکه مار، لړم، لنډغر وغیره. او یا زهري نباتات، او دی خدای ته دوی اَهرمن یا شیطان وائي دا مذهب د آتش فرستانو دی (۳) ډله خدای واحد بولي په ذات کی یعني شریك نه ورته وائي په ذات کی اما په عبادت کو کښي شریك ورته وائي یعني د بتانو عبادت هم حق بولي چي دي ډلي ته مشرکان وائي. او په اصطلاح د پښتنو یه هندوان بولي.

وَمَلَآئِكَتِهٖ اوزما ایمان دی پر ملکو د خدایؒ چي ملکی دخدایؒ مخلوق دی لوڼي دخدایؒ نه دی لکه مشرکان چي وائي. او دا ملکی د ګناهو څخه معصوم مخلوق دی نه داسی دی لکه انسانانو نران او نه داسی دی لکه د انسانانو ښځي.

فائده، ملکی د خدایؒ یو عظیم مخلوق دی بعض په آسمانو کی دی، او بعض په ځمکه کښي دی، او بعض پر جنتو مقرر دی او بعض پر دوزخ.

او بعضی د انسانانو د خیر او شر پر لیکلو، او نور نور نظام د رب جل وعلا.
عاصي وائي چي د ملکو ډیر والی اندازه د دی حدیث نبویؐ څخه معلومیږي چي خدایؒ پاك پر برابر د کعبي شریفي په آسمانو کښي یو خونه جوړ کړي چي لوی والی یه وخدایؒ ته معلوم دی، او دا خونه د آسمانو د پید اکولو سره سمه پیدا سوی ده، او دی خونی ته بیتُ العزة وائي. او ودی خونی ته د زیارت او عبادت د پاره اویازره ۷۰۰۰ ملکی په اجازه د رب جل وعلا هره ورځ ورځي: نو هغه ملکوته چي اوله ورځ ورغلی دی بیا تر اوسه بلکه تر قیامت نوبت نه دی رسیدلی. نو اندازه د ډیروالی تاسی ورته وکړئ:

وَكُتُبِهٖ اوزما ایمان دی پر ټولو آسماني کتابو چي د خدایؒ د خوا پر مختلفو نبیانو نازل سوی او هغوته ورکړه سوی وه یعني زموږ ایمان دی چي دا ټوله کتابونه د خدایؒ د خوا څخه نازل سوی دی د پاره د هدایت د انسانانو که څه هم عمل زموږ مسلمانانو پر قرآن کریم محصور دئ. حدیث نبوی، ټوله کتابونه دخدایؒ یو سل او څلور دی - ۱۰۴

وَرُسُلِهٖ اوزما ایمان دی پر ټولو رسولانو یعني انبیاء علیهم السلام باندی که څه هم علماء د رسول او د نبي فرق سره کوی: چي رسول هغه دی چي نوی شریعت ورسره وی، چي ۳۱۳ دی او نبي عام دی که نوی شریعت ورسره وی او که په مخکني شریعت سره عمل کوی لکه انبیاء د بني اسرائیلو علیهم السلام: لکن دلته رسول په معنی د مطلق نبي دی،

فائده: د انبیاء علیهم السلام په عدد کښي مختلف حدیثونه راغلی دی، نو ښه داده چي خاص عدد دی نه معلوموی، بلکه لکه زموږ پښتانه چي وائي یو لك څلیروېشت زره زیات وکم پیغمبران منم، معنیٰ دا چي یا زیات تر دغه عدد او یا کم تر هغه انبیاء علیهم السلام منم»

وَالْقَدْرِ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰى: او ټوله تقدیر او اندازه او پید اکول که د خیر وی او که د شر وی د خدایؒ جل شانه د خوا یه بولم او عقیده پر لرم، پوهسه: چي ضمیر د خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ راجع وقدر ته دئ.

سوال: قدر او تقدیر خود خدایؒ صفت دی او صفات د خدایؒ ټوله خیر دی، نو په قدر کښي شر کله ځائیږي!

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: خیروالی د قدر اوشر والی دَقدر په اعتبار د مقدور دی. یعنی کاهی مقدور خیر وی لکه لمونځ روژه، حج وغیره. اوکاهی مقدور شر وی لکه زنا، لواطت، شراب خوری وغیره

وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ اوزما ایمان دی چې پس له مرګه ژوند سته یعنی ورځ دَقیامت چې په هغه ژوند کیږي مسلمانانو ته اوکافرانو ته دژوند داعمالو جزاء په جنت یا دوزخ ورکول کیږي، هند وَاِن الخرت نه منی اوحکماء هم عالم قدیم بولی وائی چې دادنیا نه ختمیږی نوآخرت نسته.

پوهسه: چې د عقائدو فاسد والی به یا مفضی وکفر ته وی لکه چې تیره سوه. اویا به مفضی وبدعت اوهواته وی لکه عقائد د معتزله وو کرامیه وو شیعه وو اونورو. قال النبی صلی الله علیه وسلم: ستفترق اُمَّتِیْ عَلٰی ثَلٰثٍ وَ سَبْعِیْنَ فِرْقَةً کُلُّهُمْ فِی النَّارِ اِلَّا النَّاجِیَة. ترجمه: زر دی چې زما امت به پر درو اویا وو ډلو وویشل سی چې ټول بی په دوزخ کی وی مګر ناجیه، یعنی دغه اهل السنة وَالجماعة ډله، عُذر، ددی ټولو مذهبونو بیان دلته نه ځائیږي کی تفصیل غواړي "کتاب الملل وَالنحل" د محمد بن عبدالکریم الشهرستانی مطالعه کړه چې په دوه جلده کښی دی، وَمِنَ اللهِ التوفیق"

دوهمه جنبه دعملیاتو ده: چې ورته فروع وائی: ددی جنبی دپاره علم فقه مجتهدینو وضع کړی ده، دعلم فقه مختلف اِصطلاحی دی چې په تنقیح اوتوضیح اوتلویح کی مفصل بیان موجود دی. دمبتدی دپاره دلته دغومره کافی ده چې علم فقه داعمالو څخه د مکلف بحث کوی پوهسه: چې د اعمالو زده کړه په هغه قدر چې مکلف په مبتلی وی فرض عین ده مثلاً لمونځ، روژه، چې پر ټولو مسلمانانو نراوښځو فرض دی زده کړه یې سره دَشرطو اوارکانو پر ټولو فرض عین ده. اود زکوٰة اوحج مثلاً داحکامو زده کړه پر اغنیا ووفرض ده اود مزرګه د تجارت دحلال اوحرام زده کړه پر تجارانو فرض ده. لکن زده کړه عامه ده لی په کتابو کښی زده کوی اوکی دملایانو څخه د پښتنو زده کوی، اوپرملایانو لازمه ده چې عواموته د اوداسه لمانځه، روژی، یعنی د فرائضو خمسه وو احکام شرطونه واجبات سُنتونه، مستحبات په مفصل توګه په واروار ورته بیان کړی.

لکن افسوس چه واعظان مُلایان دمساجدو هغه شیان وخلګوته بیانوی چې ددوی په هیڅ درد د نه خوری.

اوچې دوی ورته ضرورت لری هرهغو احکاموته د هغو څخه په خوله پته نیولی وی مثلاً دیوسف علیه السلام قصه که څه هم صحیح اوقرآنی ده. لکن هغه ځاته چې دهغه اودس اولمونځ اوروژه نه وی زده څه فائده ورته کوی. پوهسه: چې دفرضی کار په نه کولو سړی فاسق بلل کیږي لکه چې یوسړی لمونځ نه کوی اوروژه خوری وغیره اودغه رنګه دحرام کار په کولو سره لکه زنا، لواطت، وغیره سړی فاسق ګڼل کیږي. توبه کښل پر لازم ده، اماکافر نه دی په مذهب کی داهل سُنتو: حتیٰ که بی توبی مړسی ابدی دوزخ ورلره نسته، اوکه چیری دغه تارک دفرضو یا فاعل دحرامو دهغو فرضیت څخه یا دحرمت څخه منکر وو بیا نو کافر دی بالاتفاق. اوخوارج وائی که چیری مرتکب دکبائرو وو هغه کافر دی، که بیله توبی مړسی ځای یه ابدی دوزخ دی.

اومعتزله وائی نه مؤمن دی اونه کافر مګر ځای یه ابدی دوزخ دی چې بی له توبی مړسی" ددی مبحث تحقیق په شرح کښی دالو المنتهی وګوری چې عاصی تصنیف کړی ده.. داوهغه لنډ مقدمه دَشرح دنور الایضاح چې هم دغومره قدر دمبتدیانو حال سره برابر ده.

هرداوس درویش محمد عبیدُ الله الحنیفی السنی" السُلیما نخیلی الایوبی الافغانی الکندهاری دنورالایضاح په پښتو شرحه شروع کوی" وَمَا التوفیق اِلَّا مِنَ الله

اللّهم وفقنی لاختتام هذا الشرح کما وفقتنی لشروعها بالخیر والعافیه والصحة وَالله عَلیٰ کل شئ قدیر" واجعَله لوجهك الکریم

وَالهمنی الصواب فی کل باب" الحمد لله اولاً واخیرًا

والصلوٰة والسلام علی رسوله ابدا وسرمدًا

وعلیٰ اله وصحبه الیوم وغدًا وبعد ذالک ابدًا

قَالَ المصنف

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

شروع کوم زه په نامه د خدای چې ډیر احسان کوونکی په دُنیا کښې مسلمانانو سره او د کافرانو سره په روزی او رزق ورکولو سره وغیره. او ډیر مهربانه دی په آخرت کښې پر مسلمانانو: سعدی شیرازیؒ سه ای کریمی که از خزانهٔ غیب ؛ گبر و ترسا وظیفه خور داری
دوستان را کجا کنی محروم ؛ تو که با دشمنان نظر داری.

پوښتنه: څه سبب دی چې ټوله مصنفین حضرات د خپلو کتابو په اول کښې بِسۡمِ اللہ وائی **جواب:** اول موافقت د قرآن کریم سره کوی چې د هغه په شروع کی بِسۡمِ اللہ وجود لری **دوهم:** متأخرین علماء د خپلو سلفوؒ صالحینو پسې اقتداء کوی چې د سلفو هم دا غه عادت وو. او دریم دا چې امام نوویؒ په شرح کی د مُسلم دا سی روایت کوی چې حضرت رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم داسی فرمائلی دي، كُلُّ أَمۡرٍ ذِيْ بَالٍ لَمۡ يُبۡدَأۡ فِيۡهِ بِاِسۡمِ اللّٰهِ فَهُوَ أَبۡتَرُ، معنیٰ دا چې هر کار چې د شرف وي چې شروع ونه کړه سی په هغه کار کی په نامه د خدای هغه کار به بې برکته وی.

د بسم اللہ احکام د فقهی د لاری دادی

۱ وجوب چې فرضیت ته هم شامل دی، په ابتداء کی د ذبح د حیوان که څه پوره بِسۡمِ اللہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ واجب نه ده بلکه منقول بِاِسۡمِ اللّٰهِ اَللّٰهُ اَكۡبَرُ، طحطاوی ص۲.

اوپه ابتداء د ویشتلو د ښکار، اوپه ابتداء کی د ښکاری سپی یا باز د استولو و ښکار ته او په ابتداء کښې د فاتحې د هر رکعت لکن دا مذهب ضعیف دی صحیح دا ده چې سنت دی، رد المحتار

۲ **سُنت:** په شروع د اوداسه کی په ابتداء د خوراك کی، په ابتداء کی د څښلو، په ابتداء کی د هر امر ذی بال لکه قرائت د قرآن کریم، تدریس، د دینی کتابو د مطالعی په شروع کی، او د جماع په وخت کی چې پر تګانی به نروی خلاص کړي، رد المحتار، درولیس،

۳ **استحباب،** په ما بین د فاتحی او سورت، وَالنَّاسُ عَنۡهُ غَافِلُوۡنَ، رد المحتار

۴ **اباحت** اباحت په ابتداء کی د ولاړی، ناستی، تګ وغیره، رد،

۵ **کراهت:** په ځای د ناپاکی کی لکه مکان، پاخانه، په وخت د استعمال د هر بد بُوی شي لکه چلم، نسوار، سګرټ، پیاز، ګندنه، هوږه، وغیره. او په اول کی د سورة براءة، رد، طحطاوی

۶ **حُرمت:** په وخت کښې د حرام کار کولو بِسۡمِ اللہ ویل حرام دی، لکه زنا. لواطت، شراب، د مغصوب مال خوړلو په وخت کی یا د غلا د مال خوړلو په وخت کښې هم حرام دی. په وخت د جنابت کی که په نیت د قرآن وویل حرام دی او که په قصد د ذکر وو بیا پروانه لری.

مسئله: که سړی بِسۡمِ اللہ وَیل په وخت کی د فعل حرام لکه زنا روا بولله نو هغه سړی کافر سُو. او کی روا نه بولله مګر وی ویله. نو دا معصیت دی. توبه پر هغه لازمه ده. وَتمام هذا المبحث فی الطحطاوی، شرح نورالایضاح، ص۲

د بِسۡمِ اللہ په باره کښې بعض په زړه پوری معلومات

دَ اللّٰه لفظ نوم دی د ذات د خدایؒ او عربی لفظ دی. او دا هم مذهب دی د امام اعظم ابوحنیفهؒ او د محمد بن الحسن الشیبانیؒ او د حضرت محمد بن ادریس الشافعیؒ او د امام النحویین خلیل ابن احمد الفراهیدیؒ،

او دا زیری هم واوری، چې حضرت الامام محمدؒ د حضرت الامام ابوحنیفهؒ څخه روایت کړی دی چې اَللّٰهُ اسم اعظم شریف دی، او فقیه ابوجعفر الطحاوی وائی چې دا مذهب د ډیرو علماء و او د اکثرو صوفیا ی کرامو هم دی. او تر دی لوی ذکر نسته، رد محتار ج۱ ص۵

او د دراویش با ګناه وائی چې ما د خپل بعض تجربه والا وو استاذانو څخه اوریدلی دی، چې ورځ کامل د دی اسم پاك ۵۰۰۰ یعنی پنځه لکه وار دی، په یوه اعتکاف کی سره د روژی، او د یو شیخ کامل عامل په اجازه، او روزانه وظیفه یې ۲۳۶۰ یعنی دوه زره او دری سوه شپیته واره ده هم په اجازه د شیخ،

تنبیه: دا روزانه عدد یه د دی څخه معلوم کړی دی. چې د هغه مبارك اسم په قرآن کی په اسم ظاهر او یا ضمیر سره د غونه وارونه ذکر سوی دی، او که چاته یو مهم سخت کار چې شرعًا جواز لری ورته پیښ سی نو د ما ختن تر لمانځه وروسته دی د اسم مبارك

Maktaba Tul Ishaat.com

۲۳۶۰ واره مخ پرقبله ووائې. او بیا دې دخدای پاک څخه خپل دمُهم حل وَغواړي.
او ودې وظیفې ته دې تردروشپو پورې دوام وکړي إِنْ شَاءَ اللهُ الْكَرِيمُ، هغه کار به
خدای حل کړي، او د پوره بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ وظیفه روزمره ص۷۸۶ واره ده چې
داپه حساب د اَبْجَد د بِسْمِ اللهِ عدد دی. اَلرَّحْمٰنُ عربي دی او اسم صفت دی، ولې چې
معنیٰ د صفت د رحمت وَرسره ملحوظ ده او معنیٰ یه دا ده چې مهربانه په دنیا کې پر کافرانو
او مسلمانانو، د دنیائې نعمتو په ورکولو سره، سعدیؒ

ے ای کریمی کہ از خزانۂ غیب ۔ گبرو ترسا وظیفہ خور داری :: دوستان را کجا کنی محروم :: تو کہ با دشمنان نظر داری.

پوښتنه: په بیضاوی او نورو کتابو کې وائي چې د رحمان اطلاق پرماسوئ دخدایؒ
ناروا دی، او سره د دې چې یو ستر شاعر د پښتو ژبې چې په عَبْدُالرَّحْمٰن بابا مشهور دئ.
د خپلو غزلو په پای کې وائي زه رحمان،
بعض مُلایان وائي چې عبد الرحمٰن بابا خو یو شاعر سړی وو نا خبره د احکامو څخه نو د هغه و
قول نه اعتبار نشته، دَ الجَوَاب غلط دی ولې چې د تاریخ ورق د عَبْدُالرَّحْمٰن بابا رحمة الله عليه په ښه
عالِم سره د کې دي بلکه اصل جواب دا دی چې د رد مختار په جلد ۱ ص۶ کې وائي چې مخصوص
په خدائ لفظ د اَلرَّحْمٰن دی یعنې چې الف و لام د تعریف ورسره وی. او یوازې رحمان و
غیرته دخدائؒ ویل روادي.
اَلرَّحِيمِ: هم د خدائ اسم صفت دی او معنیٰ یه دا ده چې ورکونکی د نعمتو مؤمنانو ته
په جنت کې، د تصوفو په کتابو کښې راغلي دي چې روزانه وظیفه د الرحمٰنُ ۲۹۸
سبب د فراخي د رزق دی په دنیا کې او وظیفه د، اَلرَّحِيم ۲۵۸ سبب د ډېر والي د نعمتو
د آخرت دی، وَالعِلْمُ عِندَ اللهِ، په حدیث مبارک کې راغلي دي چې آنحضرت صلی الله علیه
وسلم، وفرمایل چې کَلی یا چابي د قرآن شریف، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ ده د دې څخه دا حکم
ښکاري چې مستحب ده چې د تلاوت د قرآن کریم شروع دي په بِسْمِ اللهِ سره یعنې پس
له اَعُوذُ بِاللهِ څخه،
ابن عباسؓ روایت کړي دی چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې کوم وخت چې یو مُعلّم

وهلك ته ووائي چې ووایه بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ هغه مُتعلم هم بِسْمِ اللهِ ووائي خدای پاک
لیکي براءت د نجات د دوزخ د هغه مُتعلم پر نامه او د هغه د مور او پلار او مُعلم پر نامه،
تفسیر یعقوب چرخي ص۷،
پوښتنه، آیا د بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ په ویلو سره کبیره گناهونه هم بخښل کیږي او
که څرنګه! جَوَاب: کتابونه د شروحو د احادیثو شریفه وو کښې وائي چې هر ښه عمل یا قول
چې په حدیث شریف کې وعده د بخښنې د ګناهو ورکړه سوې وي، مراد د هغه څخه صغیره
گناهونه دي. او د ګناه کبیرې د بخښنې یاد تخفیف امید شته.
سَوال: د کبیرې ګناه بخښنه په څه کیږي جَوَاب: د اِخلاصه د ګڼه توبه سره ولې
چې په حدیث پاک کې راغلي دي، اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَا ذَنْبَ لَهُ.
تنبیه: توبه د خولې کار نه دی فقط بلکه توبه اول پښیماني د زړه غواړي په اخلاص
او د آینده د پاره ټینګ قصد غواړي چې بیا به د غه ګناه نه کوم او د تېرو سوو ګناهو
خدای پاک ته عذر ویل غواړي، او هغه عمل چې قضا لري لکه لمونځ روژه وغیره د هغه به
قضاء را وړي، او کې د خلکو مالونه په غلا یا غصب یا خیانت خوړلي وه یا به هغه تول ادا کوي
یا به د هغو څخه عفوه غواړي.
مسئله: د حضرت الامام الصائبؒ په مذهب کې عفوا د حق بخښنه اجمالاً هم کافی
ده مثلاً که یو سړي د یو چا مال په غلا یا په خیانت وغیره خوړلی وي او دی پوهیږي که زه
تفصیلاً ورته ووایم عفوه نه راته کوي نو ورته ووائي چې فلانیه حق به ستا بخښو
هغه ورته ووائي چې ما خپل حق در بخښلی دی په د غه اجمالي بخښنه هم هغه سړي یعني سارق
مثلاً د مسروق منه د حق څخه خلاصیږي،
د پښتنو خبرو راز، پوښتنه: چې یو سړي چې په پښتنو کې ناجوړه وي، چې قریب
الموت د خلکو په خیال کې ورسي نو هر عائد یعني د ده پوښتنې ته چې راځي دا ورته وائي چې
فلانیه وَ تولو مسلمانانو ته حق پل که یعنې حق وړو بخښه. چونکه ناجوړي په سبب د ناجوړي
په زړه نرم سوي وي، نو هغه عائدینو ته داسې وائي چې ما وَ تولو مسلمانانو ته حق بخښلی دئ.

نویه دی کی عفو عمومی اجمالی راسی» نو بناءً علی مذهب الامام ؒ تول خلګ دَمړی دحقوق څخه خلاصیږی۔

اِستفهام پوه‌کول دځان ، دقرآن دهرسورت په سرکښی سوا دسورت براءت بسم الله سته آیا دغه بسم الله دهرسورت جزء ده اوکه نه **جواب** دحضرت امام شافعیؒ په مذهب کښی دهرسورت جزء ده ، اما امام اعظمؒ په دی باره کښی واضح خبره نه ده کړی خو بیا هم دامام اعظمؒ دمذهب لوړ رتبه امامان وائی چی بسم الله الرحمن الرحیم دقرآن یو مستقل جزء او ایت دی او دهرسورت جزء نه ده ، او دهرسورت په اول کی دقرآن مبارک دسورتو دجلا کولو دپاره او هم دتبرک دپاره ده ، تفسیر بیضاوی ص۳

سَوال : که څوک د بسم الله دقرانیت څخه منکر سی باید هغه سړی کافر وګڼل سی. او س دی فقهاءؒ وائی چی دغه سړی کافر نه دی ، **جَوابُ** : دعقائدو او فقهی په کتابو کی مسئله داسی ده چی هغه ایت چی اتفاقًا قرآن وی دهغه منکر کافر دی ، بسم الله شریفه اتفاقی قرآن نه ده ولی چی امام مالکؒ بِسۡمِ اللّٰهِ قرآن نه بولی بلکه ذکر یه بولی۔

پوښتنه ! جنب او حائضه نفساء ښځی ته ولی په مذهب کی د امام اعظم صاحبؒ ویل د بسم الله الرحمن الرحیم ویل روا دی او سره ددی دغه مذکوره کسان دَ تلاوت څخه دقرآن کریم شرعًا منع دي **جواب** دغو کسانو ته ویل د بسم الله په نیت د تبرک روا دیٔ ، لکه چی دوډی خوري یا او به څښی بسم الله و وائی ، نه په نیت دَ تلاوت دقرآن ، خزینه ص۸۴

سَوال : دغه نام وړو کسانو ته ماسوی دقرآن کریم د نورو اذکارو لکه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ، سُبۡحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمۡدِهٖ ، او نور ددغه قسمه اذکار ویل روا دیٔ. **جَوابُ** ، هو په اتفاق دَ ټولو مذاهبو روا دیٔ ، او دغه رنګه دغو کسانو ته " اَلسَّلَامُ عَلَیۡکُمۡ " وچا ته ویل یا وَعَلَیۡکُمُ السَّلَامُ دچا دسلام په جواب کی ویل روا دی ، بلکه اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ په قصد د شکر د نعمت نه په دَ تلاوت روا دی خزینه ص۸۴۔

کتبه احقر الوری فضل الحق حقانی استاد جامعه تجوید القرآن سرکی روډ کوئټه.

دپښتنو بد عادت

دپښتنو حتی عوام خوګه کوی د طالبانو هم دا عادت دی چی جُنب سی یا حمام یا بل ځای ته دغسل ځی نو یه پټو پر سرا چولی وی محکی ته ګوری ، چی دلیری بل سړي په دی پوهیږی چی دا سړی جنب دی نو چا ته سلام وایی او نه دچا سلام جواب ورکوی دا طریقه غلطه ده د **تحفۃ نصائح** چی یو فارسی کتاب دی دا غلطه بنوونه ده ، تاسی فکر وکړی په حدیث شریف کی چی بخاری او نور کتابو نه یه روایت کوی ، د ابو هریرهؓ دی وایی زه یو ورځ جنب وم او د غسل دپاره روان یم " چی ناګاه آنحضرت صلی الله علیه وسلم په مخه راغلی او تر لاس یه ونیولم خبری راسره کوی . زه حیران پاته سوم چی ستا صورت خو ناپاکه دی او رسول کریم صلی الله علیه وسلم تر لاس نیولی یه خبری د رسره کوی ، خیر په دی وخت کی یو بل سړي پیدا سو او رسول الله صلی الله علیه وسلم زما لاس ایله کړئ. او دهغه سړی سره په خبرو سو زه پټ ولاړم او غسل می وکړی او بیرته راغلم آنحضرت صلی الله علیه وسلم راته وویل چیری په پټه ولاړی. ما ورته وویل چی زه خو جنوب وم ، رسول کریم صلی الله علیه وسلم دَ تعجب په لهجه داسی فرمائیله:

سُبۡحَانَ اللّٰهِ اِنَّ الۡمُؤۡمِنَ لَا یَنۡجَسُ "

او تحفه نصائح وائی چی جُنب سوی ، نه به لمر ته ګوری او نه سپوږمی او نه د استاذ و مخ ته " خیر دا یو جمله معترضه وه دَ خلګو د پوه کولو دپاره ، دَ اسرار مخزونه په ص۸۵ کی وائی که څوک دیوه جابر حاکم دربار ته ورتلی او ځندی بیریدی نو پنځوس ۵۰ واره دی بسم الله الرحمن الرحیم و وائی او پر ظالم دِ داخل سی هغه ظالم به پر مهربانه نه سی بلکه دَ ویونکی سړی به پر ظالم هیبت پریوځی او د شر څخه بی په امان سی ، او کوم کار چی د لودی هغه به ور اجراء کړی:

او دغه رنګه که څوک دیوه پیریانی یا بیهوشه سړی په غوږ کی څلویښت ۴۰ واره بسم الله شریفه و وائی پیریان بی ایله کی او یا بیهوشی بی ولاړه سی ، او دغه رنګه که څوک په وخت د بیدیدو کی شل واره بسم الله شریفه و وائی په دغه شپه کی به د شیطان ، پیری ، غله ، د ناببره مرګ څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

بلکه دهر آفت به په امان وی:
اوکه یوسړی بسم الله شریفه هره ورځ ډیره وائي رزق بی خدای پاك فراخه کړه او په اسانی به رزق ور رسیږی،، خ ص۸۶

اوکه څوك د یکشنبی په ورځ د لمر راختلو په وخت کی مخ پر قبله کښینی او بسم الله شریفه په عدد د رسولانو ع م چی ۳۱۳ دی ووائی او تل واره د درود شریف هم ووائی خدای یو نا بره رزق ورکړی،، او د غر رنګه که یوسړی بسم الله شریفه په حساب د ابجد یعنی ۷۸۶ واره په نیه اخلاص ووائی د هر حاجت د پاره چی شرعاً روا وی،، خدای پاك بی هغه حاجت پوره کړی اوکه د ظالمانو یا د ښمنانو څخه ویریږی خدای به هغه څندی دفع کړی،، اوکه دیوچا را جلبول یه مقصود وی هغه سړی به ورته راسی،، اوکه د تجارت د ګټی د پاره یه ووائي تجارت به یه ډیره ګټه ورته وکړی،،

حضرت الامام ابو حامد محمد الغزالی په احیاء العلوم کی وائی،، که څوك د شپی یا د ورځی بسم الله شریفه ۱۲۰۰۰ دوولس زره واره په دی ترتیب ووائی چی اول اودس تازه کړی یا غسل وکړی او پاکی جامی واغوندی او په پاك ځای کښی کښینی نوزره واره چی بسم الله پوره کړی، دوه رکعته نفل د وکړی او بیا د لاس پورته کړی حمد د خدای او درود دی پر علیه السلام ووائی او خپل حاجت دی د خدای څخه وغواړی. او بیا دی په قرائت د بسم الله شروع وکړی زر واره چی پوره سوه بیا دی دوه رکعته نفل وروسته حمد او درود ووائی. او بیا خپل حاجت د خدای څخه وغواړی د غه ډول تر اخیر پوری د ۱۲۰۰۰ هغه حاجت بی رب جل شانه وعظمت قدرته په لنډه موده کښی ور پوره کړی،، که هرڅو ګران کار وی،، خ ص۸۶.

او په حدیث شریف کښی هم راغلی دی چی نه رد یږی هغه خواست چی په اول کښی ئی بسم الله شریفه وویل سی کذا فی تفسیر الفاتحه،،

اوکه څوك همیشه توب وکړی د بسم الله شریفی پر ویلو هره ورځ ۷۸۶ واره خدای به وهغه ته انسانان فرمانبرداره وګرځوی لکن دا طرز په اجازه سره اړه لری. د تفسیر کبیر په اول کی دابوهریرهؓ په روایت داسی راغلی دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وده ته وویل

"یا ابا هریرة اذا توضأت: چی ته اودس تازه کوی،، فقل بسم الله الرحمن الرحیم: ته ووایه بسم الله شریفه فان حفظتك، پس په تحقیق ستا ساتونکی ملکی، لا تستریح ان تکتب لك الحسنات،، استراحت نه کوی چی تا ته نوشته کوی نیکی: حتی تفرغ: تر هغوچی ته او داسه څخه فارغ کیږی،، واذا غشیت اهلك: او چی ته ورځی خپلی ماینی ته د جماع د پاره فقل بسم الله،، نو ته بسم الله شریفه ووایه،، فان حفظتك یکتبون لك الحسنات،، په تحقیق چی ستا ساتونکی ملکی ستا نیکی نوشته کوی،، حتی تغتسل من الجنابة: تر څوچی ته غسل د جنابت څخه کوی،،

درویش محمد عبید الله الاولی الکندهاری المسلیما نخیلی وائی: چی دا و و چوجزئی معلومات د فقیر په خواصو کښی او احکامو کښی د بسم الله،، اما دا د درویش معلومات مشت نمونه خروار دی او دی درویش ته چی هر څو ډیر ډیر نعمتونه خدای جل جلاله ورکړی دی په برکت د ورسته اذکارو او وظائفو،، سعدی شیرازیؒ وائی:

ګلی نا چیز در حمام روزی ؛ رسید ز دست محبوبی بدستم ؛ بدو ګفتم که مشک یا عنبری ؛ که از بوئی دلاویزی تو مستم
بګفتا من ګلی نا چیز بودم ؛ ولکن مدتی با ګل نشستم ؛ جمال همنشین در من اثر کرد ؛ وګرمن همان خاکی که بودم ؛

اللهم وفقنی لما تحب وترضی واجعل اٰخرتی خیرًا من الاولی
ولا تقطع نعمك عنی بعصیانی - بل اغفر سیاٰتی بفضلك العمیم
وما ذالك علیك یا الله بعزیز واختم لی بالخیر والسعادة والایمان
بجاه نبیك علیه الصلوة والسلام،، وجنبنی من جمیع
المعاصی والاٰثام بحرمة القرآن.

الناشر: مکتبة القراءت والتجوید وحقانی تفاریسنٹر
کانسی روڈ، شالدره، کوئٹه نزد مسجد نور،

قَالَ المُصَنِّفُ **اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ** ټوله ثنا او صفت خاص خدائ پاك لره دي
وئيلي دي مصنف

چي رب يعني ساتونكى دَ ټولو مخلوقاتو دے. د اَلْ معنىٰ ټول دَ **حَمْد** معنىٰ په لغت عربي كي پر وجه د تعظيم، په ښو الفاظو بَل چا پر ښائسته افعالو ستاينه ده.

پوه سه: چي د دي تورى چې پر وجه د تعظيم، پسُخند په چا وهل خارج سو. او د ښو الفاظو، د افائده ده چي حمد په ژبه پوري خاص دى، او په ښائسته افعالو اشاره ودى ته ده چي حمد په عمل او فعل اختياري پوري خاص دى، ولي چي ظاهره دا افعالو غير اختياري عملونه مراد دي. نو حمد په دى سبب چي په ژبه پوري خاص دى، تر شكر خاص دى، ولي چي شكر تعظيم كول دى د احسان كونكى كه په ژبه وي او كه په اندامو وي لكه ديوه مُنعم خدمت كول، او يا په زړه وي لكه د مُنعم سره په زړه كښي اخلاص او محبت كول.

او شكر په دى سبب سره چي په نعمت پوري مربوط دى تر حَمد خاص دى، وَلي حَمد گاهي پر نعمت لكه يوسَړى وَوائې چي الحمد لله ما ته خدائ ښه رزق فراخه راكړى دئ. او گاهي پر نعمت نه وي لكه څوك ووائي چي خدائ د لوى علم او قدرت څښتن دى، نو متعلق د حمد عام دى كه نعمت وي او كه نه وي، او ځاى يې خاص ژبه ده او شكر بالعكس دئ يعني ځاى يې عام دى كه ژبه وي او كه اعضاؤ وي او كه زړه وي، او متعلق يې خاص نعمت دئ نو دي ته په اصطلاح عموم و خصوص من وجهٍ وائي، يعني هر يو حمد او شكر سره په يوه وجه عام دى او په بله وَجه خاص دئ.

مَدح تر حمد په دى سَبب عام دَه چي فعل اختياري نه غواړي، لكه چي ويل كيږي، مَدَحْتُ اللؤلؤ عَلىٰ صَفَائِهَا، زه مدح كوم د ملغلري پر صَفا وَالي باندي، يا داسي چي د فلاني سَړي ښه مخ او قد و قامت دئ.

پوه سه چي د حَمد او شكر او مدح په تفصيل سره په تفسير بيضاوي او تفسير كشاف او نورو كتابو كي د تفاسير مذكور دي. بلكه په ميرايساغوجي او په شرح مطالع كښي په دى باره كي په زړه پوري معلومات سته.

الحمد لله دَ فقهي دلاري څخه

الحمد لله گاهي واجب وي لكه دَ لمانځه په دوه ركعتو كي، او گاهي سُنت وي لكه په خطبه كي د جُمعي د لمانځه يا د اختر د لمانځه او د مخه تر دُعا، او پس له خوړله او څښلو، او وروسته تر نژدلو. او گاهي مباح وي لكه بى سَببه الحمدُ لله ويَل، او گاهي مستحب وي لكه په اخير كي د دُعا د درود دَ مخه، او گاهي مكروه وي لكه پس د خوړلو د حرام شي.

بلكه فتاوٰى بزازيه اختلاف په كفر كښي ذكر كړى دئ، او گاهي حرام وي لكه د ټولو او غولو په ځاى كښي حمد ويل. او يَا چي غليظه عورت يې لڅ وي، رَبّ، د رب معنىٰ ده تربيه وركوونكى او سا تونكى، او كمال ته رسونكى، دا د خداى پاك اسم صفت دئ او لفظ د اَلْ په اَلْعٰلَمِيْن كي د پاره د استغراق دى يعني ټوله. او عَالَمِيْن جمع د عالَم دَه، عالَم په لغت كي علامه ته وَائي، لكه دود علامه ده د اور، او په اصطلاح كي هر هغه شي دى چي غير او جَلا د خدائ څخه وي، او په دى سَبب عَالَم ورته وَائي چي دا ټوله شيان پر وجود دَ خدائ پاك علامه او دَليل دى، سعدي شيرازيٌ وائي:

برگ درختان سبز در نظر هوشيار: هر ورقي دفتريست معرفتِ كردگار، ډيره ښه وينا ده.

فائده: عالَم پر دوه قسمه دئ (۱) **عَالَم عُلوي**: يعني پورته عالَم لكه اسمانونه ملائكه جنتونه (۲) **عالَم سُفلي**: يعني كښته عَالَم لكه مځكه بلكه څلور سره عناصر مځكه، اوبه، هوا، اور، انسانان بلكه ټوله حيوانان نباتات، معدنيات، د دى ټولو خالق او كمال ته رسوونكى يوازي، او يوازي خداى جَل شانه دئ. بل څوك ورسره شريك نسته په حقيقت كي **پوه سه**: چي دَ ټول عالَم شمير او حساب او په تفصيل سره د هغوي حَالات بې خدائ بل هيڅ چا ته نه دي معلوم، ايت كريمه: وَمَا يَعْلَمُ جُنُوْدَ رَبِّكَ اِلَّا هُوَ، يعني خبر نه دى په لښكر دَ خدائ يعني په مخلوق د خدائ مگر خدائ.

سَوال: علماء حضرات څرنگه ترجمه د اَلحمدُ لله داسي كوي چي ټوله ثنا او صفت خاص خدائ پاك لره دى او سره د دى چي د مخلوق صفت هم كيږي او رَوا دئ، لكه چي يوسړي ووائي فلانى ښه عالِم او زاهد او متقي او سخي او لوئ نځ گذاره او غازي دى او نور هم ډيرثنا و صفت هم د

Maktaba Tul Ishaat.com

مخلوق کیږي. جَوَابْ دغه مذکوره حَمدُونه د مخلوق هم په حَقیقت کښې راجع وخدائ
جَل سُلطانهٗ ته دی ولې قدرت ورکوونکی پردَغو صفاتو حمیدهٔ وو یَا افعالو بنائسته وو
هم خدای پاک دیٔ. حَق چه صاحِب کشاف چې معتزلی دی اود معتزلو و مذهب دادی چې
خالق دافعالو د بنده ګانو خدائ نه دی بلکه بنده ګان دی هم ټوله محامِد په خدائ پوري خاص
بُولي ولې چې اقدار او تمکین دَدَغو افعالو چې بنده یې کوي. ورکوونکی هم خدای جَل شانه دیٔ.
مَسْــئَله: حَمَد د خدائ جَل شانه پرهر نعمت پُربنده واجب دیٔ. او حمد او شکر وَیل د نعمت
الهی سَبب د زیات وَالی دَ هغه نعمت ګرځی، قرآن کریم: وَلَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ" که
تاسی شکر د نعمت الهی وَوَایاست زه به نعمت درته زیات کړم.
فـائِـدَه: تر ټولو لُویٔ نعمت او بهترین نعمت د مسلمانانو دپاره ایمان او اسلام دی، چې
هم په دې دنیا او هم په اخرت کښې نعمت دی اود نورو نعمتونو سبب دیٔ" امَا په دُنیا کښې"
سبب دادی چې اکثر عذابونه دُنیا لکه دلاس پری کیده پرغلا" په ډبرو سنګساره وَل پر زنا"
او قصاص ول پر قتل" او نور، داسلام پر مخالفت بناء دیٔ" وبس" نو که سَړي اسلامی احکام
پرځان جاري کړي دَدِی عذابونو څخه به په امن کښې وي" اَمَا په اٰخِرت کی خو معلومه خبره ده
چې دوزخ او د دوزخ عذابُونه د اسلام پرخلاف کولو بناء دی، چنانچه کتاب اِلهی او احادیث
نبوی ص پروی خبره شاهدان دی"
پوښـتنَه: څه سبب دَی چې مصنفین حضرات دخپلو کتابو رسالو په شروع کی حمد وائی
جَـوابْ: موافقت دقرآن کریم سره کوي" او په سلف صالحینو پسی اقتداء کوي"
او بل په حدیث شریف سره چې روایت یې ابن ماجهٔ او امام نوویٔ او نورا اماما نو کړی دیٔ
رسول کریم صَلّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلّم فرمائی: كُلُّ أَمْرٍ ذِي بَالٍ: هر کار چې شرافت در لوونکی وي
لَمْ يُبْدَأْ فِيهِ بِحَمْدِ اللهِ، چې شروع و نه کړه سی په کار کی په حمَد د خدائ" فَهُوَ اَبْتَرُ، هغه
کار به قطع یعنی بې برکته بووی" او دا خو ښتیا خبره ده چې تصنیف دکتابو دشرف کار دیٔ.
سَوال: ورته حدیث د بِسْمِ الله په باره کښې هم راغلی دی کما مَرَّ، او دا معلومَه
خبره ده چې په دوو شیانو په خوله په یوه وار شروع نسی کیدای نو دادوه حدیث به

څرنګه سره جمع سی جَوَابْ مولی خیالیٔ وائی: چې ابتداء په حَدیث کی د بِسْمِ اللهِ ابتداء حقیقی
ده یعنی تر مقصود او غیر مقصود د مخه، او په حدیث کی دَحمد ابتداء اضافی ده یعنی تر مقاصدو
دکتاب دمخه، اود دی سوال نور جوابُونه په حواشی کی دشرح جامی اود خیالی هم سته.
سُـوال: ډیر دینی کتابونه دحمد څخه خالی لیدَل کیږی، لکه بُخاري شریف، ترمذی شریف"
کافیـه، و غیره، نو هغوی ولی امتثال دَدَغه حَدیث نبویٔ نه دی کړی جَوَابْ د دی
سَوال مختلف جوابونه دي"
د بُخاری شریف د صلا په حواشی کښی مذکور دی" اود غه رنګه حضرت عَبد الرحمٰن الجامیٔ د
کافیه په شرح کښی یو په زړه پوری جواب ذکر کړی دیٔ" او عاصی هغو ټوله جوابونه په تفصیل
سره په فیض الصمد کی چې د عاصی حاشیه ده پر عبَد الغفور او نور محمد باندی لیکلی دی"
خو تر ټولو آسان جواب د مبتدیانو د حاله سره مناسِب دادی چې شروع په حمَد چې په حدیث
شریف کی راغلی ده عامه ده، کتابت لیکنی سره وي" او که صرف دخولې په وَیلو بې له لیکنی وي"
نو دغو حَضراتو حمد د خدائ په خوله ویلی دی اما لیکلی یـه نه دی،" نو مخالفت دحدیث
نبویٔ پر دوی لازم نه دی.
فـائِـدَه: چونکه عمرُونه دامت محمدیهٔ لنډ او کوتاه دی،" نُود دی کبله خدای پاک
ودی امت مرحومه ته جامع عبادات قولی او فعلی ورکړی دی یعنی چې کول یې آسانه وي او ثوابونه
یې ډیر وي" ددی جُملی څخه الحمد لله دَه ولی که مونږ وَغوارو چې تفصیلي حَمد دخدائ
ووایو" نو به وایو خدائ پرهر شی علم لری او پرهر شي قادر دَیٔ. او رازق دی او نور
صفات الهیه چې تفصیل یې نهایت ډیر وخت غواړي میاشتی او کلونه غواړي" مګر
خدای جَل سلطانهٗ په خپل فضل او کرم سره دې اُمت ته کلمه د اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ فقط ورته راواستول
چې دیوه وار ویلو ثواب یې دومره ډیر دی لکه چې د خدائ ټوله صفات په تفصیل سره ذکر سی"

بنهانه فـائِـدَه

درولښر محمد عُبیدُ الله کنـدهاری ایوبي نقشـبندی غفرله الباری، وَالئِ چې بې حایه

برنه وی که په مناسبت د اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ» ددی پوره سورة قرأنی بعض احوال او خواص بیان کړه سی د پاره د هغو ورونړو او خوندو، چی په عربی کتا بونه پوهیږی، بلکه د هغو طالبانو او نوی ملا یانو چی د دوی سره نادر تصوفی کتابونه نه وی او دا تهولو شفقت دلاري.

نوواوره

چی ددی مُبارك سورة دیرش نومان دی، ۱ فاتِحَةُ الۡکِتَابِ چی شروع د کتاب الٰهی ددی څخه کیږی ۲ اُمُّ الۡکِتَابِ یعنی مور او اصل د قران قاضی بیضاویؒ دوی وجه داسی بیان کړی ده چی معانی د قرأن تهوله په دی سورت کی اجمالاً درج دي. او دا نوم هم په صحیح روایت ثابت دی، بیضاوی ص۴ ۳ اُمُّ الۡقُرۡاٰنِ چی وجه یه بیان سوه ۴ اَلۡقُرۡاٰنُ الۡعَظِیۡمُ دا نوم د آنحضرتؐ څخه مروی دی وجه یه داده چی معانی د قرأن مبارك په دی سورة کی موجود دی کامًا ۵ اَلسَّبۡعُ الۡمَثَانِیۡ سبع یه په دی بولي چی اوۀ ایت دی او مثانی یاد ثنا څخه جوړ سوی دی، او په دی سُورة کی ثناء او حَمد د خدای پاك ویل سوی دی، او یا د تثنیة څخه جوړ دی چی معنیٰ یه تکرار دی دا سُورة مُبارك په لمانځه کښی مکرر ویل کیږی او دا نوم قرآنی دی قَالَ اللّٰهُ تعَالٰی، وَلَقَدۡ اٰتَیۡنٰكَ سَبۡعًا مِّنَ الۡمَثَانِیۡ، ۶ اَلۡوَافِیَةُ: سُفیان ثوریؒ وائی چی دا سُورت وفا کوی په تهولو معانی وو سره د قران، ۷ اَلۡوَاقِیَةُ یعنی ساتونکی او دا سُورت که د خپلو شرائطو سره چی را به سی کی څوك وائی د تهولو آفاتو امراضو څخه به په امان وی، ۸ سُوۡرَةُ الۡکَنۡزِ یعنی خزانه، دا سورة هم خزانه ده د تهولو معانی وو د قران، یاد دي نام سبب دا دی چی سَیِّدنا علیؓ وائی چه دا سُورت نازل سوی دی دیوی خزانی څخه چی تر عرش لاندی ده، ۹ سُوۡرَةُ الرُّقۡیَةِ یعنی سورت د دم کولو، ولی چی په حَدیث صحیح کښی راغلی چی دا سورة مبارك شفاء د هر مرض دی، او دا په تجربه د اهل اللّٰه ته ثابته ده، لکن دا سورت بعض شرطونه لری، او د روزانه و یلو د پاره مخصُوص عدد لری، چی د هغو شرطو او عدد خاص بیا نول په دی عمومی کتاب کی مناسب نه دی ځکه چی دا اسرار و څخه دی،

۱۰ سُوۡرَةُ الشِّفَآءِ وجه یه داده چی جابرؓ روایت کړی دی چی آنحضرت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَسلم وفرمایله» سُوۡرَةُ الۡفَاتِحَةِ شِفَاءٌ مِّنۡ کُلِّ شَیۡءٍ، سورة فاتحه شفاء د هر مرض ده. اِلَّا السَّامُ وَالسَّامُ الۡمَوۡتُ»، مګر د سام شفاء نه ده او سام مرګ ته وائی.

عُذر

نور نومان ددی سورة مبارك دَرویش په شرح کی د قدوری بالتفصیل ذکر کړی دی، په یوه صحیح حدیث کی چی روایت یه بُخاریؒ او مُسلمؒ ابوداؤدؒ ترمذیؒ، ابن ماجهؒ نسائیؒ او امام احمدؒ، او ابن الجریرؒ الطبریؒ او حاکمؒ بیهقیؒ د حضرت ابا سعید الخدریؒ څخه داسی راغلی دي۔

قَالَ بَعَثَنَا رَسُوۡلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَسَلَّمَ: وَویل ابوسَعیدؓ چی واستولو مونږ رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ علیه وَسَلم: فِیۡ سَرِیَّةٍ ثَلٰثِیۡنَ رَاکِبًا، په یوه کښنی فوج کی چی دیرش سپاره پکښی وه، فَنَزَلۡنَا بِقَوۡمٍ مِّنَ الۡعَرَبِ، نو مونږ وارول پر یوه قوم د عربو یعنی چی کافران وه، فَسَئَلۡنَاهُمۡ اَنۡ یُّضَیِّفُوۡنَا، نو مونږ وغوښتل د دغه قوم څخه چی مونږ ته مهمانی راکی یعنی د خوراك د پاره یو څه راکړي، فَاَبَوۡا فَلُدِغَ سَیِّدَهُمۡ، نو هغه منع د میلمستیا څخه وکړه، پس په هغه شپه رئیس د هغه قوم لړم وخوړی، فَاَتَوۡنَا فَقَالُوۡا هَلۡ فِیۡکُمۡ مَّنۡ یَّرۡقِیۡ مِنَ الۡعَقۡرَبِ، نو د دغه قوم خلک مونږ ته راغله او وی ویله چی آیا ستاسو په تاسو کی داسی څوك چی دم کوی د لړم د وهلو څخه، فَقُلۡتُ نَعَمۡ اَنَا، ابوسعیدؓ ورته وویل چی هو زه یم یعنی دم کونکی د لړم، وَلٰکِنۡ لَّآ اَفۡعَلُ حَتّٰی تُعۡطُوۡنَا شَیۡئًا، لکن زه دم نه کوم تر هغو چی تاسی به راکوی مونږ ته یو شئ یعنی په اصطلاح د پښتنو شکرانه، فَقَالُوۡا نُعۡطِیۡکُمۡ ثَلٰثِیۡنَ شَاةً، دوی وویل چی مونږ درکوو تاسو ته دیرش پسونه، فَقَالَ فَقَرَءۡتُ عَلَیۡهِ الۡحَمۡدُ لِلّٰهِ سَبۡعَ مَرَّاتٍ، ابوسعیدؓ وائی چی پس ما وویل په هغه سړی لړم وهلی باندی الحمد للّٰه یعنی د سورت تر پایه پوری اوۀ واره، فَبَرِءَ مِنۡ سَاعَتِهٖ، نو هغه سړی جوړ ستی فَلَمَّا قَبَضۡنَا الۡغَنَمَ پس هر وخت چی مونږ قبضه کړه پسونه:

Maktaba Tul Ishaat.com

عَرَضَ فِي اَنفُسِنَا مِنهَا شَئٌ": راوکرځیدی زموږ په زړوکی د هغو پسُو داخستلو په سَبب یو شئ. یعني په دی سَبب چی داخود قرآن شریف پړ ویلو مزدوری اخستل دی نُو دابه رواوی اوکه نارَوا. "فَكَفَفنَا حَتّٰى اَتَينَا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ: نو موږ د هَغو پسُودو نیُلو څخه، اویا د حَلالولو او خوړلو څخه منع وکړه، یعني د علیه السلام ترمشوری پوری ځتی چی موږ نبي عَلیه السَّلام ته رَاغلو" فَذَكَرنَا ذٰلِكَ لَهٗ"، پس موږ بیَان د هغه ټول ماجرٰی وَعَلیه السلام ته وکړي، فَقَالَ مِن اَينَ عَلِمتَ اِنَّهَا رُقيَةٌ"، پس ابوسعیدؓ وائی چی مَاته عَلیه السَّلام وویل چی ته د کَم ځایه څخه خبر سوی چی سورة فاتحه دم دی، "اَقسِمُوهَا وَاضرِبُوا لِي بِسَهمٍ"، نو علیه السلام وَفرمَائیل سره وی ولیشئ هغه پسُونه او ماته برخه په کښي راکړئ.

فَائده: د دی حَدیث شریف څخه په واضح ډول معلومه سوه چی پر دَم یا تعویذ مزدوری اخستل روادی، که څه د قرآن شریف په آیتو دم وکړي، په دی مسئله کښی وهابیان سلفیان سخت مخالف دی، دوی وائی چه هغه قوم خو کافران وه د کافر مال خو حَلال دی، لکن دوی نه پوهیږی چی د کافرانو مالونه په غنیمت کښی حلال دي، چی د جهادِ شرعی نتیجه ده، او په چَل وَل او په حرامه طریقه سره خود کافرانو مالونه موږ ته حلال نه دی، نو که د قرآن مبارك پر ویلو مَزدوری اخستل حرام وای، نو ولی آنحضرتؐ د هغه پسُودو لیشلو او په خپله هم د برخی اخستلو امر ورکاوه، او سره د دی چی دغه مزدوری مشروطه وه. د هیه په توگه نه وَه، او وهابیان وائی چی اخستل دَمال د کتاب الهی په مقابل کښی دَ یهودیانو د مُلایانو کار وو، لکه چی خدای پاك په شان کی د دوی وَائی. "وَلِيَشتَرُونَ بِهٖ ثَمَنًا قَلِيلًا". یعنی رانیسی یهودیان یعنی د دوی مُلایان په عوض کی د کتاب الله چی توراة شریف وو لږ قیمت،

جَوابُ: مُلایا نُو دَ یهودیانو خو پر بد لوَلو د تورات شریف د اُیاتو، لکه بد لول د اُیت الرجم یا بد لوَل د اوصافو د آنحضرت صلی اللہ علیہ وسلم،" بدی او رشوت اخستی نه پر دم کولو، دریم وَائی چه دا مسَئله یعنی شکرانه پر دم د قرآن مُبارك د اُیتو په ویلو یا د قرآن

عظیم پر تعلیم باندی مزدوری اخستل، یا پر اذان کولو، یا پر امامت کولو باندی مزدوری اخستل، او یا پر تعلیم د دینی علومو مزدوری اخستل، او دا ټول هم په مشروط ډول دیره مختلف فیهَا مسَئله ده:

داحنافو د اټول ناروا او حرام بولي، او متأخرینو ټولو فتوی د اسی صادره کړیده متقدمین چی دا ټول رَوادي. دریم وائی چی چونکه دا یوه مختصره شرح ده نو د دی کبله د دلائل د متأخرینو ما په تفصیل سره د لته نه راوړه، تفصیل د دَلائلو د دوی په شرح وقایه، رد محتار او په نور و فتاوا و کښی د فقهی حنیفی مطالعه کړئ. او دَ اځای خو دَ پاره د بیان د فضائلو د سورة فاتحه وو، او د مزدوری اخستلو پر مذکوره کار و، تبعًا د لته راوړه سوه نو ما صرف په اشاره سره اکتفاء وکړه، اصلی ناروا، خبره خو دا ده چی لعض تعویذ گران، کوډگران صرف په نامه مُلایان" پر غیب وَیلو شکرانه او روپۍ غواړي دا یقینًا حرامه ده ولی چی علم غیب خاصه د خدای جَل جَلاله ده، "وَعِندَهٗ مَفَاتِحُ الغَيبِ لَا يَعلَمُهَا اِلَّا هُوَ" نو دغه کوډگر، غیب وَیونکی، او بی دینه گمراه ته موږ وایو، چی ته چی د غیبو او پټو شیانو د علم دعوه کوی، نو د دی ایت قرآنی څخه منکر ته منکر یه "کرهیمه"

"قُل لَّا يَعلَمُ الغَيبَ اِلَّا اللّٰهُ"، وو ایه ای محمدؐ چی علم نه لری پر غیب او پټ شئ بیله خدایه بل څوك"، او په بل ایت کښی داسی راغلی دي، "وَلَو اَنِّي اَعلَمُ الغَيبَ لَاستَكثَرتُ مِنَ الخَيرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ"، خدای پاك د آنحضرتؐ د خو وائ "که چیری زه خبر وای په غیبو سره هر آئنه به ما جمع کړی وای ډیر د خیره څخه، او ما ته به نه وای رسیدلی یو غم او تکلیف"، نو د دی ایت مبارك څخه دا معلومه سوه چی آنحضرتؐ سره د دی چی سید د رسولانو وُو، او د خدایؐ لوی دوست وُو، وځان ته یه علم غیب نه وَایه، ولی چی لفظ د "لَو" په عَربی ژبه کی امتناعی دی یعنی دا خبره مُمتنع ده لکه چی په عربی ژبه خبر کسَان په دغه پوهیږی"، نو تعویذ گر کوډگر ته څرنگه وَ ځان ته علم غیب وائي، ایا ته خپله رتبه تر سیّد العَالمین لوړه بولي"، العیاذ بالله،

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولوالدیهما آمین.

دکوډ کرانو وینا: دوی وائي چې ما ته پیریان، شیطانان د پټو، شیانو حالات راته بیانوی،، نوزه وبوی ته وایم چې ته اَخُ الشیطان یه او کاهن یې لکه عرب د جاهلیت وخت کاهنان چې د هغوی په باره کښې آنحضرت م داسې فیصله کړیده،،

مَنْ اَتىٰ کَاهِنًا ،، که څوک ورسی کاهن یعنی غیب گوی ته،، فَصَدَّقَهٗ بِمَا قَالَ، او پس تصدیق یې وکړی د هغه کاهن په هغه خبره کښې چې کاهن ورته وکړه،، فَقَدْ کَفَرَ بِمَا اُنْزِلَ عَلیٰ مُحَمَّدٍ،، پس په تحقیق سره هغه سړي کافر سو په هغه قرآن سره چې نازل کړه سوی دی پر محمد صَلَّی اللّٰہ علیہ وسلم،،

او که چیری کوډ کر جار و کړه په ظاهره مسلمان یه په حقیقت کې شیطان ته دا دعوه کوي چې پیریان دا خبری ما ته راوړي نو ته خو دا عقیده لری چې پیریان په غیبو خبر دی خو دا م کفر دی او که ته وائې چې زه د علم غیب دعوه نه کوم او نه هم د دی دعوه کوم چې پیریان ما ته خبرونه راوړي،، بلکه زه د خولې په صفائی او نورو قرائنو خلک خطا باسم، او روپۍ څندی اخلم نوزه وایم ته خو غدار حرام خوړ او غل یه، باید د دی کاره توبه وکاږی ځان او عیال دې حرامو څخه وساتی مرګ او قبر او اخرت دی په مخ کښې دي،،

د درویش محمد عُبَید الله کندهاری سُلیمانخیلی ایوبي وائې: چې علی العموم د دی غداري سبب ښځې دی،، او یا هغه ناپوه په دین نا خبره انسانان دی،، دوي چې د غه غدار غیب گوی پتې معلومونکی ته ورسی،، اول دوی دا خبره ورته کوي،، چې ته په کتاب کښې وګوره چې په ما څه سوي دی،، هغه کوډ ګر دیوه کتاب ورقې پر له اړوی،، او ورته وائې چې یوی لنډی ښځې یا توری ښځې، یا ځکی ښځې یا یوه نر په تا تعویزونه کړي دي، نو د هغې ښځې یا نر په قریبانو کښې نژدی یا لیری په همسایه گانو کښې که د غه رنګ چې تعویز ګر ورته ووېل ښځه یا نر وو نو هغه تعویز ګر ته ووائې چې مُلا صاحب رښتیا وویل د هر رنګه ښځه یا نر زما په قریبانو یا همسایه ګانو کې سته،، نو بیا هغه ښځه یا نر و هغه غدار ملا صاحب ته وائی چې ښه اوس یه چاره راکوه،، غدار ملا صاحب ورته ووائې،، چې ته خپل نوم، او مور یا پلار نوم او د هغې بلې ښځې نوم ما ته راو ښییه،، نوزه به ما ښام خپل پیریانان پسې راواستوم،

تعویذونه به راوړی ته به صباد ښې شکرانی سره راسی،، او تعویذونه به درکړم، خیر ښځه کوړنه ولاړه نومان یې و غدار ته وروښوول،،

نو حقیقت خو دا وی چې د هغې ښځې یا تبه یا د ملا درد یا بله نا جوړي وي، ښځه د هغې نا جوړی څخه صرف نظر وکړی. او د غدار مُلا پر قول باور وکړي،، هغه اندازه روپۍ چې غدار ورته ووئیلې وه د هغې خواچې وی برابری کړي،، نو دا بله ورځ چې راسی،، غدار ملا د مخه دیر تعویزونه او دا ټري په زړو ټکرانو کښې پیچلې وی او په خاورو کښې ښځې کړی وی،، یو یا دوه تعویزه د هغو څخه راو کاږی،، او په خام قلم هغه نومان پکښې نوشته کړي. صبا چې ښځه ورسی هغه زاړه تعویزونه پلاس ورکړی،، او ورته ووائې چې په یوه بل مُلا یې وګوره ستا او ستا د مور نوم په کښې نوشته دی،، ښځه خوشحاله سی چې د نا جوړي څخه خلاصه سوم،، غدار مُلا ته په مینه مینه شکرانه ورکړی. کورته چې ولاړه سی هغه داوي او هغه یه نا جوړي وي،، غدار مُلا روپۍ یوړی،،

دبعض غدارانو بل عجب چم،، او ځان ته بزرګي ناتول،،

دوی د سحاره تر غرمې پوری په خپل ځای کی ناست وی، ښځې او نر ورته رائځي،، په د غه وخت کی دوی صرف نومان نوشته کوی،، او وه هر چا ته وائی چې په تا تعویزونه سوي دی. او هر یوه ته وائي چې صبا راسه چې زه مو تعویزونه درکړم،، شکرانی څند ے واخلی،، ماپښین نو دوی کار نه کوي،، بلکه ماپښین به دوی هغه زاړه تعویزونه چې دوی به لا د مخوا څخه په زړو ورستو ټوکرانو کښې ښخ کړي وه راوباسي کښې له او په یوه کی بې په خام قلم د یوې ښځې یا نر نوم نوشته کړی. او په بل کی د بل چا نوم،، نو بیا به دوی پسې راسم سی د هر چا وکورته نږدی ادیره (قبرستان) وای مثلاً او یا یوه خرابه وی یا لیری اوږدې کوڅه یا باغ وای هغه تعویزونه بې ترما زدیګر پوری ښخول، سحار وختی چې هغه دیرون ورځې نر او ښځې به راغلل،، نو دوی وهری ښځې او نر ته وائې چې ستا د تعویز ځای به در وښیم ورسه څخه له لئ راو کاږه ...

Maktaba Tul Ishaat.com

چا ته بیا وائي چې ورسه فلاني اديرې ته فلاني قبر ته ورځه ته د هغه يوه ډېره ده مثلاً هغه پورته کړه تعويذ ترلاندې دى په فلاني رنګ تکرانو کښې پېچلى دى، بل ته بيا بل ځاى ورو ښيي، هغه تعويذونه چې هغه خلګ په هغوځايو کې پيدا کړي، نو پر غدار کوډګر دلوى بزرګ سرى عقيده راسى او هر ځاى دده بزرګي وخلګو ته بيانوى، نورى ښځى او نر هم ور ځغلى،

برادران عزيز: خداى پاك دى فضل وکړى نه پوهيږم او سنه پوهيږم، چې د ځوانانو ښځو او ځوانانو غادرانو کوډګرانو ترمابين نور څه ګوى مګوى پلېنږي، په حديث مبارك کې راغلى دى چې بيګانه ښځه او نر چه په خالى ځاى کې سره يوځاى سى دريم يه شيطان وى،

درويش محمد عبيد الله وائي چې دا کار په افغانستان کې ډېر کم وو بلکه تخميناً نه وو، مګر په پاکستان کې ډېرد بخوا څخه دا کاروبار روان وو، نو څه وخت چې پر افغانستان بد بختى د انقلاب ثور راغلى. او ملك توله خلقيانو کميونستانو او روسانو اشغال کړى او د افغانستان عمومى خلګ وهجرت ته مجبور سول او وخرمه اسلامي حکومت پاکستان ته مهاجر سول:

نو بعض صرف په نامه ملايانو ودې ټګى، غدارى، جادوګرى، ته لاس ور واچاوه او د پيسو د جمع کو د پاره يه واسلام ته شاکړه، او د خلګو په خطا يستولو خصوصاً د ښځو په لاس پورې کړى او ز مونږ د وطن دغه غدارانو دومره شهرت يه حاصل کړې چې پاکستانى غداران ورته حيران سوه، عذر، که څه هم دغه غداران د درويش نوم په نوم پېژني لکن بيا هم نوم اخستل يه وګناه ته د غيبت سرى کښوى،

اَللّٰهُمَّ اَعِذْنَا مِنْ صَنِيْعِ هٰؤُلَآءِ الْغَادِرِيْنَ، اوس بيرته د سوره فاتحه پر لور، درويش باګناه محمد عبيد الله نقشبندى، کندهاري، ايوبي، سليما نخيلى وائي چې خواص د دى سورة مبارك بى حسابه او ترشمير دېر دى که هغه فائدى زه وليکم چې په کتابو کښې ما عاجز ته معلومات سته تخميناً ص۱ مخه کتاب به جوړ سى،

دسورة فاتحه شرطونه

(۱) درويش وائي چې اول شرط د دى سورة د نفع اخستلو حسن اعتقاد دى:

دويم شرط: يه پاکى د بدن او کالوده د نجاست څخه، **دريم شرط:** يه پاکوالى د ځاى د ويلو دى: **څلورم شرط:** يه اجازه اخستل دې ديوه پاك عالم عامل څخه، **پنځم شرط:** يه بِسْمِ اللّٰهِ په وصل د الحمد لله سره ويل دى يعنى بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط آه: **شپږم شرط:** يه دادى چې د عدد معلوم په مابين کښې به د چا سره خبرى نه کوى، **اووم شرط:** يه دادى په وخت کښې د تلاوت کولو به مخامخ وقبلى ته کښېنستلى وى، **اتم شرط:** يه دادى چې د ګناه د پاره يا د ګناه د کار د پاره بى نه وائى: **نهم شرط:** يه دادى چې اسرار به نه افشاء کوى.

لسم شرط: يه هميشه توب کول دى،، فقير وائي چې بعض فائدى د دى سورة مبارك به زه وخپلو ګرانو ورونړو او خويندو ته بيان کړم، په فتاوى صوفيه کښې به نقل د اسرار مخزونه ص۱۱ کى راغلى دى چې يو کال د ملتان په ښار کى سخته وبا او طاعون پيدا سوه، نو شيخ تميمی چې د هغه عصر يو بزرګوار شخصيت وو خپلو مريدانو ته امر وکړى چې تاسى د طاعون پر مريض باندى ۳ يا ۷ واره الحمد لله په شرط د وصل د بِسْمِ اللّٰهِ وايا ست او پر مريض يه پوه کوى، هم په هغه وخت به خداى وهغه مريض ته شفاء ور کړه، او په لږ موده کښې خداى وبا رفع کړه، او هم په دغه ص۱۱ کښې راغلى دى که څوك هميشه توب وکړى پر قرائت د سورة فاتحه په مابين د سنتو او د فرضو د سحار د لمانځه ۴۱ واره، که مسکين وو خداى پاك بى غنى کړى، او که پوره وړى وو خداى بى پور ادا کړه،

او که مريض وو په هره مريضى چې وى خداى بى ژر جوړ کړى کى اجل نه وو پوره، او که ضعيف وو خداى به قوت ور کړى، او که بيعزته وو خداى بى لوړ مقام ته د عزت ورسوى، او که ديوه منصب څخه لېرى سوى وو خداى بى هغه يا تر هغه لوړ منصب ته ورسوى، او که نر يا ښځه د نکاح خواهش لرى خداى پاك به د هغه د طبيعت

سره موافقه ماینه یا میړه ورکړی، اوکه څوك عیال نه لري یا عیال یې نه پالئ۔ خدائ به عیال ورکړی اویا بې عیال وریا یوی، اوکه دُ دښمن څخه بیریږی هغه دښمن به خدائ پاك برده باندی مهربانه کړي، اویا بې دښمن ورك کی. اودی به ځندی خلاص کړله اوکی تجارت نفع نه کوی یا تاوان کوی هغه تجارت بې خدای پاك وچلوی، اوگټوَلی و گرځوی، اوپرهرمریض چې فاتحه شریفه دم کړی هغه مریض به خدائ جوړکړی، کذا في اسرار الفاتحة،،

اودِ دُرَّةُ الآفَاقِ نامه کتاب کښی داسی وائی،، که څوك همیشه توب وکړی پرویلوړ اَلحَمدُلله په وصل د بسم الله پس له هرو لمانځه اُوه اُوه واره خدای جَلَّ لَهُ به خلاص کړي پرهغه بنده باندی دُ دنیا اود اخرت دخیردروازی،، اوخدائ به دده ددین اودنیا مهات ورحل کړی،، اوامن اوخوشحالی سره دبنه حلال رزق به خدائ ورکړي، وَاللهُ المُوَفِّقُ، اوپه صلا که چاته منظوروی،، چې زما هرمشکل دی ژر آسانه کیږی، اودهری بلا څخه دی زه په امن کی یم، اودهرچا په زړه کښی زما هیبت وی نوپه حساب دحروفودی سُورة یعنی ۱۲۵ واره دی وروسته دسحارترلمانځه دِ همیشه داسُورت مبارك وائی: بـلطریقـه: دسورة فاتحه دویلوچې په نیزد علماوو ډیر محبوبه اوډیره کامیا به طریقه یه بولی داده،،

چې سورة فاتحه دی دسحارترلمانځه وروسته ۳۰ واره،، اودماپښین ترلمانځه وروسته ۲۵ واره ۔ اودمازدیگرترلمانځه وروسته ۲۰ واره ۔ اودماښام ترلمانځه وروسته ۱۵واره اودماخستن ترلمانځه وروسته ۱۰ واره، چې مجموع ۱۰۰ واره کیږی،،

خبرتیا: هغه لس شرطونه مرهیروی نوځکه درولیش ترتولود مخه ذکرکړه.

سُوَال: دعامِل داجازی خبره تاوکړه عامِل کم سړی گرځیدای سی جواب هغه سړی عامِل دئ، چې په یوه چِلـه ۴۰ یعنی په څلویښت شبانه روزکی سره دروژی او اعتکافه که دفرضی روژی سره لس روژی دمخه وکنسی اوتولی نفلی رُوژی ونسیوه یو لك او پنځه ویشت زره ۱۲۵۰۰۰ وائی ۔ اوبیا یـه په نورو ورځو کښی همیشه توب

وکړی پرهغه عدد چې بیان سو،، ۱۰۰ واره نود غه سړی حقیقةً عامِل دئ،،

سُوَال: ته چې ځان عامِل دالحمدلله شریف بولی،، نوته دُښمنان حاسِدان او بدخواهان غیبت کوونکی بهتان ویونکی نه لری اوکه څه رنگه: جَوَابُ: هُولرم یې.. ولی حسد د بعض مُلا یانو طبعی کاردئ مگرپه برکت دالحمدُلله شریفی دټولودغوکسانو ضرر اود مخامخ مقابلی خدای پاك زه اوزماعیال ساتلی یو۔ اوکه چا مقابله کړی وي هغه خدائ مغلوبه گرځولی دی،، اوپاته بُهتان یا غیبت په هغه کښی زما اخروی فائده ده ولی چې دهغوحسنا تی ماترا نقل کیږی لکه چې یوحدیث نبويؐ دئ: دحسد په باره کښی د دُرِّ مختار خطبه مطالعه کړه:

بوځای هغه وائی ، ے هُم يَحسُدُونَنِي وَشَرُّ النَّاسِ كُلِّهِمْ: مَنْ عَاشَ فِي النَّاسِ يَوْماً غَيْرَ مَحْسُودٍ: سَوَال: دَتعصب منشأ اوبیا خاص په بعض مُلا یانوکی څرنگه دی۔

جَوَابُ: تعصب ددووجهتوڅخه مروج دئ یوتعصب قومی دی چې دا په امیانوکښی هم موجود دئ۔ اویو تعصب په سبب دفوقیت علمی دئ،، اوتعصب علمی داسی یوآفت دی لکه یوشاعرچې وائی،، چشم بداندیش که برکنده باد: عیب نماید هنرش درنظر:

سَوَال: یود هغولسوشرطوڅخه دعامِل څخه اجازه اخستل وه، نوموږ وایوچې موږ عامِل چیری پیدا کړو، اوموږ یه څه پیژنو چې دا شخص عامِل دی اوکه نه! داسی خوم پیر یـا خلیفه وائی چې زه عامِل یم نوهغه سړي په حقیقت کښی که عامِل نه وی اوموږ تـه اجازه وکړي خدائ نا خواسـته موږ ته پرځای د نفع ضرر ونه رسیږی،،

جوابُ: داسوال ستاسِی پرځای دئ اوما دعامِل ماهِیت وړانـدی بیان کړئ، پوښتـنه: تاشرائط دعامِلیت د الحَمدُ لله پرځای کړی دي۔ جَوَابُ، هُوَ درویش پس له اعتکافی ویلوڅخه یعنی ۱۲۵۰۰۰ تخمینًا پنځوس کاله کیږی چې روزانه یـه ترتیب مذکور یعنی ۱۰۰۰ یـه وایم چې تخمینًا یونیم لك واره کیږی ۱۵۰۰۰ اوپه دم کولو سره اویـا په کتابت سره می په لکوواروینه وتیلی اولیکلی ده،، بناءً عَلَى هَذَا که زه ژوندی وم اود طالب ترما لاس رسیدی خوُرا دی سی چې زه باالمشافـه اجازه ورتـه وکړم،،

Maktaba Tul Ishaat.com

کړیه چیری اهل وُو، اوکه دلیری ملک سړی ووچی درویش ته یه لاس نه رسیدی نو داسی عمل دی وکړی، چی یوه هفته پرله پسی دمابنام تر لمانځه وروسته دوه رکعته دی وکړي اوثواب دِ درویش ته وبخښی،،

وروسته دِ دَ درویش دپاره دعاد مغفرت په دربار کی درب العزت وکړی وهغه سړی ته زما پوره اجازه ده، اوکه زه مړوم دغه مذکوره اجازه هم باقی ده،، اوزه وخپلو زامنوته پس له مرګه داجازی ورکولو اجازت میراثی ور پریږدم،، وماتوفیقی الا بالله علیه توکلت والیه انیب،،

قال المصنفؒ
وئیلی دی مصنفؒ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ

ترجمہ: درود دِ وی، او سلامتیا دِ آفاتو څخه پر سردار زمونږ چی نوم یه محمد دیؒ

خَاتَمِ النَّبِيِّيْنَ وَعَلٰى اٰلِهِ الطَّاهِرِيْنَ وَصَحَابَتِهٖ اَجْمَعِيْنَ

او ختم دی د نبیانو یعنی انبیاءؑ پر ده ختم شوله،، چی بل نبی تر اخرته نه راځی،، او پر آل او اقرباؤ دِ او پر اصحابو دِ دِ، ټوله،،

پوه سه،، چی صلوٰة په لغت کی دُعاء ته وایؑ،، او په فقه شریفه کی لمانځه ته وائی او د درود په ځای کی چی نسبت یه وخدای ته وَسی په معنیٰ د نزولِ رحمت دیؑ. او چی نسبت یه وبنده ګانو ته وَسی په معنیٰ دَ طلب د رحمتِ الٰهی،، دَی،، او صاحب کشاف د درود یوه په زړه پوری ترجمه کړی ده هغه دا،، یا الٰهی ته خپل فضل په اجراء د آیات نبوتؐ او په دنیا کی په لوړه ولود ذکر د آنخضرت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دی بهرود کړی،، او په عقبیٰ او اٰخرت کی په دوچنده کولو د ثوابو ده،، او په قبلید ود شفاعت دده په باره کی د امت دی سرلوړی کړی،، رد ،، تفسیر کشاف،،

سُوَال: طلب د رحمت پر عَلیه السلام څه معنیٰ لری سره د دی چی آنحضرت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندی رحمت عامه د خدایؑ د خوا څخه نازل دی **جواب**: رحمت الٰهی هیڅ پای ته او نهایت ته رسیږی. نو بنده ګان طلب د مزید رحمت الٰهی کوی پر آنحضرتؐ باندی

او د سلام معنیٰ سلامتیا دِ آنحضرتؐ په دنیا او اخرت کښی چی د دُنیا د سلامتیا یوه برخه دا هم ده چی دین د عَلیهِ السَّلام برقرار او سرلوړی وی،، او سا تونکی د دین د علیه السلام کامیابه او برلاسی وي،،

مسئله: په کم درود کښی چی لفظ د آل او اصحابُ وی هغه درود تر ټولو افضل دی په مختصره توګه داسی ویل،، اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ،، رد محتار صاوی

مسئله: بعض عُلماء چی افراد دِ صلوٰة دَ سلام څخه مکروه دی ولی چی په ایت مبارک کی داسی راغلی دی،، صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا،، لکن رد محتار وائی چی جمع کول د صلوٰة او سلام خوږه بنه کار دیُ،، مګر یوازی صلوٰة ویل هم مکروه نه دیُ بلکه که څوک فقط عَلیه السلام ووائیؑ هم کفایت کوی،، او د ایت جواب دادی چی قران په ذکر کی قران په عمل کی جفت والی نه غواړي،، غنیة

مسئله: اکثره علماؤ وائیؑ چی درود ویل د انبیاء علیهم الصلوٰة والسلام خاصه ده،، او پر بل چا که صحابی وی او که بل څوک وی درود ویل استقلالاً مکروه تحریمی یا تنزیهی دیُ،، البته په تبع د انبیاءؑ روا دی لکه چی څوک ووائیؑ وَالصَّلٰوةُ عَلَى النَّبِیِّ وَاٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ وَاَبِیْ حَنِیْفَةَ وَاَحْبَابِهٖ مثلاً،، مزرع الحسنات،،

مسئله، جلا سلام ویل استقلالاً پر غیر د انبیاء عَلیهم السَّلام روا دی لکه چی مونږ یو و بل ته وایو،، اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ نوبناءً عَلٰى هٰذَا،، عَلیؓ علیه السلام جائز دی لکن چونکه شعار د شیعه ګانو دی،، ځکه اهل سُنت اجتناب ځنی کوی او د هغه په ځای کښی کَرَّمَ اللّٰهُ وَجْهَهٗ وائیؑ،، درویش،،

پوښتنه: څه سبب دی چی د ټولو صحابه کرامو د نامه سره رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ ویل کیږی او د حضرت علیؓ د نام سره عموماً کَرَّمَ اللّٰهُ وَجْهَهٗ ویل کیږی،، **جوابُ**: په فتاوٰی حدیثیه کی د ابن حجرؒ د دی وجه داوائیؑ چی حضرت علیؓ په کشنوالی مسلمان سوی دیُ او هیڅ وخت یه وبت ته سجده نه ده کړی،، نو د دی سببه کَرَّمَ اللّٰهُ وَجْهَهٗ د ده دپاره متعارف سو انتهی،،

لکن درولیش والیٔ: چہ امام نواویؒ پہ شرح کښې دَ مُسلم ترمذکورې وَجهې ډیره پرزایا
پورې وجہ راوړي ده هغه دا چې خروخت چې مروانیَان چې دحَضرت علیؓ دښمنان وُه
وقدرت دخلافت ته ورسیدَله نوُدوی پـه وخت کې د ذکرد نامر دحضرت علیؓ داسوُیلا
" سَوَّدَ اللّٰهُ وَجْهَہٗ"، نوځکه حقانی علماوو دهغه په مقابل کښې داسې لفظ عرف وګرځاوه
کَرَّمَ اللّٰهُ وَجْهَہٗ"

مسـئـله: امام نوویؒ والیٔ چې دعا دَرَضِیَ اللّٰهُ عَنْہُ. یا رَحِمَہُ اللّٰهُ عَلَیْہِ" واصحابوؓ
تا بعینوُ، تبع تا بعینوُ" او علماؤته ددین، اونیکانو" اولیاء اللّٰه ته مستحب دَیٔ"
لکن دکنزالدقائِق پـه شرح کښې چې" کُنُوزُ الحَقَائِق" یہ نوُمړی داسې وَائی چې ښه داده چې
دصحابی دَنوُم اخستلوسَره" رَضِیَ اللّٰهُ عَنْہُ" ووائیٔ اودتابعی دَنوم یادَولوسرہ" رَحِمَہُ اللّٰهُ
وائی" اونورو علماوو صلحاوو دنوم وره سره دِی" غَفَرلَہٗ" وَائیٔ. اوکه صحابی دصحابی زوی
وویادِ" رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالیٰ عَنْہُمَا" وَائیٔ. اودا دی خبرې بخلې امام نوویؒ پہ شرح کښې دمسلم کړیدی

پوښـتـنـه: کوم خصوصی شرعی سَبب سَته چې مصنفانؒ عمومًا پـه خپلو تصانیفو
کې پس له حمده دخدایٔ درود پر آنحضرتؐ وَائیٔ" **جواب:** پہ صحیح حدیث کښې چې
مفتاح الحصن یہ روایت کړی دیٔ" رَسُول کریمِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْہِ وسلم داسې فرمائیلی دی"
که چا درود وایـه پُرما باندی پـه یوه کتاب کې نوملا ئکه به تر هَغو پورې چې زما نوم پکښې
وی درود ویونکی سړی ته په دعا د مغفرت کوی"

مسـئـله: درود وَیل پـه ټوله عمر کښې یو وار فرض دی وَلې خدایٔ پـه صیغه دامر فرمائیلی
یَآاَیُّهَاالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَیْہِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِیْمًا صدق اللّٰه العظیم
او دی څخه وروسته چې هروخت نام نامې دَرَسُول اللّٰهُ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ" ذکرسیٔ
یعنی محمّدؐ یا احمدؐ وغیره" ذکرسی" بعض فقهاءؒ وَائی چې درود وَیل سُنت دَیٔ.
اوکه مکرر ذکرسی په تداخل سَره یو وار درود وَیل کفایت کوی" لکن مختاره اوفتوی پر
دی ده" چې دهروار نامه اخستلوسَره د آنحضرتؐ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْہِ وَسَلَّم درود ویل واجب دی"
او تداخل هم پکښې نشته" کذا فی درالمختار"

اوبیله ذکره دنامه دده مبارك درود ویل مستحب او ښه کاردیٔ.
پہ صحیح حَدیث کښې رَاغلی دی چې" آنحضرت صَلَّی اللّٰه عَلَیْہِ وَسَلَّمَ" فرمائی که چا یو وار پرما
درود وَوَایـه خدای جَلَّ جَلالہ به پر هغه سړی لس رحمتَ وکړی". اوبله خَبره دا ده چې
درود ویَل پر آنحضرت صلی اللّٰهُ عَلَیْہِ وَسَلم سَبب دَقرب دآنحضرتؐ دی په وَرځ د
قیامت کې چې په صحیح حدیث کې راغلی دی چې نږدی دَخلګو وَماته پـه وَرځ دقیامت هغه
سَړی به وی چې پُرمایہ پَه دنیا کښې ډیر ډیر درودونه وئیلی وی"
پہ روح البیان کښې دفوق الذکر ایت پہ تفسیر کښې داسې وَائی"، چې اهل تجربه دعلماؤؒ
او اولیاؤ څلور زره (۴۰۰۰) مختلف درودونه جمع کړی دی دپاره د مختلفو مقاصدوُ" چې
هریو یـه تیر بَهدف دی" پہ شرط داخلاص اویقین"
قَوْلُہٗ عَلٰی سَیِّدِنَا" مِن سَادَ یَسُوْدُ سِیَادَةً وَسَیُدُوْدَةً، مهترشدن" **پوه سَه:** چې مُراد
دضمیر متکلم مَع الغیر څخه یوازی امت محمدیؐ مراد نه دی بلکه ټوله افراد د نوع انسانی مراد دی
ولې چې پـه صحیح حدیث کښې راغلی دې" اَنَاسَیِّدُ وُلْدِ اٰدَمَ وَلَافَخْرَ، **قَوْلُہٗ مُحَمَّدٍ"**
دالفظ مبالغه دیٔ د محمود"

حِکمَت اِلٰهی

پہ هغه زمانه کښې چې آنحضرت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْہِ وسَلم د رحِم دموړ چې" اٰمنَه" یہ نوم وو
دنیاته تشریف راوړی هغه زمانه توره دوره د جاهلیت وَه چې عمومی نومان دهغې زمانې،
عمرو یا بَکر یَا عبَدالعزی یا عبَد المناف وامثالها" به پر ژامنوُ ایښودَل کیدَل خدایٔ
دعبدالمطلب چې د عَلیْہ السلام نیکه دی یو داسې مبارك نوم په زړه کښې وراچوُه یعنی
محمّد چې دوروسته حالاتوسره د آنحضرتؐ ډیر موافق دی.
قَوْلُہٗ خَاتَمُ" الخاتم ما یُخْتَمُ بِہِ الشیٔ یعنی انبیاء عَلیهم السلام پر آنحضرتؐ ختم
سوه. وروسته تر ده هرڅوك چې دعوی د نبوت کوی هغه کاذب اودجال او کافر مطلق دی
فـائدَه: پہ پاکستان کې چې دین اومذهب اوقلم اوویـنا آزاد دی"، اود مخه ترجوړیدو
د پاکستان د پنجاب پـه علاقه کښې یو سړی پـه نامه د غلام محمد پیدا سوی ؤ.

Maktaba Tul Ishaat.com

چې ختمِ نبوت د آنحضرتؐ په زمانه اوځانته هم نبي صاحب الوحي بالله چنانچه دهغه دوچې کتابونه اوس هم په پاکستان کې موجود دي.

دی سرې په کهمك د انگریزانو چې دوی گرده عمر د مسلمانانو څخه احساس د خطر کوی، ول چې دوی کارنامی د حقیقی مسلمانانو د تاریخ په پاڼو کښې وئیلی دی: نوگرده عمر په مسلمانانو کې رخنه او شگاف پید اکوی.

خو انگریزانو غُلام محُـمّد قادیانی ته لوی مالی کهمك ورکاوه اوده ته تحفظیه کاوه حتی چې دی ملعون کافر لوی شهرت اودیر اَتباع پهٔ لاهور او پنجاب کښې پید اکړه چې دَ قادیانو په نامه تراوسه یادیږی. په مقابل کې دهغه مسلمانانو د ختم النبوة په نامه اداره قائمه کړه او پرغُلام محـمد اوده پر تابعانو یـه متفق القول فتوٰی دکفر صادره کړه. لکن سره دهغه قادیانی مذهب تراوسه چلیږی اوخپل دعبادت ځایونه په هر ښار کښې لري. اومقابله تراوسه سختوی پورې جاري دهٔ که څه غلام محـمّد ملعون خودوخت مړدی. لکن پرځای یه بشیر احمد چې دده زوی دی چې فعالیت کوی،

د غُلام محـمد مرګ

دی دغولو کولو دپاره دغولو پرعمیق ځای ناست وو، تکه چې په ټوله پاکستان کې دغه ځاهان رواج چې نابېره دڅاسرونږیدی اوغلام محُمّد وڅاه نه ولویدی، اودهغه غُولو په ځاکی دی مردار مړسو، وَذٰلِكَ جَزَاءُ مَنْ حَارَبَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فِی الدُّنْيَا۔ وَاَمَّا عَذَابُ الْاٰخِرَةِ لَهُمْ فَهُوَ اَشَدُّ وَاَبْقٰی۔

قوله: النَّبِيّٖنَ: دالفظ جمع دنبی ده اونبي هغه انسان دی چې خدائ دخپلو احکامو تبلیغ اورسولو دپاره انسانانو ته رااستولی وی: اوپـه ورسره معجزو سره دَده دنبوت تائید کړي وي که نوی کتاب ورسره وی اوکه نه وی،،

او **رَسُول**، په عَرَبي لغت کې پیغام وَړونکی ته وَائ. اوپه شرع شریفه کې بعض عُلماء وَائ چې رسول اونبي پـه یوه معنیٰ دی. لکن حق دادی چې رَسُول تر نبي خاص دَئ ولې چې رَسُول هغه نبي دی چې نوی کتاب اودین ورسره وی،

ددرویش ایوبي په عقیده دغه مذهب د احادیثو مبارکه سره وو برابر دئ: ولې چې په صحیح مسلمؒ

کښې راغلی دی، چې یو ځای د آنحضرت صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې انبیاء علیهم السّلام څودی! آنحضرتؐ جواب ورکړی چې یو لک وڅلیر ویشت زره دي. هغه سړي بیا پوښتنه وکړه چې رسُولان په دوی کې څودي! آنحضرتؐ وویـله دری سوه اودیارلس۔ ۳۱۳

سوال! په حدیث مبارك کې راغلی دی چې کتابونه دخدائ یوسل اوڅلور دی نوڅرنگه به یوسل اوڅلور پر ۳۱۳ تقسیم سی،، **جوابٌ**: مولیٰ خیالیؒ پـه حاشیه کښې دَشرح العقائد وائ. چې بعض دَ دغو کتابو مکرر نازل سوی دئ تکه چې سورهٔ فاتحه دوه واره نازله سویده کذا فی الحدیث النبوی، نوپه دې ترتیب دَ دغه ۱۰۴ کتابه پر ۳۱۳ رسولانو نازل سوی دی:

فائِدَه: اول د انبیاء عَلیهم السّلام آدم ابوالبشرؑ دی اواخیر دنبیانو محمد خیر البشر دی علیه وَعلیهم الصلوٰة وَالسّلام:

مسئله: دانبیاء عَلیهم السلام دَشمیر تعَیین دِسری نه کوی ولې چې په حدیثو مبارکه ووکې اختلاف دی بلکه یادی داسی وَائ چې پرټولو انبیاءؑ هرڅوچې دی زما ایمان دئ. اویادِ داسی وَائ چې زه یو لك څلیرویشت زره زیـا توکم پیغمبران منَم،

مسئله: دین محمدی صَلی الله علیه وَسَلم دَټولو ادیانو ناسِخ دی، اوټولی دینی لاری خدائ جلّ جلاله بندی کړیادی بیله دین محـمد صَلی الله عَلیه وَسَلم، سعدیؒ

مپندار سعدیؔ کہ راہ صفا: توان رفت جز دربی مصطفیٰ، د آنحضرت صَلی الله عَلیه وَسَلم نومان دېردی، دَلائل الخیرات مطالعه کړی،،

قوله وَعَلٰی اٰلِهٖ آه آل دعَلیه السّلام بعض عُلماء وَائ چې اهلِ بَیت دَدهٔ م دي، یعنی دکور انسانان، چې امهاتُ المؤمنینؓ یعنی د آنحضرتؐ کوروالا چې دَټولو مسلمانانو مندی دي اود عَلیه السلام لوڼړی دیؓ اوخادمان دَده مبارك، اوبعض علماء وَائ چې آل د علیه السلام اقرباء نسبی دعَلیه السلام دی په شرطِ دَ ایمان، یعنی اولاد د علیؓ اوعقیل اوطالب دی، ترورځی پورې دقیامت، اوبعض دَاوَائ چې آل دنبی علیـه السلام هرمسلمان تر یـابنځه چې تقوی داره وی، کما ورد فی الحدیث النبوی، کُلُّ مُؤْمِنٍ تَقِیٍّ نَقِیٍّ فَهُوَ اٰلِیْ،،

قوله وَصَحَابَتِهٖ، صحابه جمع دصاحب دی یعنی ملگری، اوپه شرع شریفه کښې صحابي

هرهغه انسان مُسلمان دی چی په وخت کښی داسلام په آنحضرتؐ لیدلی وی اویا یه دعلیه السلام مجلس کړی وی، لکه عبد الله ابن ام مکتومؓ چی په سترګو ړوندوو، اوپر هغه اسلام مروی، که غرم یوګړی یه مُلاقات ورسره کړی وی، او بعض محدثان طول صحبت یعنی کم ازکم ۲ شپږ میاشتی، او بعض محدثان روایت دحدیثهم شرط بولیه د مُلاعلی قاریؒ شرح مشکوٰة، او مقدمه د بخاری شریف مطالعه کړی»

نادره خبره

پوه سه: چی په پښتو کښی حتی په علماؤ اود طلباء کښی دا رواج دی، چی استاذ ته یا مُرشد ته یا بل محترم دینی عالم ته فلان صاحب، یامولوی صاحب، یافلان پیر صاحب وائی او سره ددی چی صاحب په معنی لغوی چی ملګری ته وائی د تعظیم لفظ نه دی بلکه په عرف دعربو صاحب شاګرد ته وائی. نو پښتانه خبر نه دی چه دا لفظ د تعظیم په ځای کی استعمال وی، بلکه بعض عوام بلکه طالبان و استاد ته وائی، مولوی ساب، دا لفظ دسب نه مشتق دی چی معنی یه بنکنځل دی، نو د ساب معنی بنکنځل کوونکی»

پوه سه: چی ددی معمی حل دادی چی دا لفظ په غیر کی د اصحابوؓ د علیه السلام صائب دی چی دصواب نه جوړسوی دی یعنی حق ته رسیدلی، او اصل یه صاوبٌ وو پس له الف زائده نه واو په همزه بدل سو، صائبٌ ځندی جوړسو او پردی تقدیر دا لفظ د تعظیم دی استاذ یاشیخ یابل لوی عالم ته ویل تعظیم دی» دا نوی فائده په یاد کړی او دا لفظ یعنی صائب تر استعمال لاندی ونسی» درویش بګناه محمد عبید الله الایوبی السلیمانخیلی کندهاری غفرله الباری

دَ دُرودوَیلو په باب کی پرزه پوری معلومات
اومسائل فقهیه

پوښتنه: ذکر یعنی نوم دالله ج یا کلمه طیبه افضل دی او که درود پر آنحضرت صلی الله علیه وسلم افضل دی: **جواب**: شاه انورشاه کشمیری المرحوم چی یو وخت په مدرسه کی د دیوبند صدر المدرسین وو او شیخ الحدیث وو او پر ترمذی شریف باندی

بوه لنده او محقق شرحه یه کړیده» داسی فیصله کړیده چی دپاره د امید د شفاعت نبوی په ورځ دقیامت درود ویل بنه دی» او دپاره د مغفرت دګناهو دجانب نه درب العزت ذکر افضل دی»

په حدیث مبارک کی راغلی دی» اَفضَلُ الذِّکرِ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ، وَاَفضَلُ الدُّعَاءِ اَلحَمدُ لِلّٰهِ»
ابن حجرؒ په فتاوی حدیثیه کی داسی ویلی دی چه چونکه ذکر تر دعاء افضل دی نو کلمه توحید تر حمد ویلو افضله ده»

مسئله: چونکه شیخ او اجازه ور کوونکی د درود د آنحضرت صلی الله علیه وسلم دی. نو ځکه اولیاء الله ؒ وائی چی د درود ویلو دپاره اجازه د پیر کامل نه غواړی. نو په درود ویلو سیله اجازی د شیخ هم خدای ته رسیږی. او آنحضرت م ته نږدی کیږی او برخلاف د نورو اذکارو چی د هغو په ویلو کښی اجازه د شیخ کامل ضروری ده، ولی چی شیطان مداخله په کښی کوی خدا ناخواسته چی د نفع پر ځای ضرر وروته رسیږی، هکذا فی الصاوی شرح جلالین،

پوه سه: چی درود ویل په ټوله عمر کښی د مسلمان یو وار فرض عین دی، چی وړاندی تیره سوه، او کوم وخت چی نوم د آنحضرت م په مجلس کی یادسی، پر ویونکی او اوریدونکی پر درود ویل واجب دی دا مسئله هم مختصر ذکر سوه، د ګلته دا زده کول په کار دی چی ویونکی په درود ویلو او اوریدونکی غاړی نه خلاصیږی. - داده قرآن عظیم الشان خاصیت دی چی سامع لکه لوستونکی دی.

مسئله: که چا د آنحضرت ص نوم وَوایه یا یه واوریدی مګر درود ویل یه هیر سوه نو دا درود د هغه په ذمه کښی پوردی هر وخت چی ور یادسی درود دی و وائی» ردمحتار،

د تعجب ځای دی، چی زمونږ پښتانه عموماً خصوصاً بعض واعظان او امامان د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د نام نامی چندانی احترام په درود ویلو سره نه کوی. او سره ددی چی په ترمذی شریف کی حدیث نبوی دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم وائی چی بخیل هغه څوک دی چی زما نوم دده په وړاندی ذکرسی او درود پر ما نه وَوائی»

Maktaba Tul Ishaat.com

او ابن حجرؒ په درمنضود کی داسی روایت کړی دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم وفرمایل چی جبرئیل امین علیه السلام وویل چی هغه سړی د رحمت الهی ډیر لری دی وی چی ستا نوم د ده د مخه یاد کړه سی او دی درود پر تا نه وَوایی علیه السلام وایی ما وویل اٰمین، رد محتار حاصل دا چی درود په ویلو کښی فلاح د دنیا او اخرت سته، او نه ویلو کی یې خسر الدنیا والاخرة دی»

«دُرود سُنت دی»

په اخره ناسته کی د ټولو لمونځو که فرض وی که سنت وی او که نفل، او د نفلو په اوله ناسته کی هم سُنت دی، «والناس عن هٰذا غافلون» او د جنازی په لمانځه کی پس له دوم تکبیر څخه

«دُرود وَیل مُستحب دی» په دے لاندی ځایو کی:

۱ په شپه او ورځ کی د جمعی» ۲ په وخت کی د داخلیدو مسجد ته او یا د وتلو د مسجد څخه ۳ په روضه مقدسه مُعلیٰ کی د آنحضرت صلی الله علیه وسلم بلکه بیخی ډیر ډیر دی وایی ۴ پر صفا او مروه په وخت کی د سعی. ۵ په هره خطبه کی ۶ پس له اجابت د مؤذن. ۷ په اول او اخر کښی د دُعا، د دی ویلو راز دا دی چی درود نبوی خونه په دربار کی د خدای قبول دی نو د رب جل شانه د کرمه څخه لیری نه ده چی د ما بین دعا هم قبول کړ ۸ پس له تلبیه څخه ۹ د او دس تازه کولو په وخت کی ۱۰ په وخت کی چی په غوږ کی از انګه وَسی ۱۱ کله چی د سړی یوه خبره یا کار هیر سی درود دی ووایی ور پیاد به سی، وهذا من المجربات ۱۲ هر وخت چی وعظ ته کښینی یعنی وعظ شروع کوی ۱۳ هغه وخت چی مدرس درس شروع کوی خصوصًا د علوم دینی وو» ۱۴ چی مبارک وایی ۱۵ په اول او اخیر کی د تلاوت د قراٰن عظیمُ الشان» ۱۶ چی استفتاء لیکی یا فتوی لیکی یا کتاب لیکی» ۱۷ چی مرکه د نکاح یو ځای استوی ۱۸ د نکاح تړلو په وخت کی ۱۹ د هغه تر هر کار چی مقصود او شرعی وی» ۲۰ په وخت د لیکلو د نامه د آنحضرت صلی الله علیه وسلم

دُرود وَیل مکرُوه دی»

۱ په وخت کښی د جماع کولو ۲ چی عورت غلیظه په ښکاره وی ۳ د پاره د خرید او فروخت او د سامان د رواجولو د پاره» ۴ د تعجب په وخت کی ۵ چی نوک وَوَهی یا غوځارسی ۶ په وخت د ذبح کیدو د حیوان،

۷ په وخت کی د ازرمی ۸ بیله اخیری ناستی د لمانځه په بل ځای کی ۹ چی په درود سره په مجلس کی د غتې شخص یا سردار د پاره ځای غواړی»

مسئله: درود شریف په هر حالت کښی بلا کراهته روا دی.. حتی په وخت کی د حدث یا جنابت هم روا دی» کذا فی رد المحتار»

دَ اخَبَرَه هم زده کړه

حضرة المولی البرسویؒ مصنف د روح البیان په تفسیر کی د دی ایت مبارک» اِنَّ اللهَ وَ مَلٰئِکَتَهٗ آه داسی لیکلی دی چی درودونه څلور زره دی» او په بل روایت کی دوولس زره دی» عارفان» او اولیاء» او عاشقان د نور محمدیؐ شرقًا وغربًا وجنوبًا وشمالاً یو درود په ما بین د دوی او د روح مقدس مطهر نبوی سبب د رابطهٔ روحانی ګرځوی» او د قسم قسم امراض ظاهره او باطنه یو درود په تجربه رسولی دی» او د قسم رقم فائدی تر نیه اخستی دی چی د هغو ټولو درودو، او د هغو د خواصو او فائیدو ټولو بیانول د طوق څخه د قلم د عاصی پوره نه دی. او د هغو ټولو بیانول لوی کتاب او دفتر غواړی»

لکن درویش به د ګرانو ورونړو او خوندو د پاره بعض درودونه وړاندی کړم، شاید بعض محبان د آنحضرتؐ او په او رسوی عاشقان د آن سرور کائناتؐ ګټه څندی وَاخلی او د ذات انور نبویؐ سره یې رابطه حاصله کړی»

درویش وایی چی د پاره د دفع د ټولو غمو او مصیبتو او د جلب د ټولو منفعتو په تجربه د اولیاء اللهؒ رسیدلی درود هم دا دی: بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ صَلٰوةً تُنَجِّیْنَا مِنْ جَمِیْعِ الْاَحْوَالِ وَالْاٰفَاتِ وَتَقْضِیْ لَنَا بِهَا جَمِیْعَ الْحَاجَاتِ» وَتُطَهِّرُنَا بِهَا مِنْ جَمِیْعِ السَّیِّئَاتِ» وَتَرْفَعُنَا بِهَا اَعْلَی الدَّرَجَاتِ» وَتُبَلِّغُنَا بِهَا اَقْصَی الْغَایَاتِ مِنْ جَمِیْعِ الْخَیْرَاتِ» فِی الْحَیَاةِ وَبَعْدَ الْمَمَاتِ دا درود په شبانه روز کی کم از کم پنځه واره وایی، په همیشه توب سره بی د دنیا او اخرت فائدی تر لاسه کړی» ان شاء الله العزیز»

شیخ اکبر محی الدین ابن عربیؒ وائی چی دا درود دَلوی خزانی نه د خزانو دعرش الرحمن دی او ډیر سریع التاثیره دی، او دغه رنګه امام جزولیؒ او شیخ بونیؒ ددی درود مبارک په سوو فائدی بیان کړی دی، او صاحبُ الاسرار ددی درود په فوائدو کښی ډیر مفصل بیان کړی دیُ۔

(حضرت جابر بن عبد اللهؓ نه روایت دی چی حضور اکرم صَلّی الله عَلیه وَسَلم وفرمائیله که یو چا پر ما هره ورځ سل واره درود ووایه، یعنی هر درود چروی، خدای پاک به پوره کړی د هغه سَرېے سل کارُه، او ۷۰ یا په اٰخرت کښی او ۳۰ ډیرش په دُنیا کی۔ او په یوه بل روایت کی داسی راغلی دی، که خوك درود وَوائی پرما هره ورځ ۵۰۰ واره، یعنی که پر یوه ځای وی اوکه جلا جلا مسکین به نسی ابدًا۔ او دغه رنګه دَ نبی عَلیه السلام نه روایت دی چی زه حبیب یعنی دوست دخدائ یَم، او پرما درود ویونکی زما دوست دیُ، نو که خوك غواړی چی زه حبیب سره حبیب یعنی خدای پاك، نو درود دے ډیر وائیُ پر حَبیب حضرت الامام جَلال الدین سَیُوطیؒ وائی چی دا احادیث ټوله صحیح دیُ،

او دیؒ وائی: چی په تحقیق سره درود ویل پر سردار دو عالمؐ باندی سَبب د ډیر والی د رزق دی۔ او سَبب د ډیریدو دبرکت دی په مال او عیَال او تجارت کښی۔ او په درود ویلو سره لوی لوی حاجتونه دسره کیږی، او غمونه، فکر خرابی، وسواس دفع کیږی،

جَلال الدین سیوطیؒ زیاته کړیده، چی دا ټوله خبری په تجربه او مشاهده رسیدلی دی او درود ویل پر آنحضرت صلی الله عَلیه وَسَلم واسطه کول۔ په ټولو جائزو کارو کښو او مهماتو کی، دَ ټولو علماوو که متقدمینؒ دی او که متاخرینؒ بلکه په پیریَانو او ملکوکی قدیم رواج دی، دَ درویش وَائیُ چی امام سَیُوطیؒ په دی باره کښی لوی تحقیق کړی دی او ډیر اوږده اولنډ حدیثونه یه روایت کړی دی، زمونږ دَ اَهل سُنتو عَقیده دَ اَدَه چی اصحاب کرامؓ د رسول الله صَلی اللهُ عَلیه وَسَلم ټوله عادلان دی۔ او دلمت محمدیہؐ غوره او بهتره کسان دی هیڅ صحابیؓ ته مونږ بَد نه وایو لکه معتزله او خوارج او شیعَهٗ ګان چی بعض صحابه وو ته بَد نسبتونه کوی حتی پر بعض اصحابو دکفر ټا فی هم لګوی، العیاذ بالله

البته مونږ عقیده لرو چی دَ ټوله امت افضله بلکه دَ ټولی نوع انسانی بیله انبیاءؑ افضل اَبُوبکر الصدیق دی رَضِیَ اللہُ تَعَالیٰ عَنہ، او بیا عمر بن الخطاب دی رَضِیَ اللہُ تَعَالیٰ عَنہ او بیا عثمان بن عَفان دی رَضِیَ اللہُ تَعَالیٰ عَنہ او بیا علی بن ابی طالب دی رَضِیَ اللہُ تَعَالیٰ عَنہ چی ورته څلورو نفرو ته خُلَفَاءِ رَاشدِین وَائیُ،

پوښتنه: تا په د مخه کښی د پیر کامِل ذکر وکړی د پاره د اجازی دا ذکارو نو زمونږ پوښتنه دا ده چی پیر کامِل څه نخښی او علامی لري او که په صرف دعوه سره سړي پیر کامِل جوړیدای سی! **جوابُ**: هو پیر کامِل خپل ماهیَت او معنیٰ لری هغه دا چی پیر کامِل هغه خوك دی چی عقائد یه داهِل سُنتو وی۔ او د هر بدعَت نه خلاص وی او د شریعت مطهره په تمامو معناوو پابند وی۔ او حتی الامکان ټوله امور شرعیه پر ځای کوی۔ او په مباح شهواتو کښی هم ډیر غرق نه وی، پیری په نَسب نه ده لکه داوس عصر دعوامو چی زعم باطل دی،

یعنی چی دَ چا پلار ښه دیندار ه مُبارك سړي وو، نو زوی یه هم پیر کامِل دی که څه هم فاسق فاجر بی لمانځه، بږرخړیلی، سګوان وی، حتی چی عوام دَ دَغسی فاسقانو پیرزاده ګانو هم احترام کوی او هم یه مریدان کیږی۔ بعض عوام د پیرزاد ګانو په تعریف کی وَائیُ، دَ ښو غو ښو سَبه ښورواُ وی، جواب، هو لکن چی په ښوروا مرداری نه سی ګډه۔ سه بیت: پسر نوح با بدان بنشست ؛ خاندان نبوتش گم شد،

قوله اَلطَّاهِرِیْن آه ای من العقائد الفاسدة، د عقائدو فاسده وو نه او د اعمالِ خبیثه وو او ناروا عملو نه ټوله پاك وَه،

سُوال جَواب طَلبُ

تا سو اکثره دَ غه مسَئلی او فوَائدی چی تر اوسه تاسی ذکر کړیدی د قدوری په شرح پښتو کی چی د نور الایضاح تر شرحی د مخه تاسو تصنیف کړي وه ذکر کړیدی نو په دي شرح د نور الایضاح کی وراوړو ته څه ضرورت وو... بلکه بایدُ چی په مشترکه . . .

Maktaba Tul Ishaat.com

مسائلو اوفوائدو کښې موشرح قدوری ته صفحه بنده حواله کړې وای نو دا شرح به اوږ دیدلای **جواب**: علامه تفتازانیؒ پر تلخیص دوې شرحې کړې دي چې یوه شرح یه دمُطوّل په نامه یادیږی او بله شرحه یه مختصر المعانی بولی نو د غه جناب پر دې کې څه غرض وو او سره ددې چې مشترک بیانات په دواړو کښې سته.

دد رویش غرض دادی چې طالب علم ته دحوالی په سبب دقت په پید اکولو کې دشرح قدوری پیښ نه سی،، بلکه هرڅه مضمون چې وی په دی شرح کښې زده کړی: او بل سبب دادی چې چونکه قدوری که څه هم په فقه حنیفی کښې لوی قدر لری او محقق کتاب دی لکن چونکه په سیخی لچنیانو ویل کیږی، نو د طالبانو چې وځانته یوڅه وائی دقدوری و درسولو ته میل نه لری،، نو وشرحی ته دهغی به څه میل ولری، بخلاف دنور الایضاح چې هغه مُسَلَّم مغلق کتاب دی چې طالبان بلکه امامان یې په حل لپسې سرگردان دی،،

نو چې دوې واورې چې پر نور الایضاح پښتو شرحه سویده نو هغه شرحه به مینه مینه لاس ته راوړی،، نو د دَرویش مسائل اوفوائد دشرح دقدوری په دی شرح کښې هم ذکر کړه تاچه طالبان دهغو سپیڅلو فوائدو وڅخه محرومه اوبې برخې پاته نه سی.

وهذا نتیجة غایة شفقة العاصی معهم، والله الموفق،

مصنفؒ وئیلی دی **قَالَ الْعَبْدُ الْفَقِیْرُ اِلٰی مَوْلَاہُ الْغَنِیْ اَبُوالْاِخْلَاصِ**

ترجمه: وئیلی دی فقیر یعنی محتاجه وبادار ته خپل چې مراد خدائ دی، هستی خدای چې غنی

حَسَنُ الْوَفَائِیْ الشَّرُنْبَلَالِیْ اَلْحَنَفِیْ

یعنی لی پروا او غیر محتاجه چاته، چې پلار د اخلاص دی چې حسن یې نوم دی او وفائی دی دایه تخلص دی. او منسوب وشرنبلال ته چې دایه وطن دی. او حنفی مذهبه دی.

پوه سه: چې فقیر په لغت کی هغه چاته وائی چې مال نه لری نو چونکه فقیر په دی معنی وصله ته حاجت چې، اِلٰی دی نه درلودی ددې سببه علماؤ دلته دفقیر ترجمه په محتاج کړی

چې هغه بیا، اِلٰی، غواړی،

قوله اِلٰی مَوْلَاہُ، پوه سه چې مَولا په ډیرو معنا وو کښې په عربي کی استعمالیږی لکه د مَرَبِّیٔ مالک او خود مُرَبِّي ته هم وائی. او د ا کازوی ته هم مولا وائی،، خو دلته په معنا د بادار دی او حقیقی باداره ټولو مخلوقاتو یوازی او یوازی خدای پاک دی جل سلطانه.

قوله الغنی: غنی په عُرف کی دَ فقهی شریفی هغه چاته وائی چې یو نصاب دنصابو دزکوة لری. او په لغت کښې ضد د فقیر دی،، او غنی کامل خدای پاک دی وَلیس:

قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی: وَ اللّٰهُ الْغَنِیُّ وَ اَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ،، خدایؒ دی غنی مطلق چې نه په ذات او نه په صفاتو کښې او نه هم په افعالو کښې چاته محتاجه دی. او تاسی ټوله فقراء او محتاجه یاست هم په ذات کی او هم په صفاتو کښې او هم په افعالو کی،،

طحطاویؒ په شرح کښې دمراقی الفلاح،، چې مختصر شرح دنور الایضاح ده منلی،، په نسبت کی دشرنبلالی داسی وائی،، چې مصنفؒ په اخیرکی د رسالی دده چې،، دُرالکنوز، یه نوم دی داسی وئیلی دی چې دالفظ شائع دی یعنی شرنبلالی،، او اصل لفظ، شبرابلولی. دی ولی هغه قریه چې په سواد مصر کښې واقع ده او مصنفؒ هم دهغی قریې دی نوم یه شبرالولة دی،، **قوله**،

الحنفی، یعنی په مذهب د امام اعظم سراج الامة ابوحنیفةؒ دی،، **پوه سه** چې نسبت وه ابوحنیفه ته په حذف دجزء اول دی،، او تاء دتانیث کیږی،، اما بعض عُلماء دجهت دکثرت استعمال لفظ د،یا،، هم حذفوی لکه مصنفؒ چې حذف کړیده،، او بعض عُلماء یې په اثبات دیاء وائی یعنی حنیفی،، مصنفؒ وئیلی دی

اِنَّہُ الْتَمَسَ مِنِّیْ بَعْضُ الْاَخِلَّاءِ عَامَلَنَا اللّٰهُ وَاِیَّاهُمْ بِلُطْفِهِ الْخَفِیْ

ترجمه: چې په تحقیق سره خواهش او طلب وکی زما څخه بعض دوستانو چې خدایؒ دې معامله وکړی زمونږ او د دوی سره په مهربانی خپله چې پټه ده،،

قوله اِنَّہٗ، دا مقوله دَقال ده، او ضمیر یې دپاره دشان دی،،

قَولُهُ اِلتمَسَ آه اهل عربيت اواهل اصول وائی، چې څوك طلب ديوكار وكی دبل سړی څخه اودی ځان پرهغه لوړ بولي هغه طلب ته اَمَر وائی لکه چې با دار وَمرَيي ته وَوائي اِفعَل كَذَا ، يا يوحاكم وعسكرته وَوائی اِفعَل كذا ، اوكه طالب ځان برابر باله دمامور سره هغه ته التماس وائي ، لکه يولندېوال وبَل ته وَوائی چی دااوبه حورا کـه ، اوكه طالب ځان عاجزه اوخوار كـاږه هغه طلب ته دعا وائی ، لکه چې يوبنده خدای ته وَوائی ، اَللّٰهُمَّ اغفِرلِي ذُنُوبِي وَارزُقنِي وَاجبُرنِي وَغَيرذالِكَ ، قوله الاخِلاء جمع دَخليل دَه ، لکه اَحبَاء جمع دحبيب ده يا اطباء جمع د طبيب ده اود خليل معنیٰ دوست برگزيده يعنی چې دوستی يه د نفاقه خالی وی ،

قَولُهُ عَامَلَنَا اللّٰهُ آه پوه سه چې عامِل باب دمفاعله دیٰ ، چې عَمَل د دوا ړو طرفو څخه غواړی ، لبعض عُلماء وَائی چې داباب دلته په معنیٰ دمجرد دیٰ ، چې عمل دی ، يعنی خدایٰ دموږ سره عمل وکړي په لطف سره لکن سره دمبالغی كذا قال الرضيؒ ، او بعض علماء وائی چې باب دمفاعله دلته پرخپل معنیٰ جاري دی ، وَلی چې داباب صرف اشتراك په مصدر کی چې عمل دی غواړی که څه هم نوع د عمل يَه مختلف وی ، نومعنیٰ داسی دَه چې خدایٰ دِ عمل د مغفرت وکړي چې زموږ دخوا عَمَل دمعصيت وی ، اوخدایٰ دِ عمَل دالِ د جنت وکړي چې زموږ دخوا عمل سَبب د دوږخ وی ، وَعَلىٰ هذا القياس غيره من الاعمال

قَولُهُ بِلُطفِهِ ، دلطف معنیٰ مهربانی ده كه څه سبب يه نه وی قَولُهُ الخَفِي ، اگرچه دخدایٰ لطف جلی اوخفی دَوارہ ستہ لکن لطف جلی هغه دی چې ظاهری سَبب وَلری اولطف خَفی هغه ته وَائی چې بيله کومَه سَببه وی يعنی بيله كم سَببه خدایٰ پرخپل بنده لطف اومهربانی وکړي ، او بعض عُلماء وائی چې لُطف جلی د خدایٰ په نعمتو سره د دُنيا دی ، اولطف خَفی دخدایٰ پـه نعمتو ابدی ووسره داخرت دَی ،

فَائِدَه: چونکه لطف خفی دخدایٰ پَه هره معنیٰ وی تر لطف جلی فضيلت لري نو ځکه مصنفؒ طلب د لطف خفی وکړيٰ ،

"كتبه ورتبه فضل الحق حقانی غفرله البارى"

مصنفؒ وَسيلی دی

اَن اَعمَلَ مُقَدِّمَةً فِي العِبَادَاتِ تُقَرِّبُ عَلَى المُبتَدِي

ترجمه: ددی التماس يه وکړي چې زه عمل وکړم ، يعنی تصنيف کړم يوه مقدمه په عباداتو کی هسی مقدمه

مَاتَشَتَّتَ مِنَ المَسَائِلِ فِي المُطَوَّلَاتِ

چې نږدی کړي وَه مبتدی ته يعنی نوی زده کونکی دفقه هغو مسائل چې پراگنده اوپاشلی دی په لوئی اوغټو کتابو کښی يعنی د فقه شريفی ،

قوله اَن اَعمَلَ آه دالفظ مفعول د اِلتمَسَ ، دیٰ : عمل خويو عَام لفظ دی لکن په قرينه دمقام مراد څندی تصنيف کول دی ، تنبيه : مصنفؒ دعمل لفظ مختاره کړي دی ددی سَببه چې تصنيفم يو عَمَل دی ، فقهی فَقَولُهُ مُقَدِّمَةً : دمقدمی معنیٰ هغه ډله ده چې د مخه تر نورو وی ، لکه مُقَدِّمَةُ الجَيش ، چې تر عمومی لښکر د مخه تلونکی ډلی ته وائی ، مصنفؒ داخپل کتاب ته مقدمه ووئيله اشاره يه وکړه چې داکتاب بايَد تر نورو مطولاتو دفقهی مخکښی د زده کړي په ميدان کی ودرَول سی ، تا چې هغوته لاره خلاصه سی ،

قولُهُ فِي العِبَادَاتِ ، عبادت هرهغه عمل ته وائی چې رب جل وعلا ته تقرب په کيږی که فرضی وی اوکه واجب وی اوکه سنت يا مستحب دی ، په دی کښی مصنفؒ داول الامر څخه متعلم ته اطلاع وَرکړه چې د منهيا تو لکه زنا . لواطت وغيرها د ده په دی کتاب کی نسته ، قَولُهُ تُقَرِّبُ آه دا صفت دمقدمة دیٰ والتقريب معناه نزديک گردانيدَن ،

قَولُهُ عَلَى المُبتَدِي ، اگرچه د تقريب صِله خود ، اِلیٰ ، لفظ راځی كما فی تَقَرَّبتُ اِلَيهِ . لکن حروف صله يودبَل په ځای کی بی انکاره دچا راتلای سی ، كما فی التلويح ، وحاصل كلام المذكور دادی داکتاب يعنی نورالايضاح د عَباداتو په باره کښی هغه مسائل مهمه چې په لو يوکتابو کښی پراگنده وی . ومُبتَدی ته دفقهی جمع کوی گويا

Maktaba Tul Ishaat.com

دریاب پہ کوزہ کښې جمع کوي، مصنف وئیلي دي

فَاسْتَعَنْتُ بِاللّٰهِ وَاَجَبْتُهٗ طَالِبًا لِلثَّوَابِ

ترجمہ: پس ما کهمك او توفیق وغوښتی دخدائ څخه۔ او ما قبلونه دهغو دالتماس وکړه پهٔ داسې حال کې زهٔ غوښتونکی د ثواب یم درب العباد څخه۔ یعنې ریا او سُمعت چې دعمل خیر لغوکونکې دي زما مطلب نهٔ دي» مصنف وئیلي دي

وَلَا اَذْكُرُ اِلَّا مَا جَزَمَ بِصِحَّتِهٖ اَهْلُ التَّرْجِيْحِ مِنْ غَيْرِ اِطْنَابٍ

ترجمہ: او زهٔ نهٔ ذکر کوم پهٔ دې کتاب کې مګر هغه مسائل چې یقین کړی وي اهل الترجیح پهٔ صحیح والی سره دهغو مسئلو او د اجمع د مسئلو مې کړیده بیله درازوالی» یعنې چې اوږدې خبرې او مسائلي زده کړه پهٔ مبتدیانو تکلیف دي۔ «مُصنف وئیلي دي»

وَسَمَّيْتُهٗ نُوْرُ الْاِيْضَاحِ وَنَجَاةُ الْاَرْوَاحِ

او ما نوم کښېښو پر دغهٔ کتاب، «رڼرائ دَ پاره دپاره دایضاح دمسائلو فقهیه وو، او نجاة ورکوونکی دی روحانو ته د طالبانو د فقهي دتاریکی څخه د شك او د جهل»

وَاللّٰهَ اَسْئَلُ اَنْ يَّنْفَعَ بِهٖ عِبَادَهٗ وَيُدِيْمَ الْاِفَادَةَ

او خاص دخدائ څخه زهٔ سُوال کوم د نفع ورکولو پهٔ دې کتاب سره وبندګانو ته دخُدائ او دهمیشه فائدې رسولو ددې کتاب»

فائِدَه: ددرویش عقیده داده چې دمصنفؒ دغه خواست خدائ قبول کړیدې ولې چې پهٔ ټوله اسلامی نړۍ کې او پهٔ ټولو مدارسو دینیه وو کې دنور الایضاح تعلیم او تعلم کیږی» پوښتنه: چې ضمیر د «سَمَّيْتُهٗ» راجع دی و «مقدمة» ته لکن پهٔ تاویل دکتاب ولې ضمیر مذکر دی او لفظ د «مقدمة» مؤنث دی» او تقدیم د مفعول دَ «اَسْئَالُ»

چې لفظ د «الله» دی دپاره دحصر د سوال دی پر جناب الٰهی او لفظ د «اَنْ» پهٔ «اَنْ يَّنْفَعَ» کې مصدریه دی ای اَسْئَالُ النفع، او لفظ د «يُدِيْمَ» عطف دی پر «ينفع» ای ادامة الافادة»

درویش مُحَمَّدْ عُبَيْدُ اللّٰهِ الْاَمُوْلِي الْكَنْدَهَارِي وائي چې څرنګه چې مصنفؒ پهٔ متن کې لفظ د اهل الترجیح استعمال کړی نو زهٔ مجبوره یم چې طبقات، او اقسام د فقهاوو دمذهب درو ښیم، تا چې معلومه سي چې اهل الترجیح کمې دلی ته وائي:

دَفُقَهَاوُو طَبَقَاتْ اَوْ اَقْسَامْ

نو واوره!

چې د رد محتار پهٔ ص $\frac{71}{72}$ کې وائي چې اوله درجه او طبقه ۱ **مُجْتَهِدِيْن فِي الشَّرْع**»

یعنې چې پهٔ شریعت محمدیؐ کښې مجتهدین وي» لکه څلور امامان رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ۔ یعنې سَیِّدُ الائمة ابوحنیفهؒ» او حضرت الامام مالکؒ، او حضرت الامام محمد بن ادریس الشافعیؒ، او حضرت الامام احمد بن حنبلؒ او دویمه طبقه ۲ **مُجْتَهِدِيْن فِي الْمَذْهَب**

یعنې مجتهدین دمذهب حنیفی لکه» قاضي ابویوسفؒ۔ او امام محمدؒ۔ او هر هغه څوك دشاګردانو څخه د حضرت الامامؒ چې وي» چې قادر وي پر را ایستلو د احکامو د فقه شریفې دڅلورو دلائلو څخه یعنې قرآن عزیز، احادیث نبویهؐ. اجماع د مجتهدینو او قیاس، لکن د هغو قوانینو سره برابر چې استاذ ددوی یعنې ابوحنیفهؒ ددوی ته وضع کړیوي که څه هم پهٔ بعض فروعیه احکامو کښې د حضرت الامامؒ څخه مخالفت وکړي»

او دریمه طبقه او درجه د ۳ **مُجْتَهِدِيْن فِي الْمَسَائِل**» دهٔ یعنې هغه مسائل چې دصاحبِ المذهب څخه پهٔ هغه مسئله کې کومه تصریح نهٔ وي موجوده» لکه خصافؒ، ابوجعفر الطحاویؒ ابی الحسن الکرخیؒ، شَمْسُ الائمة الحلوانیؒ، شَمْسُ الائمة السرخسیؒ، فخر الاسلام علی البزدویؒ، فخر الدین قاضیخانؒ او نور ددوی امثال، نو دَ غه ډله د مجتهدینو پهٔ مسائلو کښې نهٔ پهٔ اصولو کښې او نهٔ پهٔ فروعو کې مخالفت کوي د خپل صاحب المذهب.

بلکه صرف د هغو مسئلو چې نص د صاحبُ المذهب نړوی جواب موافق د اصولو سره د
صاحب المذهب کولای سی ». څلورمه درجه او طبقه دَ »

۴ **اَصحَابُ التَخرِیج**. بُولی یعنی په مُقلدانو کی د مذهب هغه کسان چې په هیڅ توګه
پر اجتهاد قدرت خونه لري» لکن په سَبب د حفظ کامِل د اصولو د مذهب دوی قدرت
لري چې تفصیل دَیو قول مجمَل د صاحِب المذهب دی وکړی چې هغه قول دوه جهتَ لري
نو دیوه جهته تعیین په دوی کولای سِی» لکه په هدَایه کښې چې وَائي ،، هذا علی تخریج
الکرخي، او یَا داسی وَائي دا قول بناء دی پر تخریج درازيؒ:

او پنځمه درجه او طبقه ده د ۵ **اَصحَابُ التَرجِیح**: د مقلدینو څخه د مذهب،
چې د هغو شان دادی چې یوه روایت ته پر بل روایت تفضیل وَرکړی» لکه چې د غه
کسان وائي،، هَذا اَولیٰ یا هذا اصح روایتً یا هذا اَرفق بالناس» د دې ډلې
څخه دی ابوالحسن القدوريؒ، او صاحِبُ الهدایة، وَامثالهمَا،،

او شپږم طبقه دَه ۶ **مُقَلِّدِین**» فی المذهب دَه» چې دوی تمییز کولای سِی دَقوي او دَاقوی
او د ضعیف» او فرق کولای سی د ظاهر الروایة د نادر الروایة څخه لکه صاحبُ الکنز،
صاحب المختارؒ صاحبُ الوقایةؒ وصاحِب المجمَع او نورا صحاب المتون المعتبرة د متأخرین
څخه د حنیفیانو» او د دوی حال دادی چې اقوال مردودة یا روایات ضعیفه نه نقل کوي
او اومه درجه او طبقه دَه د»

۷ **مُقَلِّدِین محض**» چې هغوی پر هیڅ شئ د مذکوره کار و قدرت نه لري لکه
زمونږ د زمانی عُلماء» نو د هغوی شان دادی چې د مذهب کتابونه به مَطالعه کوي او بیا
بر موافق د هغو سره حکم او فتوٰی ورکوي:

شِکایَت زمونږ د زمانې بعض علماء چې خولګ دیوی مسئلی پوښتنه څُنګ
وکړی نو څه همروده نه په صحیح توګه حکم نه وی معلوم خو بیا
دَ خپلی خیټی څخه یو څه وَرته وَائي. او دا نه ورته وائي چې په دی مسئله زه نه یم خبر
او دا هم نه کوی چې پر بُل یو عالم چې د ده څخه هم سَل په سَل کی یقین وی،» چې هغه

عالم تر مَا په احکامو د فقهی خَبر دی حواله دی وَرکړی. یعنی چې ورته ووائيُ چې زه خونه
یم په دی حکم خبر ته فلانی عالِم ته ورسه چې هغه تر ما په احکامو ښه خبر دی،،
ولی چې په دوا ړو خَبرو کښی دده نفس اماره خوارېږی. په اعتقاد کی د سَائل، او دا تو له
څخه نی د تکبر دی چې زمونږ په نفسو کې قرار نیولی دی، مطلب دا دی چې په او سنی عصر
کی چې کم ملا دَ امامت په محراب کښې وَدرېږی هغه د خلکو په خیال کی دا وَرکوی
چې جامع العلومِ عالِم یم په عِلم کی چا ته د زده کړی ضرورت نه لرَم،،وَالیَ اللّٰه المشتکیٰ،،
مصنفؒ وَئیلی دی

کِتَابُ الطَّہَارَات

پُوه سه: چې مصنفؒ شروع د عبَاداتو په لمانځه سره وَکړه، د دې سَببه چې لمونځ
متصل د ایمان سره، لِقَوْلِہٖ تعَالیٰ: اَلَّذِیْنَ یُؤْمِنُوْنَ بِالْغَیْبِ وَ یُقِیْمُوْنَ الصَّلٰوۃ، او لمونځ
په وجوب کی هم اول واجب دی پس له ایمانه. ولی چې اول واجب شهادتین دی او دوهم
لمونځ دی او بیا زکوٰة ، او لمونځ په افضیلت کی هَم پس له ایمان څخه افضل عبَادت دیٔ.
په دلیل د دی قول د عَلیهِ الصَّلوٰۃ وَالسَّلامُ: چې چا پوښتنه څُنګ وکړه، اَیُّ الاَعمَالِ
اَفْضَلُ بَعْدَ الاِیمَانِ،، کوم عمل افضل دی پس له ایمان څخه، قَالَ اَلصَّلوٰۃُ لِوَقتِهَا،
لمونځ کول دی پر خپل وخت،، او بیا نو چونکه طهارت مِفتاح الصَّلوٰة کما وَرَدَ فی الحدیث،
یعنی شرط یې دی او شرط پر مشرُوط د مخه وی،، نو شروع څکه په تهولو کتابو کښې د فقهی
د بیان څخه کوی،، درمختار، رد محتار،

وَاوَرَه: چې د کتاب لفظ مصدر دی په معنیٰ د جمع کولو،، نو کتابو ته چې کتابونه وَائي
د دی جهته چې په هغو کښې جمع د حروفو او د کلما تو کیږی،، او په اصطلاح د فقهاوو
او نورو یوه ډله دَ خبرو ده چې مستقله وی او پر ډېرو انواعو د مسَائلو مشتمله
لکه دا کتاب الطهارة،، چې پر طهارت دا او دا سه. او پر طهارت د غسل، او پر طهارت

Maktaba Tul Ishaat.com

داوبو اوپر طهارت دخاوروچې تیمم دی مشتمل دی» اوګاهې دکتاب اطلاق داسې ځای هم کیږي چې په هغه ځای کې انواع مختلفه دمسئلو نه وي. اونه باب پکښې وي اونه فصل، لکه کتاب اللقطة، کتاب الأبق، کتاب المفقود» کذا قال الطحطاوي

طَهارَت په زور د طاء په معنیٰ دَنظافت دی» اوپه ضمه د طاء هغه اوبودي چې پرې اوداسه یا ته سي.» اوپه زیر د طاء آلة ته دَ پاکی وائي لکه اوبه، خاورې. قاله الطحطاوي

پوښتنه: چونکه طهارت اوپاکی شرط د لمانځه دی نود هغه چا چې په قصد لمونځ بې اوداسه وکړي حکم به څه دی؛ ت دجا

جواب: په سیر وهانیه کې وائی: وَفِي كُفْرِمَنْ صَلَّىٰ بِغَيْرِطَهَارَةٍ مَعَ الْعَمَدِ خلف الروايات يسطر، اوصاحب د ر مختار په ص۷۵ کې داسې وائي»، چې د دغه سړي کافر ګنړل روایت د نوارودئ. اوپه ظاهر روایت کې کافر نه دی، لکن دا خلاف هغه وخت دی چې داسړي چې لمونځ بې اوداسه کوي.» دسببه دسستي یا جهل وي یعنې پر وجه د استخفاف بالدین اود اهانت په لمانځه یاد استهزاء اومسخرو پر طریقه نه. اوکه چیرې پر دغو طریقو سره لمونځ بې اودسه وکړي بیا هغه سړي کافر بالاتفاق دي

تنبیه: بعضې طالبان دیو چا د لمانځه پیښي کوي پروجه د مسخرو اوه خندولو د نورو طالبانو، نو هغه کافر دی اوچې پرخاندی هغه هم ټول کافران ګرځي»

مصنف ؒ وئیلی دی:

اَلْمِيَاهُ الَّتِي يَجُوْزُ التَّطْهِيْرُ بِهَا سَبْعَةُ مِيَاهٍ

هغه اوبه چې رواوي پاکول په هغو سره یعنې اودس کول غسل کول، کالی پریولل چې هغه اووه قسمه اوبه دی»، مِيَاهٌ جمع د مَاءٌ» مصنف ؒ وئیلی دی»

مَاءُ السَّمَاءِ وَمَاءُ الْبَحْرِ وَمَاءُ النَّهْرِ وَمَاءُ الْبِئْرِ

دآسمان اوبه یعنې دباران اوبه، اودریاب اوبه، اود ولې اوبه، اود څاه اوبه

وَمَاءٌ ذَابَ مِنَ الثَّلْجِ وَالْبَرْدِ وَمَاءُ الْعَيْنِ

هغه اوبه دی چې دَ ویلیدُو څخه دواورې پیداسي، اویادویلیدو څخه د ږلیو پیداسي اواوبه د چینې»

سوال: مصنف ؒ یجوز وویل آه چې معنیٰ یې رَوا والی دی نو که یو سړی دبل سړي په مخصوصو اوبو سره اودس بیله اجازې د مالک تازه کړي دا تطهیر خو نه دی روا نو باید په دغه اوداسه لمونځ نه وي صحیح او صحیح دئ. **جواب:** مراد دَجواز څخه صحت دی نود غه اودس په مغصوبه اوبو سره صحیح دی امار وا اوجائز نه دئ.

فائده: د صحیح عمل اود جائز څه فرق دئ! **جواب:** صحت دَعمل دادی چې دَشریعت دلاری سره برابر وي اوجواز دعمل دادی چې سبب د عذاب الهی و نه ګرځي. نودغه اودس په مغصوبه اوبو سره صحیح دی ولې چې په شریعت کښې بنووَل سوی اوداسه پر طریقه دی اوجائز نه دئ. ولې چې تصرف په ملک کې دبل چا بې اجازه ناروادی اوموجب دَعذاب الهی دئ:

فائده: مصنف ؒ تصریح په ماء البحر سره د دی سببه وکړه چې چا به توهم کاوه چې دَدریاب په اوبو به طهارت نه وي روا. ولې په دی چې د هغو بد بوئي لکه لبعض صحابه ؓ چې داغسې وائي»، طحطاوي» په ص۱۹ د سید ؒ څخه داسې یو سؤال نقل کړي چې ټوله داوبو اقسام چې مصنف ؒ ذکر کړي مَاءُ السماءِ دی»، نو وهغه نورو اقساموته داوبو څه ضرورت سته» قَالَ اللّٰهُ تَعَالىٰ: اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَسَلَكَهٗ يَنَابِيْعَ فِي الْاَرْضِ» ترجمه: ته نه ګورې چې په تحقیق سره خدائ ر ا نازل کړیدی»، د آسمان څخه اوبه بیا دغه اوبه رسولی دی چینې په مځکه کې» عیني ؒ د دی سوال جواب داسې راکړی دئ. چې دا تقسیم داوبو بناء پر عرف دخلګو دئ.

قَوْلُهٗ وَمَاءٌ ذَابَ آه.. مراقی الفلاح او طحطاوي ؒ وائي چې تخصیص په دَواورې او ږلیو وکړي لہ دی کبله چې یو قسمه قُدرتي مالګه سته چې په ژمي کښې وَرېږي اوپه دوبې کی منجمده کیږي.

نو په دغه وِیلی سوی مالگه اودس غسل نه دی روا البته د مرداری جامی یا بدن په پریولو یې روا دی

قوله وَمَاءُ الْعَيْنِ آه مصنف په شرحه کی د دی کتاب نور الایضاح چی مراقی الفلاح

یې نوم دی وائی: چی ماء العین چی طهارت په روا دی هغه اوبه دی چی پر محکه بهیږی

اوکه نه بهیدلی نو حکم یې د حوض دی چی لس په لس گز کښی به وی - ورنه اودس

نه دی په روا مگر په لوښی یې واخلی اودس په تازه کړی: هذا حاصل کلامه.

قال المصنف

ثُمَّ الْمِيَاهُ عَلَىٰ خَمْسَةِ أَقْسَامٍ

پس لردی اوبه پر پنځه قسمه دی. یعنی هر قسم یې خپل وصف خاص لری لکه چی بیان

لی راسی پوه سه: چی لفظ د ثم صرف د پاره د ترتیب فی الذکر دی، او دا تقسیم

د اوبو په اعتبار د اوصافو د اوبو دی - په اعتبار د ذات د اوبو نه دی - م. ط،

طَاهِرٌ مُطَهِّرٌ غَيْرُ مَكْرُوهٍ

یعنی په ذات کی پاکی، یعنی بل شی

پاکوونکی، که حدث حکمی وی اوکه نجاست ظاهری وی،، یعنی استعمال یې مکروه نه وی،

وَهُوَ الْمَاءُ الْمُطْلَقُ

یعنی چی داسی یو شی نه وی ور سره گډ سوی چی

په هغه مقید وگرځی،، م،، فائده: اودس تازه کول او غسل کول په اوبو

د زمزم روا دی زمونږ په نیز، بیله کراهته بلکه ثواب لا ډیر لری،، لکن مصنف د

لباب المناسك وائی چی اودس تازه کول یا غسل کول په اوبو د زمزم هله مکروه نه دی

چی سړی اودس لری صرف د پاره د تبرك په لمبیږی یا اودس تازه کوی،، او نه بنائی

چی بی اودسه سړی په هغو اوبو اودس تازه کړی یا جنب سړی دی په هغو اوبو غسل

وکړی او نه دی هم استنجاء په وهی،، او نه دی مردار کالی په مینځی،، او نه دی په

نجس ځای کی استعمالوی،، ط،،

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِمُؤَلِّفِهٖ وَلِكَاتِبِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ ط

ت لکن

وَطَاهِرٌ مُطَهِّرٌ مَكْرُوهٌ

یعنی په ذات کی پاکی دی، د بل شی پاکوونکی

وی اوکه خبث یعنی نجاست وی، یعنی استعمال یې مکروه وی لکن مکروه تنزیهی وی

چی دا مذهب د امام کرخی دی. ولی چی پیشی وغیره د نجس شیانو د خوړلو څخه نه ساتی

او فقیه ابو جعفر الطحاوی یې مکروه تحریمی بولی - علت یې نجاست د غوښو د هغو دی.

وَهُوَ مَا شَرِبَ مِنْهُ الْهِرَّةُ وَنَحْوُهَا

او دا هغه اوبه دی

چی پیشی چینګک ځنی وکړی،، یا مثل د پیشی لکه چرگه چی ایله وی،، یا ماریا

موږك یا بازیا خرخك وغیره من سباع الطیر،،

فَوَائِدُ شَتّٰى

مراد د پیشی څخه کورنۍ پیشو ده چی اهلی یې بولی،، ولی چی د وحشی پیشی پس خورده نجسه

ده،، لعدم الاختلاط مع الناس فلا عذر، او دا کراهت هم مذهب د امام اعظم او د امام محمد دی او د امام

ابو یوسف په مذهب کی هیڅ مکروه نه بولی،، او صحیح مذهب د امام کرخی دی. چی مکروه

تنزیهی یې بولی،، کما قال المصنف فی المراقی،، او دا کراهت د استعمال د دغو اوبو هم هلته

دی چی ماء مطلق وغیره موجودی وی،، اوکه هغه اوبه نه وی نو بیا هیڅ کراهت نسته،،

قاله الطحطاوی فی شرح المراقی،،

وَكَانَ قَلِيلًا

او وی هغه اوبه چی پیشی وغیره خورك ځنی کړی وی لږ دی،، پوه سه: چی د لږ او ډیر

اندازه به په وروسته کی راسی،، ان شاء الله تعالیٰ،

وَطَاهِرٌ غَيْرُ مُطَهِّرٍ وَهُوَ مَا اُسْتُعْمِلَ لِرَفْعِ حَدَثٍ

او بل قسم اوبه هغه دی چی پاکی وی یعنی بل شی نه په مرداریږی مگر پاکوونکی د بل نه وی،، او دا هغه اوبه

Maktaba Tul Ishaat.com

دی چې استعمال سوی وی دپاره دپورته کولودبې اودسیا،

اَوْلِقُرْبَةٍ كَالْوُضُوْءِ عَلَى الْوُضُوْءِ بِنِيَّتِهٖ

اویاد پاره دثواب لکه اودس تازه کول پس له اودس درلو وَلو څخه په نیت داوداسه، پوه سه: چې رفع دحدث، اوقصد د استعمال، دپاره دثواب په ما بین کی عموم وخصوص من وجه سره لری، ولې چې په داسی صورت کی چې محدث اودس تازه کړی، اوقصد داوداسه په هم وی، نو بې اودسیا یه هم پورته سول او ثواب هم خدای پاك ورکوی، نو دوارې سره جمع سول، اوپه داسی صورت کی سړی اودس لری، اوپه قصد او اراده اودس تازه کړی، ثواب خوسته په سبب د نیت، اورفع دحدث نه په کیږی ولې چې حدث خوموجود نه وو، نوبه پورته څرنګه سی،

اوکه سړی محدث وی، اود تَبَرُّد (یخ والی) په قصد اودس تازه کړی، حدث خو یه پورته سو مګر ثواب یه نسته لعدم النیة، اوپه دې دروسر وصورتوکی اوبه مستعمل ګرځی، اوکه چیری یوسړی چې اودس لری مګر په نیت د تبرد اودس تازه کړی، نوهغه اوبه مُستعملی نه دي. ولې نه ازاله دحدث پکښی سته ځکه چې اودس خو یه درلوی اونه ثواب په کښی سته ولې قصداونیت داوداسه یه نه وُو،

"فوائدشتّی"

قوله قُرْبَةٍ، قربت هغه فعل ته وائی چې خدائ پاك ثواب پر ورکوی بنده ته، اوثواب مدار پر نیت دی، لِقوله عَلیه الصَّلوٰةِ والسَّلام، اِنَّمَا الاَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، رواه البخاری وغیره چې ددی حدیث مبارك ترجمه په نیزد حنیفیانو، اِنما ثوابُ الاعمالِ با النیات، ده قولهٗ كَالْوُضُوْءِ، پوه سه چې اودس پر اودس، داسی ثواب لری چې په اول اودس سره یوداسی عبادت وکړی چې تطهیر وهغه ته مشروع وی، لکه لمونځ یا مسحه د مصحف، اویا مجلس بدل کړی لکن نیت دقربت وکړی ...

اوکی مجلس بدل کړی او نیت دثواب یه په نوی اوداسه کښی نه وو، نوداسراف دی اواسراف حرام دی. اواوبه هم مستعملی نه ګرځی. اوکه چیری مجلس یو وی اوبه اول اوداسه یه کم عبادت نه وی کړی. نوپه دوهم اوداسه کښی که څه هم نیت دقربت اوثواب وکړی مکروه دی، ولې چې دا اسراف دی اواسراف حرام دی"

نومراد دکراهت څخه چې په بعض کتابوکښی دُ فقهی رائی کراهت تحریمی دی، ط"

سَوال! په ګنج کی وائی ــه ورتوای خواجه برلب جوی" نیست اسراف برچه میشوتی،، نوکه یو سړی دَوَلی پرغاړه په نیت دَ وضوء علی الوضوء، دوهم اودس تازه کړی نوولی اسراف دی،، جَوابُ: چې سید سَندؐ وئیلی دی،، وَلَو عَلٰی شط النهر، یعنی که څه دَولی پرغاړه وی هم اسراف دی،، پر شَطّ النهر، که څه هم اسراف ۲ او بوخو نسته لکن اسراف دعمر عزیز خُودیُ:

سَوال: یوسړی چې اودس لری نو دهغه پر اندامو خونه نجاست حقیقی سته اونه نجاست حکمی سته نوپه نیت دقربت ولې اوبه مُستعملی ګرځی. جواب چونکه دغه سړي نیت دَقربت وکړی لکه په اول اوداسه کښی نو وصف ته داوبو یه تغییر وَرَوَرساوه یعنی مُستعملی وګرځیدی،، ط

سُنهَانه فائِدَه

یوبې اودسه سړی چې یو اندام پر یوَلی فقط دَدَغه اندام اوبه مستعملی سوی ولې چې فرض په ساقط سو یعنی که دی نور اندامونه وروسته ومینځی د دغه اندام پریوَله نه غواړي. لکن زوال دحدث دهغه اندام څخه نه دی سَوی. وَلې چې زوَال دَحدث دَټولوا ندامو څخه په یو ځلای کیږی فقهاءؒ وائی چې بې اودسَیا اوطهارت تجزیه نه قبلوی. رد، ط، ب،، ع،،

مصنفؒ په مَرَاقی الفلاح کی وَائی چې دا هم قربت دی چې د ډوډی خوړلو څخه پخوا اووروسته لاسونه پری مینځی نودغه اوبه هم مستعملی ګرځی،، په دَلیل د دی حَدیث،، اَلوضوء قبل الطَّعَام بَرَکَةٌ و بعَدَهٗ ینفی اللَّمم، اودس یعنی لاس پر یوَله د مخه تر طعام برکت دی او پس له طعامه نفی کوونکی دی دلیونتوب دی،، ط،،

مسئله: کیو سړی لاسونه ووینځی ته په دی سبب پریولی چې خیرن وه نو په نیت دا داء د سنت مگر اودس یې درلودی، نو هغه اوبه مستعمل نه دی، دغه رنګه که سړی پاکه جامه د خیرن والی د سبب پریولی اوبه یې مستعملی نه دی،، م،،

پوښتنه: چې په مستعملو اوبو کښی بعض فقهاء درې روایت را اوړی دي، یو روایت چې مستعملی اوبه نجس دی نه طاهر دی او نه مطهري.

بل روایت دا دی چې طاهری دی یعنی نجس نه دی چې بل شی دی په مردار سی لکن مطهر نه دی چې اودس په تازه سی،، او بل روایت دا دی چې دا اوبه هم طاهري پاکی دی او هم مطهر یعنی بل شی هم په پاکیږی،،

لکن فقهاء او مشائخ د عراق وائی، چې په اوبو مستعملو کښی هیڅ اختلاف د روایت په مذهب کی نسته. بلکه په نیز د امامانو د مذهب په اتفاق مستعملی اوطاهري دی پاکونکی نه دی،، شیخ الاسلام علی البز دوی په شرح کی د جامع صغیر وائی چې دغه د عراقیانو رأیه زمونږ هم خوښه ده،، او هم دغه رأیه په کتابو کی د امام محمد ذکر کړه سوې ده،، او دغه رأیه خوښه کړی محقق علماوو د ماوراء النهر،،

په مجتبیٰ کی وائی چې صحیح روایت د ټولو امامانو څخه د مذهب هم دغه دی چې ماء مستعملی طاهري دی مطهر نه دی،، لکن د حسن بن زیاد څخه یو روایت سته او هغه روایت شاذ دی چا عمل نه دی په کړي،، چې وائی ماء مستعملی طاهر او مطهر دي کذا فی مجمع الانهر،،

فائده: مستعملی اوبه که څه هم په مذهب کی پاکی دی، لکن څښل یې مکروه دي او پاکتوتی اچول مکروه دی،، او پیا اوړه په خمیره ول مکروه دی،، تنزیہا ولی چې طبع انسانی نفرت څندی کوی. ط،،   مصنف وئیلی دی.

وَيَصِيرُ الْمَاءُ مُسْتَعْمَلًا بِمُجَرَّدِ اِنْفِصَالِهِ عَنِ الْمَسَاجِدِ

او گرځی اوبه مستعملی په نفس جلاوالی سره د بدن څخه یعنی کی څه هم یو ځای یې قرار نه

د وی نیولی،، مصنف په مراقی الفلاح کی وائی چې دا مذهب صحیح دی دا د دی سببه چې د بخه ترجلا والی د بدن څخه څو ضرورت دی او پس له جلا والی څخه ضرورت نسته. او طحطاوی وائی چې دا مذهب د عامو او ډیرو فقهاوو دی. او په هدایه کی هم دا مذهب صحیح گنړل سوی دی. او فقیه ابو جعفر طحاوی چې اعلم د علماوو دی په مذهب د ابو حنیفه کی، او بعض مشائخ د بلخ وائی چې اوبه هلته مستعملی بللی کیږی چې یو ځای قرار ونیسي"

سوال: د دی اختلاف څه فائده ده،،

جواب: فائده په دا ده چې یو سړی چې اودس یې تازه کاوه یو اندام ئې پریولی اوبه چې د هغه اندام څخه جلاسوی نو پر اندام و بهیدلی بیله دی چې اودس کونکی دی پلاس پر بهیولی وی. نو په دغو اوبو هغه بل اندام پاک سوا و که نه! نو د مصنف او صاحب هدایه پر رایه هغه بل اندام نه پاکیږی. ولی اوبه چې د اول اندام څخه صرف جلا سوی مستعملی گرځیدی. او د مستعملو اوبو حکم د مخه تیر سو چې شی نه په پاکیږی او د طحاوی او د مشا ئخو د بلخ پر مذهب هغه بل اندام په پاک سو. ولی چې اوبو خو تر اوسه قرار نه دی نیولی نو مستعملی نه دي.   قَالَ الْمُصَنِّفُ.

وَلَا يَجُوْزُ بِمَاءِ شَجَرٍ وَ ثَمَرٍ وَلَوْ خَرَجَ بِنَفْسِهِ مِنْ غَيْرِ عَصْرٍ فِي الْاَظْهَرِ

او نه دی روا اودس په اوبو د ونو اوبه اوبو د میوی که څه هم راووزی د غه اوبه بیله نښتیځلو په ظاهر روایت کی

فائده: مصنف په مراقی الفلاح کی د،، لَا يَجُوْزُ تفسیر په لا یصح سره کړی دی له دی سببه چې عدم جواز چې معنا یې حرمت دی. عدم صحت لره چې معنا یې فساد دی مستلزم نه دی،، لکه لمونځ په مغصوبه ځمکه کی روا نه دی. یعنی حرام دی او مصلی په گناه گاردی، مگر صحیح دی بیا قضا نسته،، وقد مر من قبل،،

پوښتنه: چې د دی ایت مبارک: وَالنَّجْمُ وَالشَّجَرُ يَسْجُدَانِ، په تفسیر کښی مفسران وائی چې نجم هغه نبات دی چې پر تنه نه پورته کیږی. لکه ختکی، هندوانه،،

Maktaba Tul Ishaat.com

بادرنګ، مُرغَه، او نورمیوه دَاره جُرنګان یَا وابنه"
اوشَجَر هغه درختی ته وَائیٔ یعنی چی تَنَه لری لکه توُت، انار، سیب وَغیره" لکن د مصنفؒ مراد دلته دشجر ځخه نفس نبات مراد دی که تنه لری اوکی نه لری؛ ولی چی دنفس نبات په اوبوسَره اودس نه دی صحیح - اود ثمر ځخه نفس میوه دَه که دَخورك وړ او که نه وی حتی ټولو فوَاکهُو او ټولو ګلانو ته شامِل سی؛ قاله القهستانیؒ؛

فـائـده: په دغو اوبوسره چی اودس نه دی روا لردی سَبَبه ځیٔ دغو اوبه مطلق اوبه نه دی بلکه مقیدی اوبه دی کمالایخفی" امام زیلعیؒ شارح الکنز په دغو اوبو دس روا بولی ولی چی دا اوبه خالصی رونړی اوبه دی دبل شی سَره یه امتزاج نه دی سَوی.
صاحب دبحرالرائق وَائیٔ چی په دی اوبو کښی امتزاج کامِل موجود دیٔ - اومصنفؒ هم په مَراقی الفلاح کی امتزاج کامِل وَائیٔ.

قَوله وَلوخَرَجَ بنَفسِهٖ اه لکه تاکان چی تاك بیری کی او اوبه ځندی ځځیږی.
پوښتنه: چی مصنفؒ ردکوی پرهَغه بعض فقهاوو چی وَائیٔ که چیری اوبه خارج بنفسه سوی اودس په روادیٔ. وجه درد یه دَادَه چی په سَبب دَخروج بنفسه خودا اوبه ماء مطلق نه ګرځی بلکه مَاء الکرم یه بُولی مثلاً نوماء مقیدی دی" اوصاحبْ هدایه اوزیلعیؒ اوصاحِب تنویرهم پرَدغه رایَه دی چی په خارج بنفسه سَره هم اودس نه دی صحیح"

پوښتنه: ټوله فقهاءؒ اومصنفؒ هم پردی مذهب دی چی پَه ټولو ما ئعاتو طاهره ووسَره ازاله د نجاستِ حقیقی کیږی لکه په مَاء مطلق سَره" نوازاله دنجاست حکمی چی حَدث دی باید پَه دغو ما ئعاتو سَره وکړه سِی، لکه په ماء مطلق سَره نو وجه دفرق څه ده"

جَوابْ: فرق یه دادی چی نجاستِ حقیقی اجزاء په پریوَلو کهٔ مطلق اوبو او که په نورو ما ئعَاتو سره دَجامی او یا دبَدَن ځخه وزی نو رخو جامه او بدن پاك وُو" او په نجاست حکمی کی خو اجزاء محسوسَه دَ نجاست حکمی په اعضاوو پوری قائم نه دي حتی چی پـه غُسل دمَا ئعاتو زائل سی؛

نوازاله د نجاست حکمی پرمنصُوصو اوبو حَصَر ده چی هغه ماء مطلق دی" او مقید اوبه نه قیاسیږی" حاصل دَا چی حَدث امر شرعی دی چی حکم دَ نجاست شارع ورکړی دی په ضع کی د لمانځه وَنحوه" او شارع د هغه دازالی دپاره آله مخصوصه مقرر کړی دَه چی مَاء مطلق دی" لکه چی بیَان یه مفصل تیر سو" نو قیاس د ماء مقید و نه دی پر رَوا"

قَالَ المصنفؒ **وَلَابِمَاءٍ زَالَ طَبعُهٗ بِالطَّبخِ**
وئیلی دی مصنفؒ
او نه اودس او طهارت رَوادی په هَغو اوبو چی طبیعت د اوبو ځندی زائِل سوی وی په سبب د پخیدو دیوشی پکښی"

پوښتنه: چی طبع د اوبو بهیدَل دی" او رقت دی" اود چنبونکی په اوبیدَل دی، اود نبات په شنه کیدَل دی.
فـائـدَه: مصنفؒ قید د طبع وَوَایه د دی سببه چی یوسَری که په اوبو کښی نَخود، یا باغلی، وغیره صرف دَنرَم وَالی دَپاره خشته کړه او وی نه ایښَول اودس په رَوادی کیه څه هم رنګ ته داوبو تغیر رسَولی وی ترهغو چی رقت او سیلان یه بَاقی وی"

تنبیه ۱: ما تفسیر د طبع الماء په رقت او بهیدَلو اود نباتاتو په شنه کولو او نه اوبیدَلو سَره وکړی په متابعَت د مصنفؒ چی په مَراقی الفلاح کی دَغسی تفسیر کړی دی ورنه په عاموکتابو کښی دَفقهی شریفی طبع د اوبو یوازی رقت دی" او سیلان یه ګڼلی سوی دی" اود عاموکتابو خبره هم صحیح دَه" ولی چی د تریخ او تُروه دریاب په اوبو کښی خوارُوَادی او انبات فسته - نو په هغو اوبو باید اودَس رَوا نه سی" او سره ددی چی مصنفؒ رُومبی (اوبیدل) په ماء البحر سره اودس روا بَللی وو؛

تنبیه ۲: اخِر مصنفؒ دا عبارت" بمَآء زال طبعه بالطبخ" مطلق ووایه چی مفادیَه دادی چی سَره د طبخ که رقت او سیلان باقی وو، بیَا نو اودس پـه رَوادی لکن اصلاً مسَئله داده، که چیری په طبخ سَره نظافت مقصُود نه وو لکه لُوبَیا، او نخود او باغلی" چی په اوبو کښی وا یښول سی که څه هم د اوبو رقت او سَیلان باقی وی اودس نه دی په

رَوا ،، بِکمال الامتزاج ، البتہ کہ دَطبخ نہ مقصُود نظافت وو لکہ بَروجَہ ، سِدر ، وغیرہ نو پہ دغہ صورت کی کہ اوبہ ختہ سوی وي . اود طبع سَیلان اورقت نہ وَتلی وي نواودس نہ دی پہ رَوا اوکی رقت اوسَیلان باقی وو اودس پہ روادی ذکرہ ط نا قلاًعن س ملا

قَالَ المُصَنِّفُ **اَوْبِغَلَبَۃِ غَیْرِہٖ عَلَیْہِ وَ الْغَلَبَۃُ فِیْ مُخَالَطَۃِ**

اویاپہ غلبہ دَغیر داوبوپر اوبو باندی . اوغلبہ پہ گدوَالی کی دَوچوشیانو لکہ

الْجَامِدَاتِ بِاِخْرَاجِ الْمَاءِ عَنْ رِقَّتِہٖ وَسَیَلَانِہٖ

زعفران ، خُرما ، انگور ، انار ، وغیرہ پہ ایستلو دابودی دَرقت اوبَہیدو نہ . یعنی دومرہ ډیر داوچ شیَ ورَولوېږی چی اوبَہ ختہ سی اَونہ بہیږی ؛

وَلَایَضُرُّ تَغَیُّرُ اَوْصَافِہٖ کُلِّہَا بِجَامِدٍ کَزَعْفَرَانٍ وَفَاکِہَۃٍ

اوضرر نہ کوی متغیر وَالی دَټولو اوصافو داوبو پہ جَامِد شی سَرہ **وَوَرَقِ شَجَرٍ** لکہ زعفران یا فاکہہ یعنی میوہ د درختی او بلگونہ دَدرختی .

پوښتنہ : چی اوصاف داوبو دریَ دی ، رنگ ، خوند ، بوی ،، دزعفرانو یا دنورو میوو پہ گدوَلو سَرہ رنگ ، خوند ، بوی ،، ټولہ بَدلیږی ، او واورئ چی دجامداتو نہ مراد ہغہ جامدَات دی چی پاک وی ،،

نو غوخت چی اوبَہ ختہ سِی اوسیلان نہ کوی . نو کہ سَړی جامہ پہ مینځی داوبہ نہ ځنډ وزی اوکہ بَدن پہ مینځی پر بَہیږی نہ . اوداوَارہ پہ پاکولو کښی دجامی یا اندامو شرط بالاتفاق دی ،، **قوله کَزَعْفَرَان** آہ پہ قنیہ کښی وَائی کہ زعفران دومرہ ډیر او بُوټی واچول چی دَجامی رنگی پہ کیدَل اودس نہ دی پہ رَوا . اوکہ لږ وَہ صرف اوبہ یہ ژیړی کړی وی لکن رَنگ ریږی نہ پہ کیدَلہ بیا اودس پہ رَوادی ،، ط صلا .

قال المصنفؒ **وَالْغَلَبَۃُ فِی الْمَائِعَاتِ بِظُہُوْرِ وَصْفٍ وَّاحِدٍ**

اوغلبہ پہ مَائع شیانو کی یعنی چی بہید ونکی شیَ وی . پہ ښکارہ کیدو دیوہ وصف دہغہ مائع شیٔ

مِنْ مَّائِعٍ لَّہٗ وَصْفَانِ فَقَط

پہ دی سرَائی چی یو صفت دہغہ مائع ښکارہ سی کم مائع چی ہَغہ دوہ وصفہ لری فقط ، یعنی دریم وصف نہ لری ،، قَالَ الْمُصَنِّفُ .

کَاللَّبَنِ لَہُ اللَّوْنُ وَ الطَّعْمُ وَلَارَائِحَۃَ لَہٗ

لکہ شیدی چی دوہ وصفَ لری یعنی رَنگ غیر داوبو د رنگہ نہ اوخوند لری چی اوبَہ یہ نہ لری ، حَاصِل دَا چی کہ د شیدُو دوارہ وصفونہ یوہَم کہ پر اوبو ښکارہ نہ سو ، اودس پہ رَوادیؒ اوکی یو وصف ښکارہ سو اودس نہ دی پہ رَوا ،

مسئلہ: کہ مخالط یو وصف دَرلودی ، لکہ ہند وانہ ، ختکی ، شین کدو چی د ہغو اوبہ صرف پہ خوند کښی سَادہ اوبو نہ مخالف پہ رنگ کښی یو شیٔ نو کی ہغہ مخالف وصف ښکارہ سو اودس نہ دی پہ رَوا ، ط ، رد ،، اوکہ پہ عادی اوبو کښی خوند ہم نہ شو ښکارہ نو اودس پہ روادیٔ ؛ قَالَ المُصنفؒ ؛

وَبِظُہُوْرِ وَصْفَیْنِ مِنْ مَّائِعٍ لَّہٗ ثَلَاثَۃٌ کَالْخَلِّ

اوغلبہ دمَائع پہ ظہور دد وو صفتو کښی کیږی . پہ ہَغہ مائع کښی چی دری وصف لری لکہ سرکہ چی ہم رنگ جدا داوبو سہ لری . اوہم خوند اوہم بوی ،، نو کہ دسرکی دوہ صفت پر اوبو ښکارہ سوہ اودس یہ نہ دی رَوا ، اوکی فقط یو وَصف ښکارہ سو بیا اودَس پہ رَوادی ؛

اللّٰہم اغفر لمؤلفہ ولکاتبہ کتبہ فضل الحق حقانی غفرلہ

Maktaba Tul Ishaat.com

قال المصنفؒ

وَالغَلَبَةُ فِي المَائِعِ الَّذِي لَاوَصفَ لَهُ كَالمَاءِ المُستَعمَلِ

اوغلبه په هغه مَائع کښې چې هېڅ وصف نه لري، لکه مُستعملې اوبه وَلې چې په استعمال سره دا اوبۀ خوند بَدلېږي اولې رنګ اوبۍ بويې، او اوبه مستعملې خو پر صحيح روايت پاکې دي مګر اودس نه دی په رَوَاه

وَمَاءُ الوَردِ المُنقَطِعُ الرَّائِحَةِ تَكُونُ بِالوَزنِ

اويا اوبه د ګل ګلاف چې بوی يه قطعَ سوي وي يعنې په مرورد زمان، نو غلبه يه پر وزن معلومېږي ولې چې په وصف خويه غلبه نه معلومېږي چې وصف خوُنه لَري. قال المصنفؒ

فَإِنِ اختَلَطَ رِطلَانِ مِنَ المَاءِ المُستَعمَلِ بِرِطلٍ

پس که چيرې ګډې سوی دوه رطله د مستعملو اوبو په يوه رطل د مطلق اوبو نو اودس يَا نور

مِنَ المُطلَقِ لَايَجُوزُ بِهِ الوُضُوءُ وَبِعَكسِهِ جَازَ

طهارت لکه غسُل نه دی په روا، ولې چې ماء مستعملې پر ماء مطلق باندې ډېرې دي، او د عکس په صُورت کې يعنې چې دوه رطله مطلق اوبه وي او يو رطل مُستعملې اوبه وي طهَارت پـه رَوَادئ

پوه سه: چې مصنفؒ پخپله شرحه کښې داسې وَيلې دي.. او که دا دواړې اوبه يعنې مستعملې اوبَه او مطلق اوبَه سره برابرې وي،، د دی حکم خو په ظاهر الروايت کې نه دی راغلی مګر مشائخ وائې چې د دی حکم هَم د مغلوبو اوبو دی يعنې اودس نه دی په رَوا، د احتياط د وَجهې منه ۲۰

مسئله: قَالَ فِي الدر المختار، او که چيرې ماء مُستعملې او ماء مطلق جامِدِ يخې وي نو اعتبار يه شخانت لره دی يعنې پنډوالې لره آه **قوله تَكُونُ بِالوَزنِ** آه امام طحطاويؒ وائې دا اعتبار د وزن هَلته دی چې اوبه مُستعملې په اوبو مطلقو کښې توی کړي. اويَا

يو سَړي په مطلق اوبو کښې غوټه سي»

فائدَهٔ: په ډېرو کتابو کښې د فقهې شريفې وَائې که جنب سَړي لاس يا پښه په اوبو کې ووهله اوبه مرداري سوې، لکن دا حکم بناپر هغه مذهب دی چې مُستعملې اوبه مرداري بُولي. او دا روايت شاذه دی، او پر مختار مذهب چې مُستعملې اوبه پاکې بولي صرف مطهر نه بولي هغه اوبه نه دی مرداري» ط»

نادره مسئله

په بحر رَائق کې وَائې په بحث کښې د مُستعملو اوبو چې په مطلق اوبو ګډ سی، او اعتبار وزن لره دی، اِذَا عَرَفتَ هٰذَا، چې تا د مخنې بيان زده کړي، نو منع مکوه دا اود اسه يا غسل کولو څخه په هغه کښې حوض يا تالابو کې چې په مَدرسو يا کورو کښې جوړ سوي وي» يعنې تر عشر في عشر کم وي» ولې چې فرق نسته په مابين کښې د دی چې اوبه په خارج کښې استعمال سی. او يَا په مطلق اوبو کښې تو سی. او د دی چه سَړي په اوُبو کښې غوټه سی» يا اعضاء غوټه کی» ولې چې په صورت کی د غوټه کيدو هغه اوبه مستعملې ګرځي چې دَدَه دا اعضا وو څخه جَلا سي» او يا دده د بَدن سره مُلاقي سی فقط» او شک نسته چې د غه قَدر اوبه خو لږ دی نسبت و باقي اوبو ته د حوض يا تالاب» او بحر زياته کړي ده چې قول د هَغو بعضو کتابو چې وَائې دا سی نه ده رَوا په قول ضعيف بناء ده يعنې چې اوبه مُستعملې مرداري بولي» اِنتهی»

امام طحطاويؒ وائې چې حاصل دَقول د بحر دادئ، چې اودس يا غسُل په دَغو کچنې حوضو کښې رَوادی تر هغو چې غالب ګمان د سړي نه وي چې ماءِ مُستعملې ډيرې يا برابرې دَنورو اوبو ګرځيد لی دی او يا يه غالب ګمان دا نه وي چې په دَغو کچنې حوضو کښې نجاست لويدلی دی ص۲۰

دَرِطل دَ مقدار بيان

هَدايه ص۱۹۳/۱۹۲ قدوري «وَالصَّاعُ عِندَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ ثَمَانِيَةُ أَرطَالٍ بِالعِرَاقِيِّ»

ترجمه: کاسه په نيز د امام اعظمؒ صَائب او امام محمد صَائب، اته رِتله وه په عرَاقی رطل» بنايه ص۱ عرَاقی رطل شل استاره دی» او استار شپږ درهمه او دوه دانقه دئ.

اوداقق شپږمه حصه دد رحمده» او یاد اسی چې استار غلور مثقاله دی نوشل استار
۸۰ مثقاله دی، نو رطل عراقی ۸۰ مثقاله دی او عراقی کاسه څلور مُده ده کذا ذکر
فخر الاسلام رح، دلیل د مذهب د طرفینو دادی چې په حدیث صحیح کښې چې بیهقی
روایت کړی دی» داسی راغلی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اودس تازه کاوه په
مُد سره چې دوه رطله په اندازه وه او غسل یه کاوه په صاع سره چې اته رطله په اندازه
او د حضرت عمر رض صاع هم د اغه اندازه وه» قَالَ المصنفؒ

وَالرَّابِعُ مَاءٌ نَجِسٌ وَهُوَ الَّذِیْ حَلَّتْ فِیْهِ

او څلورم قسم داوبو نجس اوبه دی» او نجسی اوبه هغه اوبه دی چې داخل سی په هغه کښې مُردار

النَّجَاسَةُ وَكَانَ رَاكِدًا قَلِیْلًا

او حال داوی چې هغه اوبه ولاړی وی او لږ وی.
پوهـ سـه: چې دخول د نجاست به په یقین سره او یا په غلبه ظن سره معلومه وی
او په نفس گمان یا احتمال اوبه مرداری نه دی» م» **فائده:** وقوع د نجاست
مقید دی په دې چې لون خوشبوئی یا بوټی چې به نه وی» ولی هغه معفو دی تر څو چې وروسته به راسی
فائده: مصنف وقوع د نجاست وویل د دی سببه چې که اوبه په سبب د ډیرو
د ریدو په بوئی کی بوی، رنګ، خوند، ګرده په بدل سوی وی چې رقت یه باقی وی پاک
دی» ولی پرخپل خلقت اصلی پاته دی» اما که خټه سوی او نه بهیدلی بیا اودس نه دی پاک
سوال: که داوبو بد بوی تلی نو سرې دا شک سو چې مرداری به ورلویدلی وی نو دغه
اوبه نجسی دی او که خنګه!
جواب: دغه اوبه پاکی دی او بد بوئی دی شاید په سبب د طول مکث یا د وقوع د
طاهر شی وی او د اوبو اصل خو طهارت دی» ط» **فرع:** که یو څوک د چا میله
سوا او هغه کو، والا دوه دی او به ورته راوړی نو میله حق نه لری چې دا دو دی تاد کمه

کړی ده یا داوبه خو مرداری نه دی» قَالَ المُصَنِّفُ

وَالْقَلِیْلُ مَادُوْنَ عَشْرٍ فِیْ عَشْرٍ وَاِنْ لَّمْ یَظْهَرْ اَثَرُهَا فِیْهِ

او لږ اوبه هغه دی چې ترلس په لس کښې کمې وی که څه هم اثر د نجاست نه په کښې معلومیږي
یعنی هغه محل چې اوبه په کښې ولاړی وی هغه ترلس په لس کی کمې وی»
فائده: لس په لس کی ضرب کړی نو سل کیږی» نو سطحه داوبو سل ګزه کیږی
ترو غو چې کمې وی هغه اوبه قلیل دی»
پوهه سه: چې د مصنف په نیز ذراع العامة» معتبر دی، قاله فی المراقی. او په نیز د قاضیخان
معتبر ذراع المساحة دی، ولی چې مکان د ممسوحاتو دی» او په هدایه کښې وائی چې فتوی پر
اعتبار د ذراع الکرباس ده» د پاره د فراخی پر خلګو ولی چې ذراع الکرباس کیڅنی دی»
فائده: ذراع المساحت اوه موټې دی د هری قبضې سره به بته ګوته جګه دروی»
او اما ذراع الکرباس هغه فقط اوه موټی دی یعنی ګوته دریدو نه غواړی» کذا فی الکافی و ملامسکین
او صاحب الدر فتوی پر ذراع المساحت بولی. والله اعلم بالصواب»
پوهه سه: چې لس په لس کی هلته شرط دی چې حوض چار کنجه وی او که ګردی وی (۳۶) نو
شپږ دیرش ګزه لی دور وې» **فائده:** عمق یعنی ژور والی د اوبو د حوض به دومره
وی چې په غبرګه اخستو سره ځمکه ته نه رسیږی او دا هم صحیح روایت دی. او بعض وائی
چې عمق د اوبو به یو ګز وی. او بعض وائی چې یوه لویشت به وی» او په جوهره کښی
وائی چې فتوی پر اول قول ده **فائده:** په باب کی د دیر والی د و لاړی او بو اختلافات
ډیر دی لکه چې د رد محتار، او هدایه د مطالعې څخه معلومیږی» حتی چې محی السنة وائی
چې اندازه د لس په لس کی معتمد علیه نه لری» لکن شرنبلالی په مراقی الفلاح کی وائی...
او التَّقْدِیْرُ بِعَشْرٍ فِیْ عَشْرٍ هُوَ الْمُفْتٰی بِهٖ» او دا قول د عامو مشائخو دی» خانیه»
او دا قول د اکثرو دی او په دغه مونږ عمل کوو» نوازل» وَعَلَیْهِ الفتوی کما مرّ فی شرح
الطحاوی» لکن بحر الرائق په دی مقام کی لوی تحقیق کړی دی» او په اخیر کښی وئیلی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

چې تقدیر دلسو په لسو کې هیڅ اصل نه لري، بلکه ظاهر الروایت د حضرت الامام
بلکه د دروسرو وځنه دادی چې تفویض دلیو والی د اوبو او دیر والی د اوبو ورای
استعمال کوونکی پریښوول سی بنه دئ، نو که د ده ظن غالب دا وو چې دا اوبه ډیري
دی او نجاست تاثیر نه سی پکښې کولای نو هغه ډیري دی اودس او نور طهارت پر روا
او کی لږ بللی نو لږ دی طهارت نه دی په روا،

حاصل دا چې د مکلف خپل غالب الرای معتبره ده- او وائی د خلکو مختلفی دی نو کیدای
چې یو مقدار اوبه به یو مکلف ډیري بولی نو د هغه اودس په روا دی- او بل مکلف به
لږ بولی نو د هغه اودس نه دی په روا نو سړی مامور دی په تحری ی سره، او تحری
کول په امور دینیه وو کې خروج د مذهب نه دی، او نه په دی کې تقلید د مجتهد لازم دی په
کنز فی فتح القدیر» بلکه د دی مثالونه ډیر دی لکه تحری کول په امر کښې قبلې چې پر ده
خلکو مشتبه سی، او پر هر سړی واجبه ده چې د جهت ته د تحری خپل به په لمانځ کې
مخامخ کیږي که څه هم د بل سړی د جهت څخه د تحری مخالف وي،
او د غه رنګه تعداد د رکعتو د لمانځه چې د سړي هیر سی نو دی به تحری کوی، او په تحری به
عمل کول پر ده واجب دي، کما فی کتب الفقهاء،، **درویش وائی**: چې بحر رائق او فتح
القدیر چې ظاهر المذهب دی بیان کړی دی» په هغه کښې خوښ نسته، او فقیه ابو جعفر
الطحاوی چې په اتفاق د حنفیانو اعلم د خلکو او علماوو په مذهب د ابو حنیفه کې دی
د دی ظاهر الروایت څخه بی خبره نه وو، او د غه رنګه صاحب د فتاوی خانیه، او د نوازل
او مصنف د شرنبلالی لکن مع هذا دوی فتوی په تقدیر د لسو په لسو کښې صادره کړه،
د دی فتوی سبب دا دی، چې وائی ته د مبتلی به پریښوول سبب د اختلاف د خلکو
او د تنازع او یو پر بل باندی بد حکم کول وګرځی، مثلاً په صحرا کښې یو کلی پروت وي او
هغه ته نږدی یوه ډنډه د اوبو وي، بعض اهل د کلی دا اوبه ډیري بولی، او د س
نور طهارت په کوي. او بعض کلی والی یه لږ بولی اودس په روا نه بولی، نو لا محاله د دوی
ترمابین اختلاف او تلخ کلامی، بلکه قتل و قتال هم محتمل دئ،

غونګله نام ورو علماوو فتوی په تقدیر د لسو په لسو کی صادره کړه، وبه نأخذ الفقیر ایضا وان
کان لیس اهلاً للافتاء» الفقیر

بنهانه فائده

په اتفاق د فقهاوو اوبه په اصل کښې پاکی دی - او نه مرداریږی مګر هغه وخت چې د سړي
یقین پر لوید و د نجاست یا غالب ګمان پر هغه نه وی راغلی، نو بناء پر دغه اصل کلی علامه
شرنبلالی په مراقی الفلاح کښې وائی-

مسئله: که یو چاد کور ومخ ته یو څم ایښی وو او کوزی او لوټې یه هم ورسره ایښی
وی د هغه څم څخه اودس تازه کول روادی تر هغو چې یقین یا غالب ظن یه په نجاست
په نجاست د هغه څم نه وی راغلی، **مسئله**: او د غه رنګه اودس روادی په
وبود هغه حوض صغیر، چې احتمال د دی وی چې نجاست به ور لوید لی وی مګر یقین
یه نه وی،، او پر سړي باندی د دی اوبو پوښتنه هم نه ده واجبه،

مسئله: او د غه رنګه اودس روادی په اوبو د هغه ځا چې په خیرونو لوښو، او په
لاسونو او ښځی او کوچنیان، او صحرایان، او مالداران او به څخه د راکاږی،
تر هغو چې یقین په نجاست د ځا نه وی راغلی» « قال المصنف،

او جاریا وظهر اثرها فیه والاثر طعم او لون او ریح

ترجمه: او یا روانی اوبه وی او ښکاره وی اثر د نجاست یا خوند دی د هغه نجاست چې
او بو کښې دی، یا رنګ دی، د هغه نجاست او یا بوی دی د هغه نجاست،

فائده: جاری اوبه هغه ځای یه نجس دی چې اثر نجاست په کښې معلومیږی»
نه تولی اوبه چې جاری وي افاده السید» ط ص۲۲ قال المصنف،

والخامس ماء مشکوک فی طهوریته

او پنځم قسم د اوبو هغه اوبه دی چې شک یه په دی کی وی چې، پاکی یعنی اودس یا غسل وغیره

په روادی اوکړنه! مقصد دادی چی په طهارت کی شك نه وی»، یعنی بل شئ نه په مزای

وَهُوَمَاشَرِبَ مِنْهُ حِمَارٌ اَوْبَغْلٌ

اودا هغه اوبه دی چی چښنګ ځندی کړی وی خره یا غاطر» پوه سه: چی دغاطره څخه هغه غاطر مراددی چی مور یه خره وی پلاریه آس وی نه هغه غاطره چی مور یه اسپه وی پلاریه خروی»ولی چی اعتبار مورلره دی»، نه په بعض احکامو کی لکه پس خورده، اوحِل دخوړك دغوښو اوحرمت دهغو» اوحریت اومری توب» اوپه نسب کی اعتبار پلارلره دی. لکن اولاد دشریفی ښځی لکه سیده شرافت فی الجملة لری ترا ولاد دنورو ښځو»

فائدَه: لبعض عُلماء وائی چی په اولاد کښی د فاطمة الزهراء رض اعتبار نرلره او ښځی دوارولره سته»، یعنی یوه ښځه چی داولاد څخه دفاطمه وی کی خرهم میړه دبله قوم څخه وی»، دَدغی ښځی اولاد هم سادات دی»، لکه چی پلار یه داولاد څخه دفاطمهٔ وی اومور یه دبل قوم څخه وی»، لکن صحیح اومفتی به لکهٔ رد محتار کی چی وائی»، توله انساب تابع دَ پلار دی»

« لویَه غوتیه خلاصه سوه»

په پښتنوکی بعض قومونه وائی موږ سیدان یو»، لکه ورده ګان» جمالزی په نورزوکښی، کشانیان وغیره» لکن نور پښتانه نه دوی ته سیّدان نه وائی» داختلاف سِر یه دادی چی دنامورو قومو په نسب کی بعض ځایونه یوه انا ددوی سیده داولاد څخه دفاطمة الزهراء رض موجوده وی. نودوی نسب تابع دمور بُولی په اولادو کی دفاطمه رض لکه مذهب اول چی وُو، نودهغی ښځی لاندی قوم تول ځان ته سیدان وائی» اونور پښتانه چی دوی ته سیدان نه وائی هغه وائی چی نسب تابع دَپلار دی په هرقوم کښی» کما هو المذهب الصحیح» نودغه قومونه دیوی انا په سبب چی سیّده وه سیدان نه ګرځی»، وَاللّٰهُ اَعلم بالصواب

خبره ترخبری یادیږی

پوه سه: چی اولاد ته دعلی رض چی دفاطمة الزهراء رض دخوا څخه وی سیدان وائی» اوهغه اولاد چی دعلی رض وی پس له وفات ته دفاطمة الزهراء رض دبلی ښځی څخه هغوته علویان وائی اواولاد ته دابوبکر رض الصدیق رض قرلیش وائی»، اواولاد ته دعمر رض که څه دوی هم قریش دی حضرات وائی، اواولاد ته دَعُثمان رض خواجګان وائی. دا دپښتنو اصطلاح ده او پر اصطلاح اعتراض نسته:

فَصْلٌ

اودا فصل په احکامو کښی دپس خوردی دی.

وَالْمَاءُ الْقَلِيْلُ اِذَاشَرِبَ مِنْهُ حَيَوَانٌ

اولږ اوبه یعنی چی جاری نه وی، اولږ په لږ کی هم نه وی، چی چښنګ وکی دهغو څخه یو حیوان»

عَلٰى اَرْبَعَةِ اَقْسَامٍ وَيُسَمّٰى سُؤْرًا

پرڅلور قسمه دی اودغو اوبو ته پس خورده وائی

پوه سه: چی دسُؤرٌ د عین کلمه همزه دی اوجمع یه اَسْاَرٌ چی وَمَا بقی ته داوبواوخوړو وائی، اولفظ دسور په واوسره د ښار لوی دیواله ته وائی اوجمع یه اسوار راځی »

فائدَه: ترهغو پوری اوبو ته سُؤرنه وائی چی لږنه وی. نوکه دَولی یا حوض څخه چی لږ په لږ کښی وی حیوان اوبه وچښی سُئور یه نه بُولی» م. ط»

اَلْاَوَّلُ طَاهِرٌ مُطَهِّرٌ وَهُوَمَاشَرِبَ مِنْهُ اٰدَمِیٌّ

اول قسم هغه اوبه دی چی پاك وی، یعنی شئ نه په مرداریږی، اوپاکوونکی هم وی یعنی بی اودسیا جنابت په لری کیږی اویا مردار کالی په پاکیږی، نودا هغه اوبه دی چی انسان چښنګ ځندی وکړی. یعنی دانسانانو پس خورده»، لکن داحکم هَلته دی چی خوله یه مُرداره نه وی، لکه چی شراب یه چښلی وی. اویا بل مردار شی خوړلی وی لکه دسرکوزی غوښی، اوبا یه

Maktaba Tul Ishaat.com

قی وهلی وی په ډکه خوله. نوکی سوډلاسه په دغه مرداره خوله او به وَچښلی هغه اوبه مرداری دی. اوکی چیری دوه تَری واره پَه خوله کی ناړی سره وګرځولی او توی یه کړی یا تر او بو چښلو مخه یه هغه ناړی تیری کړی:

نود هغه پس خورده نجسه نه دَه، پَه نیزد امام اعظمؒ او امام ابی یوسف تکن مکروه دَه، ولی چی امام مُحَمَدؒ وَائی چی پَه ناړو خوله نه پاکیږی. فَائِدَه: داحکم هلته دی چی بریتونه دشراب خوره دېر غټ نه وی چی ژبه دده نه ور رسیږی اوکی بریتونه غټ وَه بیا پس خورده مرداره دَه.

فَائِدَه: په پس خورده کښی د لوی اوکچنی مُسلمان اوکافِر جنب اوحائض فرق نشته، په حَدیث مُبارک کی چی روایت یه امام بخاریؒ کړیٔ، دبی بی عائشه رض نه داسی نقل راغلی دی چی ما به دلوښی نه اوبه وچښلی اوزه پَه حَیض کی وم، هَغه لوښی به می آنحضرت صلی الله علیه وَسَلم ته ورکړې نوده مبارکؐ پر هَغه ځای دلوښی خوله مُبارکه کښیښول چی ما به خوله پرایښی وه او اوبه بی وچښلی" م، ط"

خبروَل

که چا په پس خورده دبل چا لکه نامحرم ښځه یا ښائسته هلك لذت اوخوند اخستی دا پس خورده مکروه ده،، مګر مېړه اومایښه یا بادار اومینځه سره دَلذت شهوانی پس خورده یه مکروه نه دَه،، ط،، او دغه کیسه کول دښائسته بی بیری پَه حمام کښی مکروه ده"

او دغه رنګه سرخړیل د بی بیری دلاك کی محلوق (دچاچی سرخرولی) تحوند ورکاوه مکروه دَه، ذکره الطحطاویؒ فی شرح المَراقی.

، خَبری بَه کوو خوابه نه یَده وُو"

لبعض تهګان پیران، دایه رواج وی چی هرسړی چی ددوی سره روغ بړ کوی، دوی هغه ته تندی مُخوی پَه دی ضمن کښی که ښځه یا ښائسته هلك ددوی سره روغ بړ کاوه دهغو ځنه هم په خپلو شهوت د زړو ډکو شوند انو سره مچه اخلی،، او د پیر مچه خلك غنیمت بولی"

. اللهم اغفر لمؤلفه و لکاتبه ولجمیع المسلمین"

دَعوامو عقیدَه

داسی پیران په جامعَه کی داسلام خصوصًا په پښتنو او پارسی ژبانو کښی ډیر دی چی ښایره یه پاکه خرېیلی وی دسرو زرو ګوتمیانی ئې په ګوته وی، او دزرو ساعت یه هم تر لاس وی سګریټ یو لګوی بل وَرته ئی" او دجماعت په لمانځه کښی هم چا نه وی لیدلی" بیا هم دوی یه بزرګ د خدای دوست بولی"

قَالَ المُصنفؒ

اَوفَرسُ اَوما یُؤ کَلُ لحمُه

اویا آس او به وَچښی. او یا هغه حیوان چی غوښی یه خوړل کیږی،، لکه پسه بزه وغیره، مصنفؒ په مَراقی الفلاح کښی وَائی ص۲۳ چی سُور او پس خورده دآس پاکه دَه، بالاتفاق برصحیح روَایت بیله کراهته آه: طحطاوی دَ دغه ځای په شرح کښی وَائی چی دآس پس خورده چی پاکه ده په دی سَبب چی غوښی یه هم خوړل کیږی،، او د حضرت امام اعظمؒ صَائب په نیز چی غوښی دآس حرامی ښرلی،، وَائی چی ناړی دآس چه په پس خورده ګډیږی دغوښو ځنه پیدا کیږی او د آس غوښی خو پاکی دی، حرام وَالی د خوړك په سَبب د کرامَت دی چی آس آله د جهاد ده"

نو حرمت دغوښو دآس لکه حرمت دغوښو دَانسان دی،، نو ځکه شیدی داسپی حَلالی دی بالاجماع **تبیین** ، بلکه ثابته سوی ده رجوع دحضرت الامامؒ وقول ته دصاحبینو دری ورځی تر مرګ دَمخه وعلیه الفتوی، ط، او په مجمَعُ الانهر کی وائیٔ چی شیخ الاسلامؒ او نور علماء وائیٔ چی خوړك دَغوښو د آس مکروه تنزیهی دی،، وهو الصحیح آه او منیته المصلی وَالا د بعض علماوو ځنه نقل کړی چی غوښی دآس نجسی دي، نو سُور یه هم نجس دی،، او بعض فقهاء وَائی چی سور دَآس مشکوکه ده لکه دخره سُور"

پوه سَه: چی په مَأکول اللحم کی پسه، بزه، سیرلئ، غوا، غوایَ، اوښ، او ښتَه؟ او مَأکول اللحم مرغان لکه، زرکه، اِلئ، چوغکه، بلکه چرګان، وغیره ټوله داخل دی"

فائده: په بعض کتابو کې دَ فقهې شریفې وَائې چې دَ دَغو حیوانانو سور هَلته پاک دی چې دغه حیوانات غُل نه خوری چې ودې حیوان ته جلالت وَائې، او که جلالة وونو یه سور مکروه دی» لکن د دوی مراد دادئ چې فقط نجل خوره وی او یا د غُلو خوراك تروَبنو دیریا برابروی. او کې په اکثر کې پاك وابنه خوړله او گاهې بې غُلهم وخوړله د هغه حیوان سور مکروه نه دئ»، کذا فی الجوهرة:

امامان د جلالت ترجمه غرنگه کوی؛ دوی وَائې د جلالت معنا کوخه گبنته» او دوی سه پوهیږی چې جلالت مشتق د جلة څخه دی چې هغه په لغت کې پوچوته وائې او د لته کنایه د غُلو څخه د انسان ده» «قَالَ المُصَنِّفُ»

وَالثَّانِي نَجِسٌ لَا يَجُوزُ اِسْتِعْمَالُهُ

یعنی دوهم قسم د اوبو چې لږ وی.

مرداری اوبه دی چې نه دی رَوا استعمال یه که په او د اسه کې وی که په غسل کبنی وی که په پریولو کې د جامو وی که دیوشی په پخیدو کې وی او که په څښلو کې وی» » »

فائده: د مردارو اوبو څښل رَوادی په وخت کې د اضطرار او مجبوری لکه سَړی د تندی څخه پر مرگ بیریږی لکه خوراك چې د میتة په حالت کبنی د مخمصی یعنی د ډیری لوږی چې پر مرگ بیریږی» او دا په اتفاق دَ ټولو فقهاوو» قَالَ المُصَنِّفُ»

وَهُوَمَا شَرِبَ مِنْهُ الْكَلْبُ اَوِالْخِنْزِيرُ اَوْشَيْءٌ مِنْ سِبَاعِ الْبَهَائِم

او دا هغه اوبه دی چې چینگ څندی کړي وي سپی، او یا سرکوز، او یا یو حیوان د درنده گانو څخه د چارپایانو

كَالْفَهْدِ وَالذِّئْبِ

لکه پړانګ او لیوه **پوه سه:** چې سور دَ سپی او د سرکوزی نجس غلیظ دی په اتفاق او دَ انور حیوانانو سُور» څوك وَائې نجس مغلظ دی» او بعض علماء یه نجس مخفف بولي» د نجاست غلیظه او خفیفه فرق به وروسته راسی» ان شاء الله تعالی»

دسپی په پس خورده کې دارقطنی د رسول کریم صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ څخه داسې روایت کړی

دی چې په لوښی کې اوبه وڅښی» اِنَّهٗ يُغْسَلُ ثَلَاثًا اَوْخَمْسًا اَوْسَبْعًا. چې هغه لوښی به منځئ دری واره یا پنځه یا اوه واره»، زمونږ په مذهب کې یو وار پریولو له یه فرض دی دری واره یه سُنت دی او باقی یه مندوب دی دَ جهت څخه د طبع د نفرت» قاله العینی فی شرح البخاری

فائده: سبع هغه حیوان ته وَائې چې حمله کوونکی وی او تاراك اچوونکی وی او تجاوز کاره وی په عادت کې» م ». قَالَ المُصَنِّفُ»

وَالثَّالِثُ مَكْرُوهٌ اِسْتِعْمَالُهُ مَعَ وُجُودِ غَيْرِهِ

او دریم قسم اوبه هغه اوبه دی چې مکروه وی استعمال د هغو اوبو په هر شی کې چې وی یعنی مکروه تنزیهی سره د دی چې نوری اوبه وی یعنی هغه اوبه چې مکروه نه دی

دِدې **قید فائده دا ده:** چې کم وخت نوری اوبه نه وی په دغو اوبو دی او دس تازه کړی او تیمم نه دی روا» ولې چې دا اوبه په ذات کې پاکې دی صرف مکروه دی.

پوه سه: چې مصنف په مراقی الفلاح کې داسی وَائې چې استعمال دَ دغو اوبو په طهارت کې مکروه دی فقط» لکن صحیح دا ده چې دَ دغو اوبو استعمال په څښلو او په پخه وَلو کبنی د شئ هم مکروه دی، قَالَهُ الطحطاوی ص ۲۲ » قَالَ المُصَنِّفُ»

وَهُوَسُؤْرُ الْهِرَّةِ

دغه قسم پس خورده د پشی» **پوه سه:** چې لفظ د هِرَّة نر او ښځې دَوارو ته وَائې او داسې لفظ په عربي اسم جنس بولی» د پاکوالی د سور د پشې هغه حدیث شریف دی چې ترمذی یه روایت کړی دی، او وَئیلی دی چې دا حدیث حَسَنٌ صَحِيحٌ، د پشی په باره کبنی عَلَیهِ السلام داسی وفرمائیله» اِنَّهَا لَيْسَتْ بِنَجَسَةٍ اِنَّهَا مِنَ الطَّوَّافِيْنَ عَلَيْكُمْ وَالطَّوَّافَاتِ» یعنی سور دَ پشی نه دی مُردار» په دی سبب چې پشی طواف کونکی او گرځیدونکی ده پر تاسی » یعنی په خونو ځایو کبنی گرځی»

او خلك ځان نه سی څندی ساتلائ»، مطلب دا چې دَ ضرورت له کبله د دی سور پاك د

اللهم اغفر لمؤلفه ولكاتبه

Maktaba Tul Ishaat.com

فائده: په بعض کتابو کی دَفقهی شریفی وَائی چی دَدغو حیوانانو سور هَلته پاك دی چی دغه حیوانات غُل نه خوری. چی ودی حیوان ته جلالت وَائی، او که جلالة وونو یه سور مکروه دی» لکن ددوی مراد دادئ چی فقط غُل خوره وی او یا دغلو خوراك ترَو بنو دیریا برابروی. اوکی په اکثر کی پاك وابنه خورَله او گاهی بی غُلَهم وخورَله د هغه حیوان سور مکروه نه دئ» کذا فی الجوهرة:

امامان دجَلالت ترجمه څرنګه کوی! دوی وَائی دجَلالت معنا کوڅه ګښتہ» اودوی سه بوهیږی چی جَلالت مشتق دجلَّة څخه دی چی هَغه پَه لغت کی پُوچُوته وائی اودلته کنایه دغلو څخه د انسان ده» «قَــالَ المُصَنفُ»

وَالثَّانِیُ نَجِسٌ لَا یَجُوزُ اِسْتِعْمَالُهُ یعنی دوهم قسم داوبو چی لږ وی.

مرداری اوبه دی چی نه دی رَوا استعمال یه که پَه اوداسه کی وی که په غسل کښی وی که په پریولو کی دجامو وی که دیوشی پَه څښیدو کی وی او که پَه چښلو کی وی» ،، ،،،

فائده: دمردارو اوبو چښل رَوادی پـه وخت کی د اضطرار او مجبوری لکه سَړی دتندی څخه پر مرګ بیرېږی لکه خوراك چی د میتـه پـه حَالت کښی د مخمصی یعنی دډیری لوږی چی پر مـرګ بـیرېږی» اودا په اتفاق دَټولو فقهاوو» قَالَ المُصَنفُ»

وَهُوَمَا شَرِبَ مِنْهُ الْكَلْبُ اَوِالْخِنْزِيْرُ اَوْشَیٌٔ مِنْ سِبَاعِ الْبَهَائِمِ

او دا هغه اوبه دی چی چښنګ څندی کړي وي سَپی، او یا سَرکوز، او یا یو حیوان ددرنده ګانو څخه دڅار پایانو

كَالْفَهْدِ وَالذِّئْبِ لکه پړ او لیوه

پوه سه: چی سور دَسپی او دسرکوزی نجس غلیظ دی په اتفاق اودَ نور حیوانانو سُور، خولك وَائی نجس مغلظ دی» او بعض علماء یه نجس مخفف بُولی، د نجاست غلیظه او خفیفه فرق به وروسته رَاسی» ان شاء الله تعالیٰ د سپی پ پس خورده کی دارقطنی د رسول کریم صَلی اللهُ عَلیه وَسَلم څخه داسی روایت کړی

اِنَّهٗ یُغْسَلُ ثَلَاثًا اَوْخَمْسًا اَوْسَبْعًا. چی هغه لوښی به دی چی په لوښی کی اوبَه وڅښی» زموږ پَه مذهب کی یو وار پر یوَله یه فرض دې منځئ دری وَاره یا پنځَه یا اوه وَاره » قال العینی فی شرح بخاری دری وَاره یه سُنت دی او باقی یـه مندوب دی دُجهت څخه د طبع دنفرت» ونړ

فائده: سبع هغه حیَوان تـه وَائی چی حمله کوونکی وی اوتاراك اچوونکی وی او ښکار کاره وی پـه عادت کی» مر ،، قـَالَ المُصَنفُ»

وَالثَّالِثُ مَكْرُوْهٌ اِسْتِعْمَالُهٗ مَعَ وُجُوْدِ غَيْرِهٖ

او دریَم قسم او بَه هغه او به دي چی مکروه وی استعمال دهَغو اوبو پَه هر شی کی چی وی یعنی مکروه تنزیهی سَره ددی چی نوری اوبـه وی یعنی هغه اوبَه چی مکروه نه دی» ددی قید فائده دَاده: چی کَم وخت نوری اوبَه نه وی پَه دغو اوبو دی اودس تازه کړی او تیـمم نه دی رَوا» وَلی چی دا اوبَه پـه ذات کی پاکی دی صرف مکروه دی.

پوه سه: چی مصنفؒ پـه مَراقی الفـلاح کی داسی وَائی چی استعمال دَدغو اوبو پـه طهارت کی مکروه دی فقط» لکن صحیح داده چی دَدغو اوبو استعمال پـه چښلو او پـه پخـه وَلو کښی دشئ هَم مکروه دی، قالهُ الطحطاوی ؒ ص۲۲ » قَالَ المُصَنفُ»

وَهُوَسُؤْرُ الْهِرَّةِ دغه قسم پس خورده دپشی»

پوه سَه: چی لفظ دهِرَّةٌ نر او ښځی دَوارو ته وَائی اوداسی لفظ په عرَبی اسـم جنس بولی» د پا کوالی د سور دپشو هغه حدیث شریف دی چی ترمذی یـه روَایت کړی دی، او وَ ئیلی دی چی دا حدیث حَسَنٌ صَحِیْحٌ ، دَپشی پـه باره کښی عَلیـه السلام داسی وُفرمَائیله» اِنَّهَا لَیْسَتْ بِنَجَسَةٍ اِنَّهَا مِنَ الطَّوَّافِیْنَ عَلَیْکُمْ وَالطَّوَّافَاتِ» یعنی سور دَ پشی نه دی مُردار، پـه دی سَبب چی پشی طواف کونکی او ګرځیدونکی ده پر تاسی» یعنی پـه خونو ځایو کښی ګرځئ»

او خلګ ځان نـسی څندی سَاتلای»، مَطلب دا چی دَضرورت له کبله د دی سُور پاك د

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه

دپشی په باره کښې بعض معلومات

۱ طوافین جمع مذکر ده نرو پیشانو ته وائي» او طوافات جمع مؤنث ده ښځو پیشانو ته وائي سوال: اهل صرف او نحو وائي چې جمع په واو او نون او یاء و نون» په ذوي العقول پوري خاصه ده پیشي خو د ذوي العقول څخه نه ده» نو څرنګه په حدیث شریف کې په یاء و نون جمع سوي ده»

جواب: چونکه د پیشي تول ګذاره د ذوي العقول یعنی انسانانو سره دی» نو ځکه یې جمع د ذوي العقولو جمع کړه» ۲ پیشي دوه قسمه ده یوه اهلي پیشي بولی او بله بري یعنی صحرائي پیشي» سور (پس خورده) چې پاکه ده د اهلي پیشي پاکه ده، او په حدیث شریف کې هم دغه مراد دي، ولې چې علت او ضرورت د طواف په اهلي پیشي کې ستره» د بري پیشي حکم د چنال دئ»۔ ۳ داچې سور د پیشي مکروه وائي مذهب د امام اعظمؒ او امام محمدؒ دئ. او امام ابو یوسفؒ سور د پیشي پاک بولی او دس په روا بولی او چینګ یه جائز ګنړي بیله کراهت لکن صحیح مذهب د طرفینو دی»، کذا فی رد المحتار»

۴ مسئله: سور د پیشي مکروه دی تنزیهًا ولې چې د نجاست څخه ځان نه ساتي موږکان خوري، مرداري غوښې خوري او نور لکه کښنی هلك چونکه د نجاست څخه ځان نه ساتي نو کی لاس په لوښي چخ کړي، د هغو او بو استعمال مکروه تنزیهي دئ» م۔

مسئله: که یو پیشي د چا لاس وڅټي او دی سړي ته حال نه وو معلوم د پیشي د خولي نو د دغه لاسه سره چې بري ئې نه مینځي لمونځ کول، یا په دغه لاس ډوډي خوړل مکروه تنزیهي دئ» م ط»

مسئله: د پیشي د خولي پس خورده وغني سړي ته خوړل مکروه ده، او مسکین ته مکروه نه ده»

وَالدَّجَاجَةُ الْمُخَلَّاةُ

او مکروه تنزیهي ده پس خورده د چرګ یا چرګې چې ایله ګرځي یعنی په مردار یو کښې او انبارو کښې وجه د کراهت یه دا ده چې د دی د مشو کې حال نو دی معلوم» نو په سبب د شک یه سور مکروه دئ اوکه مشوکه یقینًا پاکه وي»

چې پر پاك ځای تړلی وه او مشوکه یه و نچلو غلوته هم نه رسیده۔ نو په دی صورت کې یه سور پاك دی» او که چیری سړي ولیده چې چرګې نجاست وخوړی او بیاد لوښي څخه اوبه وچښلی هغه اوبه مرداري دی»ط» ۔ قال المصنفؒ»

وَسِبَاعُ الطَّيْرِ كَالصَّقْرِ وَالشَّاهِينِ وَالْحِدَأَةِ

او د غه رنګه مکروه دی سور د حمله کوونکي د مرغانو لکه خرخك او شیئون، او تښس سوال: د د غو مرغانو غوښې خو مرداري دی نو باید چې سور یې هم مردار وای لکه سور د سباع البهائم» جواب: هو قیاس خو د غه تقاضا کوي لکن زمونږ علماوو د جهته د استحسان فرق د دی د وارو د رنده ګانو د سور ترمابین کړی دی»، وجه یه دا ده چې سباع الطیر خو په مشوکه خوراك کوي، او مشوکه ا دوکې دی پاك دی»، او سباع البهائم خو اوبه په ژبه چښي او هوري ناړي په ګډیږي او ناړي یه د غوښو په سبب مرداري دی.

پوښتنه: باید سور د سباع الطیر مکروه هم نه وای ولې چې تاسي وویله چې مشوکه پاك ا دوکی دئ» جواب: کراهت یه د دی سببه څخه دی چې د غه مرغان د مردارو شیانو د خوړلو سره عادت لري»، نو د دی احتمال سته چې په مشوکه دی مرداري خوړلي وي» نو په دی سبب یه سور مکروه دی حتی که یو سړي د د غو مرغانو مشکي وړ یړي منځي او بیا هغه او بو چینلو ته پرېږدي سور یه بلا کراهت پاك دی»، حاصل» م»

وَسَوَاكِنُ الْبُيُوتِ كَالْفَارَةِ لَا الْعَقْرَبِ

او د غه مکروه دی سور د او سیدونکو د خونو او سرایو لکه موږك (یعنې چې بهیدونکی وینه لري) او د دی قسمه څخه مار هم دی او شرمښکی هم ده، نجاست د سور یه په علت د ګرځیدو د اګرځیدو په خونوکی ساقط سو» او کراهت یه په سبب د نجاست د غوښو باقي دئ»، او لړم د غسی نه دی چې د هغه سور پاك دئ» او د غه رنګه سور د صرصر چې پتنړان دي یا د قسم خزدکی چې په کوټو کی د بنار ډیر وي چې دوي ورته» لال بیګ وائي»

Maktaba Tul Ishaat.com

وَالرَّابِعُ مَشْكُوكٌ فِي طَهُورِيَّتِهٖ وَهُوَ سُؤْرُ الْبَغْلِ وَالْحِمَارِ

اوڅلرم قسم د لږو اوبو، پوهېسه چې د دې عبارت معنیٰ چې مصنفؒ پـه مراقي کړي ده داسې ده مَشْكُوكٌ يعنې توقف کړي دی فقهاوو فِي طَهُورِيَّتِهٖ، يعنې په حکم کولو سره په طهوريت د هغو اوبو: په معنیٰ د دې چې يقينًا مطهر نه دی چې بې او د سيا دی په ليرې کېږي، او نه حکم په نفي د طهوريت کړه کېږي. او مراد د بغل غاطر څخه هغه دی چې مور يې خره وي، او حمار اسم جنس دی نر خره او ښځې خرې دواړو ته وائي۔

اودې مسئلې علت دا دی، چې نارې د خره او غاطر پاکی دې پر صحيح مذهب او شك په طهوريت کښې د دې سببه دی چې په مباح والی کښې د غوښو يا حرام والي د غوښو احاديث نبويهؐ متعارض دی، هغه داسې چې ابن حجرؒ روايت کوی، چې زموږ کور ته لوږه ورسيده، او ما نه درلودې داسې حيوان چې په حلال کړم د کور د پاره، مگر څاغ خره، نو دا موضوع ما و آنحضرت صلى الله عليه وسلم ته عرض کړه، هغه راته وويله، أَطْعِمْ أَهْلَكَ مِنْ سَمِينِ حُمُرِكَ، وخوره په خپل اهل د څاغو خرو غوښې"

او په بل حديث کښې چې روايت يې امام بخاريؒ کړی دی داسې راغلی دی، انسؓ وائي چې په غزا کښې د خيبر يو سړی راغلی ورسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويله، أُكِلَتِ الْحُمُرُ، خره وخوړل شوله، يعنی خلکو خره حلال کړه، فَسَكَتَ، آنحضرتؐ پـه خوله شو يعنې جواب يې نه ور کړی، بيا دوهمه پلا، هغه سړی راغلی او وې ويله، أُكِلَتِ الْحُمُرُ، فَسَكَتَ ثُمَّ أَتَاهُ الثَّالِثَةَ، او بيا دريمه پلا راغلی او وې ويله، أُفْنِيَتِ الْحُمُرُ، خلاص شوله خره، نو عليه السلام امر کړې يو نعره کوونکی چې نعره وکړه پـه خلکو کښې چې خدائ او رسول د خدائ تاسې منع کوی د خوړلو د غوښو د اهلی خرو، ط. ۲۶،

پوهېسه: چې د غه تحريم چې د بخاری د حديث نه څخه وفهميدی شوك وائي چې دا تحريم يعنې د خوړلو د غوښو د خره لذاته دی، دا مذهب د جمهورو دی، شوك وائي پـه سبب د دې چې خره جلاله دی يعنې غـل خوری، او بعض وائي تحريم په دې سبب وو چې خره په هغه

وخت کی د خلکو په غزواتو کی بار وړونکی وه،

او بعض وائي چې نهی د د ی سببه وی چې دا خره د غنيمت وه او غنيمت هنوز نه وو ويشل سوی، په هر صورت شيخ الاسلام علی بزدویؒ وائي چې دا تعارض د فوق الذکر دوو حديثو خو سبب د شك په حکم کی د سور د خره نسی گرځيدای، ولی چې قانون دا معلو دی چې په داسې ځای کښې چې تاريخ د حديثونو وی معلوم عمل په محرم سره لازم دی۔

حَلُّ هٰذَا الْمَقَامِ:

ابن امير الحاجؒ وائي چې د خره د سور د پاره د غه نوم يعنی مشكوك د سلفو څخه هيڅ نه دی راغلی، بلکه متاخرين د فقهاوو څخه بعض يه مشكوك بولی او بعض يه مشكل بولی، نو ابو طاهر الدباسؒ د دی تسميه څخه دا فهم ولی ده چې د خره د سور حکم مجهول او نا معلوم دی، نو به ځکه د دی نامه څخه انکار کړی دی، لکن د د عنه نامه معنا دا ده چې په د غه سور کښې فقهاوو توقف کړی دی چې بې او د سيا په نه ايلي ږی او که نه، دوی وائي چې هم د ی داغه او به مستعملی کړی يعنی او د س دی په تازه کړی او هم دی تيمم ووهی تا چې طهارت باليقين حاصل سی، نو دا خو معلوم حکم دی، او دا توقف د غاية الورع نتيجه ده۔

مسئله: په نيز د امام ابو يوسفؒ نجاستِ حقيقی په سور د خره پاکيږی، ولی د غه او به خود نجاستِ قلع کوی جامه خونوره پاکوه، لکه په سرکه چې نجاستِ حقيقی پاکيږی،

يوه پـه زړه پوری خبره: شيخ الاسلام خوامزاده وائي: چې سبب د اشکال په سور کی د حمار دا دی چې علماء کرامؒ او فقهاءؒ عظام په دی کښې متردد دي چې پـه خروکی خو هم ضرورت سته ولی چې پـه کور وکښې د خلکو سره گډون لري او خره په لوښوکی د استعمال د خلکو او به څښي او د خلکو پـه سپر تيا ودوی ته ضرورت سته: نو بَنَاءً عَلٰى هٰذَا نجاست د سور يـه ساقط بولی، او لکه پيشی د اسی حکم يه وائي کما مر، نو د دی سببه نارې د خرو پاکی دی، لکن فقهاءؒ وو چې متايسه د خرو او د پيشو سره وکړه دا ورته معلومه سوه چې ضرورت پـه پيشو کی ډير دی تر خرو۔ ولی پيشی په تنگو ځايو او پـه خونو او ځايو د خلکو ننوزی،

پرخلاف دَخروچي داسي نه دی، نوکه چيري ضرورت وخوته اصلاً نه وای نوبه سُور د دوي لکه سور د سپو نجس وای بی کمه اشکاله، او کی ضرورت په مقدار د ضرورت د پښی وای نو نجاستِ د سوربي بالکل ساقط سوي وای لکه دَ پښی دَسُور، نو ضرورت چونکه په خروکښی من وجه سته او من وجهٍ نسته، لهٰذا علماووته شک په طهوریت د سور پیدا سُو، او په پاکوالی د سور یعنی طهارت سري فتوي ورکړه، دَا تو له دجهت نه د احتیاط فی الدین نو بناءً عَلیٰ هٰذا فتوي یه وَرکړه په اوداسه تازه کولو په دغو اُوبو چي خَرَه چښنګ حُندی کړی وی او تیمم هم ورجوت کړي، عملاً بالدلیلین اقول وَلِلّٰهِ درّ ما ادق نظره»

«قال المصنف»

فَاِنْ لَمْ يَجِدْ غَيْرَهٗ تَوَضَّأَ بِهٖ وَتَيَمَّمَ

که چيري پيدا نه کړی بی اودسه سړی ماسوا د سوره دَخره او غاطر

حاصل دا چي ماء مطلق نه وی، نو اودس دي تازه کړي په دی اوبو او تیمم دی وکړي، مصنفؒ عطف په واو وکړی چي دَیاره د مطلق جمع دی اشاره وه دی ته یه وَکړه چي دَسړی خوښه ده که اودس د مخه کوی او که تیمم، لکن مع هذا افضل تقدیم د اوداسه دی وَلی دسور ظاهره مَوت دا وبوئی

ثُمَّ صَلّٰی: او وروسته دی لمونځ وَکړی تا چي لمونځ یه یقیناً صحیح سی، وَلی چي اودس په دغه سور که رواوی وروسته تیمم تاوان نه ورته کوی. او که نوی صحیح تیمم خویه وکړی، م ص۲۶

لږ ولیش وائی: چي په شرح کی د جامع صغیر چي د امام محبوبي تصنیف د نصیر بن یحییٰؒ څخه داسي بیان نقل کړی دی چي یو سړي چي بیله سُوره د حمار نوري پاکی اوبه نه لري، دا اوبه دی چپه کړي چي عَادِمُ الماء وګرځی. بیا دی تیمم وَوَهی. نو دا قول چي ابوالقاسم الصفارؒ ته ورا ندی کړ سو هغه وویله چي دَا قول د امام ابوحنیفهؒ دی، وَاللّٰهُ اعلم کذا فی النهایة شرح الهدایة

مسئله: د دغه سړي لمونځ پس له اودسه په سورُ الحمار او تیمم سره افضل دی. او کی داسي وکړه چي یو وار یه اودس تازه کړی په سورا الحمار سره او لمونځ یه وَکړی بیا تیمم وکړی او لمونځ یه اداکړی د لما نځه غاړی خویه خلاصی سَوی مګر داسي

کار مکروه دی، ط، ص۲۶

پوښتنه: د غه سړی چي فوق الذکر کار وکړی نو که سؤر الحمار نجس وی نو خو لمونځ په بی اودسه وکړی نو باید چي کافر لکه چي بعض فقهاءؒ وائی چي سجده بی اوداسه کفر دی

جواب: کفر نه لازمیږی، ولی چي د غه سړی خو یقیناً بی اودسه لمونځ نه دی کړی.

ولی چي په سؤر الحمار کښی اختلاف دی. او د کفر مسئله چي لبعض فتاوو ذکر کړی دَه هغه هلته دَه چي یقیناً بی اودسه وی، مثلاً یو سړي حنیفی مذهبه وو او ورکښ دلاس یه خلاص کړی او بیا بیله اودس تازه کولو لمونځ وکړي کی څه هم لمونځ خو نه دی صحیح ولی چي په مذهب کښی د حنیفیا نو په رګ وَهلو اودس ماتیږي. لکن بیا هم کافر نه دی. ولی چي امام شافعیؒ او امام مالکؒ په رګ وَهلو اودس مات نه بولي.

فَصْلٌ فِی التَّحَرِّیْ

پوښتنه: چي دَ تحری معنا دلته فکری کوشش کول دی تا چي پاکی او نجسی اوبه وَرته معلوم سی. امام نوویؒ په شرح کښی د مسلم داسي وَائی چي تحری و تأخی و توخی په یو معنیٰ دی

لَوِاخْتَلَطَ اَوَانٍ اَكْثَرُهَا طَاهِرٌ تَحَرّٰى لِلتَّوَضُّوْءِ وَالشُّرْبِ

که چيري ګډ سو لوښی، اوان جمع د اناء دَه) چي د ډیرو او به پاکی وی او د لږ و دا نجسی وی، او او س و سړي ته پاک لوښی او مردار لوښی نه معلومیدَه، نو ډیر غور او فکر دی وکړي په دَغو لوښو کی چي اودس په تازه کړی یا غسل په وکړی او یا یه وَچښی، نو پس له تحری څخه د هر لوښی او به چي په خیال پاکی وَرَغلی په هغو اوبو دی اودس تازه کړي یا دی غسل په وکړی او یا دی وَچښی،

Maktaba Tul Ishaat.com

مسئله: که چیری دوه لوښی وه مثلًا یو پاك بل ناپاك او د سړي څخه ورك سوه بیا به تیمم وَهي. او افضله داده چې د دواړو لوښو او به دی سَره ګډی کړی او یا دی توی کړي تاچی مطهر او به یقیني د ما بین څخه وَلاړي سی نو بیا دی تیمم وَوَهي»

مسئله: که د ری کسه وه مثلًا او دری لوښی وَه چی دوه پاك وَه او یو مردار» او د غو دروسرو کسانو څخه پاك لوښی او مردار لوښیَ ورك سوه. او بیا دروسرو تحری وکړه پر خیال یو لوښی نجس وَرَه غلی، د بل په خیال بل لوښی نجس وَرَه غلی او د بل په خیال بل یعنی جَلاجَلا لوښی»، او د روسَرو وو په هغه لوښی او دس تازه کړي چی د ده په خیال پاك ورتَی. نو لمونځونه د دروسرو وو صحیح دی لکن جَلا جَلا بی کوی جماعت نه دی ورته روا

پوهسه: چې اختلاط دوه قسمه دی» اختلاط ممازجته» یعنی چې پاکی او به او نجس او به سَره ګډی کړی په یوه لوښی کی» او بَل» اختلاط مجاورة دی. یعنی چی نجس لوښی جلا وی او پاك لوښی جَلا وی»، لکن د سړي څخه ورك سی» دلته مراد اختلاط مجاورت دی»م

وَاِنْ كَانَ اَكْثَرُهَا نَجِسًا لَايَتَحَرّٰى اِلَّا لِلشُّرْبِ

او که ډیر لوښو مردار وه نو تحری دی نه کوی مګر د چښلو د پاره» یعنی د او د اسه د پاره دې تحری نه کوی بلکه تیمم دی وکړي لکه» عادم الماء» د لیل د دی مسئلی دادی چی د اتول لوښی نجس دی» اعتبارًا للغالب» پس په نیز د اکثرو مشائخو» او به دی ټوله توی کړي چی عادم الماء وګرځي بیا دې تیمم وکړي. او په نیز د امام طحاویؒ دا ټولی او به دی سَره ګډی کړي کی حیوان په او به کاوه»

«وقال المصنفؒ»

وَفِي الثِّيَابِ الْمُخْتَلِطَةِ يَتَحَرّٰى سَوَاءٌ كَانَ اَكْثَرُهَا طَاهِرًا اَوْنَجِسًا

او که جامی سَره ګډي وی یعنی بعض مرداری او بعض پاکی او د سړي څخه د رك ورك سُوه نو تحري به کوي خواه اکثرو د غو جامو پاکی وی او که نجسی وی»، د دواړو وائي» چه وجه د فرق په مابین کی د اوبو او د جامو داری چې او به خلف او بدل لري چې تیمم دی او جامه بدل نه لري

مسئله: قال المصنف فی مَراقی الفلاح» که دیو سَړي دوی جامی وي یوه پاکه او بله مُرداره نو دی سړي چی تحري وَکړه یوه معینه جامه یه په خیال پاکه وَرَغله او هغه بله مُرداره نو په هغه پاکه جامه کی دده په عقیده لمونځ وَکړي»

په هغه وروسته چې د بل لمانځه وخت راغلی تحري یه بدله سَوه» یعنی هغه جامه چی ده د مخه پاکه ګنړلې او لمونځ یه په کښی وکړي په خیال یه مرداره ورغله. په هغه بله جامه کی لمونځ نه دی رَوا بلکه په هغه اوله جامه کښی بی کوی»، وَلی یوا جتهاد چې په عمل سَره ټینګ سو په بل اجتهاد سره نه ماتیږی»

وغرسګه چی مونږ جامه پاکه وګنړل په اجتهاد سَره د جهت څخه د ضرورت»، نو په بل اجتهاد سره نه مرداریږی» نو بناءً علیٰ هٰذا هر څو لمونځونه چې په اوله جامه کی کړی وی هغه صحیح دي. او هر څو لمونځونه چی په وروستنۍ جامه کښی کذا لی وی هغه فاسِد دی راګرځول یه لازم دي» او د دې مبحث تفصیل په مَراقی الفلاح او طحطاوی کښی مطالعه کَړه ص۲۷.

فَصْلٌ فِي مَسَائِلِ الْاٰبَارِ

فصل دی په بیان کښی د مسئلو د څاهانو»

نَزَحَ الْبِئْرُ الصَّغِيْرُ

راکښل کیږی د کشتنی څاه څخه» یعنی چې عشر فی عشر نه وی» پوهسه: چی څاخونه کښل کیږی بلکه او به راکښل کیږی نو دا مجاز دی چی ذکر سوی دی محل چی څاه دی مراد حُندی حال دی چې او به دی سبب د دې مجاز مبالغه ده د او بو په راکښلو کښی یعنی ټوله او به حُندی کاږی»ط

فائده: صاحب النهایه په شرح کی د هدایه داسی وَئیلی دی چې فقهاءؒ وَائي چې مسائل د څاهانو بناء دی پر متابعت د احادیثو مبارکه وُو. او قیاس په دې مسائلو کی کار نه لري» ولی که سړی وقیاس ته وګوري»، نو یو قیاس به دا حکم وَکړی چی څاچی مردار سو

بیا ابدی پاك نه سِی ، ولی هغه مرداری او بره په دیوالو او ختهو تَنَوتلی دی نو که تولی او
نا و کښل سی هغه په ختهو او دیوالو کښی هغه مُرداری او به پا ته دی، لکه یوعالِمِ بُغدادی
ودغه قیاس نه تګ کړی دی»

او بل قیاس داسی حکم ښکاره کړی چې د ځا او به حکم د جاری او بولری په هیڅ نجاست نه مردار
ولی دَځا ځځه چې غومره او به راخیژی، هغونه او به دلاندی دخوا د چینو ځځه ورسرا
نو ځا لکه حوض د حمام چې دیوی خوا نلکه ورته رابهیږی. او دبلی خوا غاسلان او به ځندی
اخلی نو هغه حوض هیڅ وخت نه مرداریږی» «قَالَ المُصنف»

بِوُقُوعِ نَجَاسَةٍ وَاِنْ قَلَّتْ مِنْ غَيْرِ الْاَرْوَاثِ كَقَطْرَةِ دَمٍ اَوْخَمْ

په لویدلو د نجاست یعنی په ځا کی که څه هم لږ نجاست وی غیر د خوشیو ځځه لکه یو ځاڅکی وینه یا شراب
په دی دَلیل چې لږ او بَه په لږ نجاست مرداریږی "م، دخوشیو او پو چو حکم به ژر راسی ان شاءالله

وَبِوُقُوعِ خِنْزِيْرٍ وَلَوْخَرَجَ حَيًّا وَلَمْ يُصِبْ فَمُهُ الْمَاءَ

او د غه رنګه دی تو له او به دځا ځندی کاږی په لویدو د سرکوزی که څه هم ژوندی راوځیږی. او خوله یې او به
نه وی رسیدَلی. ولی چې سرکوزی نجسُ العین دَی» «قَالَ المصنف»

وَبِمَوْتِ كَلْبٍ

او د غه رنګه دی او بَه تولی کاږی که سَپی په کښی مړ شو، وَاوره
دمَرګ قید یه په سَپی کښی وَوایه ددی سَببه چې سَپی نجسُ العین نه دی پر صحیح مذهب
مسئله: که سَپی وَځاته وَلویږی او ژوندی راوَخیژی او خوله یه واو بوته نه وی رسیدلی
هغه ځا پاك دی»، م، هدایه، رد،

اَوْشَاتٍ اَوْاٰدَمِيٍّ فِيْهَا

او یا پسه مړ سی په ځا کی او یا سړی مړ سی په ځا
یعنی تو له او بَه دځاه به کاږی . پوهسه: چې لفظ
شاة اسم جنس دی میږ او د میږی اولاد او بزه او د بُزی اولاد تول و ته وَائی . لکن مراد دَلته

ځه شاه چې غټو کی وی، که بیخی کچنی وو نو حکم یه حکم د پشی دَی» ط،
ځه شاه چې غټو کی وی ... پوهسه: چې سَړی په مرګ سَره دځاه مردار وَالی په سَبب دد بے دی چې یو وخت د زمزم
په ځاه کی حَبشی مړسو نو عبد الله ابن عباس رض او عبد الله بن الزبیر رض چې حضور د صحابه
وو کښی دافتوی وَرکړه چې د زمزم دځاه او بـه دی تو له راوایستل سی. او هیڅ صحابی انکار
نه ور وکړی»
او دی خبری راز دی چې غالب حال د میت دَادی چې د نجاست ځځه خالی نه وی. او که چیری دا
میت نظیف او پاك وو یقیناً یا په غلبه ظن سَره نو دځا ځځه هیڅ او به دِ نه راکاږی. او دا
روایت دَی دابی القاسم الصفار ځځه او قهستانی د محیط ځځه هم نقل کړی دی»
روایت وَالی: په دے مسئله کښی دیر تفصیل سَته وکتابو ته دِ نا واو د رجوع وکړه»

بِاِنْتِفَاخِ حَيَوَانٍ وَلَوْصَغِيْرًا

او دا غه رنګه دی تو لی او به راوکاږی. په پړسیدو
د حیوان په ځاه کی که څه هم هغه حیوان کشنی وی. یعنی لکه موږك یا غټ منګوړ وغیره»
پوهسه: چې مراد د حیوان ځځه هغه دی چې وینه لری، او حیوان د او بو حیوان نه دی قید و
فائده به یه ژر ښکاره سِی» اِنْ شَاءَ اللهُ تعالیٰ»
مسئله، که حیوان په ځاه کی وشو ړیدلی وو او یا یه وینستان توی سوی وَه. او یا د مرغه
... کی ختلی وی»، هم یَه تولی او به راوباسی» او هغه چې بعض وَائی د کچنی حیوان په
صورت کی دی لس سَولغی راکاږی قوی خبره نه دَه» ط- «قال المصنف»

وَمِاَتَا دَلْوٍ لَوْلَمْ يُمْكِنْ نَزْحُهَا

پوهسه سوه سَولغی دی راکاږی که چیری ممکنه رَاکښل دَتولو او بو نه وَه»
مسئله: ځاه هلته پاکیږی چې هَغه مردار شئ د مخه ځندی راوکاږی. وَلی چې نجس په کښی
چې لفظ ... داو بو کښل فائده نه لری» مګر هغه وخت چې مردار شئ یو لرګی یا یو توکر وی چې هَغه
مراد دَلته ... او بو کښو نکی یلاس نه ورتَلی او یا په او بو کی وَرَك شو، نو په دی صورت کښی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه مقدار پوره کړي او لرګي او تهوکر په تبع د څاه پاکیږي ط»

فائده حضرت الامام محمدؒ چې بغداد ته راغی او ښار کې د څاه هان کثیر الماء وَلیدَ ل . ولې چې نږدې ورود ته د دُجلی - نو یه فتویٰ په ۲۰۰ دوه سوه سولغو ورکړه» مګر په هدایه وغیره کښې وائي چې استحبابًا دی نښل سولغی نوری پر زیاتی کړي چې ۳۰۰ دري سوه سي

مسئله: معتبره هغه سولاغه ده چې پر د غه څا اکثره استعمالیږي

مسئله: که په راکښولو کی د سولغی څخه بعض او به توی سی پروا نه لري

فائده: په هدایه او نورو کتابو کی وائي که خلګو د هغه مردار څخه په لوی غټی سولغی سره اوبه راوکښلی چې د هغه څا تر سولاغه ډیره لویه وه روادی، حساب به وړو کوی مثلًا که هغی سولغی یا تیم دري سولغی د څاه ځایه ولې، نو چې نښل سولغی په غټه سولاغه راوکاږی څاه پاک سو»

مسئله: پر یوه ځای راکښل د ۳۰۰ دري سوه سولغو شرط نه دئ کی په نوی دري ورځو راوکاږی هم څاه پاکیږي، م صـ۲۹. بنهانه فائده: څاه هغه وخت پاکیږي چې اخیره سولاغه د څاه د خولی څخه راووزي په نیز د شیخینوؒ - او په نیز د امام محمدؒ هغه وخت پاکیږي چې اخیره سولاغه د څاه د اوبو څخه جلا سي»

مسئله: که د څا اوبه تر دوه سوه سولغی کمی وی او ټوله یه راوکښی نو څا پاک سو یقول الفقیرؒ چې مسئلی د څاهانو اکثره بناء پر مذهب د امام محمد دي»، ولې چې خلګو ته آسانی ده او وسوسه خلګو ته هم نه پیښیږی، او په کنز کی پر د غه مذهب یقین کړي دی، وَفی الملتقی ایضًا کذالکَ، وفی الخلاصة وعلیه الفتویٰ، وهو المختار کما فی الاختیار ورجحه فی النهر وتبعه الحموي»، اما په مراقی الفلاح کښی وائي چې دوه ځله داسی چې د نوی او بو او د زړو په فرق پوهیږي، هغو ته دی د څاه د اوبو کار وسپاري چې دوی وویله پاک دی نو پاک سو» او نور ورته مذهبونه هم سته چې په کتابو کښې د فقه شریفې ذکر کړه سوی ده، لکن د عاصي په عقیده هغه ټوله یا خولې نو تکلیف دی»، او یا سبب د وسوسی ګرځي. او مذهب د امام محمد صاحب ډیر سهل دی»، والله اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب:

وَلَوْمَاتَ فِيهَا دَجَاجَةٌ اَوْهِرَّةٌ اَوْ نَحْوُهِمَا

یعنې چه کچیرې مړه سوه په څاه کی چرګه یا چرګ او یا پیشی او یا په مثال د دوی یعنی په بدن کی لکه عتبه مثل خرما - لکن پړسیدلې به نه وي -

لَزِمَ نَزْحُ اَرْبَعِينَ دَلْوًا

لازم دی پرڅا والا راکښنګ د څلوېښتو سولغو لکن پس له راایستلو د هغو شیانو د څا څخه، فائده: د څلویښتو سولغو راکښل د ابو سعید الخدريؓ څخه روایت دی په چرګه کښی او استحبابًا دی لس سولغی نوري پر زیاتی کړي چې ۵۰ سي» م

وَاِنْ مَاتَ فِيهَا فَارَةٌ اَوْ نَحْوُهَا لَزِمَ نَزْعُ عِشْرِيْنَ دَلْوًا

او که مړ سو په څاه کښی موږک او یا مثل د هغه په صورت کی لکه چوغکه او یا ډرک او یا بل مثل لازم دی کښل د شلو سولغو، یعنی پس له اخراجه د هغه مړه شی او بل دا چې پړسیدلی به نه وي دا انسؓ څخه روایت دی چې که موږک په څاه کی مړ سي او سمدلاسه راوایستل سي شل سولغی به راکاږی»، او مستحبه ده چې لس دی نوري پر بالاکړي چې ۳۰ سي» «قال المصنفؒ»

وَكَانَ ذٰلِكَ طَهَارَةُ الْبِيرِ وَالدَّلْوِ وَالرِّشَاءِ وَيَدِ الْمُسْتَقِيْ

او دی د غه راکښلی او به پاکوالی د څا او د سولغی او د رسئ او د لاس د راکښونکی د اوبو، یعنی د غه رنګه د کالو د مستقی، فائده: دا روایت دی د امام ابو یوسفؒ او د الحسن بن زیادؒ ولې چې د دی شیانو نجاست د اوبو په نجاست سره دی»، نو پاک والی یه هم په پاکوالي د اوبو د جهت د دفع د حرج چې په دین محمدیؐ کی نسته»، م ط،

مسائل شتی

مـ۱ د امام ابو یوسفؒ څخه روایت دی چې د څلورو موږو کانو حکم دیوه موږک دی، او پنځه موږکان د پیشی په حکم کی دی بیا نو نسو پوري د شاه په حکم کی دی»، او امام محمدؒ وائي چې پنځه موږکان لکه پیشی دی

پہ حکم کی. او شپږ لکه سپی دی په حکم او دغه هم ظاهرُ الروایت دی،،م،، او هغه حیوان چې په بدن کې په مابین دموږ کې او پشې وی حکم یې دموږک دی،، او هغه حیوان چې په بدن کې په مابین کې د پشې او سپي وی حکم یې د پشې دی،، او که ښاته ولویدل پشو او موږ ک د واړه نو دواړه لکه یوه پشو یعني اقل په اکثر کې داخل دی. او په فتاوی خانیه کښې وائي چې پوستکې د انسان او یا غوښې دهغه چې ښاته ولویږی نو که په قدر د نوک وی او به مرداره وی،، او کم تر هغه چې وی او به نه مرداره وی،، او که چیږې نوک په خپله ښاته ولویدی ښاه نه دی مُردار،،

او بولې د پشې یا غُل ددی او بولې دموږک یا غُل دهغه نجس دی په اظهر روایاتو کې نو او به او کالې په مُرداریږی،، او بولې دی دچوېږک او غُول دهغه او به او کالې نه مرداره وی،، په دی سبب چې احتراز ځنې دی سخت دی، *انتهی قول الخانیه بنقل،، ط*.

او په شرنبلالیه کې وائي چې صحیح داده چې په بولو دموږک ښا نه مُرداریږی،،

وَلَاتَنْجِسُ الْبِئْرُ بِالْبَعْرِ وَالرَّوْثِ وَالْخُثْیِ

او نه مرداریږی ښا په پچو چې د پسو او اوښانو چکرته وائي، او نه په،، روث،، چې د آس او غاطر او خره چکرته وائي، او په،، خُثی،، چې دغوایو او ګامیښو چکرته وائي،،

تفصیل د دی مسئلی: پوهه سه: چې قیاس او عقل وائي چې دغه مذکوره شیان خو نجس دی او په لږ او یو کښې ولیده لو باید او به مرداری سی،، لکن استحسانًا موږ داوایو چې او به نه مرداریږی،، دهدایه په صـ۴۵/۴۲ کې وائي،، اِنَّ اٰبَارَ الْفَلَوَاتِ لَیْسَتْ لَهَا رُؤُسٌ حَاجِزَةٌ، چې ښاهان دصحرا نسته دوی لره سر پوښنه،، چې مانع د وقوع ځنه د پچو وغیره دی وګرځی،، وَالْمَوَاشِیُ تَبْعَرُ حَوْلَهَا فَتُقْلِبُهَا الرِّیْحُ فِیْهَا فَجُعِلَ الْقَلِیْلُ عَفْوًا لِلضَّرُوْرَةِ، او مواشی یعني پسونه او اوښان وغیره پچې کوی پر ښاو خوا دهغو ښاهانو او بیا دغه پوچې وښاهانوته وراچوی نو ځکه لږ دهغو پوچو عفوه دی د ضرورت له کبله،، انتهی،،

درویش وائي: چې د دی دلیل ځنه داسې فهمیږی چې دښاهانو دصحرا او دښار و فرق سته یعني دښار و ښاهان دِ باید مردار سی،،

ولې دښار و ښاهان خو با قاعده سرپوښونه لری،، او بل داچې په ښار و کښې مَواشی نسته نو دښار و په ښاهانو کې ضرورت نسته،، نو ځکه په فتح القدیر کې وائي چې دښار و ښاهان په لږ و پوچو هم مرداریږی،، لکن دمراقی الفلاح په صـ۳۰ کې وائي،، وَلَافَرْقَ بَیْنَ اٰبَارِ الْاَمْصَارِ وَالْفَلَوَاتِ،، او فرق نسته په مابین کې دښاهانو دښارو او بیابانو،، په صحیح روایت او دهدایه په صـ۴۲ کې او د مراقی په صـ۳۰ کې وائي چې وچ او لانده او روغ او مات د دغو شیانو فرق نسته په صحیح روایت کې،

او د امام سرخسیؒ وائي چې خوشایې مطلقًا او مات پوچې او به مرداره وی په ظاهر الروایت کې

مسئله: که میږ په دکې کې په وخت کې د لوشلو یوه یا دوی پوچې وکړی. پوچې دِ غورځوی او شیدې پاکې دی ودې خوړې،، ولې چې ضرورت دی چې دمیږی او بزی داعادت دی چې په وخت کې د لوشلو پوچې کوې،، هدایه صـ۴۲.

نکته: که غوا خوشایې وکړه په دکې کې شیدی دی نه چښنې چې ضرورت نسته لِعَدَمِ الْعَادَةِ،، مسئله، که په لوښي کې داوبو یوه یا دوی پوچې ولویږی هغه او به مرداری دی لعدم الضرورة،، هدایه،، ،، قال المصنفؒ،،

اِلَّا اَنْ یَسْتَکْثِرَهُ النَّاظِرُ اَوْ اَنْ لَّا یَخْلُوَ دَلْوٌ عَنْ بَعْرَةٍ

مګر هغه وخت عفوه نه دی که د کتونکی په خیال ډیرې ور تلې او یا هیڅ یوه سولاغه د پوچو ځنې خالي نه وه

پوهه سه: چې بعض علماءؒ وائي چې دری پوچې په ډیرو کښې حساب دی،، او بعض فقهاءؒ وائي چې که پوچو مخ داوبو پټ کړې وه،، نو هغه ډیرې دی،، او د حضرت الامام الاعظمؒ مختار روایت دی چې کثیر هغه دی چې مبتلا به یې ډیرې وبولی، قال الشرنبلالیؒ وعلیه الاعتماد،،

کتبهٗ احقر العباد ... ل الحق بقلمه - ونشر من مکتبة القراءت والتجوید،،

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَا يُفْسِدُ الْمَاءَ بِخُرْءِ حَمَامٍ وَعُصْفُورٍ

اوبه فاسدیږی یعنی نهمرداریږی اوبه په غولوډ کوترې اویا چڼوکی، اودغه رنګه دي، دِرِك، توتکی، تارو، کرك، سورسری. اونورهغه مرغان چې غوښې یې خوړل کیږی ماسوا دچرګی اوایلۍ، طحطاویؒ وائي چې داول زماني څخه د اسلام اوبیا وروسته ترهغه زمانې علماوو اتفاق کړی دی» پرجواز د ساتلو د کوترو په مساجدو کښې حتی په مسجد الحرام اومسجدِ نبوی ﷺ کی ٥ اوسره د دې چې شرع شریفې امر کړی دی په پاك ساتلو د مساجدو د مرداری څخه نو دا ظاهره ده چې خرء الحمام پاك دی؛

اوپه حدیث کی د ابن مسعودؓ راغلی چې کوترې پرده غول وکړه ده په ګوته سره ایسته کړه اوورته حدیث د عبدالله بن عمرؓ څخه هم روایت سوی دی» وَفي المَرَاقي چې مختاره په دیرو کتابو کښی د مذهب حنفي پاك والی د خرء الحمام دی»

مسئله: په غولو کی د هغه مرغانو چې غوښې سنه خوړل کیږی یعنی مرداری وی لکه تپوس، کارګه، شیون، وغیره اختلاف دی» قَالَ فِي الخانيةِ، چې غول د هغو مرغانو چې غوښې سنه خوړل کیږی» اوبه نه فاسده وی» في ظاهر الروایة عند محمدؒ ولی د هغو څخه ځان، اولوښی، اوځاهان، ساتل مشکل دی» ولې چې د غه مرغان په هوا کی غل کوي» اوبیا خانیه والا وائي» چې غول د هغو مرغانو چې د ، نده وی لکه بان، ځرمك وغیره که پر کالو د چا ولویږی کالی مرداریږی که دیروه . او د لوښو اوبه مرداره وی. اوځا اوبه نه پر مرداریږی» انتهی»

تنبیه ضروری

په نهایه کښی چې د هدایه شرحه ده داسی وائي: چې یو شئ چې د فساد وحالت ته ورسیږي دا نه واجبوی چې هغه شی دی مردار سی، مثلاً تو له مطعومات په سبب د ډیر د رنګ نه فاسدیږی. او مردار نه دی،» د فساد نتیجه یه داده چې خوړل یه حرام دی په دغه حالت کی ولی چې بد نته ضرر دی نه د نجاست د سببه ؛

مثلاً غوښې چې ډیرې بد بویه سی خوړل یه حرام او مرداره دی یعنی که د سړی سره د لاندې په حالت کی ورسره وی لمونځ ورسره وائي - اوکه ځاته ولویږی نحاه نه پر مرداریږی» په تذکره کی د حکیم داؤد داسی وائي چې فسیخ چې په مصر کښی مشهور دی چې هغه د ماهی غوښې وچې کړي،اوبیا یه خوري» یا په کټوکی اویا په غوړو کښی خوړل یه حرام دی په سبب د دې چې د ،، طبي لاري» د غه غوښې سُدې په معده کی پید اکوي» اوبا قولنج هم د دغو غوښو څخه پید اکیږی»

اوپه ګردو کی ډیرې ځندې پید اکیږی» او ګچې بلغم ځندې زیږی» اوپه پسرلی کی وبائي تبې ځندې پید اکیږی» اود سل مرض هم د دغو غوښو څخه پید اکیږی - او د دې سره سره، مرداری نه دي ه

فائده: وچې کړي غوښې که څه هم بد بویه نه وی» هغه ضرر منی د غوښو دی وبد نته دسړي مګر هغه کسانو ته تاوان نه رسوي» چې د بیلچې، یا د یوم،یا ګلنګ کار ونه کوي یعنی خواري کښ وی» لکه باغبانان، بزګران، روزانه والا مزدوران، لکن بعض طالبان طبعًا یه بوی ناکه غوښې خوښې وی» لکه زما یو طالب علم دی چې نوم یه ساقي محمد دی اوپه قوم الکوزئ دی او د خاکریز د علاقې دی د ده دا بوی ناکه غوښې تر بې بویه غوښو خوښې دی. نوما نن ورته وویل چې دا ډیرې بوی ناکه غوښې مه خوره چې د دی خوړل کتابي حرام دی،، نو ده اجازه راکړه چې زما نوم شائع کړه ه ،، قَالَ المصنفؒ»

وَلَا بِمَوْتِ مَا لَادَمَ لَهُ فِيْهِ كَسَمَكٍ وَضِفْدَعٍ

اونه مرداریږی اوبه بمکه بل شی چې بهیدونکی وی لکه سرکه براصح روایت» په مرګ سره د هغه حیوان چې د ده لره وینه نه وی یعنی بهیدونکی وینه لکه ماهی اوچونګښه»، د مسائل قید مراقی الفلاح د ری دپاره راوړی دی چې مطلق وینه خوهر حیوان لري» قَوْلُهُ فيه» یعنی په اوبو کښی»

پوهسه: چې دا قید چې په اوبو کی اتفاقی دی» ولی که د غه حیوان د با نده مړ سي اواوبو ته واچول سی. هم او به نه مرداره وی» طم۳۱ -

فائده: چنګښه که څه هم مصنف مطلق ویلې ده لکن دی په شرح کښې وائي چې مراد بحري چنګښه ده، ولې چې بري یعنې صحرائي چنګښه اوبه مرداره وي کې بهیدلې وینه د لوده، فرق د بري او د بحري چنګښې دا دی، چې د بري چنګښې ګوتو په مابین کې پرده نشته او بحري پرده لري» «قال المصنفؒ»

وَحَیَوَانُ الْمَاءِ

اونه مرداریږي اوبه په مرګ د حیوان الماء لکه چنګابښ، او د اوبو سپۍ سرکوزي» م فائده: فرق په مابین کښې د بري او بحري حیوان دا دی چې بحري حیوان بیله اوبو ژوند نسي کولای» او بري هغه دي چې بیله صحرا یعنې په اوبو کښې ژوند نسي کولای» د اول مثال لکه ماهي، د اوبو سپۍ، وغیره او د دوهم مثال لکه شرمښکي وغیره. او په داسې حیوان کښې چې په بر او بحر دواړو کښې ژوند کولای سي لکه بحري چنګښه، اختلاف دی، قاضیخان" په شرح کښې د جامع صغیر وائي: چې فاسده وي» او په مجتبیٰ کې وائي چې نه فاسده وي» ط » قال المصنفؒ

وَبَقٍّ وَذُبَابٍ وَزُنْبُورٍ وَعَقْرَبٍ

او به نه مرداروي» مرګ د غتې غوماشې» یا د مچ، یا د غالبوزي، یا د لړم» غالبوزه خوقسمه ده» زیړه غالبوزه، تېنده غالبوزه» مچمچي» او لړمان هم رقم، رقم دي. خو په یوه رقم یې اوبه نه مرداریږي. یوه سه: چې په نیز د حکما و لړم تول نوع یه راېنډي» او ط » وائي چې د لړم سترګي یې د شاه په مابین کښې دي» وَاللهُ اَعْلَمُ

او لړم چې سرې ونبوري نې وهي که بیده وي او که ویښ.

د لړم څخه ساتنه: ابوهریرهؓ د نبي علیه الصلوٰة والسلام څخه روایت کړی دی» که چا علی الصباح د غه کلمات و ویلې لړم به تر ماښام کار نه په وکړي»، او که چا د غه کلمې ماښام وویلې تر سحاره به د لړم د شره څخه محفوظ وي» یعنې» اَعُوْذُ بِکَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ۳ درې واره:

اوډ مچ په باره کې: په یوه اوږده حدیث کې د آنحضرت م څخه روایت دی، که چیرې ولویږي مچ په اوبو کښې د یوه ستاسي نو دا مچ دې په اوبو کښې غوټه کړي او بیا دې څنډې وکاږي الحدیث رواه البخاري»

وجه د لالت: د دې حدیث پر پاکوالي د هغو اوبو چې مچ پکښې مړ سي دا ده، که چیرې اوبه په مرګ د مچ مردار یدای نو آنحضرت م ولې امر د غوټه کولو ورکاوه او سو د دی چې په غوټه کولو سره خو مچ مړکیږي، نو خو اوبه ضائع کیږي، او شارع م په دې سره امر نه کوي» او په بل حدیث کښې چې مراقي یه نقل کړي دي دا سې را غلي دي» چې آنحضرت م و سلمان ته وویل یا سلمان هر خوړک او څښک ته یا او بو ته چې و لویږي دابه چې وینه لري او په کښې مړ سي. نو د غه طعام خوړل حلال دي. او د اوبو څښل یا او د س په تازه کول هم روا دي. په تعمیم کې مچ هم داخل سو. » قال المصنفؒ»

وَلَا بِوُقُوْعِ اٰدَمِيٍّ وَمَا یُوْکَلُ لَحْمُهٗ

او نه مرداریږي څاه په لویدو سره د انسان که څه جنب وي او یا کافر وي او یا حائضه یا نفساء څخه وي چې د نې قطع سوي وي»، او نه مرداریږي څاه په لویدو سره د هغه حیوان چې غوښې یه خوړل کیږي» لکه پسه، بزه، وغیره

اِذَا اُخْرِجَ حَیًّا وَلَمْ یَکُنْ عَلیٰ بَدَنِهٖ نَجَاسَةٌ

چې راوایستل سي د څاه څخه د غه شیان ژوندي او پر بدن باندې نجاست حقیقي نه وي»

یوه سه: چې مراد دا دی چې یقیني نجاست نه وي په احتمال د نجاست یا نجاست حکمي لکه بې او د سیا او جنابت څاه نه مرداریږي» مـ »

مسئله: که د چرګي ترکونه اګۍ راووتل او به اوبو کښې ولویدل. او یا د میږي د رحمه څخه وري راووتی او لوېدل هم وو» سمدلاسه په اوبو کښې ولویدي اوبه نه مرداریږي» تر هغو چې یقینًا دا نه وي معلومه چې د اګۍ یا د وري پر صورت نجاست سته» ولې چې رطوبت د مخرج خو مردار نه دی»

Maktaba Tul Ishaat.com

اوبعض فقهاءؒ دمخرج رطوبت مردار بولی ۔ ولی چې دمردار ځای ځخر راوتلی دې،، اول قیاس دمذهب دامام اعظمؒ دی،، اوهغه ته قاضیخان تللی دی،، اودوهم قیاس دمذهب دیا رانوؒ دی اودوی مذهب ته صاحب خلاصه تللی دی،، ط ص۳۲ وراضح علی بارکام درویش وائی چې ظاهر الحال تا ئید دمذهب دیارانوکوي.

وَلَا بِوُقُوعِ بَغْلٍ وَحِمَارٍ وَسِبَاعِ طَيْرٍ وَوَحْشٍ فِي الصَّحِيحِ

اونه مرداریږی څاه په لویدو دَ غاطر اوخره، اود رنده ګانو دمرغانو اود وقوع دوحشیانو په صحیح روایت کې،، لکن دامسئله هلته ده چې دغه حیوانان ژوندی ځندی راوخیژی،، اوطحطاویؒ وائی چې اوبه مشکوکې هم نه ګرځی،، ولی چې بدنونه دغوحیواناتو خوپاك دی ولی چې دوی زموږ د استعمال دپاره خدائ پید اکړی دی،، اونجاست ددوی دمړینې په سبب دی،، اومصنفؒ چې صحیح ووَیله احتراز یې وکړی دقول ځخر دهغه چا چې وائی چې څاه ټوله مردارسوی پولي اوبه بهځندی کاږی،، ولی چې ددوی رطوبت دناړو ددی حکم لری،

"قـــالَ الـمـصـنـفؒ"

وَاِنْ وَصَلَ لُعَابُ الْوَاقِعِ اِلَى الْمَاءِ اَخَذَ حُكْمَهُ

اوکه ورسیږی ناړی دهغه حیوان چې ذکرسو یعنی چې په څاکی ولویدی واوبوته دغاه،، نوټولو بوته دڅاه حکم دناړو دهغه حیوان اَخلی، یعنی کی ناړی نجسی وی اوبه نجسی ګرځی۔ اوکی ناړی پاکی وی اوبه پاکی دی،، اوکی ناړی مکروه وی نو اوبه مکروه ګرځی،، په فصل الاسارکی ذکرتیرسو،، نوبه صورت دنجاست دسُور اویا دمشکوك والي د سُورټوله اوبه بهوجوبًا ځندی کاږی،، که ممکن وه، اوکه یه امکان نه وو، نو ۲۰ دوه سوه سولغی وجوبًا او ۳۰۰ دری سوه سولغی استحبابًا،، اومستحبه ده چې دکراهت په صورت کی دی یوڅو سولانې تکه چې سوره یه پاك وی اوبعض عُلماء وائی چې ۲۰ سولغی ځندی کاږی کلا مسئله: خوله دهرحیوان تکه ناړی دهغه حیوان دی نو او به هم هغه حکم لری،، ط

وَوُجُودُ حَيَوَانٍ مَيِّتٍ يُنَجِّسُهَا مِنْ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ

عند الامامؒ احتیاطًا "

ترجمه: اووجود دمړحیوان په څاه کی مرداروی څاه دیوې ورځې اوشپې دمخه. یعنی داحکم هغه وخت دی چې پړسیدلی یا شوړیدلی نه وی۔

وَمُنْتَفِخٍ مِنْ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ وَلَيَالِيْهَا اِنْ لَمْ يُعْلَمْ وَقْتُ وُقُوعِهِ

اوکه پړسیدلی وونود ۳ دروشوارو روزو ځخر څاه مردار ګڼل کیږی. ولی چه پړسیدل د حیوان دلیل ددی خبری دی چې دوختنه ور لویدلی دی. اودادواړه حکم هلته دی چې وخت دوقوع یې معلوم نه وی،، داقید ددی دپاره مصنفؒ ووایه ولی کی وخت دوقوع معلوم ویقینًا یا په غالب ظن سره بیا خوهیڅ اشکال نسته بلکه هغه وخت ته اعتبار دی،، وَفی المَراقی ص۳۲ نوخلك به راوګرځوی لمونځونه دهغی مُدی لیعنی یوشوارو روز، یا دری ۳ شوارو روزه،، که چیری دوی اودس په تازه کړی وو په اوبو د هغه څاه، دبی اودسیا په حالت کی یا غسل دجنابت کړی وو دهغه څاه په اوبو،، اوکی مرداری جامی په پریولی وی هغه به هم پری مینځی۔ اوکه دوی اودس درلودی۔ اویائې جامی پاکی وی بیا دهغه څاه په اوبو اودس تازه کړي اویا جامی یې پریولی بیا راګرځول د لمونځونو په اتفاق سره۔

مسئله: که دوی نجسی جامی په پریولی وی۔ او اودس یې نه وو په تازه کړی نو پردوی یوازی پریولل دجامو لازم دی. راګرځول دلمنځونو نسته بلکی۔

ولی چه د اداسی مسئله سوه لکه یوسړي چې په جامه کی نجاست وویني او وخت د اضابت دنجس نه وی ورمعلوم۔ دهیڅ لمانځو قضا پری نسته ۔ عاصی وائی چه داټوله مذهب د امام اعظمؒ دی۔ اوپه نیز دامام ابویوسفؒ اوامام محمدؒ،، نجاست دڅاه دوخت ځخر دعلم حساب ګڼل کیږی. اوراګرځول دهیڅ لمانځو ورباندی نسته۔ اونه ورباندی پریول دهغوجامو سته چې ددغه څاه په اوبو پریولی وي۔

مسئله: پرمذهب دامام اعظمؒ کی دهغه څاه په اوبو اوره اخښلی وه ۔ هغه اوره

اخـبـلي وه. هغه اوبه دی سپوته واچوي. یا دی په حیوانا تو وخوري. او یا دی پرشافو
مذهب خرخ کړي. ولې هغوی په مذهب کی هغه ځاچی دوه ژبه او به په کښی وی پروقوع
دَ هیڅ نجاست په مردلو نه بولي. او هغه خبره چی په پښتو کی مشهوره ده چی مسکینانو
یا طالبانو ته دی ورکی غلطه خبره دَه»
ولې چی د مردارشي خوړلے وَهغه مسکین ته روادی چی په حالت کښی د مخمصه وي
چی د لوږی ځخه مري. او داسی ورته ی په اوسنی زمانه کښی ډیر نادر دَی.

خبره تر خبري. که یو سړي پرخپل پرتاګه منی ولیدل او وخت یې نه و معلوم
حکم یه دادی چی د هغه اخیره ، خوب ځخه چی دی بیده سوی وو، جنابت د ده حساب ول کړي
قوله فیلزمه اعادة آه د دی مسئلی دَلیل دادی. چی مانع د لمانځه خو بالیقین ثابت دی چی
بی او د سیاده. یا نجاست د جامی دی او شک یې په مُزیل کښو دی چی د ځا ه او به دي
چی حیوان مې په کښی وُو. او یا په سیدلی په کښی وُو او یقین په شك نه زائلیږی ط.
قَالَ المصنفؒ:

فَصْلٌ فِی الْاِسْتِنْجَاءِ

فصل دی په بیان د استنجاء کښی.

فائده: د نور الایضاح مصنفؒ ډیر ښه ترتیب کړي دی یعنی چی فصل د استنجا
یې د او داسې دَ مخه راوړی. ولې چی په اصل کی استنجاء تر اوداسه د مخه دَه. بخلاف صاحب
القدوریؒ ولې چی هغه اودس ذکر کړي دَی. او بیائې نواقض الوضوءِ ذکر کړي دی. او بیائی
فصل د غسل ذکر کړي او بیا یې باب د اوبو چی اودس پرې روادی که نه» او بیا یې فصل
د احکامو د ځا ذکر کړي دی. او بیا یې باب التیمم ذکر کړي دَیُ. او بیا یې د مسح د موزو ذکر
کړي دی. او بیا یې باب الحیض والاستحاضة راوړی. او بیا یې فصل د مستحاضه په باره
کښی. او بیا یې فصل دَ نفاس دَ بیان دَ پاره، او بیا باب الانجاس دیُ.

 قَالَ المُصَنِّفُ

يَلْزِمُ الرَّجُلَ الْاِسْتِبْرَاءُ حَتّٰى يَزُوْلَ اَثَرُ الْبَوْلِ وَ
لازم ده په سړی باندی. طلب د خلاص والی دَ بولو ځخه تر هغو چی ختم کیږی اثر د بولو

يَطْمَئِنَّ قَلْبُهٗ عَلٰى عَادَتِهٖ — **حَسَب** — چی لند والی د ذکر د سر دی.
او د ده زړه ته اطمنان حاصلیږی چی
بولی اوس نو خلاصی سوی. او دا استبراء دَ سړي په عادت پوری اړه لري چی

اِمَّا بِالْمَشْيِ اَوِ التَّنَحْنُحِ اَوِ الْاِضْطِجَاعِ اَوْ غَيْرِهٖ
یا به ځو ګامه واخلی، او یا دی غاړی تازه کړي، او یا دی پر بغل باندی پریوزی او یا
غیر دَ دغو کارو ځخه. لکه د ذکر سر دی کرار کښی کاږی.

فوائد المتن: (۱) مصنفؒ نر ذکر کړي ولې چی دَ ښځی ځای دَ بولو فراخ دی. او د نر دا
تنګ دی نو ښځه دی صرف یو ګړی صبر وکړي او بیا دی استنجاء وَوَهی.
(۲) او مصنفؒ يَلْزَمُ ووایه يَجِبُ یې نه وَوَایه د دی سببه چی لزوم تر وجوب قوي دی
ولې د لازم په ترک سره د کار صحت نیستی کیږی. نه په فوت کیدو سره د واجب» نو ځکه
ترک د استبراء د ګناه کبائرو ځخه دی. په یو اوږده حدیث کی چی روایت یې امام بخاریؒ
او نورو کړي دی» داسی راغلی دی چی رسول اللهﷺ صلی الله علیه وسلم د دوو قبرو په خوا کښی
تیریدی» نو ملګرو صحابهؓ ته یې داسی وفرمائیله. چی د غه دوه قبر والا په عذاب دی چی د یو
ځخه د خپلو بولو ځخه ځان نه ساتی او دی بل شیطانت کاوه. او دا خو معلومه خبره ده چی سړي
خپله جامه په قصد بولی نه کوی نو دا ظاهره سوه چی د غه صاحب قبر استبراء د بولو ځخه
کول» (۳) استنجاء یَللغته ختمول دی د نجاست د مخ د خوا ځخه یا د ښاه د خوا ځخه په
اوبو. او یا یې زوَل دی په لوټو وغیره.م - د» نجو» معنیٰ هغه شئ دی چی د نس ځخه
راووزی یعنی یا غُل یا بولي. او انهریؒ وایُ چی» نجو» وقطع ته وَائی.

Maktaba Tul Ishaat.com

(٢) په مقدمه غزنويه كښې وائي، چې استنجاء استعمال دى د ډبرې يا لوټې يا اوبو، په
هغه خاص ځاى كې» او «اِستبراء» طلب د پاكۍ د بولودا ترڅو دې په يقين يا په توخې
يا په منبولو د ذكر وغيره كما مر» او «استنقاء» بنه تره پاكى ته وائي په لوټو او يا اوبو
حتى چې بد بوئې هم ورك سي»

مسئله: كه يو چا استنجاء په اوبو ووهله او ورسته يې كښې په لړو اوبو
كې كښېښوَله اوبه نه مرداريږي. او كه استنجاء په لوټو ووهله او بيا يې كښې په
اوبو كې كښېښوَل هغه اوبه مرداري دي. ولې چې د لوټو په استنجاء سره يكلخته نجاست
د ما بين څخه نه ځي. ط، قوله حتى يزول اثر البول» د بولود اثر زائلو طريقه داده چې لوټه
وذكرته وښيي چې نه لنديږي»   قال المصنف»

وَلَا يَجُوْزُ لَهُ الشُّرُوْعُ فِي الْوُضُوْءِ حَتّٰى يَطْمَئِنَّ بِزَوَالِ رَشْحِ الْبَوْلِ

او نه ده صحيح سړي ته شروع په اودسه سره څو چې اطمنان او يقين ورته حاصل نه وي په
زائليدو د لند والى د بولو»   قال المصنف

وَالْاِسْتِنْجَاءُ سُنَّةٌ مِنْ نَجَسٍ يَخْرُجُ مِنَ السَّبِيْلَيْنِ مَالَمْ يَتَجَاوَزِ الْمَخْرَجَ

او استنجاء سنت ده، بلكه دا قوي د سننو څخه دا دا ده كافى ط، د هغه نجس څخه چې راووزي» په دې لفظ
كې اشاره ده ودې ته چې كه څوك پُسكى واچوي استنجاء فسته باندى» بلكه بدعت ده»
ولې چې پُسكى پاكه ده، دليل په دا دى چې كه څوك پرلا نده پرتا كه پُسكى ولېږي
پرتوك يې نه مرداريږي كذا فى العينى شرح البخاري»
ترجمه: چې راووزي هغه نجس د يوه څخه د دوولا رو د نريا ښځې چې د شا خوا او د
خوا ده، تر هغو چې دا او تو تر ځاى نجس تيرسوى نه وى، قال في المراقي، چې استنجاء
د مخ د خوا او د شا د خوا سنت مؤكد دى د نر او د ښځې د پاره، ولې چې اكثراً رسول

الله صلى الله عليه وسلم استنجاء وهله، او واجب نه ده چې آنحضرت ص په بعضو اوقاتو
كې پرې اينبى ده» او صاحبُ السراج وائي چې استنجاء پنځه قسمه ده»
(١) فرض ده د حيض څخه (٢)، د نفاس څخه (٣)، د جنابت څخه (٤)، او هغه وخت چې نجاست
تر مخرج تيرسوى وي. او دا تجاوز تر قدر د درهم بالاوي. (٥)، سُنت ده كه نجاست
تر مخرج تير نه وو» كذا ذكره السيد»

پوهسه: چې دا قيد چې د نجس د سبيلينو څخه راووزي بنا پر غالب دى» ولې
كه سړي د بل پر لندو غُولو كښې كښېنيږدى د استنجاء حكم هغه دى لكه د سړي د ځپلو غولو.

قال المصنف

وَاِنْ تَجَاوَزَ وَكَانَ قَدْرَ الدِّرْهَمِ وَجَبَ اِزَالَتُهُ بِالْمَاءِ

او كه چيرې تيرسوى وو هغه خارج تر مخرج» او دا تيرسوى نجاست په قدر د درهم وو نو واجبه سنت

وَاِنْ زَادَ عَلَى الدِّرْهَمِ اِفْتَرَضَ غَسْلُهُ

زائلول د هغه نجا
په اوبو يا په بل بهيدونكي شى لكه سركه» او كه هغه خارج زيات وو تر قدر د درهم نو بيا فرض
دى پريولېيه په اوبو سره.

پوهسه: چې نجس چې په قدر د درهم او يا بالاتر
هغه وي د دى وزائلولو ته استنجاء نه وائي بلكه دى ته اِزَالَةُ النجاسَت وائي او دا
معلومه خبره ده چې ازالة النجاست په مسح د لوټو نه كيږى بلكه پريولو غواړي»

اِختلاف: په نيزد امام اعظمؒ او امام ابو يوسفؒ اعتبار د قدر د درهم نجاست
د هغه نجاست لره دى چې د كُنى تر خوله تير وى» يعنى د كُنى
خوله نه ده په كښې حساب» او امام محمدؒ وائي چې د كُنى خوله هم ورسره حساب ده»

اختلاف: بعض فقهاءؒ وائي چې قدر د درهم په اعتبار د وزن دى چې
هغه يو مثقال دى. او بعض عُلماء بيا وائي چې په اعتبار د مساحت دى چې اندازه يې
يو ورغوى كيږى. فقيه ابو جعفر الطحاويؒ جمع د دى دوو قولو داسي كړيده.
«چې كه نجس جسد در لودى» لكه غوټل نو اعتبار وزن لره دى، او كه نجس مائع وو لكه

بولی نو اعتبار مساحت لره دی. او دا جمع کول مُصنفؒ په مَراقی الفلاح کښې هم تائید کړی دَه۔ او په اول اختلاف کی فتویٰ پر قول د شیخینو دَه. کما فی التبیین وصحح فی المضمرات» قَال المصنفؒ

وَيُفۡتَرَضُ غَسۡلُ مَا فِي الۡمَخۡرَجِ عِنۡدَ الۡاِغۡتِسَالِ مِنَ الۡجَنَابَة

او فرض دی پریوله د غولو د کُنې یعنی په ماء مُطلقو سره» په نیږدِ غُسل د جنابت یا حیض

وَالۡحَيۡضِ وَالنِّفَاسِ وَاِنۡ كَانَ مَا فِي الۡمَخۡرَجِ قَلِيۡلًا

یا نفاس» که څه هم ما فی المخرج لږ وی»، په مَراقی کی وَائی د دی دَ پاره چی ساقط سی فرضیت دَ غسل د هغه د ذمی څخه» د دی عبارت څخه دا معلومه سوله چی پر جنب که نروی او که ښځه. او پر حائضه ښځی چی دَ حیض څخه خلاصه سی او پر لنګی ښځی چی د نفاس څخه ووزی غُسل فرض دی. که څه هم پر بدن هیڅ نجس نه وی.

سَوال: فقهاء حَضراتؒ استنجاء پَه سُنتو کی د غُسل راوړی او مصنفؒ وائی چی فرض دَه **جواب:** سنت د مخه کول دا استنجا دی پر نور غُسل نه نفس استنجاء ط

قَالَ المصنف وَيُسَنُّ اَنۡ يَّسۡتَنۡجِيَ بِحَجَرٍ مُنۡقٍ وَنَحۡوِهٖ

او سنت ده استنجاء پَه دَبره چی پاکوونکی وی او یا نحوه دَ هغه لکه پَاکه لوټه.

پوه سَه: چی استنجاء پَه خوار و هم روا ده. او پَه زاړه پاك ټکره هم روا ده او هم په زاړه پوستکی او کی پچپله پَه دیوال پوری کُنه و موښول هم روا ده۔ او یا په مځکه پوری په کُنه و مَښل هم روا دی. او په زینه د بره چی کُنه خوږوی استنجاء مکروه ده. او د غه رنګه پَه کاغذ باندی که څه هم شی نه وی پر نوشته استنجاء وَهَل مکروه دَه۔ لکن مراد هغه کاغذ دی چی قابل د نوشتو وی»، نو پَه هغه ټوټی چی نن صبا خلک استنجاء پَه وچ (ټیښو پیپر TUSH UPPAR) پَه هغه مکروه نه دَه»، ولی چی هغه قابل د نوشتی نه دی

او هدا رنګه استنجاء مکروه ده په هغه ټکره چی قیمت لری، او د غه رنګه استنجاء مکروه ده په بیخی ښوی دبره ولی چی پاکول د نجاست نسی کولای» قَالَ المصنفؒ

وَالۡغَسۡلُ بِالۡمَآءِ اَحَبُّ

او استنجاء وهل په اوبو ډیر ښه دی. یعنی تر ډبو زیات لوټو۔ ولی چی پَه اوبو سره طهارت بالیقین راځی او سنت پر کامله وجه ادا کیږی. او لُټه خو صرف نجاست لږ وی. ترمذیؒ د بی بی عائشہؓ څخه روایت کړی دی چی هغیؓ نورو ښځوته داسی وویله چی امر کړی خپل مړونه چی دوی دی استنجاء پَه اوبو وهی چی زه ځندی شرمیږم. ولی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم استنجاء په اوبو وهله۔ **بَدگمانی:** د بعض عوامو دا خیال دی چی یوازی پَه اوبو استنجاء مکروه او بَد کار دی. دا ګمان د دوی غلط دی.

وَالۡجَمۡعُ بَيۡنَ الۡحَجَرِ وَالۡمَآءِ اَفۡضَلُ فَيَمۡسَحُ ثُمَّ يَغۡسِلُ

او جمع په ما بَین د لوټو او د اوبو افضل کار دی نو اول دِ مسح د استنجاء دَ ځای په لوټو وکړی او بیا دی هغه ځای پری مینځی۔ پَه مَراقی الفلاح کی وَائی چی دا جمع په هره زمانه کښی افضل ده یعنی پَه زمانه کی دا صحابوؓ هم دا کار افضل دی. او په طحطاوی کی وَائی چی دا جمع سنت ده زموږ پَه زمانه کی۔ او په زمانه اول کی دا جمع صرف ادب دی ولی چی د هغو زمانی خلکو لکه پوچی داسی چکر واهه»

په روایت کی د ابن عباسؓ داسی راغلی چی دا اٰیت مبارك» فِيۡهِ رِجَالٌ يُّحِبُّوۡنَ اَنۡ يَّتَطَهَّرُوۡا» یعنی په قبا کی داسی خلك دی چی دوی خوښ لری چی په ښه وَجه پاکی وکړی۔ نو آنحضرتؐ د اهل قباء څخه پوښتنه وکړه چی خدای پاك پر تاسی ثنا وئیلی ده په باره کی د طهارت نو ستاسی طهارت څرنګه دی. دوی ورته وویله، چی اول استنجاء په لوټو وهو او بیا په اوبو آنحضرتؐ ورته وویله چی هم د غه کار سَبب د صفت د پر ورد ګار دی»، رواه ابن ماجه

اَللّٰهُمَّ اغۡفِرۡ لِمُؤَلِّفِهٖ وَلِكَاتِبِهٖ وَلِوَالِدَيۡهِمَا اٰمِيۡن۔

Maktaba Tul Ishaat.com

وَيَجُوزُ اَنْ يَقْتَصِرَ عَلَى الْمَاءِ اَوِ الْحَجَرِ

اوروادی یوازی اکتفاء په اوبو سره او یا په ډبره سره. **پوه سه**: چې اول افضل خو جمع داوبو او لوټو ده، دوهم لمبر یوازی اوبه، دریم یوازی لوټي. خو سنت په دواړو سره پر ځای کیږی که څه هم په فضیلت کی فرق سره لری. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَالسُّنَّةُ اِنْقَاءُ الْمَحَلِّ وَالْعَدَدُ فِي الْاَحْجَارِ مَنْدُوبٌ وَلَا سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ

اوسنت په استنجاء وهلو کښی پاکول د ځای د استنجاء دی او عدد په ډبرو کښی چې دری بروی مستحب دی او سنت مؤکد نه دی. **فائده**: اصل مقصود د استنجاء څخه پاک کول د ځای دی که په درو ډبرو یا په درو واړه پریو لوسره حاصل نسی نو تر دری واره دی بالا کوی په اتفاق سره. او که په یوه لوټه ځای پاک سو نو سری بالا بود پری و نه کړي رواخو ده لکن خلاف افضل دی. قَالَ الْمُصَنِّفُ.

فَيَسْتَنْجِي بِثَلَاثَةِ اَحْجَارٍ نَدْبًا اِنْ حَصَلَ التَّنْظِيفُ بِمَا دُونَهَا

نو استنجاء دی وهي په درو ډبرو از روی مستحب والی کړچیری حاصل سو پاکوالی ځای په کم سره تر درو ډبرو. **پوه سه**: چې مصنفؒ چې کیفیت د استنجاء بیان کړی دهغه په باره کښی شیخ کمال الدین ابن الهمامؒ په فتح القدیر کښی په دی ځای کی د عبارت د هدایه، لِاَنَّ الْمَقْصُوْدَ هُوَ الْاِنْقَاءُ آه داسی وائی: چې دا عبارت داسی فائده کوی، چې حاجت و هغه کیفیت ته چې په کتابو د فقهی شریفی ذکر سوی چې: اقبال او ادبار لکه چې وروسته د ستی به راسی حاجت نسته. او په مجتبیٰ کی وائی چې مقصود په استنجاء کښی وائی چې مقصود په استنجاء کی خو انقاء پاک کول دی. نو هغه طریقه دی سړي مختاره کړي چې ډیر په کښه په غولو فسی، او امام سرخسیؒ چې هیڅ کیفیت استنجاء لره نسته. او قصد انقاء ده، کما فی السراج او ابن امیر الحاجؒ چې

دغه خبره ډیره ښه خبره ده، ط، رد»

وَكَيْفِيَّةُ الْاِسْتِنْجَاءِ اَنْ يَّمْسَحَ بِالْحَجَرِ الْاَوَّلِ مِنْ جِهَةِ

او کیفیت د استنجاء (د نر د پاره) داده چې مسح دی کړي کښته په اوله ډبره د مخ د خوا د شا و خواته

الْمُقَدَّمِ اِلَى خَلْفٍ وَبِالثَّانِي مِنْ خَلْفٍ اِلَى قُدَّامٍ

یعنی د مخ خوا څخه د شا و خواته دی کش کړي. او په دوهم ډبره دی د کښی مسح د شا د خوا د مخ و خواته را ولی»

وَبِالثَّالِثِ مِنْ قُدَّامٍ اِلَى خَلْفٍ اِنْ كَانَتِ الْخُصْيَةُ مُدَلَّاةً

او دریمه ډبره دی د مخه د خوا څخه شا ته بوزی که چیری ئې خوټي ځړیدلی وی.

وَاِنْ كَانَتْ غَيْرَ مُدَلَّاةٍ يَبْتَدِئُ مِنْ خَلْفٍ اِلَى قُدَّامٍ

او که چیری خوټي نه ځړیدلی نو د شا د خوا دی د مخ و خواته بوزي.

وَالْمَرْاَةُ تَبْتَدِءُ مِنْ قُدَّامٍ اِلَى خَلْفٍ خَشْيَةَ تَلْوِيْثِ فَرْجِهَا

او ښځه دی استنجاء د ډبرو د مخ د خوا شروع کوی د شا و خواته د دی بیری د سببه چې کثیف په کښه نه سی. یعنی په غولو». قَالَ الْمُصَنِّفُ.

ثُمَّ يَغْسِلُ يَدَهُ اَوَّلًا بِالْمَاءِ ثُمَّ يَدْلُكُ الْمَحَلَّ بِالْمَاءِ

او بیا وروسته تر استنجاء د ډبرو دی سړي اول لاس په اوبو پری مینځي او بیا دی

بِبَاطِنِ اِصْبَعٍ اَوْ اِصْبَعَيْنِ اَوْ ثَلَاثٍ اِنِ احْتَاجَ

ومږی محل یعنی کونه په اوبو سره په یوه ګوته مګر په باطن د ګوتی یا په دوو ګوتو او یا په درو ګوتو که حاجت ورته وو یعنی که په کښه فراخه وه لکه بعض کنا نشور کسان».

مَسَائِلُ الْاِسْتِنْجَاءِ

(۱) دَکوم سړي چې غټ او خولې دواړه ځندي پرې کړه سوي وي» چې مجبوب یې بولي او یا یې یواځې خولې ځندي کبنل سوي وي چې خَصي یې بولي» د هغه حکم د ښځې دی» او نَر ښځې حکم دَ نر لري» ذکره ابن امیر الحاج ؒ ط.

(۲) ابن امیر الحاج د مقدمه غزنویه څخه نقل کړي دي چې په دریمه ډېرودې اطراف دِ کُښي مسح کړي»

(۳) دا ټوله کیفیت داستنجاء دَ ښادَخواووه اودَ مخ دخواد استنجاء کیفیت دا دی چې غټ دې په چپه لاس وَنِیسی او پر لوټو دې سَرتیر وي. زاهدي وائي چې یادي ذکر په دیوال پوري مُوښي. او یادي لوټه په راسته لاس وَنِسی وذکر دی په چپه لاس وَنِسی او پرې موښي دې»

ایت کریمه: یُرِیدُ اللّٰهُ بِکُمُ الْیُسْرَ وَلَا یُرِیدُ بِکُمُ الْعُسْرَ» نو هغه چې په مقدمه غزنویه کښي وائي چې نه دې ذکر او نه دې لوټه په راسته لاس ونِسی» بلکه لوټه دې په ما بَین کی د پښو کښېږدي او ذکر دې پورې موښي» هغه حَرَج عظیم» په شریعت پاك کی دُو نه تنګی نسته. (۴) مصنفؒ یَدُهٗ» مفرد ووایه او په عام کتابو کښي" یَدَیه» راغلی دی یعني دواړه لاسونه دې پرې مینځي» (۵) په مضمرات کی ووائي چې گوته چې پر کُښه تیره کړه سی بَله پَلا به هَغه گوته مینځي حتی چې نجاسَت د محله څخه ایسته کیږي. (٦) کُښه تر دی او به پر کرار کراروَریا شي په شرف دی نه وَرپاشی» (۷) او گوته دی په کُښه نه ننباسي چې دی ته نِکاح الید وائي او مکروه کار دی. او بل دا اسی کار څخه خُوني بواسیر پیدا کیږي کما فی شرح الطحاويؒ (۸) په استنجاء کی داو بو عدد شرط نه دی علی ما هو الصحیح بلکه تفویض دی وسَړي ته دی چې دسَړي گمان سو چې کُونه پاکه سَوه.

(۹) کُښه دی په نوکا نو نه گوروېٔ ولې چې په نوکا نو کښي مرداري بندیږي.

کیږي کذا فی القهستاني»
او بل دی څخه مواسیر ځندي پیدا

(۱۰) که په یوه گته استنجاء وهَل کیدله دوهمه او دریمه دی نه وَرجوته وي. ولې چې مرداروَل د پاك شي بې ضرورته ناجائز دی» ط » قَالَ المُصنفُؒ.

وَیُصَعِّدُ الرَّجُلُ اِصْبَعَهُ الْوُسْطٰی عَلٰی غَیْرِهَا ثُمَّ یُصَعِّدُ

او پورته کوي دی نر د میانځ گوته پر نورو گوتو یعني لږ څه، او بیا دی بنصره گوته

بُنْصَرَهٗ وَلَا یَقْتَصِرُ عَلٰی اِصْبَعٍ وَّاحِدَةٍ

ورپورته کړي. او اقتصار دی نه کوي په استنجاء کښي پر یوه گوته» امام طحاويؒ وائي چې دا طریقه د بعض مشا ئخو ده، او عام مشا ئخ پر دي دي چې دواړي گوتي دی یوځای پورته کوي، مصنفؒ وائي بیا بنصره گوته ورپورته کړي بُنصر هغه گوته ده چې د خچړي گوتي سَره متصل ده، چې پښتانه یې خیاني په لاکو تکره بُولي»

سَوال: د مخه ووَیل سَول چې که په یوه گوته استنجاء کیدای سَوای دوهمه او دریمه دِ نه وَرجوته وي، او دلته وائي مصنفؒ چې پر یوه گوته دی اقتصار نه کوی.. **جواب** دا طریقه د بعض مشا ئخو ده او مخني خبره مذهب د عامو مَشا ئخو وو» قَالَ المُصنفُؒ

وَالْمَرْأَةُ تُصَعِّدُ بُنْصَرَهَا وَاَوْسَطَ اَصَابِعِهَا مَعًا اِبْتِدَاءً

او ښځه دی پورته کوي داستنجاء په وخت بَنصر گوته او د مابین گوته یوځای په شروع کی داستنجاء یعني یواځې یوه گوته دی نه پورته کوي د بیرې دی چې دا د بل شي خوند پَروا نخلي. امام طحطاويؒ ویلي دي چې فرماني په شرح کښي د مقدمه لیثیه چې هغه د امام مرغینانيؒ څخه نقل کړي دي چې ښځه دی استنجاء په اورغوي وَهي» وهو الصحیح» وفی الفتاوی هندیه هو المختار وفی السراج وهو قول عامة الفقهاءؒ» او ابن امیر حاجؒ وائي چې ښځه دی دگوتو په سَرو استنجاء وَهي. ولې چې ښځه دَدباندی کُس وپاکی ته ضرورت لري او هغه بې سرو دگوتو نه کیږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

خَشْيَةَ حُصُوْلِ اللَّذَّةِ » د بیرې د دې چې دا د بَل شی خوند پروا نَخلی،
او دا چې مصنفؒ وویَل چې خوند پروا نَخلی هغه یوه وهمی خَبره ده » ولې چې معلومه خبره
ده چې ښځه چې خوند اخلی دَ دَننه کُس په داخلیدو سره خوند اخلی ۔ **فائِده** : ښځه به اول
کُنه مینځي او که کُس ! امام اعظمؒ وائي چې کُنه دې دمخه مینځي ولې چې هغه مهمه ده. او بل
دا چې سَړي چې سَړي چې په کُنه کښې گوتې تیروی غالبًا بولې خلك راوزی. نو کُس بیرته
مردار ږي ی۔ او یارانؒ وائی چې کُس دې دمخه پرېمنځي ولې چې په مخ کښې دی، والفتوی علی قول الامام رحمه الله

وَيُبَالِغُ فِي التَّنْظِيفِ حَتّٰى يَقْطَعَ الرَّائِحَةَ الْكَرِيهَةَ

اوکوشش دې کوي په پاکولو کښې د استنجاء دځای حتیٰ چې ورك سی بد بوئی » یعنی هم
دی دکونی ځنر او همدغی گوتی ځنر چې د استنجاء په وَهله » ولې چې بد بوئی اثر د نجاست دی
نو پاکی سره دَبقاء د نجاست نه کیږی » او صحیح مذهب دادی چې عدد واورونه د پریولو پاره
نه دی مقرر سوی » بلکه د سړي رایه ده نو هر وخت چې د ده یقین سو یا غالب گمان سو
چې ځای پاك سو نو پاك دی ر

مسئله : که سَړي وسواسی وو که هغه نه واورونه نه کړي مَعلوم نو هغه خودَ خپلی ورسی
په اثر دیږی اوبه او وخت ضائع کړي » او اسراف خونا روادی ! **جواب دادی** چې عُلماء
حضراتو دده دپاره د مخ دَخوا په استنجاء کښی وارونه مقرر کړی دی ۔ او د شا دخوا په استنجاء
کی ۵ پنځه واره او بعض فقهاء وائی ۹ واره او بعضی وائی ۱۰ لس واره لکن کشکی مُوسْوِس
په د غه مقرره عدد قناعت کړي وای » **واقعه** : په قندهار کی زمونږ په مسجد جامع
کی جاري لښتی بهیدی نو ما پر لښتی اودس تازه کاوه چې یو مُوَسوِس مُلاصاحِب راغلی بر لوی
استنجاء کښینستی نو او به بې د استنجاء ځای ته څو واره ور واچولې ، او بیا به ئې لاس بوی کړي
ما اودس تازه کړي څو موسوس هغه استنجاء او دلاس بوئیدل کار وو » مونږ څلور رکعت
لمانځه د ماز دیگر و دریدلو او څلور رکعته مو پوره کړه » چې سلام مو وگرځاوه ، مُوَسوس په هغه
استنجاء ناست وو ، خیر چې ده نوُر اودس د خپلی وسَوسی سره برابر تازه کاوه وقت مکروه

اوموسوس بیا لمونځ یوازی وکړی ۔
داخل سو
تنبیه : داسی کارونه د تقوی د سَببه نه دی بلکه دا د اضلال ځنر د شیطان دی
چې گاهی جماعَت ځندی فوت کړي او گاهی لمونځ پر قضاء کړي او گاهی لمونځ و وقت
مکروه ته وَرسوي ، **نَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ وَسْوَسَةِ الشَّيْطٰنِ** » قَالَ المصنفُ ۔

وَفِيْ اِرْخَاءِ الْمَقْعَدَةِ اِنْ لَّمْ يَكُنْ صَائِمًا

اوکوشش دی کوي په سسته نیولو کښی دکُنی ۔ که ئې روژه نه وه ، په مَراقی الفلاح کی
وائی » لیزیل ما فی الشرج بقدر الامکان » معنی چې زائل سی هغه نجاسَت چې په کونانو
کښی په قدر د امکان »

تفریع : په ژمی کی دی په استنجاء کی ډیر کوشش کوي تر دو بې » ولې چې کُنه په ژمی کی
تر دو بې گنجلکه وي مگر هغه وخت مبالغه ته ضرورت نسته کی په ژمی استنجاء په گرمو اوبو
وهله » وَلې گرمې اوبه کُنه سُسته وي ۔ **مسئله** : استنجاء وَهل په یخو اوبو ثواب
او نفع یې ډیر ده تر گرمو اوبو ۔ دَثواب وَجه یې دا ده چې تکلیف یې ډیر دی ۔ او د نفع وجه یې دا دَه
چې خونی مَواسیر د بینه وړي کما فی الفتاوی » ط » مصنفؒ په مراقی کښی وائی چې روژاتی
دی کُنه سسته نه نسی ، تا چې روژه یې فاسدَه نه سِی » لکن په خلاصَه کی وائی » چې روژه
ماتیږي چې اوبه یې و داخل دکُنی ته وَلاړې سِی ۔ او په استنجاء کښی او به
داخل ته ځې که څه هم کُنه سسته وَ نیسی »
مسئله : په بعض کتابوکی وائی چې روژاتی دې د استنجاء په وخت کښی ډیر په زور
ساه نه کیږي » ولې چې اوبه یې په کُنه نه ننوزي ، لکن علامه نوحؒ وائي چې دا خو ډیر حَرَج دی
او په ساه کښلو سره اوبه د کُنی و داخِل ته نه ځي **مسئله** په مراقی کی وائي چې روژاتی که
لندې گوته په کُنه کې ننه کړه روژه یې فاسده سوه ۔ **مسئله** : که دَچا کُلمه دکُنی د استنجاء
په وخت کښې دباندی راووتله او دده روژه وه او ده راوتلی کُلمه دکُنی پریوله نو تر هغو
پوري د استنجاء ځنر نه وَلاړ نه ږي څو کُنه په یو تکره سره وَچه نه کی ۔ او که یې تر وچیدو دَ مخه

ولاړسو او هغه کُنه یه یعنی هغه دکُنی کُلمه پورته وَلاړل ، وړنه یه مَاسَوَل ط ،

مَسْئَله: که چیری یو سړی داسی مریض وُوچی استنجاء یه په خپله نرسَوای وهلای نو کی ماینه درلوده هغه دې استنجاء ورَوَهی او بیله ماینی بَل چا ته که زوی اوکه بنځه وی کی خدم او ، یاخور ، یابَله محرمَه بنځه وی. دَدَه استنجاء ور وَهل ، وانه دی بلکه استنجاء دده څخه ساقطه ده ، کذا فی الهٰندیة ، قَـالَ المصنف.

فَاِذَا فَرَغَ مِنَ الْاِسْتِنْجَاءِ غَسَلَ يَدَهُ ثَانِيًا وَنَشَفَ مَقْعَدَتَهٗ

پس خه وَخت چی فارغ سی داستنجاء څخه نو بیرې دِمنځی لاس دویم وار . او وچه دی کی کنه یا په پاك ټکره اوکه ټکره

قَبْلَ الْقِيَامِ اِنْ كَانَ صَائِمًا

وونو یوځوواړ دی پرکُنه لاس تیر کړی دَ مخه تر ولاړ یدو د استنجاء څخه . دا هلته که د سړي روژه وَه » دا ددی د پساره که کُنه وچه نه کړی . او چسف ولاړسی کُنه بی او به پورته بوزی . دا تولهٔ دمراعات د ، روژی . او داسی نه ده که چسف ولاړسی کُنه وَچه نه کړي نو یه خواه مخواه ، روژه ما سوه .

فَصْلٌ

پوهسه: چی مصنفؒ په دې فصل کی هغه شیان بیانوی چی استنجاء په هغو سره ، واده او هغه شیان چی استنجاء په مکروه ده ، او هغه کارونه چی فعل یه مکروه وی ، قَالَ المصنفؒ

لَا يَجُوْزُ كَشْفُ الْعَوْرَةِ لِلْاِسْتِنْجَاءِ

نه دی ، روا لخول دعورة دپاره داستنجاء ، په مراقی کښی مصنفؒ وئیلی دی چی لخول دعورت حرام دی او کاشف دعورة فاسِق دی نو دپاره داقامت دسنت چی استنجاء ده ، حرام کار دی نه کوی ، بلکه ترکالولا ندی دی یوه لوټه دوی استعمال کړی . اوکُنه دی په پاکه کړی . اوکه دا هم ونه کړي لمونځ یه صحیح دی ۳۸ منه

او محقق طحطاویؒ د علامه څخه داسی نقل کړی دی چی استنجاء وهونکی دی عورت نه لخوی په نیز دهیڅ چا دپاره د استنجاء او کی لخ کی فاسق دی خواه نجس نَدراوتو ترځای تیره وی اوکه نه ، اوکه تر قدر د درهم بالاوی اوکه نه » اِنتـهی ،

ضروری سنوَونه

د بنجابیانو قمیصان چونکه هم لنډ دې او هم تنګ دې ، نو دلوی استنجاء په وخت کښی حتمًا اطراف دکُنی یه لخ وی او اطراف دکُونی خو هم عورت دې » **زمونږ** په پښتونوکی په پخوانی وخت کی به قمیصان دنرو او بنځو ډیر برداره وَه » نو چی پر لویه استنجاء به سَری کښی نستی او لمن دَقمیصه پرځان ، او کرځوله نو نه ئی کُنه معلومیده او نه یی اطراف دکُنی په اوسنی زمانه کی که هلکان دې اوکه ځوانان دی بلکه که سپین ږیري ، قمیصان په یوه تاه کښی کوی » نو گاهی چی دوی په مسجد کښی استنجاء وَهی او غسل خانه هم نه وی بلکه پر نلکو ، نو که چیری د استنجاء نلکو یوی خوا او بلی خواته دیوال درلودی نو استنجاء وهل په کښی پروا نه لري ، ولې چی دکونی غارخولې په هغه یک بره لمن پټه سی » او کُنا تې ئی په دیوالو پټ سی . او که د استنجاء ځلی دیوالونه نه درلوده ، نو که یک بره وَالاړ هر څو کوشش وکړي خو تیوله عورت به پټ نکړی » خواه مخواه به ئی کُناتی بنکاره وی نو دا استنجاء حرامه ده او مرتکب یه فاسق دی ، درویش باگناه محمد عبید اللہ ایوبی کندهاری » قَـالَ المصنفؒ »

وَاِنْ تَجَاوَزَتِ النَّجَاسَةُ مَخْرَجَهَا وَزَادَ الْمُتَجَاوِزُ عَلٰى قَدْرِ الدِّرْهَمِ

که چیری تیر سوی وو نجاست که غلوی او که بولی ترځای د راوتو چی کُنه ده او د چوبکی سوری دی ، او بالا وو هغه تیر سوی نجاست تر قدر د درهم لیعنی دوزن په اعتبار په غولو کښی او د مسا حت په اعتبار په بولو کښی » **پوهسه** : چی د حضرت امام اعظمؒ او امام ابی یوسفؒ په نیز کُنه حکم د داخِل لري » حتیٰ په کونه کښی نجاست ته اعتبار نسته اصلًا نو مراد د زیات والی څخه د نجاست پر قدر د درهم هغه ما سوا د نجاست دکُنی دخولی دی ،، نو که چیري یوازې

Maktaba Tul Ishaat.com

نجاست دباندې ترکوټي په قدر د درهم وو او کوټي د نجاست سره ترقدر د درهم بالا وو نو مانځ د لمانځه نه وي» او نه به پرېوله واجب دي، ولې چې د مخرج نجاست ساقط دې ځکه کې خوک نه پرېمنځي مکروه نه دي» او د غه رنګه د شیخینو په مذهب کې د غه دګني نجاست د بل ځای د نجاست سره نه جوړېږي، مثلاً پر یو بل ځای د سړي مرداري په قدر د درهم چې دګني مرداري دی ور سره یو ځای کړې وای ترقدر د درهم بالا کېږه، مانع د لمانځه نه دی او پر مذهب د شیخینو فتوی د ډېرو کتابو ده» او طحطاوي وائي هو المعتمد،
او د امام محمدؒ مذهب دا دی چې کُنه لکه دباندې ځای ده» نو ددې مرداري د نورې مرداري سره یو ځای کېږي حتیٰ که مجموع د غه نجاست ترقدر د درهم بالا وو» مانع د لمانځه دي او پرېوله یې واجب دی»

قال المصنفؒ

لَاتَصِحُّ مَعَهُ الصَّلٰوةُ إِذَا وَجَدَ مَا يُزِيْلُهُ

نو نه دي صحيح سره د هغه زائد نجاست لمونځ که د سړي سره وو هغه څه چې دا نجاست په زائل کړي لکه اوبه یا په بهیدونکي شئ. **مسئله**: صحت د لمانځه مشروط په دوه شرطه دی اول زائلونکی د هغه نجاست چې تر قدر د درهم بالا وي. او دوهم چې سړي ته ممکنه وي ازاله د هغه نجاست بیله لڅ والي د عورت په نیزد هیڅ چا، په اول صورت کې چې مزیل د نجاست نه وي لمونځ دده صحیح دی سره د نجاست دی. او د هغه لمانځه اګر څوله دده پر ذمه نسته چې اوبه پیدا سي، ولې چې د لمانځه په وخت کې د قدرت پر ازاله د نجس نه در لودی، او په دوهم صورت کښې خو کشف العورة حرام دی نو ده لره دا عذر دی په عدم ازاله کښې د نجاست، زهر»

قال المصنفؒ.

وَيَحْتَالُ لِإِزَالَتِهِ مِنْ غَيْرِ كَشْفِ الْعَوْرَةِ عِنْدَ مَنْ يَّرَاهُ

او دا سړی دی یو حیله وکړي د پاره د ازاله د هغه نجس بیله دې چې لڅ کړي عورت په نیزد هغه چا چې ده ته ګوري.

اللهم اغفر للمؤلف ولكاتبه ولوالديهما آمين

پوه سه: چې که چېرې لیدونکې هغه ښځه وه چې ده ته یې په جماع روا وه یا ماینه یا مینځه وه ده. نو دې بیا استنجاء نه پرېږدي که څه هم عورت یې ورته لڅ سي» ط هـ ز

وَيُكْرَهُ الْاِسْتِنْجَاءُ بِعَظْمٍ وَّطَعَامٍ لِّلْاٰدَمِيِّ اَوْبَهِيْمَةٍ

او مکروه ده استنجاء په هډوکي، او د خوراک په شئ د انسان لکه ډوډۍ، او یا د چارپای لکه تیښتي یا واښه

وَاٰجُرٍّ وَّخَزَفٍ وَّفَحْمٍ وَّزُجَاجٍ وَّجَصٍّ وَّشَيْءٍ مُّحْتَرَمٍ

او د غه رنګه مکروه ده په پخه خښته او په کودرې او په سکرو یا کوئله او په ښیښه او په ګچو یا هاکوه او په هغه شئ

كَخِرْقَةِ دِيْبَاجٍ وَّقُطْنٍ وَّبِالْيَدِ الْيُمْنٰى اِلَّا مِنْ عُذْرٍ

چې محترم وي لکه ورېښمینه ټکر او په پنبه وو، او په راسته لاس مکروه ده د عذر د سببه چې چپه لاس یې خوږ وو» **پوه سه**: چې په هډوکي استنجاء وهل او د غه رنګه په خوشیو او څښو استنجاء وهل مکروه ده یو وجه یې شرعي ده هغه دا چې په حدیث نبوي ؐ کښې دا سې راغلي دي چې بخاري او نورو کتابو یې هم روایت کړي «لَا تَسْتَنْجُوْا بِالرَّوْثِ وَلَا بِالْعَظَامِ فَاِنَّهَا زَادُ اِخْوَانِكُمْ مِنَ الْجِنِّ» تاسې استنجاء مه وهئ په خوشیو او نه په هډوکو. ولې چې دا د ورور توب او نفقه ستاسې د وروڼو د پېریانو ده نو څرنګه یعني هغه وخت چې دوی پیدا کړي خوشوي یا هډوکي. په هغه هډوکي دا سې غوښه پیدا سي لکه چا چې هیڅ نه وي څنډی خوړلي نو پیریان یې خوري.
او خوشوې اوربشې وګرچې او یا پروړه نو ددوی دواب (چارپایان) یې وخوري» دا معجزه ده د آنحضرت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مر» او بله وجه یې عقلي ده هغه دا چې په هډوکي غالباً کُنه خوږېږي یا په زخمي کېږي. او خوشوې خو مردار دي. نو په هغه به بله مرداري څرنګه پاکه سي»
تفریع: د دې حدیث نبوي ؐ څخه دا سې معلومه سوله چې پېریان خوراک لري او هغه خوله چې ددوی ثوند په بوي سره دی هغه خبره په مقابل کې د حدیث د باور وړ نه ده»

مسئله: په دی کښی اختلاف شته چی پیریان مکلف په امر او نهی سره دي چې د قرآن مبارك سورة جن ددی شاهد دی. او په احادیث مبارکه و وکښی هم د دوی مکلف والی لوی اثبات شته» لکن اختلاف په دی کښی دی چی دوی لره ثواب په آخرت کښی شته او که نه! حضرت الامام الاعظمؒ په یوه روایت کښی په دی باب کی توقف کړی دی او په بل روایت کښی داسې والئ چی ثواب د پیریانو خلاصون دی د عذاب څخه دی، او امام مالكؒ او ابن ابی لیلیؒ والئ چې دوی لره لکه عذاب چی شته ثواب هم شته، تفصیل ددی مسئلی په لویو کتابو کښی فقهی شریفی او غټو کتابو کی د علم تفسیر مذکور دی» او په طعام د انسان یا د چارپای چی استنجاء مکروه ده اول خو په طعام کی د انسان اټه دی. او بل په دواړو کښی اسراف دی ولی د غه په غولو لرلی طعام نه انسان خوري او نه چارپای» او په څخ خښته چې استنجاء مکروه ده سبب په دا دی چې کُنه پوره نه په پاکیږی او کی پاکوی کُنه دسرې خوړ وی، او د خزف ترجمه خولك په کوډی کوي کوي نو هغه خو کُنه خوړ وی» او مراقی یه ترجمه په کشنکو شکوسره کړی. نو د هغو په استنجاء سره خو کُنه نه پاکیږی هنوز لی لاس هم مردار سی» او په سکروچې استنجاء مکروه ده» ددی سببه چی کُنه یه وړ توره وی» او بنیبنه یا گچ یا اهاك کُنه ته تاوان رسوی او بل بنیبنوی ده کُنه نه په پاکیږی» او د قیمتی ټکره په استنجاء کی اتلاف د مال محترم دی.

مسئله: په مذکوره شیانو سره استنجاء سره ددی چې مکروه ده لکن که چاپه مذکوره شیانو سره استنجاء وکړه هله روا دی» قاله العینیؒ فی شرح الهدایه» قال المصنفؒ.

وَيُدْخِلُ الْخَلَاءَ بِرِجْلِهِ الْيُسْرَى وَيَسْتَعِيذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ قَبْلَ دُخُوْلِهِ

او داخلوی دی په بیت الخلاء یعنی داوړی مات خونه» چی په افغانستان کی» مکان او په اردو یه ټټي بولي» او عصری خلك یه د کموډ خونه بولي» چپه پښه» او طلب د پناه د وکړی د خدائ څخه په باره کی د شیطان تره تېلی ده د ر باره څخه د خدای پاك» د غه

تر ننوتلو و بیت الخلاء ته» **پوه سه**: چی بعض محشیانو د لته داسی وئیلی دی چی «اعوذ بالله» و یل هلته غواړی چی هغه ځای جوړ سوی دا ودس مات د پاره د ننه ترد خول» او په صحراء کی چی ځکروهی نو اعوذ بالله دی هلته وائی چی دی کالی راپورته کوي وی» او په نوی بنکاره سوی انتهی»

او عورت یه نوی بنکاره سوی انتهی» او عورت یه نوی ضرورت لسترولی چی دخول په» مکان، یا تهتیٍ» عامی وائی چی د دغه محشی و دغه قید ته ضرورت نسته ولی چی دخول په» مکان، یا تهتیٍ» کښی مستعملیږی، قال فی المراقی» وائی چی مراد د خلاء څخه د غولو خونه ده» صلا

مسئله: د مخه تر اعوذ بالله دې د غه توری هم ووائی بِاسْمِ اللّٰهِ» چی په حدیث صحیح نبویؐ کښی داسی راغلی دی» سَتْرُ مَا بَيْنَ أَعْيُنِ الْجِنِّ وَعَوْرَاتِ بَنِي آدَمَ إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْخَلَاءَ أَنْ يَقُوْلَ بِاسْمِ اللّٰهِ» ترجمه: پرده په ما بین کی د سترګو د پیریانو او د عورتو د بنی آدمو چی ننوزی یو ستاسی څخه بیت الخلاء ته دا دی چی وه وائی» بِسْمِ اللّٰهِ»

سوال: اَعُوْذُ بِاللّٰهِ و یل په دغه وخت کی د دخول د بیت الخلاء ولې مستحب ده»

جواب: عینی په شرح کی د بخاری شریف وائی چې چونکه انسان چی پر ځکر کښینی نو ذکر د خدای نسی کولای نو شیطانان و دغه ځای ته انتظار کوي چی سرې و بیره وي یا غلط فکرونه یه په زړه کښی وروا چوی» نو ځکه وخت چی ده د مخه تر دخول د بیت الخلاء» اَعُوْذُ بِاللّٰهِ و یل د شیطانانو څخه خلاص سُو» او حدیث نبویؐ په روایت د ترمذی داسی راغلی دی» اِنَّ الْحُشُوْشَ مُحْتَضَرَةٌ فَاِذَا اَتٰى فَلْيَقُلْ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ» ترجمه په تحقیق سره د غولو خونی ځای د حاضریدو د شیطانانو دی نو چی څوك هلته ورځی داسی دی و وائی چې پناه په خدائ غواړم د نرانو د پیریانو او د ښځو د دوی» قال المصنفؒ»

وَيَجْلِسُ مُعْتَمِدًا عَلٰى يَسَارِهِ وَلَا يَتَكَلَّمُ اِلَّا لِضَرُوْرَةٍ

او کښینی دی تکیه کوونکی پرچپه پښه او خبری دی نه کوی مګر د ضرورت د سبب څخه» مراقی وائی چی پر چپه پښه تکیه کول د آسانی د سبب د وتو د ځکر» **مسئله** د ځکر په وخت کښی دی پښې آزادی سره ایږدې» م ط» او د ځکرو هلو په وخت کی بې ضرورته

Maktaba Tul Ishaat.com

خبرې کول سَبب د ناراضی د خدائ دی، م فَـالَ المُصنف،

وَيَكرَهُ تَحرِيمًا اِستِقبَالُ القِبلَةِ وَاِستِدبَارُهَا وَلَوفِي البُنيَانِ

اومکروه دی تحریمًا مخامخ وجهت تهٔ د قبلې او شا گرځول وهغه ته یعنی طرف دقبلې ته یعنی په وخت کی د بولو اود غولو دپاره د تعظیم دجهت دقبلې، که څه اودس مات په یوه خونه کښې وی. په صحیح حدیث کښې راغلی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم وائی: إِذَا أَتَيتُمُ الغَائِطَ فَلَا تَستَقبِلُوا لقِبلَةَ وَلَا تَستَدبِرُوهَا، چې تاسی ورسی چرو هلو ته نو مخ مه گرځوئ وقبلې ته او مه شا ور گرځوئ، دَدې حدیث دحکم مطلق دی صحرا او خونې دواړو ته شامل دی. مصنف وویله: وَلَوفِي البُنيَانِ، غرض یه رد پر هغه مذهب چې وائی چې دا کراهت په صحرا کښې دی په اباتی کی خو خونې دیوالونه پرده ده، لکن دا مذهب لکه چې د اطلاق څخه دحدیث مخالف دی نو دغه رنگه عقل یه هم نه قبلوی، ولې چې کراهت د استقبال دقبله او استدبار دهغی خو دجهته څخه د تعظیم دجهته دقبلې دی ځکه چې خطاب نهی عام دی نو په خونه کښې:

چې دیوالونه حائل او پرده دی په صحرا کښې خو هم لوی لوی غرونه د لیرې وطنو او قبلې ترمابین موجود دی. نو هغه ولې پرده او حائل نه گنړل کیږی، نو چونکه تعظیم د جهت منظور دی نو جهت په خونه او صحرا کښې څه فرق لري، **مسئله**: د نور اوداسې په وخت کی استقبال دقبلې روادی او که نه ! امام تمرتاشیؒ وائی مکروه نه دی، لکن امام طحطاویؒ وائی چې مقصود د تمرتاشی نفی دکراهت تحریمی دی، ورنه خلاف ادب دی لکه سرې چې پښې دقبلې وخواته وغوځوی: کذا قـال الحلبیؒ، **فائده**: د حضرت امامنا الاعظمؒ څخه روایت راغلی دی اول چې ظاهر المذهب دی دغه دی چې په کتاب کی ذکر سو یعنی چې استقبال او استدبار دواړه مکروه دی. کذا فی فتح القدیر او بل روایت دا دی چې مطلقًا مباح او روادی، او بل روایت دا دی چې یواځې استقبال مکروه **مسئله**: که سړي مجبور سو چې یا به مخامخ قبلې ته کښېنی یا به شا و گرځوی نو که خوایه شه ده ! امام قسطلانیؒ په شرحه د بخاری او ملا علی قاریؒ په شرحه کښې د مشکوة وائی چې شا دی وقبلې ته کړي. ولې استقبال دیر بد دی. نو په استدبار کی نسبتًا تعظیم د قبلې موجود دی

مسئله: په حال د جماعو د ما ینی سره استقبال دقبلې روادی او که څه رنګه **جواب**: ابن امیر الحاجؒ د امام نوویؒ څخه په شرح کښې د مسلم د اسې نقل کړي دی چې هغه استقبال دقبلې وجهت ته په صحراء او بنیان کښې مکروه نه دی. نوویؒ په اخیر کښې زیاته کړی ده، وهذا مذهبنا ومذهب ابی حنیفةؒ ومذهب احمدؒ وداؤدؒ قال المصنفؒ

وَيُكرَهُ اِستِقبَالُ عَينَ الشَّمسِ وَالقَمَرِ وَمَهَبِ الرِّيحِ

اومکروه دی مخامخ کښېناستل په وخت کی د چکر وهلو و تیکی ته دَ لمر او د سپوږمی او و هغه طرفته چې د هغی خوا باد چلیږی،

لوه مسئله: چې مصنفؒ استقبال ذکر کړی اشاره یه وکړه چې شا گرځول وعین الشمس مکروه نه ده، او عین الشمس والقمر یه ووایه اشاره یه وکړه و دې ته چې که چیرې یو محفوظ ځای وو چې د لمر او سپوږمی تیکی نه لیدله، بیا استقبال مکروه نه دی، بخلاف القبلة فان المکروه استقبال جهتها، او مهب الریح ته استقبال مکروه دی سبب یه دا دی چې باد نجاست بیرته پر ده ور پاشی، **مسئله**: که غوَل سړي کول او پر دی بیریدی چې لمن به ی په غولو ککړه سی یا نو استدبار هم مکروه دی، ط **فائده**، طبرانیؒ روایت کړي دی چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چې که څوک په هیره قبله ته مخامخ یا گرځونکی پر چکر کښېنستی او بیا ور یاد نو ځان یه بیرته دقبلې څخه چپ کړي د جهته دتعظیم دقبلې دا سړي به چکر نوی ولاړ سوی چې خدائ به یه گناه ور و بخښی، لکن نهر الفائق والا یه انحراف واجب بولی، او نهایه والا وائی کی انحراف و نه کړي پروا نه لري. ولې سهوه معفوده او زیلعیؒ شارح الکنز وائی چې لږ انحراف هم کافی دی. **فائده** بنځی ته مکروه ده چې خپل کشنی پرېښو یا پر کموح مخامخ وقبلې ته پر بولو یا غولو با ندی کښېنوی او گناه په دی په غاړه ده، او نه دی پلار او نه دی مور په اولاد حرام کالی اغوندی او نه دی حرام

خوارہ پہ خوری» ط» او سبب د کراهت د استقبال الشمس وَالقمر دا دی چې دا دوه نورانی اجسام د لویو ایاتو او عَلاماتو څخه دَقدرت دخدائے دی۔ مر» قالَ المصنفؒ.

وَيُكرَهُ اَنْ يَّبُوْلَ اَوْ يَتَغَوَّطَ فِى الْمَآءِ وَ الظِّلِّ وَالْجُحْرِ

اومکروه ده چې سړی بولی کوی یَا غل کوی په اوبو کښی» یعنی که څه هم جاری اوبه وی،

وَ الطَّرِيْقِ وَ تَحْتَ شَجَرَةٍ مُّثْمِرَةٍ

اوپه سایه کښی د دیوال یا درختی چې خلک ضرورت ورته لري، او په غار کې یعنی چې موږک یالړم یا بله خزنده پکښې وي او په لار کښی چکړو هل مکروه دی» اود غه رنګه مکروه دی لاندې ترمیوه داري درختی.

پوهه سه: چې مراد دَ سایه څخه هغه سایه ده چې خلک وَرته کښینی» قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ځان ساتی د دوو کارو څخه چې سبب د لعنت دخلګو ګرځی خلګو ووَیل چې هغه کم دوه کاره دي،، آنحضرتؐ ورته وَوَیل چې: هغه اودس ماتول او چکړو دی په لار کی دَخلکو او په سایه کی دَخلکو» رَواه البخاری»

فَوائد: دغه رنګه مکروه دی چکړو هل نږدی وَښاته. او یا ولی ته» او یا وحوض ته او عیدګاه دَلمانځه په ځای کی. او د قافله په مابین کښی، او په خیمه کی، او غویو یا پسو په مابین کی» کذا فی درالمختار وغیره» ولی چې دا تول سبب دَلعنت دی، او دغه رنګه مکروه دی په هغه ځای کی چې دجنازی لمونځونه پکښې ادا کیږی» او مکروه دی چکړو هل په مابین کښی دقبرو **پوه سه**: چې لکه په سایه کښی چکړو هل مکروه دی دغه رنګه مکروه دی په هغه ځای کښی چې خلک په ځای کښی په ژمی وَ لمر ته کښینی» لکن دا تول هلته چې دَغه ځکه مباح وی. او که چیری دَغه ځکه مملوک دچاوه نو هلته خلک وهل بیله اجازې دمالک حرام دی» ط» کذا فی شرح المشکوٰة» **فَائِدَة**، که داسی مباح وَه چې ضرورت ورته نه وو هلته چکړو هل روادی. ابوداؤد او نسائی په کوی: چې رسولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَوَيلَه: لَا يَبُوْلَنَّ اَحَدُكُمْ فِي جُحْرٍ»

وَيُكرَهُ الْبَوْلُ قَائِمًا اِلَّا مِنْ عُذْرٍ

او مکروه دی بولی په ولاړی مګر نه د عذر د سببه» سبب دادی چې په ولاړی بولو کولو سره بی غالبًا کالی یا بدَن مردار سی» په شرح کښی دمشکوٰة وائی چې نهی تنزیهی دی او بعض وائی چه تحریمی دَی» او په بنا یه کښی وائی چې امام طحاویؒ وائی» لَابَأسَ بِالْبَوْلِ قَائِمًا **عُذرونه** یا د کښینستو ځای نجس وی په صحیح حدیث شریف کی راغلی دی چې آنحضرتؐ اَتیٰ سُبَاطَةَ قَوْمٍ فَبَالَ قَائِمًا، د دی سبب بعض علماء نجاست د مکان بیانوی. او بعض علماء وائی چې د رسول کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پرملا درد وو، او بعض عُلماء وائی چې په زنګانه دآنحضرتؐ ټپ وو چې دهغه په سبب نه سو کښینستای **تَنْبِيه**: دعربو عقیده ده چې دملا د درد دپاره واحد علاج بول کول دی په ولاړی» قالَه الشافعیؒ» او امام ابوحامد محمّد الغزالیؒ په احیاء العُلوم کی وائی چې زین العربؒ وائی چې ځلویښتو طبیبانو پردی اتفاق کړی دی چې بولې په حمام کښی په ولاړی: دَوا ده داوینا وو مرضو» **پوه سه** چې مصنفؒ په مراقی الفالح کی بعض مکروهات ذکر کړی دي. ۱ بیت الخلاء ته دی په هغه کالو کی نه ورځی چې په هغو کښی لمونځ کوی. او که هغه دَ لمانځه کالی وَه نو دی احتیاط دی کوی چې ځندی نجس نه سی» لکن په باب الانجاس کی دَ نهایه داسی وائی چې بنه کار نه دی چې سړی به د بیت الخلاء دپاره جلا کالی استعمالوی» درویش وائی چې د مراقی په حکم کښی لوی حرج دی» او دحضرت الامام زین العابدینؓ څخه روایت دی چې ده دیر تکلیف کاوه چې د بیت الخلاء دپاره بی جلا کالی اغوستل» وروسته یه دا کار پریښو او وی وَیل چې دا کار نه دی کړی هغه چا چې ترما خیر وو یعنی رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

۲ اود غه رنګه مکروه دی داخلیده بَیت الخلاء ته چې د ده سره یو کاغذ وغیره وی چې په هغه کښی نوشته وی نوم د خدائےؒ او یا بعض لیاتونه دَقرآن» امام طحطاویؒ وائی چې په حدیث شریف کښی چې روایت یه ابوداؤد او ترمذیؒ کړی دی دحضرت انسؓ څخه چې رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عليه وسَلم چې بیت الخلاء ته تلی نو ګتمی بی وکښته»

Maktaba Tul Ishaat.com

یعنی د دی سَببه چی د هغی گتمی نقش محمد رسول الله وو، قالَ الطیبیؒ په دی حَدیث کی دلیل دی چه واجب والی د گوښه کیدو د استنجاء و هونکی - نوم د خدائ او نوم د رسول ؑ او قرآن د ځان څخه، او ابن حجرؒ وائی چی د دی حَدیث څخه دا استفاده کیږی چی مندوب ده هغه چا ته چی اراده د اودس مات لری چی د ځان څخه به گوښه کوی هر هغه شی چی محترم وی که نوم د خدائ وی او که نوم د رسول ؑ او یا د ملکی کی چیری مخالفت وکړی مکروه ده. لِتَرْكِ التَّعْظِيمِ وَهُوَ الْمُوَافِقُ لِمَذْهَبِنَا، کما فی شرح المشکوة.

ونَقل الطحطاویؒ عَن بعض الحذاقؒ: چی کراهت په هغه ځای کی دی چی د غه محترم شیٔ مستور او پټ نه وی نو کی په جیب کښی وو بیا پروا نشته، ونقل عن التهتانی عن المنیة: چی افضل دا ده چی بیت الخلاء ته دی ته ورځی چی په لوستونړی کښی قرآن شریف وی، مگر نه که مجبوره وو، او ده زیاته کړی ده چی امید سته چی بیله مجبوری به هم گناه گار نه وی، یعنی په سَبب د دی چی قرآن شریف په لستونړی کښی پټ دی، او امام حمویؒ هم دَ غه خبره مَنلی وَه، ط ص۴۳ **تبصره**: دَ دَغه فوق الذکر علماوو دا قوالو څخه حال دَ هغو بعضو تعویذو معلوم سو چی په درو یا پنځو پوښو کی پټ کړی بیا یه په جیب کی کوی، او یا یه ترموټه او یا یه په غاړه کوی، چی مکروه دی یا نه.

وَيُخْرِجُ مِنَ الْخَلَاءِ بِرِجْلِهِ الْيُمْنٰى ثُمَّ يَقُولُ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ

او راوه دی باسی د مکان نه څخه راسته پښه او و دی وائی چی الحمد لله چی ما څخی لیری کړی

الَّذِیْ اَذْهَبَ عَنِّیَ الْاَذٰی وَعَافَانِیْ

هغه فضله شیان یعنی غوُل او بولی، او ما ته ئی عافیت راکړی د هغو څخه. ځکه چی غذا او به که ټوله فضله یه بنده پاته سی. نو نا جوړی خو به خواه مخواه پیدا سی. او بعض وخت سبب د هلاك به وگرځی. او که ټوله بیله هضم کولو خارج کیږی، نو د مریضی سبب خو به سی مگر بعض وخت به علت د هلاك او مرگ سِی نو ځکه حمد ویل مستحب دی.

فَصْلٌ فِی اَحْکَامِ الْوُضُوْءِ

فصل دی په بیَان د احکامو د اودا سَه کی. **پوه سله**: چی اودس به تر غسُل دَ مخه کړی. له دی سَببه چی په قرآن کښی اودس تر غسل د مخه دی. او بل دَا چی اودس د غسل جزء دی، او بل دا چی احتیاج وا و دا سه ته ډیر دی تر غسل، م، ط.

فائده: عَلامه نوویؒ وائی چی اودَس کول د دی امت مرحومَه خاصه نه ده بلکه په ټولو امتو کی اودس کول وو، لکن پـه حَدیث شریف کښی چی راغلی دی چی زما امت به پـه وَرځ د قیامت غُر او مُحَجلین به وی، دا و د اسه له سَببه، یعنی سَپین مخان بی وی، او سَپین لاسونه او پښی بی وی هغه خاصه دامت مرحومه دَه، ط، **فائده**: اودس په مکه شریفه کښی فرض سَوی. او ایَـة الوضوء پـه مَدینـه مُنوره کښی نازل سوی دی، ط

اَرْکَانُ الْوُضُوْءِ اَرْبَعَةٌ وَّهِیَ فَرَائِضُهٗ

رکنونه دا و دا سَه څلور دی. او هغه یه فرض کارونه دی، یعنی رکن او فرض په یوه معَنا دی، پـه عُرف کی د فقه شریفی، درولیش باگناه وَائی چی امام طحطاویؒ په شرحه کښی د مراقی الفَلاح یو ډیر پـه زړه پوری تحقیق راوړی هغه دا دی: فرض دوه قسمه دی. ۱. **فرض قطعی**: چه نـه کوونکی یه مستحق د اوَر د دوزخ دی، او منکر یه کافر دی. لکه لمونځ، روژه، اودس وغیره. دلیل قطعی هغه دی چی ثبوت یه هم پـه یقینی توگه وی یعنی پـه شریعت کی لکه ایاتِ قرآنیه او متواتر حدیثونه. او دلالت یه پر هغه حکم هم پـه یقینی دَوَل وی. یعنی ډیر احتمالونه نه وی په کښی.
۲. **فرض ظنی**: چی تارك یه گناه گار او مستحق د نار دی لکن منکر یـه کافِر نه دی. هغه هغه فرض دی چی یا په ایا تو قرآنیه سره ثابت وی. چی هغه یقینی الثبوت دی. لکن احتمال د ډیرو معناوو لری. او یا خو یـه دلالت یقینی وی یعنی د احتمالونه نه وی.

یکېنې لکن په ثبوت کې د شارع نه شبهه وي لکه چې ودې ته په اصطلاح کې د احادیثو اخبار الاحاد وائي. یعنې چې نقل کوونکي یو یا دوه یا درې کسه وي مطلب د تواتر و مرتبې ته نه وي رسیدلي. د مثال په توګه نفس پرېولو د مخ او د لاسو او پښو او مسح د سر، فرض قطعي دی چې په قرآن شریف کې په صریح عبارتونو سره ثابت دی» او د مخ پرېولو ترکمه ځای په پښې ترکمه ځایه مسح د سر څلورمه قدر فرض ظني دی چې په احادو سره ثابت دی» وَعَلیٰ هذا القیاس نفس زکوٰة فرض قطعي دی او مقدار د نصاب یه فرض ظني دی

پوه سه: چې بعض احادیث مُبارکه ظني الثبوت وي. ولې چې تواتر ته نه وي رسیدلي مګر صحیح وي او دلالت یه پر حکم باندې یقیني وي. یعنې صراحت پر حکم دلالت کوي د پیر احتمالات نه وي یکېنې په دغه شان احادیثو سره وجوب او کراهت تحریمي ثابتیږي چې منکر یه کافر نه دی. مګر پریښوونکی د واجب او فاعل د مکروه تحریمي مستحق د عذاب دی» او یو قسم احادیث داسې دي چې ثبوت یه د آنحضرت ﷺ نه ظني وي» او دلالت پر حکم مخصوص یه هم ظني وي. یعنې په یو خاص حکم کښې صریح نه وي بلکه احتمال د ډیرو معناوو لري» په دې قسم حدیثو سره سنتیت، استحباب، کراهت تنزیهي ثابتیږي، چې د دې په پریښولو کې استحقاق د عذاب النار خو نشته» لکن په ورځ د قیامت ملامتیا پر ویل کیږي، او منکر یه کافر نه ځي:

فائده: فرض پر دوه قسمه دی یو فرض عین بولې او بل فرض کفائي دی. **فرض عین** هغه بولې چې پر هر فرد او د بعض کسانو په اداء کولو سره د نورو غاړې نه خلاصیږي» لکه اودس، او غسل، او لمونځونه او روژه وغیره» **فرض کفائي**: هغه فرض ته وائي چې پر مجموع انسانانو او مسلمانانو خو فرض وي لکن په اداء کولو د بعض کسانو د نورو غاړې خلاصیږي او که هیڅ یو اداء نه کړي د ټولو غاړې بندې دي او ګناه کار دي» لکه حفظ د قرآن کریم او د سلام، د جنازې لمونځ امر بالمعروف او نهی عن المنکر وغیرها» مما ذکر فی کتب الفقه مفصلا

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِمؤلفه وَلِمترجمه وَلِكاتبه وقد كتبه بيده احقر فضل الحق حقاني غفرله

قَالَ المصنفُ **اَلْاَوَّلُ غَسْلُ الْوَجْهِ** اول فرض دا او داسه پرېولو د مخ دی

لقوله تعالیٰ: فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ» **مسئله**: غسل یعنې پرېولو له هغه ته وائي چې او به دا اندامه نه وبهیږي او کم از کم دوه یا درې څاڅکي کښته توی سي. او بیول داوبو پیله تقاطر کافي نه دی «مرط» قَالَ المصنفُ»

وَحَدُّهٗ طُوْلًا مِنْ مَبْدَءِ سَطْحِ الْجَبْهَةِ اِلیٰ اَسْفَلِ الذَّقَنِ

او اندازه د مخ په اوږدوالي دا ابتداء نه د سطحې د تندې دی بیا تر لاندې د زنې پورې

پوه سه: چې دا تعریف د مخ د طول، بنه دی تر هغه تعریف چې په هدایه کې کړی دی، چې طول د مخ د پایه نه د وېښتانو د سر دی تر اسفل الذقن پورې» ولې چې تندې په عرف کښې هر سړي پېژني» او چې په وېښتانو د سر سره یه تعریف وکړي - نو اَصْلَع چې د نړلي وېښتان یه توی سوي وي لکه اکثره سپین ږیري. باید د سر ما بین نه دده مخ وي او پرېوله د مخ د هغه خوا شروع کوي. او اَغَمّ چې تیم تندی پورې مثلا وېښتان شنه وي باید د نیمائي نه د تندې د مخ شروع او د هغه ځایه نه مخ منځ دی د دوو سوالو جواب که څه هم شراح د هدایه ورکړي دی چې دا تعریف په اعتبار د اغلب الناس دی» او اصلع او اغم نادر دي» لکن بیا هم پر عبارت د مصنفؒ دا سوال نه وارد یږي. نو له دې سببه مصنفؒ په مراقی الفلاح کښې وائي، سَوَاءٌ كَانَ فِيهِ شَعرٌ اَوْلَا»

فائده: ذقن په لغت کې هغه ځای ته وائي چې لاندې د دوه کرغښې سره یوځای کیږي» او پر د غود دوو کرغښیو ږیره د سرې اشنه کیږي» كذا في مراقي الفلاح

مسئله: چونکه ږیره د دغو دوو ا ډکو نه شروع کیږي. نو تر د غو دوو او کولاندې که د چاو وېښتان وي هغه په ږیره کښې داخل نه دي پرېکول یه روا دي» قَالَ المصنفُ

وَحَدُّهٗ عَرْضًا مَا بَیْنَ شَحْمَتَيِ الْاُذُنَیْنِ

او اندازه د مخ په پسور کې په مابین کې د دوو نرمیو د غوږو دی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

پوهه سه: چې شحمة په لغت کې هغه غوښه ده دَ غوږ وچې ښځې غوږ پکې په هغو غوښو پورې ځړوي. **مسئله**: هغه خالي ځای چې په مابین کې د غوږ او شحمة دی د هغه ځای پريوله هم فرض دی په صحيح روايت کښې- او امام ابو يوسفؒ د هغه ځای پريوله ساقط بولي» مراقي الفلاح» قال المصنفؒ

وَالثَّانِي غَسْلُ يَدَيْهِ مَعَ مِرْفَقَيْهِ

او دوهم رکن د اوداسه پريوله دی د لاسو سره دَ څنګلو. **پوهه سه** چې مصنفؒ په لفظ کې د» مَعَ « اشاره وکړه چې په ايت شريف کښې چې عبارت دَ» اِلَى الْمَرْفَقَيْنِ« راغلی دی هو رې غايت په حکم کښې د مغيا داخله ده يعنې پريوله د مرفقينو فرض دی» او امام زفرؒ په دې کښې مخالف دی» چې هغه پريوله د مرفقينو فرض نه بولي. دلائل دَ دواړو مذهبونه په رد محتار کښې ملاحظه کړه آه» او پرې باندې قياس کړه ايت مبارک چې دَ پښو په باره کښې راغلی دی يعني» اِلَى الْكَعْبَيْنِ« قال المصنفؒ

وَالثَّالِثُ غَسْلُ رِجْلَيْهِ مَعَ كَعْبَيْهِ

او دريم رکن د اوداسه پريول له دَ پښو دی سره د ښجلکو: لِقَولِهِ تَعَالَى: وَاَرْجُلَكُمْ اِلَى الْكَعْبَيْنِ» په نصب يعني په زور د» اَرْجُلَكُمْ «چې عطف پر مغسول سي. **سوال** لفظ د» اَرْجُلِكُمْ« په يوه قرائت کښې په جر يعني زير دَ لام هم راغلی دی چې د هغه قرائت څخه داسې معلوميږي چې اَرْجُلِكُمْ پر رُؤُسِكُمْ عطف دی- او وظيفه دَ پښو مسح کول دی لکه شيعګان چې وائي- او دوی پر پښو مسحه روا بولي او د بده مرغه پر موزو مسح روا نه بولي نو دوی دومره فراخه موزه جوړوي چې لاس ور ننوزي تا چه پر پښو مسح وکړي.

جواب: مراقي الفلاح وائي چې دا جر او زير د سببه د جوار او همسايه والي د مجرور دی چې» رُؤُسِكُمْ« او جر جوار په عربي ژبه کښې شائع دی» يقولون» جُحْرُ ضَبٍّ خَرِبٍ» غار د سسماري ګزاب دی سره دا دی چې» خَرِبٌ د جُحْرُ« خبر دی او خبر خو مرفوع وي.

چې مضاف اليه د جُحْرُ دی واقع سو نو خَرِبٍ په زير وويل سو» لکن چونکه په جوار کښې د ضَبٍّ فقط واو عاطفه د پاره د جر جوار راتلای سي» ابن مالکؒ په شرح کښې د عمدة وائي چې مسح يه نه ده روا- مګر هغه وخت چې حاصل دا چې وظيفه دَ پښو پريوله دی او مسح يه نه ده روا. مګر هغه وخت چې دسرې موزې په پښو وي» او نور الانوار کښې چې قرائت د نصب محمول دی پر حال دَ لغو پښو- او قرائت د جر محمول دی پر حال د دې چې موزې په پښو وي عملاً بالقرائتين»

سوال: چې» اَرْجُلَكُمْ «تر وَامْسَحُوا بِرُؤُسِكُمْ د مخه راوړه سوی وای نو به په متعين توګه معلومه سوې وای چې وظيفه د پښو پريوله دی نو څه حکمت الهي دی چې دَ مخه يه نه کړې. **جواب**: خدائ اشاره وکړه و ترتيب ته دا و داسه دا ره کسانو» او علامه زمخشري المعتزلي په تفسير کشاف کې وائي چې موږ منو چې اَرْجُلَكُمْ پر قرائت دَ جر عطف دی پر بِرُؤُسِكُمْ» لکن نه د دې وجهې چې وظيفه دَ پښو مسح ده» لکه شيعګان چې وائي. بلکه د دې د پاره چې اسراف دی په پريولو کښې دَ پښو نه کوي:

سوال اسراف خو په ټولو اندامو په پرې وَلو کښې ناروا دی نو دَ پښو تخصيص يه ولې وکړې **جواب** پر نورو اندامو خو او به نه تويول کيږي نو د اسراف ګمان نه کيږي او پر پښو خو او به د کوزې يا ګډوې را تويول کيږي. نو ځای د ګمان دا سراف دی. علامهٔ زيا ته کړيده چې توهم د دې چې وظيفه د پښو مسح کول دی په عين ايت کښې دفع سوې دی- ولې چې خدائ غايت د اِلَى الْكَعْبَيْنِ راوړې ده» او په شرعه شريف کښې د مسح د پاره غايت هيڅ ځای نه ده راوړه سوې» عاصي وائي چې زموږ د مذهب دَ ليل يعنې چې وظيفه دَ پښو پريوله ده هغه حديث صحيح دی چې» رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو وخت اودس تازه کړی او پښې يه پريولې او بيا يه دا سې وفرمائيله» هذا وضوء لا يقبل اللهُ الصلوٰةَ اِلَّا بِه» يعنې دا هغه اودس دی چې نه قبلوی خدائ لمونځ مګر په دغه اوداسه»

او بل دليل هغه حديث دی چې بخاري په روايت کړی دی داسې راغلی دی، چې په بعض سفرو کښې د ماز د يګر په وخت کې بعض صحابهؓ اودس په تلوار تازه کاوه چې دَ پښو

د بریولو په وخت کښې پنډې وچې پاتې سوې وې نو آنحضرت ﷺ په لوړ آواز وویل «وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ» او سره ددې چې مقدار د مسحې چې درې ګوتې دې د نورو صحابه ؓ و پریولی وو»

قَالَ الْمُصَنِّفُ ؒ

وَالرَّابِعُ مَسْحُ رُبُعِ الرَّأْسِ

او څلرم مسحه کول دي د څلرمې حصې د سر»

پوهه سه: چې سر څلور حصې دی ۱ ناصیه چې نزله ته وائي ۲ قفا چې د څټ د خوا حصې ته وائي ۳ ۴ قرنان، چې راسته او چپه نهیک ته وائي. نو په هره څلورمه چې مسح وکړي د فرضو غاړې خلاصیږي مګر سنت طریقه مسح کول د ناصیه دی.

فائده: مسح په لغت کی تیرول د لاس دی پر شي باندی. او په شریعت کی تیرول د لاندې شي دی پر نواندام **مسئله** که چیرې یو سړی لوند تو کړ پر سر واچاوه. او یا یه پر لګ سر باران یا واوری اوریدل او څلرم قدر د سر پیه لنده سوه هغه کافی ده که لاس پر تیر کړي او که نه» ط» **مسئله** که سړي لاس ونه پر یوله او پر لاس و یه لند والی وو د سر مسح یه پیه وکړه» مراقي والایه کافی بولي» لکن حاکم شهید یه کافی نه بولي بلکه ماء جدید غواړي او ایضاح والاهم دغه صحیح بولي» او امام کرخی ؒ په جامع کبیر کی د شیخینو ؒ څخه داسې روایت کړي دی» إِذَا مَسَحَ بِفَضْلِ غُسْلٍ ذِرَاعَيْهِ لَمْ يُجْزِ إِلَّا بِمَاءٍ جَدِيدٍ، او د غه روایت په نهر او مجتبٰی کښې هم صحیح ګڼل سوی دی. نو فتوٰی هم پر دغه روایت ده.

بښوونه: مصنف ؒ په فوق الذکر عبارت کی فرض قطعي او فرض ظني سره یو ځای کړي دی ولې چې مطلق مسح د سر فرض قطعي ده لِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ: وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ، او ربع د سر فرض ظني دی» ولې چې امام مالک ؒ مسحه د ټوله سر فرض بولي. او امام شافعي ؒ مسحه د درو ویښتانو کافي بولي»

قَالَ الْمُصَنِّفُ ؒ:

وَسَبَبُهُ اسْتِبَاحَةُ مَا لَا يَحِلُّ إِلَّا بِهِ

سبب د اوداسه طلب او اراده د مباح والی د یو کار چې روانه وي هغه کار. مګر په اوداسه سره. لکه مسح د مصحف شریف، لمونځ، طواف د کعبې شریفې

وَهُوَ حُكْمُهُ الدُّنْيَوِيُّ وَحُكْمُهُ الْأُخْرَوِيُّ الثَّوَابُ فِي الْآخِرَةِ

او دغه حکم د اودس دی په دنیا کی. او اُخروی حکم د اوداسه ثواب دی په ورځ د آخرت کښې یعني د نحه او دس لوول تر دغه کار حکم دا او د آدی په دنیا کی. **مسئله** که چا باره د څنګولو اندامو او دس تازه کړي لمونځ خو پیه روا دی لکن ثواب یه نسته» لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَوٰةُ وَالسَّلَامُ» إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ» الحدیث رواه البخاري: یعني شراح د حدیثو وائي چې ثواب د عملو په نیت پوري اړه لري» قَالَهُ الْعَيْنِيُّ ؒ»

قَالَ الْمُصَنِّفُ ؒ.

وَشُرُوطُ وُجُوبِهِ

او شرطونه د واجب والی د اوداسه **پوهه سه** چې د وجوب څخه مراد مکلف والی او فرضیت دي.

الْعَقْلُ وَالْإِسْلَامُ

یو عقل دی ولې چې فرض والی بیله عقل په شرع کی نسته او بل شرط اسلام دی. ولې چې کفار په فروع د شریعت لکه لمونځ او روژه وغیره مکلف نه دي.

فائده: دا مذهب یو د درو مذهبو څخه دی چې ډیرو فقهاؤ او متکلمینو مختار کړی دی» او بل مذهب دا دی چې کفار مکلف دی په اعتقاد د فرائضو فرعیه وو او په اداء یه هم مکلف دي. بعض فقهاوو دا مذهب صحیح ګڼلی دی» او بعض فقهاء ؒ وائي چې دوی مکلف په اعتقاد د فروعاتو او په اداء یه مکلف نه دي. **تفریع**: پر اول مذهب کفارو ته صرف د کفر عذاب ورکول کیږي. د لمونځو روژو وغیره نه کولو پر عدم اعتقاد او نه یې پر عدم فعل عذاب نسته» او پر دوهم مذهب دوی ته درې عذابه ورکول کیږي، پر کفر عذاب، پر نه اعتقاد د فروعاتو عذاب» او پر نه کولو د فروعاتو عذاب» او پر دریم مذهب دوی ته دوه عذاب ورکول کیږي. د کفر عذاب. او د نه اعتقاد د فروعاتو عذاب فقط»

قَالَ الْإِمَامُ الطَّحْطَاوِيُّ ؒ: وَأَعْدَلُهَا أَوْسَطُهَا، یعني دوهم مذهب ډیر اعدل دی.

ګرولشې وائي چې ددې مسئلې لوی تحقیق په تلویح کی د علامه تفتازاني ؒ سته، او په مسلم الثبوت کی د محب الله بهاري موجود دی. او په لویو فتاوو کښې د فقهې شریفې هم دا مسئله په تفصیل ځیني سوې ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

قال المصنفؒ

وَقُدْرَةٌ عَلَى اِسْتِعْمَالِ الْمَاءِ الْكَافِيْ

اويل قدرت دی د مکلف پر استعمال داوبو. دونه اوبه چې بسينږی د پريولو د ټوله اندامو او داسه **فائده** مراد داوبو نه طهور اوبه دی، نه نجسی او نه مستعملی اوبه. ولی په هغوس اودس نه دی روا **فائده**: مصنفؒ لفظ د قدرت وواېه پر استعمال داوبو. ولی که اوبه موجودی هم وی لکن مکلف يه پر استعمال قدرت نه لري په سبب د مريضۍ يا د دښمن د هغه سري څخه هم تکليف داو د اسقاط دی بلکه تيمم دی وکړی: **وَوُجُوْدُ الْحَدَثِ**: او ښځه سبب په موجود والی د دی او د سيادی. يعنی که سړي اودس د رلودی نو بيا نوی اودس پر فرض نه دی

وَعَدَمُ الْحَيْضِ وَالنِّفَاسِ وَضِيْقِ الْوَقْتِ

اويل نه وی موجود حيض او نفاس. او بل شرط داو داسه واجبوالی تنګ والی د وقت د لمانځه دی ولی چې پر حائضه ښځي يا نفساء باندی لمونځ نه دی فرض نو اودس هم پری نشته **پوهسه**: چې اودس کول په نفس دخول د وخت د لمانځه واجب موسع دی لکن په وخت کښی د وخت د تنګی واجب دی خواه چې دی ته واجب مضيق وائي.

وَشَرْطُ صِحَّتِهٖ ثَلَاثَةٌ عُمُوْمُ الْبَشَرَةِ بِالْمَاءِ الطَّهُوْرِ

او شرطونه د صحت داو داسه دری دی کښيُستل دی د ټوله پوست د هغه اندام چې په او داسه کښی يه پريولل فرض وی لکه مخ لاسونه پښی، حتیٰ که يو ځای د ستنی اېښولو په قدر وچ پاتې سی اودس به نه دی صحیح، مر، به او بو پاکوسره، قَالَ الْمُصَنِّفُؒ

وَانْقِطَاعُ مَا يُنَافِيْهِ مِنْ حَيْضٍ وَنِفَاسٍ وَحَدَثٍ

او قطع به وی هغه شي چې مانع د اوداسه وی. چې حيض او نفاس او حدث دی.

تفريع که ښځه په وخت کی د جريان د حيض يا نفاس اودس تازه کړي هغه هيڅ اعتبار نه لري. او يا نر يا ښځه داودس تازه کولو په وخت کی پښکی يا ګوز وا چوی وغيره هغه تيرسوی اودس يه اعتبار نه لري، قَالَ الْمُصَنِّفُؒ.

وَزَوَالُ مَا يَمْنَعُ وُصُوْلُ الْمَاءِ اِلَى الْجَسَدِ كَشَمْعٍ وَشَحْمٍ

او بل شرط د صحت داو داسه ليري کول دی د هغه شي چې مانع وی د رسيدو څخه داوبو و بدن ته لکه موم يا وازګه چې پر ځای نګولی وی. **ښځا نه فائده**: پوهسه چې رنګ د نکرو زو يا اُسمه يا غوړوالی د واسلينو يا وازګی مانع د صحت داو داسه نه دی بلکه مانع د صحت جرم دی د موم يا وازګی وغيره، و د غه رنګه کی پر اندام داو داسه خطی وی او يا لانده اوږه وه، او دا غه رنګه که د چا په بړه کښی وچ خړان وه کلک هغه به ليري کوی ورنه غسل يه نه دی صحيح،

په ښځو کی آفت: چې نی اودس صحيح کيږی او نی غسل، هغه داسی چې د ډيرو ښځو په ګوتو داسی ګتمی وی چې په زور په ګوته کړي وي، حتیٰ چې هيڅ نه ښورَوی او نی هم دوی په وخت کی داو داسه يا غسل ښورَوی چې او به يه تر ګتمی لاندی ځای ته ورسيږی، نو داسی ښځو غسل او اودس نه دی صحيح. او پر دی قياس ښکرې د لاسو. غوږ والی د غوږو په غسل کی، او بل آفت دادی چې بعض پيشين والا ښځی نوکان د ګوتو په

د ښځو د نوکانو رنګول يو رنګ سره وهی. چې هغه جرم لري يعنی جسم لري) او پر نوک باندی خړ غوړيږي. د داسی ښځو هم غسل او اودس نه دی صحيح. **مسئله** که د چا ښنی چاود لی وی او هغه يه د کوند رو څخه ډکی کړي وی چې په ايستکولو کښی د هغه کوندرو حرج او زحمت وو نو اودس يه روا دئ **مسئله**: که د چا پر کم اندام درد وو. او پلستريه پر اچولی وو نو که يه په ايستلو کښی د هغه پلستر حرج او تکليف نه وو نو اودس يا غسل نه دی ورسره روا،

مسئله که دچا لاس مات وو او شکسته بند ور تړلي وُو، هغه سړي دی مسح کوي په اودس او جنابت دواړو کښي پر هغه تړلي ځای:

مسئله که سړي وغابښ ته د سرو زرو پوښ ورکړي وو لکه بعض مغرورو ... یا ښځي دغه کار کوي نو د هغو غسل نه دی صحیح کی ځرم اودس صحیح دئ. ولي چي پر یوله ... خولي په غسل کښي فرض دی او په اوداسه کی سُنت. **مسئله**: د بعض خلګو غابښ د ننه چنجو خوړلي وي یا درد کوي او غابښ په دکښو د پاڼو زره کیږی. نو د اکثر ... ورسی هغه یه وړ دک کړي یعني په مابین کی غار وکړی او بیا په هغه غار کی پوښ ... وړ واچوی چي دپاکي په وخت کی دا کار وسی دآینده د پاره یه هم اودس صحیح دی ... هم غسل ولي چي د داخل د غابښ پر یوله فرض نه دی» قال المصنف»

فصل

پوه سه چي مصنفؒ هم په دی فصل کی بقیه واجبات او احکام داودس بیان کړیدی

یَجِبُ غَسْلُ ظَاهِرِ اللِّحْیَةِ الْکَثَّةِ فِیْ اَصَحِّ مَا یُفْتیٰ بِهٖ

واجبه ده یعني پر اودس کوونکی پر یوله د ظاهر د هغه ږیري چي ګڼه وي یعني چي وبینتانو یه د پروي چي پوست هیڅ نه ترلا ندی معلومیږی په ډیر صحیح روایت کی چي فتوی په ورکول کیږي. د دی مسئلی دلیل دادی چي ګڼه ږیره په ځای کښی دما تحت پوست ولاړه ده او سر د دغسی ږیری پر یوله د پوست او او به رسول وهغه ته حرج کلی دی » مصنفؒ دا مع په لفظ اشاره وکړه ومذهب ته د بعض فقهاوؒ چي وائی چي پر یوله د ثلث د ږیری او بعض وائي د څلرمي ږیری او بعض وائی سطح د ټولي ږیری کافی ده چي دا روایات صحیح نه دي.

وَیَجِبُ اِیْصَالُ الْمَآءِ اِلیٰ بُشْرَةِ اللِّحْیَةِ الْخَفِیْفَةِ

او واجب دی یعني فرض دی رسول د ابو و پوست ته د سپکي ږیرې.

یعني د مخ پوست ترلاندی معلومیږی چي هغه سړي ته په اصطلاح د پښتنو» خوکړ» وائی.

وَلَا یَجِبُ اِیْصَالُ الْمَآءِ اِلَی الْمُسْتَرْسَلِ مِنَ الشَّعْرِ مِنْ دَائِرَةِ الْوَجْهِ

او واجب نه دی رسول داوبو هغه وبینتانو ته چي کښته ځړیږی تر حدودو د مخ» ولي چي هغه وبینتان نه مخ دئ او نه دمخ بدل دئ.

پوه سه: چي دځوړندو ږیبنتانو دزری په اتفاق فرض یا واجب خو نه دی. او پر صحیح روایت مسح یه هم نه ده فرض او نه هم واجب او نه سُنت: لکن ابن امیر الحاج وائي چي پر یوله یه سُنت دی» او په منیة المصلی کی وائي چي مسح یه سنت ده وَاللهُ اَعْلَمُ»

وَلَا اِلیٰ مَا انْکَتَمَ مِنَ الشَّفَتَیْنِ عِنْدَ الْاِنْضِمَامِ

او دغه رنګه واجب نه دی رسول داوبو د شونډانو هغه ځای ته چي هغه پټیږی چي سړي خوله په عادتی ډول پټه کړي او شونډان سره ټول کړي. **پوه سه**: چي سړي چي شونډان ټول کړي هغه حصه چي پټه سوه هغه تابع دخولي ده. او چي ښکاره وه هغه تابع دمخ ده»

مسئله: دسترګو وداخل ته اوبه رسول نه دی واجب که څه هم په غسل کښي وي ولي چي په دی کښي یو خو حرج دی بل دسترګو ضرر دی» قال المُصنفؒ

وَلَوِانْضَمَّتِ الْاَصَابِعُ اَوْطَالَ الظُّفْرُ فَغَطَّی الْاَنْمِلَةَ

که دچا ګوتي سره جفتي وي په اصل خلقت کښي چي ومابین تی اوبه نه رسیدلي» او یا دچا نوکان دونه اوږده سوي وه چي دګوتي سر یه پټ کړي وُو» علماي وائي چي د بعض پلیشینی او عصري ښځو دغسي نوکان عادت دي» دوي دا زینت بولي» قال المُصنفؒ

اَوْکَانَ فِیْهِ مَا یَمْنَعُ الْمَآءَ کَعَجِیْنٍ وَجَبَ غَسْلُ مَا تَحْتَهٗ

او یا وي په هغه ځای کښي چي پر یوله یه فرض وي یو داسي شی چي منع کاوه یه رسیده داوبو و داخل پوست ته لکه لانده اوړه. واجب او فرض دی پر یوله دهغه لاندي پوست ته

Maktaba Tul Ishaat.com

یعنی منعه مانع چې نوکان دي یا اوږه هغه به لري کوي. قــال المصنف

وَلَایَمْنَعُ الدَّرَنُ وَخُرْءُ الْبَرَاغِیْثِ وَنَحْوُهَا

اونه منع کوي صحت داو داسراو د غسل خیره چې د نوك او وعدیو ترمــا بین وي

پوه سه: چې بعض فقهاءُ داسې وائي چې دا حکم د صحرائي خلګو دپاره دی چې دغاوړو اوختموسره ئې سري کار وي. او د بازاري سړي دپاره مانع د صحت دئ. لکن صحیح داده چې دا حکم عام دی. او د غړ رنګه یه نه منعه کوي دکیکو غُل چې پر اندام وي. اویا مثلاً دکیکو لکه چې ګانه

وَیَجِبُ تَحْرِیْكُ الْخَاتَمِ الضَّیِّقِ

اوواجب دی ښورول د تنګې ګتمې چې اوبه پوست نه ورسیږي. قــالَ المصنف

وَلَوْضَرَّهٗ غَسْلُ شُقُوْقِ رِجْلَیْهِ جَازَ اِمْرَارُ الْمَآءِ

که چیري تاوان ورته کاوه پریوله دچاودو دپښو یعنی پس له دی چې سړی کنډري یا بله

عَلَی الدَّوَآءِ الَّذِیْ وَضَعَهٗ فِیْهَا

پکښې اچولې وه. نو روا دی تیریدل داوبو په وخت کښې د پریولو د پښو پر هغه دواء چې ده ایښی ده په هغه چاودو کښې،

وَلَایُعَادُ الْمَسْحُ وَ الْغَسْلُ عَلٰی مَوْضِعِ الشَّعْرِ بَعْدَ حَلْقِهٖ

اونه دی راګرځوی مسح د سر او پریوله پرځای د وینستانو. اونه دی راګرځوي پریولو پس

وَلَا الْغَسْلُ بِقَصِّ ظُفُرِهٖ وَ شَارِبِهٖ

پس له پرې کولو د نوکانو اویا پرې کولو د بریتو د وینستانو، حاصل دادی که یو سړی اودس تازه کړي چه هم ئې اودسه وي او پر سر یه مسح وکړه او بیا یه سر وخرایه دمسح د سر راګرځول نه غواړي-

اویا یو سړي غسل وکړي که څه د جنابت وي او وروسته یه سر وخرایه. اویا یه نوکان پرې کړه. اویا یه بریتونه ووهله نو د سر پریوله یا د ګوتو پریوله یا د بریتو وینستانو لاندې ځای پریوله نه غواړي، د دی ټولو مسئلو دلیل دادی چې پریوله یا مسح په وینستانو سا قط سوه" وَ السَّاقِطُ لَاَ یَعُوْدُ".

مسئله: بیله له غسله کی سر وخرایه راګرځول دغسل یعنی پریولو مستحب دی" کــنز فی زراقی

فَصْلٌ
فِیْ سُنَنِ الْوُضُوْءِ

درویش وائي د سنت په باره کښې په زړه پورې تحقیق، **پوه سه** چې سنت په لغت کی هغه قول یا عمل دی که ښه وي او که بد! چې په حدیث کښې چې طبراني یه روایت کړي دی:

انحضرت صلی الله علیه وسلم فرمائي: مَنْ سَنَّ سُنَّةً حَسَنَةً" که چا پرانستل یوه لار چې ښه وه، لکه چې فقراؤ ته چې ډوډی ورکوي، یا یه پُل جوړ کړي یا یه دیني مدرسه جوړه کړه وغیرها" فَلَهٗ اَجْرُهَا مَا عُمِلَ بِهَا فِیْ حَیَاتِهٖ وَ بَعْدَ مَمَاتِهٖ حَتّٰی تُتْرَكَ" اوکه کښینول یوه طریقه بده نو پر ده یه ګناه ده تر هغو چې هغه طریقه پا تیږی. مثلاً یو سړي په بازار کی د شرابو چښلو ځای جوړ کړي، یا د چرس څکولو ساقي خانه جوړه کړي" یا د وي، سی، آر، تجارت کاوه او نور د دغه قسمه عملونه چې تفصیلاً یه بیان ګران دئ.

او سُنت په اصطلاح کی د شرع شریفی، "طَرِیْقَةٌ مَسْلُوْکَةٌ فِی الدِّیْنِ بِقَوْلٍ اوفِعْلٍ" هغه لاره چې تلل پرکیږی په دین کی که په قول سره وي اوکه په فعل سره وي، "مِنْ غَیْرِ لُزُوْمٍ" چې لازمه یعنی خواه مخواه غوښتونکی نه وي" په دی قید سره فرضی کار" خارج سو ولې چې هغه لازم دي. وَلَا اِنْکَارَ عَلٰی تَارِکِهَا"

اونه په شرع شریفه کښې انکار کیږي پرېږي بنو ونکی یه» په دی قیدسره واجب وَوَتلي ولې چې پر تارك الواجب باندی انکار رسته په شرع کښې» وَلَيْسَتْ خُصُوْصِيَّةً» اونه وی په چاپوری خاص وی، په قیدسره خواص دَ نبی عَلیه السلام وَوَتلی» لکه صوم الوصَال یعنی دورځی اودَ شپې روژه»

فـائـدہ، سنت دوه قسمه دی. یو سنت مؤکده دی. چې سنت الهدیٰ هم ورته وَائی. او سُنت راتبه یه هم بُولی. سنت مؤکد هغه کار دی چې رَسُول کریم صَلی الله عَلیه وسلم په اکثروا وقاتو کښې کړي وی او بیخي لږ یه په بعضی وقتوکی برې ایښی وی، چې دَ غرته د فقهی شریفې په کتابو کښې مجازًا مواظبت وَائی. لکه اذان، اقامَت اوجماعَت، اود نځوسره لمونځو راتب سُنت، اومضمضه اواستنشاق وامثالهَا»

دسُنَّتِ موکَدہ حُکم: علامه قهستانیؒ وائی چې دی په حکم کښې دَواجب دی. چې دنیا کښې طلب حُندی کیږي. فرق یه دادی چې تارك ته دواجب عقاب داور دی که چیری بخښنه وَنه سي. او تارك ته دسُنت مؤکده عتاب اوسرزنش سمته په وَرځ د قیامت» اوپه جوهره کښې چې د قنیه نځي نقل کړي دی وَائی چې تارك دسُنت مؤکده فاسِق دی اومنکر یه مبتدع دَی. اوپه تلویح کښې وَائی چې ترك دسُنت مؤکده نږ دی دیے وحرام ته. اودغه سړي مستحق دی حرمَان د شفاعت نبوی ﷺ قَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ: مَنْ تَرَكَ سُنَّتِي لَمْ يَنَلْ شَفَاعَتِي»

پـوښـتـنـه: په حَدیث صحیح کښې رَاغلی دي چې رَسُول الله صَلی الله عَلیه وَسلم فرمائیلی دی» شَفَاعَتِي لِاَهْلِ الْكَبَائِرِ مِنْ اُمَّتِي» نو څرنګه ترك د سنت مؤکده سبب د حرمان د شفاعت نبوی ﷺ دی سره ددی چې ترك د سنت مؤکده ګناه کبیره نه

جوابْ شفاعت نبوی ﷺ دوه قسمه دی. یو پاره د بخښنی د ګناه دی هغه شفاعت خو عام دی. هیڅ خولك حُندی محروم نه دَی. او بل شفاعت دپاره د رفع دد درجو په جنت کی تارك د سُنت مؤکده ددی شفاعت نځنه محرومردیٔ. کذا قال شراح الحدیث

تنبیـه: بزیره ترقدره پوری دَقبضی سنت مؤکد دَی. لکن بعض مسلمانان یه په

متابعت د کفارو څرَیي یا یه منډی کوي» اویا یه د ما ینی دخوشحالی دپاره»

اوبل قسم سُنت زائده دی. چې ورته قسم اهل اصول الفقه مستحب اومندوب اوآداب وائی که څه هم بعض ففهاءٔ لکه صاحِب محیط فرق ددی دري سره وو وَائی» لکن امام طحطاوی وَائی» وَالاَوْلٰی مَا عَلَيْهِ الْاُصُوْلِيُّوْنَ» ددی مثال لکه مسح د رقبه په اوداسه کی یا نفلی لمونځ یا نفلی روژه، یا نفلی صَدقه»، حاصل دا چې سنت زائده هغه کار دی چې علیه السلام هم کړې هم پرې ایښی وی اوفعل یه تر ترك غالب نه وي» فَـقَالَ الْمُصَنِّفُ

وَيُسَنُّ فِي الْوُضُوْءِ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ شَيْئًا

اوسنت دی په حال کښې داوداسه اتلس[18] شیان.

پوه سَـه: چې مصنفؒ تصریح په ۱۸ اتلس شیانو سره د پاره د اسانی دپیاد وَلو پرطالب وکړه. ورنه سُنت داوداسه حصر په ۱۸ اتلس کی نه دی» مر» قَالَ

غَسْلُ الْيَدَيْنِ اِلَى الرُّسْغَيْنِ

پریوله دی د لاسو یعنی په ابتداء کی داوداسه تر بند و پورې» **پـوه سَـه:** چې پریولِه دَلاسو خو سُنت دی که د خوبه را وینې سی اوکه د سره وینې وي» لکن دَخوبه چې راوینې سی نو پریوله یه ډیر» اَکَد سنت دی لکه چې په حدیث کی د بخاری داسی راغلی» اِذَا اسْتَيْقَظَ اَحَدُكُمْ مِنْ مَنَامِهِ فَلَا يَغْمِسَنَّ يَدَهُ فِي الْاِنَاءِ حَتّٰى يَغْسِلَهُ ثَلَاثًا» الی اخر الحدیث»

دفقهاوُوُ اختِلاف:

صاحبُ المحیط وَائي چې دواړه لاسونه په جمعه کو لو سره د رې وَاره پریولِه سنت نه دی. اوابن امیر الحاج وائی دَغسی کول سُنت دی په بحر رائق کی وَائی چې یو پلا دواړه لاسونه دری وَاره پریوله اویا جلا جلا پریوله دواړه روا دی. کی جلا پریوله نو دی په چپه لاس لوښی وَنسی او پر راسته لاس دی را توی کړي چې هغه یه پریولئي بیا دی چپه لاس جلا پریمنځي بیا دی راسته لاس سره جوت

Maktaba Tul Ishaat.com

کړي دواړه دی پریمنځي. **فائده**: دَلاسو پریولو هَلته سنت دی چې نجاست ظاهر نه وی پر باندی او که نجس وَه نو بیا یه پریولو فرض دی۔

نادره مسئله: امام طحطاویؒ په صلٰ کی وائی که دسړي لاسونه په ظاهري نجاست مردار وه او لوښی داوبو ونه غښتي وو چې را اکبو وائی ممکن نه وو. نو که ده کولای سوای چې په دسمال یا دلنگوټي په شمله یا په خوله اوبه دلوښی نه را واخلی او لاس په پریمنځی خو دی نه. او که دا اګر ده کار و نه نه کیدل نو تیمم دی وکړی او لمونځ دی ادا کړي او را اګر ځول دَ لما غرته هم پری نسته» کذا قال القهستانیؒ

فائده: دا اول پریولو دلاسو سنت دی لکن په ځای کی دفرضو دی بی» کافی او فتح القدیر وائي چې پریولیه فرض دي» د مخنه کول یه سُنت دي، ط قال

وَالتَّسۡمِيَةُ اِبۡتِدَآءً او بل تبسم الله ویل وار دَوَاړه یعنی په ابتداء کی داو داسه **مسئله** کی استنجاء وَهَله نو تر کشف یعنی لَخ والی دعورت دی دَ مخنه دی ببسم الله وَوَائی» او بیا دی په نیز دبعض فقهاو دَ نو را و یا سره دی هم وَوائی» او که استنجاء یه نه وهل نو دنور او داسه په ابتداء کښی دی ووائی. او لفظ دَ» ببسم الله داوداسه چې دسلفو څخه منقول دی دا سی دی۔ باِسۡمِ اللّٰهِ الۡعَظِيۡمِ وَالۡحَمۡدُ لِلّٰهِ عَلٰى دِيۡنِ الۡاِسۡلَامِ» او بعض علماءؒ وائی چې افضله بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ» دَئ. ولی چې اودس امرذی بال دی. او د امرذی بال په ابتداء کښی بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ شوول سوی دَه»

لکن داسی سوال وارديږي چې دا امرذی په ابتداء کی خو حمد ویل هم ارشاد نبویؐ دی نو ځکه بنایه دَمجتبی څخه داسی نقل کړي دی» که څوك په ابتداء کی داوداسه داسی وَوائي» بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ بِاسۡمِ اللّٰهِ الۡعَظِيۡمِ وَالۡحَمۡدُ لِلّٰهِ عَلٰى دِيۡنِ الۡاِسۡلَامِ دَ تولو احادیثو امتثال به وکړه سی»

اللهم اغفر لمولفه و لکاتبه و لوالدیهما کتبه احقر فضل الحق حقانی غفرله

دفقهاوو اختلاف

پوهسله: چې ببسم الله په ابتداء کی داوداسه په نیزد مصنف حسن بن عمار بن علی الشرنبلالیؒ: سنت مؤکد دی» او مبسوط والا یه هم سنت مؤکد بولي. او په محیط او تحفه کښی هم سنت مؤکد گڼل سوی دی» واختاره القدوریؒ والطحاویؒ وصاحب الکافیؒ.»

او علامه مرغینانیؒ هم دا رایه صحیح بولي. لقوله علیه الصلوٰة والسلام» لَاصَلٰوةَ اِلَّا لِمَنۡ لَاوُضُوۡءَ لَهٗ وَلَاوُضُوۡءَ لِمَنۡ لَمۡ يَذۡكُرِاسۡمَ اللّٰهِ عَلَيۡهِ» رواه ابوداؤد والترمذی والحاکم فی المستدرک

او صاحب هدایه وائي: چې اصح یه داده» ببسم الله ویل مستحب دی. او شارحانو یه وجه ضعف دَحدیث مذکور بیان کړي دی» لکن امام طحطاویؒ وائي چې دَدی حدیث طرق دروایت ډیر دی» نو درجه ته دحسن حدیث رسیږی، او په حدیث حسن سنیت ثابتیږی» حتی چې کمال الدین ابن الهمامؒ په دغه حدیث سره وجوب ببسم الله ثابت کړي دی: وَاللّٰهُ اَعۡلَمُ

مسئله: که دسړي څخه په ابتداء کی داوداسه ببسم الله وَیل هیر سوه بیا یه په مابین کښی داوداسه ووَیله آیا سُنت یه پر ځای کیږی که نه! **جواب** مراقی وائي چې سُنت یه نه پر ځای کیږی او په سراج او جوهره کښی وائي چې ببسم الله دی په مابین کی داوداسه وَوائی. ولی چې سُنت که فوت سوا دَه اوداسه پر ځای سی» ط، م

وَالسِّوَاكُ فِىۡ اِبۡتِدَائِهٖ وَلَوۡ بِالۡاُصۡبُعِ عِنۡدَ فَقۡدِهٖ

او بل سنت داوداسه» مسواك وَهَل دی په ابتداء کښی داوداسه که څه هم په ګوته سره وی په وقت کښی د دې چې مسواك نه وی» **پوهسله**: چې لفظ ده سواك په زیر دسین هغه لرګی ته هم وائي او فعل ته دَوَهلو هغه پر غاښونو باندی هم وائي دلته دغه معنا مراد دَه»

فضائل دمسواک

په حدیث صحیح کی په روایت د بخاری رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی: لَوْلَا اَنْ اَشُقَّ عَلٰى اُمَّتِیْ لَاَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلٰوةٍ « یعنی په نیزدِ اوداسه دمر لمانځه لکه چی په بل روایت کښی داسی راغلی دی عند کل وضوء » او په بل روایت کښی داسی راغلی دی « اَنَّ كُلَّ صَلٰوةٍ بِهٖ » هرلمونځ دمسواک وهلو وی « تَفْضُلُ سَبْعِیْنَ صَلٰوةٍ بِدُوْنِهٖ » بالا دی تر او یا لمونځو چی بی مسواک وهلو وی »

فائده: مسواک به د نرم پاسته لرگی څخه بوی. پنډوالی بی په قدر دگوتی وی او اوږدوالی به ئی په ابتداء کښی یوه لوبښت وی. او زخې به ډیری نه لری. او کوږ به نه وی، اکثر فقهاءؒ بردی دی چی مسواک دی په وخت کښی دمضمضه وی » او بعض وائی چی تر تهوله اوداسه دی د مخه وهی » او داحنافوؒ مذهب دادی چی مسواک وهل دسُنتو څخه داوداسه دی » او اهل ظاهر وائی چی د سُنتو څخه د لمانځه دی »

مسئله: مسواک وهل بی اوداسه مستحب دی کی دخولی بد بوی تلی » او بل چی دخوبه راوپښ سی او یا کوړته ورځی یا اجتماع ته دخلگو ورځی. او په وخت دقراءت دقرآن یا علم حدیث » دحضرت الامام الاعظمؒ څخه روایت دی چی مسواک وهل د سنتو څخه د دین دی. نو هر وخت یه وهل ښه کار دی. قَالَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ: اَلسِّوَاكُ مُطَهِّرَةٌ لِلْفَمِ مَرْضَاةٌ لِلرَّبِّ: مسواک وهل پاکوونکی دخولی دی او سبب درضاء الهی دی. امام زیلعیؒ په شرح کښی دکنز وائی چی صحیح دادی چی مسواک وهل مستحب دیؒ دراولتی وائی که مونږ احادیث صحیحه چی تهولو صحاح کتابونو یه روایت کړی او په ډیر کثرت سره احادیث په باره کښی دمسواک راغلی دی مطالعه کړو. نو باید چی قول د زیلعیؒ تائید نه کړو او سره ددی چی متنونه یه سُنت بولی » او بعض علماءؒ په دی قول دصاحب هدایهؒ خطاوتلی دی چی وائی اَلْاَصَحُّ اَنَّهٗ مُسْتَحَبٌّ، مگر ددی عبارت مراد امام طحطاویؒ داسی بیان کړی دی » یعنی فی الوضوء ومطلقًا »

مسائل دمسواک

مسئله: مسواک دی دمخه تر استعمالولو لونډ کړی **مسئله:** او پس له مسواک وهلو ... **مسئله:** مسواک به اول او ... پری مینځی ورنه شیطان یه پخوله وهی » **مسئله:** مسواک به اول او صلوٰة ... پری مینځی ورنه شیطان یه پخوله وهی ...

... بالا نه وی اونه کم. وروسته په کرار کرار که کښنی سی بروانه لری ... دلوښت بالا نه وی اونه کم. وروسته په کرار کرار که کښنی سی بروانه لری.

مسئله: دمسواک لرگی دی تریخ وی. ولی چی داسی لرگی بلغم قطع کوی. او د سری سینه پاکوی. **مسئله:** که دسړی وړی ضعیف وی او دهر اوداسه دمسواک وهلو څخه په وری د نقصان بیره وه نو پرداسی سړی همیشه والی لازم نه دی بلکه کاهی کاهی ... وهی » ط، ص۵۲ **مسئله:** که غابنونه یه کښلی وه یا ختلی وه هغه دی دمسواک په ځای کی زیږ تکړ یا بته گوته یا وروسته گوته په وری پوری ومونږ ک دمسواک ثواب خدای ورکوی » **مسئله:** دښځی وری چونکه ډیری ضعیف دی نو ښځه دی د مسواک په ځای کښی ژاولی ژولی. **مسئله:** که ښځه په عادتی توگه ژاولی ژوی او د مسواک د ثواب دپاره یه نه ژولی هغی ته خدای ج ثواب نه ورکوی » لِاَنَّهٗ قَدْ وَرَدَ « اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّاتِ » رواه البخاری »

دمسواک نیولو طریقه:

مسئله: کیفیت دمسواک دنیولو طریقه د راسته لاس کښنی گوته دی تر مسواک لاندی ونسی. او بته گوته دمسواک تر سر لاندی ونسی، او هغی دوی گوتی دی پر مسواک سر باندی ونیسی، **مسئله:** مسواک دی د وهلو په وخت کښی په موټه کښی نه نسی، چی سړی ته مواسیر پیدا کیږی. **مسئله:** په پروتی دی هم مسواک نه وهی چی بیا یه توری غټیږی **مسئله:** مسواک دی پر عرض دغابنو وهی نه پر طول دهغو ولی چه وری تاوانی کیږی. **مسئله:** مسواک دی دغابنو پر دباندی او پر دننه دوارو وهی » او د خولې په کنجانو کښی او په لوړتالو او کښته تالو دوارو کښی وهی. **مسئله:** مسواک دی ز بیښنی نه. ولی نه بایده په ستر گو روندنه سی، **مسئله:** هغه ناری چی په خوله کښی دسړی وی پس له مسواک وهلو څخه او وینه

Maktaba Tul Ishaat.com

په ګڼه نه وي هغه دی تیری کړي چې دَغه ناړې و « اِتِّشلُك » او « يِس » ته ګنه
رسوی او د هر مرض دواده ما سوا د مرګه » ط » **پوه سه**: چې شیخ احمد الزاهد
فضائِلو کښی دمسواك یو کتاب تصنیف کړی دی نوم یَه « تحفةُ السَّلام فی فضائل الس
په هغه کتاب کښی وایئ : مِن فضائله ما روی الائمة الاربعة عن علیؓ وابن عباسؓ
عطارؒ « عَلَيْكُمْ بِالسِّوَاكِ[1] » تاسی لازم وګرځوی پرځان دمسواك وهل »
فَلَا تَغْفُلُوْا عَنْهُ « غفلت مه ځندی کوی » وَاَدِيْمُوْهُ « او همیشه توب پر وکړی » و
فِيْهِ رِضَى الرَّحْمٰن « چې په مسواك وهلو کښی رضا د رب جل شانهٗ » ۳ او د وچنده کښ
هغه لمونځ چې مسواك یه وهلی وی تر ۹۹ مثله پوری بلکه تر ۴۰۰ مثله پوری » ۴ او همی
توب پر مسواك وهلو باندی فراخی د رزق او د غنیٰ - او اسانی د رزق په پیدا کولو کښ
فائده ده » ۶ او خوله یه خوشبویه کیږی ۷ او وری ټینګیږی ۸ او د سر درد یه الهی
۹ او د سر رګونه به لئ پر خپل حال وی یعنی یو رګ چې ساکن دی حرکت به هغه نه کوی » او چ
متحرك وی هغه به ساکنیږی نه » ۱۰ او بلغم یه لیری کوی . ۱۱ او غابښونه ټینګوی
۱۲ او د سترګو دید زیاتوی (تیز وی) ۱۳ او معده په ښه قوت سره پالنه د بدن کوی
۱۴ او وسړي ته فصاحت د ژبی ۱۵ او قوت د حفظ او عقل ورکوی » ۱۶ او زړه د شیط
وسوسو څخه خلاصوی » ۱۷ او نیك عملونه یه زیاتیږی ۱۸ وَيَفْرَح المَلائكة . ۱۹
او سَتَرِي مَسی ور سره کوی په سبب د نور د مخ یه » ۲۰ او ملائکه ور سري ملګري
وی تر لمانځه پوری ۲۱ او طلب د بخښنی کوی ورته ملائکه د عرش » او ۲۲ مسواك
وهل هضم کوونکی د طعام دی » او د ۲۳ اولاد د ډیر والی سبب دی ۲۴ او طلب د بخښنی
یه کوی انبیاء او رسولان علیهم السّلام » ۲۵ او مسواك وهل په غضب کی اچوونکی د
شیطان دی ۲۶ او شړونکی د شیطان دَئ ۲۷ او ذهن صافوونکی دی ۲۸ او بدن ته
قوت ورکوی پر عبادت دخدایؒ ۲۹ او حرارت مضره د بدن څخه لیری کوی . ۳۰ او پر پل
صراط به لکه برق داسی تیریږی ۳۱ او وینتر به یه ژر نه سپینیږی . ۳۲ او عمل نامه
به ورځ د قیامت په راستلاس ور کول کیږی ۳۳ او ملائکه ته قوت ور کوی ۳۵ او کلمه شهادت

په وخت د نزع ور پیادیږی ۳۶ او ز کندن بی په آسانی سره وی » ۳۷ او غابښونه به ئې
پیین وی ۳۸ او د خولی بی ښه بوی ځی » ۳۹ او ژبه بی په خبرو کښی تیزه وی . ۴۰ او
حکمت بی ډیر وی ۴۱ او رطوبات بی فاسده کم وی ، ۴۲ او د سترګو نظر بی تیز وي
۴۳ او ثوابونه د ښو عملو بی مضاعف وی ۴۴ او مال او اولاد بی مخ پر ډیریدو وی ۴۵
او مسواك وهل کمك دی پر پوره کیدو د حاجتو دَه ۴۶ او په قبر کی به ور ته فراخی وي
۴۷ او په لحد کښی به انیس ور سره وی ۴۸ او ده ته لیکیږی ثوابونه د هغو کسانو چې
مسواك یه نه وی وهلی په دغه ورځ ۴۹ او خلاصِ به وي ده ته دروازی د جنتو
۵۰ وتقول المَلائكة او وائی به ملائکه په حق کی د دغه سړي چې مسواك یه خپل عادت
ګرځولی وی « چې د دے سړي اقتداء په انبیاء علیهم السّلام پسی کړیده . ۵۱ او تړلی
به وی ورَه ته دروازی د دوزخ ۵۲ او نه به وزی د دنیا څخه مګر طاهر او پاك ۵۳ او ده
ته نه راځی ملك الموت مګر په هغه صورت کی چې دخدایؒ دوستانو ته ورځی .
۵۴ او د دنیا څخه به وزی ترڅو چې ده ته یو غړپ او به د حوض کوثر د نبی علیه السلام ور
نه کړي : ۵۵ او مسواك وهل صفا کوونکی دی دَخولی » ۵۶ او راضی کوونکی د رب جل جلاله
اِنتهی ما فی الکتاب المذکور بنقل الامام الطحطاویؒ ص ۵۳/۵۴ وقال فی ص ۵۵ چې دا فضائِل
ټول روایت سوی دی . د آنحضرتؐ څخه بعض په مَرفوع حدیث او بعض په موقوف
حدیث که څه د بعض دَدغو حدیثو په اسناد و کښی څه خبری محدثینو کړي دی » لکن
د عمل د پاره کافی دئ . ولی چې په حدیثو شریفه وو کی راغلی دی چه چاته ور سیږی خبر د عمل
د ثواب نو سړي هغه کار د پاره دَطلب د رضا دخدایؒ وکړي خدایؒ ثواب ور کوی » که څه هغه خبر
درست او صحیح نه وی »

زه ورلیس وایئ چې غرض د مُصنف د تحفة السّلام » په بیان کښی دَدغو فوائد دَمسواك
وهلو چې وه ص ۵۵ تر رسیږی » صرف باعث کول دی د مسلمانانو و مسواك وهلو ته » ولی چې
ډیر عوام بلکه بعض طلباء او علماء کلك عزم د مسواك وهلو سره په هر او داسه کی نه لري » نو دا
سوال نه پیدا کیږی چې په دَغو خواصو کی بعضِ دَ بعضو په مآل کی یو شی دئ .

یایوه خامه بلی خاصی ته مستلزمه ده نودونه دیروالی ته ضرورت ځروو، داوو
مفصل په باره کښې دمسواك وهلو. قـــال المصنف

وَالْمَضْمَضَةُ ثَلَاثًا وَلَوْ بِغُرْفَةٍ

په خوله اوبه لغړول دي که څه هم دیوی لپی څخه وي. په حدیث مبارك کښې راغلی دي «تَوَضَّأَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثًا وَاسْتَنْشَقَ ثَلَاثًا يَأْخُذُ لِكُلِّ وَاحِدَةٍ مَاءً اَجَدِيْدًا» يعنی آنحضرتؐ اودس تازه کاوه نویه په خوله اوبه ولغړولی دری واره اوپه پزه یه اوبه ولغړولی دری واره. اودهر واره دپاره نوی اوبه اخستلی.

سوال: مصنفؒ وویل که څه هم دیوی لپی څخه وي یعنی دیوی لپی څخه دری واره اوبه په خوله ولغړولی او په حدیث کښې چی تیر سو آنحضرت دهری پلا دپاره نوی اوبه اخستلی.

جواب په مضمضه کښې اصل په خوله لغړول یو سنت دی او تکرار داوبو بل سنت نو د مصنفؒ مراد دادی چی دیوی غرفی څخه اصل سنت پرځای کیږی که څه هم سنت د تکریر پاته سو. قـــال المصنف

وَالْاِسْتِنْشَاقُ بِثَلَاثِ غُرُفَاتٍ

پوهسه: چی استنشاق په لغت کښې اوبه دی پریمنځی په دړو لپو سره» او په اصطلاح کښې د شرع شریف کښې کشول داوبو دی په هواء دپزی وپزی ته» یعنی کشول داوبو په هوا دپزی په شرع کښې سنت نه دی کذافی النهر. **پوهسه** څه سبب دی چی مضمضه دری واره یو لپه رواده او د استنشاق دپاره خواه مخواه دری لپی غواړي **جواب** فرق دادی چه شوندان دخولی پر بعضو لپو اخستلو د لپی څخه سره تولیږی نو باید اوبه په لپه کښې نه مستعملیږی، او پزه دغسی نه ده پاته او به مستعملی گرځی» کذافی الجوهرة والشرنبلالیة:

سوال: په حدیث صحیح کی د بخاری وغیره داسی راغلی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم یو لپه اوبه واخستلی ځه یه په خوله کښې واچولی او نوری په پزه کی یعنی په یوه لپه مضمضه او استنشاق وکړی او دوه واره یه نور داغسی وکړه **جواب** عینی شرح د بخاری کی وائی چی دا فعل د علیه السلام د بیان دجواز دی یعنی چی داسی هم رواده او اصل سنت خو هغه وو چی بیان سو:

پوښتنه: که سړي دیوی لپی څخه اول په پزه اوبه ولغړوی او نوری په خوله داسی رواده او که څرنگه **جواب** نه ده روا یعنی استنشاق وبه صحیح دی مضمضه یه نه ده صحیح» ولی چی موږ وویله چی دپزی څخه پاته اوبه مستعملی گرځی. او په مستعملو اوبو نه سنت پرځای کیږی او نه فرض کما مَرَّ فی صدر الکتاب»

فرع: که سړي دجنابت په وخت کښې دغسی وکړه نود مضمضه دفرض والی غاړه نه ... خلاصی. قـــال المصنف

وَالْمُبَالَغَةُ فِى الْمَضْمَضَةِ وَالْاِسْتِنْشَاقِ لِغَيْرِ الصَّائِمِ

اومبالغه دی کوی په مضمضه کښې او په استنشاق کښې» لکن غیر د روژی والا څخه یعنی هغه دی مبالغه په یو کښې نه کوی کی څه هم روژه نفلی وي. ولې نه بایده اوبه په دخولی یا دپزی دخوا څخه حلق ته ولاړي فسی» او روژه ماته نه سي»

پوهسه: چی مبالغه په مضمضه کښې داده چې اوبه په خوله کښې وگرځوی غرغره یه کړي، او مبالغه په استنشاق داده چې اوبه دپزی په هوا پورته کش په چی ترنرمکانو یا لوړ ورسیږي» **مسئله** مبالغه کول په مضمضه او استنشاق کی په اراده او غسل دواړو کی سنت ده» وَهُوَ الصَّحِيح او لبعض فقهاءؒ وائی چی په غسل کی واجب ده»

اللّٰهم اغفر لکاتبه ولمؤلفه آمین.

Maktaba Tul Ishaat.com

امام طحطاویؒ وائی چې مضمضه او استنشاق سره د سُنت والی پراوه سنتونو باندې مشتمل دی ۱ ترتیب یعنی خوله د مخه پریوله او پزه وروسته، ۲ هر یو درې واره پریوله ۳ نوی اوبه د هرې پله د پاره اخستل، ۴ او د وارهدې په راسته لاس کوي ۵ مبالغه په دواړو کې ۶ د خولې اوبه بیرته تو کل، ۷ پزه په چپه لاس سونړکول. **فائده**: چونکه د خولې منافع ډیر وه تر پزې نو دی سببه مضمضه تر استنشاق د مخ سوله» قَالَ المُصنفؒ

وَتَخْلِيْلُ اللِّحْيَةِ الْكَثَّةِ بِكَفٍّ مِّنْ مَّآءٍ مِّنْ اَسْفَلِهَا

او بل سُنت داودا سه گوتې داخلول دی په هغه ږیره کښې چې گنړه وي یعنی پس له درې واره پریولو مخه په یوه لپه داوبو دلاندې دخوا مخ د ږیرې. یعنی یوه لپه اوبه دی واخلي او لاندې تر ږیرې دی گوتې په ږیره کې داخلي کړي **پوه سه** چې مروائی چې قول دامام ابي یوسفؒ دی. او صحیح روایت دامام محمدؒ مخ هم دی. ولې چې په حدیث کې دانسؓ چې ابوداؤدؒ یه روایت کړي دی داسی راغلی دی» کَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَلِّلُ لِحْيَتَهُ» او دا معلومه خبره ده چې ترمذي په شمائلو کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم وائی چې ږیره مبارکه د علیه السلام گنړه وه او ډیر ویښتان یه وه» او حضرت الامام الاعظمؒ تخلیل د ږیرې فضیلت بولي» قَالَ المصنفؒ.

وَتَخْلِيْلُ الْاَصَابِعِ

او بل سُنت داودا سه خلالول دی د ټولو گوتو دلاسو یعنی دلاسو و پښو» لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ السَّلَامُ مَنْ لَمْ يُخَلِّلْ اَصَابِعَهٗ بِالْمَآءِ خَلَّلَهَا بِالنَّارِ»

کیفیت د تخلیل»

دلاسو گوتې دې یو بعض په بعضو کښې داخلي کړي، او د پښو د گوتو خلالول دادي

په گوته دلاس دی په مابین دگوتو د پښو و وهي؛ **مسئله** که پښې په جاري اوبو کښې داخلي کړي بیا تخلیل نه غواړي» مراقی» ط» **مسئله** که څه هم فتاوی تخلیل د گوتو د پښو یو خاص کیفیت بیان کړی دی او امام نوویؒ و هغه کیفیت ته ترجیح هم ورکړي ده. لکن کمال الدین ابن الهمامؒ او ابن امیر الحاجؒ پر هغه کیفیت رد کړي دی او مطلق خلالول یه خوښ کړي دي. قَالَ المُصنفؒ

وَتَثْلِيْثُ الْغَسْلِ

او درې نگه سُنت دی درې واره والی د پریولو یعنی مخ او د لاسو او د پښو **پوه سه** چې په بحرالرائق او نورو کتابونو کښی دفقه کې وائی چې درې واره پریوله مستوعب یعنی د ټوله اندام سُنت دی» غبرگو لپوته اعتبار نسته» حتی که یو اودس کوونکی په یوه غبرگه بعض مخ یا لاس یا پښه پریوله» او په بله غبرگه یه بل بعض د هغه اندام پریولی. او په بله غبرگه بل حصه اندام په پریوله» دا درې سره غبرگې دیوه وار پریولو حکم لري» یعنی سُنت نه پرځای کیږی» اکثر عوام بلکه بعض بی تقوی ملایان هم دغسی کوي»

فائده، اول وار پریوله فرض دي او دوه وار نور سنت مؤکد دی پر صحیح مذهب» کذا فی السراج واختاره فی المبسوط وایده فی النهر، هکذا قال الطحطاویؒ

تنبوونه: په حدیث مبارك کی داسی راغلی دي» فَمَنْ زَادَ اَوْ نَقَصَ فَقَدْ تَعَدّٰی وَظَلَمَ، ترجمه: که چا زیا توب وکړی تردرې واره هغه ترحد مسنون تجاوز وکړي یعنی گناه کار دی. او که کم والی وکړي تر درې ۳ واره هغه ظلم وکړی پر ځان سبب د پرې ښوولو د سُنت: په مراقی الفلاح کی وائی اِلَّا لِضَرُوْرَةٍ» په ضرورت مخ دادی چې بالکل یه د زړه داطمنان د پاره وي.

مهمانه فائده په بعض کتابو کښی دفقه شریفې وائی؛ که بالکل د پریولو که په نیت د» وَضُوْءٌ عَلَى الْوُضُوْءِ» وه نو پروا نه لري، ولې چې په حدیث شریف کی راغلی دی چې» وضوء عَلَى الوضوءِ» نور دی. لکن په بحرالرائق کی

وائي چې وضوء على الوضوء په يوه مجلس کی هلته نور دی چې په اول اودا سره يو عبادت وکړی لکه، لمونځ، سجده تلاوت، مس د مصحف شريف، يا تسبيح، او که يا نور، ورنه بيله دي. تکرارا لوضوء مکروه دی لانه اسراف محض، کذا ذکره الحلبي

قال المصنف **وَاِسْتِيْعَابُ الرَّأْسِ بِالْمَسْحِ مَرَّةً**

اوبل سُنت داودا کبنی ايستل دی د ټوله سر په مسح سره يو وار، يعنی ربع او غلوم د سر خو مسح کول يه فرض وه او د ټوله سر مسح کول سُنت دی:

فائده: کيفيت د مسح د ټوله سر لکه چې په عنايه کبنی د مستصفی څخه په نقل کړی ی دادی، چې د دواړو لاسو دنی د پای ګوتی دی پر اول حصه د سر کښيږدی او بټه ګوته او په پسی ګوته او ورغوی دی د سره ليری کړی بيا دې کش کړی دواړه لاسونه ترشته پوری. او بيا دی ورغوی دد واړو لاسو پر تيکو کښيږدی مګر بټه ګوته او ور پسی ګوته هغه سی د سر سره ګوښه وی، نو ورغوی دی راکش کړی تر اولی حصی د سر پوری او په دوو بټو ګوتو چې تر اوسه لندې دی ظاهر د غوږو مسح کړی او په دوو نورو ګوتو چې هغه هم لندی دی د ننه غوږو نه مسح وکړی

پوښته: چې دغه کيفيت هلته امکان پذير دی، چې سړی ترمسح د مخه لنګوټه يا رنجينه د سره ايسته کړی، او که لنګوټه پورته کړی نو غالبًا يه د ګوتو بلل (لندوالی) ختم کيږی که څه هم د ورغوو لندوالی به باقی دې. نو مسحه د سر خو پوره سوه. لکن احتياطًا دی د مسحی د **غوږو دپاره** نوی اوبه واخلی، کذا قال بعض الفقهاء، لکن زيلعی په شرح کی د کنز وائی چې اظهر داده چې ورغوی او ګوتی ټولې دی پر مخ د سر کښيږدی او کش دی کړی تر شته پوری چې ټوله سر په مسح کبنی راسی. او بيا دی په هغو ګوتو ظاهر او باطن د غوږو مسح کړی، او قاضيخان هم دغه کيفيت خوښ کړی دی، او زاهدی وائی چې د دغه کيفيت روايت د امام اعظم او د امام محمد څخه سوی دی. او په فتاوای خانيه کبنی وائی چې او به ورغوو او د ګوتو مستعملی نه

ترځی ولی چې سُنت په اداسو. او هغه د مخه کيفيت چې موږ بيان کړی خانيه والا وائي چې هغه تکليف دی. بلکه کمال وائی: لَا اَصْلَ لَهُ فِی السنة، لکن عند الفقير ما بحه القدير الاول هو الاولی وان کان فيه کلفة، براحتی نرسيد آنکه زحمتی نه کشيد"

فائده: مصنف لفظ د "رأس" وويله اشاره ده ودې مسئلی ته چې مسحه پر لنګوټه يا پرخولی کافی نه ده، او د فرضو غاړی نه په خلاصيږی،

سؤال: په حديث صحيح کبنی راغلی دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم مسحه وکړه پر لنګوټه باندې **جواب** آنحضرت خو مسح پر سر وکړه لکن پر له مسحې لنګوټه باندی لاس تير کړی د پاره د سميدو راوی د حديث چې د ليری څخه يه لاس تيريد نه پر لنګوټه وليدل ګمان يه داسو چې دا مسحه فرضی وه، کذا قالوا،

دليل دادی چې مشهوره او متعدد حديثونه وائي چې آنحضرت صلی الله عليه وسلم: استيعاب ده سر او په مسحه سره، مصنف مرة وويله چې تکرار د مسحه د سره سُنت نه دی لکه تکرار د غسل چې سُنت دی. ولی چې لفظ د مسحه آګاهی د تخفيف کوی، تخفيف په يوه وار کبنی دی، لکه مسحه د جبيره او يا تيمم، کذا فی فتح القدير و الخانية:

نو که يو څوک مسحه د سر دری واره وکړی، په نوی نوی اوبو دا فعل نه سُنت دی او ادب دی په نيز زموږ، کذا فی الطحطاوی، په بحر الرائق کبنی وائی چې دا خبره اولی ده تر هغه چې په بدائع کبنی وائی او په محيط کبنی هم چې داسی فعل مکروه دی. او يا خلاصه والا وائي چې داسی کوی بدعت دی، په هدايه کبنی وائی چې هغه چې په بعض روايا تو کبنی راغلی دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دری واره مسحه وکړه هغه محمول پردې دی چې په يوه وار او بو سره يه دری واره مسحه وکړه. او داسی تثليث شروع دی، کما روی الحسن عن ابی حنيفة کذا فی الطحطاوی، قال المصنف

وَمَسْحُ الْاُذُنَيْنِ وَلَوْ بِمَاءِ الرَّأْسِ

اوبل سُنت مسح د غوږو ده که څه هم

Maktaba Tul Ishaat.com

په اوبود سروي. ولې چې په حديث شريف کښې راغلی دی چې آنحضرتؐ واخستل
يو غُرفه اوبه اومسحه دسر اود غوږونو يـې په وکړه:
پـوهـ سـه: چې په لفظ کښې د «وَلَوْ بِمَاءِ الرَّاسِ» اشاره ودی خبری ته دَه که متوضی
د مسحی دغوږونو د پاره نوی اوبه واخستلی سره ددې چې پر لا سويـه لندوالی وُو.
دا احسن اوبنه کار دی، کذا فی المراقی. طحطاوی وائی که چیری لندوالی نیستی سوی
وُو ددی سـببه چې لنگوټـه يې پـه پورته کړی وَه، نوسـنت نه پرځای کیږی مگر
په نوی اوبوسره، وهذا يُؤَيـد مَا قلنا ان الاول آه. قـَـالَ المُصنفؒ

وَالدَّلْكُ وَالْوِلَاءُ

اوبل سُنت منبوول دی دا اندام د پریولو په وخت کښې په لاس سره یعنی چې یوځای یـه وچ پاته نسِی
اوبل سُنت داوداسه سره پیُوسـته اومتصل کول دی د غُسل اومسحې په اوداسر کښې
په حدیث شریف کی راغلی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم مواظبت کړی دی.
پر وَلَاءِ یعنی پیوسته کیدو باندې «مِ» دَ وَلَاءِ معنی داده چې دوهم اندام چې منځ
اول اندام بـه نه وی وچ سوی» **پـوهـ سـه**: چې دا تعریف هلته اعتبار لري چې
هواء معتدله وی اوځای داوداسه هم معتدل وی او بدن د متوضی هم معتدل وی» که چیرې
هواء اووخت دوبئ اوگرمي وی او اندام زر وچیدی نود محه تر وچوالي د اول اندام
د دوهم اندام پريـوله خلاف السُنة نه دئ. اويا متوضی پـه یوه گرم اطاق کښې
اودس تازه کاوه چې پريولی اندام به ژر وچیدی پروا نه لري. اويا د متوضی بدن
ډير گرم ووچې اندام به يې ژر وچیدی پروا نه لري.
اوکه په یوه ساړه یخ ځای کی یا د ژمي پـه وخت کی چې پريولی اندام ژر نه وچیدئ.
او متوضی پـه پريولو کی د اندامو فـصل ډير وکړی مگر بیا هم د مخ پريولی اندام به
وو وچ سوی» دا د سُنت خلاف دی ولی چې وَلَاء فوت سوه»
مسـئله: بعض خلک د مخه تر پسنو پريولو مخ او لاسونه وچ وی حکم
بېخه دئ! **جواب** دا کار خلاف د سُنت دی. کذا فی المعراج عن الحلوانیؒ. ط

وَالنِّيَّةُ

اوبل سُنت داوداسه نیت کول دی. اوقدوریؒ وائی
قال المصنفؒ نیت مستحب دی. **پـوهـ سـه**: چې نیت کول په خوله نه د رسول
کریم صلی الله علیه وسلم اونه د صحابه رضی اونه د تابعینو رحمهم الله اونه د اماما نو د دین
رحمهم الله منقول دئ: ولې چې نیت قصد ته د زړه وائي لکن بعض مشائخ وائی چې
په خوله دی هم نیت وکړی تا چې خوله او زړه يـه سره برابر سِی.

کیفیت د نیّت: داوداسه دا دئ چې قصد دی زړه رحمه د رفع د
حدث د ځان رحمه. يـا د پاره د لمانځه کولو. اويـا نیت دی داوداسه» **فـائـده**
د نیت فائده پـه اوداسو کی ثواب دی. اوکه د ځنکولو دا ندامو د پاره سري اودس وکړي
لونځ به رَوادی. لکن داوداسه ثواب يـه نـسـته. اوبـايد سړی تر استنجاء د مخه
نیت وکړي تا چې ټوله افعال داوداسه يـه د نیت سره سِی»

اهل الحدیث» **او وهابیه**: نیت شرط داوداسه بولي. دليل يـه هغه حدیث
بولي چې بخاري يـه پـه اول کښې دخپل کتاب روایت کړی دئ» اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَاتِ
«الحدیث» نودوی وائي چې اودس هم يو عمل دئ. **جوابْ** د دی حدیث معنا داده
اِنَّمَا ثَوَابُ الْاَعْمَالِ بـالنِّيَاتِ، ولې دا ظاهره خبره ده چې وجود د عملو پـه نیت پورې
اړه نه لري: قـَـالَ المُصنفؒ:

وَالتَّرْتِيبُ كَمَا نَصَّ اللهُ تَعَالٰى فِى كِتَابِهٖ

اوبل سنت داوداسه په ترتیب سره کول دی د افعالو د اوداسر» څرنگه چې تصریح پـه
هغه ترتیب کړي ده خدای جل جلاله پـه خپل کتاب یعنی قرآن شریف کښی یعنی قوله
تعالیٰ: يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ» تر اخیره پورې» وقدمر من قبل مفصلا
پـوهـ سـه: چې ترتیب سُنت مؤکد دی. پـه صحیح روایت کی دآئمه وو رحمهم الله
د مذهب اوفرض نه دی ولې چې کلمه د واو عاطفه د پاره د مطلق جمع دَه» ترتیب
به هلته وای چې عطف پـه کلمه د» فـا» وای» **سـوال**: پـه فاغسِلُوْا کښی خو لفظ

دفای عاطفی راغلی دی **جواب** هغه خو فرضیت د مجموع اعضاوو دا او د اسې تر، إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلٰوةِ، فائده کوی. او هغه خو یَه اتفاق فرض دی نه په مابین کښې دا عضاوو دا او د اسَه،،

ولې چې ملته خو کلمه د واو عاطفه دَه. امام طحطاویؒ پر مصنفؒ داسې سَئوال کړی دی چې آیت مبارک خو نص او تصریح په ترتیب کی نه دی تکه چې تیره سَوه، بلکه تنصیص پر ترتیب خو د فعله څخه د آنحضرت صَلَّى اللّٰهُ عَلَیه وسلم معلومیږی چې هغه م افعال او د اسه پر ترتیب مذکور په آیت کښی کړی دیٔ. **جواب** دا دی چې کلمه د کاف په دې قول کښی د مصنفؒ کَمَا نَصَّ، دپاره دَتشبیه ده پس معنا دا ده چې ترتیب سنت دی. تکه تصریح یه په ایت کی کړه سَوېدَه،، اگرچه د ترتیب سنت والی دَفعل څخه د رسول کریم صلی اللّٰهُ عَلَیه وَسَلم ثابت دَیٔ. فتامَّل،،

سَوال: آنحضرت صَلی اللّٰہ عَلیہ وَسَلم خو مواظبت کړی دی پر ترتیب نو باید چې ترتیب واجب وایٔ. **جَوَابُ**: چې بخاری او ابو داؤد روایت کړی دی چې آنحضرت م یو وخت تیمم داسی وکړې چې لاسونه یه ترمخ د مخه مسح کړه او شک نسته چې تیمم او وضوء (او رس) په اتفا قسره په ترتیب کښی یو دي نو چې په تیمم کی ترتیب آنحضرت م ونه کړی گویا په او د اسه کښی ترتیب ونه کړی نو مواظبت په وُضوء کښی نسته: کذا قَالُوا: قَالَ المُصَنِّفُ

وَالْبُدَائَةُ بِالْمَيَامِنِ

اوپل سُنت شروع کول دی په راسته اندام **پُوه سَه**: چې میامن جمع د مَیمنه ده راسته یا راسته پښی ته وَایٔ. تکه مَیاسر چې جمع د مَیسرة ده چپه اندام ته وَایٔ قال عَلیه السلام: إِذَا تَوَضَّئْتُمْ فَابْدَؤُا بِمَيَامِنِكُمْ، او دا امر نبوی په اجماع سره د وجوب څخه مصروف دی. **واوره**: چې تیامن په دوه اندامه کښی راځی تکه دوه لاسونه او دوی پښی. دیوه اندام تکه مخ راسته طرفته اعتبار نسته، او غوږونه که څه هم دوه دي. تکن مسح کول په یوه پَلا د علیه السلام څخه نقل سَوی دیٔ.

وَرُؤُسُ الْأَصَابِعِ وَمُقَدَّمِ الرَّأْسِ

او د غه رنگه سُنت دی شروع کول د گوتو د سر څخه یعنی په لاسو او پښو کی، هکذا ثبت الروایة عن النبی علیه الصلوة والسلام، او دا غه رنگه سُنت دی شروع کول د سَر په مسح کی د مخ د خوا څخه، قَالَ المُصَنِّفُ.

وَمَسْحُ الرَّقَبَةِ لَا الْحُلْقُومِ

او دا غه رنگه سُنت ده مسحه د مغزی د دوو طرفو. ولې چې آنحضرت م دا مسحه کړیده ډیر وار ونَه. او نه ده سُنت مسح دَغاړې بلکه مراقی وائی چې بدعت دیٔ

وَقِيلَ الْأَرْبَعَةُ الْأَخِيرَةُ مُسْتَحَبَّةٌ

او بعض فقهاء وائی چې څلور اخیر مستحب دی یعنی سنت نه دي. د رولتش وائی چې اکثره فقهاءٌ پر دې خبره دی چې اول دری سُنت دی. او اختلاف یوائی په مسح کی د مرقبه دیٔ.

وَاللّٰہُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ وَاِلَیْهِ الْمَرْجِعُ وَالْمَآبُ

مِنْ اٰدَابِ الْوُضُوْءِ اَرْبَعَةَ عَشَرَ شَيْئًا

دا دابو څخه د او د اسه څوارلس[۱۴] شئ دي، **پُوه سَه**: چې ادب او مستحب په معنیٰ کی سره نژدی دي. بعض علماءُ وائې چې دَادب معنیٰ وَرع او پرهیز گاری دَه. او لبعض وَائی چې اَدب خصلة حمیده ته وائیٔ. او په شرح کښی د هدایه وائی چې ادب هغه فعل دی چې آنحضرت صلی اللّٰهُ علیه وَسلم کله وار ونه کړې وی او مواظبت یه نه وی کړې: **دادب حکم دا دی چې** کوونکی ته یې خدایٔ ثواب ورکوی او پر تارک باندی عقاب او نه عتاب او نه لوم سته او سنت هغه فعل دی چې رسول کریم صَلی اللّٰهُ عَلیه وَسَلم ډیر ډیر وار ونه کړی وي امَّا بلا عذره یه یو وار یا دوه وَاره پری ایښی وي. د سُنت حکم دا دی چې فاعِل تی خدای جَلَّ جَلالُهٗ ثواب ورکوی او تارک تی که څه هم عقاب دا ور نسته لکن په وَرځ د قیامت عتاب او سرزنش ورته سته.

Maktaba Tul Ishaat.com

امام طحطاویؒ په شرح کښې د مراقی وائي. چې ادب ته نفل هم وائی. ولې چې ترفرضو زیاتی شی دی او د نفل د لفظ معنیٰ زیاتوب دی. او مستحب یې هم بولی. ولې چې شارع ؑ خوښ کړي دی. او تطوع یې هم بولي ولې کوونکی دا کار په خپله خوښه کوی»، ونسب هذا لتفصیل الی السید قدس سرہٗ» قـال المصنف رحمه الله

اَلْجُلُوْسُ فِیْ مَکَانٍ مُّرْتَفِعٍ

او لږ ناسته ده په وخت کښې دا و دا سه پر یو لوړ ځای. د د ې حکمت دا دی چې هغه مستعملی اوبه کنږ هم مرداري نه دي. د ده پر بدن یا کالو و نه لویږی.

وَاسْتِقْبَالُ الْقِبْلَةِ

. او یو هم ادب دا و دا سه مخامخ کښینستل مخ پر قبله شریفه لکن په غیر کی د حال د استنجاء»، ولې په او دا سه کښې لعض اذکار او دعاگانې ویل کیږی او استقبال دَ قبلې د هغو په قبلیدو کښې ښه تاثیر لري»م، ط،

وَعَدَمُ الْاِسْتِعَانَةِ بِغَيْرِهٖ

او دریم ادب کهمک نه غوښتل د بل چا څخه دا و د اسه په وخت کښې لکن دا هغه چې متوضی لره عذر د سپین ږیرتوب یا عذر د ناجوړی نه وی»، د دې حکمت دا دی چې او دس عبادت دی عبادت چې سړی په خپله بې کهمکه د چا وکړي ښه دی.

پوښتنه: چې امام طحطاویؒ د کرمانی شارح البخاریؒ څخه نقل کړي »لاکراهة فی صب الماءِ» هیڅ کراهت نسته په تو یو لو کښې د اوبو و متوضی ته او نه دا صحیح ده چې دا کار خلاف الاولیٰ دی؛ بیا کرمانیؒ ډیر حدیثونه صحیح راوړي دي چې نبی علیه السّلام ته د او دا سه په وخت کښې ډیرو صحابهؓ اوبه ور تویې کړي دي»، او کرمانیؒ هغه احادیث چې پر نهی دلالت کوی ضعیف گنړلی دیٔ»، او کرمانیؒ وائي چې د هغو کسانو څخه چې کهمک بې په او د اسه کښې د بل څخه غوښتی عثمانؓ وو او ډیر لوړ لوړ تابعینؒ هم دا غسی کړي دیٔ. وهکذا فی العینی علی البخاری. عاصی وائي کیږي متوضی د تکبر او تجرد لاري د کهمک غوښتونکی وو لکه بعض پیران

دی زمانی هغه بلا شکه مکروه او خلاف الاولیٰ، قـال المصنف رحمه الله

وَعَدَمُ التَّکَلُّمِ بِکَلَامِ النَّاسِ

او داود اسه په وخت کښې د خلگو خبري دی نه کوی لکه بعض جاهلان چې او دا سه په وخت کښې پرځای دا ذکارو باندار سرم کوي.

وَالْجَمْعُ بَيْنَ نِيَّةِ الْقَلْبِ وَفِعْلِ اللِّسَانِ

او بل ادب دا و دا سه جمع کول دی په مابین کی دَ نیت (و قصد دَ زړه او په مابین کی دفعل د ژبې. لکه چې وائی: نیت مې دی دا و دا سه د پاره د لمانځه مثلاً، په مراقی کی وائي چې داسی کول عزیمت دیٔ. قـال المصنف رحمه الله

وَالدُّعَاءُ بِالْمَاثُوْرِ

او هغه دعاوی دی کوي چې منقول وی یعنی دَ نبی علیه السّلام او صحابهؓ وو او تابعینوؒ څخه **پوښتنه**: چې ابن امیرالحاجؒ وائي چې کمی دعاگانې چې فقیه ابی اللیث السمرقندیؒ په خپله مقدمه کښې نقل کړي دي د علیه السلام څخه د پر یولو. سره د اعضاوو یا د سر د مسحې سره هغه صحیح دی او که نه. دا پوښتنه زمونږ دا استاذ الشیخ الحافظ شهاب الدین ابن حجر العسقلانیؒ څخه یو چا وکړه. نو حافظ ابن حجرؒ جواب ورکړی چې هغه تول ضعیفه دی. او علماء حضرات په فضائلو کښې دا عمالو ضعیفه څخه د ثبوت هم راوړي. ابن حجرؒ وویله چې په دی باره کښې نه قول او نه دَ فعله څخه د آنحضرت ﷺ کوم دعا ثابته سوی ده» امام طحطاویؒ وائي چې تر نسبت د دغو دعاگانو وَ آنحضرت ﷺ نسبت د هغو وسلفو صالحینوؒ ته ډیر نیبادیٔ، ولې چې د خطر څخه دَ » مَنْ کَذَبَ عَلَیَّ مُتَعَمِّدًا فَلْیَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهٗ مِنَ النَّارِ» به خلاص وي» او په فتاوی هندیه کښې وائي چې نه دی په صحیح ثبوت رسیدلی شیٔ د دعاگانو څخه مگر شهادتین پس له فراغه څخه دا و دا سه کذا نقل السید عن النهر

درویش وائی: چی ددې مطلب دا نه دی چې په اودا سه کښې دی دعاوی نه کوي بلکه مقصد دا دی چې معین شیٔ ثابت نشته. لهذا نومتوضی لره اختیار دی» هر دعا او ذکر به هر ژبه چې وي» په اودا سه کښې دی کوي. تا چې عبادت فعلی دعبادت قولي سره ملګری سی» و بهذا آخذ و افتی » قـال المصنفؒ

وَالتَّسْمِيَةُ عِنْدَ كُلِّ عُضْوٍ

اوبل ادب بِسْمِ اللّٰه ویل دی په وخت کښې د پریولو یا د مسحی د هر اندام » فقیر وائی چې د جامع دعا ګانو مختصر او په عین کی دا دعا ده (اختصار): اَللّٰهُمَّ اَعِنِّیْ عَلٰی ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ» قـال المصنفؒ

وَاِدْخَالُ خُنْصُرِهٖ فِیْ صِمَاخِ اُذُنَیْهِ

اوبل ادب داودا سه داخلول دی دخچنړو ګوتو په شپیلی کښې دغوږو کې. دپاره دمبالغې په مسح کښې دغوږو. **مستحبانه فائده:** مصنفؒ په مراقی کښې او امام طحطاویؒ په شرح دهغه دعا ګانو ذکر کړي دي. دخولې پریولو په وخت کی بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ اَعِنِّیْ عَلٰی تِلَاوَةِ الْقُرْاٰنِ وَذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ» دپزې پریولو په وخت کی بِاسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ اَرِحْنِیْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ وَلَا تُرِحْنِیْ رَائِحَةَ النَّارِ»

دمخ دپریولو په وخت کی: بِاسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ بَيِّضْ وَجْهِیْ يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوْهٌ وَّتَسْوَدُّ وُجُوْهٌ» دراسته لاس دپرې ولو په وخت کې» بِاسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ اَعْطِنِیْ كِتَابِیْ بِيَمِيْنِیْ وَحَاسِبْنِیْ حِسَابًا يَّسِيْرًا» دچپه لاس دپریولو په وخت کې» بِاسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ لَا تُعْطِنِیْ كِتَابِیْ بِشِمَالِیْ وَلَا مِنْ وَّرَآءِ ظَهْرِیْ. دسر دمسحې په وخت کی» بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ اَظِلَّنِیْ تَحْتَ ظِلِّ عَرْشِكَ يَوْمَ لَا ظِلَّ اِلَّا ظِلُّ عَرْشِكَ.

دغوږو دمسحې په وخت کی بِاسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِیْ مِنَ الَّذِيْنَ يَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُوْنَ اَحْسَنَهٗ، دمسحې درقبې په وخت کی: بِاسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ اَعْتِقْ رَقَبَتِیْ مِنَ النَّارِ» دراسته پښې دپریولو په وخت کی: بِاسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ ثَبِّتْ قَدَمِیْ

عَلَى الصِّرَاطِ يَوْمَ تَزِلُّ الْاَقْدَامُ» دَ چپه پښې پریولو په وخت کی: بِاسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ ذَنْبِیْ مَغْفُوْرًا وَّسَعْيِیْ مَشْكُوْرًا وَّتِجَارَتِیْ لَنْ تَبُوْرَ» او چې اودس خلاص سي دا سی به ووائي: اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِیْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ » قـال المصنفؒ.

وَتَحْرِيْكُ خَاتَمِهِ الْوَاسِعِ

اوبل ادب داودا سه ښورول دی په ګوته کښې دهغې ګوتمې چه فراخه وي **پوه سه**: چی مصنفؒ خاتم الواسع و ویل ددې جهته چې ترفراخه خاتم لاندې اوبه ننوزي نوفرض د پریولو په فرځای کیږي. اما بیا هم ښورول یه احتیاطًا مستحب دی او که ګوتمې تنګه وه نو که اوبه لاندې نه ورتلې ښورول یه فرض دئ، تا چې لاندې تر ګوتمې پریوله سي. او که اوبه سره د تنګوالی ورتلې بیا یه ښورول تینګ مستحب دئ.

شِکَایَت اکثره ښځې دونه تنګې ګوتمې په ګوته کوي چې په صابونه ځای ته وروړلي هیڅ په ګوته کښې نه ښوري. بیله ډیر مشقته او ښځې هغه هم نه کوي. نو دغسې ښځو نه اودس روادی او نه ئې غسل روا دی»، چې اودس او غسل ئې صحیح نو لمونځونه یې هم نه دی صحیح په اتفاق دټولو مذهبو»

نَوْی عجب کار: بعض پلیشینی نران هم دسرو زرو ګوتمې په ګوته کوي او دومره تنګه وي چې په غوښه کی دګوتې اَلغه دګوتمې ننوتلی وي. دغو نرانو هم نه اودس او نه غُسل صحیح دی بلکه نرته دسرو زرو ګوتمې نا روا ده»، البته دسپینو زرو ګوتمې تر یوه مثقال کمه په وخت کښې دضرورت وریته روا ده چې آنحضرت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دسپینو زرو ګوتمې دپاره دمهر کولو دخطو چې خارجي پادشاهانو ته بې استول په ګوته کړیده او نقش یې داسی وو»

لویه خُدایه شفاعت ستا دَحبیب
سخته ورځ کی دمحشر کړې را نصیب

حقر حقانی غزنوی



Maktaba Tul Ishaat.com

وَالْمَضْمَضَةُ وَالْاِسْتِنْشَاقُ بِالْيَدِ الْيُمْنٰى

اودغه زيګه مستحب دي په خوله او به لغړول. او په پزه په راسته لاس سره دجهت دشرافت دمضمضه او استنشاق

وَالْاِمْتِخَاطُ بِالْيُسْرٰى وَالتَّوَضُّوءُ قَبْلَ الْوَقْتِ لِغَيْرِ الْمَعْذُوْرِ

او پزه سنړ کول دي په چپ لاس مستحب دي. ولې چې داهانت کار دي نو چپ لاس ورسره مناسب دي. او بل ادب داودسه اودس تازه کول دي د مخه تر وخت د لمانځه د دخول، لکن غير له معذور سړي څخه.

پوهه سه: چې معذور سړي هغه بولي چې هيڅ وخت د لمانځه بيله بې اودسیانه پرتیرېږي. اقسام د عذر ډير دي. يا ښځه مستحاضه وي لعني بيله حيضه وينې څندي بهيږي. ياسړي پريوځاى تمپ لري چې وينه پوره وخت د لمانځه نه دريږي، يا په دنس څخه باډونه هميشه وزي. او يا په بولې ايله وي اونه دريږي» وغيره

دمعذور حکم دادی: چې هر لمانځه ته به نوي اودس تازه کوي. لکن اختلاف په دې کښې دی چې دده زوړ اودس څه وخت ماتيږي. دامام اعظمؒ او امام محمدؒ په نيز په وتلو دوخت دده څخه لمانځه. او په نيزد امام زفرؒ په دخول دوخت د لمانځه، او په نيزد امام ابي يوسفؒ په وتلو دوخت او په دخول دوخت په دواړو سره دمعذور اودس ماتيږي، «**ددې اختلاف فائده**»، که معذوره سړي که دمخه تر زوال لمنځ د لمانځه دپاره اودس تازه کړي چې دما پښين وخت داخل شو» دده زوړ اودس نه دی مات په نيزد طرفينو ولې چې خروج دفرضي لمانځه دوخت نه دی راغلی چې دلمانځه څخه تر زوال پورې داوخت مهمل دی بلکه پرده دخول دفرضي لمانځه دوخت راغلی او په دخول دوخت اودس دده نه ماتيږي عِنْدَهُمَا. او په نيزد ابي يوسفؒ او زفرؒ اودس ددې سړي مات شو. ولې چې دخول دوخت پر راغلی»

نو نصرت په نيزدې دغه معذور احتياطًا اودس نوي تازه کړي چې دا اختلاف څخه ووزي» نو نتيجه دا سوه چې معذور سړي لره په قبل الوقت اودس کښې فائده نشته

او که وخت مهمل نه وي لکه ماز ديګر د لمانځه دپاره چې دما پښين په وخت کې اودس تازه کړي نو دغه اودس دده په دخول دوخت د ماز ديګر په اتفاق سره مات سو چې هم خروج دوخت او هم دخول دوخت پر راغلی» قَالَ الْمُصَنِّفُ

او بل ادب دا اودسه راتګ

وَالْاِتْيَانُ بِالشَّهَادَتَيْنِ بَعْدَهٗ

دی يعني ويل دی ددوو کلمه شهادته وروسته تر اودسه. لکن په مراقی کښی وايي چې شهادتين دی به ولاړي مخامخ وقبلی ته ووايي. په صحيح حديث کښی راغلی دي چې آنحضرت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ويلی دي، مَا مِنْكُمْ مِنْ اَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُسْبِغُ الْوُضُوْءَ ثُمَّ يَقُوْلُ اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ» وَفِي رِوَايَةٍ» اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِيْكَ لَهٗ اِلَّا فُتِحَتْ لَهٗ اَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةِ يَدْخُلُهَا مِنْ اَيِّ بَابٍ شَاءَ» **ترجمه** قوله فَيُسْبِغُ اه اى يكمله باداء الفرائض وَالسُّنَنِ وَالْاٰدَابِ» قوله فُتِحَتْ اه كنايةٌ عن حسن القبول عنده» وانه اِنْ مَاتَ دَخَلَ الْجَنَّةَ» وَلِنِعْمَ مَا قِيْلَ» به بهانه می بخشد» وبه بهانه می بخشد» قَالَ الْمُصَنِّفُ

اَنْ يَّقُوْلَ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِىْ مِنَ التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِىْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ

او داسې دِ ووائي خدايه ما وګرځوی د توبه کوونکو څخه يعني د ګنهو څخه» تَوَّابٌ» صيغه د مبالغې ده. او وګرځوی د هغه کسانو څخه چې د ګنهو څخه پاک کړه سوي دي.

پوهه سه: چې د توبې معنیٰ ده رجوع په لغت کې. نو که صفت د بنده وي معنا يه رجوع ده د ګناه څخه. او چې صفت د خدائ تعالیٰ واقع سي معنا يه رجوع ده د عذابه څخه وانعام ته» لِاَنَّ التَّائِبَ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَّا ذَنْبَ لَهٗ» كما جاء فى الحديث النبوى

او بل ادب

وَاَنْ يَّشْرَبَ مِنْ فَضْلِ الْوُضُوْءِ قَائِمًا

دادی چې پس له اودا سه دې وڅښی بالا بود دا اودا سه په ولاړي، ولې په صحيح حديث کښی راغلی دی

چې رسُول الله صَلی الله عَلیه وَسَلم وَچِښلی فاضِله اوبه د اوداسه په وَلاړه
اودغره نګه د زمزم او به په هَم ولاړې چَښلې دي. د دی دوو ځایو نه غیر ماسوا
داوبو چښل په وَلاړې مکروه تنزیهي دي. لقوله علیه السلام: وَلَا يَشْرَبَنَّ
اَحَدُكُمْ قَائِمًا فَمَنْ نَسِيَ فَلْيَسْتَقِئْ" ترجمه: هرګز دې نه چښي یو ستاسي او به
ولاړې اوکه د چا هیر وی (او به یې په ولاړې وَچښلې نو هغه دې قئ کړي.

پوښتنه: چې مقصود مبالغه ده په نهی کښې دچښلو د اوبو په ولاړې ورنه فتی کول لازم نه دی.

بقیة الآداب

۱ اودس د تازه کوی په هغو اوبو چې په لمر تودې سوې وی. په حدیث شریف کې راغلی دی چې یو وخت بی بی عائشه رض اوبه په لمر تودې کړې وې، نو آنحضرت ﷺ ورته وویل: لَا تَفْعَلِيْ يَا حُمَيْرَاءُ فَاِنَّهُ يُوْرِثُ الْبَرَصَ" یعنی دا سی مه کوی. ولی چې د دې دا استعمال نه غیر پیس پیدا کیږي. ۲ دځان داوداسه د پاره دې یو خصوصي لوښی نه تعین کوی چې بل چا ته د هغه د استعمال اجازه نه وي. ولې چې د نبي علیه السّلام د دین بناء پر سهولت ده" ۳ په زوره دې او به پر مخ نه باشی ۴ مخ اولاسو دِ په دسمال وَغیره نه اوچوي. او کی اوچول نو ډیره مبالغه دِ نه پکښی کوي.

فائده: مصنف ترک التجفیف ادب وبولی" او په بعض کتابو کښې فقهي وائي چې تجفیف مکروه دی. داقول داحادیثو او مذهب نه غیر سخی خلاف دی ه اِذْ قَدْ رُوِيَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ فَعَلَ ذَالِكَ اي التجفيف" وَقال الامام محمّد وبه نأخذ ولا نرى بذالك بأسًا. وفي الخانية لَا بأس للمتوضي والمغتسل ان يتمسح بالمنديل"

لکن مفتی به مذهب دا دی چې استعمال د دسمال خو روا ه نه لری مګر ډیر مبالغه په وچولو کی داعضاوو دی نه کوی بلکه پرا نداموی څه لندوالی داوداسه پریږدی.

مسئله: دا بیان پر ټوند کښی دی او د مرې وچول په دسماله یا په کم تو کړه.

په نیز ژمونږ مستحب دی سبب په دا دی چې کفنونه یه لا نده نه سې چې دا د مړي په باره کښی مثلت دی"، کذا فی الطحطاوی شرح المراقی ص۱۳

۵ داوداسه لوښی دی د خاوری وي. چې په حدیث صحیح کښی راغلی دی چې ملکې زیارت د هغه کور کوي چې لوښی په د خاوري وي ۶ لا ستئ د هغی کوزي دی دری ۳ واره پر یولې" ۷ او لوښی دی پرچپه طرف کښیږدی. ۸ او لاس چېل دی پر لاستی د کوزې کښیږدي پر خوله دی نه ورابدی. ۹ دستر ګو پر کنجانو دی بنه فکر کوی چې وچ پاته نه سی. او د ګتمی لاندې ځای ته دی بنه متوجه وسي په پریولو کې. ۱۰ او لا سونه او پښی او مخ د ترفرضی قدر نا لا منځی یعنی لاسونه دی تر څنګلو بنه لوړ پری مینځی او پښی دی تر بجلکو لوړې او د مخ تر اندازې بالا پرې مینځی. ولې چې په یوه طویل حدیث کښی په روایت د بخاري رسول کریم صلی الله علیه وسلم فرمائي: چې زما د امت علامه په ورځ د قیامت داده چې ځان به ئې سپین وي لاسونه او پښی به سپینې وي" د سببه د غیر داوداسه" نو اودس کوونکی دی بنه سپین والی دا ندامو خپل زیات کړي.

۱۱ پس له اوداسه دی سُوْرَةُ الْقَدْرِ یو وار یا دوه واره یا درې واره تلاوت کړي.

فصل

دا فصل په بیان کی د مکروهاتو داوداسه دی.

قال المصنفؒ: **وَيُكْرَهُ لِلْمُتَوَضِّئِ سِتَّةُ اَشْيَاءَ**

او مکروه دی واودس تازه کوونکی ته شپږ شیان. په مراقی الفلاح کښی وائی چې مکروه ضد د "محبوب" دی. او امام طحطاوی وائي چې مکروه په نیزد فقهاو دوه قسمه دی. مکروه تحریمي: چې حرام ته نزدې وي او په یښول

Maktaba Tul Ishaat.com

دمکروه تحریمي واجب دی. او پر ترك یه ثواب دواجب ورکول کیږی»، کذافی فتح القدیر
او پـه فقه شریفه کښې چې مکروه مطلق ذکرسی هم دغه مکروه تحریمي ځندي
مراد وي»
او مکروه تنزیهی هغه کارته وائي چې پرېښول یه ترکولو بنه وی او ثواب لري»، بحر
الرائق وائي چې مکروه تنزیهی ترحرام وحلال ته نزدی دئ»، کذافی البرهان ۔ قَالَ

اَلْاِسْرَافُ فِی الْمَآءِ

یو مکروه داودا سه ترحد تجاوز کول دي. په تویولو کښې داوبُو: په حدیث صحیح کښې راغلی دي
چې رَسُول الله صلی اللهُ عَلیه وَسَلم هلته تیریدئ. چې سَعدؓ اودَس تازه کاوه نُو
علیه السلام ورته وویل: مَا هٰذا السَرف یا سَعدُ »، دا څه اسراف کول دی ای سَعدؓ
سَعدؓ وَوَیـله آیا په اوداسَه کښې هم اسراف شته»! آنحضرتؐ ورته وویل
هُوسته. که څه هم د جاری وَلی پر غاړه اودس تازه کوي»

درویش وائي: چې ددی حدیث څخه دامعلومه سوه چې دهغه چاشعر غلط دي چې
وائی سه ورتواسے خواجه برلب جوی ؛ نیست اسراف مرچه می شوی ؛ وفی فتاوی الحجة»
یکره صبُّ الماء فی الوضوء زیادة عَلی العدد المسنون»، والقدر المعهود » یعنی مکروه
دی تویول داوبو پـه اوداسه کی بالاتر قدر مسنون چې دري واره دی او تر هغه قدره»
چې پـه شرع کی معلوم دی» پـه صحیح حدیث کی راغلی دي» شِرَارُ اُمّتی الذِیْنَ
یُسْرِفُوْنَ فِی صَبِّ المآءِ» یعنی بد د امتیانو زما هغه کسان دی چې اسراف کوي په تویولو
کښې داوبُو: نو ځکه پـه درمختار کښې وائي چې اسراف مکروه تحریمي دی که څه هم پر
نهر جاری اودس تازه کوي:

مَسْئَلَهُ اسراف چې مکروه دی، پـه جاری اوبو کښې دی او پاد سري خپلی مملوکی
اوبه وی اوکه چیري وقفی اوبه وی پر طهارت لکه دا کثرو مسجدو دپاکستان پس پـه
هغو کښې اسراف کول حرام دی» ح ج.

اَلنَّاشِرُ وَالطَّابِعُ مِنْ مَکْتَبَةِ الْقِرَاءتِ وَالتجوید بشار ۶ کانسی کوئټه

او هم دارنګه مکروه

وَالتَّقْتِيْرُ فِيْهِ وَضَرْبُ الْوَجْهِ بِهِ

دی کمی کول په
اوبو کښې د اوداسه یعنی چې پرېولو مسح ته نزدی وي، وجه دکراهت یې فوت والی دسنت دی» او بل مکروه وهَل دی
دمخ پـه اوبو سَره یعنی پـه سختی سَره» وجه دکراهت په شرافت دمخ دی نو پـه
رفق (نرمی) سره یـه پـه پرېولو کښې بنه کاردی ۔ **پوه سه**: چې دا فعل مکروه
تنزیهی دی»، کما فی الدرالمختار» او بله وجه دکراهت یه داده چې پـه شرف سره او به
پاشل پر هر اندام چې وی دمستعملو اوبو نشر دی پر کالو وغیره. او شك نسته چې
دمستعملو اوبو څخه ځان ساتنه بنه کاردی»، د دی دلیله څخه دامعلومیږی چې
تخصیص دمخ پـه متن کښې پـه اعتبار د عادت دبعض عوامو دی. ورنه حکم عام دی:

مَسْئَلَه: پـه اوداسه کی دی سَري سترګی نه پټوی په داسی ډول چې اطراف
یه سره ورسی»، او نه دې خوله ډیر ټینګه نسی چې هغه سره حصه یه پټه سِی»
ولی چې کنجانوته دسترګو یا سري حصی ته د شونډانو او به رسول فرض دی او
پرېوله یـه واجب دي حتیٰ که یو ځای دَدغو څخه وَچ پـاته سی اودس یه نه دی صحیح
حَلبی، طحطاوي» قَالَ المصنفؒ۔

او هم دارنګه خبری کول پـه خبرو دخلګو

وَالتَّکَلُّمُ بِکَلَامِ النَّاسِ

ابن امیرالحاج وائي چې دخبرو پـه سَبب
ددعاګانو څخه مشغول کیږی **فَـائِـدَه**: مکروه والی دخبرو هلته دئ
چې ضرورت دخبرو نه وي، اوکه ضرورت وی بیا مکروه نه دي» قَالَ المصنفؒ

او دغه رنګه مکروه

وَالْاِسْتِعَانَةُ بِغَيْرِهٖ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ

دی کمك د
بله څخه غوښتل پـه اوداسه کی. لکن چې بیله عُذره وي» قالوا... اِن الضرورة
تبیح المحظورات»، لکه چې سَري ناجوړه وی یا ډیر سپین بږیری وي»، او امام
وبری وائي: چې استعانة بالغیر پروا نه لری»، ولی یو خادم وآنحضرت صَلّی اللهُ

علیه وسلم ته اوبه ورتویولې: وَقَدمرتفصیل هٰذه المسئلة قُبیل هٰذا.

وَتَثْلِيثُ الْمَسْحِ بِمَاءٍ جَدِيدٍ

اودغه رنګه مکروه دی دریے واره سرمسح کول په نوو اوبو...

فَصْلٌ

اَلْوُضُوْءُ عَلٰى ثَلَاثَةِ اَقْسَامٍ

اودس پردرې قسمه دی. **پوهـه سـه**: چې اسم عدد پرحصر دلالت نه کوي. نو دا سوال نه وارديږي چې اودس ګاهې مکروه وي لکه اودس پراودس چې داول اودس مجلس یـه بدل کړي اویایه پـه اول اودا سـه کم عبادت نـوي کړي. او ګاهې اودس حرام وي لکه د بل چا پـه ملکي محروز اوبو بيله اجازې د مالك

اَلْاَوَّلُ فَرْضٌ عَلَى الْمُحْدِثِ لِلصَّلٰوةِ وَلَوْ كَانَتْ نَفْلًا وَ

اول قسم د اودا سه فرض دی پر بې اودس سړي د پاره د لمانځه لیعنې چې د لمانځه کولو اراده وکړي که

لِصَلٰوةِ الْجَنَازَةِ وَلِسَجْدَةِ التِّلَاوَةِ وَلِمَسِّ الْقُرْاٰنِ وَلَوْ اٰيَةً

څه هم هغه لمونځ نفلي وي. او دغه رنګه فرض دی د پاره د جنازې د لمانځه او د پاره د سجده تلاوت او د پاره د مسه کولو د قرآن شریف که څه هم یوه آیت وي» او که څه هم دا ایت پر دیوال نوشتو وي.

پوهـه سـه: چې مراد د فرضه څخه هغه دی چې په دلیل قطعي ثابت وي» وَهُوَ قَوْلُهُ تَعَالىٰ: يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ» **پوهـه سـه**: چې مراد قیام څخه اراده د شروع پـه لمانځه ده. نـه ضد د ناستې چې ولاړه یـه بولي. پـه قرینه د دې چې لمونځ پـه ناستې هم روا دي نفل خو مطلقًا او فرضي پـه وخت د عذر کښې.

فَائِدَه: صلوٰة جنازه یـه علحده ذکر کړې. که څه هم د لمانځه اطلاق پرکیږي دد ی سببه چې کامل لمونځ نـه دی ولې رکوع وسجده نشته پـه کښې: او سجدهٔ تـلاوت که څه هم پـه عرف کې لمونځ نـه بولې. لکن پـه اتفاق د مذاهبو» یشترط لهما ما یشترط للصلوٰة» قـال المصنف

وَوَاجِبٌ لِلطَّوَافِ بِالْكَعْبَةِ

او بل واجب اودس دی چې د پاره د طواف پر کعبه شریفه دی» پـه صحیح حدیث کښې راغلی دی» اَلطَّوَافُ حَوْلَ الْبَيْتِ اي الكعبة مثل الصلوٰة اِلَّا اَنَّكُمْ تتكلمون فيه الحديث: ترجمه: طواف پرشاوخوا د کعبې پـه مثل د لمانځه دی» مګر دا قدر فرق دی چې پـه طواف کې خبرې روا دی تر پایه د حدیث او لمانځه کښې خبرې نـه دی روا» قَالَ الْفُقَهَاءُ» اِذَا طَافَ کـه طواف وکړي یو سړي طوافِ فرضي یعنی طوافِ زیارت پـه بې اودسیا سره پر هغه باندې. پس یا بوزه وغیره دی جنایت پـه سبب سره لازم دی. اوکې طوافِ فرضي پـه جنابت سره وکړي پرهغه اوښ حلالول لازم دی. د دې جنابت د کبله. اوکې طواف واجب لکه طواف وداع اویا نفلي طواف یـه پـه بې اودسیا وکړي. نو کم ازکم نیمه کاسه غنم یا یوه کاسه خرما د خیرات کړي اوکې دغه دوه طواف پـه جنابت وکړه بیادم پرلازم دی. ط

وَالثَّالِثُ مَنْدُوْبٌ لِلنَّوْمِ عَلَى الطَّهَارَةِ وَاِذَا اسْتَيْقَظَ

او دریم اودس د پاره د خوب مستحب پر پاکوالي بـاندې. او هغـه وخت چې ویښ سي هم اودس مندوب

مِنْهُ وَلِلْمُدَاوَمَةِ عَلَيْهِ وَلِلْوُضُوْءِ عَلَى الْوُضُوْءِ

دی د پاره د همیشه توب پر اودا سه او د پاره د اودا سه پر اودا سه. **پوهـه سـه**: چې اودس پر اودا سه مندوب دی چې پـه اول اودا سه یـه یو عبادت مقصوده کړی وي»، وَاِلَّا فَهُوَ اِسْرَافٌ» ط.

مسئله: اودس پر اودس کول خو ثواب کار دی. اما غسل پر غسل یا تیمم پر تیمم کول

Maktaba Tul Ishaat.com

عبث کار دی کذا فی مراقی الفلاح» **فائدة**: اودس مستحب دی دپاره د مسح کو
د کتب شرعیه وو لکه فقه احادیث او عقائد. دپاره د تعظیم د دغو علومو: امام سرخسی
یو شپه د فقهی شریفی د کتاب مطالعه کوله چې ناڅاپه د نس درد ورته پیښ شو
چې اودس ماتولو ته مجبور کړی نو بیا اودس مات کړی او بیا یې اودس تازه کړی
درد باقی وو حتی چې اولس ۱۷ واره یې اودس تازه کړی.

او امام حلوانی به خالی کاغذ هم بی طهارته نه اخستی» د ر و لش والئ فهذا هو الادب الکامل

مسئله: په دُرر کښې والئ چې دپاره د مسح د کتابو د تفاسیرو اودس واجب دی
کی تفسیر تر قرآن څه هم ډیر وی لکه روح البیان، بیضاوی، وغیره.

تنبیه: لبعض مطالعه کوونکی د کتابو د تفاسیرو په وخت کښې د مطالعې ... واچوی او مطالعې ته ادامه ورکړی

مسئله: د تفاسیرو د کتابو
د قرآن د تورو د مسح دپاره اودس او طهارت فرض دی. او د تفسیر د تورو دپاره اودس
واجب دی. پر رأی د صاحب الدرر او فتوی پر دی ده چې مندوب دی. او د بیاض مسح
پر بی او د سپاره واده او د قرآن شریف بیاض پر حکم کی د قرآن دی مسح یې پر بی او د سیپاره ...

ولبعد غیبة وکذب ونمیمة وکل خطیئة

او د غرنگه اودس مندوب دی ورو سته تر غیبت د یو چا، او ورو سته تر د رواغو، او ورو سته
تر شیطانت او ورو سته تر هری صغیری گناه. **فائده**: غیبت دا دی چې
د یو مسلمان تر شا بشځی بیان کوی په هغه کار سره چې هغه یې اظهار بد بولی. غیبت
کبیره گناه ده دا هلته چې هغه عمل په هغه مسلمان کښې وی. او که دی سړی د رواغ ...
و ویله هغه ته بهتان والئ. او بهتان تر غیبت اشد دی. او ویل سوی دی چې نمیمه
اشد دی تر زنا، د ر و لش والئ چې د غیبت بلکه د ټولو کبیره او صغیره گناهونو تفصیل
او دلائل او حکایات، نها په عربی کتاب مواعظ الایوبی القسم الاول کښې مطالعه کړه

اللهم اغفر لمؤلفه ولمترجمه ولکاتبه ولوالدیهم اجمعین

... ځای د رواغ روادي

او د رواغ نه دی روا مگر په دغو ځایو کی ۱ د
میره د رواغ و ما بینی ته د هغنی د خوشحالی د پاره
۲ د مظلوم د ظالم څخه د خلاصید و د پاره»، او نور د دی
د دوو کسانو د خوشحالی د پاره ۳ ...
... څخه چې وی»، او نمیمه رسول دی د خبری د یوه سړی و بل سړی ته په نیت د فساد

مسئله: د اودس په تازه کولو سره صغیره گناه بخښل کیږی» مر» او د کبیره گناه
... ن سپکیږی» قال المصنف

... انشاد شعر و قهقهة خارج الصلوٰة

او پس لرولو ... څخه د بدی
... لی. او پس له په زوره خندلو د باندې تر لمانځه: او په لمانځه کښې خو اودس هم بیاتیږی
او پس له غسل ورکولو د مړی و غاسل ته اودس مندوب

غسل میت وحمله

دی. او پس له جنازی د ګلولو سره د میت هم اودس
مندوب دی» په صحیح حدیث کښې راغلی دی» من غسل میتا فلیغتسل ومن حمله فلیتوضأ
ترجمه: که چا غسل ورکړی و مړی ته هغه دی غسل و کړی. او که چا د مړی جنازه و اخستله
هغه دی اودس تازه کړی. د احدیث خود مراقی مصنف دلیل را وړی دی.
لکن امام طحطاوی پر هغه باندې سوال کړی دی چې دی حدیث څخه خو مندوب والی
د غسل د غاسل المیت معلوم شو نه اودس کول» او امام حلبی په لویه شرح کښې چل
د منیه المصلی باندې و مندوب والي تر د غسل تللی دی. **پوښته**: چې امام
محمد اودس پر حامل الجنازه باندې واجب بولی، ط»

او د اخلیدو ... لوقت کل صلوٰة وقبل غسل الجنابة

سره د هر وقت
د لمانځه اودس تازه کول مستحب کاری دی لتنظیم وقت الصلوٰة «در» او مخه تر غسل د جنابت اودس کول مستحب
دی» ولی چې دی باره کی صحیح حدیث بلکه ډیر حدیثونه موجود دی» قال المصنف.

... هدایه و مجتبی شارح او هم کاتب: چه اکثر دعا قبلیږی د غائب» حقانی عفرله

وَلِلْجُنُبِ عِنْدَ اَكْلٍ وَشُرْبٍ وَنَوْمٍ وَوَطْي

او دغه رنګه اودس مستحب دی جنب لره په وخت کی دارادې دخوراك یا دڅښلو داو
یا د بیدیدو دپاره او دغه رنګه دپاره د جماعُ یعنی یو وار یـه جماع وکړی او بیا دجما
کولو اراده وکړي. نو دمخه تر ذو هم پلا جماعو اودس کول مستحب دَی.

پـوهـسـه: چی غسُل دحیض یـا د نفاس هم په حکم کی د غسُل دجنابت لري چي
اودس کول په دې دوو غسُلو کښی هم مسُتحب دی» ط». **سُبحانَهٗ فانَّ**
پوُهسه: چی دا اودس څخه مراد په مابین کی ددوو جماعُو: او په نیزد خوب مُراد شرعی
دی» په قول کی د ابوحنیفہؒ او مالکؒ اوشافعیؒ او احمدؒ هم دا غسِی بیان کړي دی» بدایع
العینیؒ الحنیفیؒ پـه شرح کښی د بخاری» او دَغه رنګه حکم کړیدی حافظ ابن حجر الشافعیؒ
په شرح کی د بخاري» پـه بخاري شریف کی د سیّدتنا عائشة رضـ څخه روایت دی چي
وخت چی رَسُول الله صَلی اللهُ علیه وَسلم اراده وکړه چې بیده سی او دی به جُنب وو.
غَسَل فَرْجَہٗ» یعنی استنجاء بی وَوَهله. وَتوَضّاَ لِلصَّلوٰۃِ» یعنی اودس بی تازه وکړ
تکه اودَس دَ لمانځه دپاره یعنی کامل شرعی اودس بی وکړی. او امام احمدؒ او مُسلمؒ
ابن ماجهٗ او نسائیؒ او ابن حبانؒ او ابوداوَدؒ او حاکمؒ او بیهقیؒ داسِی روایت دَعلیه
السلام څخه نقل کړي دی» چی کم وخت چی سَړی ماینی ته ورسی یعنی وطی ورسره
وکړي دبلی پلا دَ وَطو لپس اودَس د پـاره تازه کړي پـه مَابین کښیؒ چی دا اودس دَبلی
پلا جماع دَپاره ډیره خوشحالی پیدا کوي»
او قاضی ابویوسفؒ وَائیؒ چی اودَس بـین الجمَاعَیْنِ مستحب نه دَی ده هم ډیر دلایل
راوړي دي او هغه نوُر احادیث یـه پُر بیان ده ... ازجمل کړی دیُ. لکن فتوی پر قول
دا ئمه اربعهٗ وو دَه» او فقیه ابوجعفر الطحاویؒ وَائیؒ چی ... حدیث دا اودس بین
الجماعین یـا په نیزد ارادی دخوب منسُوخ دَی. وَاللهُ اَعلمُ بِالصَّوابْ
او هم چه اودَس کول دی په نیزد خُوراك یا چښنك دَ هغه اوداسه څخه مراد وضوء لغوی

... لاس پریوله. ولي چی طحطاویؒ ابوداوُدؒ ابن ماجہٗ د عائشةؓ څخه روایت کړی
... آنحضرتؐ چی به اراده دخوراك وکړه او دی به جُنب وو لاسُونه پریوله: قال شارح
... وعلیه جمهور العلماءؒ. وفی الفتاوی الخانیۃ: جنب چی اراده وکړی دخوراك یاد
... مُستحب ده دَه لره چې پری مینځی لاسُونه او خوله. او کی نه وکې لاَ بأسَ بِهٖ».
... في خزانة الاَکمَل» کی پریږدی ضرر نه لري. او پـه منیة المصلی کښی وَائی چی جنب
... خوراك او چښنګ بیله لاس پریوَلو سبب دَ فقر ګرځی. **قـَـالَ الـمُـصنفؒ**.

... الْغَضَبِ

او چی درد وَرسی سَړي ته هم اودَس مُستحب دی وَلی چې درَدیه
ورکیږي. پـه حَدیث شریف کی چې روایت یه احمدؒ او ابوداوُدؒ
... دی علیه الصلوٰة وَالسلام فرمائیلی دی چی غضب دشیطان دَخوا دی او دَ شیطان
... داوره څخه دی او اوریـه اوبو وَژل کیږی پس هغه وخت چی سَړي ته
غضب وَرسِی نو اودس دِ تازه کړي. **قـَـالَ المُصنفؒ**

... لِقُرْاٰنٍ وَحَدِیْثٍ وَرِوَایَتِهٖ

او دپاره دَ تـلاوت د قراٰن شریف یعنی دیا دَولو دپاره هم اودَس
... کول مُستحب دی. او دپاره دحدیث وَیلو او یا یه بل چا ته د روایت د حدیث کولو اودس
... مُستحب دی. دا پـه سَبب دشرافت د قراٰن او دَ حَدیثو. **قـَـالَ المُصنفؒ**.

... دِرَاسَةِ عِلْمٍ وَاَذَانٍ وَاِقَامَةٍ وَخُطْبَةٍ

... دپاره درس علم اودس مستحب دیُ. او د اذان او اقامَت کولو د پاره او د خطبہ وَیلو دپاره هـم
... اودس کول مستحب دَی خطبَه کهُم د نِکاح خطبه وی کذا فی المَراقی.
... پوهسـه: چې مراد د عِلم څخه شرعی عِلم دَیُ. **قـَـالَ المُصنفؒ**

... زِیَارَةِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَوُقُوْفٍ بِعَرَفَةَ

... دپاره د زیارت دَ نبی عَلیه السلام اودَس کَلودَل مستحب دی. او دپاره د درېدو پر عرفات باندی

Maktaba Tul Ishaat.com

پوهسه: چې د زيارت کولو د نبي عليه السلام اودس دپاره د تعظيم د عليه السلام او
پاره د تعظيم د دخول د مسجد نبوي **فائده**: د وقوف عرفات دپاره اودس
مستحب دی. بلکه که غسل وکړي ډير به ښه وي. ولې چې عرفات يو مشرف مقام دی
خصوصًا د حج په موقع کښې چې خدای جل جلاله پر ملائکه وو باندی په واقفينو
سره د عرفات فخر کوي، کما في الحديث النبوي.

وَلِلسَّعْيِ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ وَ اَكْلِ لَحْمِ جَزُوْرٍ

او دپاره د سعي په مابين کښې د صفا او مروه، ولې چې دا سعي عبادت دی او عبادت
طهارت ډيره بيا دی). او پس له خوړلو غوښه داوښ د غوښو اودس مستحب دی
ولې چې امام احمد دا اودس واجب بولي. که څه هم نور مجتهدين د هغه حديث څخه چې
اوښ د غوښو په خوړلو کښې راغلی دی مراد د لاسو پريولو بولي. لکن چې اودس تازه کړي د
اختلافه به خبره ووزي. قَالَ المُصَنِّفُ

وَلِلْخُرُوْجِ مِنْ خِلَافِ الْعُلَمَاءِ كَمَا اِذَا مَسَّ اِمْرَئَةً

او د دې دپاره هم اودس مستحب دی چې ووزی د خلاف څخه د علماوو لکه چې سړی
مسه کړی ښځه. چې په دې سره بعض مجتهدان اودس مات بولي. که څه هم زمونږ
مذهب نه دی. **پوهسه**: چې مراد د ښځې څخه هغه ښځه ده چې د سړي محرم
نه وي لکه خور لور وغيره. او بل دا چې ښځه د اشتهاء ځای دی. ولې چې د محرم
ښځې په مسه کولو سره او يا د بيځې کشفنۍ نجلۍ په مسه کولو سره هيڅ څوك اودس
مات نه بولي. او يا خپل غنړ په باطن دا رغوی مسه کړی چې په دې سره هم شافعي
اودس مات بولي. نو چې سړي ورو سته تر دغو دوو کارو اودس تازه کړي عبادت
به ئې د خلاف څخه ووزي»

كتبه بيده وبقلمه فضل الحق حقاني استاد بقسم القرا‌ءات والعلوم العقلية والنقلية جامعة تجويد القرآن

فَصْلٌ

فصل مصدر دی په معنی د جلا کولو. او يا جلا کړه سوی، خبر د مبتداء دی. ای
هذا فصل» فصل په اصطلاح د مصنفانو هغه يو اندازه مسئلی دی چې د مخ د مسئلو
څخه جلا وی» قَالَ المُصَنِّفُ

يَنْقُضُ الْوُضُوْءَ اِثْنَا عَشَرَ شَيْئًا

اودس ماتوي دوولس شيان. **پوهسه**: چې نقض نړيدو
وائی نو که يو جسم ته مضاف سی لکه» نَقَضَ الحَائِطُ» وي نړاوه ديوال نو معنا د هغه
جسم خرابول دي. او که مضاف و معنی ته سی لکه» نَقَضَ الوضُوْءَ، معنا يه با ده چې
اودس د هغې فائدی څخه لکه جواز الصلوة مثلاً ورکی. قَالَ المُصَنِّفُ

مَا خَرَجَ مِنَ السَّبِيْلَيْنِ

اول هغه شئ دی چې راووزی د دوو لارو
څخه د نر يا ښځې يعنی د بولو د لاري يا د
غولو د لاري که ډيری وي او که لږ په ستر گو ليدل کيږی لکه بولې او غول يا نه ليدل
کيږی لکه پسکی او گوز، عادی شئ وي او که غير عادی وي لکه شگه يا چينجی»

اِلَّا الرِّيْحَ الْقُبُلِ فِي الْاَصَحِّ

مگر پسکی د مخ د خوا څخه د نر
يا ښځې په صحيح روايت کی.
ولې چې د مخ د خوا څخه باد نه دی صرف او صرف هغه ځای سره وښوري. او که باد د مړوي
نو بر نجاست نه دی راتير سوی. او د نجاست د ځای نه دی راوتلی. بخلاف ريح الدبر
چې پر نجاست راتيريږی. نو دی سببه مصنف وويله في الاصح، قَالَ

وَيَنْقُضُهُ وِلَادَةٌ مِنْ غَيْرِ رُؤْيَةِ دَمٍ

او همدا رنگه اودس
ماتوي لنگوالی د ښځې
بيله ليدو د وينو يعنی که څه هم وينه نه وي. او که وينه وه خو په طريق اولی اودس ماتيږي

مسئله: ښځه په دغسې ولادت سره بیله وینو نفسا نه ګرځي په قول د ابو یوسفؒ او محمدؒ قال المصؒ فی المراقی وهو الصحیح. ولې چې نفاس په وینه پورې اړه لري هغه خو نشته. مګر اودس پرې لازم دی. ولې څه رطوبت خوارو وتی. او حضرت الامام الاعظمؒ وائي چې دغه ښځه دې احتیاطًا غسل وکړي. ولې چې غالبًا دولادت سره څه نه څه وینه راوزي، او دقول د امام اعظمؒ په کتابو کښې د فتاوٰی وو تصحیح ورکړې سوې ده. او صدر شهیدؒ هم په دغه مذهب فتوٰی ورکول، کذا فی المراقی. قال المصنفؒ

وَنَجَاسَةٌ سَائِلَةٌ مِنْ غَيْرِهِمَا كَدَمٍ وَقَيْحٍ

او د غیر ګړنګه اودس ماتوی بهیدونکی نجاست د غیر څخه د سبیلینو، ولې چې په صحیح حدیث کې اغلی ای الوضوء من کل دم سائل، لکه وینه او زېړی اوبه، او دا مذهب دی د هغو کسانو د صحابه کرامؓ چې زیری د جنت آنحضرت ورته کړي دی. او مذهب دی د عبد الله بن مسعودؓ او د عبد الله بن عباسؓ او د زید بن ثابتؓ او د ابی موسیٰ اشعریؓ او نور کسان د غتو صحابه وو څخه او مذهب د رئیس التابعین الحسن البصریؒ او محمد بن سیرینؒ

فائده: سیلان د نجاست د سبیلینو څخه په صرف ظهور سره دی ولې چې نجاست ځای لوړدی نو چې نجاست ځان ښکاره کړي معلومه سوه چې را بهید لی دی. او سیلان د غیر سبیلینو په تجاوز سره دی د نجاست د ځای څخه د ظهور و دا سې ځای ته چې پاکی د هغه ځای یا په او د اسه یا غسل کښې لازم دی. **مسئله**: که زېړی اوبه د ښځې ... څخه راووزی او یا د نو څخه د تریا ښځې یا د غوږ و څخه که د مرض د سببه څخه وو په ټولو اودس ماتیږي. پر صحیح روایت، مرط، قال المصنفؒ

وَقَيْءُ طَعَامٍ أَوْ مَاءٍ أَوْ عَلَقٍ أَوْ مِرَّةٍ إِذَا مَلَأَ الْفَمَ

او د غیر ګړنګه اودس ماتوی قی وهل که خوړلی شی قی کړي او که اوبه قی کړي او که کلک کنټکی وینه قی کړي او که ترخې اوبه قی کړي که چیری دا قی په دکه خوله وي

چې علق سودا د سوی او مرهٔ صفرا ته وائی. قال صاحب المراق وهو مذهب العشرة المبشرة بالجنة، او هبا په حدیث کی روایت یې ترمذی کړی دی.

پوهنه: رسول کریم صلی الله علیه وسلم قی وواهه او بیا یې اودس تازه کړي را غلی چې سیدؒ وائی که د غه علق سره او نړی وه اودس په ماتیږی که څه هم ملا الفم نوی عند الامام الاعظمؒ خلافًا لمحمدؒ چې ملا الفم شرط بولی:

دا هم زده کړه: چې د اختلاف هلته دی چې قئ د علق د نسه څخه وی او که د سر څخه وو نو خا مخا اودس په ماتیږی که لږ وی او که ډیر. قال العلامة العینیؒ فی شرح الهدایة.

سوال: فقهاوو په قئ کښې ډک والی د خولې معتبر کړي. او په نورو نجاستو کی نفس سیلان بهیدل معتبر کړي دی. **جواب**: خولې دوه حیثیت لري - په یو دلیل خوله حکم د ظاهر لري چې خوله خلاصه کړي شی په کښې معلومیږی. او په بل دلیل حکم د باطن لري چې خوله بنده کړي شی نه پکښې معلومیږي.

او په احکام شرعیه وو کښې هم ګاهی خولې ته حکم د ظاهر ورکول کیږي. چې په غسل کی پریوله فرض دی. او ګاهی حکم د باطن ور کړه سوی دی چې سړی د خولې نارې تیری کړي روژه یې نه په ماتیږي. نو فقهاوو په قئ کښې د دواړو دلیلو مراعات وکړي. یعنې چې قئ په ډکه خوله وي نو خوله خارجه معتبره سوه نو دا قئ چې نجس دی ګویا خارج شوا او وبهید ئ. او چې قئ لږ وی ګویا د غه قئ که څه هم د با ندی خوړا او وت لکن په حکم کښې د نارو دی لکه سړی چې نارې تو کړي، طه ر

وَهُوَ مَا لَا يَنْطَبِقُ عَلَيْهِ إِلَّا بِتَكَلُّفٍ عَلَى الْأَصَحِّ

او ملا الفم هغه قی بولي چې شونډان نسې برابرینګه ولاې مګر په تکلیف سره په صحیح روایت کی. او بعض فقهاء وائي چې ملاء الفم هغه قی دی چې د هغه سره خبری نسي کولائ:

- په تفصیل چې ترجمه کړي ایولب : خوشنوېس بیا نوشته کړی حقاني.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَيجمَعُ مُتفرِقُ القَئِ اِذا اتّحَدَ سَببُهٗ

اوسره جمع کیږي

جَلاجَلا قئ وَهَل کی سبب یو وُو. یعني خوا گرځید نه نوکه دټولو څخه ملأ الفم جوړیږي اودس پـه ماتیږ ی که یـه څـرهم ځایونه مختلف اوجَلاوي. دا مذهب دی دامام محمّدؒ قـَالَ المَراقی وَهُوالاصح. اوپه نیزد ابویوسفؒ اعتبار یو وَالی لره دمکان دَئ. او ابوعلی دَقـاقؒ وَائي چي پرهرتقدیر چي مِلاء الفم وي اودَس پـه ماتیږي، حاصل دا چي که سـبب هم یو وی او مکا ن هم یو وی او قئ مِلاءالفم ته ورسیږي اتفاقًا اودَس پـه ماتیږي، اوکه دواړه مختلف وَه اتفا قـًا نه پـه مَاتیږي. اوپه دوه صورته کښی اختلاف دئ» فـَـالَ المُصنفؒ.

وَدَمٌ غَلَبَ عَلَى الـبُزَاقِ اَوسَاوَاهُ

اوپـه هغه وینه چي پرناړه دپره وي

اودَس مَاتـیږی اوکه سره برابر وَه هـم اودَس پـه مَاتیږي **فـَـائِدَه**: وینه که چیري دسَرد خوا څخه پـه پزه کښی راغله اوسائِله وَه. اودس پـه ماتیږی که څه هم لږ وي، نوکه ناړي زیړ ی وی داوینه مَغلوبه دَه اودس نه پـه مَاتیږی اوکه سره سخت وه غالبَه ده اودس په مـاتیږي. عَینی، اوکه صِرف سره وه هغه صورت دمُساوات دی پـه دې صُورت کښی هم اودس مَاتیږی احتیا طًا ءط، فـَالَ المصنفؒ

وَنَوْمٌ لَمْ تَتَمَكَّنْ فِيهِ المَقعَدَةُ مِنَ الاَرضِ

اود اغـرنګه اودس ماتوی هغه خوُب چي کونـه یه پر ځمکه نـه وی ټینګه.

لوُه سـَلـه: چي بیده سَري به یا پر اړخ پروت وي نو اودس یه مات دَی. اویـَا پر یوه کُنا تي بیده وی نوُیـه هم اودس مات دیُ. ولي چي کوُنه یه دَ ځمکی څخه پورته ده اویا بی تکیه کړی وی ویوشی ته چي هغه ځَندی ایسته سی غوځاریږ ی» نو یه دی صُورت کی که یه کونـه د ځمکی څخه زا ئله وَه. نو یـه هَم اودس مات دی په اتفاقؒ

اوکي کُنه پـه ځمکه پوری ټینـګه وه لکه چي یو دیوال ته چَسپ ناست وی. اوکُنه اوکي کُنه پـه ځمکه پوری ټینـګه وه لکه چي یو دیوال ته چَسپ ناست وی. اوکُنه

امام قدوریؒ وَائي چي اودَس یه ماتیږي. دا رنګه دَطحاویؒ څخه په پرځمکه وي. اوکه پـه ولاړی یا پـه هم روایت دی لکن صحیح دادَه چي اودَس نه پـه مـاتیږی. اوکه پـه ولاړی یا پـه حال کی د رکوع یا سجدی بیده سُو. نوکه په لمانځه کښی ووخواودس یه نه ماتیږی اوکه خارج الصلوٰة وو نو هـم یه اودَس نـه ماتیږی پر صحیح مذهَب: اومریض که مضطجعًا لمونځ کاوه او بیَده سُو» صحیح داده چي اودس پـه مَاتیږي. او نعُاس چي پینکی یه بوُلی کـه چیری په حَال کښی دپروتی وی اودَس په ماتیږی اوچي دړنی وي. اوکه سپکی وی اودَس نـه په مـاتیږی. اوفرق په مـابین کښی د ثقیل نعُاس اوخفیف دادی کی چیری دَخلګو خبري اوریدی هغه خفیف اوسپک نعُاس دَئ، اوکي نـه اوریـدَی هغه دروند دی» اودغه رنګه مَا تیږی چي ستوني ستخ پروت وی او بیدهسی، ولي چي دکُنی خوله یه د ځمکی څخه پورته ده. اوکه پرمَخی پروت وی بیده سِی هـم یَه اودَس مـَاتیږي.

فـَـائِـدَه: خوب پخپله خوحدث نه دَی، بلکه حَدث اصلًا هغه شی دیُ چي دنا ئمه څخه غالبًا ووزی چي نیُسکی اوګوزدَی. نود دی کبـله دګونی و ټینګیدوتـه پر ځمکه اویا نه ټینګیدوتَه داودس پـه ما تولو اونـه مَا تولو کښی دَخل سـَنته، پـه حدیث مُبارک کښی راغلی دي. اَلعَيْنَانُ وِكَاءُ السّـه فَاِذَا نَامَتِ الْعَيْنَانُ اِنْطَلَقَ الوِكَاءُ یعنی سَترګی چي مراد ځَندی و لیښ وَالی دَیُ.» خوُل وَاښي دکُـنی دی نو چي سترګی بیدی سِی هغه تنا وخَلاص سِی: عـَلامه شبلی نعمانیؒ پـه حَاشیَه کښی دَغه یلعي دا سِی لوښتنه راوړي دَه» **پوښـتنه**: چي یو سَړي چي معذوره وُو پـه انفلات الریح سَره یعنی بَـادونه یه جاری وَه. نو چي دغه سَړي بیده سِی پـه خوُب یه اودَس ماتیږي

جـواب: یا نه ماتیږی ولي چي پخپَله خوب ما توُونکی داود اسَه نـه دَی ما توونکی خو هغه باد دی چي د ده سَه ووزی. او د دی سَړي خود و لیښی په باد هم اودس نه ماتیږی په وخت کی دَنَنه»

وَارْتِفَاعُ مَقْعَدَةِ نَائِمٍ قَبْلَ انْتِبَاهِهٖ وَاِنْ لَّمْ يَسْقُطْ فِي الظَّاهِرِ

اودغه رنگه اودس ماتوی پورته والی د کُنی د بیده سړی یعنی د ځمکی څخه د مخه تر بیداریدو د دَه، که څه هم غورځیږي نه پر ځمکه په ظاهره مذهب کی: قال المصنف

وَاِغْمَاءٍ

اودغه رنگه اودس ماتوی بیهوښه والي - اغماء ناجوړی ده چی د پوهنی او حرکت قوتونه یې ټوله د خپل کار څخه معطل سی مگر عقل یې پاتوی مغلوب

وَجُنُوْنٍ وَسُكْرٍ

اودا غه رنګه اودس ماتوی لیونتوب او جنون یو مرض دی چی عقل یې بیخی زائل سی - او قوی محرکه یې قوی وي.

اودا غه رنګه مستی اودس ماتوی. که دا شرابو څخه وی که دیو بل ماکول مشروب څخه وي" بعض اطباء وائي چی سُکر دیو خوشحالی ده د زړه چی پر عقل غالبه سي. پس انسان کی څه هم عقل باقی وی خو په مقتضیٰ د عقل عمل نه سی کولای ‹ کذا فی البحر وهو التحقیق، ط، وهذا اولیٰ مما قیل هو خفة یظهر اثرها فی التمایل وتلعثم فی الکلام کافره بالراوی ام

وَقَهْقَهَةُ بَالِغٍ يَقْظَانٍ فِيْ صَلٰوةٍ ذَاتِ رُكُوْعٍ وَّسُجُوْدٍ

او دا غه رنګه اودس ماتوی په زوره خندا د بالغ سړي چی ویښ وی په داسی لمانځه کښی چی

وَلَوْ تَعَمَّدَ الْخُرُوْجَ بِهَا مِنَ الصَّلٰوةِ

رکوع او سجده پکښی وی" که څه ده قصد وی په دی خندا سره وتل د لمانځه څخه. د لمانځه خو به ووزی لکن اودس یې مات سو:

فَوَائِدُ

۱ دا خندا که په قصد وی او که په سهوه اودس ماتوی ۲ قهقهه هغه خندا ده چی ورته نږدې خلک یې هم واوری. په دی خندا هم لمونځ فاسدیږي او هم اودس په ماتیږي او ضحک هغه خندا ته وائی چی دی ئې واوری همسایګان یې نه واوری په هغه سره لمونځ فاسدیږي. او اودس نه په ماتیږي.

تبسم صرف د شونډانو خندا ده که څه هم غاښونه ښکاره سی" په تبسم سره هیڅ شی نه باطلیږی ۳ کشنئ یعنی نابالغه که په لمانځه کښی وخاندی اودس یې نه ماتیږی. ولی چی دا ما توالی داود اسه په خندا سره د جهت څخه د زجر دی او کشنی د زجر اهل نه دئ. او بعض فقهاء وائي چی د عاقل کشنی اودس په ماتیږي

پوهسه

: چی قهقهه حدث په حقیقت کښی نه ده" ولې که حدث وای نو خارج الصلوٰة به هم اودس په ماتیداي - لکه بولی وغیره -

او بل دا چی خندا خارج نجس نه دی بلکه یو صوت (آواز) دی لکه ژړا او خبری چی په هغو اودس نه ماتیږی بلکه اودس ماتیدل په خندا زجرًا او عقوبتًا دی چی په حدیث صحیح کښی راغلی دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د جماعت پر لمانځه ولاړ وو چی یو سړی چی سترګی ضعیفه وی په تلوار لمانځه ته راروان وو او په مخ کښی یو ځا غوندی ډب وو د هغه سړي په لوی ترپ سره هغه کندی ته ولویدی. بعض لمونځ کوونکو په زوره پر وخندل نو څه وخت چی آنحضرت م سلام وګرځاوه. وی ویئیله چی هغه چاچی په لمانځه کی په زوره خندلی وی هغه دی اودس او لمونځ دواړه راوګرځوی. نتیجه داره چی چونکه په خندا اودس مات والی زجري دی حقیقی نه دی. نو د غه سړي ته روا ده چی مسحه د مصحف شریف دی پر له دغی خندا وکړي کی څه هم اودس نه وی تازه کړی. او بعض فقهاء وائی چه قهقهه حدث ده لکه نور احداث نو دوی په نیز مسحه د مصحف د غه سړي ته روا نه ده. نه ئی سی مسحه کولای د مخه تر اوداسه. بحرالرائق واول ته ترجیح ورکړیدا.

۷ مصنف یقظان ووایه ولی چی په قهقهه د بیده سړي په لمانځه کی اودس نه ماتیږی. ولی پر نائم (بیده) هم زجر نسته هو لمونځ یې باطل سو" قال فی البحر وهو المذهب. مصنف وویئیله فی صلوٰة ذات رکوع آه په دی قید سره لمونځ د جنازی او سجدة التلاوة خارج کړه. نو که په دغو دوو کښی وخاندی اودس یې نه ماتیږی کی څه هم لمونځ باطلیږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال یو سړي وود عذر په سبب په لمونځ په اشاره کاوه او په لمانځه کی وخندل نو د ی سړی اودس باید مات شی ولی چې لمونځ د ده رکوع او سجده والا نه دی.

جواب مراد د رکوع او سجدی نه عام مراد دی که حقیقةً وی او که مجازاً وی او د دغه معذور سړي اشاره په ځای کښی د رکوع او سجدی ولاړه ده نو مجازاً رکوع او سجده ورته ویل کیږی.

او بعض فقهاءً وائی چې مراد دا دی چې هغه لمونځ په اصل کښی رکوع او سجدی والا وي. او ښکاره خبره ده چې د اشاره کوونکی دغه لمونځ خو په اصل کی رکوع او سجده والا دی.

پوښتنه مصنفؒ تخصیص دا و دا سړو کړی چې په خندا د لمانځه ماتیږی نو که دغه لمونځ گذاره په تیمم سره لمونځ کاوه او وی خندل نو باید تیمم دی مات نه سی:

جواب چونکه تیمم قائم مقام د اودا سه نو ځکه هغه هم په خندا ماتیږي. وعلیٰ هذا فقس الغسل»

مصنفؒ وویله وَ لَوْ تَعَمُّدًا آه **پوهسه**: چې زمونږ په مذهب کی وتل د لمانځه نه په صنع او فعل د لمونځ گذاره خو فرض دی. او سلام گرځول واجب دی نو لمونځ گذاره چې اخیره ناسته یه وکړه. او بیا له سلامه بل شی نه وو یا ته نو یه په زوره وخندل قصد یه داوو چې په دی خندا د لمانځه ووزم» نو اودس یه مات دی. ولی تر اوسه پوری حرمت د لمانځه باقی دی لکه چې په سجدهٔ سهو کی وخاندې» او لمونځ یه صحیح سو ولی چې د فرائضو نه شی نه دی پاته. هو سلام چې واجب وو پاته سو گناه گار دی» قال المصنفؒ.

وَمَسُّ فَرَجٍ بِذَكَرٍ مُنْتَصَبٍ بِلَا حَائِلٍ

اوداغه رنگه اودس ماتیږی په مسه کولو سره د کُس په غړ سره چې لک ولاړ وی او په مابین کښی حائل یعنی مانع نه وي

پوهسه: چې مراد د حائل نه دا سی حائل مراد دی چې حرارت د بدن منع کوی لکه پنډ ټوکر، یا گر سره مانع نه وی او یا مانع وی لکن نازک.

واوره: چې په دغه صورت کښی د نر او ښځی دواړو اودس مات دی»، کما فی القنیة.

جواب او امام محمدؒ وائی چې اودس نه ماتیږی مگر په وتلو د مذی سره. چې دغسی مباشرت غالبًا د خروج نه د مذی خالی نه وی والغالب کالمتحقق» ط په مجمع الانهر کی وائی چې قول د امام محمدؒ د قیاس سره برابر دی او قول د شیخینو احوط دی.

فائده: قید د فرج او ذکر اتفاقی دی. ولی که غړ په کونه پوری مسه کړي. او یا دوه نره خپل غړان لک لک سره مسه کړي» او یا دوی ښځی کُس په کُس سره ومږی په دي ټولو صورتو کښی دو طرفه اودس مات سو.

فصل

عَشَرَةُ اَشْيَاءٍ لَا تَنْقُضُ الْوُضُوءَ

لس شیان دی چې اودس نه ماتوی یعنی په مذهب کی د حنیفیانوؒ که څه بعض د دغو لسو شیانو په بعض نورو مذهبو کښی نواقض الوضوء دي. قال المصنفؒ.

ظُهُورُ دَمٍ لَمْ يَسِلْ عَنْ مَحَلِّهِ

یو د هغو نه ښکاره والی دی د وینو چې د خپل ځای نه ونه بهیږي. مثلاً د سړي د یو ځای پوست واوښتی وینه یه ښکاره سوه مگر ونه بهیدله اودس یه نه دی مات. د دی وجه داده: چې په دغه وینه بل شی که وچ شی وی لکه ټوکر یا لوند شی لکه چې د غړ وینه په پنبه سره واخلی او په لړ او بو کښی واچوی په دغه وینه نه هغه وچ مرداریږی او نه هغه لړ اوبه»، پر صحیح مذهب چې مذهب د ابی یوسفؒ دی. او امام محمدؒ وائی چې وچ شی او لوند شی دواړه په مرداریږی. لکن امام حدادیؒ وائی چې په وچو شیانو کی فتوی پر قول د ابو یوسفؒ

ده اوپه لندوشیانو کښې پرقول دامام محمّدؒ ده، کذاقال السیدؒ مرط،

وَسُقُوطُ لَحْمٍ مِنْ غَيْرِ سَيَلَانِ دَمٍ

اوبل دا اودس نه ماتوي چې د یوه ځای غوښه د سړي غوښنه جلاسي او وینه نه ورسره وبهیږي. دد ي وجه داده چې غوښنه پاکه ده او جلا والی د پاك شي اودس نه ماتوي. **پوه سه**: چه د سړي غوښنه په حق کی دخپله سړي پاکه ده او په حق کښې د بل چا مرداره ده. لان المنفصل من الحي ميتة، مرط» قال المصنفؒ

كَالْعِرْقِ الْمَدَنِيِّ الَّذِي يُقَالُ لَهُ رِشْتَهْ

لکه مدني رګ چې هغه ته رشته ویل کیږی. یعنی په فارسی ژبه یه رشته بولی. کذافی الفتاوی البزازیة.

فائده: عرق مدني یو مرض دی چې په مدینه منوره کښې ډیر پیښیږی هغه اول وار په پوست کی یو تناکه غوندی شئ پیداسي. اوهغه بیا سوری سی او په کران کرار یو سپین سئ غوندی سی څندی راوزی او بیا جوړ سی. او داد طبیبا نو په نیزد فضولو موادو څخه پید اکیږي. قال المصنفؒ.

وَخُرُوجُ دُودَةٍ مِنْ جُرْحٍ وَأُذُنٍ وَأَنْفٍ

او داغه رنګه اودس نه ماتوي راوتل د چنجي د تپه څخه او یاد غوږه څخه او یا د پزې څخه: علت یې هم دادی چې چنجی په خپل ذات کی خو پاك دی. اوده سره چې کم رطوبت دی هغه لږ دی. لکن پوه سه که چیری د غه چنجۍ په اوبو یا بل مائع شئ ولویږی هغه په مرداریږی. نو دغه قضیه چې، ما لیس بحدث لیس بنجس" په حق د چنجی کښې ده نه په حق کښې داوبو» ط » قال المصنفؒ.

وَمَسُّ ذَكَرٍ وَمَسُّ امْرَأَةٍ

او اودس نه ماتوي مسه کول دغه خواه خپل ذکر وی او که دبل چا ذکر وي اوکه مسه کول په باطن دارغو وی اوکه په بل ځای سره وي. اوخواه مس په شهوت سره وی اوکی بیله شهوته مسه کړې. **پوه سه** چې دکوني دمسه کولو هم دغه حکم دی ط » اوهم دا مذهب دی دلویو صحابه وو لکه حضرت عمرؓ وعلیؓ وابن مسعودؓ وابن عباسؓ وزید بن ثابتؓ اورئیسانو د تابعینو هم دغه مذهب دی لکه حسن بصریؒ وسعید بن المسیبؒ والثوریؒ.

په حدیث مبارك کی چې روایت یه ترمذی کړې دی داسی راغلی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو سړی راغلی د شا نریه داسی معلومیدی چې صحرائی دی. نو هغه وویله: مَا تَقُولُ فِي رَجُلٍ مَسَّ ذَكَرَهُ فِي الصَّلٰوةِ، یعنی ته څه وایه په هغه سړي کښې چې خپل ذکر مسه کړي په لمانځه کښې قال علیه الصلٰوة والسلامُ: هَلْ هُوَ اِلَّا بِضْعَةٌ مِنْكَ» وَفِي روایة مُضْغَةٌ مِنْكَ» علیه السلام وهغه سړي ته جواب ورکړې چې نه دی ذکر مګر ستا یو ټوټه. او ترمذی په باې کی د حدیث داسی ویلی دی»، وَهٰذَا الْحَدِيثُ اَحْسَنُ شَيْءٍ فِي هَذَا الْبَابِ وَاَصَحُّ»

سوال په یو حدیث کی د بسرةؓ یه روایت کوی داسی راغلی دی، مَنْ مَسَّ ذَكَرَهُ فَلْيَتَوَضَّأْ، یعنی که چا خپل ذکر مسه کړي هغه دی اودس تازه کړي. **جواب** امام فقیه ابوجعفر الطحاویؒ او امام الطحاویؒ داسی وائي چې دغه حدیث د بسرة یو جماعت د محدثینو ضعیف ګنړلی دی. وَاِنْ شِئْتَ التفصیل فَارْجِعْ اِلَی فتح القدیر شرح الهدایة. **پوه سه**: چې مسه کول د ښځې که د سړي خپله ماینه وی اوکه بیګانه وی، اوکه محرمه وی که غیر محرمه وی اودس نه ماتوي خلافًا للشافعیؒ. زمونږ دلیل دادی چې ابوداؤد، ترمذی، نسائی، ابن ماجه، بی بی عائشه رضی الله تعالی عنها څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د بعض مانیو څخه مچه واخستل او بیا ئي لمونځ کاوه، او اودس یه نه تازه کاوه، او مچه په انواعو کښې دلمس د شهوت شئ دی.

پوښتنه: په ایت کښې د تیمم داسی راغلی دي، اولٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ الاٰیه

Maktaba Tul Ishaat.com

نور هند.... اسی فہمیږی چی لمَس دښځی هَم اودس ما توی. **جَوَاب** ترجمان القرآن رئیسُ المفسرین عبد الله بن عبّاسؓ وائی چی مراد د لمس نه په ایت مذکوره کښی جماع او وطی دی، او داهم د لمس لغوی ترجمه ده. ابن السکیت اللغوی وائی چی لمَس چی دښځی سره راسی مراد ځندی جماع ده عرب وائی، لَمَسْتُ المَرْئَةَ ای جَامَعتُها» قَـالَ المصنفؒ

وَقَیْئٌ لَایَمْلَاءُ الْفَمَ وَقَیْئٌ بَلْغَمٍ وَلَوْ كَثِیْرًا

خوله ډکه نه وی په ډکه اودس نه ماتوی. ولی دَغه قی د لوړی حصی نه د معدی نه چی ځای د نجاسَت نه ده. او قَی د بَلغمو چی په اصطلاح کښی گروړی بولی اودس نه ماتوی که څه هم ډیر وی. ولی د گروړی د ښوَی والی له کبله نجاست په ده سَره نه مَښلی او دی ځکه پاک دی. قَـالَ المُصنفؒ:

وَتَمَایُلُ نَائِمٍ اِحْتَمَلَ زَوَالُ مَقْعَدَتِهٖ

چی پیښیږی بولی: چی احتمال د زوال د کُنی په هَم وی. اودس نه ماتوی. په حدیث کښی دا بی داؤد داسی راغلی دی. كَانَ اَصْحَابُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلم یَنتَظِرُوْنَ العِشَاءَ حَتّٰی تَخْفِقَ رُؤُسُهُمْ ثُمَّ یُصَلُّوْنَ وَلَایَتَوَضَّئُوْنَ ترجمه: وَه اصحاب د عَلیه السلام انتظار بی کاوَه دما خُستن د لمانځه حتی چی سَرونه بی رنگیدَله او بیا بی لمونځ کاوَه او دَسُونه یه نه تازه کَوله» قَالَ المُصنفؒ

وَنَوْمُ مُتَمَكِّنٍ وَلَوْ مُسْتَنِدًا اِلٰی شَیْءٍ لَوْ اُزِیْلَ سَقَطَ عَلَی الظَّاهِرِ

فِیْهِمَا او دا غه رنگه اودس نه ما توی خوب د هغه چا چی کُنه یه پر ځمکه ټینگه ایښی وی کی څه هم تکیه کړی وی ویوشی ته لکه دیوال یا بالښت یا تنبه» په داسی ډول که هغه شی چی ده تکیه ورته کړیده ایسته سی. غوځاریږی. او دا هم پر ظاهر روایت

په دا ړو مسئلو کښی» یعنی ظاهر مذهب د امام اعظمؒ هم دَغه دی» چنانچه روایت په امام ابی یوسفؒ کړی دی د حضرت الامامؒ نه» مصنف په مَراقی الفلاح کښی وائی چی دغه مذهب صحیح دی او پر دغه مذهب دی عام مشائخؒ. لکن قدوریؒ وائی چی اودس پـه ماتیږی. او امام طحاویؒ هم وائی چی اودس پـه ماتیږی. د درولیش وائی چی دلیل د ظاهر المذهب دادی چی داسړی کرڅه هم بیده دی لکن ځان پر ځمکه ټینگ دی نو د وتلو نه د ناقض الوضوء په امان دی»

تَنْبِیْه د حضرت الامامؒ پـه مناقبو کښی داسی رَاغلی دی چی دَه مبارک څلویښت کاله د ماخُستن په اودَاسه د سحار لمونځ کړی دی» مخالفین د حضرت الامامؒ د ا منقبت دَواقعیت نه بیخی لری بولی» بعض حنیفیانؒ د غه خُواب ورکوی چی حضرت الامامؒ موافق د خپل مذهبه سَره دَ شپی ویو دیواله یا تنبی یا بالښت ته چارزانو کښینستی او بیا به یه خُوب کاوَه اودَ تهجد او د سَهار لمونځ یَه هم په هَغه د ماخستن په اودا سه کاوه» د درولیش وائی چی دیو خوشپو د پاره خودا کار بعید نه دی امّا څلویښت کاله متوالی (پی درپی) داسی خُوب کول ډیر لیری مَعلومیږی. چی په دوښاوو دَه موده کښی عذر ونه د نـا جوړی او دکور د ضرورت، او د قضاء حاجت حتماً پیښیږی. اما منقبت خو صحیح دی چی د رولیش د دی منقبت وجه او په زړه پوری توجیه په شرح پښتو کښی دا بوالمنتهی بیان کړیده. او زه گمان کوم چی دَهغی وجهی نه بیله متعصب عالِم یا حاسِد نه بل څوك اعراض وَنه کړی، او پـه اِنعام دا حُسنت به می مخاطب کړی، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ. قَـالَ المصنفؒ.

وَنَوْمُ مُصَلٍّ وَلَوْ رَاكِعًا اَوْسَاجِدًا عَلٰی جِهَةِ السُّنَّةِ وَاللّٰهُ الْمُوَفِّقُ

او اودس نه ما توی خوب د لمونځ گذاره په هر هیئت چی وی حتی کی څه هم په حالت د رکوع یا سُجده کښی بیده سی. چی پـه دی دوو حالو کی د وتـلو د باد ډیر احتمال سـته، لکن چی رکوع او سُجده یَـه پر ډَول د سُنت وی چی لاسونه

بی د بَغَلونځنه لیری وی او په سُجده کښې بی نَس هم(له ورنو) دَ وَرنو څخه لیری وی. حَدیث مُبارك کښې رَاغلی دی م لا یَجِبُ الوُضُوءُ عَلیٰ مَنْ نَامَ جَالِسًا اوقائمًا اوسَاجِدًا حَتّیٰ یَضَعُ جَنبُہٗ ۔ یعنی اودس نه واجبیږی پرهغه چاچې بیده سی په ناستی یا په وَلاړی یا په سُجده کی ترهغو چې بَغَل این دی پرمځکه. امام طحطاوی په صفحه ۷۵ کی داسی وَائی: لِبَقَاءِ بَعْضِ الاِسْتِمْسَاكِ اِذْ لَوْ زَالَ كُلُّهٗ لَسَقَطَ ، چې دغه سړی بعض ځان ټینګه ول پاته دی. ولی که یو کَلَمځته یه ځان ټنګیده ورلوبی داسړی حتمًا غځاریدی ، مصنف په اخیر کی وائی وَاللهُ المُوفِق خدای جل جلاله ورکوونکی دی. قَالَ المُصَنِّفُ

فَصْلٌ مَا یُوجِبُ الاِغْتِسَالَ

فَصل دی په بیَان کښې دهغو شیَا نو چې غسُل واجبَوي. **پُوهسَه** چې اغتسال اوغسل په یوه مَعنا دی چې هغه پرېوله دټوله بَدن دی. اوپه شرع کی پرېوله دَټوله بَدن دی دجنابَت څخه یَاد حَیض یاد نفاسه څخه اوجنابت یو صفت دی چې دَنزول څخه دمَنی په شهوت سره که دنروی اوکه دَښځی پیدا کیږی لکن داغسُل فرضی تفسیر دی اوغسُل مسنون هم داغه معناده ، قَالَ المُصَنِّفُ

یَفْتَرِضُ الغُسْلُ بِوَاحِدٍ مِنْ سَبْعَةِ اَشْیَاءَ

فرضیږی غسُل په یوه سره د اوو شیانو. یعنی چې سړې یو دغو اوو شیانو بیلیږی سی غسُل پرلازم دی.

خُرُوجُ المَنِیِّ اِلیٰ ظَاهِرِ الجَسَدِ

اول وَتل دی دمنی دنر یا دښځی څخه وظاهر بَدن ته. ولی چې ښکاره نسی حکم نه لری

پوهسَه: چې مَنی دَنرسپینی ختیه اوبه دی چې په وَتلوسره ئی ذکر مرکیږی ومَنی دَښځی تری ژیړی اوبه دَی. قَالَ المُصَنِّفُ

اِذَا انفَصَلَ عَنْ مَقَرِّهٖ بِشَهْوَةٍ وَکَانَ خُرُوجُهٗ مِنْ غَیْرِ جِمَاعٍ

کله چې جلا سو له مقر یعنی جَلا سو غه منی دَخپل ځای څخه چې دنرملا اودَ ښځی دځگر پښتی دی. چې وتل یه بولی: قَالَ اللهُ تَعَالیٰ: یَخْرُجُ مِنْ بَیْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَائِبِ ، اووتل یه بیله جماعو وی. لکه په خوب کی اودَس پرواوری. یا په فِکر سره، اویا په نظر دَ شهوت تلوسره ، **پُوهسَه** : چې مصنف مِنْ غَیْرِ جِمَاعٍ ووَیله ، وَلی چې دَجماعو غسُل په خروج دمنی پوره انهنه لری بلکه چې د غنهسرپه فرج یادُبر کښې پټ سی غسُل دی که څه هم انزال نه سی. **مَسْئَلَہٌ** که بی شهوت مَنی فاعل اومفعول دواړو فرض ... راووزی غسل نه پرلازم. لکه لوی بار چې په شا کړی یا یه خوك په مَلا ووهی او مَنی راووزی غسل نه پرلازم. **پوهسَه**: چې چونکه دفق وَشهوت سره لازم وه نو ځکه مصنف دفق نه کړې ذکر اوپه بعض کتابو کښې دَ فقهی یه دفق اوشهوَت دوَاړه راوړی دی لکن عبَارت دمصنف چې یوازی شهوت راوړی دی ډیراعلیٰ دی. وَلی ددفق وجود په ظاهره یه مَنی کی دَښځی نه لیدَل کیږی. حضرت الامام الطحطاوی په صفحه ۷۷ وَائی چې هغه ایت مبارك ، خُلِقَ مِنْ مَّاءٍ دَافِقٍ یَخْرُجُ مِنْ بَیْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَائِبِ بناء پرتغلیب وی دمنی دَنر پرمَنی دَښځی ، دَدَ ولش وَائی چې هَم دغه رنگه عبارت دَنورو فقهاوُ چې دفق یَه ذکر کړې دی مبنی پر تغلیب وی. لکن مع هذا مصنف په مَراقی الفلاح کښی وَائی: وَاَغْنیٰ اِشْتِرَاطُ الشَّهْوَةِ عَنِ الدَّفقِ لِمُلَازَمَةٍ بینهما. وَاللهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ

فَائِدَةٌ سَنِیَّةٌ ضَرُورِیَّةٌ

... چې مصنف یه مَراقی کی دخروج دمَنی په شهوت سره بیله جماع یو بَل صُوَت راوړی

Maktaba Tul Ishaat.com

دی لکه چې یوسړی پلاس کوځان انزال کړي. **مسئله**: په دی باره کښی داد
بحرالرائق د محیط څخه داسی نقل کړي دی. که یوسړی ماینه نه لری، اوشهوت
پری روی اوبیرېږی چې یا زنا یا لواطت به راسه صادرسی. هغه اجازه دی چې
خپل لاس کی ځان انزال کړي دیاره دارامولو دشهوت خپل مګر به دی فعل کښی
نسته. حضرت الامام الاعظم وائي یَنۡجُوۡ رَأۡسًا بِرَأۡسٍ، دی سړی نجات پیدا کړ
سر په سر یعنی نه ده ته ثواب سته اونه عذاب. اوکه سړی دشهوت پرستی
دیاره دغه کار کاوه - بیا داکار حرام دی. په حدیث شریف کی راغلی، نَاكِحُ
الْيَدِ مَلْعُونٌ". اود سعید بن جبیر څخه روایت دی چې یوقوم خدای په عذاب
کړه په سبب د دی چې دوئ په لاس کښی ځانونه انزالوه"

واوره: چې اووه قسمه خلګ خدائ په نظر د رحمت نه ور ته ګوري لیودن
څخه نَاكِحُ الْيَدِ دی: ابن جریج وائي ما دعطاء څخه په باره کښی دغه کار
پوښتنه وکړه. هغه وَویل چې مکروه دی. اوهغه زیاته کړه چې په ورځ دقیامت
به بعض قوم حشر سی چې په لاس کښی بی حمل وی. نو ده وویله چې زما ګمان کیږي
چې داقوم دغه فعل کوونکی به وي. **مسئله**: دحضرت الامام الاعظم اوامام
محمدؒ مذهب دادی چې شهوت په نیز د جلاوالی د نطفی د ملا څخه فقط شرط دی
اوتر وخته دَوتلود ذکره څخه دوام نه غواړي. اوامام ابی یوسفؒ وائي چې تر وخته
دَوتلو دمنی دوام دشهوت شرط دی **فائده**: د دی خلاف داده که دیو
دملا څخه په شهوت نطفه جلا سوله اوده د ذکر سر ټینګ کړي، چې شهوت یا
سوړ سُو بیا نطفه ایله کړه.

دامام اعظمؒ او محمدؒ پر مذهب غسل کول پر لازم دی. او په نیز د امام ابو
یوسفؒ غسل نسته باندي. او بله فایده په داده که د یوسړي څخه منی وَوتله
پر هغه ځای غسل وکړي اولمونځ یې هم وکړي. وروسته نو منی راووتله لمونځ
خواتفاقا صحیح دی. لکن د طرفینؒ په نیز غسل بل پر لازم دی اود امام یوسفؒ

پر نیز غسل اول کافي دی. اوکه چیری د یوسړي نطفه راوتل نو ده بولي وکړي
اوبا بیده سو او یا په ډیر تګ وکړي بیا یه غسل وکړي اوور وسته نور منی
راووتله بل غسل په اتفاق پری نسته: **سؤال**: دخروویل سول که پر ښځه
اوس بی جماعو واوری مثلاً دخوب په وخت کی اوکه پر ښځه اودس واوری ایا پر
ښځه هم دغه شان اودس اوري **جواب** هواوري د بخاری د روایت سره سم
پوښتنی د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه پوښتنه وکړه. هَلْ عَلَى الْمَرْاَئَةِ
إِذَا هِيَ احْتَلَمَتْ قَالَ نَعَمْ اِذَا رَأَتِ الْمَاءَ" یعنی آیا پر ښځه غسل سته چې
شیطان یه خطاباسی. علیه السلام ورته وویل هو چې اوبه ووینی یا پر بدن یا پر
پرتاګه.

پوښتنه: زمونږ تران خو چې په خوب کی اودس پر واوری نو وائي حتی د
ښځو په مخکښی چې دشپی معذور سوی وم، یا شیطان بازی راکړی وه، او ښځی
داخبره نه کوي حتی چې خپل ماښن کښی هم، **جواب** د ښځی چونکه شرم ډیر دی
نو ځکه داخبره نسی کولای بلکه په بهانه د سر پریولو په غسلخانه ننوزی او
هوری خپل غسل وکړي. اوداخبره ضروری ده هرڅوک چې شهوت او نطفه لري
خواه مخواه اودس هم په ویسنه د جماعو په سبب هم په خوب کی اودس پر اوري
که ښځی نطفه نه درلودای. نو یوائی نرد نطفی څخه عیال نه پیدا کیږي. قَالَ

وَتَوَارِيْ حَشَفَةٍ اَوْقَدْرِهَا مِنْ مَقْطُوْعِهَا فِيْ اَحَدِ

او بل واجبوونکی د غسل پټ والی دی د غنږد سر او یا په قدر د حشفه کی حشفه
پری وه. په یوه کښی د دوو لارو چې کُس اوکُنه

سَبِيلَىْ اٰدَمِيٍّ حَيٍّ ده لکن دا انسان چې ژوندی وي. **یوه سَه**
چې حشفه د سنتی تر ځایه پوري ته ذکرته وائی. لکن ننوتل د بولی حشفی واجبوونکی
دغسل دی اوکه چیری کم تر حشفی یا تر قدر د حشفی ننوتی غسل نه واجبیږي.

قاله الطحطاوی نقلاً عن القهستانی۔ **فائده**: غسل پر ښځه هله واجبیږی چې په یوه کښی ددوو لارو ددی ننوزی ذکر د انسان او که د لنګور د بیزو ګیا نو مثلاً غنی په ننوزی ترمغه چې پردی او دس وا نه وری غسل نه دی پر واجب او د نر کښه هم پر دغه قیاس ده» او هغه انسان چې د اشتهاء په ځای که چیری دی د کښتنی آله په ځان چخ کړی ترهغو چې انزال نه سی غسل پری نسته۔

پوښتنه چې غسل پر فاعل او مفعول دواړو فرض دی که مکلف وه او که مراهق یعنی بلوغ ته نزدی وه نو هم په امر کیږی د پاره د عادت نیولو۔

مسئله که یو نر د کښتنی جنتلی سره جماع وکړی او د ذکر سر یه په کښی پټ کا او کس ته یه تاوان نه و رسیدی پر دغه نر که څه هم نسی انزال غسل فرض دی»م

مسئله که سړی خپل ذکر په ټکره کښی و پیچی او د ښځی په فرج کی داخل کړی او انزال نه سو بیا ته یه و او کښی نو اصح خو دا ده کی ګرمی د کس د ښځی او خوند مو احساس کړی غسل پر واجب دی او کی احساس نه کړی غسل پری نسته۔ لکن احتیاط دا دی چې غسل وکړی۔ لقوله علیه الصلوٰة والسلام: اِذَا الْتَقَی الْخِتَانَانِ وَغَابَتِ الْحَشَفَةُ وَجَبَ الْغُسْلُ اَنْزَلَ اَوْلَمْ یُنْزِلْ۔ او مصنف د ژوندی قید وو ایه ولی کی د مړی ښځی سره دغه کار وکړی ترهغو چې انزال نسی غسل پری نسته۔ قال المصنف

وَاِنْزَالُ الْمَنِیّ بِوَطْیِ مَیْتَةٍ اَوْ بَهِیْمَةٍ

او بل غسل واجبوونکی انزال دی د منی په وطی سره د مړی ښځی او یا د چارپای لکه خره، غوا، وغیرهما۔ ددی مسئلی معنا دا ده چې په مطلق داخلولو د ذکر په فرج کی د مړی ښځی یا خری مثلاً غسل نه واجبیږی ترهغو چې انزال نسی۔ که انزال سو غسل پری فرض دی» قال:

وَوُجُوْدُ مَاءٍ رَقِیْقٍ بَعْدَ النَّوْمِ اِذَا لَمْ یَکُنْ ذَکَرُهٗ مُنْتَشِرًا قَبْلَ النَّوْمِ

او دغه رنګه غسل واجبوی لیدل د اوبو د نری یو یعنی چې د منی خیال هم نه کیږی۔ پس له بیداریدو د خوب نه لکن دا لهغه چې ذکر ددہ۔

تلک او و لاړه وی ترخوب د مخه۔ په مراقی کی وائی چې احتلام یه هم په یاد نه وی۔

پوښتنه: چې دا حکم د غسل مذهب دی د حضرت الامام الاعظم او د حضرت الامام محمد او ابو یوسف وائی چې غسل نسته با ندی ولی چې دا نرمي او به مذی ده او به قول دابی یوسف خلف بن ایوب۔ او ابو اللیث السمرقندی هم اخستی کړی ده۔ او قیاس هم د غه تقاضا لري۔ طرفینو لره دلیل دا دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه چا پوښتنه وکړه۔ چې یو سړي چې پر بدن یا پر تاګه لندوالی وویني او احتلام یه یاد نه وي! قال یغتسل، علیه السلام جواب ورکړی چې غسل به کوي۔ او بل دلیل دا دی چې ګاهی ګاهی منی په سبب د یو عارض نرم ګرځی او احتیاط په باب کی د عبا دا تو لازم دی» او کی ذکر منتشر وو تر خوب د مخه نو دا تجربه ده چې دو لاړه ذکره څخه مذی وزی نو ځکه موږ دا نرمي او به پر مذی حمل کوو» او غسل پر واجب نه بولو۔

مسئله: که میړه او ماینه سره یو ځای بیله پر تاګه بیده وه چې او پس سوله په ما بین کی د دوي او به وي۔ نو که دیوه د دوی څخه احتلام پیاد وو خو پر هغه غسل لازم دی۔ او کی نه وو پیاد۔ نو که دا او به ختمه او سپینی او به او اوږ د والی پرتی وی نو پر نر غسل لازم دی۔ او که هغه او به نرمی او ژړی او په پساره پرتی وی نو پر ښځه غسل لازم دی۔ او کی هیڅ تمیز نه کیدی دواړه به غسل کوی» کذا فی معتبرات الفقه۔

فائده: بحرائق دا مسئله یعنی د لیدلو د اوبو پر بدن یا پر جامه پس له خوبه څخه پر دوولس وجهی بیان کړی ده۔ چې حاصل یه دا دی ۱ یا بی یقین وي چې منی ده ۲ یا بی یقین وي چې مذی ده ۳ یا بی یقین وي چې ودي ده ۴ او یا بی شک وی په اول او دوهم کښی ۵ او یا بی شک وی په اول او دریم کی ۶ او یا بی شک وی په دوهم او دریم کی۔ دا خو شپږ صورته سوه۔ او پر هر تقدیر د د غو شپږو یا بی احتلام پیاد وی یا نه۔ نو شپږ چې په دوو کی ضرب کړی دوولس جوړیږی۔ نو په هغه صورت کی چې یقین یه وي چې منی ده کی احتلام پیاد وی او که نه غسل

Maktaba Tul Ishaat.com

پر لازم دی. او دغه رنگه غسل پر واجب دی کی یقین وو چی مذی ده لکن احتلام یه بیاد وو.
او دغه رنگه غسل واجب دی کی شك وو چی منی ده او که مذی یا شك وو چی منی
او که ودی. او یا شك وو چی مذی ده او که ودی لکن په دغو صورتو کښی احتلام بیاد وو.
دا خو په اتفاق د دروسره اماماتو. او د اهم اتفاقی حکم دی کی یقین وو چی دغه او یا
ودی ده کی احتلام بیاد وی او که نه. او یا شك وو چی مذی ده او که ودی لکن
په دی دوو صورتو کښی احتلام نه وو بیاد.

او که چیری شك وو چی منی ده او که مذی. یا شك وو چی منی ده او که ودی او احتلام
یه بیاد نه وو نو غسل پر واجب دی په نیزد طرفینو خلافاً لابی یوسف. **پوهسه**
چی مراد د یقین نه په دغو مسئلو کښی غلبة الظن دی. ولی چی حقیقت یقین مشکل دی
کذافی «ط» قال المصنف

وَوُجُودُ بَلَلٍ ظَنَّهُ مَنِيًّا بَعْدَ اِفَاقَتِهِ مِنْ سُكْرٍ اَوْ اِغْمَاءٍ

او دغه رنگه غسل واجبوی لیدل د لندوالی چی د سړی غالب گمان داوی چی دا منی ده. او دا
لندوالی و وینی پس له دی چی دا سړی پر سدسی د مستی نه او یاد بیهوشتیا نه.
حاصل دا چی یو سړی شراب مثلاً چښلی وه او یا بیهوشه سوی وو چی په هوش کی
راغلی. یعنی مستی یه ولاړه او یا بیسد تیا یه ختمه سوه. نو په بدن او یا جامه
یه لندوالی وو چی د ده غالب گمان داسو چی پر دا ودس او بنتی دی. او د النداوالی منی
ده غسل پر لازم دی. او کی غالب گمان دا وو چی دا مذی ده غسل نسته باندی. او دا
غسل په اول صورت کی احتیاطی دی. قال المصنف

وَبِحَيْضٍ وَنِفَاسٍ

او دا غه رنگه غسل فرض دی په حیض او نفاس سره یعنی چی نجاست نه د حیض او نفاس نه
خلاصه سی نو غسل کول پر فرض دی. دا حکم اتفاقی دی او په قرآن سره ثابت
دی.

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه آمین

وَلَوْحَصَلَتِ الْاَشْيَاءُ الْمَذْكُوْرَةُ قَبْلَ الْاِسْلَامِ فِي الْاَصَحِّ

که څه هم حاصل سی دغه شیان چی ذکر سول یعنی وطی او حیض او نفاس وغیره چی موجبات
دغسل وه د مخه تر اسلام په اصح روایت کی. ولی چی د کفر په وخت کښی چی دی جنب
وو هغه جنابت یه پاته دی او په اسلام سره نه زائلیږی. او پس له اسلامه د
لانخه تلاوة القرآن وغیرهما دپاره پاکوالی د جنابت نه شرط دی. قال المصنف

وَيُفْتَرَضُ تَغْسِيلُ الْمَيِّتِ كِفَايَةً

او فرض دی غسل ورکول ومړه ته لکن دا فرض کفائی دی چی یو څوك یه ورکړی د ټولو
مسلمانو غاړی خلاصیږی او که هیڅ چا ورنه کړی د ټولو حاضرو خبرو مسلمانو غاړی
بندی دی. **فائده**: مصنف که څه هم مړی مطلق ذکر کړی دی. لکن
هغه مقید په دی دی چی مسلمان به وی. او بل دا چی داسی کار او بنتی به نه وی
یکښی چی غسل یه ساقط وګرځی. لکه جنایت د بغاوت و حکومت اسلامی ته یا
شهادت فی سبیل الله وغیره. او دغه رنګه ده حکم نه مستثنی دی خنثی
مشکل. خنثی مشکل چی مړ سی څوك والی تیمم دی ورکړی. او بعض علماء وائی
د کالو سره دی پری مینځی. والاول اصح.
پوهسه: چی د مړی د غسل دپاره نیت شرط دی. د غاسل د غاړی خلاصید
دپاره نه دپاره د پاکوالی د مړی. کذا فی فتح القدیر. قال المصنف.

عَشَرَةُ اَشْيَاءَ لَا يُغْتَسَلُ مِنْهَا مَذْيٌ وَوَدْيٌ

لس شیان دی چی د هغو نه غسل نسته (یعنی غسل پر سړی واجب نه دی) هغه مذی او ودی دی
د مذی لفظ په زور د میم او په سکون د ذال. او بعض وائی چی په زیر د ذال سره ده
تخفیفه دیاءه او بعض د کسری د ذال سره په تشدید دیاء وائی. مذی سپینی او بر

دی نری چې په وخت کی دَ شهوت راوزی. دفق ورسره نه وی. او بعض وخت یه په وتلو سرې پوه نَسِی. او دا مذی تر نرو په ښځو کښی ترنرو ډیر پیدا کیږی او د ښځو وهغی تر، قَذی وائی په زورد قاف او سکون د ذال. او لفظ د وَدِی په زورد واوا و سکون د دال سره تخفیف د یاء دی. او ودی سپینی او به دی خرینی ختهٔ او گاهی تر بولود مخه او گاهی وروسته تر بولو راوزی.

پوه سه: چې په اتفاق د ټولو امامانو په دی دوو کی غسل نشته «م ر ط» او گاهی وَدِی په پورته کولو سره د دَرانه شی هم راوزی. او په دواړو اودس ماتیږی.

وَالِاحْتِلَامُ بِلَا بَلَلٍ

او د خوبه څخه احتلام چې لندوالی پرې بدن او جامه نه وی یعنی خوب یه پیاد وی چې ما د جاسره وطی وکړه لکن لندوالی نه وی. او ښځه لکه نر داسی ده په دغو احکامو کی. م. په ظاهر روایت کی. او امام محمدؒ وائی چې غسل پر ښځه واجب دی د پاره د احتیاط» کذا قال الطحطاوی.

فائده: احتلام محال دی پر انبیاء علیهم السلام. ولې چې دا کار شیطانی دی او انبیاء علیهم السلام معصوم دی د شیطان د غلبې څخه که څه بعض وخت وسوسه ور اچوی. قاله الطحطاوی ناقلا عن بعض الائمة.

وَوِلَادَةٍ مِنْ غَيْرِ رُؤْيَةِ دَمٍ بَعْدَهَا فِي الصَّحِيحِ

او زیږیدل د کچینی د ښځی څخه بیله لیدلو د وینو پس له ولادت څخه په صحیح روایت کښی» چې دا مذهب دیا رانوی. او امام اعظمؒ وائی چې پر دغه ښځه غسل واجب دی احتیاطًا. ولې چې ولادت بیله وینو که څه هم لږ وی غالبًا صورت نه لری. قال

وَإِيلَاجٍ بِخِرْقَةٍ مَانِعَةٍ مِنْ وُجُودِ اللَّذَّةِ

او غسل نه واجبوی ننه ایستل د ذکر په فرج کښی د ښځی سره د داسی ټکره چې مانع وی د وجود څخه د خوند وی. یعنی یو سړی پر خپل ذکر باندی پنډه ټکره وپیچی

او بیائی د ښځی په فرج ننه کړی. چې هیڅ خوند نه ور کوی غسل نه واجبوی.»

سوال: مصنفؒ د مخه حرارت او لذت دواړه ذکر کړه او دلته یی یوازی لذت ذکر کړی.

جواب: لذت او حرارت سره لازم او ملزوم دی. **پوه سه**: چې دا حکم بناء پر صحیح روایت دی لکن احتیاطًا غسل پر واجب دی «م» قال المصنفؒ

وَحُقْنَةٍ وَإِدْخَالِ أُصْبُعٍ وَنَحْوِهِ فِي أَحَدِ السَّبِيلَيْنِ

او د غه رنگه غسل نه واجبوی» دستور) په بل عبارت (اماله) یعنی هغه چې یو سړی قبض اوسده وی د کُنی د خوا د واپه کښی تو نیوی. او یا گوته یا مثل د گوتی لکه پوست شم، وغیره په یوه کښه د دوو لارو یا کُنه یا کس. **پوه سه**: چې دستور خود پاره د دَوادی دَ شهوت د پاره نه دی او گوته او مثل د هغی که څه هم د قضاء د شهوت د پاره وی لکن شهوت یه قاصر او کم دی. نو تر هغو چې انزال نه سی غسل نه دی پر واجب

فائده: په ننی زمانه کی بعض ښځی شهوت پرسته. پنډه شم را نسی او سر یه د ذکر د سر پر وزم ور جوړ کړی. نو خو. شم پوست لکه کلک ذکر دا سی دی. نو که ښځه باکره وی ددې سببه چې بکارت مې زائل نه سی. دغه شم په کونه ننه باسی او دا کاری ترڅو چې انزال کیږی.

او که باکره نه وه نو یا یه مېړه ډیری وطی نه سی کولای. او یا مسافر وی نو د غه شمع پر کس استعمالوی ترڅو چې انزال کیږی. نو په دی گردو صورتو کښی غسل پر واجب دی. او که نر داغسی وکړی هم غسل پر واجب دی. او دا کار که د پاره د تسکین د شهوت وو خو راسًا برأس خلاص دی. او که د پاره د قضاء د شهوت وو نو گناه هم ده» کما فی الاستمناء وقد مر تفصیله» قال المصنفؒ.

وَوُطْءِ بَهِيمَةٍ أَوْ مَيْتَةٍ مِنْ غَيْرِ إِنْزَالٍ

او د غه رنگه غسل نه واجبوی وطی کول د یو چارپای لکه خره یا مړه ښځه چې بی انزاله وی. وجه یه دا ده چې

Maktaba Tul Ishaat.com

په دې دوو کښې کامل شهوت نشته - قَالَ المُصَنِّفُ.

وَاِصَابَةُ بِكْرٍ لَمْ تُزِلْ بَكَارَتَهَا مِنْ غَيْرِ اِنْزَالٍ

او واغرنګه غسل نه واجبوي رسیدل یعني غوږل د باکرې ښځې چې پرده غرغوږلو سره یه د بکارت پرده نه سي خیرې لکن بیله انزال څخه او که انزال سو بیا غسل پر واجب دئ.

پوښته: چې د بکارت پرده و دالآن ته د فرج دومره نږدې ده که چیرې سرې تولة حشفه ننه باسي خواه مخواه هغه پرده څیرېږي نو هغه پرده نه سوه خیرې نو معلومه سوه چې تولة حشفه په فرج کې نه ده داخله سوې بلکه صرف په د هلیز کښې د فرج ده» قَالَ المُصَنِّفُ.

فَصْلٌ

يُفْتَرَضُ فِي الْاِغْتِسَالِ اَحَدَ عَشَرَ شَيْئًا

دا فصل دی - فرض ګرځل کیږي په غسل کښې یوولس شیان. **پوښته**: چې د دغو یوولسو کارو مرجع یو دی چې هغه رسول دا و بودي و هغه تولو ځایو ته د بدن چې رسیدل دا و بو ورته ممکن وي. لکن مصنف د پاره د ښه تعلیم یوولس کړه.

غَسْلُ الْفَمِ وَالْاَنْفِ وَالْبَدَنِ مَرَّةً

پریولل دی د خولې او د پزې او د بدن یو وار **پوښته**: چې لفظ د مَرَّةً قید د درې وارو دی یعني یو یو وار خو فرض دی او درې واره والي یه سنت دی. او مبالغه په پریولو کښې هم سنت ده. م ،ط »

چې جنب په دکه خوله او به وچښي د فرض وغاړې خلاصیږي.

مسئله: فرض والي د خولې او د پزې د یولو اجتهادي دی. او د امام اعظم او دده د یارانو مذهب دی. دلیل یه دا قول د خدای دی «وَاِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا» د فَاطَّهَّرُوا د پاره د مبالغې دی یعني که چیرې تاسي جنب واست ځان ښه پاکوئ لفظ د

فائده: فرض والي د خولې او د پزې د یولو اجتهادي دی.

مسئله پریولل د خولې او د پزې یوازې په غسل مفروض کې شرط دی یعني غسل د جنابت او حیض او نفاس. په غسل مسنون کې لکه غسل د ورځې د جمعې یا د عرفات وغیرهما فرض نه دی بلکه سنت دی» کذا في الدرر.

مسئله: که د چا د غاښ ما بین خالي وو. او په هغه غار کښې د وړې لویدلې وه او یا یه د غاښو په ما بین کښې طعام وو.

او یا یه په پزه کښې لا نده خیران وه. پریولل د خولې او د پزې سره د هغو کافي دی» ولې چې او به لطیف شی دی هر ځای ته رسیږي. او که په پزه کښې وچ خیران وه هغه به ایسته کوي نو یه غسل صحیح دی. **مسئله**: د بعضو خلګو پر غاښو کلک خیران وي چې اکثره د نسوارو څخه پیښیږي او د اخیران بیله علاجه لکه په سوهان سره نه لیرې کیدل. او د اعلاج حرج عظیم دی بلا شکه نو غسل یه سره د هغو صحیح دی» د رو لیش »

مسئله بعض خلګ د غاښو د درد له کبله د غاښ ما بین په ډاکټر خالي کړي او بیا یه د یو شي څخه ډک کړي» آیا د دغه سره آینده غسلونه صحیح دي او که خرنګه او آیا د غاښ د غه ډکول جائز دي او که نه! **جواب**: د غاښ ډکول خو تداوي ده په حلال شي دا تداوي خو روا ده. په شرط د دي چې په وخت کښې د ډکولو جنب نه وي. او پس له ډکولو چې جنب سي نو هغه دوا لکه جزء د غاښ دا سي ګرځي. یعني چې بیله کښلو د غاښ نه راووزي. نو غسل یه صحیح دی. کذا یفهم من الفتاوی الهندیه. او په کتابو کښې د فقهی شریفې د دې مسئلې مقیس علیه ویرې دي فلیطالع ثمه » د ر ولیش:

وَدَاخِلُ قُلْفَةٍ لَاعُسْرَ فِيْ فَسْخِهَا

اوفرض دی په غسل کښې پرېول د ده نَنی خواد هغه پوست چې د ذکرپ سَر وی یعنی سَرِی ناسنت کړې وی نو غسل کوی هغه پوستکی به چَپَه اړه وی او بیا بې مینځی لکن که چیری په چپه اړولو کښې تکلیف نه وو، اوکه چیری زور یه غوښتې بې یاسره دقلفة یه غسل صحیح دی؛ قَـالَ الْمُصَنِّفُ۔

وَسُرَّةٍ وَثُقْبٍ غَيْرِ مُنْضَمٍ

اوفرض دی پرېوله دنُود غاړه ولې چې دَباندی جزء دی او په پرېولو کښې حَرَج (تکلیف) نشته۔ اوفرض دی پرېوله دهغه غار چې دغوږي دَ لا سوی نه وی۔ لکه د بعض ښځو په پزه کښې غارد تیک دَپاره۔ اویادا کثروښځو دغوږ غارونه دغوږ والیُو دَپاره۔ اویـا نوردغه قسمه غارونه۔

مَسْئَلَهُ د ښځې دَفرج د شونډانو پرېوله فرض دې۔ ولې چې دا لکه خوله داسی دَه، او د داخِل دفرج پرېوله نه غواړی چې گوته به ورننباسی۔ ولې هغه لکه حلق دی۔

مَسْئَلَه: د غُسل په وخت کښې به هَغه شئ دَبَدَنه لیری کوی چې مانع داوبو د رسیدو وی ویوست ته، لکه موم یا لانده اوړه۔ **مَسْئَلَه** د رنګریز د نوکانو رنګ پَروانه لری۔ او دمابین د نوک او وَری خیره مانع دَ غُسل نه دَه، که سَړی ښاری وی اوکه صحرائی وی په صحیح روایت کی۔ اوبعض فقهاءٌ وائی چې د صحرائی د غسل مانع نه دَه۔ او ښاری سَړی به هَغه خیره لیری کوی ورنه غُسل یه نه دی صحیح کځه هم اوبه لاندی وَنه رسیږی،، مرط،،

مَسْئَلَه ضَرُورِيَّه: بعض ښځې چې د کفارو د عادَت سَره شناخته سوی وی دلاسو د گوتو نوکان ډیر اوږده وی۔ او علاوه پَر هغه یو سور ختنه رنګ دی چې دخارجه نه راځي۔ بلکه په بعض اسلامی ملکو کښې هَم جوړیږی۔ پر د غو نوکانو واچوی، چې دَ نوك دپاره لکه پوښ بلکه عیناً پوښ سی۔

چونه په تودو اوبو اونه په صابونه جلا کیږی۔ نو د دغه ښځو که ځانونه مسلمانانی وائی۔ نه ئې اودَس صحیح دی او نه غسل۔ چې دا دوه نه سی صحیح نو لمونځونه یه هم نه دی صحیح۔ او په لبعض کتابو کښې د فقه شریفی وائی چې بی اودسه سجده کول کفر دی۔

وَدَاخِلُ الْمَضْفُوْرِ مِنْ شَعْرِ الرَّجُلِ مُطْلَقًا

اوداغه رنګه فرض دی پرېوله دداخِل دکوڅیو دَنر یعنی چې د سَړو ویښتیان یه لکه ښځې داسی کوڅی وَدَلی وي۔ نوترهغو چې دغه کوڅی سَره خَلاصی نه کړي غسل یه نه دی صَحیح۔ ولې چې دَنر دپاره کوڅې زینت نه دی۔ لکه دَښځې۔ نو په غوړولو کښې که حَرَج نشته۔ **پـوهـسـه**: چې د مطلقًا د لفظ ترجمه مَراتی داسی کړې نه، سَوَآءٌ سَرَی الْمَاءُ فِيْ اُصُوْلِهٖ اَوْلَا، خواه ننوزی اوبه په بیخو کښې دکوڅی اوکه نه! امام طحطاویؒ پردغه تفسیر داسی سوال کړی دی؛ وَفِيْهِ اِنَّهٗ اِذَا سَرَى فِيْ اُصُوْلِهٖ وَعَمَّهُ الْمَاءُ كُلَّهٗ لَايَلْزِمُ دَلُّهٗ، په دی تفسیر کی داسته چې هر وخت چې اوبه سَریان وکړی په بیخو کښې دکوڅیو او ټوله اصول یه لانده سی بیا نو خلاصیده نه غواړی صـ۸۲۔

او بعض فقهاء د اطلاق داسی ترجمه کوی، خواه داسَړي عَلوی وی اوکه تُرکی، یعنی په قدیمه زمانه کښې به علویانو کوڅی۔ دسَړو ویښتانو نه جوړې ولې دا ددوی شعار وو۔ او هَغه خبره چې عینی کړې ده۔ چې په علویانو کښې خلاصَول دکوڅیو حَرَج دی۔ سَیّدُ داخبره هرگز نه مَنی۔ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ، قال المصنفُ

لَا الْمَضْفُوْرُ مِنْ شَعْرِ الْمَرْأَةِ اِنْ سَرَى الْمَاءُ فِيْ اُصُوْلِهٖ

اونه دی فرض پر ښځه غوړول دَ وَدَلو کوڅیو که چیری دا خلیدی اوبه په بیخو کښې دویښتانو، په حدیث شریف کښې داسی راغلی دی چې امسلمهؓ سوال وکړی د رسُول اللّٰه صَلَی اللّٰه عَلَیه وَسَلم څخه چې زه داسی ښځه یم چې زما د سَر کوڅې

Maktaba Tul Ishaat.com

ډیری سختي دی ایا زه ئی غوړوم دپاره د غسل دَجنابت آنحضرتؐ وهغې ته
وفرمائیله کافی دی تاته چې پرسر واچوه درې واره اوبه یعنی تاچه بېخونه د
وېښتا نو دی لاندې سی۔ اوبیا پر نور بدن اوبه واچوه نو ته پاکیږې
مسئله: که چیری دَښځی وېښتان څپوله وه لکه کراسته۔ اویا یه کُنډو
پوری مُبتلی وی۔ اویا ښځې ډیروه چې په دری سره صورتو کښنې اوبه وبېخو
د وېښتا نو نه رسیدلی۔ نوبیا فرض دی چې سر به غوړوی یعنی کوڅې به خلاص
م، ط، ص۸۲ **مسئله**: پر ښځه باندی فرض نه دی رسول داوبو وما بین ته د کو
پر صحیح روایت۔ اوبعض فقهاءٌ وائې چې لندول دکوڅیو ضروری دی۔ اوبعض
وائې چې پریوله دکوڅیو ضروری دی که څه هم تر پېنو تیروی۔ وهذا بخلاف الرجل
فانه یفترض علیه بل الذوائب کلها «ط» قَالَ المُصنفُ۔

وَلُبشرَةِ اللِّحیَةِ وَلُبشرَةِ الشَّارِبِ وَالحَاجِبِ وَالفَرجِ الخَارِجِ

اوفرض دی پرته باندی پریوله دپوست دږیری» (م وائی که څه هم ږیره گڼه وی او دغ
رنگه دو وېښتا نو د بڼری۔ اوفرض دی په غسل کی پریوله دپوست د بریتو یعنی کی
څه هم بریتونه ډیر غټ وي۔ اوفرض دی پریوله دپوست دوروځو، اوفرض دی پر
ښځه باندی پریوله دد باندی دَفرج **مسئله**: که چیری اوبه په پېسووی
نو د ښځی دچنگک داوبو اوداسه داوبو دغسل داوبو روڼچ پر میږه دې۔

فصل

دافصل په بیان کی دسُنتو دغسل دی» قَالَ المصنفُ. وپلی دی مصنف

یُسَنُّ فِی الاِغتِسَالِ اِثنَا عَشَرَ شَیئًا سنت دی په غسل کی دوولس شیان

الاِبتِدَاءُ بِالتَّسمِیَةِ وَالنِّیَّةِ شروع کول په بسم الله آه اوبه نیت سره۔ چونکه بسم الله

قولی شی ده او نیت د زړه شی دی نو د دی دواړو یوځای والی ممکن دی، سنت
والی د بسم الله په هغه حدیث شریف دی، کُلُ اَمرٍ ذِی بَالٍ لَم یُبدَءُ فِیهِ
بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیمِ فَهُوَ اَبتَرُ» اوشك نسته چې غسل کول خو امر ذي بال
دی **سوال**: بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیمِ خو قرآن دی او جنب خو د قرآن د تلاوت
نه ممنوع دی **جواب**: هغه چې اتفاقًا قرآن وی، بسم الله په نیزد
امام مالكؒ قرآن نه ده۔ نو ځکه یه ویل و جُنب ته روادی۔ او ابتداءَ په نیت
سره دي سببه غواړی چې دا غسل یه دَثواب موجب وګرځي۔ لقوله علیه الصلوٰة و
السلام» اِنَّمَا الاَعمَالُ بِالنِّیَّاتِ. الحدیث بخاری قَالَ المُصنفُ»

وَغسلُ الیَدَینِ اِلَى الرُّسغَینِ۔ بندو پوری۔ پوه سه

اوپریوله دَلاسو دی تر اولو
چې بسم الله »چې قولی عمل دی۔ او نیت چې قلبی کاردی او دلاسو پریوله چې
فعلی عمل دی سره یوځای به وی۔ کذا یفهم من م» قَال المُصنفُ

وَغَسلُ النَّجَاسَةِ لَو كَانَت بِانفِرَادِهَا

اوبل سنت د غسل پریوله دی د نجاست که چیری وو یوازی۔ یعنی کی بدلاسو یا
بل ځای نجاست وُو۔ نو د هغه پریوله تنها د مخه تر اوداسه او غسل سُنت دی۔ تاچې
پر تو تولو داوبو سره هغه نجاست نورو ځایونه وَ نَه بهیږی۔ موږ چې داوَ ویله
چې دَ مخه آه نو هغه سوال نه واردیږی چې پریوله دَقدر مانع د نجاست خو فرض
دی۔ نو شیخ ولې په سُنت کښنې راوړی۔ حاصل د جواب دادی چې سُنت یه تنها
د مخه تراوداسه او غسل پریوله دي۔ اگر که نفس ازاله یه فرض ده»

کتبه احقر فضل الحق حقانی غفرله الباری

وَغَسَلَ فَرْجَهُ

او وغړ ته سُنت دی پریوله دَفرج یعنی دمخه تر غسل پوه سه: چی مراد د فرج څخه دلته منځای
دی چی په وخت کښی د ناستی د استنجاء پر ځول سَر خلا صیږی او چی ولاړ
سو تولیږی لکه کُنه او کس.
د دی سنت سَبب دادیٔ چی دغاسِل یقین سی چی د کُتی یاد کس و بیمو ځایو ته
او به ورسیدی. فائده: دا پریوله سُنت دی که څرهم پر فرج نجاست
نه وی» کما یُفهم من بیان السبب» قال المصنف.

ثُمَّ یَتَوَضَّاءُ کُوضُوئِهِ لِلصَّلٰوةِ فَیُثَلِّثُ الْغَسْلَ وَیَمْسَحُ الرَّأْسَ

او بیا دی اودس تازه کړی لکه اودس دپاره د لمانځه نور دی واره به کوی پریوله د مخو
اندامو چی پریوله کیږی په او داسه کی او مسح دی وکړی پر سر پوه سه
چی په مسح کښی د سَر اختلاف دی دا چی شیخ کرهدا ظاهر الروایت دی. وهو الاصح
او بعض فقهاء وائی چی د مسح نه غواړی ولی چی او به پر تو ئیږی. دلیل د ظاهر
روایت دادیٔ چی په صحیح حدیث کی داسی راغلی دی چی رسول الله صلی الله علیه
وسلم: تَوَضَّأَ قَبْلَ الْاِغْتِسَالِ وُضُوْءَهُ لِلصَّلٰوةِ، یعنی رسول الله به اودس
تازه کاوه د مخه تر غسل لکه اودس دپاره د لمانځه او شک نسته چی اودس نو د
پریولو او د سَر مسح دواړو دیٔ. دا دی حدیث روایت شیخ وسرو اماما نو د
کړی دی. او اصل روی یه امّ المؤمنین میمونه رض ده. فائده: په
هغه او داسه کی چی د مخه تر غسل به کوی مراعات د تولو فرائضو سُنتو مستحباتو به کوله

وَلٰکِنَّهُ یُؤَخِّرُ غَسْلَ الرِّجْلَیْنِ اِنْ کَانَ یَقِفُ فِیْ مَحَلٍّ یَجْتَمِعُ فِیْهِ الْمَاءُ

لکن دی ځنډ وی پریوله د پښو یعنی دا او داسه په وخت
کی دی نه منیځی که وغاسِل ولاړ په هغه ځای کی چی

هلته اوبه د غسل جمع کیدی. دلیل د تاخیر یه دادی چی ورو سته تر غسل
ته د پښو و پریولو ته ضرورت سته چی د هغه مُستعملو اوبو څخه
غسل پاکی سی. نو اول پریوله یه بی فائدی دی»

تنبیه فائده: سوال په هغه حدیث کښی چی عائشه رض روایت کړی او بخاری
او مُسلم هغه حدیث روایت کړی دی» په هغه کښی تاخیر د
غسل الرجلین نسته. بلکه لفظ د وضوء الصلوٰة راغلی دی او په او داسه کی د لمانځه
تاخیر د غسل الرجلین نسته
لکه بعض مشائخ وائی چی د پښو پریول دی نه ځنډوی. لکن صحیح هغه خبره
ده چی مصنف وکړه چی پریوله د پښو دی وځنډوی. ولی چی په حدیث کښی
د میمونه رض داسی راغلی دی» ثُمَّ تَنَحّٰی عَنْ مَقَامِهِ ذَالِکَ فَغَسَلَ رِجْلَیْهِ. بیا
ورو سته تر غسل علیه السلام گوښه سو د هغه ځایه څخه چی غسل یه هلته کړی
وو نو بیا یه پریولی پښی مبارکی. د اولش وائی چی بعض شارحینو د دی
دوو حدیثو تطبیق داسی کړی دی چی حدیث د عائشه رض محمول پر دې دی چی
علیه السلام داسی ځای غسل کاوه چی هلته او به د غسل نه جمع کیدی.
نو پښی به یه د او داسه سَره پریولی. او حدیث د میمونه رض محمول دی پر دی چی
علیه الصلوٰة والسلام داسی ځای غسل کاوه چی هلته اوبه د غسل جمع کیدی
نو ځکه د هغه ځایه څخه گوښه سو او پښی مبارکی یه پریولی. وهذا معنی
قول المجتبٰی والاصح التفصیل» قال المصنف.

ثُمَّ یُفِیْضُ الْمَاءَ عَلٰی بَدَنِهِ ثَلٰثًا

یعنی تر او داسه دی ورو سته توی کړی
او به پر تو له بدن دری واره. مسئله: بعض فقهاء وائی چی اول دی
دری واره او به پر ښی اړخ توی کړی دری واره. بیا دی پر چپ او به توی
کړی دری واره

Maktaba Tul Ishaat.com

اوبیادی پرسر اونور بدن توی کړی دری واره. وَالیٰ هٰذا ذَهَبَ الحلوانیؒ وَ
کثیرمَن الفقهَاء. اوبعض علماء وَائیٔ چې اول راسته اوږه دهاوبیاسرته
اوبیا چپه اوږه ده. اوبعض وَائیٔ چې شروع دسَره څخه وکړي. قَالَ المصنفؒ

وَلَوِانغَمَسَ فِی المَاءِ الجَارِی اَوۡمَا فِی حُکۡمِهٖ وَمَکَثَ فَقَدۡ اَکۡمَلَ السُّنَّةَ

اوکه چیری یوجنب سَړی غوټه شوپه جاری اوبوکی چې په حکم کی دجاری اوبو وی لکه لَښتی په لښتی کی حَوض. اوپه هغوکی درنګ وکړي په قدر داودَاسه اوغسل نوهغه سَړي پوره کړه طریقه مسنونه دغسل **مسئله** که څوك جنب وواوتیز باران ته وَدریږی په اندازه داودَس اود غسل. نوطریقه مسنونه دغسل یه پرځای کړی ولی چې په دی دَوارو طریقو کښی په غسل کی ښه مبالغه وشول. م. مراقی الفلاح.

وَیَبۡتَدِئُ فِیۡ صَبِّ المَاءِ بِرَاۡسِهٖ وَیَغۡتَسِلُ بَعۡدَهٗ مِنۡکَبَهُ الاَیۡمَنَ ثُمَّ الاَیۡسَرَ

اوشروع دی کوی غاسل په حَال کښی دَتویولو داوبو په سرسره. یعنی اول وارد ې اوبه پرسر توی کړي» ولی چې آن حضرت صَلی اللّٰهُ عَلیه وَسَلم هم داغسی کړی دی. اوبیادی پر راسته اوږه اوبه توی کړي اوبیادی پرچپه اوږه اوبه وَاچوی ددی دپاره چه تیامن حاصل » قالہ.

وَیَدۡلِكُ جَسَدَهٗ وَیُوَالِی غَسۡلَهٗ اوبیادی ومږی توله اعضاء دبدن خپل اوپښې دی کوی پریوله داعضاوو. **پوهه سه**: چې دَلك (مَښو وَل) په اول وارکی غوړی اله هم هغه سنت دی.

مگر بحر رائق دفتح القدیر څخه نقل کړي دی چې امام ابویوسفؒ دغه دلك واجب بولي. +

اصطلاح. ددی کتاب رموزه **م** معنی مراقی الفلاح **ط** معنی طحطاوی:

فَصۡلٌ

یعنی په ادابود غسل کښی

وَاٰدَابُ الاِغۡتِسَالِ هِیَ اٰدَابُ الوُضُوۡءِ اِلَّا اَنَّهٗ لَایَسۡتَقۡبِلُ القِبۡلَةَ

اواداب دغسل په مثل دادابود اودَاسه دي چنانچه وړاندی تیرسوه. مگرداچې په غسل کی به مخامخ وقبلی ته نه دریږی یانه کښیني. ولی چې غسل په اکثرو اوقاتو کښی دکشف العورة سره کیږی نونه دی مَخ خواوقبلی ته

لِاَنَّهٗ یَکُوۡنُ غَالِبًا مَعَ کَشۡفِ العَوۡرَةِ وَکُرِهَ فِیۡهِ

یعنی دعورت دلڅ والی

مَاکُرِهَ فِی الوُضُوۡءِ کوی اونه دکُنی خوابلکه شمالاً یا جنوبًا دی په حال کی دغسل کښیني یا دریږی. چونکه مصنفؒ کشف العورة دعَدم استقبال دقبلی دلیل وبښولہ. نوکه چیری په عورت پټ وونوبیا استقبال پرواه نه لري.

پوهه سه: چې مصنفؒ په مراقی الفلاح کی داهم وَئیلی دی چې مُستحب دد چې په حال کی دغسل دی خبری نه کوی که څه هم دعاوی وي. ولی چې غاسل په ځای کی دمرداریو دی اودغه رنګه مکروه دی خبری سره دکشف العورة. اوبل مستحب دَغسل دنراوښځی دادی چې په داسی ځای کی دی غسل کوی چې هیڅ څوك یه نه وینی. یعنی داسی کسان چې دَده وعورت ته په کَتَل نارواوی. ولی احتمال سته چې دَده عورت به یاپه حال کښی دغسل اویاپه حال کی دکالواغوستلو وچاته ښکاره سي.

مسئله: که دسړي ماینی دمیړه په حضور کی لڅ په لڅه غسل کاوه روادی بی کراهته. اوبالعکس هم روادی دمیړه په اجازه. **مسئله** که داوبو پرځای نرناست ووااوغاسل ساتر نه درلود. غسل دي نه پریږدی. اوهغه دَوَل دی غسل وکړی چې څه ناڅه ستر دعورت پکښی وی. اودَ ښځی حکم په نیږد ښځو هم داغسی دی. اوښځه په مابین کی د

نرودي غسل نه کوي بلکه غسل دی وځنډوي.

مسئله رواده نراوبنځی ته چې په یوائې غسل خانه کښی کالی تولوه وکابۍ او ځان بربنډ کړي. **مسئله** هر وخت چې دا مسئله سوه چې ښځه دی د نرو په مابین کی غسل وځنډوی دا هغه وخت که د لمانځه وخت نه تیریدی او که د لمانځه وخت تیریدی نو تیمم دی وکړی او لمونځ دی وکړی لکن لمونځ به بیرته راګرځوي ولې چې دا عذر د بندګانو له خوادی. طحطاوی،

فصل

وَيُسَنُّ الْاِغْتِسَالُ لِاَرْبَعَةِ اَشْيَآءٍ صَلٰوةِ الْجُمُعَةِ

او سنت دی غسل دَپاره دڅلورو شیانو یعنی یوه پاره دجمعی دَ لمانځه قَالَ الْمَرَاقِي عَلَى الصَّحِيْحِ، چې هغه قول دامام ابي یوسفؒ دی» دلیل یه هغه حدیث دی چې په بخاری او مسلم کی راغلی دی» چې علیه الصلوة والسلام وفرمائیله که څوك راتلی دجمعی و لمانځه ته نودی عنسل وکړی. او په بل روایت کی دابن حبان المحدثؒ داسې راغلی دی» که څوك راتلی دَجمعی وَلمانځه ته د نرو یاد ښځو څخه غسل دی وکړي. وَزَادَ الْبِيهَقِي فِي رِوَايَتِهِ. او که څوك لمانځه ته نه راتلی دَجمعی لکه مسافر یا مریض نو نسته پر هغه غُسل»

پوهسه: چې امام محمدؒ او حسن بصريؒ وائي چې غسل دجمعی دَپاره دورځی دجمعی دی دپاره د اظهار دفضیلت ددی وَرځی لِمَاجَاءَ فِي الحديث النبويؐ» سَيِّدُ الْاَيَّامِ يَوْمُ الْجُمُعَةِ» **فائده**: که چا غسل وکړي په وَرځ دجمعی او بیا یې اودس مات سو او دجمعی وَ لمانځه ته یه اودس تازه کړی نو بناءً عَلٰى قول ابي یوسفؒ سنت یه پرځای نه کړه او پرقول دامام محمدؒ سنت یه پرځای کړه (ولې چې دی غسل د تولی ورځی دپاره بولی» او دغه رنګه پرهغه حاجی چې دَجمعی لمونځ پری لازم نه وی غسل

سنت دی په نیز دامام محمدؒ او سنت نه دی په نیز دابي یوسفؒ. او هرچه غسل ی وروسته تر لمانځه دَجمعی هغه هیڅ اعتبار نه لري په اتفاق سره» قَالَ

وَصَلٰوةُ الْعِيْدَيْنِ

او بل غسل سنت دی دَپاره د لمانځه د دوواخترو په حدیث شریف کی رَاغلی دی چې رسول الله صَلی الله علیه وَسَلم به غسل کاوه په وَرځ دکښنی اختر او دلوی اختر او په عرفات کې.

پوهسه: چې ددی دوو وَرځو غسل هم دَپاره د لمانځه دی پر قول دامام ابویوسفؒ او دپاره دوَرځی دی په قول دحسن بصريؒ.

پوښتنه: مصنفؒ ووئیل چې غسل دجمعی سُنت دی او په حدیث شریف کی خو داسی راغلی دي» غُسْلُ الْجُمُعَةِ وَاجِبٌ عَلٰى كُلِّ مُحْتَلِمٍ یعنی بالغ» **جواب** بعض عُلماء وائي چې معنیٰ دوَاجب په حَدیث شریف کی واجب شرعی نه ده بلکه وَاجب په معنیٰ دمتاکد دی» نو معنیٰ د اسوه چې غسل دَجمعی سنت مؤکد دیٰ. او مصنفؒ په مَرَاقِي الفَلَاح کی دعوا کړیده چې دَغه حَدیث منسوخ دی په هغه حدیث سره چې رسول الله صَلی الله عَلیه وَسَلم فرمائیلی دی چې څوك چې اودس تازه کړي پروَرځ دجمعی یعنی د لمانځه دَپاره پس په سُنت طریقه یه اخستل وکړه او دا هم ښه خصلت دی. او که څوك غسل وکړي غسل افضل دیٰ.

وروليش وائی: چې دعویٰ دنسخ معلومیده د تاریخ دَدغو دوو حَدیثو څخه لیعنې چې دوهم حَدیث تر اول وروسته دی. او هیڅ محدث تاریخ نه دي بیان کړی نو اول جواب اولیٰ دی» قَالَ،،

وَلِلْاِحْرَامِ

او دغه رنګه غسل سنت دی دَپاره داحرامؒ تړلو که په حج وی او که په عمره. ولې چې په حدیث شریف کی راغلی دی چې رسول الله صلی الله علیه وَسَلم غسل کاوه دپاره داحرام. **فائده** داغسل د تنظیف دپاره دی دپاکوالی دپاره نه دی نو ددې وَجهی حائضه یا نُفَسَاء ښځه به هم داغسل کوی. او که اوبه نه وی تیمم کفایت نه کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلِلْحَاجِّ فِيْ عَرَفَـــةَ بَعْدَ الزَّوَالِ

اوداغه رنګه غسل سنت دی د حاجی دپاره نه د نورو خلګو دپاره

او داغسل به هم په عرفات کی کوی نه د باندی . او هغه هم وروسته تر زوال د لمر . داغسل په سبب د فضیلت د زمانی د وقوف دی چې پس له زواله کیږي.

پوهه سه : چې مصنف دا فصل یوازی د مسنون غسل دپاره نه دی ایښی بلکه مندوبه غسلونه یې هم په دې فصل کښی راوړی دی نو څرنګه چې بیان د څلورو سنت ختم سو هم دا اوس د مندوبه غسلو بیان شروع کوی . اووائي..

وَيُنْدَبُ الْاِغْتِسَالُ فِيْ سِتَّةِ عَشَرَ شَيْئًا لِمَنْ اَسْلَمَ طَاهِرًا

او مندوب (مستحب) دی غسل په شپاړس شیانو کښی . چې څوک کافر وی او اسلام راوړی په داسی حال کی چې پاک وي. یعنی د جنابت او د حیض او نفاس څخه. او که دا کافر جنب وي یا ښځه حائضه یا نفساء وی بیا خو غسل پر فرض دی علی المعتمد. **فـــائِــدَه**: صاحب د هدایه اکثر دې غسلو سنت بولي. قَـالَ المصنفؒ.

وَلِمَنْ بَـلَغَ بِالسِّنِّ

او هغه چاته هم غسل مندوب دی چې بلوغ ته ورسیږی د سن او عمر په لحاظ چې هغه ۱۵ کاله پر مفتی به مذهب دی. چې دیارلس نوي دی په نر او ښځي دواړو کښی. او بعض علماء وائي چې د نر دپاره ۱۲ کاله دي او د ښځي دپاره ۹ کاله دی **پوهه سه**: که نر ته شیطان بازی ورکړی. یا داغسی په بل سبب او دس پرواوړي "یا ماینه لری هغه د ده څخه حمل واخلي. او یا ښځه وی لودس پر واوړی یا حیض ورسی او یا حمل واخلي و هغه نر او ښځی ته چاره نسته د غسل څخه.

وَلِمَنْ اَفَـاقَ مِنْ جُنُوْنٍ

او د هغه چا دپاره غسل مندوب دی چې پر سدهي د لیونتوبه څخه . وفی المراقی . یا د سکر یعنی د مستی څخه او اغماء څخه . یا د بیهوشتیا څخه او دا غسل غسل د شکر دی ـ

وَعِنْدَ حِجَامَةٍ وَغُسْلُ مَيِّتٍ

اوداغه رنګه غسل مندوب دی چې وینی و کاږی یا رګ خلاص کړي او یا وړی ته غسل ورکړي. په حدیث شریف کی چې روایت یې ابوداؤد کړي دی راغلی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د څلورو شیانو غسل کاوه یعنی د جنابت او د جمعې او د حجامت یا د غسل د مړي به د هغه خلافه هغو څخه حجامت وو. په دی غسل سره د حجامت یا د غسل د مړي خلاص سی چې بعض علماء دا غسل واجب بولي. قَـالَ الْمُصَنِّفُؒ.

وَفِيْ لَيْلَةِ الْبَرَائَةِ وَلَيْلَةِ الْقَدْرِ اِذَا رَاٰهَا

اوداغه رنګه غسل مندوب دی په شپه کښی د براءت چې هغه شپه نیمی د میاشتی د براءت ده . داغسل د دی دپاره دی چې په دې شپه کی رزقونه او اجلونه د خلګو ویشل کیږی شپې د احترام دپاره دی ولی چې په دې شپه کی د ټول کال د څلاص والی د دوزخ څخه نوشته کیږی د هغه چا دپاره او هم په دې شپه کی ورقی د خلاص والی د دوزخ څخه نوشته کیږی د هغه چا دپاره چې حقوق د شریعت یې پر ځای کړي وي. او بل په دې شپه کی د ډیرو ګناه ګارانو ګناهونه وربخښل کیږی. **فَـــائِـدَه**: دا شپه په عبادت باید تیره سی. او د غه رنګه غسل مندوب دی په شپه د قدر کی که چیری سړی یې وپوهیږي. یعنی د علاماتو څخه د هغه شپې چې په کتابو کښی راغلی دي. او دا شپه چې هم په بیداری سره او عبادت سره تیره سی ډیر ښه کار دی ، قَـالَ الْمُصَنِّفُؒ.

وَلِدُخُوْلِ مَدِيْنَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اوداغه رنګه غسل مندوب دی د پاره د داخلیدو و ښار ته د نبی علیه السلام داغسل د تعظیم د دغه مدینې منوری دی. او د پاره د حضور و قبر انور ته د نبی کریم صلی الله علیه وسلم

وَلِلْوُقُوْفِ بِمُزْدَلِفَةَ غَدَاةَ يَوْمِ النَّحْرِ

او بل غسل مندوب دی د پاره د دریدو پر مزدلفه شریفه په سحار د ورځی د لوی اختر. ولی چې مزدلفه ځای د اجابت د دعا ګانو

ولې چې آنحضرت صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّم په عرفات دامت دپاره د مغفرت دخون او مظالمو خواست کړی وو هلته هلته نه وو قبول سوی خو په مزدلفه شریفه د آنحضرت ﷺ هغه خواست هم قبول سو» م، ط» قَالَ صَاحِبُ نُورِ الْاِيضَاحِ،

وَعِنْدَ دُخُولِ مَكَّةَ الْمُكَرَّمَةِ او په وخت کی د داخلیدو و مکی مکرمی چې افضل ځای دی په ځمکه کی په نیز د خدای نو د دې محترم مقام د دخول دپاره غسل مندوب دی.

فَائِدَه: په نیز د حنیفیانو مکه مکرمه افضل ترین د بقاع د دنیا ده. حتی تر مدینی منوری هم افضل ده.. او امام مالک افضل البقاع مدینی ته وائی. لکن دا اخلاف په غیر کی د هغه ځای دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم صورت مبارک په کښی ښخ دی. حتی چې شهاب الدین په شرح کی د شفاد قاضی عیاض دامت مرحومه د علماوو اجماع نقل کړی ده پردی چې مدفن د آنحضرت صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّم افضل دی تر هر ځای حتی تر مکی مکرمی هم او بلکه تر عرش او کرسی هم افضل دی.

پوهسه: چې هر یوه لره د مکی مکرمی او مدینی منوری ډیر نومان دي چې قریب و سل ته رسیږی. امام نووی وائی چې په ځمکه کی د ډیرو نومانو درلودنکی ځای بل نسته لکه مکه مکرمه او مدینه منوره» وکثرة الاسماء تدل علی شرف المسمّی کذا قال الامام الطحطاوی. قَالَ

وَلِطَوَافِ الزِّيَارَةِ او بل غسل مندوب دی د طواف زیارت دپاره **پوهسه** چې طواف زیارت یو د فرائضو څخه د حج دی نو باید دا طواف په اکمل د طهارتینو چې غسل دی ادا کړه سی. قَالَ.

وَلِصَلوٰةِ كُسُوفٍ وَخُسُوفٍ او د غړ رنګه غسل مندوب دی دپاره د لمانځه د کسوف او د خسوف د ئ. کسوف د لمر تندری ته وائی. او خسوف د سپوږمی تندری ته وائی. د لیل د ندب د غسل دا دی چې په دی دوو وختو کښی نفل سنت دی نو دا لمونځ چې په اکمل د طهارتینو ادا سی بنه کار دی.

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولوالدیهما.

وَاسْتِسْقَاءٍ وَفَزَعٍ وَظُلْمَةٍ وَرِيحٍ شَدِيدَةٍ او د غړ رنګه غسل مندوب دی په وخت کښی د طلب د مسلمانانو باران. ولې چې په دی وخت کی مسلمانان نفلونه کوی او دعاوی کوی. نو چې اکمل د طهارتینو موجود وی بنه کار دی. او د غړ رنګه غسل مندوب دی په وخت کښی د ډیری بیری د یو سبب څخه. ولې دا وخت هم د زاریو او د عا ګانو دی» او د غړ رنګه غسل مندوب دی چې د ورځی په وطن یولوی ظلمت او تاریکه جوړه سی. او اغر رنګه غسل مندوب دی په وخت کی د راتلو د سختو بادو. که د شپی وی او که د ورځی وي. چې دا ټول مصائب دی او د عا کولو وختونه دی نو چې اکمل د طهارتینو وی اجابت ته به د عاګانی نږدی سی. وَاللهُ اَعْلَم. قَالَ.

بَابُ التَّيَمُّمِ

پوهسه چې چونکه تیمم خلف دا وبو دی نو دی کبله مصنف تر طهارت د اوبو یعنی او دس او غسل وروسته راوړی. **سَوَال** مسح د خف (موزی) خو په اوبو سره کیږی نو ولې ئې تیمم تر هغی د مخه کړي **جَوَاب** د تیمم ثبوت په قرآن مبارک سره سوی دی او د مسح الخف ثبوت په حدیث شریف سره دی نو تیمم اقوی دی تر مسح الخف.

فَائِدَه: تیمم احسان الهی دی د دې امت مرحومه سره خاص چې په نورو امتو کښی نه وو بالاتفاق. او تیمم په خاوره سره کیږی چې هغه په حقیقت کی [illegible] دی. او په تیمم کی جزء په ځای کی د کل دریدلی دی. یعنی فقط مسح د مخ او د لاسو. مسح د سر په کښی نسته او مسح د پښو هم پکښی نسته. وهذا تخفیف لنا من ربنا جَلّ سلطانه.

پوهسه: چې تیمم په لغت کی مطلق قصد ته وائی. او په شرع شریفه کښی مسح کول دی د مخ او د لاسو پاکی ځمکی څخه»

Maktaba Tul Ishaat.com

يَصِحُّ التَّيَمُّمُ بِشُرُوْطٍ ثَمَانِيَةٍ اَلْاَوَّلُ النِّيَّةُ وَحَقِيْقَتُهَا

صحیح کیږی تیمم په اته شرطه سره. اول شرط د تیمم نیت دی ولې چې خاورې خو ملوث دی نو پاکوونکې نه ګرځي مګر په نیت سره

عَقْدُ الْقَلْبِ عَلَى الْفِعْلِ

او اوبه خلقةً مطهرې دی نو ځکه په اودس کښې نیت شرط نه دی. او معنی د نیت غوټه کول دی د زړه په یو فعل باندې. یعنې یقین کول دی د یوه کار په کولو باندې. قَالَ الْمُصَنِّفُ۔

وَوَقْتُهَا عِنْدَ ضَرْبِ يَدِهٖ عَلٰى مَا تَيَمَّمَ بِهٖ وَشُرُوْطُ صِحَّةِ

او وخت د نیت کولو هغه وخت دی چې دی لاسونه په هغه شي چې دی تیمم پرې کوي لکه خاورې وغیره (وهي)

اَلنِّيَّةُ ثَلَاثَةٌ اَلْاَوَّلُ الْاِسْلَامُ

او شرطونه د صحیح والي د نیت درې دی اول شرط یې اسلام دی. ولې چې نیت وعبادت ته سبب د ثواب دی او کافر د مطلق ثواب نه محروم دی۔

وَالثَّانِىْ التَّمْيِيْزُ وَالثَّالِثُ الْعِلْمُ بِمَا يَنْوِيْهِ

او دوهم تمیز دی یعنې تیمم کوونکی به پوهیږي چې زه څه کوم، او دریم شرط په علم دی د تیمم کوونکي په تیمامه باندې یعنې چې تیمم څه رنګه وهل کیږي. ولې چې کیفیت د تیمم که نه وي ورمعلوم نو دی بڅه کار وکړي. او ددې بیان نه ته پوه سوې چې نیت دیو فعل غیر دی د علم نه د ماهیت د هغه فعل، کذا قال المصنفؒ فی المراقی. لان الاجمال فی الاول کاف والثانی یقتضی العلم التفصیلی

وَيُشْتَرَطُ لِصِحَّةِ نِيَّةِ التَّيَمُّمِ لِلصَّلٰوةِ بِهٖ اَحَدُ ثَلَاثَةِ اَشْيَاءَ

او شرط دی د پاره د صحت د نیت د تیمم د پاره د لمانځه یعنې چې په هغه نیت وده ته لمونځ ادا کول روا سي یو د درو شیانو یا نیت . . .

اَلطَّهَارَةِ اَوِاسْتِبَاحَةِ الصَّلٰوةِ اَوْ نِيَّةِ عِبَادَةٍ مَقْصُوْدَةٍ

یا نیت د مطلق طهارت یعنې د خصوص د طهارت د جنابت نه او یا د بې اودسیا نه شرط نه دی - د طهارت نو نیت شرط دی نو یا نه طهارت د لمانځه د پاره ولې چې

لَاتَصِحُّ بِدُوْنِ طَهَارَةٍ

نیت د استباحت د لمانځه دی۔

مسئله: که جنب سړي تیمم وکړي د پاره د اودس هغه تیمم یې د جنابت د تیمم په ځای کښې درېږي. کذا روی ابن سماعة عن محمدؒ کما نقله الطحطاویؒ.

ترجمه: (د عبارت) او یا نیت د مباح والي د لمانځه. او یا نیت دیو عبادت مقصوده وي چې

پوهسه: چې عبادت مقصوده هغه عبادت بیله طهارت نه صحیح کیږي۔ هغه عبادت دی چې د بل عبادت تابع نه وي بلکه ابتداءً ځني مقصود تقرب وخدای پاک ته وي. نو مسحه د مصحف شریف عبادت مقصوده نه دی بلکه تبع د تلاوت دی۔ او په صرف مسه د مصحف شریف تقرب وخدای ته نه کیږي. قوله لاتصح آه، د دې قید فائده داده که محدث یعنې بې اوده سړي چې جنب نه وي د پاره د تلاوت د قرآن کریم بیله مسه کولو تیمم وکړي په دې تیمامه لمونځ نه دی روا ولې چې صرف تلاوت د قرآن غیر د جنب بې اودسه هم روا دی۔

حاصل دا چې متیمم به داسې نیت کوي: نیت کوم د پاره د لمانځه یا د پاره د جنازې د لمانځه یا د پاره د سجدهٔ تلاوت او جنب سړی به داسې نیت کوي چې تیمم کوم د پاره د تلاوت د قرآن. ولې چې جنب ته صرف تلاوت د قرآن هم بې طهارته روا نه دی. او ښځه چې د حیض یا د نفاس نه خلاصه سي نیت د تیمم د پاره د تلاوة القرآن ورته روا دی. ولې چې ښځې ته تلاوت د قرآن په حال کې د حیض او نفاس نا روا او. پوه سه چې مصنفؒ په هغه درو شرطو داسې تفریع کوي.

فَلَا يُصَلِّىْ بِهٖ اِذَا نَوَى التَّيَمُّمَ فَقَطْ اَوْ نَوٰى لِتِلَاوَةِ الْقُرْاٰنِ وَلَمْ يَكُنْ جُنُبًا

نو لمونځ نه دی صحیح په هغه تیمامه چې صرف او صرف د تیمامه نیت یې کړي وي یعنې د طهارت یا

اباحت دلمانځۀ وغیره نیت یې نه وي کړي. او یا نیت د تیمم وکړي د پاره د تلاوت د قرآن او دی جنب نه وي. او دغه رنګه ښځه چې د حیض خلاصه سي یا د نفاسه. ولې د غه دری نفره که تیمم وکړي په نیت د تلاوت د قرآن کریم په هغه تیمامه ورودی ته لمونځ روادی کما عرفت سابقًا۔ قَالَ صَاحِبُ نُورُ الایضاح۔

اَلثَّانِی اَلْعُذْرُ الْمُبِیْحُ لِلتَّیَمُّمِ کَبُعْدِہٖ مِیْلًا عَنِ الْمَاءِ وَلَوْفِی الْمِصْرِ

او دوهم د تیمم شرط هغه عذر دی چې مباح کوونکی دی د تیمم وسرې ته هغه عذر لکه لیرې والی د تیمم کوونکی د اوبو څخه یو میل که څه هم په ښار کی وي۔ پوهسه چې دا شرط دی صحت د تیمم

پوهسه چې میل دریمه د فرسخ دَه، او دریمه د فرسخ څلور زره ګامه دی او یو ګام یو نیم ګز دی **واوره** : چې دغه لیرې والی د یوه میل د اوبو څخه پر غالب ګمان د سړي بناء دی نو که څه هم په واقع کښې او به نږدې وي اما د سړي غالب ګمان دا وي چې تر میل کمې او به نشته تیمم ورته روادی، ولې چې دا سړي چې یو میل سفر کوي چې او به ستر اوکه نشته دا حرج دی او تیمم خدای پاك د دفع د حرج د پاره مشروع کړي.

فـائِدَه : فقیه ابوجعفر الطحاوی وائي چې تیمم په ښار کی نه دی روا مګر د پاره د دی چې د جنازی لمونځ یا د اختر لمونځ راڅخه تیریږی. او یا جنب وي د یخه څخه بیریږی یعنی که غسل وکړم په یخو اوبو مریض به سم لکن صحیح مذهب هغه دی چې مصنف و ویل.

ښَهَانه فـائِدَه : دا اختلاف حقیقتًا اختلاف نه دی بلکه بناء پر عادت د ښارونو دی. په بعضی ښارو کښې لکه قندهار په هر مسجد کی د اوبو ځای موجود وي. نو په داسی ښارو کی د لمونځ د پاره تیمم نه دی رَوا، قَالَ الطحاویؒ، او په بعض ښارو کی څاهان نه وي او به د برق (بجلی) په ذریعه په نلکو کښې راځي لکه اکثر ښارونه د پاکستان. نو په داسی ښارو کی کیدای سي چې برق د یوی ناحیه دی خراب وي په نلکو کښې دی او به نه وي او تا لاوونه د مسجدو او د کورونو هم وچ سوي وي په سبب د مرور د زمان. او په یو میل لري ناحیه کښې دی برق فعال وي په مسجدو او کورو کښې دی او به وي. نو په اوله ناحیه کی تیمم روا دی کما قال المصنفؒ:

وَحُصُوْلُ مَرَضٍ

او دا غه رنګه تیمم روادی هغه چا لره چې ده ته مرض حاصل وي.

پوهسه: چې مصنفؒ حصول د مرض ذکر کړي و یعنی به ان المرض یکون حاصلًا بالفعل، د دی څخه مطلب دا دی که چیرې یو سړي فعلًا په صورت جوړ وی مګر دی بیریږی که او دس تازه کړم نو به مریض سم هغه سړي ته تیمم نه دی روا لکن قهستانیؒ وائي چې په دی صورت کی ورته تیمم روادی. او امام زیلعیؒ په شرح کی د کنز وائي په باب الصوم کی په بیان د عذرو د خوړلو د روژی، که یو سړي په بدن جوړ وو مګر غالب الظن د ده دا وو که چیري زه روژه ونسم نا جوړ به سم نو دی لکه مریض دا سی دی د روژی خوړك ورته روادی. فالتیمم اسهل فی باب جوازه لمثل التخص المذکور »

وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَاب۔

فـائِدَه : قال الامام الطحطاوی ص ۹۱/۹۲ المَرِیْضُ عَلٰی اَرْبَعَةِ اَقْسَامٍ : اول هغه مریض دی چې او به ضرر ور رسوي. ۲ دوهم هغه مریض دی چې او به خو ضرر نه ورته کوي لکن حرکت د پاره د استعمال د اوبو تاوان ورته کوي. ۳ دریم هغه مریض دی چې نه خو او به او نه حرکت تاوان ور کوی. لکن حرکت د پاره د او دا سه پخپله قدرت نه لري. نو په دریم صورت کی به یا داسی خوك لري چې ده ده او دس ورتازه کړي. او یا به داسی خوك نه لري چې ده ده سره کومك وکړي. په اخیر صورت کی ده ته تیمم روادی به اتفاق سره که څه هم په ښار کی وي پر ظاهر مذهب:

او کی کمك والا دروی نو دغه کومك والا که ده ده زوی وو یا لور وه او یا ده ده مرئی وو او یا مزدور وو، نو که دغو کسانو ده ده فرمانبرداری کوله، د حضرت الامام الاعظمؒ څخه ده ده روایت په یوه روایت کښې تیمم ورته روادی په بل روایت کښې تیمم نه دی ورته روا، وهو الظاهر» او کی ده ده اطاعت نه کاوه بلکه مزدوری غوښته. نو دغه سړي ته تیمم روادی په نیز د امام اعظمؒ مطلقًا یعنی که ډیره مزدوری غواړي او که لږ مزدوری غواړي او یارانؒ وائي چې تیمم هلته روادی چې ترځلرمی دره هم بالا مزدوری غواړی، ورنه تیمم نه دی ورته روا. او څلرم هغه مریض دی چې نه پر او دا سه قدرت لري او نه پر

Maktaba Tul Ishaat.com

پرتیمم نه په خپله اونه بل چا په کومک. نو بعض علماء وائی چی قیاس د قول د امام اعظم دا دی چی لمونځ پرېږدی تر څو چی پریوځ داوداسه یا تیمم قدرت مومی. او امام ابویوسف وائی چی مشابهت د لمونځ گذارانو سره دی کوی. لکن چی قدرت پیدا کړی نو لمونځونه به قضاء راوړی » قال المصنف

وَبَرْدٍ يَخَافُ مِنْهُ التَّلَفَ اَوِ الْمَرَضَ

اودغه رنګه تیمم روادی چی سړی په غالب گمان دده بیرېږی داوبو د استعماله څخه د تلف دیوا ندام اویا د مرض څخه. **پوهسه** چی مصنف دا مسئله مطلق راوړی ده لکن پراطلاق نه ده صحیح ځکه مصنف په مراقی الفلاح کی وائی چی جواز د تیمم ودغه خائف ته هغه سته چی دی پروداني یعنی بنا یا قرهو کښی چی هغه تودی اوبه پیدا کیږی. اویا بوالحب پیدا کیږی چی دی ځان په تود کړی نه وی بلکه په صرف صحرا کښی وی. ورنه تیمم نه دی ورته روا، او چی شرطونه د خوف چی ذکرسوه پرځای وی بیا تیمم د جنابت د پاره اود اوداسه د پاره د واړه ورته روادی. قال عزّ من قائل، «وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ» قال الامام الحلوانی چی رخصت نشته بی اوداسه سړی ته په سبب د دغه خوف د تیمم وهلو، ولی دا صرف سړی توهم دی غلبة الظن نه دی»، کذا فی فتح القدیر والایضاح، بلکه خلاف په جُنب کی سته چی په تن جوړ وی او په ښار کښی وی او بیرېږی که زه په یخو اوبو غسل وکړم نو به ناجوړ سم. اودا ده غالب گمان وی اود حمام د غسل پیسی هم نه وی ورسره. نو په دا سی صورت کی امام اعظم تیمم ورته روا بولی. مُطلقًا. یعنی که د ښار سړی وی او که مسافر؛ او یاران وائی چی دا حکم په مسافر پوری خاص دی»، والفتوى على قول الامام». او بعض کتابونه د دغه سړی ته چی جُنب وی او په ښار کی وی او په یخو اوبو سره د استعمال په صورت کی د مرض بیره وی» دا سی یوه حیله ورښیي چی حمامی خود څخه تر غسل کولو پیسی نه غواړی نو دغه سړی دی ورسی غسل دی په حمام کی وکړی، بیا چی راووزی حمامی ته دی خپل عذر بیان کړی. وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ

اَوْخَوْفِ عَدُوٍّ

اویا بیرېږی بی اوداسه سړی چی که زه داوبو ځای ته ورسم ما به دښمن مړ کړی نو هغه ته تیمم روادی. **پوهسه**: که سړی پر مال بیرېدی او یا فاسق سړی چی داوبو سره ناست وو بیرېدی. اویا مفلس سړی د پور ورکړي څخه بیرېدی ود غو خلکو ته هم تیمم روادی. اود هغه لمانځه چی په تیمم یه اداکړی راگرځول پری نشته: کذا فی المراقی ص۹۲. قال المصنف

وَعَطَشٍ وَاحْتِيَاجٍ لِعَجْنٍ لَا لِطَبْخِ مَرَقٍ

اودغه رنګه تیمم روادی د بیری د تندی او د سببه د احتیاج واوبو ته د پاره د خمیر کولو او د ښوروا هم تیمم روادی او تیمم نه دی روا د پاره د پخولو ښوروا. **پوهسه**: چی بیره د تندی عامه ده که د ځان پر تنده فی الحال بیرېږی او که په اینده حال کښی بیرېږی. **مسئله** که د قافلی والا اندیوال پر تنده بیرېدی هم تیمم ورته روادی. او که د حیوان پر تنده بیرېدی که څه هم سپی وی هم تیمم ورته روادی. لکن د حیوانانو د تندی له سببه هلته تیمم روادی چی داوداسه اوبه په نسوای ساتلای»، ولی لوښنی نه وُو او که لوښنی وو چی د اوداسه اوبه په کښی خوندی کړی د حیوانانو د پاره نو بیا د تندی د حیوانانو د سببه تیمم نه دی ورته روا.

مسئله: که دیوه سړی سره اوبه وی او بل سړی د تندی شدید سره مخامخ وو، نو که مالك داوبو هم دیر نږدی وو نو دغه مالك دی اوبه وچښی» او که مالك سخت تږی نه وو بیا واجبه پر هغه چی خپلی اوبه دی هغه بل تږی ته ورکړی. او که مالك داوبو نه ورکولی تږی دی په زوره څندی وبخلی. او که مالك جنګ ورسره کاوه تږی د پی جنګ ورسره وکړی. نو کی مالك داوبو مړ کړی تاوان نه لری. وینه یه لغوه ده. او کی تږی مړ کړی تاوان لری.

مګر تږی سړی قیمت داوبو لازم دی. او که بیګانه سړی داوداسه د پاره د مالك څخه اوبه غوښتی او صاحب الماء هم ضرورت اوبوته نه درلودی» نو پر مالك الماء (اوبه والا) باندی داوبو ورکړه واجب نه ده. او نه بی داوداسه د پاره په زوره څندی اخلی» کذا فی الطحاوی ص۹۲ ۹۳

قوله العجن چونکه دَپاره دخوړك وخميرولوته داوړو په ذريعه داوبو ضرورت دی نو وجه که اُوبه فقط دخميريدو کفايت کوي نو تيمم ورته روا دی. سيدٌ وائی که يو سړی دچاپوعملي ووچې په نه چينلوبه ده ته ضرر متوجه کيدی او او به صرف دچا يو بسيدلي نو غرسپی ته هم تيمم روا دی» درويش وائی چې دچا يو ضرورت دومره نه دی عائد لکه دپوړی نو دچای دپاره احتياطًا بايد تيمم ونه کړي». **قوله لا لطبخ مرق**، ولې چې بنوروا ته دومره ضرورت نشته چې سړی ته دی ضرر او ناجوړی متوجه کړي. قَالَ

وَ لِفَقْدِ اٰلَةٍ اودغه رنګه تيمم روا دی په سبب د نيستی والی دآله دراکښلو داوبو دخاڅخه لکه تناو، يا سولاغه» ولې چې آله نه وی ګويا اوبه نشته» **مسئله**: که په صحرا کښې چا اوبه اېښې وی دمسافرو دڅښلو دپاره يعني يو څم يا منګی ئی اېښې وو په هغه اوبو دی څوك اودس نه تازه کوي بلکه تيمم دی ووهی. اوکه ډيرې اوبه اېښې وی نو دی اودس په تازه کړي تيمم دی نه وهی تيمم ورته روا»

وَلِخَوْفِ فَوْتِ صَلٰوةِ جَنَازَةٍ اَوْعِيْدٍ وَلَوْبِنَاءً

اودغه رنګه تيمم روا دی چې سړی بيريږی پر فوت د جنازې د لمانځه که دی اودس کوي اويا بيريدی پرفوت داختر د لمانځه که دی اودس تازه کوي نو تيمم دی ووهی که څه دی هغه پر بناء هم کوي. **قـاعِدَة**: هغه لمونځ چې خلف اوعوض لري دهغه دفوت دپاره تيمم نه دی روا. لکه پنځه وقتي لمونځونه چې قضاء يې عوض ده يا دجمعې لمونځ چې دما پښين لمونځ يې عوض دی. او هغه لمونځ چې عوض نه لري لکه دجنازې لمونځ داختر لمونځ نو هغه دفوت دپاره تيمم روا دی.

مسئله: که دسړی داخيال ووچې زه چې اودس کوم يو تکبير دجنازې دلمانځه تازه نيولای شم هغه ته تيمم نه دی روا **مسئله**: هغه ولي او قريب دسړی چې تصرف دجنازې دده په لاس کې وی هغه ته تيمم نه دی روا، ولې چې دی دا لمونځ ځنډولای شي اودا غه رنګه قاضي يا سلطان ته تيمم نه دی روا ولې هغه تاخير دجنازې دلمانځه کولای شي»

قال المصنف فی المراقی هو الصحيح، اودغه مذهب ته صاحب هدايه هم ترجيح ورکړې ده»، لکن ظاهر الرواية دحضرت الامام الاعظمؒ دا دی چې تولوته تيمم روا دی. ولې چې تاخير دجنازې مکروه دی» وړی روايت ته امام سرخسیؒ ترجيح ورکړې ده. وعليه فتوی الفقير سامحه القدير»

قوله وَلَوْبِنَاءً يعني که څه هم پر کړي لمانځه دی بناء کوي. صورت دبناء يه دادی چې يو سړی شروع وکړی په لمانځه داختر د امام سره په طهارت اوبيا يه اودس مات سی نو ده ته دپاره دبنا تيمموی لمانځه تيمم روا دی» دا مذهب دحضرت الامام الاعظمؒ دی»، او ياراتؒ وائی که اصلی لمونځ يه اوداسه شروع کړی وو نو بناء پر هغه په تيمم سره نه ده روا». اوکه ديو عذر د سببه اصلی لمونځ په تيمامه شروع کړی وو بيا بناء پر هغه لمانځه په تيمامه روا ده.

وَلَيْسَ مِنَ الْعُذْرِ خَوْفُ الْجُمُعَةِ وَالْوَقْتِ

اونه دی عذر يعني روا کوونکی د تيمم، بيره دَ تيريدو دجمعې د لمانځه او بيره دَ تود وخت د لمنځو، يعنی که يو سړی بيريدی که زه په اوداسه مشغول سم دجمعې لمونځ به راسره تيرسي. اويا په پنځو لمونځو کی ديوه لمانځه دوخت دَ تلو څخه بيريدی که دی په اوداسه مشغول سی داعذر نه دی او تيمم نه دی ورته روا» لما مرّ من القاعدة الکلية»

وَالثَّالِثُ اَنْ يَّكُوْنَ التَّيَمُّمُ بِطَاهِرٍ مِّنْ جِنْسِ الْاَرْضِ

او دريم شرط دَ تيمم دادی چې تيمم به په يوه پاك شی سره وهی چې د جنس د مځکی وی لکه

كَالتُّرَابِ وَالْحَجَرِ وَالرَّمَلِ لَا الْحَطَبِ وَالْفِضَّةِ وَالذَّهَبِ

خاوری يا ډبره يا ريګ اونه دی روا تيمم پر لرګی يا پر سپينو زرو اويا پر سرو زرو **پوه سه**: چې مراد د طاهر څخه هغه شی دی چې نجاست بَولی وغيره نه وی او رسيدلی وی غه هم اثر د نجاست باقی نه وی خو هم تيمم نه دی پر روا بخلاف الصلوٰة» او مراد د جنس الارض څخه هغه شی دی چې په وخت کی دَ تيمم د جنس الارض څخه ګڼل کيږی.

Maktaba Tul Ishaat.com

نه په اعتبار د اصل نو بناءً علیٰ هذا پر بښیښه تیمم نه دی روا ګڼو هم په اعتبار د اصل د ریګو
څخه جوړېږی. «م، ط» مراقی الفلاح «طحطاوی».
او د بحر څخه مراد ډېره ده که څه هم ښوی وي «م» او امام محمد وائي چې پر ښوی ډېری
چې ګرد وي پا ندی نه وی تیمم نه دی روا «وعُوالا قیسُ» **مسئله:** پر ګڅ
چونه، د خاورو څخه جنتر یا اومه خښته، د خاورو د ډېرو د خښتو پر دیوال تیمم
روادی، د خاورو پر اومه لوښی او پر یا خه لوښی چې غوړ سوی نه وی هم تیمم روادی
او پر هر شی چې ګرد پروت وی تیمم روادی» درمختار عالمګیری

فائدة سنیّة عنایه په شرح کی د هدایه وائي چې ډېرو مفسرینو د تو...
شریف څخه داسی نقل کړی دی چې رب جل وعلیٰ اول ...
یوه لویه ملغلره پیدا کړه. او په نظر د هیبت او قدرت یې وهغی ته وکتل هغه ملغلره
او به سوه» او بیا هغه او به په مرور د زمان متکاشف سوی او د هغه څخه ګله پیدا
سوه، او بعض اجزاء د هغو اوبو نرم سول چې هغه هواء سوه او تر هغو اجزاوو الطف
په کښی پیدا سوه چې هغه اور سو. لو او س ۴ د طهارت د پاره اول اصل دی چې او به دي
او که اصل نوی بیا په تبع چې خاوري دی په ځای کی دریږی. او پاته نباتات لکه
وابنه درختی وغیره او د غه رنګه معدنی شیان لکه وسینه، سره زر، سپین زر
وغیره دوی تبع د او بو یوازی نه دي، بلکه دا ټول مرکب د عناصرو اربعه و څخه دی
او علاقه خاصه دیوه عنصر سره چې او به دی نه لري حتی چې په ځای کښی د هغه
ودریږی، فلا یجوز التیمم بهذه الاشیاء» قال المصنفؒ

وَالرَّابِعُ اِسْتِيعَابُ الْمَحَلِّ بِالْمَسْحِ او څلرم شرط د تیمم
کښېښتل دی د محل
مخ او لاسونه دی په مسح کولو سره. **پوهه سه:** چې مصنفؒ په مراقی الفلاح کی
داسی وائي چې د استیعاب شرط والی ظاهر المذهب دی او هم صحیح او هم مفتیٰ به
دی نو بناءً علیٰ هذا که چیری د نریا ښځی په ګوتو کی ګتمی وی او یا د ښځی پلاس کی

بنګړی وه نو هغه به پا کا بری د تیمم په وخت کی یا بی د ځای څخه ښورَوی چې د مسح
استیعاب پرځای سی» او تخلیل د ګوتو به هم کوی او ابن امیر حاجؒ وائي چې د تخلیل د
ګوتو په تیمم کی لکه تخلیل د هغو په او داسه کی یعنی سُنت دیُ.
اما هغه خبره چې ذخیرة العقبیٰ والا کړی ده چې د تخلیل د پاره ضربه ثالثه غواړی
بیځایه خبره ده ولی چې اعتبار مسح لره دی دګړئح رسولو لره نسته کذا قال الامام
الطحطاویؒ» او د وبېښتا نو چې مخ پوری متصل وی مسح هم غواړی نه د ځړیدلو
وبېښتا نو او د مابین د باړخوا و غوږ مسح هم غواړی، او بعض فقهاءؒ وائي چې اکثر د مخ او د
لاسو چې مسح کړی هم کفایت کوی» وهذا هو الاوفق بالناس» او په بعض فتاواوو
کښی ددی تصحیح سوی ده» وَاللهُ اَعْلَمُ قَالَ.

وَالْخَامِسُ اَنْ يَتَمَسَّحَ بِجَمِيعِ الْيَدِ اَوْ بِاَكْثَرِهَا حَتّٰى لَوْ مَسَحَ
او پنځم شرط د تیمم دادی چې مسح په ټوله لاس کوی او یا په اکثر د لاس، حتیٰ کی مسح

بِاِصْبَعَيْنِ لَا يَجُوْزُ وَلَوْ كَرَّرَ حَتّٰى اِسْتَوْعَبَ بِخِلَافِ
وکړه په دوو ګوتو دا نه ده روا، که څه هم دا دوی ګوتی مکرر کړی چې پر ټوله محل مسح راسی
هم نه دی روا. او مسح د سر په او داسه کی ددی څخه خلاف ده یعنی
مَسْحِ الرَّأْسِ په دوو ګوتو په تکرار سره استیعاب کافی دیُ. قَالَ.

اَلسَّادِسُ اَنْ يَكُوْنَ ای التیمم **بِضَرْبَتَيْنِ بِبَاطِنِ الْكَفَّيْنِ وَلَوْ**
او شپږم شرط د تیمم دادی چې تیمم به کوی په دوه واره وهلو د باطن د ارغوو که څه هم
دواړه ضربه دیوه ځایه څخه وي. **پوهه سه:** چې مُراد
فِيْ مَكَانٍ وَّاحِدٍ د ضربه څخه نفس ایښول دی قاله السیّدؒ» او مصنفؒ
چې وویل وَلَوْ فِيْ مَكَانٍ اه دا د دې سببه چې مکان خو نه مستعملیږی ولې چې تیمم

خوبما فی الید دی **مسئلہ**: که د سړي نیت د تیمم وکړي او بل سړي په تیمم امر وکړي
هغه سړي تیمم ور وکړي صحیح دی، مراقی ص۹٦ قال.

وَيَقُومُ مَقَامَ الضَّرْبَتَيْنِ إِصَابَةُ التُّرَابِ بِجَسَدِهِ إِذَا مَسَحَ

او درېږي په ځای کښې د دوو ضربو چې خاوري د سړي پر بدن پرېوزي او دی لاس پر تیر کړي یعنی پر مخ او لاسو په نیت د تیمم، وقوله بباطن

بِنِيَّةِ التَّيَمُّمِ

الكفين، دا موافق د هغه روایت سره ده چې حلبي د ذخیره نه نقل کړي دی. لکن صحیح هغه خبره ده چې شمني وائي چې هم دې باطن د کفینو پر ځای وهی او هم ظاهر د هغو، قاله الطحطاوي"

سوال: په حدیث مبارک کې داسې راغلی دي، "التَّيَمُّمُ ضَرْبَتَانِ" او ضرب په لغت کې وهلو وائي او تا قبلا وویله چې مراد د ضرب نه اینبوول دي، او سره د دی چې د اینبوولو د پاره لفظ د وضع په عربي کښې راځي. **جواب**: هو د ضرب معنی خو هغه ده چې سائل وویل لکن په حدیث شریف کښې لفظ د ضرب بناء دی پر غالب عادت د تیمم کوونکو. دلیل د دی ترجمې چې مونږ په وضع سره وکړه لفظ د قرآن کریم چې د تیمم په باره کښې وائي "فَامْسَحُوا"

اَلسَّابِعُ اِنْقِطَاعُ مَا يُنَافِيْهِ مِنْ حَيْضٍ اَوْ نِفَاسٍ اَوْ حَدَثٍ

او اووم شرط د تیمم کولو دا دی چې نه به وی موجود هغه شی چې د تیمم سره منافی وی چې هغه شئ حیض او نفاس او حدث یعنی یا بولی یا غل یا پُسکی وغیره. حاصل دا چې په وخت د تیمم به ښځه په حیض کی نه وی. او یا په نفاس کی به نه وی. او یا نر یا ښځه به په حال د حدث نه وی د تیمم په وخت کښی. مطلب دا چې حائضی ښځې یا نفساء ښځې یا هغه چې په حال کی د بولو وغیره تیمم وهل روا نه دی. لان اجتماع المتنافیین لا یجوز شرعاً ولا عقلاً. **پوهه**: چې دا شرط د اودا سه او د غسل د پاره هم دی.

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولوالدیهما وقد کتبه بیده احقر فضل الحق حقانی غفرله.

او اتم شرط د

اَلثَّامِنُ زَوَالُ مَا يَمْنَعُ الْمَسْحَ كَشَمْعٍ وَشَحْمٍ

تیمم د صحت زوال یعنی نیستی والی دی د هغه شی چې مانع د مسح وی لکه موم یا وازګه. ولی که چیری دا مانع پر لاسو یا مخ موجود وی بیا خو مسح پر هغه مانع کیږی پر بدن د متیمم نه کیږي.

وَسَبَبُهُ وَشُرُوْطُ وُجُوْبِهِ كَمَا ذُكِرَ فِي الْوُضُوْءِ

او سبب د تیمم او شرطونه د واجب والی د تیمم هغه دی چې د اودا سه په مبحث کی ذکر سوله.

پوهه: چې سبب د تیمم وهلو اراده د هغه کار چې بې طهارت نه وی روا. لکه لمونځ، مسحه د قرآن شریف وغیره او شرطونه یه اته دی. "العقل، والبلوغ، والاسلام، ووجود الحدث، وعدم الحيض والنفاس، وضيق الوقت، والقدرة على ما يجوز منه التيمم"

تفریع: پر لیونی تیمم واجب نه دی، پر کشنی تیمم واجب نه دی. پر کافر تیمم واجب نه دی، او چې اودس لری پر هغه چا تیمم واجب نه دی. او پر حائضی یا نفاس ښځی باندی تیمم واجب نه دی. او چې وخت فراخه وی چې تر اوبو رسیدلای سی تیمم واجب نه دی. او چې قدرت پر هغه شی نه لری چې تیمم پر وکړی، لکه خاوری وغیره تیمم واجب نه دی" قال المصنف.

او دوه رکنه د تیمم مسح کول دي

وَرُكْنَاهُ مَسْحُ الْيَدَيْنِ وَالْوَجْهِ

د لاسو او د مخ.

فائده: کیفیت د تیمم هغه دی چې د قول او فعله نه د رسول کریم صلی الله علیه وسلم معلومیږی، قال صلعم. "التَّيَمُّمُ ضَرْبَتَانِ ضَرْبَةٌ لِلْوَجْهِ وَضَرْبَةٌ لِلذِّرَاعَيْنِ اِلَى الْمِرْفَقَيْنِ"، وورد في الصحيح من الحديث انه سُئِلَ رسول الله صلى الله عليه وسلم: كيف امسح يعني في التيمم فضرب بكفيه الارض ثم رفعهما للوجه ثم ضرب ضربةً فمسح ذراعيه باطنهما وظاهرهما حتى مسّ بيديه المرفقين"

Maktaba Tul Ishaat.com

درویش والیٔ: چې دغه کیفیت ډیر صحیح دی او دغه کیفیت هم د امام اعظم څخه مروی دی هغه وخت چې امام ابو یوسفؒ دده څخه پوښتنه د کیفیت د تیمم وکړه ص۹۷ ط او هغه کیفیات چې بعض علماوو ذکر کړي،» کما فی الطحطاوی ص۹۷ هغه په احادیثو شریفه وو کې نه دی راغلی. او نه د صاحب المذهب څخه منقول دی،» صاحب البدائع وائي چې د دغه کیفیات تکلف دی او احسن هو الموافق للمنقول،» که څوک د هغو کیفیاتو زده کړه غواړي نو دې د طحطاوي ص۹۷ مطالعه کړي او تکلف به هم ورمعلوم سي،» قال

وَسُنَنُ التَّيَمُّمِ سَبْعَةُ التَّسْمِيَةُ فِي اَوَّلِهٖ وَالتَّرْتِيْبُ

او سنت کارونه د تیمم اوه دي. اول بسم الله ویل دي په اول کې د تیمم لکه په اصل کتبو دده یعني اودس

وَالْمُوَالَاتُ وَاِقْبَالُ الْيَدَيْنِ بَعْدَ وَضْعِهِمَا فِي التُّرَابِ

او بل ترتیب دی یعني مخ دی د مخه مسح کوي او بیا لاسونه لکه چې په حدیث کې تیره سوه. او بل پیوسته کول دي دری

كَاِدْبَارِهِمَا وَنَفْضُهُمَا وَتَفْرِيْجُ الْاَصَابِعِ

دوو مسح کولو لکه په اودس کې چې هم سنت دی. او بل د فعل څخه د آنحضرت صلی الله علیه وسلم موالات فهمیږي. او بل سنت دا دی چې اول دی مخ د لاسو پر مځکه راوړي دی. او بیا دی شاوی د لاسو ایږدي دی. او بل سنت دا دی چې لاسونه دی وخنډي د ګرد څخه، تا چې مثلت یعني ککړ نه پیدا ل د مخ رانسي. او هم په دغه کیفیت امام اعظمؒ تیمم وابو یوسفؒ ته وروښوولی دی چې هغه پوښتنه ځنډی وکړه.

مسئله: په خټو تیمم نه دی روا تر هغو چې وچې نسي د جهت د مثلت مګر هغه وخت که سړي بیریدی چې وخت د لمانځه تیر به ږي. او بل سنت خلاص نیول د ګوتو د لاسو دی په وخت کې د ایښوولو پر مځکه،» د پاره د دی چې ګرد ور ننوزي.

وَنُدِبَ تَاخِيْرُ التَّيَمُّمِ لِمَنْ يَرْجُو الْمَآءَ قَبْلَ خُرُوْجِ الْوَقْتِ

او مستحب دی ځنډول د تیمم څخه هغه چا لره چې امید داولري په وي د مخه تر وتلو د وخت د لمانځه.

چې دا حکم او ندب د هغه چا د پاره دی چې هغه فاقد الماء شرعاوي یعني یو میل

پوه سه: چې دا حکم او ندب د هغه چا د پاره دی ... وای که د سړي او په ځندی لري وی،» په ظاهر روایت کې د حضرت الامام الاعظم څخه. ولی که د سړي او یو میل کمی لیري دی بیا خو تیمم نه دی ورته روا. او دا هم وا وره ظن وی چې او به تر یو میل کمی لیری دی بیا خو تیمم نه دی. ورته روا. او دا هم واوره چې مراد د رجاء څخه امید داو بودی په غالب الظن سره نه په نفس ګمان سره. او د حضرت الامامؒ او دا غه رنګه د امام ابو یوسفؒ څخه روایت دی چې په صورت کې د غلبة الظن دا و بوتا خیرد تیمم واجب دی لکن دا ظاهر روایت نه دی»

فائدہ لری: مراد د وقت څخه وقت مستحب دی،» چې هغه به تولو لمونځو کې اول د اخیر نیمائی د وخت دی،» او بعض علماءؒ وائي چې تر اخیر پوري د وخت د جواز په ځنډول مندوب دی. لکن صحیح اول مذهب دی تا چې اداء د لمانځه په وخت مستحب کې راسي،» ط، ص۹۸.

تفریع: نو ځنډول د تیمم د ماز دیګر د لمانځه د پاره تر تغیرد لمر روا نه دی. او دغه رنګه دی د ماښام لمونځ د اول څخه وخت نه ځنډوي. او بعض فقهاءؒ وائي چې تر نژدی پوري د مغیب الشفق ځنډول پروا نه لري.

حکایت: یوه ورځ حضرت الامام الاعظمؒ سره د خپل استاذه الامام حمادؒ د پاره د رخصت کولو د حضرت المحدث الکبیر امام الاعمشؒ د بغداد څخه د باندی وتلی وو چې د ماښام وخت داخل سو او د غالب الظن پر بناء امام حمادؒ په اول کې د وخت تیمم وکړي او د ماښام لمونځ یې ادا کړي. او امام اعظمؒ لمونځ وځنډاوه چې په اخیر کې غیبی خدایؒ او به پیدا کړي او امام اعظمؒ اودس وکړي او لمونځ د ماښام یې په اخیر وخت کې ادا کړي،» دده استاذ د غه رأیه د امامؒ صواب وبو لله. حکایت کوونکی چې د اول مخالفت وو د حضرت الامام الاعظمؒ د خپل استاذ حمادؒ څخه» قال المصنفؒ

وَيَجِبُ التَّاخِيْرُ بِالْوَعْدِ بِالْمَآءِ وَلَوْ خَافَ الْقَضَاءَ

او واجب دی پر سړي ځنډول د تیمم په سبب د وعدی د یو سړي چې زه دا او د اسرا او به درکوم که څه هم پر قضاء د لمانځه بیریږي»

پوهسه: چې دا دی مسئلې ځای هلته دی چې د وعده کوونکی سړی سره اوبه موجودې وی. او یا اوبه تر کمه میل نږدې وی وعده کوونکی والی چې ز لی پر سائیکل یا آس وغیره تاته راوسوم او که اوبه پوره میل لیری وی یا بالا تر هغه بیا څنډ ول د تیمم پرده واجب نه دی، چې خدای ورده ته پر دغه صورت کی تیمم راوکړی دی» البته که دده پر د وعده کوونکی پر وعده دوفا ګمان وُو نو څنډ ول د تیمم مندوب دی. قال المصنف

وَيَجِبُ التَّاخِيرُ بِالْوَعْدِ بِالثَّوْبِ اَوِ السِّقَاءِ مَالَمْ يَخَفِ الْقَضَاءَ

او واجب دی تاخیر ای تاخیر د لمانځه که یو چا د لغ سړی سره وعده د جامی یعنی په قدر د ستر العورة وکړه. او یا د هغه سړی سره چې اوبه په څا کښی وی مګر رسی او سولاغه نه وه بل چا وعده د رسی او سولاغی وکړه. نو پر دی سړی هم واجب ده څنډ ول د تیمم تر هغو چې پر قضاء د لمانځه نه بیریږی په دواړو صورتو کی. **فائده**: مصنف متابعت کړی دی په دی دوو مسئلو کی د صاحب البرهان لکن په عامو کتابو کی د فقه حنفی لکه فتاوای خانیه او فتح القدیر او منیة المصلی او د هغه دوی شرحی صغیری و کبیری او بحر رائق، او سراج، او صاحب خلاصه یه و مبسوط ته هم نسبت کړی دی چې دغه تاخیر په نیزد امام اعظمؒ مندوب دی» او یا رانؒ وائی چې واجب دی او مزید البیان فی الطحطاوی ص ۹۸

وَيَجِبُ طَلَبُ الْمَاءِ اِلٰى مِقْدَارِ اَرْبَعِمِائَةِ خُطْوَةٍ اِنْ ظَنَّ قُرْبَهُ

او واجب دی طلب د اوبو تر څلورسوه ګامه پوری کی ګمان وُو د نږدې والی د اوبو. لکن دا طلب هلته واجب دی چې په لاری د طلب امن

مَعَ الْاَمْنِ وَ اِلَّا فَلَا وی یعنی د دښمن یا د غلو بیره نه وی.

مسئله: طلب د اوبو که په خپل کوی کی په بل چا کوی. **پوهسه**: چې طلب د اوبو هغه طرفته کوی چې دده ګمان کیږی چې پر دغه طرف به اوبه وی. او کی پر څلور سو طرفه د اوبو د قریب ګمان وُو» نو پر څلورسره طرفه به طلب کوی. لکن دا طلب هلته

واجب دی چې په لاری کی د طلب امن وی. یعنی د دښمن یا د غلو بیره نه وی. **قوله والا فلا**. یعنی کی ګمان د قریب د اوبو نه وُو یا د لاری امن نه وُو بیا طلب واجب نه دی که څه هم اوبه په واقع کی نږدې وی. **پوهسه**: چې سبب د ګمان د نږدې والی د اوبو. یا خو اوبه په سترګو او یا شنی درختی یا شنه نلان ووینی او یا مرغان هلته دوری وو ایسته کیږی **مسئله** که د سړی ګمان خونه وو اخبار د لوچا وی چې دلته نږدې دی لکن یو بل سړی تیریدی واجب ده پر ده چې د هغه سړی څخه دی معلومات د نږدې والی د اوبو وکړی او که ده پوښتنه څنډی ونه کړه تیمم یې وکړی او لمونځ یې هم وکړی وروسته هغه سړی د قریب د اوبو خبر ورکړی هغه لمونځ به راګرځوی» ط»

پوهسه: چې دغه ۴۰۰ ګامه ته په نورو کتابو کی غلوة وائی. او دا مقدار مغرب چې د لغت کتاب دی ذکر کړی دی. او صاحب قاموس وائی چې غلوة مقدار د غشی دویشتلو دی. او دا مقدار حافظ الدین په کنز کی راوړی دی.

مسئله: صاحب بدائع وائی چې پرته د مقدار دومره اندازه دی طلب کوی چې وده نه او یا دده اندیوالانو ته په سبب د انتظار ضرر نه وی، قال ط وهو الاصح.

مسئله: که سړه د ظن د قریب الماء ده طلب ونه کړی بلکه تیمم یې وواهه او لمونځ یې هم وکړی او بیا وروسته چې طلب وکړی اوبه نه وی. نو تیمم او لمونځ به دواړه راګرځوی» په نیزد امام اعظمؒ، او امام محمدؒ وائی په صورة مذکوره کی شرط د جواز د تیمم چې طلب دی نه وو پیدا سوی، او امام ابو یوسفؒ وائی چې راګرځول پری نشته» سراج»

مسئله: که د سړی غالب ګمان د نږدې والی د اوبو وو مګر یو عادل سړی ورته وویل چې اوبه نږدې نشته تیمم لی خلافه ورته روا دی. حلبی

مسئله: دا قوله خبری هلته دی چې سړی په دښت او بیابان کی وی. او که آبادی ته نیل کمی معلومیدی بیا طلب د اوبو پر واجب دی مطلقًا یعنی کی ګمان وی او که نه وی. حتی د غه سړی تیمم وکړی او لمونځ یې هم وکړی لمونځ یې نه دی روا. ولی چې آبادی غالبًا د اوبو څخه خالی نه وی، وَالْغَالِبُ كَالْمُتَحَقِّقِ فِى الْاَحْكَامِ»

Maktaba Tul Ishaat.com

وَيَجِبُ طَلَبُهُ مِمَّنْ هُوَ مَعَهُ إِنْ كَانَ فِي مَحَلٍّ لَا تَشُحُّ بِهِ النُّفُوسُ

او پر سړي يعنی مسافر واجب دی طلب داوبو د هغه چا نه چې دده سره ملګري دی که په داسې ځای کې وو چې هلته په اوبو سره بخل نه کيږي.

سبحانه فائده په هدايه بلکه په ډېرو کتابونو کې دفقه شريفې وائي چې په نيز د امام اعظمؒ طلب داوبو د ملګري نه هيڅ واجب نه دی. ولې چې د غير سړي خو بخيله داوبو نه عاجزه دی او اوبه په سفر کښې هغه بيځي ګران د شيانو نه دی پر مسافر نو ظاهره داده چې نه بې کې ور، نو بې له طلب دی تيمم وکړي او لمونځ دی اداء کړي. او يارانو وائي چې طلب داوبو لازم دی او د مخه تر طلب داوبو و سړي ته تيمم نه دی روا.

ولې چې اوبه خلک ورکوي يو و بل ته خصوصًا د اوداسه د پاره، لکن ابوبکر الجصاصؒ وائي چې په حقيقت کې د امام اعظمؒ او د ده شاګردانو ترمابين خلاف نشته. ولې چې مراد د امام اعظمؒ چې طلب داوبو لازم نه بولي. هغه وخت يه لازم نه بولي چې دده غالب ګمان داوي چې اوبه نه راکوي، او مراد د يارانو دا دی چې طلب داوبو لازم بولي چې دسړي ظن داوي چې منع به و نه کړي نو ګويا پر اوبو قدرت سته نو ځکه تيمم ناجائز دی، فقير وائي چې داقول د جصاصؒ د دوی يعنی حضرت الامامؒ او يارانوؒ د دليل نه فهميږي. قَالَ المصنفؒ

وَإِنْ لَمْ يُعْطِهِ إِلَّا بِثَمَنِ مِثْلِهِ لَزِمَهُ شِرَاؤُهُ بِهِ إِنْ كَانَ

او که هغه شريک د سفر اوبه نه ورکولې مګر په ثمن مثل سره پر سړي لازم ده رانيول يې په ثمن مثل که چيرې دده سره ثمن وو چې هغه هم دده تر

مَعَهُ فَاضِلًا عَنْ نَفَقَتِهِ

سفر خرڅ بالا وو. **پوهه**: چې خرڅول داوبو په ثمن مثل سره دادی چې نن دی و د غه ځای ته اوبه په د غونه قدر قيمت خرڅيږي، په دې صورت کې که دسړي سره ثمن مذکوره وو او فاضل دده تر نفقې وو نو رانيول يې لازم دی او تيمم نه دی ورته روا.

کتبه احقر الورى فضل الحق حقانى۔

او که خرڅول داوبو په لږ بالا پيسو وو بيا هم رانيول يې لازم دی تيمم نه دی روا. او که خرڅول داوبو په لږ بالا ... ولې چې په دې دواړو صورتونو کې سړي قادر پر اوبو دی ددې کبله چې قدرت پر بدل چې پيسې دی قدرت پر مبدل دی چې اوبه دي. او که خرڅول داوبو په غبن فاحش يعنې په ډېرتاوان سره وو چې تر اصلي قيمت نيم د هغه نوريه ځندی غوښتی بيا يې رانيول لازم نه دی او تيمم روادی. ولې چې په دی رانيولو کښې ضرر دده د مال دی او مال د مسلمان لکه ځان دده دی، نو ضرر دده نفس مسقط، ساقط ونکی، داوداسه وو نو ضرر د مال يې هم مسقط داوداسه دی، کفايه بالاختصار. قَالَ المصنفؒ

وَيُصَلِّي بِالتَّيَمُّمِ الْوَاحِدِ مَا شَاءَ مِنَ الْفَرَائِضِ وَالنَّوَافِلِ وَصَحَّ

او دی اداکولای سي په يوه تيمم هغه لمونځونه چې دده خوښه وي د فرضي ډېرو لمونځو او نفلي لمونځو او روادی تر وخت

تَقْدِيمُهُ عَلَى الْوَقْتِ

دمخه تيمم وهل. **پوهه**: چې تيمم زموږ په مذهب کې طهارت مطلقه کامله دی لکه اودس. ولې چې په تيمم سره امر قرانی راغلی دی، فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا، لکه په اوداسه سره وقال عليه الصلوة والسلام، التراب طهور المسلم ولو الى عشر حجج مالم يجد الماء، نو لکه په يوه اوداسه چې ډېر فرضي لمونځونه روادی دغه رنګه په يوه تيمم هم ډېر لمونځونه روادي. او لکه اودس چې قبل دخول الوقت روادی تيمم هم روادی او په نيز د امام شافعيؒ تيمم طهارت ضروري دی چې ضرورت نه وي نه دی روا.

فائده: سنن او نوافل چونکه تبع د فرضو دي نو په يوه تيمم په وخت کی د ننه هر څه سنت او نفل چې کوي بالاتفاق روادی. لکن ښه داده چې قبل الوقت دی تيمم نه کوي او د هر فرضي لمانځه د پاره دی جلا جلا تيمم وکړي تا چې د خلاف نه د حضرت الامام الشافعيؒ ووزی.

وَإِنْ كَانَ أَكْثَرُ الْبَدَنِ جَرِيحًا أَوْ نِصْفُهُ جَرِيحًا تَيَمَّمَ

که چيرې ډېره حصه د بدن دسړي ټپي وه او يا نيمې د بدن يې ټپي وه نو تيمم دی وکړي

وَاِنْ كَانَ اَكْثَرُهٗ صَحِيْحًا غَسَلَهٗ وَمَسَحَ الْجَرِيْحَ

اوکه چیرې اکثر د بدن

په جوړ وُو. نو هغه جوړ ځایونه دې پرې منځي او پرخوږ ځایو دې مسح وکړي.

پوهسه: چې مختاره د فقهاوؤ داده چې کثرت او قلت په اعتبار د عدد د اندامو دی. مثلاً کې سر ټپي وو او مخ په هم ټپي وو او لاسو په هم دواړه زخمي وه. صرف پښې ئې جوړې وې. دا سړې به تیمم کوي نو دی حساب به څخ اندازه د نصف (نیمی) او اقل ته وګوره. او لعض فقهاء وائي چې کثرت (ډیروالی) او قلت (لږوالی) او نصف په اندام د د غوا ندامو معتبر دی. یعنې کې اکثر یا نصف دَغ ټپي وُو او نورا ندامونه پې جوړ وه دا سړې به تیمم وهي. دا اختلاف خو په اوداسه کښې دی اما په غسل کې کثرت او قلت په اعتبار د مساحت دی یعنې د بدن د ګېچې په اعتبار دی. او چې جوړې وي نو هغه جوړ ځایونه دې پریمنځي پرخوږ ځایو دې مسح وکړي»

مَسْئَلَهٗ مسح کول دا دې چې لوند لاس دې پر تیر کړي. او که لند لاس تیرول ضرر ټپ ته کاوه بیا دې پو ټکر پر اوار کې او پر هغه دې لُند لاس تیر کړي. او که هغه هم ضرر کاوه نو مسح دې پرېږدي صرف جوړ ځایونه دې پریمنځي. **فَائِدَه** که د سړي په نس کې ټپ وو که څه هم لږ وي او یا په سر کې وو او یا په شا کې وو او وی سړ د غسل ضرورت در لودی او او بو تاوان ورته کاوه تیمم دی وکړي ولې چې په سبب د ضرورت دا ټپونه حکم د جراحت غالبه لري» م ه قَالَ الْمُصَنِّفُؒ.

وَلَا يَجْمَعُ بَيْنَ الْغَسْلِ وَالتَّيَمُّمِ

او جمع کول به نه کوي په مابین د یرې ولو او تیمم

یعنې چې بعض ځایونه پرې مینځي او تیمم هم وکړي» ولې دا په شرعه شریفه کې مثل نه راځي چې جمع د بدل چې تیمم دی او مبدل منه راځي. **سَوَال**: فقهاءؒ وائي چې کله سړي شراب پس خورده او بو دخره وي نو دا سړي به هم اودس تازه کوي په هغو اوبو او هم به تیمم کوي نو دلته خو جمع د بدل او مبدل منه راغله **جَوَابْ** دا جمع د دی د پاره ده چې

طهارت په یوه سره دَ د غو دواړو حاصلیږي نه په دواړو ولې چې سُئور الحمار مشکوکه ده جمع د بدل او مبدل منه چې نارواده داسې ده لکه چې د غله لاس پرې سي او د مال تاوان هم ځندي غواړي. او یا پر یوه سړي حد زنا جاري سي او ولور هم ځندي غواړي» او یا په میراث کې برخه لري او د وصیت برخه هم غواړه او داسې نور» مَرَاقی قَالَ.

وَيَنْقُضُهٗ نَاقِضُ الْوُضُوْءِ وَالْقُدْرَةُ عَلَى اسْتِعْمَالِ الْمَاءِ الْكَافِيْ

او ماتوي تیمم هغه شئ چې اودس ماتوي چې قبلاً ذکر سوله. او د غه رنګې ماتوي قدرت د متیمم پر استعمال د اوبو چې کافي وي د طهارت د پاره **پوښتنه**: د مسافر سره کافي اوبه د اوداسه یا د غسل موجودې وي لکن دی بیریدي د ورو ستني تندي څخه تیمم ورته روا دی **جَوَابْ** دا او به مشغول په حاجت اصل دې او سره د دی چې کافي او به ور سره دي. **پوهسه**: چې مصنفؒ بناء پر غالب ناقض الوضوء ذکر کړي مشغول بالحاجت کالعدوم. ورنه تیمم په ناقض الغسل سره هم ماتیږي. نو دا سوال نه وارديږي چې مصنفؒ که داسې ویلي وای» فَيَنْقُضُهٗ نَاقِضٌ لِلْاَصْلِ» ښه به وای تا چې غسل ته هم شامل سوي وای. او امام حموي دی سوال په جواب کې داسې وائي چې مصنفؒ خاص ذکر کړي چې اودس دی او مراد یې عام دی چې طهارت دی نو غسل ته هم شامل سُو.

مَسْئَلَهٗ که د سړي سره دومره اوبه وي چې د یوه وار د اندامو پر یو لو د پاره کافي ده دری دری واره د پاره کافي نه وې. تیمم ورته روا دی او که نه! **جَوَابْ** تیمم نه دی ورته روا ولې چې تثلیث خو سنت دی. د فرضو د پاره اوبه کافي دي.

فَرْعٌ: که د سړي سره اوبه وي د ده په خیال د اوداسه کافي نه وې نو یې تیمم وواهه وروسته یې او به په خیال کافي ور غلي نو یې اودس شروع کړي. لکن په تثلیث سره پس اودس پای ته نه وي رسیدې چې او به خلاصې سوې. نو بناءً پر مختار مذهب هغه څخه تیمم یې باطل سُو. ولې ده اودس شروع کړي ظهور یت د خاورو پای ته ورسیدی **فَائِدَه**: په دی قول کې د مصنفؒ» وَالْقُدْرَةُ آه هغه ټول عذرونه چې مباح کوونکي د تیمم وه

Maktaba Tul Ishaat.com

زوال دهغو داخِل سو مثلًا مریض وو جوړ سو، ډیریخ وو یَخ مات سو، د دښمن څخه بیریدی دُښمن وَلاړی، پرڅا سو لاعذر او رسی نه وَه هغه پیدا سَوه. نو په دی ټولو صُورتو کی هغه کړی تیمومات سُو. ابن الشحنةؒ وائی: وَيَسْقُطُ مَسْحُ الرَّأْسِ عَمَّنْ بِرَأْسِهِ مِنَ الدَّآءِ اِنْ بَلَّهُ يَتَضَرَّرُ: ترجمه: ساقطیږی مسح د سَر د هغه چا څخه چی پسر کی داسی مَرض وی کی لوند کړی تا وان ورته کوي. **فـرعـه**: نوبناء پر دَ عذر پر یوله د سر جُـنـبی او حائِضی ښځی څخه یا نفساء دَ ټولو څخه ساقِط دی. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَمَقْطُوعُ الْيَدَيْنِ وَالرِّجْلَيْنِ إِذَا كَانَ بِوَجْهِهِ جَرَاحَةٌ

او هغه سړی چی لاسُونه یه پری وی یعنی لوړ تر څنګلو او پښی یه هم پری وی. یعنی لوړ تر بجلکو که چیری پر مَخ یه ټپ وو یعنی چی

يُصَلِّي بِغَيْرِ طَهَارَةٍ وَلَا يُعِيدُ او بوضرور ورته کاوَه لمونځ به کوي بی له او داسه. او بیا به هغه لمونځ نه را گرځوي. یعنی مَخ یه جوړ سي. او بعض عُلماء وائي چی لمونځ څُندی ساقط دی.

مسـئـله: که چیری لاسُونه د سړی تر څنګلو کښته پری وَه، هغه باقی مانده لاس دی په خاورو مسح کړي.

مسـئـله: که د چا لاسُونه شل وَه چی پریوله یه نسوای کولای هغه څخ او لاسُونه په ځمکه پوری مسح کوی مگر لمونځ به نه پریږی دي،، قاله المصنفؒ فی المراقی ملخصًا"

انتباه محترم مولوستو نکو دا کتاب چی عِلم فقه د مشهور او معتمد کتاب شرح دَه د حضرت عَلامه مولانا ابوالفضل محمد عُبید الله الایوبي القند هاري دَه. چی زموږ د مکتبی له خوا یاتی غوښتنی وروسته یه دا زموږ غوښتنه قبول کړه. او ددی دکتاب د طباعت او ټول داشاعت حقوق راته کړي، هیڅ څوک ددی کتاب کتابت طباعت بیله زموږ داجازی نه سی کولای. په هیڅ لوی او کشنی سائز کی." په ډر ناوي"

بَابُ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ

باب دی په بیان کی د مسح پر موزو باندي.

وسوسه: چی مسح د موزو شیعه دَ له روا نه بولي. او پر لڅه پښه مسح روا بُولی. دوی د او داسه په ایت کی چی په یوه قرائت کی" وَاَرْجُلِكُمْ" په جر یعنی په زیر سره راغلی دی. نو دوی لفظ معطوف بولي پر رُؤُسِكُمْ، نو معنیٰ داسی کیږی چی" وَامْسَحُوا بِاَرْجُلِكُمْ"، نو ځکه لڅه پښه مسح روا بولی. او دوی دا عادت دی چی گاهی په سفر وکی موزو ته ضرورت ولری موزه دونه فراخه جوړوی چی لاس ورننوزی چی پر لښته مسح وکړی. نو ددی سببه ضرب المثل دی چی وائی فلانی شئ دونه فراخه دی لکه د شیعه موزه. او موږ هغه قرائت مختاره کړی چی اَرْجُلَكُمْ په نصب سره راغلی دی چی عطف پر مغسُول سی یعنی اَيْدِيَكُمْ،، چی معنا یه داسی کیږی چی، وَاغْسِلُوا اَرْجُلَكُمْ"

پوښتنه څه حکمت دی دخدای چی اَرْجُلَكُمْ سره دَدی چی عطف پر مغسُول دی او تر وَامْسَحُوا یه وروسته راوړی **جَوَاب**. حکمت الهی اشاره وترتیب ته ده په افعالو کښی د او داسه ځکه بعض فقهاءؒ وائی چی ترتیب په افعالو کښی د او داسه څرنگه چی په ایت الوضوء کښی ذکر سوی دی واجب دی. او د حنیفیانو په نیز سُنت دی.

سوال: په قرائت کی د جَر (زیر) موږ څه وایو. **جَوَابْ**: شیخ احمدؒ په تفسیرات احمدیه نورالانوار کی وائي چی قرائت دجر محمُول پر حال د" تخفف دی یعنی چی موزی یه په پښو وی چی عطف پر ممسوح سی او قرائت د نصب محمول پر حال د عدم تخفف دی چی پر مغسُول عطف سي، ددی وجهی، بعض فقهاءؒ وائي چی مسح د موزو په قران سره ثابته ده. که څه هم دا رأی د مصنفؒ خُوښه نه ده. نو ځکه دی په مَرَاقی الفلاح کښی وائي: ثَبَتَ بِالسُّنَّةِ قَوْلًا وفعلًا، او بعض علماء دَ قرائت دجر داسی توجیه کوی چی دا جَر د جوار دی یعنی لفظ د ارجلکم په اصل کی خو منصوب وو لکن چونکه مجاور د مجرور ذکر سو یعنی رُؤُسِكُمْ، نو ځکه وَارْجُلِكُمْ

ته ئې هم جر ورکړی، کما في قولهم جُحرُ ضَبٍ خَرِبٍ، **فَائِدَه**: مسح دموزو په
ډيرو صحيحو حديثو سره ثابته ده حتیٰ چې وئيلی دی يو جماعت د حفاظو حديثو چې
د مسح دموزو متواتر دی كما فی فتح الباري، حسن بصريؒ وائي چې ما ته اويا ۷۰ کسانو
اصحابؓ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّم وئيلی دی چې مونږ ليدلی دی عَلَيهِ السلام
مسح يې پر موزو کوله،،

او حافظ ابن حجرؒ په فتح الباري کی وائي چې حديث د مسح د موزو اکثر تر اتيا ۸۰ وو کس
روايت کړی دی چې په هغو کی عشره مبشرهؓ هم ټول شامل دي. نو ددی سببه د حضرت
الامام الاعظمؒ څخه روايت دی چې زه بيره د کفر لرم پر هغو کسانو چې مسح د موزو روا نه
وروی عنه ايضًا، چې دده څخه چا پوښتنه وکړه چې علامه د اهل سُنت والجماعت
څه شی دئ. ده ورته ووئيل، تَفْضِيلُ الشَّيْخَيْنِ، يعنی بهتر بولل د ابوبکر الصديق او عمر
رضِيَ اللهُ تَعَالىٰ عَنهُمَا پر نورو صحابهؓ وو باندی، وَحُبُّ الْخَتَنَيْنِ، يعنی محبت کول د دوو
زومانو سره د عليه السلام چې عثمان او علی رضی الله تعالیٰ عنهما دي، وَالْمَسْحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ،
او مسح جائز بولل پر موزو باندی، چې دا دری شئی په غير کښی د اهل سُنت والجماعت
نه پيدا کيږي. وروی عنه ايضًا، چې ما په مسح سره د موزو قول نه دی کړی حتیٰ چې ماته
دومره حديث نه وو رسيدلی لکه د سهار سپيدي،

پوښتنه: بعض حديثو کی راغلی دي چې سيدتنا بی بی عائشة وسيدنا عبدالله
ابن عباس وسيدنا ابوهريرة رَضِيَ اللهُ تَعَالىٰ عَنهُم مسح د موزو نه منله. **جواب**
په نهايه او نورو کتابو کښی د فقه شريفی وائي چې دوی مبارکانو رجوع کړی وه جواز ته د مسح
د موزو، او بل جواب دا دی چې امکان لري چې دوی انکار په حقيقت کی د لزوم څخه د مسح
د موزو وو، او لازم خو يې مونږ هم نه بولو بلکه که څوک موزی کا بی او پښی مينځي
ورته روا ده بلکه عزيمت دئ. **مسئله**: که يو څوک سُنی په وطن کښی د شيعه گانو
وی هغه ته پر يولو د پښو مسح د موزو افضل کار دی. د دپاره د ردّ پر دغو شيعه وو باندی

اللهم اغفر لمولفه ولكاتبه آمين يارب العلمين

صَحّ الْمَسْحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ فِي الْحَدَثِ الْأَصْغَرِ لِلرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ

صحيح او روا ده مسح پر موزو په کښی د او د سيا کی يعنی نه په جنابت کی) د پاره د نرو او ښځو
۱ قال المصنفؒ صَحّ: اشاره ودی خبری ته ده چې مسح لازمه نه ده که څوک
موزی کا بی پښی مينځي روا دی بلکه عزيمت دی حکمًا مرافقًا او خلاف

فوائد: قاله العينيؒ.

تيمم چې هغه په وخت کی د عدم د اوبو فرض دی، اوبه نه ده چې يوه پښه پريوله او
۲ خفين يې په صيغه د تثنيه راوړ اشاره ودی مسئلی ته ده چې يوه پښه پريوله او
بله پښه پر موزه مسح کول روا نه دئ. ۳ عَلیٰ- لفظ چې د پاره د استعلاء دی وي وايه
توهم چې ۴ په بحر رائق کی
تنبيه پر دی خبره ده چې مسح د ننه پر موزه يا لاندی تر موزه روا نه ده
وائي چې مسح د موزو کاهی واجب گرځي مثلًا که اوبه دونه قدر وی چې نور اودس تازه کړي
پښو پر يولو نه بسيږی نو مسح د موزو واجب ده. او يا داسی وی که سري پښی مينځي
وخت د لمانځه وزي نو مسح پر موزو لازمه ده. يا وقوف د عرفات څندی تيريږی. ۵ مسح
د موزو د خواصو څخه د امت مرحومه ده لکه تيمم ۶ حدث اصغر يې ووايه ولی مسح
د موزو د جنابت يا د حيض يا د نفاس د پاره نه ده روا. ولی چې احاديث مبارکه په حدث
اصغر کی راغلی، او دا قانون دی چې کوم حکم چې خلاف القياس وی پر ځای د سماع حصر دئ.
ومسح الخفين كذالك. او بله خبره دا ده چې مسح د موزو د پاره د دفع د حرج ده او حرج په
هغه طهارت صغير کی دئ. چې مکرر پيښيږی چې هغه اودس دی، او طهارت د نجاست يا
د حيض يا د نفاس څخه مکرر نه دئ. بلکه نادر دی۔

پوښتنه: د غسل سره څرنگه مسح د موزو تصوير کيدای سی ولی چې مغتسل چې
اوبه پر سر واچوی خو پر موزو بهيږی نو بناءً عَلیٰ هذا د تقييد په حدث اصغر سره څه فائده

جواب: حافظ الدين په کافی کښی د دی تصوير داسی کړی دی چې سړی جوړ بين
مجلدين مثلًا بيله طهارة تامه په پښو کړي او بيا دی ځان جنب کړي وروسته دی
پښی پريولو ته ځای کښينی دی او نور بدن دی ټول پريمينځي او پر جوربينو مسح وکړي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

نوفائده د قید دحدث اصغر داده چې دغه رنګه کول روا نه دي.

سَوال: که څوک همیشه موزې کاږي او پښې مینځي خلک به خیال د شیعه پرو کړي نو پرد غه عزیمت عمل خو موجب د دغه تهمت ګرځي ځکه بعض فقهاء داحناف و وائي چې مسح د موزو افضله ده مطلقاً، **جَواب**: دفع د دغه تهمت خو به دی هم کیږي چې ګاهی ګاهی دی مسح پر موزو کوي.

مَسئَلهٔ: مسح د موزو په کور او په سفر په دواړو کښې روا ده. **فائده**: دلته خف چې مشتق د خفة څخه وجه داده چې د خف په سبب حکم د پښو سپک شو څخه و مسح ته **پوهه سه**: چې مصنف په مراقی الفلاح کې وائي چې سبب د مسح پښو کول دی د موزو. او شرط د مسح دادی چې موزه به پټونکی وی د محل د فرض یعنې پښه تر بجلکو پورې. اوبل شرط یه دادی چې موزه به صالح د مسحی وی یعنې پر له پسې یو فرسخ تګ پکښې کولای سی. او ځیرې به نه وی هغه اندازه چې مانع د مسحی وی کما سیأتي او حکم د مسح روا والی د لانجه دی په خپله مده کې یعنې د مقیم او مسافر، او رکن یه مسح د قدر مفروض ده، او کیفیت یه دادی چې شروع د پښو د ګوتو د خوا څخه کوی په ګوتو دلاس تر پونډی پورې.

وَلَوْكَانَا مِنْ شَيْءٍ ثَخِيْنٍ غَيْرِ الْجِلْدِ

یعنې که څه هم جوړې سوې وی دا دواړې موزې د پنډ شی څخه سوا د څرمې څخه. لکه کرا سه او کرباس چې پر پنډۍ باندی تکیه کیږی بیله تړلو او او به هم نه جذب کوي.

سَوَاءٌ كَانَ لَهُمَا نَعْلٌ مِنْ جِلْدٍ اَوْلَا

برابره نه که وی دغه د ثخین شی جوړې سوو له تلی د پوستکی چې ودې ته جوربین وائی. او که پوستکی اصلاً نه لري.

پوهه سه: چې دا مسئله دری قسمه ده که چیری په پښو اغوستی شی نازک وی او څرمه نه وی پری ګنډلی. خو په اتفاق نه ده پر روا - او که پنډې هم وی او نعل دار هم وی مسح په اتفاق پر روا ده - او که پنډې وی لکن منعل وی پر قول د بالاو

مسح پر روا ده. او امام اعظمؒ مسح پر روا نه بولي. مصنفؒ د یارانو د مذهب متابعت کړي دی. ولې چې په بعض کتابو کې وائي چې امام اعظمؒ رجوع کړې ده و قول ته د یارانو د محنه زو فات دری ورځی یا اوه ورځی. مصنفؒ په مراقی کښی وائي وعلیه الفتوی، لکن حلوانی او حلبی او خلاصه والا وائي چې د کرباس څخه پر جوړو سو موزو مسح نه ده روا. مګر مجلدی وی او روایت والی ظاهره هم دغه ده ولې چې کرباس د پنبه و څخه جوړیږی نو غالبًا او به جذب کوی **پوهه سه**، که چیری موزی لاندی باندی د څرمی ساخت در لودی هغه ته مجلدی وائی مسح پر روا ده **فـرعـه**: د عسکرو پر غټو ګوتو مسح روا ده ولې چې په مجلد کی داخل دي کی څه هم دوی د غایت استحکام دپاره تناوونه ورته ی. او کی د لاندی د خوا څرمه یعنې ساخت ورکړی وو او نازکی نه وی د لوړی خوا هغه ته جورب منعل وائي مسح پر روا ده - او کی څرمه ګرسره نه وی ورکړی او پنډی وی او بې تړلو پر پنډ یو تکیه کی وی. هغه ته ثخینین وائي. **فـائِده**: بناء پر قول د مصنفؒ څخه یو قسم پونډو جرابو چې خارج څخه را ځی او په مابین کی کشکان لري چې پر پنډی باندی کلکی ولاړی وی او د مسح کولو او به پښو ته نه ورځی پر هغو هم مسح روا نه. او د غه قسم خبره ته دی په دقیق نظر ګوری چې شرائط په کښی برابر دی او که نه!

قَـالَ الْمُصَنِّفُ.

وَيُشْتَرَطُ لِجَوَازِ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ سَبْعَةُ شَرَائِطَ

او شرط دی دپاره د روا والي د مسحی پر موزو باندی اوه شرطه

اَلْاَوَّلُ لُبْسُهُمَا بَعْدَ غَسْلِ الرِّجْلَيْنِ وَلَوْ قَبْلَ كَمَالِ الْوُضُوْءِ

اول شرط یه دادی چې موزی بې پښو کړی وی پس له پریولو د پښو که څه هم د مخه تر کمال د اودا

اِذَا اَتَمَّهُ قَبْلَ حُصُوْلِ نَاقِضِ الْوُضُوْءِ

لکه چې سړی پښی پری مینځی او موزی په پښو کړی او نیمګړی اودس وکړی. لکن دا هغلته چې په مابین کښی د باقی اودا سه تر تلو کی د اودا سه نه سی پیدا.

فَـائِـدَهْ: که دسړي پر یوه پښه یا پر لکه لېګکي یا د یوځای څخه وینه راوتنه زی. دواړو پښو سکنده وه یعنی جبیره نو پر هغه یه مسح وکړه موزه یه په پښو کړه پر هغو موزی مسح روا ده. ولې چې مسح د جبیرې حکم د غسل لري ګویا پښه یه پریولې.

پوهـسـه: چې موزی مانع دسرایت د حدیث و پښی ته دی ر افع د حدث نه دی

وَالثَّانِي سَتْرُهُمَا الْكَعْبَيْنِ او دوهم شرط د مسح د موزو پټول دی د موزو بجلکو له یعنی د ټولو طرفو څخه. **مسـئـله**: که موزو بجلکی خوښتی کړی وی الی لنډی وی چې د لوړی خوا بجلکی معلومیدلی پروا نه لري. مسحه پر روا ده» **مسئله**: که چیری موزی دونه لنډی وی چې بجلکه یه نه سوای پټولای لکن سړي کرا سنه پری وګنډل او بجلکی یه په پټی کړی مسحه پر روا ده» م» قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالثَّالِثُ اِمْكَانُ مُتَابَعَةِ الْمَشْيِ فِيْهِمَا فَلَا يَجُوْزُ عَلٰى

او دریم شرط د مسح د موزو دا دی چې ممکن به وي پر له پسی تګ په هغو کی. نو مسحه نه ده روا پر هغه

خُفٍّ مِنْ زُجَاجٍ اَوْخَشَبٍ اَوْحَدِيْدٍ موزه چې د شیشی څخه جوړه وی یا د لرګی څخه او یا د اوسپنی څخه. **پـوهـسـه**: چې مراد د مشی څخه یو فرسخ مشی دی یا بالا لکه په حواشی وو کښی د هدایه چې وائی. او په محیط کی وائی چې مراد قطع د مسافت د سفر ده **فـائـدَه**: اګرچې تر او سه چا د نن ننی او یا د لرګی او یا د اوسپنی موزې نه دی لیدلی. لکن فقهاء د پاره د فوائد د قیود فرضی مثالونه راوړي. قَـالَ الْمُصَنِّفُ

وَالرَّابِعُ خُلُوُّ كُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِنْ خَرْقٍ قَدْرَ ثَلَاثِ اَصَابِعَ مِنْ

او څلورم شرط د مسح، خالی والی دی د هرې موزی د څیری والی څخه په قدر د دریو ګوتو د

اَصَابِعِ الْقَدَمِ د کچنی ګوتو څخه د پښو. **پُوهـسَـه**: چې اعتبار د کوچنی ګوتو د مقدار هله دی چې خرق بیله د ګوتو د ځای څخه پر بل ځای وي او که چیری خرق د ګوتو پر ځای وُو. بیا نو هري دری ګوتی چې وي هغو ته اعتبار دی. حتی که بټه ګوته ښکاره وه سره د همسایه لوی ګوتې مسح پر روا ده» که څه هم د دغو دوو ګوتو مقدار د درو کشنی ګوتو کیږی. او که د بټی ګوتی سره لی دوی نوری ښکاره وی بیا نو مسح نه ده پر روا. دد ـــے خبری دلیل دا دی چې هره ګوته پخپل ځان کی اصل ده په نورو ګوتو سره نه اندازه کیږی» ط، ر د»

او بعض فقهاء وائی چې دری ګوتی د لاس معتبري دي. او دا روایت دی د حسن د امام اعظم څخه «واختاره ابُوبکر رازی» وَالصحیح هُوَالاول» **مسـئـلـه**: مشهوره په مذهب کی دا ده چې چې دیوی موزی متفرق خرقونه سره یوځای کیږی. نو که د دریو ګوتو ته رسیدل مسح نه ده پر روا. او د دوو موزو خرقونه نه سره یوځای کیږی. لکن په خزانة الفتاوی کی او په توشیح کی وائی چې د امام ابویوسف مذهب دا دی چې خروق (یعنی څیری ځایونه) جدا ګانه که په یوه موزه کښی او که په دوو موزو کی وی نه سره یوځای کیږي. دا مذهب مختاره کړی کمال الدین او ابن امیر الحاج. او دا مذهب قوي ګنړلی بحرالرائق ط، ص۱۰۳ **پوهـسـه**: چې خُروق هغه معتبر دی چې پښه په وخت کی د تګ تر معلومیږی که څه هم په وخت کی د ایښو ولو د پښی پر ځکه پښه نه معلومیږی» ط.

وَالْخَامِسُ اِسْتِمْسَاكُهُمَا عَلَى الرِّجْلَيْنِ مِنْ غَيْرِ شَدٍّ

او پنځم شرط د جواز د مسح د موزو دا دی چې دواړی موزی په تکیه کیږی پر پښو بیله تړلو په تناو یا په کشک. مطلب دا چې موزی به پنډی او کلکی وي.

وَالسَّادِسُ مَنْعُهُمَا وُصُوْلَ الْمَاءِ اِلَى الْجَسَدِ او شپږم شرط د صحت د مسح پر موزو منع کول دی د موزو د رسیدل د ابو وجسد ته یعنی پښی ته.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَالسَّابِعُ اَنْ يَبْقِيَ مِنْ مُقَدَّمِ الْقَدَمِ قَدْرُ ثَلَاثِ اَصَابِعَ

او اوم شرط د صحت د مسح د موزو دا دی. چې پاته به وی د د مخ حصی څخه د پښې یعنی د ګوتو د خوا

مِنْ اَصْغَرِ ثَلٰثِ اَصَابِعِ الْيَدِ فَلَوْ كَانَ فَاقِدَ مُقَدَّمِ الْقَدَمِ

څخه په مقدار د دری ګوتو کچنیو ګوتو څخه د لاس، نو که یوه سړی مقدم حصه نه وه هغه به مسح پر موزه

لَا يَمْسَحُ عَلٰى خُفِّهٖ وَلَوْ كَانَ عَقِبُ الْقَدَمِ مَوْجُوْدًا

نه کوی کی څه هم د پندې ځوا باقی وي.

مسئله: که د سړي یوه پښه تر بجلکی لوړه پری وه، پر هغه بله موزه مسح ورته روا ده

مسئله: که د سړي یوه پښه تر بجلکی لاندی په قدر د دری ګوتو پاته وه هغه پر دواړو موزو مسحه کوي. **مسئله**: که د سړي یوه پښه وه او په بله پښه کی تر بجلکی لاندی د دری ګوتو مقدار نه وو پاته هغه نه پر هغه روغی پښې پر موزه هم مسحه نه ده روا.

ولې چې پر د غه سړي پر یوله د هغه پاتی حصی د پری سوي پښې فرض دی. او مسح او غسل (پر یوه) په وظیفی کښې د پښو سره یوځای کیږی»م» قَالَ الْمُصَنِّفُ.

وَمَسْحُ الْمُقِيْمِ يَوْمًا وَلَيْلَةً وَالْمُسَافِرِ ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ بِلَيَالِيْهَا

او مسح به کوی مقیم سړی یوه ورځ او یوه شپه. او مسافر به مسحه کوی دری ورځی سره د شپو د هغو. او د غه اندازه په صحیح حدیث کښې د آنحضرت صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړه سوی ده.

وَابْتِدَاءُ الْمُدَّةِ مِنْ وَقْتِ الْحَدَثِ بَعْدَ لُبْسِ الْخُفَّيْنِ

او ابتداء د مدی د مسحی یعنی مقیم او مسافر لره د وخت څخه د بې او د سیا ده لپس له په پښو کولو د موزو. لکن چې موزی پر طهارت ماتی په پښو کړی وی» هم د غه مذهب

صحیح دی. او بعض علماء په ابتداء د وخت څخه د په پښو کولو د موزو بولي، وبه قال الاوزاعیؒ او امام احمدؒ ابتداء د مُدی د وخته څخه د مسح بولی. اختلاف د دی مذهبو په دی مثال کی دی چې یو سړي موزی په پښو کړی د سحار د لمانځه د پاره او بیا او د س مات سُود څخه تر زوال او بیا په و دروسته تر زوال د ما پښین د لمانځه د او د اس په وخت کی مسح پر موزو وکړه. نو پس مذهب د اوزاعیؒ اتمام د مُدی د مقیم هغه وخت کیږی چې د صبا ورځی سفیدی راوجوی ولی چې وقت د بس په دیرو ن د سحار لمونځ وو نو شپانه روز پوره سُو. او زموږ په نیز مده د مقیم قبل الزوال پوره کیږی. ولې د ده بی او سیا وخت پر ون د غه وخت وُو» او په مذهب کی د امام احمدؒ پس له زواله مده پوره کیږی. ولی چې دیرون بعد الزوال مسح وکړه» کذا قال ن ص۴۵ قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَاِنْ مَسَحَ مُقِيْمٌ ثُمَّ سَافَرَ قَبْلَ تَمَامِ مُدَّتِهٖ اَتَمَّ مُدَّةَ الْمُسَافِرِ

او که چیري مسح یو څه وکړه مقیم سړي او بیا په سفر روان سود څخه تر پوره کولو د خپلی مُدی

وَاِنْ اَقَامَ الْمُسَافِرُ بَعْدَ مَا مَسَحَ يَوْمًا وَلَيْلَةً نَزَعَ وَاِلَّا يُتِمُّ يَوْمًا وَلَيْلَةً

یعنی شپانه روز نو دی پوره کړي مده د سفر یعنی دري شپانه روزه او که بالعکس مسافر نیت د اقامت وکړی پس له دی چې یو شپانه روز په مسح کړی وه نو موزی دی وکاږی یعنی د بل او د اسه سره دی پښې پری مینځی بیا کی موزی په پښو کولی او که نه! او کی یو شپانه روز نه وو پوره کړي هغه دې پسی پوره کړي یعنی بیا دی موزی وکاږي. دلیل د دی د واړو مسئلو دا دی چې جواز د مسح په سفر او اقامت پوري اړه لری و بس.

فَرْضُ الْمَسْحِ قَدْرُ ثَلَاثِ اَصَابِعَ مِنْ اَصْغَرِ اَصَابِعِ الْيَدِ عَلٰى ظَاهِرِ مُقَدَّمِ كُلِّ رِجْلٍ

او فرض د مسح الخف مقدار دی، د دری ګوتو د هغه کشنی ګوتو څخه د لاس پر ظاهر د مقدمې

حصی ذپښی **پوهـَـنه**: چې د تقدیریه د درو گوتو معنادا ده چې کم ترهغه به نه وی اوکه زیات وی پـه طریق اولیٰ روادَه. او د ظاهر د لفظ معنا دَا ده چې د ننه پر موزه اویا پرتلی دموزې مسح روانه ده. او د مقدم معنا دا ده چې د پنډی دَخوامسحه روا نه دَه، یعنی موافق دسُنت نه ده کما سیأتی، **پـوهـَـنه** "چې مصنفؒ په مراقی کښې وائې چې دا اصح مذهب دی. ولې چې آله دمسح دَلاس گوتې دی او د یځ اکثر د پنځو گوتو دي. **فائـدة**: پر لفظ کی د مقدار اشاره ودي ته دَه، چې حتمًا دگوتو تیره وَل ضروری نه دې حتی کی دغه مقدار په لند تکره مسحه اویا په پرتوی کړي مسحه په ځای سوه. قَالَ المُصنف ؒ.

وَسُنَّتُهُ مَدُّ الْاَصَابِعِ مُفَرَّجَةً مِنْ رُؤُسِ اَصَابِعِ الْقَدَمِ اِلَى السَّاقِ

او سنت طریقه دمسح الخف دَا ده چې کش دی کړي گوتې سره خلاصی د سرو ځخه دگوتو دپښې ترپونډی پورې، ولې رسُول کریم صَلَّی اللّٰہ عَلَیہ وَسَلَّم دَغسې تعلیم وکړې وهغه چا ته چې موزې یې په او داسه کښې پر یولې. **فَــائِـدَه**: که سَرې مسح د ساق (پنډی) دَخوا شروع کړه اویا په پسَاره مسح وکړه. مسحه په صحیح دَه لکن دسُنت مخالف سُو.

مسَئَلهٌ: د درو گوتو مقدار پر هره موزه فرض دَیَ. که سَرې پر یوه موزه دوې گوتې کش کړې او پر دوهمه یَه خلور گوتې کش کړې دا مسحه نه ده رَوَا. ط، ص۱۰۵.

پوهـَـنه: چې تکرار دمَسحې سنت نه دی لکه په مسح کی د سَر. او عطاءؒ وائې چې مسح دی درې واره کوی" د ده خیال دا دی چې مسح دموزو عوض دی دپښو د پریولو، پریولو دپښو خو درې واره سنت دی نو مسح هم. **جَوَاب**: دا دیٔ. چې په منصُوص احکامو کی باید سَرې متابعت دسنتِ وارده وکړي تسلیمًا لحکم الشرع" ولې چې بنده عاجز دی د پیژندلو د سِرد احکامو شرعیه وو، نو ځکه امام علی کرم اللّٰہ وَجہه. وائی که دین په عقل سره وای نو به اسفل (لاندی موزه) دخُف اولیٰ په مسح سره وائی تر اعلیٰ دخف (ترپورتنی حصه) ولې چې تلی دخف ځای دنجاست او د خیرو دیٔ. قَالَ الامام ؒ که زه په رأیـه حکم وکړم نو پـه بولوکی به می دغسل حکم کولای ولې چې بولې اتفاقًا مرداری دي. او پـه مِنی کی به می دا او داسه حکم

کولای ولې چې دمَنی پـه نجاسَت کی اختلاف دی. او بَل به ما نرته په میراث کی نیمه حصَه د ښځی د میراث ورکولای ولې چې ښځه عاجزه دَه. قَالَ المُصنف ؒ.

وَيَنْقُضُ مَسَحَ الْخُفِّ اَرْبَعَةُ اَشْيَاءَ كُلُّ شَيْءٍ يَنْقُضُ الْوُضُوْءَ

او ماتوی مسح دموزی څلور شئی.. اول هر شئی لکه بولې او غُل وغیره چې او دَس ماتوی مسحه دموزی هم پـه ماتیږي. قَالَ المصنف ؒ.

۲ وَنَزْعُ خُفٍّ وَلَوْ بِخُرُوْجِ اَكْثَرِ الْقَدَمِ اِلَى سَاقِ الْخُفِّ

او دوهم ماتوونکی دمسح دموزی نزع دخف دَه که څه هم په وَتوسره د اکثری پښې وی دموزی دپنډی وخواته وي. **فَـائِـدَه**: مصنفؒ لفظ دخف مفرد وواية او خُفین یـه نه وویَل د دی سَببه چې د یوې موزې چې پښه څنډی وونی هم نا قض د دواړو پښو د مسح دیٔ. ولې چې یوه موزه چې دَ پښی ځخه وختله دهغی پښی پریوله لازم سَوه. او هغه بله موزه به هم کاږي او هغه پښه به هم مینځی ولې چې دَمسح او غَسل جمع نارَوَا ده. **مسَئَله**: که چیری یو سړي طهارت تام وکړي. او موزې یې په پښو کړې د مخه دا او دس تر ما تید و یـه موزې و کښې په دی سَره مَسح دموزو نه ماتیږی. ولې چې نفس نزع الخف خو حدث نه دی نو طهارت خو پر ځای دیٔ.

پـوهـَـنه: چې نسبت دمَا توالی و نزع الخف ته مجازدیٔ. بلکه ماتوونکی د مسح هَغه حدث سَابق دی چې موزې د پښو ځخه منع کړی وُو" او س چې موزه وختل هغه حدث سابق و پښو ته سرایت وکړې نو ځکه پـه غسل لازم سُو" مر" وَاِنَّمَا قَالَ اکثر" ولې چې اکثر له حکم دکل دی علی الصحیح" **پـوهـَـنه**: چې حضرت الامام محمدؒ وائی چې که په موزه کښې دُونه قدر پښه پاته وَه چې مقدار د مسح یـه پوره کاوه مَسح نه ماتیږي. او که نه وو پاته مسح ماته سَوه" پـه کافی کی وَائیٔ اکثر مشائخ دحنیفیانوؒ پر دَغه روایت دي. او پـه شرح کښې دعَلامه مسکین هم دغه سی وَائیٔ. او بحرائِق د نصَاب ځخه نقل کړی دیٔ.

Maktaba Tul Ishaat.com

چې هم دغه روایت د امام محمدؒ صحیح دی. او مصنفؒ مذهب د شیخینوؒ مختار کړی دی او په مراقی کی وائی «وَهُوَ الصَّحِیحُ وَاللهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ» قَالَ الْمُصَنِّفُؒ»

وَاِصَابَةُ الْمَاءِ اَكْثَرَ اِحْدَی الْقَدَمَیْنِ فِی الْخُفِّ عَلَی الصَّحِیحِ

او د ریم ماتوونکی د مسح د موزی رسیدل د اوبو دی و اکثر قدم ته په موزه کی پر صحیح روایت په دی مسئله کی هم اکثر لره حکم د کل دی. یعنی تکه یوه پښه چې ټوله لند،سی په موزه کی نو هغه بله موزه به هم کاږی او پښه به مینځی. ولی چې مسح او غسل نه سره یوځای کیږی

فَائِدَه: علامه طحطاویؒ په ص۱۰۶ کی وائی چې په دی مسئلی کی جوړ اختلاف دی نوځکه په متونو د فقه شریفی دا اصابت الماء فی الخف د نواقض څخه نه دی ګڼړلی. او منشأ د اختلاف دا ده» چې ډیر فقهاء وائی چې مسح الخف د پاره د آسانی ده او عزیمت چې غسل دی د خف سره سره مشروع دی. او دې مذهب ته امام زیلعیؒ میل کړی دی. او ده دا خبره د عامة الکتب څخه نقل کړی ده» او برهان حلبیؒ د دی خبری تخلی کړی دی. او نوح اخنیؒ هم دا خبره صحیح بللی ده. فی حواشی و وکبنی د درر. نوځکه بناء علیٰ هذه الروایة چې هغه یوه پښه په موزه کبنی پریوله سوه لا ن للاکثر حکم الکل نو هغه بلی موزی مسح ماته سوه بناء علیٰ ما مر چې غسل او مسح نه سره یوځای کیږي. او دغه مذهب چونکه په نیز د مصنفؒ صحیح وو نوځکه یې علیٰ الصحیح وویله»

او بعض فقهاءؒ وائی چې مسح د موزی رخصت اسقاط دی یعنی سره د موزی غسل د پښی ساقط دی. نو بناءً علیٰ هذا الرای لندیدو که څه هم د ټولی پښی وی اعتبار نه لری او نه دا غسل القدم دی. ولی چې پټ والی د پښی په موزه سره مانع دی د سرایت څخه د حدث و پښی ته بالاجماع نو پښه پر خپل طهارت سابقه پاته ده. او که حدث پیښ سی هغه پر موزه محصور دی او هغه خو بیا په مسح الخف سره زائلیږي. نو دا غسل معتبر نه دی. ولی چې دی سره حدث د پښی څخه نه دی زائل سوی. ولی پښه خو بیا که وه. قال فی السراج وهو الاظهر والیه جنح ینبغی مَالَ الکمال والیه المرجع والمآل»
ازالی الاثر»

وَمُضِیُّ الْمُدَّةِ اِنْ لَمْ یَخَفْ ذِهَابَ رِجْلِهٖ بِالْبَرْدِ وَبَعْدَ الثَّلَاثَةِ

او څلورم ناقض المسح پوره والی دی د مدی د مسح د مقیم یا مسافر که چیری دی نه بیریدی پر ذهاب د پښی د یخ له سببه. او وروسته تر

الْاَخِیْرَةِ غَسَلَ رِجْلَیْهِ فَقَطْ

دری اخیرو دی صرف پښی پریولي

مَسْئَله: که دا مده پوره سوه او سړی په لمانځه کبنی وو لمونځ یې باطل سو نو که اوبه نه وی تیمم دی وکړی لمونځ دی د سره وکړي. قَالَ الزیلعیؒ: وَهُوَ الاَشْبَه» او بعض فقهاء وائی چې لمونځ یې نه باطلیږی» قَالَ فی السراج وَهُوَ الاصح. وجه یې دا ده چې که دی لمونځ قطع کړي او اوبه نه وی چې پښی په پریولی» نو تیمم به کوي. پښی خو په تیمم کی برخه نه لری» نو د لمانځه د قطع والی څه فائده؟

وَفِیْهِ نَظَرٌ: ولی چې پر دی تقدیر خو تمام د لمانځه په طهارت ناقص لازمیږي. ولی چې پوره والی د مدی د مسح خو حدث سابق و پښی ته ساری کوي که اوبه وی او که نه وی او په نیز د عدم الماء لمونځ نه دی روا مګر په تیمم سره. او په اجماع سره په طهارت ناقص لمونځ نه دی روا. او دا چې مصنفؒ وائی: اِنْ لَمْ یَخَفْ آه. د دی عبارت څخه ظاهراً داسی معلومیږی که سړی پر ذهاب د پښو په سبب د یخ بیریدی. نو مسح الخف یې نه ده ماته» او دا غسی خبره نه ده. ولی چې په مضی او تیریدو د مدی حلول د حدث و پښی ته کیږی که د یخ بیره وی او که نه وی. بلکه په صورت کی د بیری د یخ څخه موزی به کاږی او پر پښو به مسحه کوي لکه پر جبیره. د دی سوال دفع علامه طحطاویؒ په دی ډول کړیده. چې د دغه عبارت د مصنفؒ اِنْ لَمْ یَخَفْ آه متعلق په محذوف سره دی نو تقدیر د عبارت داسی دی» فَیَجِبُ عَلَیْهِ نَزْعُ خُفَّیْهِ وَغَسْلُ رِجْلَیْهِ اِنْ لَمْ یَخَفْ ذهاب آه قوله وَبَعْدَ الثَّلَاثَةِ آه مَعنا یې دا ده چې پس له دغو درو اخیرو څخه یعنی چې نزع الخف وی، او لندیده دا اکثر قدم دی په موزه کی او تیریدل د مدی د مسح دی موزی و کاږی او پښی دې فقط پریولي. ولی چې نور طهارت خو پر ځای وی. او هم د دی سببه

مصنفؒ تخصیص ددوا خیرو وکړی. ولې چې اول صُورت کښې خو اودس مات سونو ټوله اودس به کوی،

سُوَال: مصنفؒ نواقض دمسح ځلور وَ بَلل او سَره ددی چې مسح الخف په خرق کثیر سره هم ماتیږی چې پس له مسح ځنه وجود ته رَاسِی. او دغه رنګه پر معذور سَړی چې وخت د لمانځه تیریږی هم یه مسح الخف ماتیږي. **جَوَابْ:** خرق کثیر په حکم کې د نزع الخف داخِل دی» اوخروج وقت الصلوٰۃ للمعذور په انقضاء المدۃ کښې داخِل دی. والسوال للسیدؒ والجواب للطحطاویؒ. قَالَ المصنفؒ.

وَلَا یَجُوْزُ الْمَسْحُ عَلٰی عِمَامَةٍ وَقَلَنْسُوَةٍ وَبُرْقَعٍ وَقُفَّازَیْنِ

ونه دہ رَوا مسح پر لنګوټه. او پر خولئ، او پر بُغره دښځی او پر دستکلو چې په لاسو یې اغوندي دلیل د ټولو دادی چې مسح په حدیث مُبارک سَره خلاف القیاس ثابته دہ. او دا نون اصولی دی چې مرشی چې خلاف القیاس وی محصوردی پر ځای د سماع. په مذکوره شیا نو کې سماع نشته.

سَوَال: په صحیح حَدیث کښې رَاغلی دي چې آنحضرت صلی الله عَلیهٔ وَسَلم مسح وکړه یو وخت پر عمامه باندې. **جَوَابْ:** شراح د حدیثو وَائي چې رسول اللهؐ صلی الله علیه وَسلم خو مسح پر سر وکړه. وروسته یه لنګوټه پر سر سمَوله راوی دَ حَدیث چې داولیدل خیال یه داسو چې دہ مبارك مسح پر لنګوټه وکړه. او هغه جواب چې طحطاویؒ دسراج ځنه نقل کړی او مولوی اعزاز علی یه هم تائید کړی دئ. هغه دا چې مسح پر لنګوټه هَلته روا دہ چې لند والی دمسح یه سَرته تر لنګوټه ورووزی او مقدار د ربع دسر لوند وسی،

او د علیه السلام مسح پر لنګوټه هم دغه شان ته وَه. دَرویش وَائی چې دا ډیر لری جواب دی. وَلې چې لنګوټه خو خووَله پُرسر پیچلی وی. نو تر دی ټولو څرنګه بَلل رلوندوالی) دَځی چې بیخی کم شئ دی وسَرته رسیدلای سی، او هغه خَبره چې یعض کسانو کړي چې شاید پر سَر د اَنحضرت صَلی اللهٔ عَلیه وسَلم دی (رنجینه) خولی نه وَه او مقدار د ربع دسَر دی خالی وو نو پر لنګ ځای یه مسح وکړه، غلطه خبره دَه ولې چې په دی صُورت کی خو مسحه پُر

سر خوله نه پر لنګوټه» وَاللهُ اَعْلَمُ » قَالَ المصنف په بَیان کی د جبیری وَ نحوه.

فَصْلٌ

اِذَا افْتَصَدَ اَوْجُرِحَ اَوْکُسِرَ عُضْوُهٗ فَشَدَّ بِخِرْقَةٍ اَوْجَبِیْرَةٍ

کی چیری رګ خلاص کړی او یا ټپی سو پر یوه عضوه او د واسږ او یا مات سو یو اندام دسَړي نو یه وتاړه هغه اندام په یوه ټکره سره او یا یه وتاړه په لرګی کی چی په پښتو» سکنده وَرته وَائی او عمومًا سکنده پر مات اندام تړل کیږي. « قَالَ المُصَنفؒ »

وَلَا یَسْتَطِیْعُ غَسْلَ الْعُضْوِ وَلَا یَسْتَطِیْعُ مَسْحَهٗ وَجَبَ الْمَسْحُ

او طاقت یه نه وُو چې پر یمنځی هغه اندام یعنی نه پر ځواوبه او نه په تودو اوبو. او و س د مسح کولو یه هم نه وو یعنی پر خُودی ټپ یا مات ځای نو واجب دہ مسحه پر جبیره وَغیره.

عَلٰی اَکْثَرِ مَا شَدَّ بِهِ الْعُضْوَ وَکَفَی الْمَسْحُ عَلٰی مَا ظَهَرَ مِنَ

پر ډیره حصه د هغه شئ چی ټپ یا مات وغیره یه تړلی دی. او کافی ده مسح پر هغه ځای چې ښکاره وی د بَدن ځنه د مفتصد» یعنی په

الْجَسَدِ بَیْنَ عِصَابَةِ الْمُفْتَصِدِ

مابین کښی د پټی پرې منځل نه غواړي

پوه سَه: چې د وجوب ځنه دلته مراد وجوب شرعی دی چې تر فرضو کم دی نو چونکه مسح د جبیری په حدیث نبویؐ سَره ثابته دَه چې هغه خبر واحد او ظنی دی نو فرضیت نه په ثابتیږی،» ولې چې اصول الفقه کی وَائي چې د فرضیت د اثبات د پاره دَلیل قطعی غواړي لکه قرآن کریم یا حدیث مُتواتر، نو بناءً عَلی هذا که سَړي مسح د جبیری پرېږدي موځ یه روادئ. **فَائِدَه:** په بعض روایاتو کی رَاغلی دی چې مَسح د جبیری به مکره کوی مګر نه که جبیره پر سَروه هغه دی نه مکره وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

فائده: کی په سرکښې مقدار د ربع الرأس د پټې څخه خالی وو سر د مسح کړی د جبیرې مسح نه غواړې. او په یوه روایت کی داسی هم راغلی دی چې مسح د جبیرې مستحب ده او په بل روایت کی وائې چې مسح د جبیرې فرض ده حتیٰ کی دا مسح نه وکړه او دس یې د دی پوره نولوځ نه دی په روا. او حدیث مبارك په باب کی د مسحی د جبیری دا دی چې حضرت علی کرم الله وجهه دلاس بند مات سو په ورځ د احد یا خیبر نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وده ته امر وکړی چې پر جبیره مسحه کوه.

سنهانه فائده په کتا بونی د فقه شریفی وائې چې وجوب د مسح د جبیري، مذهب دی د امام اعظمؒ او فرض والی مذهب دی دیارانوؒ» دررولیش وائې چې په حقیقت کښې په مابین کی د امام اعظمؒ او دده د شاگردانوؒ اختلاف نسته. ولې مراد د حضرت الامامؒ د وجوب څخه وجوب شرعی دی یعنې چې په دلیل ظنی سره لکه خبر واحد ثابت وی» او مراد د شاگردانو د فرضیت څخه فرضیت عملی دی یعنې عمل پرې لازم دی نه فرضیت اصطلاحی چې دلیل قطعی غواړي او منکر یې کافر گڼل کیږي. نو بناءً علیٰ هٰذه المحاکمة هغه چې په ایضاح کی وائې چې فتویٰ پر قول دیارانوؒ ده احتیاطًا بیځایه خبره ده، ولې چې فتویٰ پر یوه قول خو فرع د اختلاف د قولینو ده» وقد عرفت انه لااختلاف بینهٗ وبینهما فی الحقیقة».

فائده: مصنفؒ وویل علیٰ اکثر ما شدّ آه دلیل یې دا دی که سرې تو له پټې مسحه کوی احتمال لري چې تپ ته دی تاوان ورسیږی»، وَقَدْ قَالَ اللّٰهُ تعالیٰ: مَا يُرِيْدُ اللهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ حَرَجٍ»، وَقَالَ: يُرِيْدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيْدُ بِكُمُ الْعُسْرَ» او هم دغه قول د مصنفؒ صحیح دی»، وَفِی التتمة به یُفتیٰ» وفی الخلاصة وعلیه الفتویٰ والیه جنح صاحب الهدایة. لکن صاحب الکنز وائې چې تو له جبیره او پټې به مسح کوي»

فائده: مصنفؒ وویل وَکَفٰی الْمَسْحُ آه دا هم بناء پر اصح مذهب ده چې په ذخیرة او مختارات النوازل کی وائې: دلیل یې دا دی که سرې هغه خلاص ځای چې په مابین کی د پټې دی منځی نو عین ممکنه ده چې پټې به لنده سی. او هغه لندوالی به و تپ ته

رسیږی نو هغه به ضرر واخلی. وَقیل. فرض دی چې هغه خالی ځای به منځی ولې چې دا ځای خو تر پټې نه دی لا ندی بلکه ښکاره دی. دررولیش وائې چې په دی کی لوی حرج دی کما لایخفیٰ

مسئله: که چیری فرضًا مسح د جبیری هم ضرر رساوه نو مسحه دی هم پریږدي په اتفاق سره د فعًا للحرج. او بل دا چې غسل چې ساقط شو په سبب د عذر د ضرر نو مسحه په طریق اولیٰ ساقطیږی. **فائده:** په مبتغی کی وائې که د سرې تو له سر تپې وو او پټې کړې ئې وو» لَا يَجِبُ الْمَسْحُ عَلَيْهِ، یعنې مسح د سر پر هغه واجب نه ده که څه هم مسح د پټې و سر ته تاوان نه رسوي. ولې چې مسح ه بدل د غسل څخه ده» والمبدل منه ساقط دی فالبَدل مثله آه. دررولیش وائې چې دغه دلیل د صاحب مبتغی فاسد دی»، لِمَا فِی البحر چې صواب وجوب دی. د مسحی د پټې او په سر کښې مسح بدل د غسل نه ده بلکه مسح د سر اصل بنفسه ده» وَامْسَحُوْا بِرُؤُسِكُمْ، ایة قرانی دی.

محاکمه: که پر سرې پریوله د سر فرض وه لکه په غسل کښې او سر یې تپې وو او پټې یې پر لگولی وه. او مسح د پټې تاوان نه کاوه» سَقَطَ الْمَسْحُ» کما فی المبتغی» نو دلیل د هغه صحیح دی. او که فرض مسح وه لکه په او داسه کی» لَا يَسْقُطُ الْمَسْحُ وَيَمْسَحُ عَلَى العمامة لان المسح فی الغسل بَدل وفی الوضوء اصل»، وفیه نظر لا یخفیٰ علیٰ المتأمل.

پوښتنه: چې چونکه په مابین کی د مسحی د جبیري او د مسح د موزې فرق سته په څو وجهو. نو مصنفؒ اوس غواړي چې دغه فرقونه بیان کړي نو وائې. قال المصنفؒ

وَالْمَسْحُ كَالْغَسْلِ فَلَا يَتَوَقَّتُ بِمُدَّةٍ اول فرق دا دی چې د مسح د جبیری لکه پریوله دی نو په وقت معین پوری نه ده مربوطه بلکه تر وقت د جوړیدو د تپ یا مات والده قرب الوقت او بعد» او خلاف د مسح د موزې چې هغه وخت معین لري یا یو شپا به روز یا درې ۳ ورځې کما مرّ: په دې عبارت کی د مصنفؒ چې کالغسل اشاره ده و دې ته چې مسح د جبیري بدل د غسل څخه نه ده. وَلهذا که یولاس د سرې مات وي او بل لاس وی پرمات به مسحه کوي او روغ به منځی» بخلاف الخف (موزه) چې مسح الخف بدل دی

دغسل ځنې نو ځکه داسې نه ده. روا چې په یوه پښه یې موزه وي پرهغې مسح وکړي او هغه بله پښه
چې موزه نسته بانړۍ هغه پرېمنځي لماتر، چې جمع په مابین کښې دمسح دموزې او دغسل د
بلې پښې نا روا ده» او ددې دوارو مسئلو دلیل دادی چې مسحه د جبیرې اصل ده لکه غسل او
قَالَ المصنفؒ
مسح دموزې بدل دی دغسله ځنې»

وَلَا یُشْتَرَطُ شَدُّ الْجَبِیْرَةِ عَلٰی طُهْرٍ اودوهم فرق دادی چې تړل د جبیرې په طهر سره مشروط نه دی
برخلاف دمسحې دموزې چې هغه په پریولو پورې د پښو مشروط دی کمامرّ. قَالَ

وَیَجُوْزُ مَسْحُ جَبِیْرَةِ اِحْدَی الرِّجْلَیْنِ مَعَ غَسْلِ الْاُخْرٰی
او دریم فرق یه دادی چې روا ده مسحه د جبیرې د یوې پښې یعنې هغه چې پاته وي سره پریولو
د روغې پښې برخلاف دمسح الخف کما مرّ انفا» قَالَ المُصَنِّفُ»

وَلَا یَبْطُلُ الْمَسْحُ بِسُقُوْطِهَا قَبْلَ الْبُرْءِ اوڅلورم فرق یه دادی چې مسح د جبیرې نه باطلیږي په
سبب د سقوط د جبیرې یعنې چې خلاص سي یا شوه سي مگر د مخه تر جوړیدو د تپ یا د مات
اندام، او خلاف ددی ده مسحه د موزې که موزه وختله په قصد د سړي یا بې قصده مسح
یه باطله سوه. دلیل یه دادی چې د مسح د جبیرې خو یه سبب د عذر وه. هغه عذر اوس هم باقي
مسئله: جنابت او حدث په مسحه کې د جبیرې په دې حکم کې برابر دی» کذا فی م»

وَیَجُوْزُ تَبْدِیْلُهَا بِغَیْرِهَا وَلَا یَجِبُ اِعَادَةُ الْمَسْحِ عَلَیْهَا وَالْاَفْضَلُ
اِعَادَتُهَا او پنځم فرق یه دادی چې جبیرې والا ته روا ده چې د مخنی جبیره په بله جبیره سره
بدله کړي او واجب نه ده پر ده را گرځول د مسحې پر نوې جبیره باندې. مگر
افضل داده چې راوی گرځوي» بخلاف الخف ولی چې یوه موزه په بله موزه بدله کړه پر نوې موزه
مسح واجب ده **مسئله:** که تپ جوړ وو مگر جبیره پر پرته وه مسحه یه باطله ده.

ولې چې عذر د مابین ولاړ دی» کذا قال الکرابیسیؒ، ط، قَالَ المُصَنِّفُ.

وَاِذَا رَمِدَ وَاُمِرَ اَنْ لَّا یَغْسِلَ عَیْنَیْهِ اَوِ انْکَسَرَ ظُفْرُهٗ
او هر کله چې سترگو یې د مرضه او ښکي ښولې. او دې امر کړه سو. یعنې د طرفه ځنې د طبیب حاذق
چې مسلمان هم وو چې نه به مینځې سترگې یا سترگې، او یا مات سو نوک ده.

وَجَعَلَ عَلَیْهِ دَوَاءً اَوْ عِلْکًا او واچول سوه پر هغه مات نوک دواء یا ژاوله
د پاره د دفع د ضرر داوښ

اَوْجِلْدَةَ مَرَارَةٍ وَضَرَّهٗ نَزْعُهٗ جَازَ لَهُ الْمَسْحُ وَاِنْ ضَرَّهُ الْمَسْحُ تَرَکَهٗ
او یا یې پروغوړاوه پوستکې تر ینځې. یعنې د پسه وغیره د پاره د تداوي او یا بل پوستکې) او ده ته تاوان کاوه
ایسته کول یې. روا ده ورته مسحه کول. او که مسحې هم تاوان کاوه پرې دی یې ږدي. لکن
باید پوه سي چې دا مسئله اتفاقي نه ده، بلکه په بنایه او فتح القدیر او برهان کې ذکر کړې
او امام حلبیؒ وائې چې مسحه کول کافي نه دي بلکه او به دی پر توی کړي» لعدم
الضرورة)
ولی د غوښیانو سره سره او به کښته نه شوه کیږي. په المنح کې وائې چې په عام کتب
معتمده کې حکم د غه دی او په دُرر کې هم دا غسې راغلی دي. ط، ص۱۰۹. قَالَ المصنفؒ

وَلَا یُشْتَرَطُ النِّیَّةُ فِیْ مَسْحِ الْخُفِّ وَالْجَبِیْرَةِ وَالرَّاْسِ
او شرط نه دی نیت په مسح کې د موزې او جبیرې او سر» **یوه سله:** چې عدم اشتراط
د نیت په مسح کښې د جبیرې او سر متفق علیه دی. او امام عتابیؒ وائې چې په مسحه
کښې د موزو نیت شرط دی. لکه په تیمم کې ولې چې دواړه بدل دی. لکن ظاهر
المذهب ما قال المصنفؒ. ولې چې دا د ړې سره طهارته په او بو دي. بخلاف التیمم
وَاللّٰهُ اَعْلَمُ وَعِلْمُهٗ اَتَقَنُ وَاَحْکَمُ»

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ الحَيضِ وَالنِّفَاسِ وَالاِسْتِحَاضَةِ

باب دی په بیان کی دحیض، نفاس، اومرض،

لوه سه: چی مصنفؒ تراوسه ذکر دَهغواحداثو وکړی چی ډیر ډیر پیښیدل. اوس هغه احداث بَیانوی چی قلیل الوقوع دی، اوحَیض چونکه ترنفاس او استحاضت ډیر وو اونفاس تراستحاضة ډیر ډیر دی نوځکه په دَغه ترتیب راوړه.

فائده: دَنُورُالایضَاح دَپښتوکولوفائدی

چونکه زمونږ په افغانی جامعَه کی هیڅ چا دافغانانو پښتنوخصوصًا دکندهارد عَلاقی دَخلګو یعنی هغه عوام تراویا ښځی چی په لیک لوست دَپښتوژبی ښه پوهیږی مراعات په نظر کی نه دی نیولی،، یعنی چی ودوی ته په مورنۍ ژبه دعقائدو اود اعمالو فرائضو واجباتو، وغیره، بیان وکړی. اونورو اقوامو لکه اردو والا، انګریزی والاوو، بلوڅانو فارسی زبانو خلګو وَغیره دخپلوخپلوقومُو په مورنۍ ژبود دوی ډیرخدمت کړی دی چی فوق الذکر عوام په اکثردینومسئلوکښی دعلماوُود پښتنی ضرورت نه لری. خصوصًا ښځنی مسلمانانی چی نه په طلب کی دعلم اوپوهنی دکورو وتای سِی. اونه ئی دَمیړه سره ددوی دونه علموي. چی ددوی مشکل ورحل کړی. خصوصًا په مسَائلوکی دحیض نِفاس استحاضة،، چی په ورته مسئلوکی که فرضًا ښځی دیوعالم کورته ورهم سِی. اما دحیاء اوشرم په لحاظ دهغه عالِم څخه پوره تفصیل نه سِی غوښتلای. نوبناءً علی هذالاحتیاج الدینی چی زموعواماو ښځو کښی موجودوُو. ما فقیرعاصی **محمدعبیدُاللہ قندهاری ایوُبیؒ** ته دافِکرپیدا سو چی دَقوم دا علمی خدمَت وکړم: هغه وو چی اول ما نورظلم پښتو کړی اوهغه وو چی کتاب چاپ کړه سُو

په جامعه افغانیه کښی نهایَت حسن قبولیت کړی چی تردی اوسه پوری څوواره چاپ سُو اوپه زرو نسخو خرڅی اوهر کُنج ته دافغانستان ور رسیدی بلکه جرمنی، جاپان، امریکا، عربستان وغیره چیری چی افغانی مُسلمانان اوسیږی داکتاب وَر رسیدلی اوډیری خواد اَحسَنتَ پیغامُونه راورسیدهٔ

نود نورظلم دشرح رواج اوقبول دعاصی همت بلندکړی. پس له هغه می دقدوری لوبه شرح اوترجمَه وکړه دخدای جَل جَلاله په توفیق سَره،، نوځرنګه چی دقدوری شرح په مجرد چاپیدو سَره دعالم قبول په ډګر کی لوی ځای پیدا کړی. حتی په پاکستان افغانستان، عربستان، امریکا، جرمَنی، لندن وَغیره یعنی هغه مملکتو ته چی په هغه کښی پښتانه مُسَلمانان استوګنه لری ډیر لوړمقام یې وموندی. اوتراوسَه پوری تخمینًا لس زره نسخی دچاپه څخه راوتلی دی اوقلمی شفاهی، ډیرښه، ډیرښه، خبری نقیرته رسیدلی،

ددی شرحی قبول نوره همت افزائی دعاصِی وَکړه. نود عاصِی قَصد اوعزیمت وه شرحی ته دفقه اکبر پرواز وکړی. چی په هغه کښی دفقه اکبر د شرحی عَلاوه دسراج الامت المحمدیه حضرت امام الائمة ابوحنیفه رحمہ اللہ تعالیٰ سَوانح عمری اودده لوړمقام په اجتهاد کی اودده دزهد اوتقوٰی وَغیره لویه تاریخچه په صَحیح اسنادو سره درج کړه سوه درب جَل سُلطانَهٗ په توفیق وپای ته دتکمیل وررسیدہ اوچاپ سَوه. اوور ته مقام یه ترلاسه کړی. پس له هغه،، دمرزا غالبؒ دفرمودی سَره سَم،،

همت بلند دار که نزد خُدا وخلق ؛؛ باشد به قدر همت تو اعتبار تو:؛ د شروط الصَّلوٰة شرحه می شروع کړه چی هغه په لږ مُوده کښی پای ته ور سیدل اوچاپ سَوه. هغه شرح هم متبوله عند العوام والخواص وَالرجَال والنساء وګرځیدَ له. وروسته ترهغه په غوښتنَه **دقارِی مُحَمَّدفضلُ الحَق حقانی،،** ادام اللہ همته العُلیا اود بعض نورو دوستانو د عاصی قصد او اراده وَشرحی اوترجمی ته د نورالایضاح وګرځول چونکه داکتاب په فقه شریفه کی سَره داختصار ه لوړ اود اعتماد وړ مقام درلودی.

نو عاصی بیله لَبَّیکَ بل چاره نه درلودَه نو دهغی په شرحَه مې شروع وَکړه چې دا اوس تر لاس لاندی دَه، او ددی شرح حجم به ترټولو سابقه شرحو بالاوی، اِنْ شَاءَ اللهُ. اَللّٰهُمَّ وَفِّقْنِی لِاِتْمَامِ هٰذَا الشَّرْحِ بِالْخَیْرِ وَالْعَافِیَةِ وَارْزُقْنِی الصِّحَّةَ وَالسَّلَامَةَ وَالْعَافِیَةَ فِی اَعْضَاءِ الرَّئِیْسَةِ وَالْمَرْؤُسَةِ لِاِتْمَامِ هٰذَا الشَّرْحِ اَیْضًا وَمَا ذٰلِکَ عَلَی اللهِ بِعَزِیْزٍ.

دبعض حَاسَدانو نُخْه شکایتَ

چشم بداندیش کہ برکندہ باد
عیب نماید ہنرش درنظر ہٖ.

دوی وائی چې پښتو کتابونه دا عتبار ور نه دی. زه حیران یم ددوی ددغی وینا ته. پښتو کتاب چې د عربی معتمدو کتابو نه اخستل سوی وی نو به ولې دا عتبار ور نه وی، لکن په عربی کی متل دی، "کُلُّ اِنْسَانٍ عَدُوٌّ لِمَا یَجْهَلُه" هر انسان دښمن دی د هغه شی چې دی نه په پوهیږی. نو ته چې ای حاسده پر ترجمه د عربی کتاب په فصیح روښانه ژبه چې د عربی ټوله مضمون دی په کښی را اولې قدرت نه لری خپل عجز و مَنه. د بل صحیح شرحی او ترجمی ولې بدوائی بلکه که ته انصاف وَلری هغه مترجم ته به تاکوروانی ویلای. او حاسده پر دی پوه سه چې یو عربی کتاب و پښتو ته په صحیح ډول کول اسان کار نه دی. بلکه د توفیق الهی سره سره د ډیر عرق ریزی غواړی. او په دریاب کی ډوبی او غوړ غوټی وهل غواړی. ؎ نه هر که سر بتراشد قلندری داند. وگفته اند. انجیر خوردن نه کاری هر مرغی است.

او بعض حاسدان چې سره د حسده دا نصاف یوه شائبه په کښی وی نو د عاصی په باره کښی وائی چې مولوی صرف د کتابو نه ناقل دی. نو خلکه په ولې تحسین وائی زه وایم وَرُوره د دین نبوی مبنی پر نقل دَه. د خدای څخه و جبرئیل ته د حضرت جبرئیل څخه و آنحضرت ته د هغه څخه اصحابو ته ثم و ثم الی یومنا هذا. او بل دا خبره دَه چې حاسدَه ته ټوله کتابونه د تفاسیرو او د احادیثو او د فقه لږ مطالعه کړه بلکه عقلی کتابونه هم وګوره چې څرنګه بارونه بارونه نقلونه په کښی. بعضی ځایونه وائی: قِیْلَ، او ګاهی وائی. قَالُوْا. او ګاهی وائی: کَذَا فِی الْکِتَابِ الْفُلَانِی. او ګاهی نسبت کول هم پرېږدی چې دَده خپل معلومات وَرته و هغه کتاب ته وی.

نوکرانَه ته لږ مهربانی وَکړه د نقل د علماوو څخه یا د کتابو څخه یو څو ناڅه بـدی بیان که. او بعض حاسدان چې د حسد په دریاب کی ډوب وی هغه وائی چې عُبَیْدُ الله سارق دی. جنابه نه چې نقل ته سرقه وائی تر ډیر درانه بار دګناه لاندی سوی. ولې چې تا او ریده چې اساس د دین محمدی پر نقل دی یا قولاً یا کتابةً.

لُوبِنْتَنه: ستاسو ولې لبعضو مُلایانو حسد کوی او په غتو او کشنیو ډېرو دی ولې او د غیبت بلکه د بهتان په غشو دی ښکار وی.

جَوابِ اول. میوه داره درخت په ډېرو ویشتل کیږی. تا یو څوک لیدلی دی چې د نا جوړ درخت دی په ډېرو ولې. دوهم: دلته په مابین کښی د بعضی علماوو تعصبات سته. تعصب علمی، تعصب قومی، تعصب وطنی، او تر ټولو بدترین تعصب تعصب مَذهبی دی. زه چونکه سُنی بحث یم او حنیفی خالص یم، نو وهابیان په نام د موحدین، پنج پیریان، سلفیان، وَمَنْ سَلَکَ مَسْلَکَهُمْ" زما سره هر قسم تعصب کوی او هر قسم دروغ او بهتان را باندی وائی.

سَوال. ستا دوی په دغو بُهتانو، غیبتو، بدولیو، خوابدیږی. جَواب چې د نفس مقتضی تیر سَم د شریعت د نکته نګاه څخه می خوابدیده لاغر کوی په خوشحاله کیږم.

حِکایَتْ: یو عالم د حضرة الامام الحسن البصری غیبت کړی وو. او د هغه غیبت وحسن بصری ته ورسیدی. نو ده مبارک یوه اندازه ډیری ښې خرماوی برابری کړی او دیو چاپه لاس یه هغه عالِم ته ور واستولې. او خط یه داسی نوشته کړی. مِنْ جَانِبِ الْحَسَنِ اِلَی الْاَخِ الْعَزِیْزِ فلان. اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَکَاتُهٗ. اما بعد. تا سو ډیره مهربانی وکړه چې خپلی حسناتې موحَسَن ته را استولې. مګر حسن یو حقیره هدیه د تمراتو دروا ستوله کی قبوله کړې ډیره مهربانی به سی ستاوې. نو اوس عاصی هم په دی طمع دی چې خپلی نیکی خو دو نه نسته او د نیکیو په باب کی نهایت فقیر یم. نو شاید چې بـه حسناتو د حاسدانو غیبت کوونکو بهتان ویونکو به غنی او سرمایه داره وګرځم. او که هر څو دوی هر څه وائی زه د هغه وظیفی څخه چې ما پر غاړه اخستی ده د ډیری زمانی څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

یعنی پرکنا بو حاشیې، او دکنا بو پښتو کولو، عقب نشینی ونه کړم، رجاءً للثواب، من ربّ الارباب وطمعًا من الاحباب الدعاء فی حق العاصی فی جناب الحق جل جلاله بالتوفیق لکل خیر وا لختام علیٰ دین الاسلام. دا وی جمل معترضه او س بیرته په خپل مقصد شروع کوم:

اعتذار لدفع الاعتراض

پوهه سه: چې په ټوله فقه شریفه کښې چې په عربي ژبه وي. بلکه په ټولو احادیثو مبارکه وو کښې. او په ټوله امکنه وو کې که مسجد وی او که مدرسه حتیٰ په مسجد نبویؐ او په مسجد حرام کښې، دغه لاندې الفاظ چې عربي دی بیله کنایه ذکر سوي دي او ذکر کیږي یعنی **دُبُر** چې پښتو لفظ یه کُنه دی. **ذَکَر** چې پښتو لفظ یه عِنړدی، **فَرج** چې پښتو لفظ یه کُس دی. **حَشفَه**: چې پښتو لفظ یه د عِنړ سر د سُنتی ترځای پوري **خُتَنَین** چې پښتو لفظ یه خُتنی دی. **رَحِم** چې پښتو لفظ یه د عیال د قرار ځځونږ. **اِنزَال** چې پښتو لفظ یه اودس او ښتل دي. **قُبله** چې پښتو لفظ یه ښځ اختتل دی. **فَرجَین**: چې پښتو لفظ یه عِنړ او کُس دی. وهکذا نور ورته الفاظ هم ستر:

چونکه دروایش دعربي کتاب په پښتو ژبه ترجمه کول پرغاړه اخستی ده، نو زه چاره نه لرم چې ددغو الفاظو یه پښتو ترجمه کوم، بعض ناپوهان وائی چې د اسی پښتو الفاظ استعمال بی ادبی ده او شرم دی. **دا د تعجّب خبره ده**: چې په عربي ژبه وعربوته ذکر، فرج، دبره وغیره مثلًا بی ادبی او شرم نه وُو. او عِنړ او کُس او کُنه مثلًا وپښتنو ته ذکر کول بی ادبی او شرم دی، دوی دغه ځایونه او اندامونه په کنایه ذکر کوی مثلًا د ذکر په باره کی وائی، دنر بلاګی، او د فرج په باره کی وائی د ښځی د مخ دخوا بلاګی. او دُبُر په باره کی وائی د نر او ښځی د شا بلاګی. او د خَتنَین په باره کی وائی تر بلاګی لاندی مړکی وهکذا. نو زه وایم ته وایم چې آنحضرت صلّی الله علیه وسلم ورته کنایاتی عربیه ولی نه استعمال وی. او یا فقهاء په فراخه میدان کی د خپلو دکتابو د صریح ددغو الفاظو کښې کنایات

عربیه نه لتهولی، قَالَ المُصَنِّفُ۔

یَخْرُجُ مِنَ الْفَرْجِ حَیْضٌ وَ نِفَاسٌ وَاِسْتِحَاضَةٌ

راوزی د کُسه ځخه دښځی دری قسمه وینه. یعنی حیض او نِفاس او د مرض وینه.

پوهه سه: چې نسبت دحیض او نفاس وفرج ته کول په دی سبب دی چې دغه دوه قسمه وینه پر فرج راتیږي. ورنه اصلی ځای یه رحم دښځی دی او استحاضة کما سیأتی، دیوه رګ وینه ده چې منفجر سوي وي۔

په احادیثو کښې راغلی دي چې څه وخت چې په جنت کی حواءؑ

مَنشأ د حَیض دغنم شنه درخته ما ته کړه دیاره دخوړلو. پس له هغه چې دوی ځندی منع وه. خدای پاك ورته وویله» لَاُدْمِیَنَّكِ كَمَا اَدْمَیْتَهَا» حتمًا به زه تا په وینو مبتلا کړم لکه تا چې درخته دغنم پری کړه. او او به ځندی توی کړي نو کله چې حواء ځځلی ته راغله حیض ورغی او دا حیض په لونړو کی د دی جاري یا ترسو الیٰ یَوْمِ الْقِیَامَةِ۔

پوهه سه: چې مصنفؒ په مراقی کی وائی چې د حیض ډیر مشکل احکام دی۔

حیض دلویو مهمانو څخه درین دی، ولی چې ډیر احکام په حیض پوری مربوط دی لکه، طلاق، او اعتاق، او، استبراء، او، نسب او روا والی د وطو، او لمونځ او روژه او قرائت دقرآن یا مسه کول دقرآن. او اعتکاف او دخول ومسجد ته طواف دحج او بلوغ دښځی چې دا ټوله په خپلو ځایو کی راسی» اِن شَآءَ اللّٰهُ تَعَالیٰ» قَالَ المصنفؒ

پس حیض هغه وینه ده **فَالْحَیْضُ دَمٌ یَنْفُضُهُ رِحْمُ اِمْرَأَةٍ بَالِغَةٍ** چې په زور سره یه را باسی، رحم هغه ځای چې په هغه ځای کی نطفه قرار ونسی و لد ځندی پیدا کیږی. دبلوغ اندازه دښځ لاری ۹ کاله ده پر مفتیٰ به مذهب. او بعض علماء وائی چې د ښځو کلو څخه تر ۹ کلو پوري.

لَا دَاءَ بِهَا وَلَا حَبَلَ چې درد نه وي په سبب دهغه او نه حمل وي. ولی چې عادت الهی په دي سره جاري دي چې خوله

د رحم په سبب د حمل بند وي، چې هیڅ وینه نه ځندي راوزي ترهغو چې ولد یا اکثر د هغه راونه وزي. **سوال** بعض ښځو ته سره د حمل وینه پیداسي. **جواب** هغه د رحم خولې نه خلاصه سوې وي. نو که په دواء وغیره بنده نه سي ولد په نقصان کړي؛ وَ یُحتمل او احتمال لري چې دغه وینه دې دیوه رګ څخه راوزي. قَالَ المُصَنِّفُ

وَلَمْ تَبْلُغْ سِنَّ الْإِيَاسِ

او ښځه هم نه وي رسیدلې و عمرته د نا امیدۍ د ولد څخه چې هغه سن پر مفتیٰ به مذهب ۵۵ کالړي

پوه سه: چې مصنف د رحم په قید هغه وینې وایستلې چې یا ترېنه یا تر بل تهې بهیږي. او د اغه رنګه وینه د استحاضه خارج کړه. ولې چې هغه وینه د رحم نه ده بلکه دیوه رګ وینه ده. او په قید د «لادا»، وینه د نفاس. ولې چې نفساء ښځه په حکم کې د مریضې ده او درد ورسره ملګری وي. او په قید د «بالغه» هغه وینه وایستله چې تر ۹ کاله د مخه یې نجلۍ وویني. مولوي اعزاز علي سوال کړی دی چې د کشنۍ نجلۍ وینه د رحم نه ده بلکه استحاضه دی. نو دا وینه خو په قید د رحم ووتله. نو حاجت و قید ته د بالغه نسته». د دروش والي: چې چونکه غالب استعمال د مستحاضه په بالغه ښځه کې کیدی. او د غه رنګه عرف دادی چې د دغې نابالغ نجلۍ وینه د رحم څخه ګڼرې. او پوه سه چې مراد د «ولا داء بها» څخه دادی چې داسي درد نه وي چې وتل د وینې ځندي پیښ سي اګرچه د بله سببه درد او مرض ورسره وي. نو که ښځه دیوه بل سببه درد منه او ناجوړې وه. او وینه ورته پیدا سوه هغه حیض دی. قاله المصنفؒ فی المراقی. فلا یرد ما اوهم. قال المصنف

اَقَلُّ الْحَيْضِ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ وَاَوْسَطُهُ خَمْسَةٌ وَاَكْثَرُهُ عَشَرَةٌ

کمه موده د حیض درې ورځې دي یعني سره د شپو، او میانه موده د حیض پنځه ورځې دي» او لوړه موده یې لس ورځې ده، یعني په نیز د حنیفیانو». امام طحطاوي وايي چې د حیض په وینو کښې همیشه والی نه غواړي یعني چې ۳ ورځې یا ۵ ورځې یا ۱۰ ورځې به پرله پسې به بهیږي. ولې دا نهایت نادره پیښیږي. بلکه هره ورځ څو ناڅه وینه لیدل کیږي.

بلکه که په اول کې د دغو درو مودو او په اخیر کښې وینه وي په مابین کې څه هم پاکي وي نو ټوله ورځې حیض ګڼل کیږي.

قَالَ المُصَنِّفُ

وَالنِّفَاسُ هُوَ الدَّمُ الْخَارِجُ عَقِبَ الْوِلَادَةِ

او نفاس هغه وینه ده چې راووزي یعني د فرج د خوا څخه وروسته تر ولادت. یعني د کشنۍ د پیدا کیدو وروسته

مسئله: که کشنی د جراحي په ذریعه د نود خوا څخه راوایستی. او ترکُس د دغې ښځې وینه نه راووتله بلکه تر تپ د جراحي څخه بهیده لږ دا ښځه شرعًا نفساء نه ده بلکه پاکه او معذوره ده چې هر لما نځ ته به اودس تازه کوي. کذا قال الشبلی النعمانیؒ. لکن په اوسني زمانه کې د ولادت د پاره جراحي د کُس د خوا کیږي نو وینه ورسره راوزي نو نفساء ده.

وَاَكْثَرُهُ اَرْبَعُوْنَ يَوْمًا وَلَا حَدَّ لِاَقَلِّهِ

او اکثره موده د نفاس څلوېښت ورځې ده. او اندازه نسته اقلي مودې لره د نفاس **مسئله:** چې اکثر حصه د ولد راووزي که څه هم مرراووزي چې بعض اندامو یې معلومیږي نو وروسته تر هغه نفاس دی. **مسئله:** په وضع د ولد که ښځه مطلقه وه یا یې میړه مړ وو د ستي یې عده تیره سوه. **مسئله:** که ښځه مینځه وه په وضع د ولد ام الولد ګرځي. **مسئله:** که ښځې ته خپل میړه طلاق معلق په لنګیدو ورکړی وو. هغه سړی حانث یعني ښځه پر طلاق سوه. **مسئله:** که اکثر د کشنۍ ژوندی نه راووت د جنازې لمونځ نه غواړي او نه غسل او نه شرعي کفن بلکه په یوه ټکره کښې دې ونغاړي ښخ دې کړي.

مسئله: که ښځې وروسته تر ولادت هیڅ وینه ونه لیده نفساء نه ده. په صحیح روایت د حضرت الامامؒ څخه لکن په نیز د حضرت الامامؒ دی غسل احتیاطًا وکړي. او یارانؒ وايي چې بیله اودس پر دغه ښځه بل شی نسته. **پوه سه:** چې په حدیث نبوي کې داسې راغلي دي، «انه وقّت للنفساء اربعین یومًا الا ان تری الطهر قبل ذالک» آنحضرت صلی الله علیه وسلم معینه کړې دي نفساء ښځې ته څلوېښت ورځې

Maktaba Tul Ishaat.com

مګر هغه وخت ځلوېښت ورځې نه دي که دي ولیدی د څخه تر څلوېښتو ورځو پاکی

تنبیه: بعضې ناپوهه ښځې خواه مخواه ځلوېښت ورځې نه لمونځ کوي او نه روژه نیسي. که څه هم وینه نه وي تر شپاړس روز بالا. دا د دوی جهالت او غلطیا ده.

وَالْاِسْتِحَاضَةُ دَمٌ نَقَصَ عَنْ ثَلَاثَةِ اَیَّامٍ اَوْ زَادَ عَلٰی عَشَرَةٍ

او استحاضه هغه وینه ده چې کمه وي تر دری ورځې یعنې چې اقله مُده د حیض ده، او یا زیاته وي تر لسو ورځې

فِی الْحَیْضِ وَعَلٰی اَرْبَعِیْنَ فِی النِّفَاسِ

یعنې چې اکثره مُده د حیض ده. دا دواړې مُدې په حیض کې. او یا زیات سي تر څلوېښت ورځې په نفاس کې یعنې چې اکثره مده د نفاس ده» د نفاس اقله مده یې نه کړه ذکر ولې عنقریب تیره سوه چې د نفاس اقله مُده حد نه لري. قَالَ الْمُصَنِّفُ رح.

وَاَقَلُّ الطُّهْرِ الْفَاصِلِ بَیْنَ الْحَیْضَتَیْنِ خَمْسَةَ عَشَرَ یَوْمًا

او کمه مُده د طهر چې فاصِل وي په مابین کې د دوو حیضو پنځلس ورځې دی. په حدیث شریف کې چې مصنف رح په مَراقی کې روایت کړې دی دا سې راغلی دی» اقل الحیض ثلاثة واکثره عشرة واقل ما بین الحیضتین خمسة عشر یومًا. قَالَ الْمُصَنِّفُ رح

وَلَاحَدَّ لِاَکْثَرِهٖ اِلَّا مَنْ بَلَغَتْ مُسْتَحَاضَةً

او هیڅ اندازه نسته اکثر مدې لره د طهر فاصل بین الحیضین، مګر هغې ښځې لره چې بلوغ ته په رسیدو سره مستحاضه وي. نو دغې ښځې حیض لس ورځې مقدریږی. او طهر یې پنځلس ورځې او نفاس یې ځلوېښت ورځې. یعنې هر یوه ته اکثره مُده اېښودل کیږي.

فائده: اکثر لره د طهر فاصل چې مُده یې نه ده ټاکل سوې د دې سببه چې دا طهر په مزاج او ترکیب پورې اړه لري، د بعض ښځو طهر فاصل شپږ میاشتې وي او د بعضو

دا کال وي. وهٰکذا. **مسئله**: که یوې ښځې لره عادت وو په حیض کې مثلًا ۷ او ورځې. او اوس د دې وینه د عادت تر شپو تیره سوه. نو دا به لمونځ نه کوي او روژه به نه نیسي وینه په لسو ورځې قطع سوه خو دا ټولې ورځې د دې حیض دئ. یعنې عادت یې بدل سُو. او که وینه یې تر لسو ورځو تیره سوه. نو دغه ښځه دې وخپل عادت ته رد سي. یعنې ۷ ورځې او باقي ورځې یې استحاض دی. نو د هغو لمونځو او روژو به قضاء راوړي او هم د دې قسمه څخه دی نفاس یعنې یوه ښځه وه چې په نفاس کې عادت درلودی مثلًا ۲۰ شل ورځې او دا ځلا تر شل ورځې یې وینې تیرې سوې. نو دا دې انتظار وکړي که پر ځلوېښت ورځې یې وینه ودریده.

ټوله ځلوېښت ورځې به نفاس ده. یعنې عادت یې بدل سُو. او که تر ځلوېښت ورځې هم وینه تیره سوه نو دا ښځه دې عادت ته رد سي. یعنې نفاس د دې هغه پخوانی ۲۰ ورځې دی او باقي ورځې ټوله استحاضه دئ. **مسئله**: بعض فقهاء وائي چې دغه ښځه چې وینه یې تر عادت تیره سي لمونځ دې کوي او روژه دې نیسي. ولې چې احتمال د دې سته چې د دغې ښځې وینه به تر اکثره مُدې تیره سي نو څو د غه ورځې د استحاضه ده یعنې هغه زائد تر عادت ورځې، او پر مستحاضه خو لمونځ او روژه سته لکن هر لمانځه ته به او دس تازه کوي.

او بعض فقهاء وائي چې لمونځ دې نه کوي او روژه دې نه نیسي. ولې اصل په انسان کښې صحت دی او وینه د حیض دا د صحت ده او وینه د استحاضه دلیل د ناجوړي ده. نو موږ دا سې حکم کوو. چې دغه زائد ورځې وینه وینه د حیض ده. او عادت یې بدل سو. تر هغو چې یقین کیږی چې دغه زائد ورځې استحاضه وو، یعنې تر لس په حیض کښې تیرې سي یا تر ځلوېښتو ورځو په نفاس کې، والصَّحیح هذا المذهبُ کما قلنا سابقًا، راجع الی کتب الفتاوی» قَالَ الْمُصَنِّفُ رح»

وَیَحْرُمُ بِالْحَیْضِ وَالنِّفَاسِ ثَمَانِیَةُ اَشْیَآءَ

او حرام ګرځي په حیض او نفاس

قَالَ المصنفؒ ۔

سره اته شیان۔

اَلصَّلٰوۃُ وَالصَّوْمُ وَقِرَائَۃُ الْقُرْاٰنِ ولې چې شرط دصحت دَدَغودوو عبادتو پاکی دحیض اونفاس څخه ده۔ اوبل حرام دی تلاوت دَپُوره اٰیت دقرآن اودغه رنګه حرام دی تلاوت دَتورود تپولوکتابو چې دخدای دخوا څخه نازل سوی دی لکه توراۃ وَغیره "لان الکل کلام اللّٰه" اودغه رنګه منسوخ الحکم اٰیتونه دقرآن به هم وَائي۔ قَالَ الفقهاء ومنهم المصنفؒ "اِلَّا بقَصد الذکر" مګرهغه اٰیتونه وَیلای سی چې به هغوکښی دُعَایا حمد یَا شکروی پَه قصد ددعا اوذکر. لکه حائضه چې د ډوډی وخوری اویابه جُنبی اووَائی "اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ" به قصد دحمد نه د تلاوت القرآن۔ یا وَوائی، وَاغْفِرْلِوَالِدَیَّ وَارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّیَانِیْ صَغِیْرًا " په نیت ددُعا اودا هُم اصح دروایا تودی۔ د امام اعظمؒ څخه "وَخَالَفَ الامام الهندوانیؒ و قَالَ لَا اَفتیٰ بجوازه. لکن چونکه قول دَدَغه فقیه دامام المذهبؒ څخه مخالف دی نواعتبا نه لري. قَالَ المُصنفؒ فِی المَرَاقی چې دکم تر اٰیت تلاوت دحائض ونفساء ته روادی او که نه. بعض فقهاء وائی روادي. ولکن مَنع یه مختاره د محققین دفقهاؤ ده، فالتعویل علیه

وَمَسُّهَا اِلَّابِغِلَافٍ اودغه رنګه حرام دَی مسه کول دیوه اٰیت یعنی دتپوله قرآن دا په طریق اولیٰ ناروَادیٰ۔ مګرنه که چیری سره دپوښوو

فَائِدَہ: مراد دپوښه څخه هغه پوښ دی چې د قرآن شریف څخه جلاوی۔

فَائِدَہ: که سَرِي دقرآن شریف پرسُوَځیدلو یا په اوبو کښی دغرقیدو بیریدی بیا یه مسه بی خِلافه هم روَاده **مَسئلہ:** که دقرآن شریف صرف ترجمه وَه په فارسی یا په بله ژبه اٰیتونه دقرآن شریف نه وو پکښی هم مسر یه ناروَاده۔

مَسَائِلُ شَتّٰی روادی وحائضه اونفساء ښځی ته سبق ونه دقرآن وبل ته لکن یوه یوه کلمه۔ نه په قصد دَتلاوۃ بلکه په قصد دَتعلیم" کما فی الخلاصۃ وَالبزازیۃ علیٰ قول الکرخیؒ. ط " روادی وَیل دَقرآن یو یو حرف چې په پښتو یه ازګی بُولي۔

مَسئلہ: اٰیت دقرآن به حائض اونُفساء نه مَسه کوی که پردیواله نوشته وی که پر کاغذه اوپر تپکره وغیره لقوله تعالیٰ " لَا یَمَسُّهٗۤ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ " **مَسئلہ:** مکروه تحریمی دی مسه کول د قرآن شریف پَه لس تونړی یا په لمَن، ولی داتبع دی دلاس دپوښ حکم نه لري۔" **مَسئلہ:** که قرآن شریف په خریطه یعنی کڅوړه کی وو مسه کول یه روادی په روایت دصاحِب المذهَب **پوښتنه:** چې په اختلو کی دقرآن شریف په لستونړی سره اختلاف دی" هغه چې مونږ وَئیله چې مکروه دی مذهب دمصنفؒ اود صاحب هدایه دی" اوپه جامع تمرتاشی کی وَائیٔ چې مسه کول په لوستړی مکروه نه دی ولی چې مسر خوپه مبا شرت دَلاس بیله حائله وی دلته خولوستونړی حائل دیٔ. اونهایه وَالاولیٰ چې دادواړه روایت دی دامام محمدؒ څخه راغلی دي، درولیش وائی چې احتیا په اول کی دَی۔

مَسئلہ: رخصت دی اهل لره دکتب شرعیه وو لکه، هَدایه، رد محتار، بخاری، و غیره چې به لوستونړي وَنسی بلکه به خالی لاس هم. ولی چې ضرورت دی څکه چې مطالعه کوونکی دکتب مذکوره وو که طالبان وی اوکه مُلایان وی هر ګړی اودس تازه کولوکښی حرج دی چې مطالعه ډیروخت په بَرکی نَسی۔ وهو الاصح عند الامام الاعظمؒ

مَسئلہ: په کتابو کی دتفاسیرو دقرآن لکه جَلالین، بیضاوی. تفسیر کبیر وغیره کی اختلاف دی. په اشباه والنظائر کی وَائیٔ چې مسه کول یه بی اودسه سړي ته روَادی. لکن صحیح داده که دقرآن الفاظ تر تفسیر ډیروَه مسه کول یه بی اودسه سړي ته مکروه دی اوکه تفسیر یه ډیر وو لکه بیضاوی، روح البیان وغیره، نو یه مسه ومحدث ته روَاده. اوکه مساوی وَه دهغه مسه کول هم مکروه دیٔ۔ اومصنفؒ په مَراقی کی وَائیٔ چې دکتابود تفاسیرو پاره مطلقًا اودس واجب دَی۔ **مَسئلہ:** مستحب دَاده چې شرعی کتابونه دی هم په بی اودسیا نه را اخلی. نوبنه دَاده چې مطالعه کوونکی دکتب شرعیه وو دهر کتاب دپاره یو دسمال وَلری **مَسئلہ:** که بی اودسه سَرِي وظیفه دقرآن شریف کوله لکن وَرَقی یه په قلم اوبل داسی شی اړوی پروانه لري۔

Maktaba Tul Ishaat.com

مسئله: نابالغه کشنی ته اجازه ده چې په بې اودسیا سره قرآن مسه کې او زده ئې کوي. ولې چې کشنی هرګړی پښکی اچوي. اودهره پښکی سره په اودسامرکولحرج اومانع دتعلم القرآن دئ.

مسئله: روانه ده پیچل دشئ لکه چائې، بوره، دوا، وغیره په هغه کاغذکې چې هغه دفقه دکتاب وي اویا نوم د خدای جل جلاله اویا دنبي علیه السلام پکښي نوشته وي.

تفریع: په عصرحاضرکې داخبارو معامله ډېره لویه مسئله اوډېره مشکله ده ولې چې اکثرو اخبارو کښي آیت دقرآن مبارک یاحدیث نبوي صلی الله علیه وسلم په کښي نوشته وي اوخلک دغه اخبارونه پس له مطالعې څخه پرقصابانو یادپرچون پردوکاندارانو خرڅوي اویا یې مفت ورکوي. اوقصاب یاپرچون دکاندار په هغه اخبار کې غوښې ورکوي اویا چائې اوبوره وغیره په کښي پیچي. داخواول ناجائز کاردئ. او د غوښو رانیوونکي یادچایو اوبورې وغیره چې هغه شیان کورته یوسي. نوشیان څندې خوندي کړي. اواخبار وغورځوي. آخرالامردغه اخبارونه دنورو مردارېو سره یوځای دلاس په ګاډي کې واچوي. اوپه هغه ځای کې ګاډي چپه کړي چې ټوله مردارشیان ترغولو، خوشیو، وغیره بورې هلته جمع کیږي. اوبیا یې حکومتي موټران ټوله ګډوډ وړي اوده مردار یو په لوی مرکز کښي غورځوي. داکار تراول ډېر ډېر ناروا کاردئ.

دمسلمانونو صبا عجبه دلاوري: خصوصًا هغه کسان چې، رومیان، انګور، سیب وغیره دباغواو کښتو څخه په کریټو کښي ښار وته راوړي» هغه خلک دښار څخه په منو منو اخبارونه اونور داسې کاغذونه چې لیکونه پرې باندې وي، اګر که د سه پاره او رقوي راېرنسي. اوباغواو کښتو ته یوسي او هورې د کریټو شېږو طرفو ته دغه اخبارونه وقایه دانګورو وغیره وګرځوي. نو هغه کریټونه بازارته راوړي دکانداران هغه څندې راڅنسي. څه وخت چې دکاندار کریټ خلاص کړي انګور وغیره څندې ر اوباسي اخبارونه او کاغذونه پر روه وسړک وغورځوي. پرهغوباندې خلک لوي اوکشني ګرځي او تر پښو یې لاندې کوي» اخرالامر دکاندار یې دکاندار ددکان دمخې څخه جارو کړي. دروه او سړک ما بین ته. چې بوده انسان، اې نان

پانګې دخرو پرتیرېږي. اوکه څه هم آیتونه دقرآن مبارک او که حدیث درسول الله صلی الله علیه وسلم اوکه نومان دخدای جل جلاله وغیره وغیره تر پښو لاندې پایمال کوي.

اباانصاف تاسې وکړئ: چې دد غه اهانت سپکاوي ګناه کبیره به دچا په غاړه وي ردرولیش راپه داده چې په دې ګناه کې اخبار والا، اخبارات خرڅوونکي، اوکریټو والا. اودوکانداران اوهغه کسان چې په دغو اخبارو کې دکور دپاره شیان وړي ټوله او ټول په کښي شریکان دي.

"تردې عجبه داده"

چې خطیبان، واعظان، په مسجدو کښي ولې داخبره دعوامو په مخکښي په وار وار نه کوي اول خوبه شاید دا آفت یوڅه کم سي. اوکه هغه کم نسي د مُلایانو غاړې خوبه خلاصې سي، لکن ما مُلایان لیدلي دي چې د قصاب څخه غوښې، یادپرچون فروش څخه بل شی رانسي په دغو اخبارو کې پیچلي اوبیا په کور کې کاغذان غورځوي. بیت ــ چو بنیم بن احمد در غریبی. دلم سوزان دچشم خون جاري. خدای پاک دې دافغانستان پرمسلمانانو رحم وکړي هغه به داغسې ځایو کښي واباله بالوځي یا دې لې استعمال لوي. نه کاغذونه او اخبارونه.

مسئله: دخدای جل جلاله او یاد آنحضرت صلی الله علیه وسلم پاک نومان په ناروه نه پاکوي دسببه د تعظیم.

ودخول المسجد جنب هم وره سره داخل دې لکه په دمخه حکم کښي» لقوله علیه الصلوٰة والسلام، لا احل المسجد لجنب ولا حائض» اونفساء په حکم کښي د حائضې ده. اوحراموي حیض اونفاس داخلیده ومسجد ته. اوپه دې حکم کې

پوهسه: چې په مسجد کې کعبه شریفه هم داخله ده. اوپه صحیح روایت کې دعیدګاه دلمانځه ځای اودجنازې دلمانځه ځای حکم دمسجد نه لري. نو ودغو درو نفروته یې دخول رواني اوپه زازکې وائي چې حکم دمنع ددخول المسجد هلته دی چې ضرورت نه وي. اوکه ضرورت وو چې دروازه دکور یې په مسجد کښي وه اوبله خوا تې دروازه نه اړول کیدل. اونه بل ځای داستوګې یې نه درلودی. نو بیا دخول دمسجد ورته روادی» لان الضرورات تبیح المحذورات

فروع: که سړي په مسجد کې بیده وو او جنب شو تیمم دې وکړي او سم دستي دې ووځي ددې دپاره چې په او بو پسې ولاړسي. اویا په بل کار پسې. که په مسجد کې دننه دلمبیدو

ځای نه وُو. اوکه ځوك جنب وو او په هیڅ په مسجد ننوتی او بیا یه جنابت وربیاد سو تیمم دی وکړي او دستی دی ووزی. اوکه بیله تیمم وَهَلو ووزی هَم رَوا ده. اوکه اوبه د باندی تر مسجد وی او په شپه کښی وَتل دده ته خطروو. تیمم دِ وکړي او هوري په مسجد کښي دی او سی ځو خطر دفعه کیږی. او بی له تیمم دِرنګ په مسجد کی ناروادی، او بیا دغه تیمم دی لمونځ کوی او نه به قرآن شریف وائی» ط م ۱۹۵ء قال

وَالطَّوَافُ

وی اوحرام وِی حیض او نفاس» طواف پر کعبه شریفه که څه هم نفلی طواف وی **پوهسه**: چی یو حُرمت دشپی دَی. نو بناءً علی هٰذا طواف کول په جنابت سره حرام دَی یعنی گناه کیږی دَه مگر صحیح دی. حتیٰ چی دَ طواف فرضی چی طواف زیارت دی غاړی په خلاصیږی. مگر بدَه باندی او بن حلالول لازم دی. اوکی بی اودسه یه طواف مفروض وکړی شاة (پسه) پری لازم دَی. اوکه طواف نفلی وُو صدقه پر لازمه ده چی کم یه نصف صاع دَه»

مسئله: که محدث (بی اودسه) پس له طوافه اودس وکړی. او بیا یه هغه نفلی طواف را وگرځاوه بیا هیڅ شی باندی نشته»، او یا هغه فرضی طواف په طهارت سره را وگرځاوه لکن په ایامو کښی د نحر» قَـالَ المُصَنِّفُ.

وَالْجِمَاعُ وَالْاِسْتِمْتَاعُ بِهَا بِمَا تَحْتَ السُّرَّةِ اِلٰى تَحْتِ الرُّكْبَةِ

او دغه رنګه حراموي حَیض او نفاس وَطی دَ ما یني او نفع اخستل ددی د بدن څخه لاندی تر نامه بیا ترلاندی د زنگانه **پوهسه**: چی نفع اخستل دما یني څخه تر نامه ورپی ځای سره د حائِله یعنی پر توگ وَغیره رَوادی. او تر نامه پورې ځای لوړه یا کښته که څه هم بی حائِله وی روادی که څه انزال سي. لقوله عَلیه السّلام» لَكَ مَا فَوْقَ الْاِزَارِ

مسئله: که چا مَاینه په حَیض کی وَطی کړه او رَوا یه نه بَلله. مستحب ده لره چی په اول کی دحیض دا کار یه وکړی یو دینار دې خیرات کی. اوکه په اخیر د حیض یه وکړی نیم دینا ر دی خیرات کی. او پر هغه کار دې توبه وکاږی او بیا دی نه کوي.

مسئله: که چا وطی په حال کی دَحیض وځانته روا بو لَلی. نو په مبسُوط او نورو کتابو کی هم وائی چی دا سَړی کافر سُو. ولی د صریح قرآن څخه منکر سُو. وَلَا تَقْرَبُوْهُنَّ حَتّٰى يَطْهُرْنَ» او په خلاصته الفتاوی کی وائی چی نه کافریږی. **مسئله**: تکه سَړی ته چی وطی په حال کی دحیض ناروادی ما ینی ته هم نا روا ده چی میړه خپل غو وَلو ته په دغه وخت کی پریږدي. **مسئله**: دحائضی ښځی څخه بچه اخستل او یو ځای ورسره بید یدل بیله کراهته رَوادي. او د حائضی په لاس پوډی پخول یاد دی پلاس او ړه خمیره ول پروانه لری» ط» **مسئله**: روانه ده ښځی لره چی حیض د میړه څخه پټوی تا چی جماع ورسره وکړی: او دغه رنګه نه ده رَوا دي لره چی حائضه نه وی و میړه ته وائی چی زه په حیض کی یم» یعنی دغو وَلو څخه ځان کاږي. ط» قَـالَ المُصَنِّفُ

وَاِذَا انْقَطَعَ الدَّمُ لِاَكْثَرِ الْحَيْضِ وَالنِّفَاسِ حَلَّ الْوَطْؤُ بِلَا غُسْلٍ

اوکه چیری قطعه سوی یعنی ودریدی وینی دَ ښځی په نیز د اکثری مُدی دَحیض یعنی ۱۰ ورځی او د اکثری مُدی د نفاس یعنی ۴۰ وَرځی. روا ده میړه لره ددی جماع ورسره کول بیله غُسل ددی د حَیض او د نفاس څخه» **پوهسه**: چی مصنف قید د انقطع الدم دعادت ببناء وواید ور نه چی لس وَرځی یا څلویښت وَرځی پوره سی که وینه قطع سی او که نسی وَطی ورسره رَوادي وَلی تر لس ورځی بالا یا تر څلویښت وَرځی بالا حیض او نفاس نشته نو که وینه هم جاری وی وطی یه روادي. ولی چی دا وینی خو استحاض دی او استحاض مانع د وطی نه دی. **مسئله**: مستحب داده چی په صُورة کی د انقطاع دی هم تر غُسل دمخه وطی نه ورسره کوی. په مراعات دقرائت د» يَطَّهَّرْنَ» په تشدید سره» قال المُصَنِّفُ

وَلَا يَحِلُّ اِنْ انْقَطَعَ لِدُوْنِهِ لِتَمَامِ عَادَتِهَا

او نه دی روا وطی ددی که چیری قطع سی وینه ددی تر کم د اکثری مُدی یعنی ۱۰ یا ۴۰» پس له تمام څخه دعادت د دې. یعنی عادت ته ورسیږی بیا قطع سی لکن تمامی مُدی ته نه وی رسید لی. نو لام فی قوله

Maktaba Tul Ishaat.com

بِتَمامِ آه په معنیٰ د بعد دیٰ. کما فی قوله عَلیه الصّلوٰة وَالسلام «صُوْمُوا لِرُؤْيَتِهٖ» ای بعد رؤیته یعنی ورسته تر بید لود میاشتی دروژي» قَالَ الْمُصَنِّفُ.

إِلَّا أَنْ تَغْتَسِلَ أَوْتَتَيَمَّمَ وَتُصَلِّي أَوْتَصِيْرُ الصَّلوٰةُ دَيْنًا فِي ذِمَّتِهَا

مګر نه چې دا غسل وکړی. او یا دیو عذر په سبب دا تیمم وکړي او لمونځ هم وکړي. او یا ددی په ذمه کښې یو پوره لمونځ وګرځي یعنی قضاء به پر لازمېږي بیا به وطی رواږي

وَذَالِكَ بِأَنْ تَجِدَ بَعْدَ الْإِنْقِطَاعِ مِنَ الْوَقْتِ الَّذِي اِنْقَطَعَ الدَّمُ فِيْهِ زَمَنًا يَسَعُ الْغُسْلَ وَالتَّحْرِيْمَةَ فَمَا فَوْقَهُمَا وَلَمْ تَغْتَسِلْ وَلَمْ تَتَيَمَّمْ حَتّٰى خَرَجَ الْوَقْتُ

او هغه دا رنګه چې ښځه پیدا کړي وروسته تر قطع والی د وینو ومره وخت چې په هغه کښې ځائیږي غسل او یو اَللّٰهُ اَكْبَرُ وَیل. یا بالا تر هغه او دا سړه د هغه غسل و نه کړي او که عذر لري تیمم ئې و نه کړي حتی چې دلمانځه وخت تیر سي نو دغه لمونځ په ذمه کښې ددی پور دی، یعنی قضاء به ئې راوړي. نو دومره وخت چې تیر سُو نو مېړه ته یه بې غسل کولو ددی وطی وروته روادي.

فَائِدَه: چونکه ددی ښځې په ذمه کې لمونځ لازم سوا و لمونځ خود احکام و څخه د طاهراتو ښځو دی، نو وطی یه هم روادی، او که چیری وخت کم وو چې غسل او تحریمه نه په کښې ځائیدله. نو په مجرد وتو دوخت دا پاکه ده. او وطی یه نه دی روا، ترهغو چې طهارت یه او نه کړي او یا تیمم و نه کړي. **فَائِدَه:** دا ټوله بیان د مسلمانې ښځې په باره کښې وو. او د سړي ماینه که کتابیه وه. یعنی یهودیه یا نصرانیه وه د هغې چې عادت ورځې پوره تر لس ورځې د مخه او وینه یه قطع سي وطی یه روادی بیله غسل کولو. ولې چې دا مکلفه په غسل نه ده» ط ص۱۱۷.

وَتَقْضِي الْحَائِضُ وَالنُّفَسَاءُ الصَّوْمَ دُوْنَ الصَّلوٰةِ

او قضا به راوړي حائضه ښځه او نفاس والا ښځه د روژي نه د لمانځه، په حدیث کې د عائشہؓ راغلی دي» کَانَ يُصِيْبُنَا ذَالِكَ فَنُؤْمَرُ بِقَضَاءِ الصَّوْمِ وَلَا نُؤْمَرُ بِقَضَاءِ الصَّلوٰةِ. ترجمه: وه چې مونږ ښځو ته به رسیدی حیض نو مونږ به امر کیدلو یعنی د جانبه څخه د آنحضرت صلی الله علیه وسلم په قضاء راوړو د روژي. او نه امر کیدلو په قضاء د لمونځو، وعلیه اجماع الامة المرحومة:

حِکمت الٰهی

چونکه لمونځ په شبانه روز پنځه واره مکرر کیږي. او په ورځو کښې د حیض او نفاس ښځې پر لمونځو نه څندی جوریږي او ددی ټولو قضاء راوړل حرج دی نو رب العلمین ددوی ته دغه وخت لمونځونه معاف کړه. او برخلاف د روژي چې هغه لږ پیښیږي. ولې که ښځه په میاشت کی دروژي حمل لري نو خو نه حیض سته او نه نفاس. او دغه رنګه که ښځه ممتدة الطهر وی بیا هم په میاشت کی د روژي یه حیض نسته» او ددی ټوله سر سره د ورځو د حیض عدم کم دی په قضاء کښې حرج نسته. او نفاس خو په روژه کی ډیر نادر دیٰ. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَيَحْرُمُ عَلَى الْمُحْدِثِ ثَلَاثَةُ أَشْيَاءٍ اَلصَّلوٰةُ وَالطَّوَافُ وَمَسُّ الْمُصْحَفِ اِلَّا بِغِلَافٍ

او حرام دی وبې او د سه څاته که نروی او که ښځه وی دری شیان. لمونځ او طواف په بیت الله شریفی بانندی چې وړاندی یه بیان تیر سُو. او مسه کول د قرآن شریف که څه هم یو ایت وی مګر په پوښ کی او مراد د پوښ څخه هغه پوښ دی چې د قرآن شریف څخه جلا وي.

پوښتنه: چې محقق طحطاویؒ مناسب ددی ځای سره په ص۱۱۸ بعض مسائل ذکر کړي دی چې هغه دا دی ۱ مکروه دی نوشتنه کول د قرآن ایت او یا د نامه د خدای پر داسی شئ چې هغه او اریږی او یا تکیه پر کیږي لکه بالښت. ولې چې ترک د تعظیم دی ۲ قرآن یاد خدائ نوم پر درهم او یا نوټ نه لیکی. چې د تعظیم خلاف دی ۳ قران یاد خدائ نوم دی

پرمحراب یا پردیواله د مسجد نه لیکی. وَلی چی رنگ یه رَاتوی نه سی ۴ کم یو صندوق کښې چې دینی کتابونه وَه پرهغه صندوق باندې نالی یا تلتک یا نورد کور شیان ایښول خلاف الادب دی ۵ او په خلاصه کی وَائی چې پښې غځول د قرآن شریف وخواته چې کښته پروت وو که برابرد پښو سره وو مکروه دی. او که برابر نه وو بیا کراهت نسته ۶ او که قرآن شریف لوړ په تخته یا بل شئ پروت وُو نو پښې غځول و هغه خواته مکروه نه دئ. ۷ ایښوول د قلم پر کتاب یا قرآن شریف د لیکو د پاره مکروه او بیله هغه مکروه دی. ۸ په یوه غالی کښې اویا په مُصَلی کی چې نوم د خدای نوشته وی پرهغه کښېنستل مکروه دی. او صاحِب هَدایه وَائی مکروه نه دی. ۹ که قرآن شریف په خونه کی په پوښو کی پروت وی په هغه خونه کی د مَاینی سره جماع کول خلاف الادب دی، او که چیری قرآن شریف پوښ نه درلودی. نو د پاره د ادب په وَخت کی د جماعو دی یو تکر پرهوا کړی

بیت ؎ از خدا خواهیم توفیق ادب. بی ادب محروم ماند از فضل رب» قَالَ المصنف رح

وَدَمُ الْاِسْتِحَاضَةِ كَرُعَافٍ دَائِمٍ لَا يَمْنَعُ صَلٰوةً

او وینی د مَرض لکه د پزی وینی چی هَمیشه وی نه منع کوی لمونځ، یعنی مستحاضه ښځه مکلفه په لمانځه ده **پوُه سَه**: چی وینه د استحاضة پر قرار د ارشاد نبوی وینه د رګ ده چې چاودلی دئ. او د رحم وینه نه ده. علامه یه داده چی د استحاضة وینه بد بوئی نه لری لکه د حیض وینه» قَالَ المصنف رح

وَلَا صَوْمًا وَلَا وَطْئًا او نه منع کوی دم الاستحاضة روژه که نفلی وی او که فرضی او نه منع کوی وطی د میړه» وَلی چې د اوښیر اذی نه ده چې په قرآن کریم کښې ذکر سوی ده» **پوُه سَه**: چې دم الاستحاضة پر څو قسمه ده. ۱ چې ښځه منید واړه وی او وینه ورته پیدا سی ۲ چی ښځه تر ۹ کاله کمه وی او وینه ورته پیدا سی ۳ او چی تر اقلی مُدی د حیض چې دری ورځی دی. ۴ چې تر اکثری مُدی د حیض یا د نفاس بالاوی.

اَللّٰهم اغفر لکاتبه کتبه احقر العباد فضل الحق حقانی»

وَتَتَوَضَّاءُ الْمُسْتَحَاضَةُ وَمَنْ بِهٖ عُذْرٌ كَسَلَسِ بَوْلٍ وَاسْتِطْلَاقِ

او اودس به تازه کوی مستحاضه ښځه او هغه خلک چې د ده سره عُذر وی لکه یو سړی چې بولی نه ګیریږی

بَطْنٍ لِوَقْتِ كُلِّ فَرْضٍ وَيُصَلُّوْنَ بِهٖ مَاشَآؤُا مِنَ الْفَرَائِضِ وَالنَّوَافِلِ

او یا یه نَس ایله وی یعنی غُل یه سی تیګولای د پاره د هر لمانځه فرضی. او د وی اداء کولای سی په هغه اودا سره چې زړه یه غواړی که فرضی لمونځ وی او که نفلی لمونځ وی، او سُنت هم په حکم کی د نفلو دي. **پوه سَه**: چی سلس البول یو مَرَض دی چی د ضُعفه څخه مثانی یاد غلبه څخه د خنکی پر طبع د سړی پیدا کیږی.

مَسْئَلَه په بحرالرائِق کی وَائی چې د معذور اودس په وخت کی هلته محفوظ دی چی بله بی اودسیا نسی وَر پیښه. مثلاً که د یوه سړی تر یوه سرمه وینی بهیدلی او هغه بله سرمه یه سالمه وَه. نو ده اودس تازه کړئ. د ستی تر اودا سره یه تر هغه بله سرمه هم وینی راوبهیدلی اودس یه مات سُو. ولی چې دا نوی بی اودسیا ده. او یا د یوه سړی بولی ایله وی. دی چی اودس تازه کړی غُول یه هم ایله سی او ل اودس یه مات سُو. او که چیری بولی او غُول د واړه جاری وَه. او یا تر د واړو سرمو یه وینی بهیدلی نو ده اودس تازه کړی و روسته تر اودا سره یه خوا بنده سوه اول اودس یه پاته دی.

پوُه سَه: چې عذرونه په دغو عذرو کی چې مصنف رح ذکر کړه حصر نه دي. بلکه د یوه سړي پزه همیشه وینی کوی. یا هر ګړی بُسکی څَنډی وَزی. او یا ټپی وی چې د ټپ وینه به دریږی حتی په پنبه وُو وغیره سره هم نه دریږی» دا ټول کسان معذور دي.

مَسَئَلَه: که د سړی بعض د دغو عذرو - چې په ناستی یه لمونځ کولای یا په اشاره سره دفع کید له. پر هغه لازم ده چې لمونځ په ناستی یا په اشاره وکړي چې د عذره څخه خلاص سی. **پوُه سَه**: چې اودس د مَعذور د پاره د وخت د لمانځه دی د پاره د لمانځه نه دی لکه نور اماما ن چی وَائی. په حدیث شریف کی روایت دی چې روایت یه

Maktaba-Tul-Ishaat.com

سبط ابن الجوزی کړي دی د امام اعظم ابوحنیفه څخه داسی راغلی دی، رسول کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي چي مستحاضه دې اودس تازه کوی د پاره د هر لمانځه. (وقت) او شک نشته چي دا نور معذورین په حکم کښی د مستحاضی دي.

مسائل شتی من هذالباب

فرعه: معذور سړي د وقت په اوداسه سره هغه قضائي لمونځ هم کولای سي چي په وخت کی د صحت پ... ده لازم سوي وُو، مراقی. **فرعه**، معذور په دغه اوداسه واجب لمونځ نکرو ترهم کولای سي او د اختر لمونځ هم په کولای سي، او مس ده مصحف هم په کولای سی **فرعه**، په مضمرات کی داسی وائي چي که سړي سلسلبول وو او اودس یه تازه کړی. او د غېږه یه سر یه پنبه چڼغ کړه او بولی د، او تو څڼه بندی سوي. او دی هم پوهیدی که پنبه نه وای بولی راوتلی. او بیایه پنبه، او کښه او هغه لانده وه. نو د غه ګړی چي ده پنبه، او کښه اودس یه مات سُو. نه د مخه تر او تود پنبه وُو. وعلیه الفتوٰی.

فرعه: که د یوه سړي غوُل بهیدل لکن چي پنبه یه په کُنه کی چیخلی وای. غلاخو یه نه بندیدل لکن لږ یدل ضرور، آیا دی د غه پنبه په کُنه چخ کړي. **جواب:** هو دپاره د دی چي نجاست یه لږ سی په قدر د امکان. ابن امیر الحاج وائي چي دا چخل مستحب دی. او امام حلبیؒ وائي چي واجب دی» قال المصنفؒ»

وَيُبْطِلُ وُضُوءَ الْمَعْذُورِيْنَ بِخُرُوْجِ الْوَقْتِ فَقَطْ

او باطلیږی اودس د معذور و خلګو په وتلو د وخت فقط مثلاً د سهار د لمانځه د پاره یه اودس تازه کړي وو، نو چي لمر، او خیږی. اودس یه مات سو، ولي چي د سهار د لمانځه وخت تېرسو. دا مذهب دی د امام اعظمؒ او محمدؒ، او په نیز د زفرؒ په دخول د وخت اودس ماتیږی فقط یعنی نه په خروج د وخت نو په صورت مذکوره کښی د معذور اودس نه دی مات، ولي چي په لمر، ا ختلوسره د بل فرضی لمانځه وخت نه سو داخل، او امام ابو یوسفؒ وائي چي په خروج د وخت او په دخول په دواړو د معذور، اودس ماتیږي»

«حقانی عفرلهٗ»

فائدة الخلاف

که معذوره د څاښتی لمانځه د پاره اودس تازه کړي نو په هغه اوداسه سره د امام اعظمؒ په مذهب د ماپښین لمونځ روادی، ولي چي د فرضی لمانځه وخت نه دی وتلی خلافاً لزفرؒ ولي چي دخول د فرضی لمانځه د وخت چي ماپښین دی موجود سو. وعند ابی یوسفؒ کذالک. او که چیری معذور د سهار د لمانځه د پاره اودس تازه کړي د عیدګاه لمونځ نه سی په کولای باتفاق الائمة الثلاثة من المذهب. ولي چي خروج د وخت د سهار د لمانځه خو موجود سو، خلافاً لزفرؒ. ولي چي دخول د فرضی لمانځه د وخت خو نه دی راغلی د عیدګاه لمونځ خو واجب دی. قال المصنفؒ»

وَلَا يَصِيْرُ مَعْذُوْرًا حَتّٰى يَسْتَوْعِبَهُ الْعُذْرُ وَقْتًا كَامِلًا لَيْسَ

او نه ګرځی معذور، یعنی سلس البول والا وغیره تر هغو پوری چي کښی باسی ده لره عذر وقت د کامل لمانځه چي په هغه کښی انقطاع

فِيْهِ اِنْقِطَاعٌ بِقَدْرِ الْوُضُوْءِ وَالصَّلٰوةِ

د عذر په قدر د اوداسه او لمانځه نه پیدا کیږي یعنی که لږ انقطاع هم موجود وی خو بیا هم معذور، دی، او که د اوداسه او لمانځه وخت بیله عذره موجود وو بیا خو معذور نه دی» **پوښته:** چي استیعاب ده وخت ګاهی حقیقی وی» هغه داسی چي عذر موجود یو ګړی هم نه قطع کیږي» او ګاهی حکمی وی هغه داسی چي په بعض وخت کی انقطاع د عذر خو موجود وی لکن اودس او لمونځ نه په کښی ځائیږی **پوښته:** چي مراد د وخت (کامله) څخه وقت د فرضی لمانځه دی، نو د اسوال نه پیدا کیږی که یو سړی د طلوع شمس څخه بیا تر زواله پوری وخت خالی د عذر څخه نسی پید اکولای باید دا سړی معذور و ګنړل سی. ولي چي د څاښت وخت خو هم د لمانځه دی لکه د اختر لمونځ او یا د څاښت لمونځ، حاصل د جواب دادی چي څاښت خو یا د واجب لمانځه وخت دی او یا د نفل لمانځه وخت دی» د فرضی لمانځه وخت نه دی. قال المصنفؒ»

وَهٰذَا شَرْطُ ثُبُوْتِهٖ وَشَرْطُ دَوَامِهٖ وُجُوْدُهٗ فِيْ كُلِّ وَقْتٍ بَعْدَ ذٰلِكَ

او دغه استیعاب حقیقی یا حکمی شرط دی د ثبوت د عذر، یعنی عذر د سړي ثابته دی. او شرط د همیشوالی

د عذر وجود ددې دهغه عذر په وخت کې وروسته ترثبوت. قَالَ المصنفؒ

وَلَوْمَرَّةً وَشَرْطُ انْقِطَاعِهِ وَخُرُوْجُ صَاحِبِهِ عَنْ كَوْنِهِ مَعْذُوْرًا

که څه یو وار په وخت کښې پیدا کیږی. او شرط د قطع والی د عذر یعنی چې سړی د معذوریت نه ووزی. قطع والی دی دهغه عذر او خالی والی

خُلُوُّ وَقْتٍ كَامِلٍ عَنْهُ

دوقت کامل دی دهغه عذر نه.

مَسْئَلَةٌ مُهِمَّةٌ

که جامی ته دصاحب عذر نجاست دده دعذر یعنی یا بولی یا وینې یا غول ورورسیده هغه جامه پیوله غواړی او که نه! فقیه ابن سلمةؒ وائی چې بیوله نه غواړی» ولې چې لږ د نجاست تکه په باب الانجاس کې چې به راسی» إِنْ شَآءَ اللّٰهُ عفوه دی. نو د جهته د ضرورت د عذر دپه هم عفوه دی. او بل دلیل دادی چې په دغه نجاست د معذور چې اوس نه ماتیږی نو گویا دا نجس نه دی حکما او بل دلیل یه دادی چې بد نه بیوله دهغه نجاست څخه نه غواړی نو جامه خوتی بدن اولی با الطهارت نه ده» وَفِي الْبَدَائِعِ. واجب دی پریوله د زائد تر قدر د درهم کی فائده کوله یعنی چې لما نځه په دوران بیا نه مرداریږی. حتی که نافع وه او وه نه پریولی لمونځ به ورسره وکړی هغه لمونځ به نه دی روا. او که فائده نه کوله نو بیا پریوله نه غواړی تر هغو چې د معذور عذر باقی وی» قال الطحطاویؒ وهو قول مشا ئخنا وهو الصحیح» وفتوی الفقیر علی هذا القول.

پوهه سه: چې تردی او سه پوری مصنفؒ بیان د نجاست حکمی کاوه لکه بی اودسیا جنابت او هغه څخه د پاکی بیان یه کاوه چې اودس یا تیمم یا غسل وو. هم دا اوس بیان د نجاست حقیقی یعنی ظاهری لکه بولی، غول، وینی، وغیره شروع کوی.

کتاب - پښتو شرح نورالایضاح، مصنف - علامه محمد عبیدالله الایوبی. القندهاری. کتابت - احقر فضل الحق حقانی - الناشر مکتبة القراءة والتجوید کانسی رود کوئټه

بَابُ الْاَنْجَاسِ وَالطَّهَارَةِ عَنْهَا

باب دی په بیان د نجسو شیانو او بیان د پاکوالی د بدن یا جامی د هغو څخه، چونکه د مخنی مباحث ټوله د نجس حکمی وه نو د هغه څخه دا معلومیږی چې دلته دا نجاسو څخه انجاس حقیقی مراد دی. فلا یرد چې مصنفؒ باید داسې ویلی وای باب الانجاس الحقیقة»

سَوَال: ولې مصنفؒ د نجاست حکمی بیان تر نجاستِ حقیقی دمخه کړی. **جَوَاب** د نجاستِ حکمی حال سخت دی تر حقیقی ددې کبله چې حکمی قدر معفو نه لری» یعنی که یو سړی ډیره کښنی پښکی واچوی هم عفوه نه ده او نجاست حقیقی قدر معفو نه لری. یعنی که د سړی پر جامه بولی وی چې تر قدر د درهم کمی وی هغه عفوه دی. بلکه ډیر یه هم عفوه دی په وخت کی د ضرورت» کما سیأتی که خدای کوله»

او بل دا چې که د سړی سره نجاست حکمی یعنی بی اودسه وی. مسح د قرآن شریف ورته نا روا ده. او که چیری جنب مس د قرآن او تلاوت دواړه ورته نا روا دی. او که سړی اودس لری مګر کالی مردار وی هغه هم مسه د مصحف شریف کولای سی او هم یه تلاوت» **پوهه سه**: چې انجاس جمع د نجس د. په دوه زوره. او په اصل کی مصدر دی لکن په اصطلاح کی هر عین او ذات مستقذر ته وائی لکن په اصطلاح د فقهی شریفی نجس حقیقی او حکمی دواړو ته وائی کما مر. او لفظ د خبث په حقیقی پوری خاص دی. او لفظ د حدث په حکمی پوری خاص دی. **پوهه سه** چې د نجاستِ حقیقی په لیری کولو کی باید سړی ډیر غور وکړی. ولې په حدیث شریف کی راغلی دی چې مضمون یه دادی.» چې اول چې د مسلمان څخه پوښتنه کیږی په قبر کی هغه طهارت دی او عام عذاب د قبر په سبب د بیباکی په باره کی د طهارت خصوصًا بولی. قال المصنفؒ

تَنْقَسِمُ النَّجَاسَةُ اِلٰى قِسْمَيْنِ غَلِيْظَةٌ وَخَفِيْفَةٌ

و ویشل کیږی نجاست ودوه قسمه ته. چې یوه ته سخته وائی او بلی ته سپکه وائی -

Maktaba Tul Ishaat.com

پوښتنه: چې د نجاسټ غلیظه او خفیفه فرق به دې کې دی چې د غلیظه قدر معفو لږ دی. او د خفیفه قدر معفو ډیر دی. او په استعمال کې داوبو یعنې پریولو فرق نه سره لري. یعنې هر ډول چې غلیظه مینځی هغه رنګه به خفیفه هم مینځي. **فـائـده**: امام اعظم ابوحنیفهؒ وائي چې د کوم شي نجاست چې په ایت یا حدیث سره ثابت وي. او بل نص مخالف نه وي په کښې راغلی، هغه نجس مغلظ دی. لکه وینه یا خمر وغیره» چې مخالف نصوص نسته په کښې نو، نو که د علماء اختلاف په کښې وي او که نه او یا عموم بلوی په کښې وي او که نه اوکم شي چې د هغه په نجاست کې هم نص یعنې حدیث موجود وي. او په طهارت کښې هم نص موجود وي، لکن سره د هغه ودلیل ته د نجاست ترجیح ورکړه سوی وي» هغه شي نجس مخفف دی» لکه بولې د هغه حیوان چې غوښه یې حلالې وي او خوړل کیږي. لکه پسه غوایي وغیره. ولې چې د داسې حیوانانو په بولو کې دوه حدیثه متعارض سته»، یو حدیث دا دی، اِسْتَنْزِهُوْا مِنَ الْبَوْلِ فَاِنَّ عَامَّةَ عَذَابَ الْقَبْرِ مِنْهُ» تاسې ځان وساتی د بولو څخه ولې چې اکثر عذاب د قبر هم د دغو بولو څخه دی»

چونکه په دې حدیث کې بولې مطلق راغلی دي یعنې که بولې د سړي وي او که بولې د حیوان مأکول اللحم وي نو مطلق بولې نجسي دي. او په بل دیر او بږده حدیث کې چې بخاريؒ وغیره یې روایت کړی دی، چې هغه خلګو ته چې د عُرینه د قبیلې وه او مدینې منورې ته د یاره د اسلام راغلی وه او په مرض د استسقاء اخته سو، آنحضرت صلی الله علیه وسلم وهغوته وفرمائیل. چې د صدقانو د اوښانو په ګله کې وزئ. او د اوښانو بولې او شیدې څښئ اِلَی اٰخِرِ الْحَدِیْث» د دې حدیث څخه دا معلومیږي چې بولې د مایوکل لحمه پاکې دي. ولې چې د اوښ او پسه وغیره فرق نسته» نو د دې حدیث د سببه امام محمدؒ بولې د مایوکل لحمه پاکې بولي. لکن سره د تعارضه ترجیح ودلیل ته د نجاست ده»، کما فی الهدایة وغیره من الکتب الفقهیة» او امام ابویوسفؒ او امام محمدؒ وائي چې هغه شي چې نجاست یې په اتفاق د علماوو وي او عموم بلوی هم په کښې نه وي هغه شي نجس مغلظ دی. او که د علماوو اختلاف په نجاست او طهارت کښې وو او یا عموم بلوی په کښې وه هغه شي نجس مخفف دی.

په کافی کې وائي چې د دې اختلاف اندازه په خوشیو او خرشنو کې ښکاره کیږي چونکه د دوی په نجاست کښې اختلاف د حدیثو نسته بلکه یوازې هغه حدیث سته چې علیه السلام د خوشائي په باره کې وویله چې دا » رِجْسٌ» یعنې نجس دی. نو په نیز د حضرت ابو حنیفهؒ دواړه نجس مغلظ دي. او یاران وائي چې چونکه په دغو دوو کښې اختلاف د امامانو سته چې امام مالکؒ او ابن ابی لیلیؒ یې پاک بولي نو دغه دوه نجس مخفف دي» ط » او په دې مسئله کې ظاهر مذهب د امام اعظمؒ دی. ولې چې نص چې معارض و نه لري د هغه نص حکم ټینګ دی، او نص خو حجت دی اختلاف د علماوو خو حجت نه دی. قَال، وَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِيْ شَيْءٍ فَرُدُّوْهُ اِلَی اللّٰهِ وَالرَّسُوْلِ» که ستاسې په یو حکم کښې نزاع پیدا سوه نو هغه حکم رد کړئ و خدای ته او و رسول ته» یعنې په قرآن شریف کې او یا په احادیثو نبویه وو کښې حکم ولټوئ.

پوښتنه: چې په اروانو (یو چې خشائی) کښې دمأکول اللحم او غیر مأکول اللحم فرق نسته بلکه دواړه امام اعظمؒ نجس مغلظ بولي» او یاران یې نجس مخفف بولي. قَالَ الْمُصَنِّفُ

کَالْخَمْرِ لکه شراب چې نجس مغلظ دی په اتفاق د روایاتو **فائده**: خمر معنه نا پخ سوو او بوټه د انګورو ته وائي چې د طول مکث د سببه په خپله جوش وکړي او د هغه لوښي څخه چې دا او به پکښې وي ځګونه راسي» **یا ته سوه نور** اشربه مسکره چې حرام هم دي لکه دار بښو شراب. د غنمو شراب، د خرما شراب وغیره نو که څه هم حرام خو دي لکن په بعض روایاتو کې وائي چې هغه هم لکه خمر نجس مغلظ دي. او په بعض روایاتو کښې راغلي دي چې نجس مخفف دي. او بعض علماء وائي چې پاک دي. دا روایات ټول په بدائع کښې مذکور دي

وَالدَّمُ الْمَسْفُوْحُ او بل نجس مغلظ هغه وینه ده چې د یوه ځایه څخه بل ځای ته بهیدونکې وي، د هر حیوان چې وي. قهستاني»

پوښتنه: چې مراد د مسفوح څخه دا دی چې د شان څخه بهیدل وي. نو بهیدونکې وینه بر ځای کلک سي هغه وینې مرداري دي» کما فی منیة المصلي» نو بناء پر دغه هغه وینه چې پر مذبح د پسه وغیره یعنې ځای د حلالیدو پاته سي هغه مرداره ده. د ابن امیر الحاج

مسئله ډيره مهمه پوه سه چي په بنارونو کي چي پسونه حلاليږي د هغو سرونه سره دوينو نور خلګ رانيسي، اوبيا يو لوى ديګ په باندي کړي وي چي اوبه په جوش سي نو هغه ديګ لس يا شل دغه سرونه د هغه مردارو وينو سره ورواچوي. اوبيا يه ايشوي ترهغو پوري چي وريې يه د سره څخه توله توى سي» او دغه مرداري اوبه د سرو په ټولو غوښو او مغزو کښي ننوزي. نو بيا دا سرونه راوکاږي اوصاف يه کړي په بازار کي خرڅوي يا د هوټلانو والا يه رانيسي. او په هوټل کي پر خلکو خرڅوي او هغه يه خوري، چي معامله دغسي وي نو د غو سرو غوښي مرداري دي. اما په صحرا کښي د سره څخه دغه مرداره وينه يو وار پريوځي. اوبيا يه په نورو اوبو کښي صاف کړي. اويا هغه وينه په اور ځنډي وسوځي. اوبيا يه صاف کړي هغه دول پروا نه لري. د سرو غوښي پاکي دي. وهذه فائدة جديدة والناس عنها غافلون»

مسئله: هغه وينه چي په غوښو کي پاته وي هغه مرداري نه دي. ولي چي مسفوح نه دي. اوبل احتراز ځني سخت دئ. **مسئله:** چي پسه وغيره حلال کي او د مسفوح په ووزي، هغه وينه په رګو کي پاته وي هغه پاکه ده. **مسئله:** اينه، توري، زړه، که څه هم دوينو څخه جوړ دي پاک دي»

فائده: په اشباه کي وايي چي وينه د زړه د پسه وغيره پاکي دي پر مذهب مختار يعني شئ نه په مرداريږي» وهو قول ابو يوسف، وقال محمد نجس، او قاضيخان او نوري هم ډيري فتاوى وايي چي پاک دي»، ط ص ١٢٢ **مسئله:** هغه وينه د سري چي اودس نه په ماتيږي يعني چي وموضع د طهارت ونه بهيږي پاکه ده» حتى چي که د غو وينو څخه لر لر په پنبه واخلي او په لږو اوبو کښي واچوي هغه اوبه نه په مرداريږي»

مسئله: هغه وينه چي غوماشه يا کيکه، يا شپږه يې د بدن څخه د سري راوباسي هغه پاکه ده که څه هم ډيره وي. **مسئله:** د ماهي وينه هم پاکه ده. پر صحيح مذهب امام اعظم او امام محمد» ولي د ماهي وينه حقيقتا وينه نده بلکه سري اوبه دي» ولي چي دموي (وينه دارزني) په اوبو کښي هميشه ژوند نسي کولاى، اوبل دا چي دموي شي چي مړ سي او

لږ تي کښين دي توري دي. او ماهي سپينيږي» او امام ابو يوسف او شافعي وايي چي ماهي وينه نجسه ده» **مسئله:** د شهيد وينه پرحق کښي دده» يعني چي دده پر بدن وي پاکه ده» حتى که چيري شهيد سره دوينو د سري په شاوي او لمونځ وسره وکي لمونځ به روادئ. ولي چي شهيد حکما پاک دى څکه غسل شرعا نه ورکړه کيږي» لکن د شهيد وينه چي دده د بدن نه څخه جلاسي نو بيا مرداري دي» لعدم الضرورة. اوبعض په دي باره کي نسخه نوره غروينه د قياس پر مقتضي پاته دي. ط، ص ١٢٣ قال المصنف

ولحم الميتة وإهابها او غوښه نګه نجس مغلظ دي غوښي د مرداري يعني چي ذبح سوي نه وي که څه هم پسه وغيره وي. او پوستکي د مرداري. **پوه سه:** چي د مرداري څخه هغه حيوان مراد دى چي وينه لري. نو ماهي، ملخ، د دې حکم خارج دي يعني ذبح نه غواړي پاک دي. او د إهاب څخه هغه پوستکي مراد دى چي دبغ سوي نه وي. **پوښتنه:** د ميتة او د هغي د پوستکي د دى نجاست څه فائده ده. **جواب:** د دي فائده داده که چيري د سري سره تر مقدار د نجاست غليظه چي وروسته به راسي» إن شاء الله» بالاو سره وي د هغه سري لمونځ نه دى روا» قال المصنف.

وبول ما لا يؤكل لحمه او بولي د هغه چي غوښي نه خوړل کيږي نجس مغلظ دى. لکه خر، سپى، او انسان وغيره **پوه سه:** چي بعض امامان وايي چي بولي د هغه کښتي چي تي روي او د دوډۍ وغيره نه وي خوړلي پاکي دي» لکن مصنف مطلق بولي ذکر کړي تنبيها پر دي چي بولي د شيرخوره کښتي هم نجس مغلظي دي **مسئله:** مصنف په مراقي کي وايي چي بولي د موږک اوبه مرداره وي. ولي چي په اوبو کي ضرورت نسته. د دي سببه چي داوبو د لوښو سره نه خلګ پته وي. او که بيخي لږ وي هغه عفو دي. او که موږک په کالو کي يا په غنمو وغيره کښي غول وکړي هغه عفوه دي د جهته د ضرورت» **پوه سه** چي په مسئله کي د بولو د موږک ډير اختلاف دى چي امام طحطاوي په ص ١٢٣ کي ذکر کړي

Maktaba Tul Ishaat.com

دی، مَنْ شَآءَ فَلْيُطَالِعْ ثَمَّه» داچې مصنف په مراقی کښې ذکر کړې دی او مونږ نقل کړې مذهب مختار دی. قَـالَ الْمُصَنِّفُ»

وَنَحْوُ الْكَلْبِ وَرَجِيْعُ السِّبَاعِ

او دا غسې رنګه نجاست غليظ دی د سپي غل. او خوشائي د درنده ګانو. لکن چې د بهائمو نه وي. ولې چې د سباع الطير غول نجس مخفف دی» كَمَا سَيَأْتِي»

وَخُرْءُ الدَّجَاجِ وَالْبَطِّ وَالْأَوْزِ وَمَا يَنْقُضُ الْوُضُوْءَ مِنْهُ

او غول د چرګ يا چرګې، او غول د الې يا مرغابۍ، او هغه چې او دس په ده سره ماتيږي چې ووزي

بِخُرُوْجِهِ مِنْ بَدَنِ الْإِنْسَانِ

د بدن نه د انسان لکه غول بولي وينې وغيره، لکن پښکي د دې حکم نه خارج ده، ولې چې پښکي که څه هم او دس خو په ماتيږي لکن دا نجسه پاکه ده په صحيح روايت نو څکه پرلانده کالي پښکي واچوي هغه کالي نه مرداريږي. **پوهه**: چې بحر رائق د بزازيه نه نقل کړې دی چې که الې داسی وه چې په هوا نسواي الوتلای» حکم د غولو په حکم د غولو د چرګې دی يعنی نجس مغلظ دی» او که په هوا الوتلای سوای نو حکم به د کوترې د غولو دی **فائده**: هغه مرغه چې غول په هوا کښې کوي. نو کې غوښې خوړل کيدلې لکه کوتره، څوګکه، وغيرها نو د هغو غول پاک دې شی نه په مرداريږي. او کې غوښې نه خوړل کيدلې لکه تپوس، څرخک باز وغيره نو غول به نجس مخفف دی.

پوهه: چې د ماتوونکي نه داو داسې هغه حقيقي ماتوونکي مراد دی» نو قهقهه په لمانځه کې او يا خوب د دی نه وتلي دې که څه هم او دس په ماتيږي، ولې چې دا دوه جسم نه لري چې پاک يا مردار و بولل سي» **مسئله**: قی چې ملأ الفم (په ډکه خوله) نه وي پاک دی شی نه په مرداريږي. سوا د شرابو نه چې قی په کړي هغه که څه هم بيخی لږ وي نجس مغلظ دی. **مسئله**: وينه چې دا او تو ترځای تيره نه سي پاکه ده شی نه په مرداريږي په صحيح روايت» د طحطاوي نه ص ١٢٣

وَأَمَّا الْخَفِيْفَةُ فَكَبَوْلِ الْفَرَسِ وَكَذَا بَوْلُ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ وَخُرْءُ

او چې نجاست خفيفه دی. چې دوه قسمه نجس دی هغه لکه بولي د آس او د غسې رنګه بولي د هغه حيوان چې غوښې خوړل کيږي يعنی حلالې وي لکه پسه، غويی، او بن وغيره

طَيْرٍ لَا يُؤْكَلُ

او غول د مرغه چې غوښې نه خوړل کيږي. لکه بانه، تپوس، وغيره،

پوهه: چې د بولو د آس خفت بناء په مذهب مفتی به دی. چې آس مأکول اللحم دی لکن سره د هغه خوړل د غوښو يې مکروه دی» ولې آله د جهاد ده» او په نيز د امام محمد د غه بولي پاک دي **پوهه**: چې مصنف بولې ذکر کړې ولې چې خره شنه د آس يا د غاطره او د، خره، او خوشائي د غوائي، او پوچې د پيسو، نجس مغلظ دي په نيز د امام اعظم ولې چې تعارض د نصوصو په کښې نسته» او په نيز د امام ابو يوسف او امام محمد نجاست خفيفه دی، اختلاف العلماء وعموم البلوی، حتی امام محمد په اخر کښې د غوا خوشائي او خره شنه پاک بولې دي، ولې لاري په کسکنړي دي او په هر کوڅه کې به کثرت موجود دي» نو د دي عام بلوی د ضرورت پر بناء امام محمد حکم د طهارت صادر کړي» ط» لکن قهستاني وائي چې مونږ په دغه روايت عمل نه کوو»

مسئله: داو بن شخند او يا د غوائي شخند او د غسې رنګه شخند د پسه حکم په د خوشائي پاد بچو دی. **مسئله**: نارې د غاطر يا د خره پاکی دی په ظاهر الروايت کی وهو الصحيح ط ص ١٢٤» او د مرغانو چې غوښې نه خوړل کيږي سبب ده خفة النجاست د غولو په عموم ضرورت دی. بلکه امام سرخسي وائي چې د د غو مرغانو غول پاک دی» لکن دا روايت د عقل او نقل نه خلاف دی، قَـالَ الْمُصَنِّفُ»

وَعُفِيَ قَدْرُ الدِّرْهَمِ فِي الْمُغَلَّظَةِ

او عفوه کړه سوي دی يعنی د جانب نه د شارع قدر د يوه درهم په نجاست مغلظه کښې. **پوهه**: چې قدر د درهم بعض فقهاء په اعتبار د وزن معتبره وي مطلقاً يعنی که کلک وي لکه غول او که نري وي لکه بولي چې هغه د درهم وزن

شَل قیراط دئ» اوبعض فقهاءؒ قدر د درهم په اعتبار د مساحت» وائي یعني د گیچي پړد لحاظ چي گټه د درهم یو ورغوی دئ مطلقًا. لکن فقیه هندوانیؒ ددې دوو روایتو توفیق داسی کړی دی چي که نجس مغلظ کلک وو، نومعتبر قدر د درهم از روی وزن دی اوکه نری وو نو اعتبار مساحت له دئ. او ددی توفیق تائید امام زیلعیؒ کړی دی. او امام کمال الدین ابن الهمامؒ هم دا توفیق منلی دئ» او بحرالرائق یې هم تخلی کړی دی. او بعض کتابو کی د فقهی شریفی د قبول سره مخامخ سوی دی فهو الصحیح»

دَقِیقَهُ **پوهسه**: چي بحرالرائق د سراج وهاج او نورو کتابو څخه داسی نقل کړی دی چي معناد عفود نجاست خفیفه یا غلیظه دا ده که د هغو قدر نجاست سره سري لمونځ وکړي لمونځ یې صرف روا دئ. دا معنا یې نه ده چي لمونځ یې مکروه هم نه دئ. بلکه مسئله دا ده که نجاست غلیظه په مقدار د یوه درهم وو» لمونځ سره د هغه اتفاقا مکروه دئ. او که تر قدر د درهم کم وو او سړي سره د هغه نجاست بر لمانځه ودریدی. نو دی د ې وگوري که په وقت کی فراخي وه نو مستحب دا ده چي هغه نجاست دې پریمنځي او لمونځ دی د سره وکړي. او که چیري د ده څخه د نجاست د پریولو په سبب جماعت تیریدی نو که او به وي او جماعت بل ځای ور رسیدئ نو بیا هم افضل دا ده چي نجاست دِ زائل کړي او لمونځ دی په بل جماعت کی اداء کي»
او که چیري وخت تنگ وو او یا بل ځای جماعت ته نه رسیدی نو لمونځ دی سره د نجاست پوره کړي. بحرالرائق زیاته کړي ده چي په اول صورت کی کراهت تحریمي دئ. ولي چي لمونځ ورته بیرته بیرته پر بیسول کیږي د مکروه تنزیهي د پاره لمونځ نه پریسول کیږي. کذا نقله المولوی اعزاز علی حاشیه ص۵۲ ـ قال المصنفؒ»

وَمَادُوْنَ رُبْعِ الثَّوْبِ اَوِالْبَدَنِ مِنَ الْخَفِیْفَةِ

او د غه رنگه عفوه دی کم حصه تر څلورمی د جامی او د ... اد بدن که نجاست خفیفه وي.
پوهسه: چي مصنفؒ په مراقی الفلاح کی د ثوب څخه ثوب کامل مراد کړی ده.

او د غه رنگه د بدن څخه توله بدن مراد دئ. مبسوط والا د غه صحیح گڼلی ده» او بعض فقهاءؒ وائي چي مراد د ربع څخه ربع د هغه طرف د جامی ده چي نجاست ور رسیدلی وي. لکه لمن، لستونړی، او کنړکی. او د غه رنگه په بدن کی معتبر ربع د هغه عضو دی چي نجاست ور رسیدلی وي» لکه لاس، پښه، وغیره. او دا مذهب صحیح هم گڼلی دی صاحب د تحفی او صاحب د محیط او «المجتبیٰ» او سراج، قال صاحب الحقائق وعلیه الفتوی» زاروښ وائي چي احتیاط هم په دغه مذهب کی دی» وهذا حاصل ما فی الشامی وَالبحر و الطحطاوی» وفیها تفصیل ازید مما نقلناه

حاصل د مسئلی د نجاست خفیفه دا دئ: چي که څلرمه حصه د جامی او یا د بدن په نجاست خفیفه مردار وه خو لمونځ نه دی ور سره روا په اتفاق سره» ولې چي ربع حکایت د کل څخه کوي، لکه په مسح کښی د سر او په خریلو کی د ربع د سر په احرام کی» نو گویا توله جامه یا توله بدن یې مردار دي. **مسئله**: که نجاست کم تر ربعي وو لمونځ سره د کراهت ورسره روا دی. لکن کراهت یې تحریمي دی یا تنزیهي چا تصریح نه ده پر کړي» قال المصنفؒ

وَعُفِیَ رَشَاشُ بَوْلٍ کَرُؤُسِ الْاِبَرِ

او عفوه گڼل سوي دی څاڅکی د بولو چي لکه سرونه د ستنو یعني که پر جامه و یا شل سی او که پر بدن» **مسئله**: که د غه رشاش البول پر لږو او بو کښی ولویږی هغه او به په مردارېږي. ولې په او بو کښی ضرورت نسته او په بدن او جامه کښی خو ضرورت وو. حتیٰ که د غه جامه چي رشاش البول ور رسیدلی دی په لږو او بو کی ولویږی هغه او به مردارېږي. او بعض علماء وائي چي د د غه بولو د نجاست اعتبار چي په جامه کی ساقط سو نو په او بو کښی هم ساقط دئ.
لکن دا خبره کفایه والا رد کړې ده. او وائي چي په جامه یا بدن کښی خو حرج وو او په او بو کښی حرج نسته. او په یوه روایت شاذه کښی د امام ابو یوسفؒ وائي که چیري اثر د هغه نجاست یعني یا رنگ او یا بوی پر جامه یا بدن معلومیدی پریول یې واجب دي. لکن په دی روایت هیڅ فقیه فتوی نه ده ورکړې. **فائده**: د مړي د غسل په وخت کی چي کومې او به

Maktaba Tul Ishaat.com

پر بدن یا پر جامه د غاسل ںمړې د پریوَلو د او بو څخه ولوېږی هغه عفوه دی. ولې د هغه
او بو څخه د غاسِل ځان ساتنه ډیره گرانه دَه» او چې دَ غه غِسَالة سره جمع شیٔ یعنی د مړې
څخه جَلا بې بیا شیٔ په مَردارېږی. د اهلترچي پر بَدَن د مړي نجاست وي او که دَ مړي
طهارت د بدن مُتیقن وُو بیا یه غساله پاکه ده» ط ص۱۲۶ »

مسئله: که مردار غوړي پر جامه وَلویدَه او لاځو که ترقدر د درهم کم وَه لکن وروسته
غوړ ونشر وکړی. او ترقدر د درهم بالا سوله. امام مرغینانی وائي چې اعتبار وخت
لره د اصابت دی نو پس له انبساطه څخه هم مانع دَ لمانځه نه دی. که څه هم ترقدر معفو
بالا سي. او اکثر عُلماء پر دې خبره دی چې وخت لره د انبساط یه اعتبار سته. نو که تر انبساط
د مخه په هغه جامه کښی لمونځ وکړی لمونځ یه روا دیٔ. او که پس له انبساط او انتشار
څخه لمونځ وکړي نه دی ورسره روا»، کذا فی السراج الوهاج ـ م ص۱۲۶. **مسئله**: که
ئې بازار آب فاشي کړي وو او سړی پر هغه لنده ځکه تیر سُو. او پښي یې په هغو او بُو
لندی سوې لمونځ نه دی ورسره روا»، لغلبة النجاسة فیه» **مسئله**: ختي
او چکړ د بازار یا لاري چې نجاست هم پکښی وي. عفوه دی دَ جهت څخه د ضرورت
مگر کی عین نجاست په پښو پوری مبنتی وو هغه عفوه نه دی» م ص۱۲۶. قال المصنفؒ

وَلَوِابْتَلَّ فِرَاشٌ اَوْتُرَابٌ نَجِسَانِ مِنْ عَرَقِ نَائِمٍ

او که لوند سو فراش یعنی د پریوشٔی او یا خاوري چې دا فراش او خاوري مرداري وي د خوله څخه

اَوْ بَلَلِ قَدَمٍ وَظَهَرَ اَثَرُ النَّجَاسَةِ فِي الْبَدَنِ وَالْقَدَمِ

د بیده پر هغه فراش باندې. او یا لندی سوې خاوري د لندوالي څخه د پښی د تلونکی او ښکاره سو اثر د

تَنَجَّسَا وَاِلَّا فَلَا

نجاست چې خوند او بوی او رنگ دَی. په بَدن کی د بیده سړي پر فرش باندی او یا په پښو کی دَ تلونکی. نو پیه بدن او پښی مردار
سوې. او که اثر د نجاست نه سو ښکاره پُر بَدن او پر پښو نو بَدن او پښی یه پاکی دي.

پوه سَه: چې د بیده یعنی نائم څخه نفس پروت مراد دی که بیده وي او که ویښ وي.

كَمَا لَايَنْجِسُ ثَوْبٌ جَافٌّ طَاهِرٌ لُفَّ فِي ثَوْبٍ نَجِسٍ

لکه چې نه مرداریږی هغه جامه چې وَچه وي او پاکه وي چې وپیچل سوي په هغه. وَچه پاکه جامه په یوه بله جامه
کښی چې هغه مرداره وي او لنده وي

رُطْبٍ لَايَنْعَصِرُ الرَّطْبُ لَوْعُصِرَ

او په داسې شان سره وي هغه
لنده مرداره جامه چې او به نه تري وزی کی چیری څوك و نښتیږي. ولې چې مُرداري هغه وَچې
جامې ته نه رسیږي. **پوه سَه**: که چیری وَچه پاکه جامه په لندی مرداری جامی کښی
وپیچل سي نو که د دواړو جامو څخه په نښتیځلو څاڅکی تو یدل نو هغه پاکه جامه مرداره سوه
او که چیري د یوی څخه څاڅکی نه څخیدَ له نو هغه پاکه جامه او س هم پاکه دَه» دا دوی مسئلي خو
اتفاقی دی» او که د یوی څخه څاڅکی تو یدله فقط نو امام حلوانیؒ وائي چې اعتبار هغه پاکی وَچې
لره دی. یعنی د هغی څخه او به نه څخیږی نو هغه پاکه دَه که څه هم د مرداری څخه او به راوزي.
لکن فتوي پر دې دَه چې دَ نجسی جامی څخه یه نښتیځلو او به نه څخیږی نو هغه پاکه جامه پاکه
دَه» م ط ص۱۲۶/۱۲۷ ـ قَالَ الْمُصَنِّفُ»

وَلَايَنْجِسُ ثَوْبٌ رُطَبٌ نُشِرَ عَلَى اَرْضٍ نَجِسَةٍ يَابِسَةٍ

او نه مرداریږی هغه جامه چې لنده وي چې اواره یه کړي هغه جامه پر داسې ځمکه باندی چې هغه مرداره وی
په بولو وغیره سره چې هغه ځمکه اوس وچه وي. **فَتَنَدَّتْ مِنْهُ**، نو هغه ځمکه
نمناکه سي د هغی لندې لجامی څخه یعنی هغه لنده جامه پاکه دَه. مگر هغه وخت مرداره دَه که
اثر د هغه نجاست په دې لنده جامه کښی معلوم سُو» قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَلَا بِرِيحٍ هَبَّتْ عَلَى نَجَاسَةٍ فَاَصَابَتِ الثَّوْبَ اِلَّا اَنْ

او نه مرداریږي جامه په هغه باد سره چې دَ غه باد راتیر سوی وي پر نجاست که وَچ وي او که لُند نو هغه باد دي ورسیږی
یوی جامی ته مگر نه هغه وخت.

هغه وخت چې اثر د نجاست په هغه ثوب کې ظاهر شي" وَالْاَثَرُ

اَنْ يَظْهَرَ اَثَرُهَا فِيْهِ مَا مَرَّ مِنْ رِيْحٍ وَلَوْنٍ وَطَعْمٍ" اثر هغه درې شيان دي چې پرته

مسئله، که دسرې پرتوګ د ګنې پر برابر په لنده کونه چې پاکه به پرېولې وه لندوو او بيا په پر هغه لاندې ځای پسکی واچول" شمس الائمة" وائي چې په هغه پسکی نور کالي هم مردارېږي. لکن فتوي پر هغه ده چې د بخه هم تيره سوه چې پسکی پاکه ده" قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَيَطْهُرُ مُتَنَجِّسٌ بِنَجَاسَةٍ مَرْئِيَّةٍ بِزَوَالِ عَيْنِهَا وَلَوْ بِمَرَّةٍ

او پاکيږي مردار شئ يعنې که بدن وي او که جامه وي او که لوښی، په يوې مرداري سره يعنې که غليظه وي او که خفيفه وي. چې هغه نجاست په سترګو معلوميږي لکه وينې، او غول وغيره، په زائلېدو د ذات د هغه نجس که څه هم په يو وار پرېولو سره دی **عَلَى الصَّحِيْحِ** پر صحيح روايت، **پوهسه**: د صحيح په لفظ کښې اشاره واختلاف ته ده هغه داسې چې فقيه ابوجعفر طحاوي وائي چې پس له زواله څخه د عين دوه واره نور پرېوله غواړي لکه غير مرئيه نجاست چې يو وار پرې مينځل سي دوه واره نور پرېوله غواړي. او فخر الاسلام وائي چې وروسته تر زوال د عين درې واره نور پرېوله غواړي.

مسئله: که يو ځای وينې وکښې او پر هغه ځای په درې لاندې تو کړان چې پاکوونکې وه تير کړه نور پرېوله نه غواړي. **پوهسه**: چې نجاست مرئيه هغه نجاست دی چې په سترګو معلوميږي پس له وچ والي. لکه غول، وينې، وغيره. او غير مرئيه هغه نجاست دی چې پس له وچ والي په سترګو نه معلوميږي لکه بولي. قَالَ الْمُصَنِّفُ"

وَلَا يَضُرُّ بَقَاءُ اَثَرٍ شَقَّ زَوَالُهُ

او ضرر نه رسوي و پاک والي ته باته والی د هغه شي چې سخت وي زوال د هغه لکه رنګ د نجاست يعنې سره د بقاء د اثره هم جامه پاکه ده" **پوهسه** چې سخت والی د اثر د نجاست هغه دی، چې ايشولو او بوټو ضرورت لري او يا صابون وغيره ته ضرورت ولري"

مسئله: که يوه جامه په مردار رنګ يه رنګ کړې وي. نو هغه جامه چې دونه پرېمينځي او به صافي سي پاکه ده، او بعض فقهاءٌ چې پس له صاف والي د او بو درې واره به پې نوره مينځي.

مسئله: صابون که مردار سو يعني د ظاهرو خواځه نو چې پرې مينځي هغه نجاست څنډې ولاړ سي پاک دی" ط"

مسئله: که غوړي مردار سوه نوکه يخي وه نو هغه د نجاست ځای دې غار کړې استه دې کې هغه نور غوړي پاک دي. او که غوړي ويلي وه. نو اوبه دې پراچوي چې پر غوړي برابره سي او سره وردې سنوروی او بيا دی اوبه کرار کرار څنډی توی کړي درې واره چې د غسی وکړي نو غوړي پاک سوه" م، ط، ص ١٢٧" **مسئله**: عسل که مردار سوه نو اوبه دی ور واچوي او جوش دی وکړي چې اوبه يه هواسي. او عسل باته سي درې واره دی د غسی

مسئله: نوي لوښی د خاورو که مردار سوي درې واره دی پرېمينځي چې په هره پلاکی څاڅکی ودرېږي نو پاک دی". او زاړه لوښی په مطلق پرېولو سره پاکيږي

مسئله: هغه شئ چې ښوی وي او مردار سی لکه اِندارہ، شيشه، هغه دی په ټکله پوري ومووږي پاک سو. او نور لرګی که مردار سو بيرته دې رنده پرتيره کړي. او زاړه لرګی په پرېولو پاک کيږي.

مسئله: کی په مردارو او بو کښې غوښې واچولې په ديګ کښې او بيا يه غوښې په هغو او بو کې جوش کړې. بيا ورته معلومه سوه چې او به خو مرداری وې. نو غوښې هنوز او بې وې او به دی څنډی توی کړي او غوښې دې پرې مينځي. او که غوښې په مردارو او بو کې يخې سوې بيا هغه غوښې ابدًا نه پاکيږي. او د امام ابويوسفؒ څخه روايت دی چې غوښې دی درې واره په پاکو او بو کښې جوش کړي او بيا دی سنوروا توی کړي غوښې پاکې دی" والفتوي على الاول وهو قول ابي حنيفه"، ط" **مُهِمَّه مسئله**: کې چرګه يه حلال کړې وه. د مخه تر نس څيرلو او مرداری ايسته کولو يه جوش کړو او بوټه ورواچوله چې بڼرکي څنډی وشکوي. او يا يه لرې چې پر يولي يه نه وُو د غه جوش کړو او بوټه وا چوله. او د و مره زمانه يه جوش ورکړي چې او به يه وداخل ته د غوښو ور سيدلي. نو هغه د چرګي غوښې يا لرې ابدًا نه پاکيږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

الا عندَ ابي یوسفؒ کما مر» او کې دوه زمانه په جوش او بوکښې پریښوول چې صرف او صرف ظاهر پو ستکی یه گرم شو او بنرکی سُستی سوی او بیا یه راوکښله. پر دې واره پېیولو سره یه غوړنی پاکیږی» کذا حققه الکمال» ط ص۱۲۸ قَالَ المُصنفؒ»

وَغَیرُ المَرئِیَةِ بِغَسلِهَا ثَلاثاً وَ العَصرِ فِي کُلِّ مَرَّةٍ

او پاکیږی غیرالمرئیه نجاسَت یعنی پس له وَچیدو څخه چې په سترګو نه معلومیږی» لکه بولې په درې واره پرېولو سره دریواره. او په نبنتیځلو سره دری واره. **پوه سه**: چې اصلاً خو اعتبار غلبة الظن ته دغاسِل دی» لکن چونکه په درې واره پرېولو سره د زړه اطمنان حاصلیږی نو ځکه فقهاء د ری واره شرط وګرځول **مسئله**: په پس خورده کښی دسپې چې په لوښی کی اوبه وَڅښی چونکه اختلاف دی د مذاهبو نو ځکه د ری واره پرېولو د هغه لوښی واجب دی او اوه واره سره دخاورو وَهلو مندوب دی» م

پوه سه: چې نبنتیځل دری واره ظاهر الروایة دی» او بعض فقهاؤ وایي چې یو وار نبنتیځل کافي دی» وهذا ارفق بالناس» **مسئله**: کی هغه مُرداره جامه یه جاری اوبو کښی کښېښول بیا نو دری واره والی او نبنتیځل نه غواړی. **مسئله**: که د یوه سړي جامه خو مرداره وه لکن د ده څخه یه محل او ځای د نجاسَت هیر شو نو ده یو ځای دهغی جامی پرېولی که غور وکړی او که نه هغه پاکه سوه لمونځ ورسره روادی. لکن که پس له لمانځه ورته معلومه سوه چې هغه بل ځای وو» نو هغه دی پرېمنځی او لمونځ دی راوګرځوی

فائده: پر دریم وار نبنتیځلو کی دی هغه کوشش وکړی چې د جامی څخه نور څاڅکی نه راوزي. او معتبر قوت دغاسِل دی نه د بل چا. نو یوه کمزوره سړي چې جامه ونبنتیځل او څاڅکی ی بند سوه لکن که بل چا یو قوی هغه سړي دا جامه نبنتیځلی وای نو څاڅکی څخه تو یید له نو دغه جامه واول سړي ته پاکه ده نه و هغه قوي سړي ته» کذا فی الدر المختار»

مشکل د نرو کالي چې مردار سی او هغه کالي چې وکښل په بنځو په منځي نو بنځه خو یه په خپل قوة سره ونبنتیځي. لکن کی نرو نبنتیځي نوري اوبه څخه تو یږی نو د غه جامه و نر ته نه پاکه ده نه یه لمونځ په کښی روادی»

ددی مشکل علاج دادی» چې د نر د جامې چې یو ځای مردار سی. نو دی دې هغه

علاج مردار ځای بنځه پرې منځی او بیا دې خیرې لیرې کولو دپاره بنځې ته ورکړي چې پرې

فائده: مشهوره داده چې کمبله یا سترنجي وغیره چې مرداره سی په منځي. او بو کښی دی یوه شپه ایښ دی. لکن دا تقدیر صرف او صرف د دفعې وسوسی دپاره دی جاری او بو کښی دی یوه شپه ایښ دی. ورنه مختاره داده چې هغه مرداره کمبله وغیره په جاري اوبو کښی کښیښ دی او به پرې بهیږی او د سړي غالب گمان داوی چې نجاست څندی ولاړی هغه کمبله وغیره پاکه ده. ط ص۱۲۹ قَالَ

وَتَطهُرُ النَّجَاسَةِ عَنِ الثَّوبِ وَالبَدَنِ بِالمَاءِ وَبِکُلِّ مَائِعٍ

او پاکیږی نجاست که مرئي وی او که غیرمرئي (لیدونکی او نه لیدونکی) د جامې او د بدن څخه په اوبو سره» په ماء (اوبو) مطلقو سره خو اتفاقاً پاکیږی

مُزِيلٍ کَالخَلِّ وَمَاءِ الوَردِ

او په مستعملو اوبو سره بناء پر صحیح چې مستعملی اوبه پاکی بولې. او د غه رنګه پاکیږی بدن او جامه لعنی پر صحیح روایت په هر هغه نری شی سره لکه اوبه» لکن چې هغه مائع پالکوی، کما فی الهدایة والمراقی» چې هغه مائع مزیل د نجاست وی نو په غوړو او شیدو سره نه پاکیږي. ولې چې هغه بخپله نه وزی د بدن او جامې څخه نو نجاست به څرنګه وباسی لکه سرکه، او دګل اوبه» **پوه سه**: چې د امام ابو یوسفؒ څخه روایت دی چې نجاست د بدن نه څخه بیله او بو نه دی روا» نو ځکه مونږ صحیح ووئیله **پوه سه**: چې نجاست حکمي لکه بی اودسیا، یا جنابت بیله اوبو په بل مائع سره نه دی روا»

مسئله: که جامه نرمه وه او غاسِل په خپل قوت سره ونه نبنتیځل چې خیرې به سی قاضیخان وایي چې نه پاکیږی. لکن فتوا پر دی ده چې پاکیږی په سبب د ضرورت» دا مذهب د بحرالرائق او نهر فائق دی. **مسئله**: که د نبځی پرتې کښنی قی وواهه» نو د هغه کښنی په نارو سره چې دری واره یه وروی تی پاک شو. **مسئله**: که د سړي خوله په شرابو سره مرداره سوه. نو ناړې یه پر شوندانو او خوله تیری کړی او هغه یه نس ته شوه کړي خوله او شوندانه یه پاک سوه» م ص۱۳۰

وَيَطْهُرُ الْخُفُّ وَنَحْوُهُ بِالدَّلْكِ مِنْ نَجَاسَةٍ لَهَا جِرْمٌ وَلَوْ كَانَتْ رُطَبَةً

او پاکیږی موزه اومثل دهغی لکه گوټ، چوټه، وغیره» په منبوَلو سره یعنی یا پر محکه یا پرخاوره د هغه نجاست څخه چی هغه صورت لري. که څه هم دا نجاست لوندوی صورت والا نجاست هغه دی چی پس له وچوالی پرظا هرد موزی یا نه وي لکه غول، او وینی اوکی پس لروچوالي اثرنه معلومیدی هغه نجس ذی جرم نه دئ. **پوهسه**: چی د مصنف دعبارت معنیٰ دانده چی خُف وغیره بیله دَلکه (منبوَلو) نه پاکیږی بلکه معنیٰ یه داده چی په پریولو په اوبُویا بَل مائع خوپاکیږی. بلکه په دَلک (منبوَلو) هم پاکیږی. او پرخلاف دموزی دی جامه، اوبدن، چی هغه په دلک نه پاکیږي» اودغه رنگه موزه وغیره دغیرذی جرمه نجاست څخه بیله پریولو نه پاکیږي.

مسئله: کی پرموزه وغیره بَولی وی اوهغه لنده وَه سري خاوري پروا چولی نوهغه بَولی په جرم وَالا کی حساب دی چی په منبوَلو سره مثلًا پاکیږی. بحرالرائق **پوهسه**: چی په لاندی نجاست کی اختلاف دئ. د حضرة الامام الاعظمؒ څخه روایت دی چی لوند نجاست ترهغوچی وَچ نسی په منبووَلو په محکه پوری نه پاکیږی،» وَلی چی مَنبووَل خونجاست ډیره وی لیری کوی خو یه نه. لکن اکثرمشائخ وئیلي دي چی لوند نجاست هم په دَلك سره پاکیږی. وهوالمختار للفتوٰی. لکن په دلک کی دا شرط دی چی اثرد نجس به ورکیږی مگرنه که متشکل وُو» والدلیل علی المختار قوله علیه الصّلوٰة والسّلام» اِذَا وَطِئَ احدکم الاذٰی بخفیه فطهورهما التراب» ترجمه: که چالاندی کړی ترموزو نجاست لیعنی که وَچ وي اوکه لوند پس پاکوالی دموزوخاوری دی» وَقوله علیه السّلام: چی څوك وَرسی ومسجد ته نود وگوری که چیری په چوټو پوری مرداری وَه هغه دی په محکه پُوري وَموږی اولمونځ دی په کښی وکړي» **پُوښتنه**: نن صباولی خلك په بوټو اوچوټو کښی لمونځونه کوی اوسره دا دي چی دا فعل په کرا تومتراتود آنحضرت صَلی الله علیه وَسَلم څخه صادرسوی دی حتی په ننی زمانه کی که څوك دبوټوسره بی ضرورته لمونځ وکړی خلك په بدنظروَرته

جواب چونکه په اوسنی زمانه کښی په اکثرو مساجدو او جامع گانو کښی مفروشات موجود دی لکه مسترنجی اویاغالی وغیره. نو هغو د چټل والی د سببه خلك دګوټو عیرو سره لمونځ نه کوي. **مسئله**: په طحطاوی ص۳ کښی وائي چی مستحب دی لمونځ کول په پاکوچوټو کښی مثلًا» قَالَ المصنفؒ.

وَيَطْهُرُ السَّيْفُ وَنَحْوُهُ بِالْمَسْحِ

او پاکیږی توره اومثل د توری لکه چاړه، چاقو، زندانه، اوغوړلوښی، اوخراد سوی لرگی اونوك. په مسح کولوسره په خاورو یا په ټکر. ولی چی په دغوشیانو خونجاست نه ننوزي. نو پس له مسح نه پاتیږی مگرلږ د هغه نجاست اوهغه ته اعتبارنسته»

اِخْتِلَافُ الْعُلَمَاءِ: بعض علماءوائي چی دغه شیان پس له مسحی څخه حقیقةً یعنی واقعی پاك سوه. نوکه په هغه چاړه یا توره، خټکی یا هندوانه، وغیره مات کړی خوړلئ یه روادئ. واختاره الاسبیجابیؒ. اوبعض فقهاءوائی چی په مسحه کولوسري نجاسَت لږیږی نودهغومذکوره شیانوخوړل حرام دی. اودا روایت مختاره د قدوري دئ، اوروایت اول لائق بالاعتباردئ. ولی چی متونود فقه شریف قول په هغه دي. وَالاحتیاط فی مذهب القدوریؒ. قَالَ المصنفؒ فی المراقی چی فرق نه لري که نجاست لوندوی اوکه وچ وي. اوکه بولي اوکه غول. علی المختارللفتوٰی» ولی چی صحابهؓ وو به کفارپه تورو وژل او بیا بی په ټوکر یا خاورو مسح کړی. اولمونځ بی وَرسره کول. اوبعض علماءوائي چی دغه شیان دِمسح کړي په لنده جامه که نجس وَچ وُو، قَالَ المُصنفؒ

وَاِذَا ذَهَبَ اَثَرُ النَّجَاسَةِ عَنِ الْاَرْضِ وَجَفَّتْ جَازَتِ الصَّلوٰةُ

اوکه وَلاړی اثرد نجاست چی بوی اورنگ دئ. د محکی څخه اومحکه وچه سوه لمونځ پرروادئ.

عَلَيْهَا دُوْنَ التَّيَمُّمِ مِنْهَا

پردی محکه نه تیمم د دې محکی څخه **پوهسه**: چی دمحکی قید د دی دپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

دی چې کالي اوبدن اوبوریاء، وَغیره. په نفس وچیدُوسَره نه پاکیږي. اوهغه محَّکه چې وچه سوه نولمونځ پر رَوادئ. لقوله علیه الصلوة والسّلام» اَیّمَا اَرۡضٍ جَفَّتۡ زَکَتۡ» یعنی هر محَّله چې وَچه سوه پاکه سوه» اوتیَمم نه دی رَوا پر هغه محَّکه رَوا» ولې چې خدای جل جلالهٗ وائي: فَتَیَمَّمُوا صَعِیۡدًا طَیِّبًا، ای طاهِرًا» اوبعض علماءُ وائي چې تیمم هم پر رَوادی» اوپه صُورت کښې دَشك تیمم بِلاشبهه رَوادی» وَلې دَطهارت د محَّکې اصلي حال دئ. **مسَئَله**: کهچیری یوځا محَّکه په دبرو یا په پخوخښتو فرش کړي وواوهغه فرش مردارسو هغه حکم د محَّکې لري یعنی پـه وَچیدو د یاره دَلمانځه پاك دی. اوکهچیری خښته یا دبره پـه محَّکه کښې نره نصب سوی هغه پریوَله غواړي پـه جفاف (وچوالی) نه پاکیږي كذا في القهستاني، ومنية المُصلي وشرحها للحلبيُ وابن امير الحاج ؒ ط صـ۱۳۱.

مسَئَله: که چاقو، یا توره، زنگ زده وه. اویَا نقشونه په کښې وَه هغه خواه مخواه پریوَله غواړي. **سوال**: قدوری وَئیلی دي چې دغه مذکوره شیَان چې په لمروَچ سي نوپاك دي. اومصنف ؒ مطلق وَچ وَالی وَوایه **جوَاب**: د قدوری قول بناء پرعادَت دی چې ددغوشیَانوپـه وچیدوکې لمر دی. او پـه حقیقت کښې که دغه شیان په اورمثلاً وَچ سي هم پاك دي. قـال المُصنف ؒ.

وَیَطۡهُرُ مَا بِهَا مِنۡ شَجَرٍ وَ کَلَاءٍ قَائِمٍ بِجَفَافِهٖ

اوپاکیږي هغه شئ چې په محَّکه کښې وي» دد رختی څخه اوکلاء یعنی واښه، شپیشتی، شوتل وغیره چې په محَّکه کې وَلاړ وي پـه وَچیدوسَره دهغو. **پوهَسَه**: چې مراد وچیدو څخه وَچیده دهغه نجاسَت دی. یعنی چې لندوَالی د هغه نجاست نه وي پاته، دامراد نه دئ چې هغه درخت یا وَاښه به وَچیږي. اوداهم شرط دی چې اثر د هغه نجاسَت به هم نه وي پاته» دامذهب مختار دی چې ددې شیانو حکم د محَّکې دَئ. اوبعض علماء وَائي چې دَغه شیان پریوله غواړي»

اللهم اغفر لمولفه ولکاتبه ولوالديهما وقد كتبه بيده فضل الحق حقاني غفرله

وَتَطۡهُرُ نَجَاسَةٌ اِسۡتَحَالَتۡ عَیۡنُهَا کَاَنۡ صَارَتۡ مِلۡحًا اَوۡ

اوپاکیږي هغه نجاسَت چې تغیر وخوري ذات د هغه لکه چې وگرځي مالګه اویَا خاوری. اویَا وسوځي پـه اور یعنی ایری سي. پـه دلیل ددې چې حقیقت د

اِحۡتَرَقَتۡ بِالنَّارِ

نجاسَت بَدل سواوهم دَغه صحیح دی. اود دی مثال دادی چې اوبه دانګورو پـه منګی کښې شراب سي. نوخومرداردی» بیا چې مالګرو واچوي اوسرکه وګرځي پاك دی» ولې چې حقیقت یـه بَدل سُو»

مسَئَله: که دغولوخوښې، تـمـې، مکان، بخاروکړی چې څاڅکی څندی را لویدل اویاد حَمام دبام څخه په سَبب د بُخارڅاڅکی راتویږدله. هغه مردار نه دی استحساناً. او که چیله د نجاسَت څاڅکی راتویَه دَله هغه مرداردی» مر» اود هغه مرغه چې غوښې یـه مرداری وي. هګی یـه خوك وَائي حَلال دَه. اوبعض وائي مرداره دَه» **فَائِدَهُ**: د نجاسَت حقیقت چې بَدل سی پاک دئ. غرَض پـه کښې دادی چې بیَا نفع پـه اختَل روادئ. وهذا قول محمّد وَعلیه الفتوی» ط صـ۱۳۲ خلافًا لابی یوسف ؒ. قَال المصنف ؒ.

وَیَطۡهُرُ الۡمَنِیُّ الۡجَافُّ بِفَرۡکِهٖ عَنِ الثَّوۡبِ وَالۡبَدَنِ وَیَطۡهُرُ الرَّطۡبُ بِغَسۡلِهٖ

اوپاکیږي مَنی یعنی مَحل د مَنی، چه وچه وي، کړده نروی اوکه دَبنځی، په ګرو وَلو سره پلاس باندی چې متفرق سي دجامی څخه یعنی که څه هم نوی وي. اود بدن څخه، وهذا ظاهر الروایة» اوکه مَنی لَنده وَه بیا په پریولو پاکیږی» لقوله عَلیه السّلام اغسله رطبًا وافرکیه یابسًا» **پوښتنه**: د دغه حدیث په دغوالفاظوسره په ثبوت ندی رسیدلی ځکه کمال ؒ وائي الله اعلم بصحته. **جوَاب**: روایت د حَدیث په معنیٰ سره روادی کما في اصول الحدیث. نود دغه حَدیث هم معنیٰ پـه صحیح حدیثوکې راغلی دی. پـه بخاری اومُسلم کې راغلی د عائشه رضی الله تعالی عَنها څخه چې دی به پریوله مَنی دجامی څخه د رسول الله صلی الله علیه وسَلم، اوپـه مسلم کی د عائشه ؓ داسی روایت هم راغلی دئ

لَقَدْ رَأَیْتَنِی وَاِنِّی لَاَحُکُّہٗ مِنْ ثَوْبِ رَسُولِ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ یَابِسًا بِظُفْرِیْ،
ترجمه: ما ځان لیدلی دی چې ما به ګرو وَل مَنِي د جامی څخه د علیه السلام چې وچه به وه په نوکه سره. او ورته روایت بزار او دارقطنی هم کړی دئ. او هم زمونږ د مذهب سره امام مالکؒ او امام احمدؒ موافق دی» ط ص۱۳۲ **مسئله:** دغه جامه چې مَنی ځندی وګرو وَل سَول بیا که په اوبو لنده سول څه حکم یـه د ی **جواب**» بیا هم پاکه ده، وَلی چې یو پاک شئ چې اوبه دی د بل پاک شی سره مَلاقی سی چې هغه جامه ده چې مَنی ځندی ګرو ول سوی ده نه مردار یږی لکه مردار ه ځکه چې وَچه سی او پاکه سی او بیا لَنده یې نه مردار یږی،، او یا مردار پوست چې په لمر سره پوخ سی او بیا لوند سی نه مرداریږی

حَضرت ایُّوبی ته»

دافغان خدمَت دی وکړ ایوبیؒ
بیله شکه چې وارث یه د نبیؐ

افغانان نن تول یه تا باندی ویاړ کاندې
پر افغان، پر پاکستان پر جرمنې.

تل دعا دی د صحت دخدایه غواړی
شاګردان دی پر مسجد نبویؐ

چې دی دین وافغانانو ته آسان کړ
داخدمت دی رب قبول کړ کندهاری

داتاریخ به دی وی تل ومونږ ته پاته
موّرخ، مصنفه، جهانی

زما شمله دسر او چته ستا په مهر
دااحسان دی تل منمه حقانی

۱۴۲۱/۲/۱۷
کوټه

فصل

یُطْهِرُ جِلْدُ الْمَیْتَةِ بِالدِّبَاغَةِ الْحَقِیْقِیَّةِ کَالْقَرَظِ وَبِالْحُکْمِیَّةِ

پاکیږی پوست د مرداری - په حقیقی نځولو سره لکه په باړو، چې خلک غړکی اوزی په نځوی اودغه رنګه په حکمی نځوالی سره هم پاکیږی **کَالتَّتْرِیْبِ وَالتَّشْمِیْسِ** لکه چې خاوری پرواچوی او وچ یې کړی. او یا په لمر تی کښیږدی او وَچ سي. **پوه سه**: چې دَفیل په پوستکی کی اختلاف دی لکه بحرالرائق چې وائی چې امام محمدؒ فیل نجس العین بولی لکه سرکوزی. نو په دباغ سره نه پاکیږی. او حضرت الامام الاعظمؒ امام ابو یوسفؒ وائی چې حکم د پوست دَفیل حکم لکه د پوستو د نورو درنده ګانو دی لکه لیوه، پړانګ ګیدړه، او نور چې په دباغ نځولو سره پاکیږی. وَقَدْ اَفْتٰی بِمَذْهَبِهِمَا الْفُقَهَاءُ. او هم ودغه مذهب ته مصنفؒ په مراقی کی تللی دی. او دلیل یه هم داوئیلی دی. چې آنحضرت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ سره او نیږه مبارکه د منځول په داسی د منځ چې د فیل د هډوکی څخه جوړی سوی وه.

مَسئلهٔ: سَپَی د بعضی علماؤ په نیز نجس العین دی. لکن بحرالرائق د وهبانیه څخه نقل کوی چې سَپی نجس العین نه دی. قَالَ الطَّحطَاوِیُّ وَعَلَیْهِ الْفَتْوٰی» قَالَ الْمُصَنِّفُ **اِلَّا جِلْدَ الْخِنْزِیْرِ وَالْاٰدَمِیِّ** منګر نه پاکیږی پوست د سرکوزی او ده انسان ولی د سرکوزی ذات نجس دی» او د انسان پوست په سبب د کرامت نه پاکیږی د استعمال د پاره، **پوه سه**: چې پوست د سرکوزی نه پاکیږی او نه یې استعمال روا دی. او پوست د انسان خو پاکیږی لکن استعمال یې روا نه دی په سبب د کرامت» وَلَقَدْ کَرَّمْنَا بَنِیْ اٰدَمَ» نو د دې ایت په مقتضی د کافر انسان د پوست هم دغه حکم دئ. **سَوال**: مصنفؒ ولې خنزیر تر آدمی د مخه ذکر کړی **جواب** چونکه دا ځای د اهانت وو نو ورسته ر او ړل د آدمی ډیر زیبا دئ.

Maktaba Tul Ishaat.com

پوه سه: چې استثناء د خنزیر او آدمي په یوه ډول (سبب) نه ده بلکه استثناء د خنزیر په سبب د نجاست او د عدم جواز د استعمال ده. او استثناء د آدمي په سبب د تاني سره نه په اول سره ولې چې د تکریم سره د آدمي منافات لري» نقله الطحطاوی عن الزیلعی فی شرح الکنز»

وَتُطَهِّرُ الذَّكَاةُ الشَّرْعِيَّةُ جِلْدَ غَيْرِ الْمَأْكُولِ دُوْنَ لَحْمِهٖ

او پاکوي ذبح کول چې پر شرعي ډول وي پوست د غیر ماکول اللحم لکه ګیدړه، لیوه، پړانګ، وغیره نه غوښې یې پر اصح مذهب چې فتوی پرې

عَلٰى اَصَحِّ مَا يُفْتٰى بِهٖ

کول کیږي. **پوه سه**: چې مصنف قید د ذکاة شرعي وَوَایه، په دې سره یې ذبح د مجوسي او تارك التسمیة عمدًا او ذبح د محرم سره د ښکار شي لرې، یعنې هغه په ذبح کیدو نه پاکیږي» **فائده**: بحر الرائق د مجتبیٰ او قنیه نه نقل کړې دي چې ذبح د مجوسي او تارك التسمیة عمدًا طهارت پیدا کوي یعنې که د سرې سره د هغه حیوان غوښې موجودې وي لمونځ ورسره روا دی» که څه هم خوړل کیږي نه» لکن په تنویر کې وائي چې شرط والی د ذکات شرعي هو الاظهر» هم د دې سببه مصنف وویل علیٰ اصح ما یفتیٰ به» قال المصنف»

وَكُلُّ شَيْءٍ لَا يَسْرِيْ فِيْهِ الدَّمُ لَا يَنْجُسُ بِالْمَوْتِ كَالشَّعْرِ

او هر هغه شئ یعنې د اجزاء څخه د حیوان ما سوا د خنزیر څخه چې جریان په هغه کښې نلري وینه

وَالرِّيْشِ الْمَجْزُوْرِ وَالْقَرْنِ وَالْحَافِرِ وَالْعَظْمِ مَا لَمْ يَكُنْ فِيْهِ

هغه جزء په مرګ سره که څه هم بې ذکات شرعي وي نه مردار کیږي. لکه ویښته او هډوکي چې **دَسَمٌ** پرې لګېدلي سوي وي» او ښکر، او نوك د حیوان او واړوکي چې چربي نه وي پکښې او د غر نګه مشوکه د مرغه او یا نوکان د مرغانو» **پوه سه**: چې بو ښکه که د بیخ او بیا نو بیخ یې نجس دي، نو مصنف د دې سببه مجزور وویله» م» ص ۱۳۵

فائده: مصنف په مراقي کې علت د طهارت د دغو شیانو» عدم وجود الدم په دغو شیانو کښې وَیلی دی» او صاحب هدایه عدم نجاست د دغو شیانو په سبب د دې ویلي چې دغه شیان میتته نه دي. ولې چې میتته په عرف کې د شرعي شریفې په حیوانانو کې هغه شئ ته وائي. چې حیوة او ژوند یې زائل سي نه په فعل د بندګانو. او یا په فعل د بنده پر وجه غیر مشروع باندې. او په مذکوره شیانو کې ژوند نسته نو نجس هم نه دي. قال المصنف

وَالْعَصَبُ نَجِسٌ فِي الصَّحِيْحِ

او پله د حیوان غیر ماکول نجسه ده، یعنې لمونځ نه دی ورسره روا. په صحیح روایت کی. ولې چې په دې ژوند په کښې سته چې د ژوندي حیوان نه ئې قطعه کوي خوږیږي. او بعض فقهاء وائي پاکه ده. دوي وائي چې پله د قسمه د هډوکي ده چې سخته نه ده» قال المصنف»

وَنَافِجَةُ الْمِسْكِ طَاهِرَةٌ

او هغه پوستکی چې په هغه کې په الهي قدرت سره مشك جوړیږي پاك دی که څوك لمونځ ورسره وکړي لمونځ یې روا کا» لکن مردار یې په رسیدو او بو» م» قال المصنف

كَالْمِسْكِ وَاَكْلُهٗ حَلَالٌ

لکه خودي مشك چې حلال دی اتفاقًا او خوړل د مشکو هم حلال دي

سوال: چې مشك حلال دی نو خوړل یې معلوم دی حلال دی نو څه حاجت دی و دې قول ته د مصنف چې» وَ اَكْلُهٗ حَلَالٌ» **جواب**: د املاز م غلطه ده ولې چې خاورې پاکې دي او خوړل یې حرام دي. **تنبیه**: بعض ښځې یا نر د اولیاء کرامو و قبرو ته ورځي او د قبر خاوري یې خوري دا حرام کار دی. قال المصنف»

وَالزَّبَادُ طَاهِرٌ تَصِحُّ صَلٰوةُ مُطَيِّبٍ بِهٖ

او زباد پاك دی او صحیح دی لمونځ د هغه سړي چې د زباد خوشبوئي یې په ځان پوري مښلې وي. ولې چې زباد د خپل طبیعت څخه او ښتی ده لکه چې مشك په اصل کې وینه ده **پوه سه**: چې زباد پر وزن د سحاب دی» صاحب القاموس وائي چې زباد یوه خیره ده لاندې تر لکۍ د پیشې، یا د میش خرما» او د اخیره پر

پرمخرج د غولوسره بيره بيدا كيږي چې رفته رفته ډيره سي. نو هغه حيوان ډيره ښوري نسو وروسته د غه خيره په قدرت د خداى جل جلاله خوشبوئي وګرځي. بيا يه نو خلګ په ټوكره كړاړ كړاړ ځندي ټوله كړي او ځان او جامي په خوشبويه كوي» قاموس»

درويش باګناه محمد عبيد الله ايوبي قندهاري نقشبندي سليمانخيلي غفرله البارى ولوالديه چې مصنف كتاب الطهارات» پردي ځاى پاى ته ورساوه. او درويش حسب الطاقت د هغه شرح او ترجمه وكړه. همدا اوس مصنف په مقصود اصلي چې لمونځ دي شروع كوي» درويش عاصي دلوي دربار څخه غواړي چې وده ته د كاملي ترجمي او شرحې د باقي كتاب وركړي» وما ذالك على الله بعزيز» او درويش د باري عزوجل د دربار څخه د ښه صحت او عافيت غوښتونكى دئ.

مناجات اقتباسى

از محمد عبيد الله ايوبي قندهارى. حضور جناب رب العزت البارى

الهى يا الهى يا الهى ندارم جز اميدت تكيه ګاهى ۲ زكن موجود كردى جمله عالم ترا باشد هميشه بادشاهى.
۳ بحق و حرمت ذات كريمت. مرا از ذنب خود كن عذر خواهى ۴ ګناه من اګر از حد برون است نباشد پيش لطفت برګ كاهى.
۵ چنين مګذار حيرانم خدايا. بدرګاه تو آوردم پناهى ۶ ندارم توشه راه قيامت بجز شرمندګى و روسياهى.
۷ ز خواب غفلتم بيدار ګردان. كه شد عمرم در غفلت تباهى. ۸ فتادم درميان چاه غفلت برونم كن ازين تاريك چاهى
۹ خلاصي ده ز شر نفس و شيطان. بسوى خويشتن بنماى راهى. ۱۰ ندارم طاعت مقبول درګاه بجز اشك ندامت آه و آهى
۱۱ بپوشان عيب اين عاصي بغفلت. بحق آنكه شاهان را تو شاهى. ۱۲ دم آخر كه جان از من برآيد بكن از لطف خود سويم نګاهى
۱۳ بحق و حرمت قرآن اعظم. مكن شرمنده ام در حشر ګاهى. ۱۴ شفيع آورده ام روى محمد كرم كن برمن ګم كرده راهى

عبيد ګويد كه چون فضلت عميم است
بدان فضلت ببخش عاصى را ګناهى.

اللّٰهم اغفر لمؤلفه ولشارحه ولمترجمه ولكاتبه ولوالديهم اجمعين آمين ثم آمين

كتبه احقر العباد فضل الحق حقانى غفرله.

كتاب الصلوٰة

دا كتاب دى په بيان كښي د لمانځه يعني هر لمونځ چې وي كه فرضي وي كه نفلي وي.

مقدمه: پوهه: چې لمونځ هغه عبادت دى چې هيڅ شريعت د هغه څخه خلاص نه دى راغلى، او په هيڅ شريعت كى دا پنځه لمونځونه بل نبي ته نه دي جمع سوي نو دا مجموع پنځه لمونځونه د خواصو څخه د آنحضرت صلى الله عليه وسلم دي. او د غرنګه اذان او اقامت او شروع د لمانځه په تكبير سره او د غرنګه ركوع په لمانځه كى او حرام والى د خبرو په لمانځه كى د خواصو څخه د امت مرحومه دى،» قاله جماعة من المفسرين» ط» وهكذا قال السيوطي في انموذج العلوم» او امام طحاوي په شرح معاني الآثار كښي د عبيد الله بن محمد او هغه د عائشة دا سې حديث نقل كړي دئ. چې توبه څرنګه د آدم په وخت كښي د سپيد و قبوله سوه نو ده دوه ركعته لمونځ وكړئ. نو دا صلوٰة الصبح سو:

د لمونځو داوقاتو تعين: او څه وخت چې اسحق د حلاليدو څخه په فديه خلاص سو دا وخت ما پښين وو، نو ابراهيم څلور ركعته وكړه دا صلوٰة الظهر سو، او څه وخت چې عزير پس له نسل كاله د خوب څخه بيدار سو هغه وخت مازديګر وو. نو ده څلور ركعته لمونځ وګذاره دا صلوٰة العصر سو، او د داؤد توبه په وخت كښي د ماښام قبوله سوه، نو ده څلور ركعتو لمانځه نيت وكړي د خداى پاك په قدرت د جهته څخه د ډيري ژړا د څلورم ركعته څخه عاجز سو نو په دري ركعته سلام وګرځاوه. دا صلوٰة المغرب سو، او اول چې ماختن لمونځ سره دامت كړي دى هغه آنحضرت صلى الله عليه وسلم دئ.

پوهه: چې صلوٰة په لغت كى دعا ته وائي او په شرع شريفه كى د دغو افعالو اركانو مخصوصه و ونوم دئ. **فائده:** لمونځونه په شپه د معراج كى چې ليلة الاسراء يه بولي فرض سوي دي. دا مذهب دى د لوئي ډلى د محدثينو او د مفسرينو او د فقهاؤ او د متكلمينو دى،» وهو الحق قاله القاضي عياض» ط» او معراج د آنحضرت صلى الله

Maktaba Tul Ishaat.com

علیه وسلم ترهجرت د مخه یو کال واقع سوی دہ" قاله النووی اوابن حزمؒ دا اجماع خبره بولي" اوتاریخ د معراج یو جماعت د علماؤ وائي چي د لمړي خور ۲۷ شپه ده" لکن په بولوبنا رو کښي عمل پر دی دی چي د معراج نیټه ۲۷ د رجب دہ" اوپه دی سره یقین کړی دی امام نوویؒ"

حکمت الٰهی: لمونځ خدای جل جلاله په داسی وخت کښي فرض کړی دی چي د آنحضرت صلی الله علیه وسلم زړه مبارك په اوبو د زمزم سره پرې وله سُو او وړ مبارك په حضرت مقدسه الٰهی کښي تراؤ و آسمانو پورې ته سُو، لمونځونه په اول کښي پنځوس وه اوبیا په دغه شپه کښي پنځو ته را سوه. په لار سبووند د حضرت موسیٰ علیه السلام تفصیل د دي موضوع په حدیث کښي د بخاریؒ اود نور و محد ثینو په کتابو کښي موجود دي. نو ده موجوده وخت اومکان په سبب د لمونځو ډیر لوی فضیلت معلوم سُو. قال السعدی الشیرازیؒ ۔ چنان گرم در تیه قربت براند: که در سدره جبریل ازو باز ماند.
بدو گفت سالار بیت الحرام: که ای حامل وحی برتر خرام: بگفتا فراتر مجالم نماند: بماندم که نیروی بالم نماند.
اگر یک سری برتر پرم: فروغ تجلی بسوزد پرم:. قال علیه السلام: ثم زج بی فی النور فخرق بی سبعون الف حجاب آه والتفصیل فی روح البیان فی تفسیر قوله تعالیٰ سبحان الذی اسریٰ بعبده الآیة

پوهه سه: چي وتر واجب دي د پنځو فرضو څخه علاحده دي اود فرضو او واجبو ترمابین فرق هغه دی چي په اصول الفقه کی بیان سوی دی. یعنی چي په عمل کښي د واړه سره برابر دي چي پریښوونکی یـه مرتکب د کبیره گناه دی لکن پـه اعتقاد کښي فرق سته یعنی منکر د فرضو کافر دی اومنکر د واجبو کافر نه دی.

پوهه سه: چي د پنځو لمونځو یوه فائده شکر د منعم حقیقی رب جل وعلا دی. اوبله فائده یـه بخښنه ده لکه چي په حدیث کښي چي راغلی دی چي آنحضرت صلی الله علیه وسلم و خلکو ته وویل چي تاسی خبر اکړی چي که چیري یوه واله په دروازه کښي د یوه ستاسی بهیږي اودی غسل په کښي کوی هره ورځ پنځه واره آیا د هغه سري پر بـدن به خیره پاته سی خلکو ورته وویـل یا علیه السلام ورته وویـل چي دغه دی حال د پنځو لمونځو چي خدایؒ محو

کوی په هغو سره گناهونه. **پوهه سه:** چي اصلی سبب د لمونځو خطاب الٰهی دی. لکن سبب ظاهري یـه دا پنځه وختونـه دي. قـال المصنفؒ"

وَيُشْتَرَطُ لِفَرْضِيَّتِهَا ثَلَاثَةُ أَشْيَاءٍ اَلْإِسْلَامُ وَالْبُلُوغُ وَالْعَقْلُ

اوشرط دی دپاره د فرض والي د لمونځو یعنی چي بنده پر مکلف کیږی. دری شیان: یو اسلام دی ولی چي په عملی شیا نو هغه وخت سري مکلفه کیږی چي مسلمان وی او بالغ والی دی یا په احتلام اویا په عمر. ولي چي کوچنی مرفوع القلم دی یعنی مکلف نه دی. اوبـل عقل دی یعنی لیونی به نه وی ولي چي تکالیفی الهیه په عقل پوری تړلي دی.

ښهانه فائده: امام طحطاویؒ په ص۱۳۸ کښي وائي چي مختاره خبره داده چي آنحضرت صلی الله علیه وسلم د مخه تر نبوت په شریعت د هیڅ نبی مکلف نه وو. ولي چي دی مبارك د مخه تر رسالت په مقام اوتبرکی د نبوت وو اود هیڅ نبی امتی نه وو. لکن په الـهام صادق اوپـه کشف لائق به وده مبارك ته بعض اعمال د شریعت ابراهیمی کشف کیدله اوپه هغه به یه عمل کاوه" قـال المصنفؒ:

وَتُؤْمَرُ بِهَا الْأَوْلَادُ لِسَبْعِ سِنِيْنَ وَتُضْرَبُ عَلَيْهَا لِعَشْرٍ بِيَدٍ لَا بِخَشَبَةٍ

اوامر کړه کیږی به په لمونځو سره اولاد که نروی اوکه ښځی پر اوه کاله یعنی چي اوه کاله یـه عمر سی. اووهـل کیږی به پر لمونځو یعنی پرنه کولو چي د لسو کالو سي. لکن په لاس یعنی پـه چپلاخه یا په سوکه نه پـه لرگی یا لکړه وغیره د وهـلو په لاس سره سبب داد ی چي زجرسی د ترکه څخه د لمانځه اود بیلما نځی سره عادت نه سی. اوپه لرگی چي نه وی رفقا وشفقة علیهم" اوتر دری ضربی بالا دی "وهي هُم وفی الحدیث الصحیح" قال علیه الصلوة والسلام: مُرُوا اَوْلَادَكُمْ بِالصَّلٰوةِ لِسَبْعٍ وَاضْرِبُوا عَلَيْهَا لِعَشْرٍ وَفَرِّقُوا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ" تاسی امر کوی اولاد ستاسو" په اوه کلنی کښي اوتاسی وهی دوی پر لمانځه کولو باندی،" په عمرکی د لسو کلو. اودوی سره جلا کړي په

ځایوکې دېریوتو **پوه سه**: چې دا اوهَل یہ وَاجب دی کما فی تنویر الابصار" ط ، قالَ

وَاسبَابُهَا اَوْقَاتُهَا وَتَجِبُ بِاَوَّلِ وَقْتِهَا وُجُوبًا مُوَسَّعًا

او اسباب دَدَغو پنځو لمونځو دا پنځه وختونه دي. او واجبیږی لمونځونه په اول دَوخت سره مگر وجوب یه فراخه دیٔ. یعنی تراخیر پورې دَوخت، حتیٰ چې په اول، دوهم، دریم وخت کی اداء نه کړی دَتارك الصلوٰۃ قدر گناه یه نه دَه، مطلب دا دی چې تراخیر دَوخت یه ځنډول روا دیٔ. لکن په اخیرکې دَوخت اداء احتمالاً لازمه دَه چې تاخیر تر هغه گناه کبیره دَه"

فَائِدَه: په نورالانوار اونورو معتبرو کتابو کښې وَائي چې اکثر مشائخ د فقه او اصولو پردی دي. چې سبب ده لمانځه هغه جزء دی دَوخت چې په هغه پورې اداء جوړت سی مطلقًا که اول وی اوکه دوهم، وغیره. نو که سړی دَدخول سره دَوخت فی الحال لمونځ وکړي نو هغه جزء اول سَبب دده دَ لمانځه دی. اوکی په اول جزء کښې اداء نه کړیٔ نو سَببیت وه دوهم جزء ته نقل کیږی ثم وثم الی اٰخر الوقت. نو پر اخیر دوخت سَببیت ختم سُو حتمًا به لمونځ اداء کوي. اوکی فرضًا په اخیر وخت کښې هم نه کی اداء او وخت وَوَتی بیاد قضاء دَپاره ټوله وخت سبب دَیٔ.

ددی فائدی تعریفات: که ځوك په اول کښې دوخت لیونی وو او یا بیهوشه وو او په اخیرکښې دَوخت پرسَدسُو. هغه لمونځ پر لازم دی، ولی چې سَبب یه موجود دی. او ښځه حائضه یا نفساء وَه او په اخیر کښې دوخت پاکه سوه لمونځ پر لازم دی. اوکه نابالغه کشنی باوغ ته ورسیدی په اخیرکی دَوخت او دَغه رنگه که مرتد مُسلمان سُو په اخیر کښې دوخت، که څه هم په دی ټولو صُورتو کښې اخیرد وخت ناقص لکه دمازدیگر وَخت په نیزد ډرَوالي د لمَر، نو په دی ټولو صُورتو کښې که سَړي لمُونځ اداء کړی ذمه فارغه سوه. اوکی نه کی اداء د قضاء دَپاره یه ټوله وخت سَبب دی. ددې نتیجه دا ده که دَغو خلگو دمازدیگر لمُونځ په وخت مکروه کښې اداء کړی غاړې خلاصی دی بیله کراهت. او که ماسوا دَغو خلگو د مازدیگر لمونځ وځنډه وی بیله عذره تر وخت مکروه پوری

او بیا یه په وخت مکروه کښې اداء کړي خلاصی دی لکن سره دکراهته. او که دغه نوم وړی لمازدیگر لمونځ قضاء کړي. نو دهغه قضاء په بل وَخت کی به په کامل وخت کښې ا اوړي ولی چې وخت ووزی بیا خو سَبب دقضاء ټوله وخت دی او ټوله وخت دمازدیگر خو کامل دی په اعتبار داکثر اجزاء، نو دغه لمونځ کامل واجب دی لازم سو، نو په وخت ناقص کښې قضاء نه ده صحیح" **پوه سه**: چې مراد داخیر څخه وخت په نیزد اکثر فقهاؤ په دغو مسئلو قدر دیوی تحریمی دیٔ. وَقیل غیرذالكَ وَالتفصیل فی کتب الاصُول"

فَائِدَه: که ځوک تارك الصلوٰۃ وو. او باک یه نه په کاوَه. فاسق دی حکومتِ اسلامی دی بندی کړي ځو پر لمانځه استقامت کوي. قاله السیدُ وقالَ الامام المحبوبیؒ یُضرب حتیٰ یسیل منه الدم" تر هغو دی وَهی چې وینه ځندی ولاړه سی، او په لمانځه کښې نیابت یعنی وکالت نسته" قَالَ المُصنفؒ.

وَاَوْقَاتُهَا خَمْسَةٌ وَقْتُ الصُّبْحِ مِنْ طُلُوْعِ الْفَجْرِ الصَّادِقِ

او وختونه د پنځو لمونځو پنځه دي. یعنی اول وخت دسهار لمانځه دی دابتداء څخه د راختو د صادقو سپیدو بیا تر ټن دی دَمخه دراختلو دلمَر -

اِلیٰ قُبَیْلِ طُلُوْعِ الشَّمْسِ"

سُوَال: مصنفؒ باید اوله دماپښین وخت بیان کړی وای. ولی اول لمونځ چې جبرئیل وآنحضرت صَلی اللّٰهُ عَلیه وَسَلم په جماعت ورکړیٔ. هغه دَماپښین لمُونځ وو کما فی البخاری وَغیره. **جوَاب**: هو لکن مصنفؒ چې دسهار د لمانځه وخت دَمخه کړي په دې سَبب چې په اول او اخیر کښې دهغه اختلاف نسته بخلاف الصلوٰۃ الأخر" کماسَیأتی" وَیُمکن الجوَاب: په دی سَره چې آنحضرت صلی الله علیه وَسَلم چې اعرابی ته دَ لمونځو وختونه وښوول شروع د سهار د لمانځه دوخت څخه وکړه" کذا فی البنایه" وَالاحوطُ فی الجوَاب" دا ده چې د سهار لمونځ اول د پنځو لمونځو دی په فرض وَالی کښې" په اتفاق د علماوو ولی چې هغه د سهار لمونځ دَلیلة الاسراء دی" لکن علیه السلام دهغه قضاء نه راوړه ولې چې وجوب الاداء موقوف دی پر علم دکیفیت او دکیفیت

Maktaba Tul Ishaat.com

علمو رسُول الله صلی الله عَلیه وَسَلم ته په امامت د جبرئیل علیه السلام حاصِل سُو.

پُوهسَـه: چې صبح صادق هغه نُور دیٔ چې په کناره کی د اسمان نشرسی په پساره» او صبح کاذب هغه نږاده چې ترافق لوړه پیدا سِی او بیا بیرته ورکه سی. **مسَئَلهٔ**: په مجمع الروایات کی د امام حلوانیٔ څخه نقل کړی دیٔ چې اعتبار په حق کښی د لمانځهٔ او د روژی اول لره د ظهور د نږادیٔ. او د حضرت الامام محمّد څخه روایت دیٔ. چې اولی لمعیٔ ته اعتبار نسته بلکه معتبر انتشار فی الافق دیٔ. لکن احتیاط په قول اول کی دیٔ. او په قول ثانی کښی وسعت دیٔ» وَالله اعلم وَعلمه اتقن واحکم»

پـوهسَـه: چې اهل الریاضی لکه تصریح او شرح چغمینی وَالا وائیٔ چې صُبح کاذب او صادق ده تاثیره څخه د بن دی والی د لمر دیٔ وافق شرقیه ته» او امام همام فخرالدین رازیٔ سره ددی چې په ریاضی ووکښی ید طُولیٰ لری «داسِی وَائیٔ چې صُبح یو نُور دی چې خدای جَل جلاله په پیدا کوي. په دغه وخت مخصُوص کی او نه دیٔ دغه نور د تاثیر څخه د لمر او نه هم د جنس څخه د نور د لمر دی» قهستانی» **پـوهسَـه**: چې امام طحطاویٔ ساعات د ورځې په دغو نومانو یاد کړی دی. یعنی دعُرفی ورځې» الشروق، البکور، الغدوة، الضحی، الهاجرة، الظهیرة الرواح، العصر العصیرة، الاصیل، العشاء، الغروب، او د شپی د ساعتو نومان یه په دی دَول راوړی دي» الشفق، الغسق، الغدوة، العتمه، السدفه، الجنح، الروبة، الزلة الهیٔن السحر، الفجر، الصبح» فعلیك با التقسیم علی اللیل والنهار» قَالَ المصنف»

وَوَقتُ الظُّهرِ مِنْ زَوَالِ الشَّمسِ اِلیٰ اَنْ یَصِیرَ ظِلُّ کُلِّ شَیٔ

او د ماپښین دی چې هغه د زوال څخه د لمر د ما بین څخه د اسمان شروع کیږی. بیا تر هغه وخته پوری

مِثلَیهِ اَو مِثلَهٔ سِوَی ظِلِّ الْاِسْتِوَاءِ وَاخْتَارَ الطَّحَاوِی اَلثَّانِی

چې سَایه د هر شی دوه مثله د هغه شیٔ گرځی او یا یو مثل د هغه

وَهُوَقَوْلُ الصَّاحِبَیْنِ

پر دواړه تقدیره مَا سوا د هغه سَایه څخه چې په وخت کښی

د زوال د لمر موجُوده وی. **فـائـدَه**: چونکه دیره آباده محَکه د خط استواء څخه شمالی واقع ده» نو په وخت کښی رسیدو د لمر و نصف النهار ته څه نا څه سَایه موجوده وی دغی سایٔ ته فیئُ الزوال وَائیٔ» او دا سَایه په شهور شمسیه ووکی په طول او قصر سره مختلفه کیږی» کما فی کتب الریاضی» { او مختاره کړی طحاویٔ دوهم مذهب او د اقوله د صاحبینو دیٔ ۱۲ }

دَزوال آسانه پیژندنه

اول محَکه حسب الطاقت ښه برابره کړه» او بیا یو سم لرگی په هغه محَکه کښی ښخ کړه. نو وگوره چې سر د سَایٔ د لرگی چیرته دی پر هغه عَلامه وکړه. او بیا یو وار وگوره که سایه د عَلامی د خوا څخه د لرگی وخواته مخ پر کمید وه نو لمَر و مابین ته د اسمان چې نصف النهار ورته وَائیٔ نه دی رسیدلی او زوال هم نه دی سوی. او چې چیری سَایه حسب الظاهر ودریده. دا وخت د استواء بُولی او قیام الظهیره یه هم بُولی. او رسیده و نصف النهار ته یه هم بُولی. بیا د سَایه پر سر علامه وکړه او د هغی علامی څخه خط کش کړه تر بیخ د لرگی و دغی سَایٔ ته فیئ الزوال وَائیٔ او سایه اصلی یه هم بُولی.

بیا چه سَایه د هغه خط څخه د مشرق وخواته ولاړه» لمر زوال وکړی او اول وخت د ماپښین داخِل سُو» کذا فی الظهیریة، والبحر الرائق، والطحطاوی. وشرح الجغمینیٔ وغیره» **پـوهسَه**: چې دغه بیان دپاره د آسانی پر مسلمانانو دیٔ. ورنه حقیقت علم د استواء او د زوال په خدای جل شانه پوری خاص دیٔ» په صحیح حدیث کښی راغلی دی چې یو وخت جبرئیل امین علیه السلام په وخت کښی د غرمي په مجلس انور کښی د رسُول کریم صَلی الله عَلیه وَسَلم حاضِر وو. علیه السلام پوښتنه څنډی وکړه چې لمر زوال کړی دی که نه! جبرئیل علیه السلام ورته وَوَیل لَانعَم، یَا هُو. علیه السلام و دی جوَاب ته حیران سُو. پوښتنه یه څنډی وَکړه. جبرئیل علیه السلام ورته وویل چې په وخت کی د تلفظ د» لا » لمر زوال نه ووکړیٔ. چې زه د دَغه لفظ څخه فارغه سوم» لمر زوال وکړیٔ. نو د دي وَجهی څخه متصل په» لا » پوری مي نَعَم» وواَیه.

اَللّٰهُمَّ اغفِر لِمُؤلِفِهِ وَلکاتِبِهِ وَلِوَالِدَیهِمَا اٰمِین»

ښکاره فائده: پوه سه چې دامام اعظمؒ څخه په اخیر وخت کې دماپښین دوه روایته راغلي دي. اول روایت دا دي چې اخیر وخت دماپښین تر هغه وخته پورې دی چې سایه دشي د هغه ولړه مثل ته نژدې سي. یعني پر یوه مثل با ندي سي سوا د فئ الزوال دماپښین د لما نځه وخت ختم سُو. دمازدیګر اول وخت شروع سُو" په دي روایت سره امام ابي یوسفؒ. او امام محمدؒ اخستیٰ کړیدی یعني فتوا یې په ورکړیده او امام ابوجعفر الطحاوی چې اعلم د خلګو دی په مذهب دابوحنیفهؒ وائي: وبقولهما نأخذ» او په قول دیارانو مونږ عمل کوو. وفي البرهان قولهما وهو الاظهر»

او بل روایت د حضرت امام اعظمؒ څخه چې روایت یې حسن بن الزيادؒ کړي دی داسي راغلي دی چې اخیر وخت دماپښین ترنژدې پورې ددی ده چې سایه د شي دوه مثله د هغه شي ګرځي بیله سایه اصلی اتردی. یعني چې سایه دوه مثله ته ورسیده دماپښین وخت تیرسُو دمازدیګر وخت داخل سُو. مصنفؒ په مراقی الفلاح کی داسی وائی: وهو الصحیح وعلیه اجل المشائخ والمتون» یعني دغه روایت صحیح دیٔ او پر دغه روایت باندی ډیر مشائخ دی او متون کتابونه د فقهي حنفي دي. او مصنفؒ یې د صحت دا دلیل وئیلی دی» لتعارض الاثار» یعني په اخیر وخت کی د ماپښین احادیث نبویه متعارض دي. هغه تعارض دا دی چې په یوه حدیث کی چې روایت یې امام بخاریؒ او مسلمؒ کړي دی داسی راغلی دي» ابردوا بالظهر فان شدة الحر من فیح جهنم» ترجمه: تاسی په خُنکی کی کوی دماپښین لمونځ ولې چې سخت ګرمي د جوشه څخه دجهنم ده» یعنی وبدن ته دسړي تاوان رسوي. او په دی کی شک نسته چې سخته ګرمي دعرب په وطنو پر یوه مثل باندی ده. او په بل حدیث کښې چې متفق علیه دی. او اوبن د حدیث دی چې جبرئیل علیه السلام ته د لمونځو وختونه وروښووله په اوله ورځ کی چې سایه تر یوه مثل تیره سوه دستی دمازدیګر لمونځ ورکړی نوچون دغه دوه حدیثه متعارض دي. او دا قانون شرعی دی چې یوشئ چې په یقین سره ثابت سی په شک سره نه باطلیږی. نو بناءً علی هذا دماپښین د لمانځه وخت خو پس له زواله په یقین او اتفاق سره داخل وو او دیک چندی سره و پای ته په رسید وکښی شک پیدا سو

پس په شک سره وخت نه ووزی نو وخت تر دوچندی ته قریب باقي دیٔ.

خبر انو مسلمانانو: که څوک غواړي چې زما دپښین لمونځ او دمازدیګر لمونځ په اتفاق دائمه وو دمذهب صحیح سی. نو داسی دی وکړي چې دماپښین لمونځ دی په یک چندی کښی اداء کړي. ولی چې امام اعظمؒ خود ماپښین لمونځ په یک چندی کښې بالکل صحیح بولي. او پـ یارانؒ خو یې صحیح بولی چې بُولي. او بیا دی دمازدیګر لمونځ ورو تر دوچندی وکړي. ولی چې ورو سته تر دوچندی خو مازدیګر لمونځ په اتفاق روادیٔ.

بشارت»، په اکثرو ښارو کښی دافغانستان د علماوو خدای جل جلاله پر دوی رحم وکړی رواج همدا عِنِـی دي. **شکایت**: چونکه په حرمینو شریفینو کښی د مازدیګر لمونځ متصل دیک چندی په تیریدو سره اداء کوي. هغه کسان د حنیفیانو څخه چې سخت د ریږه دي حتی بعض علماء ددغه دمازدیګر لمونځ په دغه لوی جماعت کښې چې په لکو مسلمانان په کښی حضور لري» په جماعت نه کوی دوی وائي چې دا خو دماپښین وخت دی نو دمازدیګر لمونځ نه دی په کښی روا»

درویش وائي: چې که دغه دمازدیګر لمونځ په دغه وقت مذکور کی حاجیان صاحبان اداء کړي یـک لخته دمذهب څخه وتـل دي. ولی تاسی د څخه واوریـدل چې دامام اعظمؒ څخه دوه روایته موجود دي. نو څه حرج او ګناه ده که سړی په مراعات د فضیلت د دومره لوی جماعت او بیا د حرمینو په مسجدینو کی. په روایت دامام ابویوسفؒ او امام محمد بن الحسن الشیبانیؒ عمل وکړي. ترڅو چې بیرته خپل وطن ته راځي. دا خو د درویش خپله نظریه وه نور د خلګو خوښه ده» وللناس فیما یعشقون مذاهب» د تعصب لاره بنده نده» لکه یو کتاب فروش چې به باره کښی دشهادة الحسنین چې د فقیر تصنیف دی د غه د تعصب لاره خپله کره. او دونه دروغ او بهتانونه یې پر درویش وئیلی دی» چې هر عالم په هغه پوهیږي. دده خیال خو دا وو چې زه به په دې بهتانونو سره خپل نوم لوړ کړم. لکن هم دا اوس دلویه څخه خجالت سره او پښیماني سره مخامخ دی» ولی چې درویش دخپل کار تفویض و خدای جل جلاله ته کړی. او کوی یې. او دښمنانو څخه خپل مکافات

Maktaba Tul Ishaat.com

نه غواړي. بلکه د مکافات وکيل يه هم رب جل سلطانه دئ. او د غه کتابفروش خجالت او شرمندگي چي د طالبانو او نورو مخلصانو د خوا پر ده تيره شوې يا به تيريږي د بيان ور نه ده. وَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَشَدُّ وَاَبْقٰى» قَالَ المصنفؒ.

وَوَقْتُ الْعَصْرِ مِنْ اِبْتِدَاءِ الزِّيَادَةِ عَلَى الْمِثْلِ اَوِ الْمِثْلَيْنِ

او ابتداء د وخت د مازديګر د ابتداء څخه د يا توب د سايه د شي ده پر يوه مثل او يا دوه مثله

اِلٰى غُرُوْبِ الشَّمْسِ

يعنې پر اختلاف د مذهبينو بيا تر وخته پورې د لويدو د لمر. ولې چي په صحيح حديث کښې راغلي دي، «مَنْ اَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الْعَصْرِ قَبْلَ اَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَقَدْ اَدْرَكَ الْعَصْرَ» او هغه چي د حسن ابن الزياد څخه روايت دي، چي لمر ژړ سود مازديګر وخت خارج سو هغه محمول پر وخت د اختيار دی يعنې مختاره او ښه وخت يه تير شو.

پوښته: چي مراد د غروب څخه د لمر لويدو د ټوله ټيکې د لمر تر افق دي. لکن پټ سي. ولې چي غروب د لمر ترافق په واقع کې په علم کښې د خدای ده جل جلاله. «والتكليف بحسب الوسع والطاقة» وعلامة ذالك اقبال الظلمة من جانب المشرق كما في التحفة.

مسئله: که يو سړي پر ډيره لوړه مناره ناست وو. او لمر يه ليدی او د کښتو خلګو څخه لمر پټ سو نو مناري والا ته روژه ماتول نه دي روا او لاندي خلګو ته روا دی، کذا في الخلاصة.

مسئله: که لمر ولويدی او بيرته خرق العاده راپورته سو. د مازديګر وخت راګرځي او که نه!

جواب: هو راګرځي كما في الدر المختار، په دليل د هغه حديث چي آنحضرت صلى الله عليه وسلم يو ورځ مازديګر چي لمونځ يې کړی وو. په وخت کښې د نزول د وحي سر يې پر ورانه د حضرت علي کرم الله وجهه ايښې وو او حضرت عليؓ د مازديګر لمونځ نه وو کړی. څه وخت چي عليه السلام بيدار سو حضرت عليؓ عرض ورته وکړي چي ما د مازديګر لمونځ نه دی کړی او لمر راسه ولويږئ. عليه السلام په دغو الفاظو دعا وکړه: «اَللّٰهُمَّ اِنَّهٗ كَانَ فِيْ طَاعَتِكَ وَطَاعَةِ رَسُوْلِكَ فَارْدُدْهَا عَلَيْهِ فَرُدَّتْ عَلَيْهِ حَتّٰى صَلَّى الْعَصْرَ» يا الله

په تحقيق سره عليؓ په طاعت کی ستا او په طاعت د رسول ستا وو پس راوه ګرځوی لمر نو لمر بيرته راوختی حتیٰ چي عليؓ د مازديګر لمونځ وکړئ»، او دا حديث طبراني په سند حسن سره روايت کړی دی» او امام طحاویؒ هم صحيح بللی دئ. او قاضی عياضؒ هم د صحت تائيد پر لګولی ده: نو سبط ابن الجوزیؒ خطا وتلی دی چي دا حديث يې په موضوعاتو کښې راوړی دی. «كذا في النهر»

خُدَایْ لره دی حمد ويْ: ګرانو وروڼو دروليش هغه خبره چي په دغه عنوان يې وکړه. ګرانو مسلمانانو آه ډيره په وار خطا يې او بيره سره هغه وخت وکړه ولې چي د فقير دا خيال وو چي دا دده نظريه ده» لکن وروسته فقير روايت دا سد چي ملبسوط نقل کړی دی و ليدی چي د هغه عبارت دا دئ. اذا خرج الوقت بصيرورة الظل مثله لا يدخل وقت العصر حتى يصير ظل كل شئ مثليه فبينهما وقت مهملٌ فالاحتياط ان يصلى الظهر قبل ان يصير الظل مثله والعصر بعد مثليه» ليكون مؤديا بالاتفاق» انتهى. واختاره الكرخي وقال شيخ الاسلام انه الاحتياط كما في السراج» ط» قَالَ المصنفؒ.

وَالْمَغْرِبُ مِنْهُ اِلٰى غُرُوْبِ الشَّفَقِ الْاَحْمَرِ عَلَى الْمُفْتٰى بِهٖ

يعنې اول وخت د ماښام د غروب څخه د لمر دی بيا ترڅو دی پورې د لويدو د سره شفق پر هغه مذهب چي په هغه سره فتوی ورکړه کيږي.

پوښته: چي په احاديثو مبارکه ووکی لفظ د شفق راغلی دی، لکن شفق په لغت کی هغه سرخي ته هم وايي چي پس له غروبه څخه د لمر په افق کښې د مغرب ښکاريږي. او هغه سپين والی ته هم وايي چي وروسته تر شفق احمر په افق مغرب کښې ليدل کيږي» اذا عرفت هذا، نو...

پوښته: چي حضرت الامام الاعظمؒ وايي چي د ماښام د لمانځه وخت ترڅو دی پورې د شفق ابيض د لويدو دی دئ. او هم دا قول دی د ابوبکر الصديقؓ او د عائشه صديقیؓ او د انس بن مالكؓ او د معاذ بن جبلؓ او د ابی هريرةؓ او يو روايت د ابن عباسؓ څخه هم دئ او دغه ته عمر بن عبد العزيزؒ او امام اوزاعیؒ او داؤد الظاهري تللی دئ.

اود اهل لغتو څخه المبردؒ او ثعلبؒ هم تللی دی. او شفق احمر مذهب د صاحبینوؒ دی، وهو روایة عن الامام الاعظمؒ ایضًا. او په بعض کتابو کښې وائي چې حضرت الامامؒ وقول ته دیا رانوؒ رجوع کړی ده، او مصنفؒ په قول دیارانوؒ فتوی ورکړیده. حتی په مراقی کی وائی: وعلیها الفتوی، وقال وهو مروی عن اکابر الصحابة رضی. لکن سره ددي بحرالرائق وقول ته دامام اعظمؒ ډیر کلکه ترجیح ورکړیده: فارجع الیه،
او کمال الدین بن الهمامؒ هم وقول د حضرت الامام الاعظمؒ په ډیر او بنده عبارت ترجیح ورکړیده. او حضرت الامام الطحطاویؒ هم د مذهب دامام اعظمؒ طرف دار معلومیږي. حتی پردی قول د مراقی « وهو مروی عن اکابر الصحابة رض» یاه رد کړی دی په دے الفاظو سره، «قد علمت ان مذهب الامامؒ مرویٌ عن اکابر الصحابة رض نساءً ورجالًا» او پردي قول ده مراقی «وعلیه اتفاق اهل اللسان» یه داسی رد کړی دی. «قد علمت ما اختاره المبرد وثعلب وهما من اکابر اهل اللغة» او پردي قول د مراقی چي وائي: «ونقل رجوع الامام الیه» داسي رد کړی دی چي دا صیغه د ضعف ده. لیس پر رجوع دامامؒ یقین نشته» قال المصنفؒ

وَالْعِشَاءُ وَالْوِتْرُ مِنْهُ اِلَى الصُّبْحِ

او ابتداء د وخت د ماختن د لمانځه او وترو د غروب څخه د شفق احمر یا ابیض دی علی الاختلاف الذی مَرَّ ذکره، بیا تر نن دی پوري د صبح یعنی صبح صادق **پوهه سه**: چې په ابتداء کی د وخت د ماختن د لمانځه خو اختلاف سته. مګر پای د وخت یه په اجماع سره قبیل الصبح دی.

پوښتنه: په حدیث کی د امامت د جبرئیل علیه السلام داسی راغلی دي چي په دوهمه شپه جبرئیل علیه السلام د ماختن لمونځ په ثلث اللیل کی وانحضرت صلی الله علیه وسلم ته په امامت ور کړی. او مصنفؒ وخت د ماختن د لمانځه وخت تر سپیده پوري بولي. مراقی د دی پوښتني په جواب کی داسی وائي: وحدیث امامة جبرئیلؑ لاینفی ماوراء وقت امامته، یعنی حدیث د جبرئیل دا نه نفی کوي چي ورو سته تر وخت د امامت دده دی نور وخت هم وي. ولي چي د اجماع الامة المرحومة بیان تا واوریدی.

او دلیل د وجوب د وترو هغه حدیث دی چي آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمائي: «اِنَّ اللّٰهَ قَدْ زَادَکُمْ صَلٰوةً اَلَا وَهِیَ الْوِتْرُ فَصَلُّوْهَا بَیْنَ الْعِشَآءِ الْاٰخِرَةِ وَالصُّبْحِ» او په دي حدیث سره تعیین د وخت د وترو هم وسو. یعنی چي تر ماختن تر لمانځه د مخه نه دي روا فلذا قال المصنفؒ

وَلَا یُقَدَّمُ الْوِتْرُ عَلَی الْعِشَاءِ لِلتَّرْتِیْبِ اللَّازِمِ

یعنی نه د مخه کړه کیږي صلوٰة الوتر پر لمانځه د ماختن په سبب د ترتیب لازم په ما بین کښی د دغو دوو لمونځو یعنی چي د ماختن لمونځ پر وترو د مخه دی. لکه چي مذکور حدیث دلالت پر کوی.

فائده: د وترو لمونځ واجب یعنی فرض عملی دی په نیز د امام اعظمؒ او سنت مؤکد دی په نیز دیارانوؒ، او په نیز دیارانوؒ وتر د ماختن د لمانځه سره په ابتداء کی نه دی شریک بلکه اول وخت د وترو پس له ماختن د لمانځه څخه شروع کیږي. نو وتر د دوی په مذهب کی لکه دوه رکعته سنت د ماختن دي،

د دی اختلاف فائده: که دیو سړي د ماختن لمونځ هیر وو او ده چې وبل ما کړی دی نو وتر یه وکړه نو وروسته یه د ماختن لمونځ ور پیاد سو نو هغه یه هم اداء کړي، نو په نیز د امام اعظمؒ هغه د مخه وتر کافی دی. او ترتیب په سبب د عذر د نسیانی ساقط سو. او په نیز دیارانوؒ وتر به بیرته را اوګرځوي. ولي تبعه د ماختن د لمانځه دی او وخت یه هم وروسته د ماختن تر لمانځه داخلیږی نو هغه د مخه تر وتر قبل الوقت دی اداء کړي» قال المصنفؒ

وَمَنْ لَمْ یَجِدْ وَقْتَهُمَا لَمْ یَجِبَا عَلَیْهِ

او که چا نسوای پیدا کولای وخت د ماختن د لمانځه او وقت د وترو نو د ماختن لمونځ او وتر پر هغه سړي نه دی واجب. ولي چي سبب د وجوب د لمانځه وخت دی او د دے سړي وخت نه کی پیدا د دغو دوو لمونځو» دا ځای د بلغاریا په نامه یادیږی چي د صقالیه وو ښار دی. او قطب شمالي ته ډیر نژدي دی. او ډیر

Maktaba Tul Ishaat.com

یخ ځای دی. ولې چې پرده بانديې په میاشتو میاشتو دنمی په زمانه کښی لمر راخیږی اودوی په ژمی تر ځګه لاندې په حماموکی ژوند کوي. نوپر دغو خلکو باندی په کوتاه شپوکی دکال یعنی داول سرطان څخه ترڅلویښت ورځو پوری. لمر پردوی ښکاره وی ۲۳ تخمینًا ساعته اوصرف یو ساعت تخمینًا غروب کوي. نوپر دوی په دغو ورځوکی دشفق دلویدو نه یا یوځای صبح صادق راڅوي نو ماخستن دلما نځه اووترو وخت نشته،

یوه مسئله: چې په شرح چغمینی کی وائی. چې په وخت کښی دسپیدو لمر تر افق ۱۸ درجې کښته وی او په اخیر د شفق هم ۱۸ درجې لاندې وي ۱۸ درجې تخمینًا په یوه ساعت او ۱۳. دقیقه کی لمر قطع کوي په حرکت د فلک الافلاک چنانچه (۳۶۰) چې ټوله دوره د فلک دی چې پر څلیرویشت ۲۴ چې ساعتونه دشبانه روز دي تقسیم کړي. ۱۵ ورسیږي نوحصه دیوه ساعت ۱۵ درجې ده. او درې درجې چې په اتلسو ۱۸ کی بالادی تخمینًا ۱۳ دقیقې کیږي. دایو ساعت او ۱۳ دقیقې د صبح کاذب څخه حسابول کیږي.

مسئله: که ورځ دومره اوږده وه لکه کال یا میاشت یا هفته خلک به څو لمونځونه کوي لکه د دجال د ظهور ورځې چې مسلم ده نو اوس بن سمعان وائی اوده یې روایت کړي دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم د دجال ذکر کاوه اووی فرمایل چې د دجال اوسیده به په ځمکه کښی څلویښت ورځې وی یوه ورځ یې لکه بل وخت کال او بله ورځ یې لکه د بل وخت میاشت او بله ورځ یې لکه د بل وخت هفته او نوری ورځې یې د بیخوا پشان دي خلکو یعنی صحابو رضو پوښتنه وکړه چې په دغه ورځ کی چې لکه کال وی ایا دیوی ورځی لمونځونه کافي دی یعنی پنځه لمانځه آنحضرت صلی الله علیه وسلم ورته وویل لا، بلکه وختونه به حساب کوي. یعني یا په اټکل یا په نورو آلاتو لکه په دی زمانه کښی ساعتونه:

وَلَا جَمْعَ بَيْنَ فَرْضَيْنِ فِي وَقْتٍ بِعُذْرٍ

او نه جمع کیږی دوه فرضی لمونځونه په یوه وخت کی یعنی جمع حقیقی د دوو لمونځو فرضی وو په یوه وخت کښی نا روا ده که جمع د تقدیم وی. ولې چې هغه مقدم لمونځ قبل الوقت ناجائز

دی او که جمع د تاخیر وي. ولې چې هغه موخر لمونځ بعد الوقت ادائی نه سی کیدلای. په هیڅ عذر. سره لکه باران، یا مرض، **سوال**: په حدیث شریف کښی چې روایت په بخاری او مسلم دواړو کړی دی داسی راغلی دي چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم په سفر کی جمع د ظهر او عصر کړی ده یعنی جمع تقدیم او جمع د مغرب او عشاء یې کړي ده یعنی جمع د تاخیر، او په یوه بل حدیث کښی راغلی دي چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم ومسافر ته اجازه د جمع کولو د لمونځو ورکړې ده **جواب**: مراد د جمع سره په دغو حدیثو شریفو کی راغلی ده جمع صوری او ظاهري او عملی ده، یعنی اول لمونځ لکه ماپښین ده مبارک تر اخیره د وخت وځنډه وی. نو څه وخت چې هغه لمونځ به ادا کړي دوهم لمونځ لکه مازدیګر چې وخت داخل سی په اول وخت کښی ادا کړي په سفر کښی داسی کول آسانی ده چې دوه واره قطع د سفر نه غواړي.

او دلیل پر دي خبره هغه حدیث دی چې روایت یې بخاری او مسلم چې شیخان یې بولي دواړو کړي دی د عبد الله بن مسعود رض څخه چې داسی وائي: وَالَّذِي لَا اِلٰهَ غَيْرُهُ مَا صَلّٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلٰوةً قَطُّ اِلَّا لِوَقْتِهَا اِلَّا صَلٰوتَيْنِ جَمَعَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ بِعَرَفَةَ وَبَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ بِجَمْعٍ» ترجمه: قسم په هغه خدای دی چې نشته خدای بیله ده چې نه دی اداء کړی رسول الله صلی الله علیه وسلم لمونځ هیڅ وخت بیله خپل وخته مګر دوه لمانځه چې جمع یې وکړه د ماپښین او مازدیګر یعنی چې جمع تقدیم په عرفات کی او جمع یې کړه د ماښام او د ماخستن یعنی په جمع تاخیر سره په جمع یعنی په مزدلفه کښی».

ګرانو ورونړو او خوندو: دا وو مذهب د حنفیانو او حضرت الامام الشافعیؒ جمع حقیقی د لمونځو په سبب د عذر د سفر یا باران وغیره روا بولي. هم تقدیم د لمانځه تر وخت او هم تاخیر، او بعض خلک خصوصًا حاجیان چې وائی مونږ په سفر و کښی د امام شافعیؒ په مذهب عمل کوو که څه هم مونږ حنفیان یو هغه غلط کاردی. مګر هغه وخت صحیح دی چې ټوله مذهب د امام شافعیؒ پر ځان

لازم وګرځوي. یعنی په امام پسې چې ولاړوي قرائت د الحمد لله به کوي. او کې ذکر مسر کړي او دس به مات بولي. کې ما ینه مسر کړه یا په ځجه ځندی واخسته او دس به مات بولي. وغیر ذالك من مذهب ذالك الامام. او په اجماع د څلور و سرو امامانو دا غلط کار دی چې په څلورو مذهبو کښې تلاش کوي چې هر کار چې آسان وي په هغه عمل کوي. او چې په هر مذهب کی ګران حکم وي. هغه پرېږدي. دې ته حکم ملفق وائي او هغه باطل دی کما فی دیباجة الدر المختار، وهو الاصح من مذهب الامام مالك وغیره، قال

اِلَّا لِلْحَاجِّ فِیْ عَرَفَةَ بِشَرْطِ الْاِمَامِ الْاَعْظَمِ

مګر د حاجیانو د پاره یعنی نزد بل چا د پاره. د عرفات په میدان کښې یعنی نه په بل ځای کی. په شرط د دې چې حاجي په عرفات کی لمونځ په جماعت د لوی امام سره ادا کوي. چې بادشاه د وخت دی او یا یې نائب وي. نو کې په عرفات کی لمونځ یوازې کاوه که څه هم حاجي وي جمع ورته نا روا ده. او یا یې په خیمو او طاقو کښې په بل امام پسې په جماعت لمونځ کاوه هم جمع ورته نا جائزه ده.

وَالْاِحْرَامِ

او بل په شرط د احرام یا په حج او یا په عمره. نو که سړي د مکې شریفې مثلاً اهلی سړي وو او احرام بنده نه وو. پس که څه هم په عرفات کی وي. او د امام اعظمؒ سره لمونځ په جماعت کوي جمع د لمونځو ورته جائز نه ده.

یوه سه: چې دا څلور شرطه د صحیح والي د جمع د لمونځو مذهب دی د امام اعظم ابو حنیفهؒ. او یاران وائي چې منفرد ته هم جمع روا ده. په برهان کښې وائي چې مذهب د یارانو اظهر دی. لکن عام متون او د فتاواو کتابونه پر مذهب د امام اعظمؒ دي. قال

فَیُجْمَعُ بَیْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ جَمْعَ تَقْدِیْمٍ

پس جمع دی وکړي حاجي په ما بین کښې د ما پښین د لما نځه او د ماز دیګر د لما نځه په جمع سره د تقدیم یعنی د ماز دیګر لمونځ دی تر وخت د مخه کړي. او په اول وخت کښې د ما پښین دې ادا کړي.

مسئله: دا دواړه لمونځونه حسب العادة القدیمة په مسجد نمره کښې د عرفات ادا

کیږي. او یو اذان دوه اقامته غواړي. تا چې خلك په دوهم اقامت سره پوه شي چې بل لمونځ شروع کیږي. او د دې دوو لمونځو په ما بین کښې دی هیڅ فصل نه در کوي نه په نفلو حتی نه په دوه رکعته د ما پښین د سنتو هم، قال المصنفؒ

وَجُمِعَ بَیْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ جَمْعَ تَاخِیْرٍ بِمُزْدَلِفَةَ

او جمع والی دی وکړي حاجي په ما بین کښې د ما ښام د لما نځه او د ما خستن د لما نځه جمع د تاخیر یعنی د ما ښام لمونځ دی وځنډوي تر وخته پورې د ما خستن. او دا جمع په مزدلفه کښې کیږي چې دیوه ځای نوم دی چې د عرفات څخه تخمیناً ۳ درې میله فاصله لري. **مسئله**: په دې جمع کښې د مزدلفه یو اذان او یو اقامت غواړي. **مسئله**: د دې جمع د پاره صرف مکان شرط دی. چې مزدلفه ده او احرام شرط دی. او جماعت او امام اعظم شرط نه دی.

مسئله: د دې دوو لمونځو تر ما بین به هم نفل او سنت او بل کار نه کوي، او کې چیرې نفل یا بل کار وکړی اقامت به را ګرځوي. او په نیز د امام زفرؒ آذان به هم را ګرځوي، قال

وَلَمْ تَجُزِ الْمَغْرِبُ فِیْ طَرِیْقِ مُزْدَلِفَةَ

او نه دی روا د ما ښام لمونځ په هغه لار کی چې د عرفات څخه مزدلفې ته راځي کی چیرې د ما ښام لمونځ په لار کښې وکړي بیرته بی په مزدلفه کښې را ګرځوي. په حدیث شریف کښې راغلی دی چې یو سړي د ما ښام لمونځ په لار کښې کاوه. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل، اَلصَّلٰوةُ اَمَامَكَ، یعنی ځای د دغه لما نځه په مخ کی دی چې مزدلفه ده. **مسئله**: که سړي د ما ښام لمونځ په عرفات کی وکړي هم نه دی روا. نو قید د طریق اتفاقي دی.

اِسْتِدْرَاك: درویش په جمع کولو کی د ظهر او عصر داسې وویل چې سنة الظهر به هم نه ادا کوي دا ظاهر المذهب وو. کما فی النهر، لکن علامه ملا مسکینؒ د سنة الظهر په باره کښې وائي چې هغه دی ادا کوي. **سوال**: چې ظاهر المذهب هغه اول وو نو د دې استدراك ته ضرورت وو، **جواب**: حاسدان ډیر دي وهره خبره ته ګوته نیسي وائي چې

Maktaba Tul Ishaat.com

عبید الله په فلانی مسئله کښې خطاوتلی دی. دوی ظاهر المذهب او روایات شاذه نه سره بېلول. ولنعم ما قیل ــه چشم بداندیش که برکنده باد ـ عیب نماید هنرش در نظر.
ــه هم یحسد ونثنی وشر الناس کلهم: مَن عاشَ فی الناسِ یوماً غیر محسود.

پوهه سه: چې مصنف چې اصلي وختونه د لمونځونو بیان کړل. هم دا اوس وخت مستحب د غو لمونځونو بیانوي مذهب د امام اعظم بیا نوي. قَالَ المُصَنِّفُ

وَیُسْتَحَبُّ الْاِسْفَارُ بِالْفَجْرِ

او مستحب دی تر رڼا پورې ځنډول د سحار د لمانځه. بعض امامان د اسفار په اړه یدلي وي نو د سحار لمونځ د اسي وخت کوي چې د لمر د راختو سره بېخي شور غالي وي، داسي کول مکروه دي. **بلکه اندازه د اسفار داده**، چې که چیرې په اخیر ناسته کې فساد د لمانځه ښکاره سي، بیرته داغه لمونځ د سحار لمونځ په قرائت مسنونه سره تر لمر ختو مخ ته راګرځولای سي، قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اِسْفِرُوا بِالْفَجْرِ فَاِنَّهُ اَعْظَمُ لِلْاَجْرِ، وَفِي حَدِيثٍ اٰخَرَ: نَوِّرُوا بِالْفَجْرِ يُبَارَكُ لَكُمْ، او علاوه پر دې وخت د سحار د لمانځه چونکه وخت د خوب او غفلت دی نو په اسفار کښې ډیر والی د جماعت دی. او فقیه ابو جعفر الطحاوی په شرح کښې د معانی الآثار په اسناد صحیح سره د ابراهیم نخعي نه روایت کړی دی. او وایی چې نه دی اتفاق کړی اصحابو د آنحضرت صلی الله علیه وسلم پر هیڅ شي دومره لکه چې اتفاق یې کړی دی پر تنویر د فجر په لمانځه کښې، یعني په رڼا کښې کول.

پوهه سه: چې ظاهر الروایة دا دی. چې په اسفار کې به شروع په لمانځه کوي، وقیل، چې دخول په لمانځه کښې به په غلس یعني تاریکه کښې وي او اتمام به په اسفار کښې وي په درانه قلو د قرائت او ترتیل په قرائت. لکن په دې کښې پر هغو ضعیفانو، مریضانو، سپین ږیرو، لوی حرج او تکلیف دی.

بشارت او زیری:

دانس نه روایت دی، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې آنحضرت وفرمایل: مَنْ صَلَّى الْفَجْرَ فِي جَمَاعَةٍ، که چا ادا کړي د سحار په جماعت سره ثُمَّ قَعَدَ يَذْكُرُ اللهَ تَعَالٰى، او بیا کښېنستی ذکر د خدای جل

شانه یې کاوه. یعني هر ذکر چې وي که تسبیح وي که له تهلیل وي که تکبیر وي. وغیر ذالك من انواع ذکر الله تعالى، حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، تر هغو چې لمر راوختی.

پوهه سه: چې مجرد طلوع د لمر نه ده مراد بلکه چې وخت مکروه هم تېر سي. یعني لمر یوه نیزه دوې نیزې راپورته سي، ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ، او بیا یې ادا کړه دوه رکعته نفل. چې ورته صلوة الاشراك وایي او د المونځ د ضحٰی یعني د څاښت د سنتو څخه علاحده دی. ولې چې د څاښت د لمانځه وخت ډیر وروسته دی. تخمیناً دوه یا درې ساعته، كَانَتْ لَهُ كَاَجْرِ حَجَّةٍ تَامَّةٍ وَعُمْرَةٍ تَامَّةٍ، ده لره دی د غه کار مجموع یعني ثواب د هغه لکه ثواب د حج پوره او عمره پوره. **پوهه سه**: چې مراد د حجه څخه حج نفلي دی او د تامه. تامه په وېلو سره. آنحضرت صلی الله علیه وسلم تو هم د هغه چا دفع کړي چې د احادیث به صرف د پاره د ترغیب وي. او په حقیقت کې دومره ثواب نه وي. محدثینو دا حدیث حسن ګڼلی دی. او په یو بل حدیث شریف کښې راغلي دي: قَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ: مَنْ مَكَثَ فِي مُصَلَّاهُ بَعْدَ الْفَجْرِ اِلَى طُلُوعِ الشَّمْسِ، که چا درنګ وکړي په ځای کښې د لمانځه پس له سحاره د لمانځه یعني سره د شغل په یو ذکر د اذکارو څخه. او یا نفس درنګ مراد دی. كَانَ كَمَنْ اَعْتَقَ اَرْبَعَ رِقَابٍ مِنْ وُلْدِ اِسْمٰعِيلَ وي به د دغه سړي ثواب لکه د هغه چا چې څلور مریان ازاد کړي د اولاد څخه د اسمٰعیل علیه السلام یعني د عربو څخه. **پوهه سه**: چې حضرت امام شافعي مریتوب د عربو روا بولي. نو د عتق څخه حقیقت عتق مراد دی. او مذهب د امام اعظم دا دی چې په عربو کې رق نسته. نو عتق په بناء پر فرض د لو د رق دی. وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ: مَنْ مَكَثَ فِي مُصَلَّاهُ بَعْدَ الْعَصْرِ اِلَى غُرُوبِ الشَّمْسِ، او که چا درنګ وکړي په ځای کښې د لمانځه پس د ماز دیګر د لمانځه تر لویدو پورې د لمره كَانَ كَمَنْ اَعْتَقَ ثَمَانَ رِقَابٍ مِنْ وُلْدِ اِسْمٰعِيلَ، دو نه ثواب یې دی لکه چې څوک ازاد کړي اته نفره د اولاد څخه د اسمٰعیل علیه السلام **پوهه سه**: چې زیاتوالی د ثواب د ماز دیګر د درنګ پر ثواب د سحار د درنګ په سبب د دې دی. چې د ماز دیګر درنګ د پاره

د فرضی لمانځه دمابنام دئ. او په فجر کښی دیاره د نفلو د اشراق دئ. **مسئله:** اسفار د سحار د لمانځه مستحب دی په سفر او حضر کی او که ژمی وی او که دوبئ وي، که یوازی کوی لمونځ او که امام وی او که مقتدی وي. م، ط، لکن اسفار په فجر سره» **لِلرِّجَالِ**» د نرو دپاره. او د ښځو دپاره تغلیس مستحب دئ. همیشه. لِاَن التغلیس اقربُ الی الستر» مگر د سحار په لمانځه کښی ښځی دو مره د انتظار کوی. چی نر د جماعت څخه فارغ کیږی.

مسئله: اسفار په صبح کښی خو مستحب دئ مگر هغه ورځ چی حاجیان په مزدلفه کښی وی هغه ورځ به دوی لمونځ د سحار پس له سپیدو څخه په تاریکه کښی اداء کوی. د پاره د فراغ و وقوف د مزدلفه او دعا کانو کولو ته د څخه تر اختود لمر چی دا ځای یومهم ځای د اجابت او قبلولو د دعا وود ئ.

په حدیث صحیح کښی راغلی دی چی رسول کریم صلی الله علیه وسلم په عین وخت کښی د دعا د مزدلفه په غره د مزدلفه ناڅاپه وخندل خلك وه سبب ته د خندا په حال کښی دعجز او د عاد علیه السلام حیران سوه. نو به پوښتنه د سبب د خندا څندی وکړه رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل چی ما پر ابلیس خندل چی د غم څخه د عمومی بخښنی د خدای حاجیانو ته ابلیس پر سر په دغه شیله کی خاوری باد کړي. قال المصنف

وَالاِبْرَادُ بِالظُّهْرِ فِي الصَّيْفِ او په ځنکی کښی دی کوی د ماپښین لمونځ په دوبی کښی **مسئله:** دا حکم په ټولو وطنو کښی دی که گرم وی او که ساړه او که شدت حروی او که نه. **مسئله:** د جمعی د لمانځ حکم د ماپښین د لمانځه دئ. **مسئله:** په حکم کی د ابراد الظهر منفرد او امام برابر دی

پوښتنه: چی اندازه د ابراد (یخ والی) بعض علماء وائی داده، چی خلك چی مسجد و ته ځئ په سایه کی د دیوالو تللای سی، کما فی نور الایضاح، او سراج وائی چی اندانه د ابراد داده چی ماپښین لمونځ د اختلاف فوتلی وی د څخه تر رسیدو د سایه یوه مثل ته د شئ. او په خزانه کښی وائی چی وخت مکروه په ماپښین کی دا دی چی د ماپښین لمونځ تر اختلاف د امام اعظمؒ او د یارانو راسی.

پوښتنه: چی ابراد د ظهر دادی چی تر یك چندی د مخه بی کوی نو د حضرت الامام الاعظمؒ مذهب څه فائده سوه. **جواب:** د حضرت الامام الاعظمؒ په نیز تر دو چندی پوری تر دی د ماپښین لمونځ روادئ. او یارانؒ وائی چی تر یك چندی وروسته د ماپښین روا ندی. او په استحباب کی د دوی تر ما بین اختلاف نسته.

شکایت: بعض ملایان د عصر حاضر صرف دا یه اوریدلی ده چی حضرت الامامؒ ابراد بالظهر مستحب بولي په دوبی کی. نو دوی پر ۱۲ بجو چی تخمیناً د استواء وخت دی په کور کښی بندی یا بل د غرمی شی یخ کړی وی وبه خوری او سلا ته او شلومبی هم ورسره ملگری کړی. او کرار بیغمه بیده او پر دری بجی به په مسجد کښی اذان کیږی لمونځ نو گوره چی څه وخت کوي. غالباً پر دری نیمی بجی به کوی. دا وخت یك چندی خو څه کوي د دو چندی د رسید و خطر ته. نو د حضرت الامام الاعظمؒ او د یارانو پر دواړو مذهبو د لمونځ مکروه دی. بلکه دو چندی ته ورسیږی په اتفاق ناجائز دی»، والی الله المشتکی من صنیع هؤلاء»

وَتَعْجِيلُهُ فِي الشِّتَاءِ او وختی دی کوی د ماپښین لمونځ په ژمی کی. **پوښتنه:** چی مصنفؒ لیسرلی او منی هم د شتاء د جملی څخه بللی دی، ځکه په حدیث شریف کی راغلی دی چی رسول الله صلی الله علیه تعجیل د ماپښین د لمانځه کاوه په ځنکی کی

اِلَّا فِي يَوْمِ غَيْمٍ فَيُؤَخِّرُ فِيهِ مگر نه په ورځ کښی د وریځی د سببه د دی چی قبل الوقت اداء نه سی نو په ورځ د وریځی چی لمر پټ وی د ماپښین لمونځ دی وځنډوي یعنی استحباباً، مراقی د دی وجه داسی ویلی دی، اِذ لاکراهة فی فته فلا یضرتا خیره، دروش وائی چی دا خبره د مصنفؒ د تحقیق د خزانی څخه خلاف ده کما مَرّ عنقریب والله اعلم بالصواب»

پوښتنه: په عصر حاضر کی چی د هرچا په جیب یا تر لاس ساعتان موجود دي، نو معلومه خو د ماپښین د دخول وخت معلومیږی، که څه هم وریځ او لمر پټ وی **جواب** د قدیم فقهاوو، په عصر کښی خو ساعتان هیڅ نه وه نو دوی ځکه دا عنی حکم کاوه په یوم الغیم کښی، لکن دا حکم په سبب د وجود د ساعتو تغیر نه خوری ځکه اکثر او عموماً بادیه نشینان

Maktaba Tul Ishaat.com

اومَا الدارانونَه دا آله کمه پیداکیږی،، فیجعل اهلُ البلدان تبعًا لهم فی هذا الحکم، وَاللهُ اعلمُ

وَتاخِیرُ العَصرِ مَا لَم تَتَغَیَّرِ الشَّمسُ اومستحب دی ځنډوَل دمازدیگر دلمانځه یعنی په دوبی اوپه ژمی کښی لکن ترهغه وخته پوری چی لمر تغیرنه وی کړی. ولی وروسته تر تغیرد لمرد مازدیگر لمونځ مکروه دی. **پُوهَسَه**: چی تغیر د شمس پر صحیح مذهب دادی چی رنړا یې کمه سی حتی سترګی نه پر بریښی. وَقیل غیرذالکَ، قال المصنفُ فی المَرَاقی: وَالتَاخیرُالی التغیرمکروه تحریمًا،، قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلی اللهُ عَلیهِ وَسَلمَ: تِلکَ صَلوٰةُ المنَافِقِینَ ثلاثًا یجلسُ احدُکُم حتیٰ اذا اصفرت الشمسُ وکانت بین قَرنی الشیطن یَنقُرکَنقرِالدیکِ لَا یَذکراللهَ اِلّا قَلِیلًا،، تَرجَمَه: عَلیه السَّلام دغه چی راځی لمونځ دمنافقانو بالراوه ری واړه دغرخبره وکړه. هغه داسی چی ناست وی یو تاسی څخه حتی چی لمر ژړ سی اوپه مابین کی دوو ښکرو شیطان سی نودی مشوکه ځنډی یعنی چابک چابک رکوع وسجده وغیره کوی لکه چی چرګ دخورلک دانی چابک چابک ټولوی، قَالَ المُصنفُ،

وَتعجِیلُهُ فِی یَومِ الغَیمِ اومستحب دی وختی کول دمازدیگرد لمانځه په وریځ کی دورځی یعنی چی لمر پټ وی. لکن دا هلته چی دسړی یقین وی چی دمازدیگروخت داخل سوی دی. سَبَبُ داستحبابُ دتعجیل په دادی چی دتاخیرپه صورت کښی نه باید چی په وخت مکروه کښی به اداء سی،

شِکَایت په قریواوپه صحراوو کښی حال داسی دی. چی دوَښو او انګورو یادانځرو یادانارو وغیره په موسم کښی امام المسجد او مقتدیان ټوله یادغوا په وَښو او یادمیوو په راوړو پسی کښتواوپ باغوته تللی وي. نومازدیگرداسی وخت راوړ سیږی مسجد ته چی تغیرد لمرخولا پریږده بلکه یوه ځنډه دلمرپټه سوی وي نو چابک چابک مُلاصاحِب اومقتدیان د،، نَقرُ الدّیکِ لمونځ وکړي. قَالَ المُصَنفُ

وَتعجِیلُ المَغرِبِ اِلّا فِی یَومِ غَیمٍ فَیُؤَخَّرُ فِیهِ اومستحب دی وختی کول دماښام د لمانځه یعنی په ټولو سره فصلوکی دکال مګرنه په وریځ کی دورځی پس په هغه وریځ دی تاخیر

کوی په دَغه لمانځه کی،، دَاوَرِلښ وَالیٔ چی داحکم هم بناءدی پرعدم دآلاتو لکه ساعتونه بلله په عصرِحاضِرکښی عُلماءِ حضراتو په پاکستان کښی کوښښ کړي چی دهرښار د پاکستان اودهغه ښاردنږدی قریود پاره یې دګرده عمردپاره یه صحیح نقشی جوړي کړي دي. چی په هغوکی دسپیدو د لمرختو، او دلمرلویدو اونورو وختونه په ساعتونو په دقیقوپه ترې میاشتواونوروکی پوره معلوم کړي دي. اوداتقشی په تجربه سره صحیح ثابتی سوي. شَکَراللهُ سَعیهُم، وَجزاهمُ اللهُ احسَنَ الجزاء، عه

مسَئَلَه: په مَابین کی داذان دماښام اود اقامت دي فصل نه کوي مګرپه قدرد درو آیاتودویلواویا په جَلسه خفیفه سره. اوفصل په مقداردکولو ددوو رکعتونفلومکروه دی،، ط، **پُوهَسَه**: چی اهل ظاهرالحدیث اوحنبلیان دوه رکعته نفل په مَابین کی داذان دماښام اوداقامت کوي. دلیل ددی مسَئلی دادی چی په حَدیث کښی دامامت دجبرئیل علیه السلام په بخاري کښی موجود دی. داسی راغلی دی. چی جبرئیل علیه السلام دمَاښام لمونځ په دَواړو ورځوکښی دامامَت په یوه وخت کښی ورکړی.

اوپه صحیح حدیث کی راغلی دي: آنحضرت صَلّی اللهُ عَلیهِ وَسَلمَ وایٔ: اِنَّ اُمَّتِی لَن تَزَالوا بِخَیرٍ مَا لَم یُؤَخِّرُوا المَغرِبَ اِلیٰ اِشتِبَاکِ النجُومِ، ترجَمَه: په تحقیق سره زما امُت به همیشه په خیرکِی وي ترهغوچی نه ځنډوي دماښام لمونځ تر ښکاره والی دستوروپه آسمان کی. لکه دشیعه ګانوچي داعادت دئ،، اوبعض کسانوچی ځان صوفیان بولي په میاشت کی دروژي. **مسَئَلَه**: په عذر سره دسَفراو یاد مَرض او یادمَرض یاد روژه مات دروژی. تاخیرد مغرب روادئ چی مسَافر یامَریض جمع صُوري دماښام دلمانځه دماخستن دلمانځه وکړي. اودروژه نیوونکی لږڅه حرارت دلوږی کم سی

تنبِیه: په بعض مسَاجدوکښی دروژی په میاشت کښی دروژه مَات دپاره باقاعده سترخانونه آوارسی اودهره کوره څخه حسب القدرة یا غوړمَه، یا بنډی اوښلومبی همورسره کښیښول سی. اوپس لهٔاذانه ورته وجوړیږی. اوتریږی پوري ځانونه ماړه کړي

عه دبنده هم اِن شآءَ الله اراده ده چی دټول افغانستان داسی نقشه جوړه کړم،، احقرفضل الحق حقانیٔ

اوملا صاحب هم ورسره حاضر وي او وائ خوري يا ستي چي د روژه مات دخوړلو حساب نسته. حتیٰ چي باليقين دماښام وخت پروتوښي»، دا فخل مکروه دئ.

مسئله: په مراقی او طحطاوی کی وائي چي بې عذره ځنډول دماښام لمونځ ترقدر «مذکور» مکروه تنزيهي دی. او تراشتباك دستورو مکروه تحريمي دئ. **مسئله**: که په وخت کښی دماښام جنازه حاضره سوه. افضله دا ده چي اول دی دماښام لمونځ اداء کړي. ولې چي هغه فرض عين دی ترفرض كفائي اولیٰ دئ. اوبيا دی د جنازی لمونځ اداء کړي اوبيا دی دماښام سنت وکړي.

قَالَ الْمُصَنِّفُ رح

وَتَاخِيْرُ الْعِشَاءِ اِلٰى ثُلُثِ اللَّيْلِ

اوډېر رنګه مستحب دی ځنډول دماخستن دلمانځه تر دريمی پوری دشپی»، دا روايت دی دکنز. او په قدوری کی داسی وائي اِلٰى مَاقَبْلَ الثُّلُثِ» **پوهسه**: چي مصنف رح په تاخیر کښی دعشاء قيد دد وبې اوژمي نه دی وئيلی. نوده مذهب دادی چي دا تاخير دعشاء په دوبې او ژمی کښی تر ثلث الليل پوری مستحب دئ. لکن په فتاوای خانيه»، او محيط الرضوي او البدائع کی داسی وائي چي دا استحباب د تاخیر تر ثلث الليل پوری په ژمی کښی دی چي شپی اوږدی دي. او د خلکو خوب پوره کيږي. او د سحار وجماعت ترهم بيداره کيدای سي. او په دوبې کی د ماخستن لمونځ وختی. ولې چي خلکو پر ثلث الليل جماعت کول د ډېرنيږي په سبب دخوب او بل د سحار لمانځه ترهم په جماعت نه سی سره رسولای. چي شپې ډېری کښنی دي.

فائده: په تاخیر کی دعشاء ترثلث الليل پوری ډېر صحيح حديثونه راغلی دی او دا هم مذهب دا کثر اهل العلم دئ. من الصحابةؓ والتابعينؒ. په صحيح حديث کی راغلی دی چي آنحضرت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وائي. لَوْلَا اَنْ اَشُقَّ عَلٰى اُمَّتِىْ لَاَخَّرْتُ الْعِشَاءَ اِلٰى ثُلُثِ اللَّيْلِ اَوْ نِصْفِهٖ» يعنی وجوبا ولې چي استحباب خو يې ثابت دئ.

او په بل حديث کښی چي روايت يې امام احمدؒ او يو جماعت دمحدثينو کړی دی په روايت دابي برزةؓ: اَنَّ النَّبِىَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَانَ يَسْتَحِبُّ اَنْ يُّؤَخِّرَ الْعِشَاءَ وَكَانَ يَكْرَهُ النَّوْمَ قَبْلَهَا وَالْحَدِيْثَ بَعْدَهَا: يعنی نبي عَلَيْهِ السَّلَام خوښ وو ځنډول دماخستن د لمانځه

او بد يې بولله بيده والی د مخه دماخستن تر لمانځه يعنی د جهته دخوف د قضاء. او بد يې بللې خبری وروسته تر لمانځه دماخستن. يعنی ماسوا دخبرو نخه چي په علم کی وي او يا د ضرورت له کبله وي. لکه د عوامو چي دغسی خبری عادت دئ. ولې چي په داسی خبرو کښی گاهی غيبت گاهی نوری بيکاره خبری رائحی. او بل دا چي داسی مجلسونه گاهی ډېر اوږده سی او سړي بد خوابه سی نو د سحار جماعت ځندی فوت سي»

مسئله: ځنډول دماخستن دلمانځه تر ثلث الليل خو مستحب دی. او ترنصف الليل پوری مباح دی او تر هغه وروسته مکروه دی تحريما «م، ط» قَالَ الْمُصَنِّفُ.

وَتَعْجِيْلُهُ فِى الْغَيْمِ

او مستحب دی وختی کول دماخستن دلمانځه په شپه دوریځي او دا هم ظاهر الرواية دی» علت يې دا دئ چي په تاخير سره جماعت لږيږی ولې خلک د باران نخه بيريږي. او د ډېری تاريکی نخه هم» قَالَ الْمُصَنِّفُ رح

وَتَاخِيْرُ الْوِتْرِ اِلٰى اٰخِرِ اللَّيْلِ لِمَنْ يَّثِقُ بِالْاِنْتِبَاهِ

او مستحب دی ځنډول د وترو تراخير پوری دشپی يعنی تر اخير دشپی لږ د مخه يعنی وروسته د تهجد تر لمانځه وه هغه چا ته چي پر ځان يې اعتماد وي چي زه په سدس اخير کی دشپی بيداره کيږم» في الحديث الصحيح: قَالَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام» مَنْ خَافَ اَنْ لَا يَقُوْمَ اٰخِرَ اللَّيْلِ فَلْيُوْتِرْ اَوَّلَهٗ وَمَنْ طَمِعَ اَنْ يَّقُوْمَ اٰخِرَ اللَّيْلِ فَلْيُوْتِرْ اٰخِرَهٗ فَاِنَّ صَلٰوةَ اللَّيْلِ مَشْهُوْدَةٌ». ترجمه: عليه السلام وائي که څوك بيريدی چي په اخير کی دشپی به بيداره نه سم. نو هغه سړي دي وتر په اول کی دشپی وکړي. او که د چا طمع وه يعنی غالب گمان يې وو چي په اخير کښی دشپی بيداره کيږم. نو وتر دی په اخير کښی دشپی وکړي. ولې چي دشپی ولمانځه ته ملکی درحمت حاضريږی او دا هم افضل کار دئ.

کنايه: قَالَ فِى الْكَنْزِ وَالْهِدَايَه «وَنُدِبَ تَعْجِيْلُ مَا فِيْهِ عَيْنٌ يَوْمَ غَيْمٍ» اَىِ الصَّلٰوةُ الَّتِىْ فِىْ اَوَّلِهَا لَفْظُ الْعَيْنِ كَالْعَصْرِ وَالْعِشَاءِ» په هغه ورځ کی چي غين په کښی وي يعنی الغيم

فائده: طالبان چي چي پس له لمانځه د ماخستن کتابونه مطالعه کوي نو گاهی چي

Maktaba Tul Ishaat.com

ستړي سي یا خوب غلبه پرو کړي نو بیا بیا بله خبري شروع کړي. نو که دغه خبري مباح خبري وي او یا مذاکره د علم وي نو دا سمر منهي عنه نه دئ،، او که مسخري نو کي تا کي او قهقهه خندا وي په کښي وي نو دا سمر منهي عنه دئ،،

داهلِ علمِ تجربه،، که یو سړی د تهجد د لمانځه سره کمالِ محبت لري ، او ذوق قلبي په کښي ويني. او که یو وخت خندي پاته سي . زړه یه ډیر خفه وي او پریشانه وي. نو هغه سړي چي د ده محبّت ورب جَلّ سلطانه ته معلوم دی ، پر هغه کلي وخت چي د تهجد لمونځ پـه کښي ادا کیږي هم دغه سړي بیدار کوي که څه هم لږ وخت د مخه بیده سوی وي. وَاللهُ عَلیٰ کُلِّ شَيءٍ قدیرٌ وبکل احوال عباده خبیرٌ،

مسئَله: که سړي د دی سره چي د تهجد د لمانځه سره یـه محبّت د راودی مگر یوه شپه خندي قضاء سُو. پـه حدیث شریف کښي د دغسی سړي په باره کښي آنحضرت صَلی الله علیه وَسَلم فرمائیلی دي. چي دغـه سړي ته هغو مره رکعتونه وکړي د څا بنت پـه وخت کی د صَلوٰة اللیل ثواب خدای پاک ورکوي.

فائِدَه: که سړي د صلوٰة اللیل د پاره وخت معلوم کړي یعني مثلًا چي زه به نیم ساعت نفل کوم نو هغه لره لنډ لنډ سُورتونه ویل پکار دئ. تا چي پـه دغه نیم ساعت کي ډیر رکعتونه او ډیری سجدي وکړای سي،، او که چیري د تعداد د رکعتو معلوم کړي وُو مثلًا ٨ رکعته نو هغه دی پـه هر رکعت کښي اوږد قرائت وَائیٔ ثواب یه ډیر دئ.

پوه سَـه: چي آنحضرت صَلی اللهُ علیه وَسَلم (٤) رکعته تهجد بیله وترو هم کړي دی او (٦) رکعته بیله وترو هم ثابت دی. او (٨) رکعته بیله وترو هم ثابت دي. لکن دغه عدد په اکثرو اوقاتو کښي ثابت دي او پـه بعض روایاتو کښي (١٠) رکعته بیله وترو هم راغلی دي.

بیت ؎ هر دم از ما صد درود و صد سلام ؛ بر روان پاک آنحضرت مدام ؛ بیت : صبا مدینی میں مصطفیٰ سے ہم غریب کا سلام کہنا نہیں ہے کوئی بجز تمہارا بس میرا اتنا پیام کہنا ؛ بیت ؎ الٰہی بحق بنی فاطمہؓ ؛ کہ بر قول ایمان کنم خاتمہ.

؎ د دعا په طمع زه عُبید الله یم ؛ هغه چا ته چي لوستونکی د کتاب دئ.

اللهم اغفر لمولفه ولکاتبه ولوالدیهما.

فَصْلٌ

یعني في بَیان الاوقات المکروهة،

ثَلَاثَةُ اَوْقَاتٍ لَا یَصِحُّ فِیْهَا شَیْءٌ مِنَ الْفَرَائِضِ وَالْوَاجِبَاتِ دری وختونه دی چي نـه صحیح کیږي پـه دوئ کښي هیڅ شئ د فرضو لمونځو او د واجباتو **اَلَّتِیْ لَزِمَتْ فِی الذِّمَّةِ قَبْلَ دُخُوْلِهَا** هغه فرائض او واجبات چي پـه ذمه کښي د سړي لازم سوی وي د مخه تر دخول د دغو وختو. **پـوه سـه:** چي مراد مکروه نه د لته متعارفه د هغه مراد نه دَه بلکه معنای لغوي مراد ده نو مفسد وخت ته هم شامل سُو. **فـائِـدَه:** مُراد عدم نه عدم صحت د اداءً وقضاءً. د واجبا تو مثال ،، صَلوٰة الوتر، نذر مطلق، دوه رکعته د طواف او هغه نفل چي شروع پـه هغو کي په وخت صَحیح کښي کړي وي. او بیا یه فاسد کړي وي او هغه سجدهٔ تلاوت دی چي ایت د سجدي یه په وخت صحیح کښي ویلی وي. بحر الرائق نقل کړي دی د محیط نه چي سجده سهو لکه سجدهٔ تلاوت دَه ،، حتی پر یو چا سجده سهوه وه . او پس له سلام نه وخت مکروه داخل سُو، دی به سجده سهوه نه کوي بلکه ساقط سوه ولې چي دا سجده پر ده پـه وخت کامل کښي لازمه سوی. نو پـه وقت ناقص کی اداء صحیح نه ده ،،

مُهِمَّه خَبَرَه لعض عوام تر لمانځه وروسته یوه سجده کوي. دا سجده مکروه ده - بالاجماع. ولې چي د عوامو خیال دا دی چي دا سجده واجبه یا سُنت ده او سجده شکر مشروع ده مثلًا یو چا ته بـه خوشحال کوونکی خبر چا ور ساوه. نو دی د شکر د پاره یه سجده وکړه - نو ځکه پـه قنیه کی وائي چي سجده شکر مکروه ده په هغه وخت کی چي نفل په کښي مکروه وي. قـالَ المُصَنِّفُ ،، اَلاَوَّلُ،

عِنْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ اِلیٰ اَنْ تَرْتَفِعَ اول یـه وخت کی د راختو د لمر حتی چي پورته راسی پـه قدر د یوی نیزی

یادوو، چې علامه یه دادہ چې د لمر رنګ او نور سپین سي، **پوښتنه** بعض عوام هم د غر وخت مکروه کې د سحار لمونځ کوي. نو بايد سري لئ منع کی او که نه؟ **جواب** څوك دی نه منع کوي ولې چې دوی یه بیا قضاء هم نه راوړي. نو د غر لمونځ پر قول د بعض مجتهدینو خوړوادی نو کول یه اولی دی تر ترک باالکلیه» مر» قال المصنف»

ووقتُ اِستوائِهَا اِلیٰ اَنْ تَزُوْلَ او دوهم هغه وخت چې لمر وسط السماء يعني نصف النهار ته ورسيږی بيا تر وخت د زوال. په شامی کی وائي چې تعبیر د استواء اولی دی تر هغه عبارت چې په بعض کتابوکښې د فقه ليدل کيږي. قَالَ المصنفُ»

وَعِندَ اِصْفِرَارِهَا اِلیٰ اَنْ تَغرُبَ او دریم وخت دی د زیړوالي د لمر بیا تر غروب پورې، په حدیث د عقبه بن عامرؓ راغلی دي. ثَلَاثَةٌ نَهَانَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ نُّصَلِّیَ فِيْهَا وَاَنْ نَقْبُرَ مَوْتَانَا. عِنْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ حَتّٰی تَرْتَفِعَ وَعِنْدَ زَوَالِهَا حَتّٰی تَزُوْلَ وَحِيْنَ تَضِيْفُ لِلْغُرُوْبِ حَتّٰی تَغْرُبَ» رواه مسلم» عقبه بن عامرؓ روايت کوي چې درې وختونه چې مونږ رسول الله صلی الله عليه وسلم نهی کولو چې مونږ په هغوکښې لمونځونه وکړو او يا مونږ مړي په دغه وختونکی ښخ کړو. **پوښتنه**: چې مراد د ښخيدو نه د مړو صلوة الجنازة دی. ولې چې ښخول د مړی په دغو وختوکښې روادی. او په بل روايت کی د دغه حديث صراحت راغلی داسی: وَاَنْ نُّصَلِّیَ عَلٰی مَوْتَانَا. او مراد د زوال نه استواء ده کما مَرَّ. **فَائِدَه**: د امام ابو يوسفؒ نه روايت دی. چې د سحار لمونځ په دغه وقت مکروه کی روادی. چې څنګه ول د لمانځه تر دغه پورې قصداً نه وي.

فَائِدَه مُهِمَّه: پوښتنه چې درود بر عليه السلام يا تسبيح وغيره په دغو اوقاتِ مکروهه ووکښې افضل دی تر تلاوت د قرانِ عظيم الشان» ولې چې تلاوة القران څو کن د لمانځه دی او لمونځ خو مکروه دی» فَالْاَوْلٰی تَرْكُ مَا كَانَ رُكْنًا لَهَا قاله فی البحر» ط»

مسئله که سرئ د سحار په لمانځه کښې وو او لمر پر راوختی بعض فقهاء وائی چې

لمونځ یه یک لخته باطل دی یعنی نه فرضی دی او نه نفل، نو بناء پر دغه مذهب که څوك په دغه لمانځه کی قهقهه خندا وکړي او دس یه نه پرماتیږي. ولې چې د لمانځه نه خارج دی. او بعض فقهاء وائي چې دغه لمونځ نفلی ګرځيد ه دَه. او د فرضی لمانځه قضاء پر لازمه دَه» نو که چیری دی په دغه لمانځه کښې وخاندی او دس یه ماتیږي» قَالَ

وَيَصِحُّ اَدَاءُ مَا وَجَبَ فِيْهَا مَعَ الْكَرَاهَةِ او صحيح دی اداء د هغه عبادت چې واجب سی پر سړي په د غو اوقات مکروهه ووکښې. او دا هم ظاهر الروايت دی. او کراهت یه هم تحریمی دی. او بعض علماء وائي چې کراهت په کښې نشته» قَالَ المصنفُ

كَجَنَازَةٍ حَضَرَتْ وَسَجْدَةِ اٰيَةٍ تُلِيَتْ فِيْهَا لکه یوه جنازه چې حاضره سی پر دغو مکروهو وختوکی، او یا سجده تلاوت کول د هغه ايت د پاره چې په دغه وخت کی تلاوت سی» لکن بحر الرائق او نهر والا او په تبنین او په ایضاح کی وائي چې د جنازی لمونځ دی نه ځنډوی او په دغو مکروه وختوکی هم. او هم په د غو وختوکی کول تر نه کولو افضل دی دی معنیٰ دا ده چې صلوة جنازه په دغو وختوکی مکروه نه دی. بلکه ځنډول یه مکروه دی لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ» ثَلَاثٌ لَا يُؤَخَّرْنَ، جَنَازَةٌ اَتَتْ. وَدَيْنٌ وُجِدَ مَا يَقْضِيْهِ. وَبِكْرٌ وُجِدَ لَهَا كُفُوٌ» قَالَ الْمُصنفُ»

كَمَا صَحَّ عَصْرُ الْيَوْمِ عِنْدَ الْغُرُوْبِ مَعَ الْكَرَاهَةِ لکه چې صحيح دی کول د مازدیګر د لمانځه د دغی ورځی په نیژدی غروب سره د کراهته» **پوښتنه**: چې دا اليوم فائده داده چې دپروند مثلاً قضائي د مازدیګر لمونځ د ننی ورځی په وخت مکروهه کی صحيح نه دی ولې چې د مازدیګر لمونځ چې قضاء سی نو تیوله وخت په سبب د قضاء دی او تیوله وخت د مازدیګر خو په اعتبار د پیر اجزاء کامل دی نو دغه قضائي لمونځ کامل لازم دی. نو په ناقص من کل وجهٍ کی کول روا نه دی. کذا فی نور الانوار والهدایه وغيرهما.

Maktaba Tul Ishaat.com

مسئله: که چیری جنازه په وخت کامل کی حاضره سوه؛ وه او خلکو تر وخت مکروه پوری وځنډول او بیا یه په وخت مکروه کښی اداء کړل. اویا سجدهٔ تلاوت په کامل وخت کی لازمه سوی وه او تر وخت مکروه پوری وځنډول نو نی لمونځ د جنازی صحیح دی او نه ئی سجدهٔ تلاوت صحیح ده بلکه د واړه به بیرته راګرځوي. بحر، ائق»
لکن اسبیجابیؒ وائي چی د جنازی لمونځ سره د کراهته صحیح دی را ګرځیده یه نسته او سجدهٔ تلاوت دی راوګرځوی» ط»
قال المصنف،

وَالْاَوْقَاتُ الثَّلَاثَةِ يُكْرَهُ فِيْهَا النَّافِلَةُ كَرَاهَةَ التَّحْرِيْمِ

او په دغو دریو وختو کښی مکروه دي نفلی لمونځونه په کراهت تحریم سره» قال،

وَلَوْكَانَ لَهَا سَبَبٌ كَالْمَنْذُوْرِ وَرَكْعَتَي الطَّوَافِ

که څه هم دغو نفلو لره سبب وي لکه چی سړي نفلی لمونځ دوه یا څلور رکعته پر ځان نذر کړي وي. اویا یه طواف پر بیت الله شریف کړی وی چی هغه سبب دی د دوو رکعتو کولو د پاره دی خو بیا هم مکروه تحریمی دئ. **پوهسه**: چی په دغو نفلو لمونځو چی سړي په دغو اوقاتو مکروهه وو کښی شروع وکړي قطع یه پر لازمه ده. او بیا ی اداء په کامل وخت کی وکړي. په ظاهر الروایة کی. او بعض فقهاءؒ وائي چی نفل په دغو وختو کښی ګرسره صحیح نه دي داسی نه ده چی مکروه دی وي. **فائده**: د غه رنګه مکروه دی دوه رکعته نفل تحیة الوضوء اویا تحیة المسجد. او بیا دوه رکعته د کسوف سنت لمونځ. او د غه رنګه مکروه دي دوه رکعته سنت د سحار په وخت کښی د طلوع د لمر. او د حضرت الامام ابو یوسفؒ څخه روایت دی چی نفل په وخت کی د استواء د جمعی په ورځ روا دي، ط

وَيُكْرَهُ التَّنَفُّلُ بَعْدَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ بِاَكْثَرَ مِنْ سُنَّتِهٖ

او مکروه دی نفلی لمونځ کول پس له راختو څخه د سپیدو بالاتر دوو رکعتو د سنتو.

قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لِيُبَلِّغْ شَاهِدُكُمْ غَائِبَكُمْ اَلَا لَاصَلٰوةَ بَعْدَ الصُّبْحِ اِلَّا رَكْعَتَيْنِ..
ترجمه: یعني وادې رسوی حاضر ستاسی وغائب ستاسی ته چی اګاه وو سی چی نسته لمونځ پس له سپیدو څخه مګر دوه رکعته» قال **وَبَعْدَ صَلٰوتِهٖ**: او د اغه رنګه مکروه دی نفل تر سله فرضی لمانځه څخه د سحار **فائده**: په حدیث شریف کی راغلی دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د سحار په سنتو کښی قُلْ يٰاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ، او قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ. وایه او د علم تصوف بعض اکابر علماءؒ لکه امام غزالیؒ وائي که څوک همیشه تو ب وکړي د سحار په سنتو کی په اول رکعت کی پ اَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ، سورت باندي، او په دوهم رکعت کی، اَلَمْ تَرَ كَيْفَ سورة باندي کافی ده د ه لره د شر څخه د دښمنانو، او د، درد ناکه ناجوړیو څخه. قال المصنف

وَبَعْدَ صَلٰوةِ الْعَصْرِ

او د غه رنګه مکروه دي نفل وروسته تر مازدیګر د لمانځه که لمر تغیر کړي وي او که نه: لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام علی ما رواه البخاري ومسلم: لَاصَلٰوةَ بَعْدَ صَلٰوةِ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ وَلَاصَلٰوةَ بَعْدَ صَلٰوةِ الْفَجْرِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ» یعنی نسته هیڅ لمونځ پس له لمانځه څخه د مازدیګر تر هغو چی لمر لویږي او نه هیڅ لمونځ سته وروسته تر لمانځه د سحار تر هغو چی لمر راخیژي». قال المصنف

وَقَبْلَ صَلٰوةِ الْمَغْرِبِ

او مکروه دی نفل کول د مخه د ماښام تر لمانځه: لقوله علیه الصلوة والسلام: بَيْنَ كُلِّ اَذَانَيْنِ صَلٰوةٌ اِلَّا الْمَغْرِبَ یعني په مابین کی د هرو دوو اذانو یعني اذان او اقامت لمونځ سته یعني نفل مګر د ماښام د لمانځه د اذان او اقامت تر مابین.

پوښتنه: علماءؒ وائي چی لږ ځنډول د ماښام د لمانځه روا دی او مکروه نه دئ. نو که سړي دوه سپک رکعته نفل وکړي څه پروا لري: **جواب**: ابن الهمامؒ وائي چی مراد د هغه تاخیر څخه دا دی چی تر دوه رکعته کم تاخیر وي: قال ابن عمرؓ مَارَاَيْتُ اَحَدًا عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يُصَلِّيْهَا: یعني ما نه دی لیدلی هیڅ څوک د اصحابوؓ په زمانه کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم چی دغه دوه رکعته نفل دي کوي، او ابراهیم نخعیؒ وائي چی دغه دوه رکعته کول بدعت دئ. ط»

قَالَ المصنفؒ **وَعِنْدَ خُرُوْجِ الْخَطِيْبِ حَتّٰى يَفْرُغَ مِنَ الصَّلٰوةِ**

او داغه رنګه مکروه دي نفل کول په وخت کښې د راوتو د خطیب خپل ځای نه یعنی د ځاږه د خطبې تر هغه وخته پورې چې د جمعې لمونځ ادا کیږی» او داغه حکم دی د اخترو د لمونځو او د حج د خطبو په عرفات کی.

پوښته: چې د خروج الخطيب لفظ بناء پر عادت قدیمه دی چې خطیب به په جامع مسجد کی یو خلوت د رلودی چې په هغه خلوت کښې بی خپل سُنت وکړه چې وخت د خطبې به سو نو به د خلوت نه راووتی» زمونږ په زمانه کښې په اکثرو ځایو کی خطیب د مخه په جامع مسجد کی موجود وی. او پس له اذانِ اول نه سنت هم دالته په مسجد کی کوی» نو پر دې عادت بناء هغه وخت نفل مکروه دی چې دی د منبر و خواته ولاړ سي.

مسئله که پر سړي باندی قضائی لمونځ واجب الترتيب لازم وُو. د هغه قضاء راوړل هم په دغه وخت کښې مکروه دي. کَمَا فِی الدر المختار، ط»

فائده: که سړئ پر نفلو ولاړ وو یا پر سُنتو د جمعې د مخه ۴ رکعته یه کولې چې امام الجمعة منبر ته وختو نو حکم دا دی چې نفل وَالا خو دی پر دوه رکعته سلام وګرځوی کی څه هم نیت د څلورو رکعتو کړی وي. او د اخیری دوو رکعتو قضا نشته باندی ولې چې شروع یې نه ده په کړې او سنت والا دی خپل څلور رکعته پوره کړي. لکن په تخفیف سره. د لیل د دی مسئلې د متن دا دی چې او ریدل د خطبو فرض دی. حتی چې امر بالمعروف په دغه وخت کښې حرام دی په روایت کښې د بخاري او مُسلم راغلی دي. اِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ اَنْصِتْ وَالْاِمَامُ يَخْطُبُ فَقَدْ لَغَوْتَ» که ته وَوَایه وَبَل سړي ته چې هغه خبرې کولې. چپ شه خوله سه» او امام خطبه وَیله نو تا هم لغو کار وکړی نو دا خو امر بالمعروف وو او نَهی عَنْدی راغلی» نو نفل خو په طریق اولی حرام دي»

سنهانه فائده په کتابو کښې د فقهی شریفې وائي چې څه وخت چې خطیب پر مابین کښې د دوو خطبو جلسه خفیفه کوي هم د غه وخت د اجابت د دعا دی

نو خلک کولای سی چې بیله لاسو پورته کولو یوه سپکه دعا وکړی څو چې امام د دوهمې خطبې ته و ولاړیږی» فقط» قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَعِنْدَ الْاِقَامَةِ اِلَّا سُنَّةَ الْفَجْرِ او مکروه دي نفل په وخت کښې د اقامت د مونږ د پاره د لمانځه پر فرضی لمونځ چې وی مګر نه سُنت د سحار چې هغه د اقامت په وخت کښې به هم کوی. لکن دا چې په یقین وي چې زه سُنت کوم جماعت نه راسره تیرېږی او که جماعت تیریدی بیا دی سُنت پرېږدي.

پوښته: چې افضل د سُنتو د پنځو لمونځو سنت د سهار دئ. په صحیح حدیث کښې راغلی دي. رَكْعَتَا الْفَجْرِ خَيْرٌ مِّنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا» یعنی دوه رکعته سنت خیر دی تر دنیا او چې پر دنیا کښې څه شیان دي.

او په بل حدیث کښې داسې راغلی دي. صَلُّوْهُمَا وَاِنْ طَرَدَتْكُمُ الْخَيْلُ» تاسې دوه رکعته سُنت د سحار کوئ. که موږ هم آسان تر پښو لاندې کوي. او د جماعت په لمانځه کښې بیا پر حدیث د وعدا او وعید راغلی دئ. چنانچه په صحیح حدیث کښې راغلی دي، صَلٰوةُ الْجَمَاعَةِ تَفْضُلُ صَلٰوةَ الْفَذِّ بِخَمْسٍ وَّعِشْرِيْنَ دَرَجَةً» وَفِي رِوَايَةٍ بِسَبْعٍ وَّعِشْرِيْنَ دَرَجَةً» او نور هم احادیث مبارکه بیخی ډیر دي. چې د تهولو راوړل د لته ګران دئ. او اِنْ شَآءَ اللهُ په خپل ځای کی به راسی» حتی چې د ابن عباسؓ نه څخه چا پوښتنه وکړه چې یو سړي دئ چې د شپې تهجد کوی او ورځې نفلی روږی نسی لکن لمونځ په جماعت نه کوی قَالَ هُوَ فِي النَّارِ» نو د دې سببه که څوک د سحار د لمانځه د اقامت په وخت کی سُنت الفجر وکړی او بیا جماعت ته هم ورسیږي نو د دواړو فضیلت او ثواب په پیدا کړه. او کی د دواړو نه سوای پیدا کولای» نو دی سُنت پرېږدي. او جماعت دی وکړي. ولې چې د پر یښولو احادیث مُبارکه په ډیرو سختو الفاظو سره راغلی دئ.

فتوی

په بعض کتابو کښې د فقه شریفې لیدل کیږی. که د سړي داسې عقیده وه که زه سُنت د سحار پوره کوم نو د جماعت د دواړو رکعته راڅخه تیریږی او صرف په اخیر ناسته کښې جماعت ته رسیږم، نو دی د بې سنت پرېږدي. او دا هم مذهب د امام محمّد دئ. لکن دا هلته چې

Maktaba Tul Ishaat.com

ده شروع په سُنتو کړې وي، لکن امام طحطاوئ د نورالایضاح او مَراقی په شرح کښې وائي چې دَ غه سَړي چې شروع یې په سنتو کړې وي سُنت دې نه قطع کوي. دَ تشهد پر نیولو سره ده ته ثواب دَجماعت رسیږي. عِند ائمتنا الثلاثة، دَرَو لیش وائي چې دَ قید نه د بعد الشروع داسې فهمیږي که چیرې د مخه تر شروع په سُنتو دَ سَړي ورته ګمان وونو سُنت دې پرېږدي.

مَسَائلُ السُّنَن

پوه سه: چې هغه سُنت چې دَ مخه تر فرضي لمونځ دي. هغه دِ سَړي یا په کور کښې کوي، وَهُوَ الافضل، او یا دې د مسجد د دروازې سره وکړي که ځای وُو، او که ځای نه وُو. او مسجد دوي برخې در لود ئې. نو په هغه برخه کښې دې سنت اداء کړي چې په هغه برخه کښې جماعت نه وي ولاړ. او که مسجد یو وُو نو دې سُنت ویو تنبیه نه وکړي. او یا دَ مسجد په اخیري حصه کې چې د صفو نه د جماعت لیرې وي، او په صف کې د جماعت د ننه سنت کول ډیر سخت مکروه دي. او د غه رنګه دَ صف وشا ته مُتصل سُنت کول مکروه دي، (وهغه سنت چې وروسته تر فرضو وي، پس افضله داده چې کور ته یې وکړي او کې خوف وُو چې د سُنتو ځنې به په بل کار مشغوله سمه، نو په هر ځای کې دَ مسجد چې اداء کوي هلته دې اداء کړي که څه هم په ځای کښې د فرضي لمانځه وي. او بنه داده که ځای وو چې یو څه پر مخ یا پر شا سي.

او په بحر رائق او کافی کښې وائي چې امام تر په ځای کښې د فرضي لمانځه سُنت کول مکروه دي. لکن دا کراهت په صورت کښې ددې دَ ئې چې امام ته دَ تحول امکان وي. او که ځای د تحول دَ تحول نه وو بیا کراهت نشته، لان الضرورات تبیح المحذورات، قال

وَقَبْلَ العِيدِ وَلَوْ فِي المَنْزِلِ وَبَعْدَهُ فِي المَسْجِدِ

او د غه نفل مکروه دي دَ مخه د عیدګاه د لمانځه که څه هم دا نفل دي کور کوي. او پس دا ختر د لمانځه نفل مکروه دي مګر په عیدګاه کې او کور نفل کول مکروه نه دي، او دا هم مذهب دي د جمهور علماؤ. دلیل ددې مسئلې دا دی چې په حدیث شریف کې راغلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هیڅ نفل نه کول د مخه تر عیدګاه او چې د عیدګاه ځنې به راغلی دوه رکعت نفل به یې په کور کښې کوله. نو سره ددې چې آنحضرت صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم ډیر حرص در لود په نفلي لمونځو چې دَ مخه تر عیدګاه یې نفل نه کوله نو معلومه ده چې مکروه دي. ولې که کرنه وای مکروه نو کم از کم یو وار، یا دوه واره خو به کړي وای دپاره د بیان د مباح والي که قال الحلبیؒ. قَــالَ المُصنفُ،

وَبَيْنَ الجَمْعَيْنِ فِي عَرَفَةَ وَمُزْدَلِفَةَ

او د غه رنګه نفل مکروه دي په مابین کې د دوو لمونځو چې جمع کیږي په عرفات کې یعنی ماپښین او ماز دیګر، او یا جمع کیږي په مزدلفه کې یعنی د ماښام لمونځ او د ماخستن لمونځ **پـوه سـه**: چې مصنفؒ په مَراقی کې وائي که څه هم د عرفات په جمع کې د ماپښین سُنت وي، او د مزدلفې په جمع کې که څه هم د ماښام سُنت وي پر صحیح روایت په مَدهب کې. ولې چې آنحضرت صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم ددې دوو جمعو په مابین کې هیڅ لمونځ نه دی کړی، قـَـالَ المُصنفُ،

وَعِندَ ضِيقِ وَقْتِ المَكْتُوبَةِ

او د غه نفل یعنی بلکه سُنت هم په نیږدې تنګ والي د وقت د فرضي لمانځه. دلیل یې دادئ چې که سَړي نفل یا سُنت کوي فرضي لمونځ ځندې قضاء کیږي. نو فرضي لمونځ چې دده په ذمه کې لازم دی هغه دې اداء کړي. نفل یا سنت خو پرېږدل لازم نه دي. بلکه وخت د فساد دَ لمانځه نژدې وُو. لکه دَ لمر اختل، نو تېموله سُنت یا تطویل د قرائت دې پرېږدي په ادنی ما یکفی سره دې فرضي لمونځ اداء کړي، ط، ح، قَالَ المُصنفُ

وَمُدَافَعَةِ الأَخْبَثَيْن

او د غه رنګه نفل مکروه دی بلکه فرضي لمونځ هم په وخت کې د دفع کولو دیوه د خبیثو شیانو، یعنی چې غولو نیولی وي تېنګې یا بولو نیولی وي او یا ګوز او پسکې. بلکه هغه کار دې فیصله کړي بیا که فرض کوي او که نفل، ولې چې هوښیار سړي اول د مُدعی کار ور کوي بیا نو که ور چې او که غونبې خورې نوش جان دې سي،

وَحُضُورُ طَعَامٍ تَتَوَقَّهُ نَفْسُهُ وَمَا يَشْغَلُ البَالَ وَيُخِلُّ بِالْخُشُوعِ

او دغه رنګه نفل مکروه دي په وخت کښې د حضور د خوړلو شئ چې ډېر شوق مند وي نفس ده وهغه خوړلو شئ ته، او دغه رنګه مکروه دي نفل په وخت کی د حضور د يو شی چې ده زړه پــه مشغوله کيږي او ده وخشوع او حضوريته د لمانځه خلل رسوي. داعطف دعام دی پر خاص بابندی مثلًا دده يو ګران دوست راغلی وي، چې دده په په رغبر او په پوښتنه د جوړيا ناجوړه په لمانځه کی سوداوي، او يا مثلًا يو مسکين سړي ته يو غني موړ سړي ميلمه راغلی وي. چې د مسکين داخيال وو. چې زکوة يا خيرات بی راوړي وي او په زړه کی داغه سوداوه نودی دیے نفل نه کوی سړی د دغه شغل قلب بلکه سوداړي وکانډی بيادی فارغه زړه نفل وکړي. او که سړي په انسانی حالاتو کښی بنه غور اوفکر وکړي د شغل قلب اسباب ډېردي.

حاصل دادی چې نفل د هغه وخت سړي کوم چې حضور د عظمت دخدای جل سلطانه کولای سی او بيره او اميد په لمانځه کی د خدای جل شانه څخه پيدا وي، **تــتــمّــه**: پس لر سپيد و څخه خبری بيله ضرورته دچا سره کول مکروه دي. تر هغه وخته چې د سحار لمونځ کړي مګر خبری د خير او علم مکروه نه دي. او که سړي سنت د سحار وکړه او بيا يه تر فرضو د مخه بلا فائدہ خبری وکړي مکروه خو په اتفاق دی لکن بعض فقهاء وائي چې سُنت ئي باطل سوه بيرته دې راوګرځوي، او بعض علماء وائي چې د سحار تر لمانځه وروسته د لمر تر راختو د مخه دی سړي په يو حاجت يا يو کار پسې نه ځی. لکن صحيح دا ده چې پروا نه لري، ط" او د ماخستن تر لمانځه وروسته بيفائده مجلسونه لکه د عوامو چې عادت دی ګناه او مکروه دی. ولې په حديث پاک کی راغلی دی چې آنحضرت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوب د مخه د ماخستن تر لمانځه او خبری وروسته تر هغه مکروه ګڼرلې، بَيت سه بيالينم جبيبي يا طبيبي: ازين دو گر يکي بودي چه بودي"

سه بهار مردمان عيداست ونور: بهار عاشقان ديدار ياران: چشم بد انديش که برکنده باد: عيب نمايد هنرش در نظر"

سه آنان که ذره وار بصورت محقر اند: فرداز خيال وناز بفردوس ننگراند:

دعاقل سړي کار پوه سه که يو وخت په يو مطلب پسی روان وي. او په بازار کی سپی دړته وغپله. خپل تګ ادامه ورکړه، او د سپی سره به شخړه ځان مه اخته کوه که څه هم غټ او کُټه سپی وي. ولې د بازاری سپی داغه غفاده" سړی پسی داړلای. يو څو زمانه به غاپي اخير بــه ستړی سی، او يا بی يو بل خوك پر دا سی په دانګ وو هي. نو به سړي پر خپړو کښېنی دي لکی بـه تر ځان لا ندی کړي غفا به پريږدي ماته پير واره په تجربه ثابته ثابته سوی ده" مر حي معنا د دغه عبارت او کنائی معنی دواړی وسنجوه. هم دا اوس د مکروهاتو باب خلاص سو. او باب الاذان شروع کيږي اِن شَآءَ اللّٰهُ تَعَالٰی"

حضرت ابو الفضل ايوبي ته"

رسموو او ريده نعره ای افغانا نومبارك
په پښتو ژبه دين آسان کړو عالما نومُبارك

دسجدی سرونه کښته کړي خپل رب ته همېش.
چې مسائلی ټول واضح کړی وارثا نومُبارك

دافغان تاريخ به بياب ناز کی ګرم
ايوبي چې قلم بوی ته کړ زمريا نومبارك

نن ګلزار محمدؐ ډير معطر را معلوميږي
ايوبي بُلبل ميلمه دئ بلبلا نومبارك

رحمت شملې بوی ته د اسمان په لوړ جګيږي.
دا تاريخ، دا فقاهت ای اتلا نومبارك

چې قلم زه حقانی دده په وصف ګرځندی کړم
نه رسيږی حقيقت ته حقانيا نومُبارك

Maktaba Tul Ishaat.com

باب الاذان

باب دی په بیان کی د اذان، **پوښتنه**: چی علامه شامی په رد المحتار کی او مصنف په
مراقی الفلاح کی وائي. چونکه اوقات د لمونځو اسباب ظاهره وو د پاره د لمونځو او د پاره
د خبره ولو د خلکو په نعمت الهی چې لمونځونه دي. نو ددې وجهی ذکر د وختو مصنف
د مخه کړې، **پوښتنه**: چې په اوقاتو د لمونځو خبرتیا د خواصو خلگو کار دی،
چې علماء دی چې هغوی وختونه د لمونځو په علامات شرعیه وو سره معلوم ولای سي
لکه دیك چندی دوچندی، وغروب الشفق، وطلوع الفجر په ذریعه، او اذان د پاره د
پاره د خبرولو د عوامو دی په وختو د لمونځو، نو چونکه خواص تر عوامو شرافت لری نو ددي
کبله اوقات الصلوة تر اذان د مخه مصنف ذکر کړه،

پوښتنه، آذان کله مشروع سوی دی **جواب**: بعض وائي چې په اول کال کی د
هجرت او بعض وائي چې دوهم کال کښی د هجرت په مدینه منوره کی **پوښتنه**
اول باعث د مشروع والی د آذان څه شی وو **جواب**: څه وخت چې آنحضرت صلی الله
علیه وسلم او اصحابؓ په مدینه منوره کی سره جمعه سوله، او مسجد نبوی تعمیر سو. او د
جماعت لمونځونه په هغه مبارك مسجد کی شروع سوله. نو اصحاب کرامؓ ته دا مشکل پیښ سو
چې اوقات د جماعت نبوی به نه ور معلومیده. ولې چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم
به بعض لمونځونه چې صحابهؓ به ډیر راغلی وه وختي بی اداء کړي. او بعض اصحابؓ چې وختی
به نه وه راغلی د هغو څخه به د جماعت لمونځ تیر سو. او بعض صحابهؓ چې د جماعت نبوی بی
ډیر حرص درلودی. په بعضو وختو کی به ډیر وختی مسجد ته راغلی وه. او بیا به ډیره انتظا
څخه به جماعت ودریدی. نو ددې مشکل د پاره موضوع وحضور انورؐ ته پیش سوله.
او آنحضرت صلی الله علیه وسلم صحابهؓ د مشوری د پاره راوغوښتل. چی د جماعت
د ټیکولو لمونځو د پاره یو علامه کښیږدي، چې پس هغه علامه باندی خلك لمونځ ته راځی
نو په دی سره به هغه مشکل مذکور دفع او رفع سي. نو په دی مشوره کی بعض صحابهؓ

ناقوس پیش کړي چې هغه یو وسپنه بڼ وسپنه وهی چې زنګ یه بولي، فقال صلی الله علیه
وسلم هو للنصاری، دا ناقوس علامه د عبادت د نصاراوو دی. یعنی په دینی شیا نو کښی
اسلام د کفارو سره مشابهت نه قبلوي. او بعض کسانو بوق د علامی د پاره وړاندی کړي
چی هغه ته ترم یا ښکر وائي: علیه الصلوة والسلام وویله هو للیهود. او بعض خلگو
داور بلیده په وخت کښی د لمانځه د علامی په توګه وړاندی کی: آنحضرت صلی الله
علیه وسلم وویله، هو للمجوس، او په بعض روایاتو کښی راغلی دی که څه هم بخاري
او مسلم دغه روایت نه دی راوړی. چې بعض خلگو وویله چې ډول یا دریه ټکول دی
د لمانځه علامه سي. آنحضرت صلی الله علیه وسلم وویله: هو للروم، او حضرت عمرؓ
وویله: اولا تبعثون رجلاً ینادی بالصلوة، ایا تاسی نه باعث کوی یو سړی چې د
لمانځه په وخت کښی دی په زوره نعره کوي. آنحضرتؐ دا رایه خوښه کړه او یو
سړی وټاکی چې د لمانځه په وخت کښی د ټه دا نعره کوي:
الصلوة جامعة. پس له څو ورځو څخه چونکه، الصلوة جامعة، یو نعره وه د چا غوږو نو
ته به ور سیده او چا به نه وا وریده، او ډیری خلگو خوب څخه نه اوریده. او که کم سړی
به په یو شغل اخته وو هغه به هم نه وا وریده. نو هغه مذکور مشکل تقریبا الآن کما
کان باقی پاته وو. بیا دی مشکل د حل د پاره به حضور انورؐ کی د مشوری مجلس جوړ سو
به دوهم مجلس کی هغه د نا قوس او بوق، او اور، او ډول، نو مان مجلس ته وړاندی سوله
او د آنحضرت صلی الله علیه وسلم د خوا رد سوه. او مجلس بیله کومی فیصلی پای ته ورسیدی
راوی وائي چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم د دی مجلس څخه غمجن ولاړ سو، عبدالله
ابن زیدؓ وائي چې په سبب د غم یعنی غم د آنحضرت صلی الله علیه وسلم، زه ددې شی ډیر
غمجن وم. دیؓ وائي چې زه په ما بین کښی د ویښ او بیده وم. یعنی په غرق خوب سره
نه وم بیده سوی چې په خوب کی می یو سړی ولیدی چې شنی جامی یه اغوستی وې او
پر یو ټوټه د دیواله ودریدی. او په لاس کی ناقوس وو، ما ور ته وویله چې دا ناقوس
وو، ما ور ته وویله چې دا ناقوس نه خرڅوی ده راته وویل چې ناقوس ته څه کوي. ما ور ته

وو ویله چی مونږ په نا قوس سره د لمونځو وختونه معلومه وو، د پے سرې را تروویله
چی زه تر نا قوس بنه شئ دپوره ته مطلب دپاره در ته وښیم، ماورته وویله چی هو را اوې
ښیه، نودی وقبلی ته مخامخ ودریدی. اووی وئیله ‹‹ اَللّٰهُ اَکْبَرُ تر اخیره پورې د اذان
دکلمو. اوبیا هغه سړی پس له لږ درنګه څخه کلماتِ د اقامت شروع کړې. اوپه کښې یه
‹‹ قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوةُ ›› دوه واره وواېه ›› عبد الله رض وائې چې سحار ما داخپل لید لی خوب
په حضورکی د رسول الله صلی الله علیه وسلم عرض کړې. آنحضرت صلی الله علیه وسلم
وویله ‹‹ رُؤْیَا حَقٌّ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ تَعَالٰی ›› دا خوب حق دی که دخدای رضاوه ›› نوځ ماپښین
په وخت کی علیه الصلوٰة والسلام ماته وویل چی ستا دخوب لید لې کلمی وبلال رض ته ور
وښیه ولې چې د بلال رض اواز تر اواز ستا لوړ دی. عبد الله رض وائې چی بلال رض په یوه لوړ
بام په مدینه کښې ودریدی. او ما هم هغه د اذان کلمی ورته وئیلی او ده آذان کاوه. نو دا آذان
حضرت عمر رض په خپل کور کښې واوریدی. نو په لنګ کښې چی اوږې په ښوروَلی یعنی په
ډیر تلوار، وه آنحضرت صلی الله علیه وسلم ته راغلی. اووی وئیله چی قسم په هغه خدای
دی چې ته ئې په حقه سره نبی را استولی ئې.
چې ما هم دغه شئ د شپې په خوب ولیدی لکن عبد الله رض تر ما سبقت وکړې
رسول الله صلی الله علیه وسلم وو ئیله فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ وَاِنَّهٗ لَاَثْبَتُ ›› او دا سی
روایت هم راغلی دی چې، اوو (۷) خلور ولس (۱۴) کسانو هم په دغه شپه ورته خوب
لید لی وو:
په دی کی اختلاف دی چې دخوب سړی څوک بعض وائي چې دا حضرت جبرئیل
علیه السلام وو. او بعض وائي بله ملکه وه. په هر صورت اذان په امر د علیه
الصلوٰة والسلام ثابت دی. او دا خوب صرف یو سبب وو ››

اللّٰهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولوالدیهما ولجمیع المؤمنین ولمن نظر الیها
آمین یا رب العلمین برحمتك یا ارحم الراحمین :

او هغه خبره چې په بعض کتابو کښې راغلی ده چی اذان په ښوونه د حضرت جبرئیل ع
په شپه د معراج په بیت المقدس کی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم نورو انبیاء
علیهم السلام او و بعض ملکوته دجماعت لمونځ ورکاوه ثابت دی. لکن علیه السلام چی د
مشکل په وخت کښې په هغه عمل نه وکی دده، مبارك خیال دا وو، چی هغه آذان د هغی شپې
او لما څخه پورې خاص وو، دروئیش وائی چی په هیڅ حدیث کی د آذان په هغه شپه کښې
تائید نشته که څه هم امامت د هغی شپې په حدیثو مبارکه وو کښې شته ›› والله اعلم بالصواب
جانی وائي ـ دران مسجد امام انبیاء شد ؛ صف پیشینان را پیشوا شد : تاریخ اسلامی خبری کوی
پوښتنه: چی اذان او اقامت دخصوصیاتو څخه د امت مرحومه دی. **سوال**: په
بعض روایاتو کښې راغلی دي چی آدم علیه السلام چی محکه ته را کوز سو څه وحشت ورته
پیښ سو نو جبرئیل علیه السلام دده دوحشت او دهشت د دفعې دپاره اذان وکړی.
جواب: دا روایت خود خصوصیته سره منافي نه دی. ولې چې د خصوصیت څخه دا اذان په
دی امت پورې اذان کول دپاره لمونځو دی نه مطلق اذان ›› امام طحطاوی د دره منیفه څخه
داسې نقل کړی دی. چی د دو مؤذنانو اذان په یوه ځای کول. دبنو امیه وو په خلافت
کی احداث سوی دی. او اول هغه څوك چی پر مناره د اذان په درود پر علیه السلام په بلند
آواز وَیلو ته اجازه ورکړی وه، هغه حاجی بن الاشرف شعبان بن حسین بن محمد بن قلاوون
وو، په امر د محتسب نجم الدین طنبدی او د هغه تاریخ میاشت د برات ۷۹۱ھ دی.
کذا قال السیوطیؒ **سوال**: آیا دا نو بدعت نه دی. **جواب**: علامه طحطاوی
په ۱۱۵۵ه کی وائي والصواب من الاقوال انها بدعة حسنة ›› او بعض مالکیانو د دی پر
خلاف دی. لکه هم دا اوس چی په حرمینو شریفینو کی د رواج نشته ›› او د غه رنګه تسبیح ویل د
مؤذنانو په ثلث اخیر کښې د شپې ››
پوښتنه: اذان په زمانه کښې د آنحضرت صلی الله علیه وسلم په مسجد نبوی کی کیدی
که څرنګه **جواب**: په زمانه کی د علیه السلام چونکه مناره یا بوبل لوړ ځای په
مسجد نبوی کی نه وو. نو بلال رض به په سدس اخیر کی د شپې یوه لوړ بام ته چی پرشا وخوا

Maktaba Tul Ishaat.com

دمسجد نبویؐ ووچې هغه بام دیوی ښځې وُو. دَبنی النجار څخه وَرتې اوهُوری بې اذان کاوه اوپه نورو لمونځو کې هم هغه بام ته وَر تلی اواذان یې کاوه » اواول هغه څوک چې په مسجد کښې جُوړه کړه اوپرهغې مناری بې اذان کاوه سلمه بن خلف صحابی وو رضی الله تعالیٰ عنه چې دمصر وَالاوو په زمانه کې دمعاویه رضـ . اوهغه رواج تردی اوسه پورې باتــه دَی.

پــوښـتـنـه: اذان اواقامت افضل دی اوکه امامت **جَوابْ**: په فتح القدیر کښې وَائي چې په نیزد امام اعظم ابوحنیفهؒ امامت افضل کار دئ ولې چې آنحضرت صَلی الله علیه وَسلم اودغه رنګه خلفاء راشدین رَضِیَ اللهُ تَعَالیٰ عَنهُم پر امامت مواظبت اوهمیشه توب کړی دئ. **سـوَال**: حضرت امیر المؤمنین عمرؓ وَائي: لَوْلَا الخِلَافَةُ لَاَذَّنْتُ » که نه وای شغل په کار ود خلافت چې دهَغه شغل سَره سره مراعات دَوختو د انان نه سم کولای . نوما به اذان کولای ښځله . نو ددې څخه فضیلت دَاذان تر امامت نه معلومیږی ! **جَـوَابْ** : دَقول دعمرؓ معنا داده چې اذان به مې هم کولای یعنی سره دامامتَ **پـوښـتـنـه**: مصنفؒ په مَراقی الفلاح کښې وَائي چې ثبوت داذان په قرآن اوسُنت سره سوی دئ . نوسنت نبویؐ خوهغه ووچې وَړاندی تیر سود قرآن دکوم ایت ثبوت داذان فهمیږي. **جَوابْ** : ثبوت داذان دد ــــے ایت قرآني څخه معلومیږي يَا اَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوٓا اِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ » الآيه » ولې چې دَجُمعی داذان اود نوروا ذانو ترمابین قائل بالفصل نشته »

فـائـدَه: اذان په لغت عربي کښې مطلق خبرتیا ته وَائي . اوپه عُرف کې د شرع شریفې دغه مخصُوصه خبرتیاده » **پـوښـتـنـه**: اذان په بله ژبه بیله عربي روادی اوکه نه ! مثلا په پښتو داسی وَوائي: خدای ډیر لوی دی » وهکذا **جَوابْ** صحیح دادی چې نه دی روا **پـوښـتـنـه**: اذان دنابالغه نر روادی که نه ! **جَـوَابْ**: هُو روادی چې عاقل وي مگر بیا هم شرط دکامل اذان دادئ . چې مُوذن به صالح سَړی وي . اوهم به د لمونځو په وختو سَم پوهیږي . اود مسجد مقتدیا نود جماعت کولو به تفتیش کوي . اوکم څوک چې

جماعت ته نه راځي بې عذره هغه ته به وعظ کوي او زجر بې کوي . اوپر لوړځای به اذان کوي مخامخ وقبلې ته ، اوبلند اواز حسَن الصوت به وي . دا خبرې به عنقریب راسی اِن شآءَ الله » لکن په لوړځای اذان کول پــه اسلامی نړۍ ټوله کې په ټولوښار وکښې هم اوس پاتــه دی حتیٰ فی الحرمَین الشریفین » په دی سبب چې پرمکان بلنده داذان کولو حکمت داوُو ، چې داذان تر ډیره ځای پوری ولاړ سی اوډیر خلګ په خبرسي . اوس چونکه آله دَلاود سپیکر ا بیجا دسوی ده . او هغه تره ځایه آواز رسوي نودَ لوړځای داذان ضرورت نه دی پاته » اوپه فقه شریفه کې داسَله ده چې په سَبب دَتبدل دسَبب حکم بَدلیږي . دمثال په توګه دَجهاد اوغزا اوسبب دَدفع دشر دکفار ودَی ، نوکه فرضًا ټوله دنړۍ کافران مسلمانان سي اوشر اوفساد دَفع سی نو حکم د جهاد هم پوره کیږي ،

پوښـتـنـه: چې په بحرالرائق کښې اومَراقی کې هم وَائي چې اذان سُنت مؤکد دی نږدی واجبو ته حتیٰ لبعض عُلماء دَواجب نوم پراېښی دئ . اوپر اوریدونکو داذان اجابت بالقول یعنی هغه کلې چې مُوذن یې وَائي هغه به ورسره وَائي چې بیان بې عنقریب اسی ، اوپه فعل سره لازمی یعنی دَ لمانځه اوجماعت په تیاری دی بُخت سی . لکن په داسې وخت کی اجابت بالقول عولم خو څه کوي د ډیره خوامُو یعنی مُلایانو او طالبانو څخه پاتړی . هلته اذان کیږی دلته دوی بندارسره کوي . وَاِلَی اللّٰهِ المُشتَکیٰ »

دُعَاء

خدایه وبخښې مؤلف اوهم کاتب .. مستجابه وي دعا تل دغائب
هم معاف کړې ګنهونه دکتونکو .. ومضمون ته دکتاب تی کړې غالب
هم معاف کړې لغزشونه دامت ټول . چې پیدا نه سی په مومن کی څوک راسب
وغفران ته دمولا داټوله هیڅ دي .. حقانی چې لوی ځښتن موږی حاسب

حقانی غفرله درکوټــه . ۱۴۲۱/۷/۱۳هـ

آگاهي

محترمو لوستونکو! که ستاسو دا فکر وي چې حضرت علامه محمد عُبیدُالله الایوبي القندهاري سُلیما نخیلي النقشبندي به چې دهر مضمون په اخر کې م ط، راوړي دې دې مطلب بر څه وي. محترمو! د م، معناده مراقي الفلاح چې د نور الایضاح یوه معتمده شرحه ده.

او ط، معناده طحطاوي چې دا هم ددې مبارک کتاب یوه معتمده شرحه ده. او که دا سوال درته پید اوې چې د اکتاب به لیکلي چاوي. د ازما احقر محتاج دُعا فضل الحق حقاني چې د حضرت ایوبيؒ یوادنی شاګرد یم ما یه کتابت کړی دی. او هم وما ته حضرت ایوبيؒ د دې کتاب ټوله حقوق د کتابت، طباعت، را کړي دي، ذالكَ فضل الله یُؤتیه مَن یشآءُ.

او که دا سوال درته پید اوی چې دا به پر کوم مکتبه باندې چاپ سوې وي. نو دا کتاب زمونږ مکتبې چې په نامه ده، مکتبة القراءت والتجوید، ده شائع کړي دی ور وروسته نن ډیرو مشکلاتو او مالي او جاني ستړیا وو وروسته نو دا کتاب که چیرې زمونږ د مکتبې څخه علاوه پر بل نامه یا چاچاپ کړي او یا یې په ډیر تعداد سره چاپ وی او خرڅوي يې. هغه مسروقه دی. او یا یې هم لاس وهنه په کښې کړیده. ددې مبارک کتاب د راینولو په وخت کښې د مکتبې نوم د مصنف نوم او د کاتب نوم یادلري هسې نه چې پر اړما نونو مواو به در توی کړي او د سازش په دریاب کی لاهو کړي. دکتاب مختصره پیژندنه:

دکتاب نوم۔ د نور الایضاح الایوبي نوې پښتو شرحه۔

دمصنف نوم۔ الشیخ ابوالفضل محمد عُبَید الله الایوبي القندهاري الحنفي۔

دکاتب نوم محمد فضل الحق حقاني یکی از تلامذهٔ حضرت ایوبي.

دناشر نوم مکتبة القراءة والتجوید مالكِ مکتبه شمسُ الحق»

سُنَّ الاَذَانُ وَالاِقَامَةُ سُنَّةً مُؤَكَّدَةً

الاعراب: قوله سُنَّ علی صیغة المجهول وقوله الاذان مفعول مالم یسم فاعله قوله وَالاقامَةُ بالرفع معطوف علی الاذان وقوله سنة مؤکدة منصوب علی انه مفعول مطلق لبیان النوع: ترجمه:

سنت ګڼل سوي دی اذان او اقامت پر طریقه د سُنت مؤکد یعنی ټینګ سنت دي دواړه. په متن کی او په شرح کی ددی مصنفؒ وصحیح روایت ته اشاره کړی ده یعنی چې اذان واجب نه دئ ولې چې هغه وخت چې علیه السلام ویوه اعرابي ته کیفیت د لمانځه ور ښوولی اذان یې نه کړی ورته ذکر او دغه رنګه اقامت، دلیل مشترك د دواړو د سُنت والی دا دئ چې دغه وخته چې دغه دوه یعنی اذان او اقامت مشروع سوي دي. آنحضرت صَلی الله علیه وسَلم مواظبت پر کړی دی. یعنی هَمیشه به دواړه کیدله. د دې وجه څخه بعض حنیفیانؒ وائي چې واجب دی لکن سُنت مؤکد چونکه په حکم کښې د واجب دئ چې په ترك یې سړی ګناه ګار ګرځي. لکه د واجب نو دا دوه قوله سره نن دي دي. البته ګناه په ترك د واجبو کی ډیره ده تر ګناه په ترك د سُنت مؤکد کې او د اذان په باره کښې حدیث قولي هم راغلی دی چې امام بخاريؒ او نورو محدثینوؒ روایت کړی دئ. إِذَا حَضَرَتِ الصَّلوٰةُ فَلیُؤَذِّنْ اَحَدُکُم وَلیَؤُمکُم اَکبَرُکُم، یعنی چې لمونځ حاضر سي او وخت یې راسی نو دې اذان وکړی یو تاسی څخه او امامت دې وکړي مشر ستاسې، ددې حدیث مُبارك تفصیل به په خپل ځای کی راسي» إِن شَآءَ اللهُ تَعَالیٰ،،

پوهسه: چې سُنت پر دوه قسمه دئ. **اول سُنت الهدیٰ:** سُنة الهدیٰ هغه کار دئ قولي یا فعلي چې په پریښو لو کښې ګناه خووی یا نژدی وګناه ته د ترك الواجب لکه سُنت او یا تر هغه کمه ګناه وي. د سُنت الهدیٰ مثالونه ډیر دی لکه اذان، اقامت، د جماعت لمونځ نه پرېښودل. او د پنځو لمونځو مختلیا وروسته سُنت وغیرذالكَ، **او دوهم سُنت زائدة**، بولي چې د هغو په ترك کی خو هیڅ ګناه نه وي. مګر په کولو کښې البته ثواب وي. لکه د آنحضرت صلی الله علیه وسلم د ښ ونداند طبعی کارونه یعنی په خوړلو په ناسته، په تګ، په لباس وغیره کی او د اسی نور شیان» لکن اُمتیانو لره پکار ده چې د سُنت زائده په باره کښې د غفلت لاره

Maktaba Tul Ishaat.com

نه کی مختاره. بلکه سُنت زائده حسب المعلوم هم رجای کړي، آیت کریمه «لَقَدْ کَانَ لَکُمْ فِیْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ». قَالَ المصنفُ: **لِلْفَرَائِضِ** یعنی اذان او اقامت دپاره دفرائضو دي. نو دجمعې لمونځ په کښې داخل شو. مګر د اخترو لمونځ، دجنازې لمونځ او د استسقاء لمونځ، او وِتر څندی ووتل» دهغود پاره اذان او اقامت نشته، نو بنا ءً علی هذا دماخستن اذان د وترو دپاره نه دی. په صحیح مذهب، او بعض علماء وائي چې دماخستن اذان د وترو دپاره هم دی په دې سبب چې دماخستن د فرضو او د ترو وخت سره شریك دی. قَالَ **وَلَوْمُنْفَرِدًا** که څه هم د غه فرضی لمونځ یوازې کوي. لکن دا حکم په صحرا کی دی نه په ښارو او قریو کښې. په حدیث شریف کی داسې راغلی دي. اِذَا کَانَ الرَّجُلُ بِاَرْضٍ، ای فلاة که چیرې یو سړی په صحرا کی وي. فَحَانَتِ الصَّلٰوةُ، نو داخل سي وخت دلمانځه» فَلْيَتَوَضَّأْ فَاِنْ لَمْ يَجِدْ مَاءً فَلْيَتَيَمَّمْ» پس او دس دې تازه کړي. او که او به نه وي نو تیمم دې وکړي، فَاِنْ اَقَامَ صَلّٰى مَعَهُ مَلَكَانِ، نو که اقامت وکړي لمونځ کوي د ده سره یعنې په جماعت سره دوه ملکي، چې غالبًا مراد په حفظه وي، وَاِنْ اَذَّنَ وَاَقَامَ صَلّٰى مَعَهُ مِنْ جُنُوْدِ اللّٰهِ مَالَا يُرٰى طَرَفَاهُ» او که اذان او اقامت دواړه وکړي د ده سره به په جماعت لمونځ وکړي یو جماعت د ملکو چې جُند الله دی دومره ډیرې چې دوه طرفه بې نه معلومیږي» ط، م» قَالَ المصنفُ

اَدَاءً اَوْ قَضَاءً سَفَرًا وَحَضَرًا لِلرِّجَالِ وَکُرِهَا لِلنِّسَاءِ

که په وخت کی لمونځ کوي او کی قضائی کوي. که په سفر کی وي او که بیله سفره وي. او اذان او اقامت سنت دی نرو لره. او مکروه دی ښځو لره. **سَوال** : بعض اماما نیا طالبان د حَضر ترجمه په کور سره کوي او د مخه ذکر سوه چې اذان او اقامت په صحرا کی کول سُنت دی نه په ښارو کی مثلاً نو دی ترجمې او د ماقبل منافات نشته» **جَوابْ** : دا ترجمه غلطه ده بلکه د حضر څخه دلته مُراد مقابل د سفر دی. نو دا کیدای سي چې سړی دې شرعی مسافر نه وي او په صحرا کښې دی وي. لکه یو سړی چې د کور د پاره په صحرا کښې بوټی تولوله او یا پسونه څروي وغیره.

پوښتنه: چې اذان او اقامت. د سُنتو څخه د جماعت مستحبه دی، نو د ښځو دپاره بیا د مستحب نو د پاره یاد لخو خلګو دپاره نشته. ولې چې د دوی جماعت مشروع نه دی. ب، ط» او د غه رنګه د معذورو خلګو دپاره چې د جمعې په ورځ دماپښین لمونځ په جماعت کوي اذان او اقامت نشته» ولې چې دا جماعت د دوی په ښار کی مکروه دی. ح، ط» او د ښځو د پاره کراهت د اذان او اقامت د دی وجهې څخه دی. چې بناء د حال د دوی په ستره ده. او رفع د صوت د دوی حرام دی. او په اقامت کښې هم رفع صوت فی الجمله سته که څه هم تر اذان کم دی.

د زمانې حال: بعض خلګ چې زوی یا ورور نه مثلاً واده کوي نو دوی قریبا ن ښځې او کلی او کوڅې ښځې خبرې کړی. او هغه ښځې هم د واده دپاره هر څه ښیښي کالي چې په کورکی لري واغوندي. او شونډان هم سره کړي. سترګی توری کړي او سرخی او سپیدې هم وکړي. چې میړه هم دا ډغه سې ښا ئسته حال کی نه وه لیدلې. او رې ور سره را واخلي. واده ته روانی سي. او عطر حسب المقدور یه هم په ځان پوری مښلوي. څه وخت چې د واده وکوټ ورسیدلې چادری و غورځوی لغړ سرونه، د ریوټ جوړ کړي. او بدلې یه د ریم کوړ او ټوله د محلې خلګ اوري. په دې کور کی نران هم ګرځي ښځې باك نه په کوي. او حال هم دا اوس د عوامو څخه خو اصوته یعنې مُلایانو ته اِلَّا مَاشَاءَ اللّٰهُ تجاوز کړی دی نو ته فکر وکړه چې اذان او اقامت چې د خدای پاك ذکر دی په رفع الصوت د دوی ته مکروه دی نو بدلې او غزلې به څرنګه د دوی ته په رفع الصوت روا وي.

د طالبانو حکومت په افغانستان کی، پوښتنه چې جهانیان مُسلمانان او کافران ټوله په دې خبر دی چې د افغانستان خلك تخمینًا ۲۲ کاله کیږي چې داور په لمبو کی سوځیده. او د مخه د طالبانو تر حکومت په افغانستان کی د چا مال او نه د چا ناموس محفوظ وو، مګر بیا هم جهانیانو د افغانستان حکومت په رسمیت پیژندی. هغه وسنی وخت کی چې خدای جل سُلطانه اراده او رحم وکړه چې د افغانستان د خلګو څخه دا عذاب الیم پورته کړی نو بیچاره طالبان د مدرسو او مسجدو حجرو څخه په راو استل چې په اول وهلت کی بېغی محدود عدد یه وُو.

اود دوئ سره د زماني په مناسبت بيخي بيکاره اسلحه يعنی کلاشنکوفونه موجود وو، امّا سره د هغه خدای جَل سُلطانه دوی ته پر بيخي لږ زمانه کښې تسلط او غلبه ورکړه پر اکثرو لويو ښارونو او قريويا ندې. حتی چې په لږ وخت دوی مُسلّط سول د خدای جَل شانه په توفيق پر نوی په سلو کی د افغانستان ،، لکن بيا هم نړې خصوصًا غربيان او په دوی کی بيا خاص امريکا چې په ټوله نړۍ کی لوی دُښمن دی د مسلمانانو، د طالبانو حکومت په رسميت نه پېژني، بلکه علاوه پر هغه قِسم قِسم بنديزونه يې پرد ې غريب حکومت د طالبانو لګولي دي، او دوی رقم رقم بهانې ورته کوي:

يوه بهانه د دوئ: چې دد ې مقام سره تعلق لري کرا دا چې د طالبانو حکومت د ښځو حقوق تر پښو لاندې کړي دي. دد ې بهانې جواب دادی چې په بين المللي قانون کښې دا ماده موجوده ده ،، چې يو حکومت بر دَبل حکومت په ديني او مذهبي چارو کښې لاس وَهنه نه کوي ،، نو اوس د غربيانو څخه خصُوصًا د امريکا څخه طالبان دا پوښتنه کوي: چې آيا حقوق د ښځو دا دي چې دوی په لڅ سَر او لڅو پښو د ې په بازارو کښې ګرځي او په داغسې لباس کی د ې ښوونځيو ته د تعليم او زده کړی د پاره ځي. که دوی وَائي چې هو کې دغه د ښځو حق دئ نو طالبان ورته وَائي چې زموږ دين اسلام چې حق دين دئ. او زموږ قرآن چې آسماني کتاب دی د دغسې وضعيت څخه سخت ممانعت کوي،، نو ولې غربيان زموږ په ديني او مذهبي چارو کښې مَداخلت کوي. او ولې دوی د بين المللي قانون مراعات نه کوي. او که غربيان وَائي چې نجلۍ او ښځې دي په حجاب شرعي کی ستاسی د دين تعليم او زده کړه کوي او ښوونځيو ته دی ځي. نو طالبان وَائي چې صحيح دَه دا حق لري. لکن د دې عملی کول موږ ته ګران دی. ولې چې زموږ اقتصادی حالت لکه د نيا والا و ته چې معلوم دئ. په ټوله نړۍ کی کښې ډير ضعيف دي او فوق الذکر عمل ډيره بودي جه غواړي. نو د نيا وال او غربيان او امريکايان دی زموږ ډيری مرستې وکړي. او موږ دی پر پښو ودَرَه وي. او زموږ و يجاړ مملکت دی را لره آباد کړي. او بيادی له موږ څخه د ښځو د حقوقو طلب وکړي. لکن دوی په عوض کی د مرستو پر موږ اقتصادی بنديزونه لګوي چې موږ لا نور د پښو څخه وَغورځوي دا خو نړۍ وال و د انصاف څخه خلاف دهٔ:

نواملی خبره بله ده هغه داده چې د افغانستان خونکه داسی غيور او باشجاعت او سربښندونکی خلک دي. او پر اسلام او دين د ومره عاشقان دي چې روس چې د دنيا يو ستر قوت وو غربيان څنګه په ډيره بيړه کښې وَه چې د دوئ پر خاوره يعنی افغانستان يې تجاوز وکړ نو د افغانستان پير و برنا ، نر او ښځو لوی لوی قربانۍ ورکړې او روس اخير الامر د خپل هيواده څخه و شاړه. بلکه د افغانستان د خلګو په همت شوروی اتحاد ټوټه ټوټه سو او د الله په لوی فضل سره دا ستر قدرت يې په بيخي پا نه قدرت سره بدل سو او غربيان ده د غمه خلاص سوه اَلحَمدُ لِلّٰهِ،

نو اوس د غربيانو دا عقيده ده که چيرې د افغانستان د اسلامی امارت حکومت پر پښو ودَرول سي. نو د غرب د پاره بيخي لويه خطره به وګرځي. که څه هم د طالبانو حکومت په بار بار وئيلي دي چې موږ د نړی د هيڅ حکومت په چارو کښې مداخلت نه کوو. لکن د دی اعلان سره سره د غربيانو و هم د زړه څخه نه وَزي ،، نو ځکه په مختلفو بهانو سره غواړی چې دا حکومت د پښو څخه وغورځوي. او په ځای کی د د ې موجوده امارتِ اسلامی خپل يو دست نشينه حکومت په افغانستان کی مابين نه رَاوړي،، چې غربيانو او دنيا وال چې هر څه غواړي هغه حکومت يې کوی نو هله د دوئ بيره د زړه څخه ووزي. دا و و هغه مختصر بيان چې په دی ځای کی پر دی مسئله پوری تعلق دَر لودئ. او که تفصيلی بيان کوم نو به يو پوره کتاب تصنيف وَمِ، او س مصنفؒ د اذان کيفيت بيا نوي. او وائي، قَالَ

وَيُكَبِّرُ فِي اَوَّلِهِ اَرْبَعًا وَّيُثَنِّي تَكْبِيْرُ اٰخِرِهِ كَبَاقِي اَلْفَاظِهِ

او الله اکبر دي وَائي په اول کښې څلور وَاره. او دوه واره دی وائي تکبير د اخر د اذان لکه نور الفاظ د اذان چې دوه واره ويَل کيږی. يعنی شهادتين نه ټوله باقی الفاظ ولی چې لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ،، خو په اخير کښې يو وار دَی.

مسئَله: اول څلور تکبيره دي په دوه آوازه سره وَائي او څلور تکبيره وَيل ظاهرُ الرواية دئ. او هم په دي روايت سره عمل په ټوله اسلامی نړی کی دئ.

Maktaba Tul Ishaat.com

اوحسنؒ د امام اعظمؒ څخه روایت کوي چې په اول کې د اذان دي دوه تکبیره وائی" وهو روایت عن ابی یوسفؒ وبه قال مالكؒ. ط، **پُوهَسَه**: چې اکبر بعض علماء وائي چې په مَعناره اعظم دئ. اوبعض وائي چې په معنا ده اقدم دئ. اوبعض وائي چې اسم تفضیل پرخپله معنا نه دی بلکه په معنا د عظیم دی" ط"

مسئَلَه: الله لفظ دی خواه په پیښ وائي. اومصنفؒ مختاره په مَراقي کی داده چې را" د اکبر دی په جزم سَره یعنی سکون سَره وائي. اومصنفؒ وائي چې کلمات د اذان دی په سکون سَره وائي د پاره دوقف چې ترسل اوځند په کښی راسی اود اقامت کلمات دی هم په سکون سَره وائي لکن په نیت دوقف نه حقیقی ووقف تا چه په اقامت کښی حدر راسی یعنی چابك تیا"

مسئَلَه: شَهادتین دي دوه واره وائي. اوپه مَا بین کښی دي لږ سکته کوي پر اذان کی او حَیّ عَلَی الصَّلٰوۃ دی دوه واره وائي. اومقصود بالذات په آذان کښی هم دغه کلمه ده ولی چې مقصُود د اذان څخه بَلنه دَځلګوده وَلما نځه ته اودهغه بَلنه په دَغه کلمه کښی ده" او حَیّ عَلَی الْفَلَاح دی هم دوه واره وائي. اومعنیٰ د حَیَّ عَلَی الفَلَاح دَاده چې آراسته ووئی وهغه کار ته چې په هغه کښی ستاسی فَلاح او نجات دی چې هغه لمونځ دئ. اوفَلاح داسی یولفظ دی چې په عربي ژبه کښی جامع دخیرلتو دَغه لفظ په مثل بل لفظ نشته" ط،

وَلَاتَرْجِيْعَ فِي الشَّهَادَتَيْنِ اوترجیع نشته په دوو کلمو کښی د شهادت اوصُورت د ترجیع دادئ چې اول وار شهادتین په کرار آواز سَره وَوائی اوبیا بیرته رجوع ورته وکړي اودواړي په لوړ او بلند آواز سَره ووائي" ک، م" **ددی مسئلی دلیل دادئ**: چې په اذان کی د بلال ترجیع نه ده راغلی. اوحضرت الامام شافعیؒ وائي چې ترجیع په اذان کی سُنت دَه" ولی چې په اذان کی د ابی محذورهؓ ترجیع په امر د رسُول الله صَلی اللهُ علیه وَسَلم موجوده دَه" **والجواب عن جانب الحنفیۃ** دادی چې ابا محذورهؓ مؤذن وو چې ایمان یه نوی راوړي وو په مکه مکرمه کښی نو ده څخه آنحضرت صلی الله عَلیه وَسَلم د اذان کولو کیفیت وپوښتی نو هغه حیاء

شهادتین کرار کرار وَوئیلی. نو رسول الله صَلی الله عَلیه وَسَلم په غوږ ورو پیڅی او ورته ووئیله چې شهادتینو ته بیرته رجوع وکړه. اوپه لوړ آواز یې ووایه. اودی یه په دې بوه کړي چې په حق کی حیاء نشته. نو د اتعلیم د اذان وو د ابی محذورهؓ گمان د ترجیع پرې اغلی" کذا ذکره محقق الحنفیۃؒ فی جواب حدیث ابی محذورۃؓ.

اود انصاف دلاري هم دا توجیه صحیح دَه. ولی چې بلالؓ په مسجد نبویؐ کی پنځ وخت په کلو مؤذن وو. نو که ترجیع سُنت وای نو ده به کولائ. اوپ به په روایت کښی داسې راغلی وای چې آنحضرت صَلی اللهُ عَلیه وَسَلم بلالؓ په ترجیع سره امر کړی" وَلَم یُوجَد.

وَالْاِقَامَةُ مِثْلُهُ وَيَزِيْدُ بَعْدَ فَلَاحِ الْفَجْرِ اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌ

او اقامت مثل دی د اذان او زیا توی دي په آذان کښی د سَحار" اَلصَّلٰوۃُ خَیْرٌ مِّنَ النَّوْمِ" دوه

مِنَ النَّوْمِ مَرَّتَيْنِ وَبَعْدَ فَلَاحِ الْاِقَامَةِ قَدْ قَامَتِ

واره پس له "حَیَّ عَلَی الفَلَاح" څخه یعنی لمونځ سَبه دی ترخوب (په دی کلمه کی آگاه کول کول دي د مُسلمانانو چې اوس نو با لاخوب مه کوئ

الصَّلٰوةُ مَرَّتَيْنِ چې وخت د لمانځه دی اولمونځ ترخوب افضل دئ. اوزیاتوی دی پس له حَیَّ عَلَی الْفَلَاح څخه د اقامت" قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوۃُ دوه واره یعنی اوس لمونځ برپایه کیږی" حَدیث شریف" نبی عَلیه الصَّلٰوۃ وَالسَّلام امر کړي دئ بلالؓ په دغه اَلصَّلٰوۃُ خَیْرٌ مِّنَ النَّوْمِ سره ولی چې دا وخت د خوب او غفلت دئ.

پُوښتَنه: لفظ د خَیْرٌ اسم تفضیل دی لکه چې په صرف اونحو کښی د اخبره ثابته ده. اود اسم تفضیل مَعنا د نحاةُ پر قانون داده چې مفضل او مفضل علیه به په اصل مَعنا کی د مصدر سره شریکان وي. نو په اَلصَّلٰوۃُ خَیْرٌ مِّنَ النَّوْمِ" کی لمونځ چې مفضل دی ښه وَالی په کښی دی آیا په خوب کی چې مفضل علیه دی څه ښه والی شته !

جَوَاب: خوب هم گاهي عبادت وي چې دَبل عبادت سَبب وي. لکه سَري چې دَشپی

په اول کښې بيدېږي. ددې د پاره چې د تهجد ق لمانځه ته بيداره سم، او يا په دا سې وخت کې سړي بيده سي چې په هغه وخت کې په محله کښې سرود کيږي. نو دی په خوب سره د هغه معصيت څخه د سرود اوريدو ځان خلاصوی نو د غه خوب هم عبادت دئ. او بل جواب دا دی چې لمونځ استراحت دی په دنيا کښې. او لمونځ سبب دی د استراحت داخرت وراحت داخرت افضل دی تر راحت د دنيا، هذا محصل ما في الشرح، قال المصنفؒ.

وَيَتَمَهَّلُ فِي الْأَذَانِ وَيَسْرِعُ فِي الْإِقَامَةِ

او ځنډه دی کوي په اذان کې په سکته سره په ما بين کښې د څلورو الله اکبرو په اول کښې د اذان. او بيا په ما بين کښې د هرو دوو کلمو، او بحر الرائق والی چې کلمې د اذان دی درازې او اوږده وي. لکن په غايه کښې والئ چې دا اوږد وَل د کلمود اذان دی د سرود پر وزن نه وی، کما يفعله المؤذنين في العصر الحاضر.

مسئله: که چا اذان چابك چابك وکړی مکروه دی، فتح. او اذان دی بيرته راوګرځوی. ولی چې پوره مقصود د اذان نه سو حاصل، قهستانی. او که اقامت په ترسل سره وکړی مکروه خو دی لکن مختاره دا ده چې نه دې راګرځوی، ط، ولی چې مقصود د اقامت څخه خبرتياد حاضرينو د په شروع کولو د لمانځه. او هغه مقصود په ترسل سره د اقامت کولو حاصل سو نو تکرار ته د اقامت ضرورت نسته،،

سؤال: په تکرار سره د اقامت به کراهت د ترسل دفع سي **جواب:** تکرار د اقامت خو مشروع نه دی او تکرار د اذان مشروع دی لکه چې اذان قبل الوقت وکړه سي. نو د خوله سره دوخت راګرځول يه لازم دئ. قال المصنفؒ.

وَلَا يُجْزِءُ بِالْفَارِسِيَّةِ وَإِنْ عُلِمَ اِنَّهُ اَذَانٌ فِي الْاَظْهَرِ

او کفايت نه کوی. يعنی اذان په پارسی ژبه سره که څه هم خلك و پوهيږی چې دا اذان دی په اظهر روايت کی د مذهب **فائده:** مصنفؒ تخصيص د فارسی ژبې وکړی ددې سببه چې تر دی د نورو ژبو و عربی ته په فصاحت او بلاغت کښې هم د غه فارسی لغت او

ژبه ده کما في التلويح. نو چې په فارسی ژبه اذان نه دی کافی نو په نورو ژبو په طريق اولی نه دی صحيح. علت د نه صحت په دا دئ چې هغه اذان چې عبد اللهؓ په خوب کښې اوريدلی و هغه عربی وو (رملکی څخه) نو ددی علت له مخې اقامت هم په بله ژبه نا روا دئ يعنی کافی نه دئ. ولی چې دا علت دا اذان په اقامت کښې هم موجود دئ. قال المصنفؒ.

وَيَسْتَحِبُّ اَنْ يَكُوْنَ الْمُؤَذِّنُ صَالِحًا عَالِمًا بِالسُّنَّةِ وَاَوْقَاتِ

او مستحب ده چې وی به اذان کوونکی صالح سړی. او خبر به وی په سنت طريقه د اذان. او په وختونو

الصَّلٰوةِ عَلٰى وُضُوْءٍ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ اِلَّا اَنْ يَكُوْنَ رَاكِبًا

به وی په وختونو د لمونځو، او په اودا سه به وی، او مخامخ به وی و قبلې شريفې ته. مګر نه که سپور وو يعنی په سفر کې **پوهسه:** چې د صالح معنا خو اصلی دا ده چې سړی به حقوق د خدای جل شانه او حقوق د بندګانو به پوره ځای کوی. نو چونکه دا سې سړی ډېر کم پيدا کيږی نو ددی سببه مصنفؒ په مراقی کښې تفسير دا کړی دی چې متقی به وی. او د متقی څخه هم مراد دا دی چې ظاهر العدالت به وی. او مراد د سنت څخه د اذان علم دی په دې د ول چې په اذان کی مثلاً ترسل په کار دی او هغه نور کارونه چې د مخه يه ذکر وسو.

او سپاره سړي ته په سفر کی اذان په حال کی د سپرتيا بی کراهته روا دی. او په حضر کی دا سې کول مکروه دی في ظاهر الرواية. قال المصؒ في المراقي. **پوهسه:** چې مراد د سفر څخه لغوی سفر دی شرعی سفر نه دی يعنی چې په صحرا کښې وي. دليل د دی دا دی، چې په فقه شريف کښې وائي چې نفلی لمونځ د با ندی ترسپاره او قريه ته راکبًا مکروه نه دی. نو اذان په طريق اولی مکروه نه دئ؛ قال المصنفؒ:

وَاَنْ يَّجْعَلَ اِصْبَعَيْهِ فِي اُذُنَيْهِ وَاَنْ يُّحَوِّلَ وَجْهَهٗ

او بل مستحب ده چې ګرځوی دی دوې ګوتې يعنی د دوو ګوتو سرونه (دا مجاز دی چې ذکر کل مراد څخه دی جزء دئ) په غوږو کی. او بل دا مستحب دی چې اړه وی به مخ خپل

Maktaba Tul Ishaat.com

يَمِيْنًا بِالصَّلٰوةِ وَيَسَارًا بِالْفَلَاحِ وَراستہ طرفتہ پہ حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃ کی او وَچپہ طرفتہ پہ حَیَّ عَلَی الفلاح کی. لقولہ علیہ الصلوٰۃ والسلام لِبلال رض گرځوم تہ دوئی گوتی پہ دوو غوږو کښی. ولی چی دا ستا داواز پورتہ کوونکی دی. **حکمت**: هر وخت چی سړی خبری کوی سایہ ترخولہ او پوځہ تر غوږو هم وزی. نو څہ وخت چی دی غوږونہ پہ گوتو بند کړی نو ټولہ سا بہ تر خولہ وزی. نو د دی سببہ بہ آواز لوړیږی، او بلہ خبرہ دا دہ چی څہ وخت چی سړی غوږونہ بند کړی خپل آواز کراره اوری. نو دی گمان کوی چی دا ندی هم زما آواز کرار دی نو آواز تہ زور ورکوی،

پوښتنہ: چی امام طحاویؒ پہ شرح کښی وائی چی اوركول د گوتو پہ غوږو کښی سُنت اصلی نہ دی. ولی چی دا کار پہ آذان کی د ملکی نازل من السّماء پہ خوب کښی د عبداللہ رضی اللہ عنہ او اصل اعلام هم نہ دی پر موقوفہ. بلکہ دا کار دپارہ د مبالغی فی الاعلام دی. او دی وائی کہ چیری مؤذن دواړہ لاسونہ پر غوږو و نسی هم ښہ کار دی. **اَلْبِشَارَةُ لِلْمُؤَذِّنِ**" پہ صحیح حدیث کی راغلی دی، چی نہ اوری منتهٰی د آواز د مؤذن نہ پیری او نہ انسان او نہ بل شئ مگر اوری پہ داسی توگہ چی شاهدی بہ ادا کوی دہ تہ. یعنی دده پہ ایمان سرہ پہ ورځ د قیامت کی او طلب د بخښنی بہ کوی دده دپارہ هرلوند او وچ شی چی دده آواز د اذان پہ اوریدلی وی. او پہ حدیث شریف کی چی روایت یہ نسائی کړی دی داسی راغلی دی. وَلَهُ اَجْرُ مَنْ صَلّٰى مَعَهُ، او مؤذن بہ د قبر څخہ پہ داسی حال کښی راووزی چی اذان بہ پہ خولہ کښی وی. او مؤذنانو غاړی بہ اوږدی وی پہ ورځ د قیامت تر نورو خلکو. دا کنایہ دہ خوشحالی څخہ دہ ولی چی د شرمیدلی غاړہ کښتہ وی. او بعض وائی چی امید د مؤذنانو بہ ورحمت تہ د خدای جل سُلطانہ ډیر وی.

او پہ یو بل حدیث کی داسی هم روایت سوی دی،، چی مؤذن پہ ورځ د قیامت پر غونډی د مشکو کښینول سی، او لوئیہ بیرہ د ورځی د قیامت دی پر خوف کی نہ اچوی. **پوښتنہ** آنحضرت صلی اللہ علیہ وَسلم پہ خپلہ اذان او اقامت کړی دی؟ **جواب**: پہ ضیاء کښی

راغلی دی چی دہ صلی اللہ علیہ وَسلم پہ یوہ سفر کښی اذان وکړی او اقامت یہ وکړی او د مابین لہ ونځ یہ وکړی. او د غہ رنگہ مستحب دی چی اړوی الخ. او دا اړول د مخ سُنت د اذان دی. نو کی یوازی اذان کاوہ پہ صحرا کی کاوہ هم بہ مخ اړوی پر دوہ طرفہ،،

مسئلہ دکښنی پہ غوږ کی کہ یہ اذان کاوہ هم بہ مخ اړہ وی،، ط ص۱۵۹. او دا خبرہ د تحویل الوجہ چی مصنفؒ وکړہ چی پہ حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃ کی دی مخ راستہ طرفتہ اړہ وی او پہ،، حَیَّ عَلَی الفَلاح کی وہ چپہ طرفتہ اړہ وی مذهب دی د جمهور د حنیفیا نو او زیلعیٰ هم دا غہ د ول صحیح بوللی دی. او بعض عُلماء وائی چی پہ دواړو کښی دی دواړو طرفو تہ مخ اړوی. کمال الدینؒ وائی. وهُوَ الاوجہ ۰ او پہ نهر کی هم د دی خبری تائید سوی دی. وَاللہُ اَعْلَمُ، قَالَ المصنفؒ،،

اومؤذن دی راستہ اړخ چپہ اړخ تہ گرځی پہ منارہ کی

وَيَسْتَدِيْرُ فِيْ صَوْمَعَتِهٖ د اذان **پوښتنہ**: چی صومعہ پہ اصل کی معبد تہ د راهب دہ نصارا وو ویل کیږی، کما فی البحر والطحطاویؒ **پوښتنہ**: چی پہ بخوا زمانو کښی چی آلات جدیدہ دپارہ د رفع الصوت د اذان موجود نہ وہ. نو مسلمانانو بہ حسب المقدور پہ مساجدو کښی یوہ منارہ جوړہ ولہ. او پہ هغی مناری کی بہ د ننہ ځینې پوړتہ کول. او پر سر د مناری بہ یوہ لوئیہ یا کښنی گمبدہ جوړہ ولہ. او هغی گمبدی تہ خلور دروازی یا پہ اصطلاح کلکینان ورکولہ. یعنی د قبلی و خواتہ. د شاہ وخواتہ. او پر راستہ لاس. او پر چپہ لاس. دا د دی دپارہ چی د مؤذن اواز دی در بچو وو زیږی" نو پہ اصطلاح کی د فقهی شریفی د غی گمبدی تہ صومعہ ویل کیږی. او پہ پاړسی یہ مؤذن خانہ بولی. نو او س مسئلہ د صومعی داسی دہ چی مؤذن بہ د قبلی شریفی و دروازی تہ نږدی دریږی، او کہ مؤذن خانہ کښنی وہ نو د حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃ. او حَیَّ عَلَی الفلاح پہ وخت کی د سر ایستلو ضرورت نستہ. او کہ صومعہ فراخہ وہ نو بہ مؤذن د حیعلتینو وخت کی تر راستہ او چپہ کلکین سر باسی. او حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃ. او حَیَّ عَلَی الفلاح بہ وائی. لکن پہ داسی شان چی قبلی تہ بہ شا نہ گرځوی:

اوداگرڅیڼه هم دآواز د رسیدو د پاره دی. **مسئله**: په اقامت کی دی هم مخ وراسته اووچیه نغل ته اړه وي. **فائده**: په قهستانی کی د نظم څخه نقل کړی دی، "چاذان د ننه په مسجد کی مکروه دی. اوکه مکان لوړ نه وو نو په فناء کی دمسجد براذان کوی" کذا فی الفتح. نو په دی اوس وخت کی چې آله جدیده یعنی لاوډ سپیکر په ټولو مسجدو کښی اِلَّامَاشَذَّ وَنَدر، د ننه په مسجد کی نصب کوی او اذان په کښی کوی نو حکم به ئې څه وي؟!
جواب: په مقتضی د دې قاعدی چې، "اَلضَّرُوْرَاتُ تُبِيْحُ الْمَحْظُوْرَاتِ" دا به مکروه نه وي. ولی چې آله جدیده یعنی لاوډ سپیکر که د باندی ترمسجد نصب کوی نو چونکه قیمتی شئ دی بیره د دی ستنه چې غل به غلا کړي. اوکه نه دی وی ومسجد ته حجره یا بل محفوظ ځای وو نو لاوډ سپیکر دی هلته نصب کړی او اذان دې په کښی کوی نو هم د کراهت څخه او هم د غله څخه به خلاص سی. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَيَفْصِلُ بَيْنَ الْاَذَانِ وَالْاِقَامَةِ بِقَدْرِ مَايَحْضُرُ الْمُلَازِمُوْنَ

او جلا والی دی کوی مؤذن په مابین کښی د اذان او اقامت دومره قدر چې حاضر به ی هغه

لِلصَّلٰوةِ مَعَ مُرَاعَاتِ الْوَقْتِ الْمُسْتَحَبِّ وَفِى الْمَغْرِبِ

کسان چې همېش ولاړ وی ولمانځه ته یعنی جماعت کولو ته، سره د مراعات د وقت مستحب یعنی د ونه دی نه

بِسَكْتَةٍ قَدْرَ ثَلَاثِ اٰيَاتٍ قِصَارٍ اَوْثَلَاثِ خُطُوَاتٍ

ځنډوی چې وقت مستحب تیر نه ی. او د ماښام د اذان او اقامت تر مابین دې د ونه فصل کوی چې په قدر د درو کچنی ایاتو د ویلو وي. او یا د دری گامه سره اختلای سی. او په عنایه کښی وائې چې یا یو ایت طویل لکه ایت الکرسی و ویل کیږي. لکن په نیز د امام اعظمؒ دا فصل دې په ولاړی کوی کښینی دې نه. او په نیز د یارانو مؤذن دی سپکه ناسته وکړي. لکه په مابین کښی د دوو خطبو چې خطیب کښیني.

مسئله: جوت وَل د اذان او اقامت په ټولو لمونځو کښی مکروه دي په اجماع سره ولی چې مقصود په اذان سره خبره وَل دي د خلګو په دخول د وخت د لمانځه. چې دوی ځان لمانځه ته سم کړي په اودس او غیره سره او بیا حاضر سی و مسجد ته د پاره د جماعت نو په صورت کښی د وصل دا مقصود پاتې کیږي. **مسئله**: که چیری د لمانځه د مخه سُنت وه لکه د سحار لمونځ یا د ماپښین لمونځ نو په مابین کی د اذان او اقامت دی هغه سُنت وکړی. او یا د مخه تر لمانځه مستحب نفل وه لکه د مازدیگر تر لمانځه د مخه یا د ماخستن تر لمانځه د مخه نو هغه نفل دی وکړی. او یا دی تحیة المسجد وکړي لکن چونکه د ماښام د لمانځه وخت ډیر تنگ دی نو ځکه د نفلو گنجائش نسته په کښی لهذا په جلسه خفیفه وغیره سره دی فصل وکړي. کذا فی العنایه والطحطاوی.
مسئله: ځنډول د لمانځه د پاره د رئیس د محلی یا بانی د مسجد، او یا د ډیر زکوة والا سخت مکروه دے " کذا فی فتح القدیر. **پوښتنه**: په مبتغی کښی وائې چې ځنډول د اقامت، او یا اوږد ول د قرائت د پاره د راسیدو د بعض خلګو یعنی معین سړي حرام دی. نو دا خبره صحیح ده "؟! **جواب**: دا کار هلته حرام دی چې د پاره د دنیا وي. ولی چې دا اهانت په شرع سره دی. او تاخیر یې هم دومره وی چې پر لمونځ کوونکو ډیر تکلیف وي: قَالَ الطحطاوی، چې لږ ځنډول د پاره د کومک پر کار د خیر چې لمونځ دی مکروه نه دی. وَقَالَ فِى الْمُضمرات، پروا نسته چې امام میانه انتظار وکړي. قَالَ

وَيُثَوِّبُ كَقَوْلِهٖ بَعْدَ الْاَذَانِ "اَلصَّلٰوةُ اَلصَّلٰوةُ يَا مُصَلِّيْنَ"

او تثویب دی کوی مؤذن یعنی پس له اذانه دی دوهم اعلان کوي لکه دا قول د مؤذن پس له اذان څخه "حاضر سئ لمانځه ته حاضر سی لمانځه ته ای لمونځ گذارانو. او یا په پښتو کښی وائې. پر لمانځه درېږ وکه خدای کول دوه واره: **پوښتنه**: چې تثویب په قول د بحر الرائق او طحطاوی، عود دی وخبرتیا ته پس له د مخه خبرتیا څخه" او په شرح شریفه کښی عود دی و اعلام مخصوص ته پس له اذانه علی الصحیح نه پس له اقامت څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

اومصنف په مراقی کښې وائي چې دا تثويب په ټولو لمونځو کې دې کوي پس له آذان اوچې
په داوئيلي ده چې په خلګو کې سستي په کارو کښې ددين ډيره ده ، اوده وئيلي دي چې
تثويب د هرقوم بناء دي پرعُرف د هغو دي **پُوه سَه**: چې مسئله دتثويب
المتعارف فی بعض المساجد ډيره پيچلې مسئلې ده. حضرت الامام الطحطاويٌ وائي
چې دا تثويب مکروه دي په نيز ديارانو. اوپه روايت کې دحسن داسې راغلي دي چې مؤذن
دې پس له اذانه په اندازه دشلو اتيو دقرآن مبارک ځنډ وکړي اوبيا دې دغه متعارف تثويب
وکړي. اوبيادې شل ايت وروسته اقامت وکړي. **فَائِدَه**: تثويب دوه قسمه
دي يو قسم ديم اوبل حادث ، اوّل قسم : اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ ، دسحار په آذان کې
دا تثويب په اول کې دسحار تر اذان وروسته کيدئ. مګر علماؤ دکوفې په اذان کې داخل
کړي په دې طريقه پسې ددوی ټوله امت اقتداء کړيده ،
اودويم قسم تثويب علماؤ کوفي احداث کړي دي په مابين کې داذان او اقامت ، ددوئ
په زمانه کښې داسې ويل کيدل ، حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ ، دوه واره . حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ دوه واره .
اووروسته هر قوم خپل دپاره جلاجلا تثويب وضع کړي ، بحرالرائق کښې وائي چې دا تثويب
اختيار د متأخرينو دي . اومتقدمينو يې مکروه بللی ، **فَائِدَه**، دا تثويب په اغلبو
بلادو کښې اوقريه وو کښې د حنيفيانو اوس اوس پاته دي اود نورو مذهبو په بلادو
اووطنو کښې بيخې بدعت يې بولي.
دَدَرويش رايه: پوه سه چې امام رباني مجدد الف ثاني قدس سره په مکتوبات
شريف کښې وائي په مسئله کښې دوحدة الوجود چې هغه يوه پيچلې مسئله دعلم تصوف ده ،
پس له بيان مفصله ځنې دهغې ، ما نه انکار ميکنم و نه اين کار ميکنم ، نو درويش په مسئله کښې
د نوي تثويب ورته عبارت وايم ، چې زه نه د تثويب مذکوره ځنې انکار کوم . اونه دا کار کوم
والله اعلم وعلمه اتقن واتم ، قال المصنفؒ **وَيُكْرَهُ التَّلْحِيْنُ** په لحن سره اومکروه دي
اذان کول . **پُوه سَه** : چې ابن الملكؒ د تلحين ترجمه په تغنی سره کړيده په داسې توګه

چې تغير اسې په کلماتو داذان کښې . اوعلماء وائي چې داسې اذان بلاريب نه دی روا . او
نفس تحسين الصوت يعنې خوش آوازي بيله تغنی پروا نه لري . بحرالرائق وغيره
اوطحطاويؒ د تلحين ډيره جامع تفسير کړي دی . دی وائي چې تغير اسې په کلمو کښې داذان
اوپه کيفيت کې دهغو په سبب د بې ځايو حرکتونو يا سکناتو ، اويا د بعضې حروفو کمول
يازياتول ، اوداسې تغن نه په اذان کې روا ده اونه په قرائت کښې دقرآن اونه يې اوريده روا دي
ولې په دې کې تشبه ده دغزليانو سره ده ، **مَسْئَلَه**: ډلک ويل دلام دالله چې دی تفخيم
وائي پروا نه لري . ولې چې دا لغت داهل حجاز دئ . اونرم ويل يې لغت داهل بصرې دئ .
لکن مختاره داده چې وروسته تر زبر يا پيښ وي لام دې ډلک وائي . اوکه وروسته تر
زير وو لام دی نرم وائي .
يَوَه وَاقِعَه يو وخت په قندهار کې يو ځای ختم دقرآن کريم کې دئ . او ډير علماء د
قندهار په دې ختم کې شامل وه . نو تر سه پارو دوويشتلو اودويلو
د ځه يو قاري لحان اومغن چې دالته حاضر وو يوه عالم ورته وويل چې ته يوه رکوع
دقرآن کريم جهرًا ووايه نو بيا به ختم شروع کړو . نو هغه قاري غاړې تازه کړي اوقرآن
شريف يې ومختر سپر کړي چې دده دخولې کشول اوډير يوه خوا بله خوا کښ وله يې څولک
وښووینې . اويوه رکوع يې په لحن اوتغنی اوپه لهجه دسرو شروع کړه . خو تقريبًا په شلو
دقيقو کښې پای ته ورسول اوهغه هم ميانه رکوع وه . خير خو باره سه پارې شروع
سوې اوهغه قاري تقريبًا په لسو دقيقو کښې سرپاره ختمه کړه . خير . څه وخت چې
قرآن شريف ختم سو ، يوه فقيه عالم چې په قندهار کې وو هغه وقاري ته وويل چې
قاري صاحب دقرآن شريف مخارج دحروفو ، اود حرکاتو آداء . اومدات وغيره مما يتعلق
بعلم القراءة دقرآن په جهر سره ويل . اوپه کراره ويل کې فرق سره لري . قاري ورته
وويل يا فرق نه لري . نو هغه عالم وقاري ته وويله چې عجيبه خو داده ، چې فرق هم نه
لري اوتا يوه ميانه رکوع په هال کې د جهر . په شل دقيقي کښې وويل اوپوره يوه سه
پاره دې په لسو دقيقي کښې ختم کړه . قاري دخجالت سرکښته وځراوه اوجواب يې ورنه کړ .

درویش وائی: چې داسې ریائی قرآنتونه اوس ښیخې وېږدې "بیت - بروی دریا خرقه سهلست دوست. وگر با خـدا در فروشی نکوست :: بیت :: واعظان کین جلوه در محراب و منبر میکنند :: چون بخلوت میروند آن کار دیگر میکنند ::

قَالَ المصنفؒ
وَاقَامَةُ الْمُحْدِثِ وَاذَانُهُ وَاَذَانُ الْجُنُبِ وَصَبِيٍّ لَا يَعْقِلُ

اوډېر ښکه مکروه دي اقامت د بې اودسه او اذان یـه او مکروه دی اذان د جنُب. اوډ اغږ ښکه

وَمَجْنُونٍ وَسَكْرَانٍ وَاِمْرَأَةٍ وَفَاسِقٍ وَقَاعِدٍ وَالْكَلَامُ

مکروه دی اذان د کشنی چې عقل نه لري. اود لیونی. او نشـه، او د ښځی او فاسق اود ناست سړي. اوډ اغږ ښګه

فِي خِلَالِ الْاَذَانِ وَفِي الْاِقَامَةِ وَيَسْتَحِبُّ اِعَادَتُهُ دُوْنَ

مکروه دي خبرې دا اذان په مَنځ او په اقامت کې. اود داسې اذان اعاده ضروري دَه. نه د اقامت

الْاِقَامَةِ

پوښتنه: چې په اذان کې د بې اودسه مؤذن دوه روایته دي. یو روایت دا دی چې اذان د محدث نه دی مکروه. وهوظاهرالروایة عن الامام الاعظمؒ. په بحر رائق او درر کښې وائي چې دغه روایت صحیح دئ. او په روایت کې د حسنؒ کمافي القهستانی والتحفة" داسې راغلی دي چې دا اذان مکروه دی لکه مصنفؒ چې هم وائي لکن چونکه نقصان په جنابت کې افحش دی نو اذان د جنب مکروه بالاتفاق دی. او اقامت هم مکروه دئ. او مصنفؒ په مَراقی الفلاح کښې خپل عذر وبه اختیار کې دَخلاف د ظاهر الروایة داسې وئیلي دی: واتبعتُ هـذه الروایة لموافقتها نصّ الحدیث" وهوقوله علیه الصلوٰة لَا یُؤَذِّنُ اِلَّا مُتَوَضِّئٌ" رواه الزیلعی فی شرح الکنز" ماتبعت وکی د دغه روایت د حسنؒ یعنی که څه هم د ظاهر روایت څخه خلاف دَئ. د دې سَببه چې د دغه روایت د ظاهر الفاظو سره د حدیث شریف برابر دي. چې زیلعیؒ په شرح کښې د کنز روایت کړې دئ. چې آنحضرت صَلی الله علیه وَسلم وائي: چې اذان دې نه کوی مګر اودَس والا. یعنی که څه هم د دی حدیث تاویل علماء داسې کوي چې نه ښائي چې اذان وکړي بې اودَس سړي. او یا محول

په زجر دئ. او د کشنی اذان چې مکروه دی ولې چې خلک د داسې کشنی و اذان ته اعتبار نه ورکوي. لکه د لیونی وهمځي ته. بلکه خلک د اذان معتبر په انتظار وي. نو به یا وخت ووزي په دې انتظار کښې یا به جماعت فوت سی او یا به لمونځ وخت مکروه ته ورسیږي او په بعض کتابو کښې وائي چې د نابالغه اذان مکروه دی که څه هم خاوند د عقل وي. لکن ظاهرالروایت دا دی چې د صبی عاقل اذان بیله کراهته څخه روا دئ. ولې چې دئ مامور بالجماعت دئ" کذا فی البحر والنهر" اوډ غږ ښکه مکروه دی اذان د لیونی بلکه صحیح نه دئ. بلکه د معتوه دا هم مکروه دئ. اوډ غږ ښکه مکروه دی اذان د مست یعنی په سبب د فسق فاحش، او بل دا خبره ده چې سکران پوره تمیز نه لري. اوډ غږ مکروه دی اذان د ښځی. ولې که دا اذان کراړ کراړ کوي نو اعلان مقصود د اذان څخه نه راځي. او که په زور کوي ګناه ده. ولې چې آواز د دې عورت دئ. اود غږ ښکه مکروه دی آذان د فاسِق یعنی مرتکب د کبیره ګناه، ولې چې آدینی خبرو کښې دَفاسق قول نه دی قبُول. نو پس اعلان کامل نه راځي. اوډ غږ ښکه مکروه دَی اذان په ناسته. ولې چې یو خو اعلان کامل نه راځي او بل دا چې د مغني مَلکی نازل څخه خلاف دئ.

مَسَئَلَه: په پروتې اذان په طریقه اولیٰ مکروه دئ. **مَسَئَلَه:** په سپرتیا کښې هم اذان مکروه دی مګر مسافر لره. اود غږ ښکه مکروه دی خبرې په مَابین کښې د اذان او اقامت یعنی که څه هم په رَد دَسَلام وي. او مستحب دی راګرځول د اذان چې خبرې په کښې وکړي نه د اقامت. ولې تکرار د اذان مشروع دی لکه دَجمعې په وَرځ اود اقامت تکرار په شرع شریف کښې نسته" وقَالَ المُصنفؒ:

وَيُكْرَهَانِ لِظُهْرِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فِي الْمِصْرِ

او مکروه دی اذان او اقامت دَپاره د ماپښین د لما نځه په وَرځ د جمعې په ښار کښې. یعنی که چیرې دیوی ډلی خلګو څخه د جمعې لمونځ فوت سُو. او یا نه وو فوت په قصد یه پرې سونو بیا دوی اراده وکړه چې د ماپښین لمونځ په جماعت وکړي اذان او اقامت ورته مکروه دی"

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِکَاتِبِهٖ وَلِمُصَنِّفِهٖ وَلِوَالِدَیْهِمَا اٰمِیْن.

Maktaba Tul Ishaat.com

مسئله: په جماعت د جمعې د ورځې د ماپښین لمونځ که څه هم اذان او اقامت نه وي هم په ښارکې مکروه دی. **مسئله**: قید د ښاریه وَوَایه وَلې د کَلیو پر خلګو خو جُمعې لمونځ نشته. نو آذان او اقامت ورته مکروه نه دی لکه په جماعت چې لمونځ ورته مکروه نه دی. ط، م، قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَيُؤَذِّنُ لِلْفَائِتَةِ وَيُقِيمُ

وَكَذَا لِأُولَى الْفَوَائِتِ وَكُرِهَ تَرْكُ الْإِقَامَةِ دُونَ الْأَذَانِ فِي الْبَوَاقِي

او اذان دې کوي د قضائي لمونځو د پاره او اقامت دې کوي. او د غه رنګه د پاره د اول د قضائي لمونځو د اذان او اقامت دواړه یعنی که ډیر لمونځونه څنډې قضا سوي وَه، او مکروه دی پرې ښوول د اقامت نه د اذان. د اول څخه ماسوا په نورو قضائي وو کښې **پوښتنه**: چې دلیل د دې مسئلې هغه حدیث دی چې په ډیرو صحیح کتابو کښې د حدیثو راغلی دي. حدیث مذکور که څه هم اوږد دی لکن تر ځایه د حاجت پوري بې زه ترجمه درته وکړم، د زید بن اسلم رض څخه روایت دی چې آنحضرت صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّم یوه شپه په لار کښې د مکې معظمې په اخیر شپې په غوښتنه د اصحابو رض د خواب او آرام د پاره واړول. چې دې ته تعریس وائي، او بلال رض پرې بَاندې وګماره چې دی به نه بیدیږي او د سحار اذان به کوي. بلال رض هم او عده وکړه، نو علیه الصلوٰة وَالسَّلَام او اصحاب کرام رض په بیغمه ژړه بیده سول، بلال رض د تهجد نفل وکړه نو څه وخت چې سپیدې یې په خیال نږدې وَرَه غلی نو یې مخامخ د سپیدو راختو وَخواته یو څوک اوښ شاه و تګوله. هغه وو چې پر قدرت د خدای جل شانه او د پاره د حکمتِ الهٰی بلال رض په خوب کې ډوب سُو. هغه وخت راویښ سُول چې لمر تاوده کړه. خلګ یعنی اصحاب رض چې راویښ سَوله ډیر په خوف او هراس کښې وَه چې لمونځ د سحار قضاء سُو. نو آنحضرت صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّم امر وکړی. چې دا شیله شیطان ده. اوښان د ربار کړئ. نو اصحاب رض پر اوښانو سپاره حتیٰ چې تر هغې شیلې وَوَتل رسول الله

صَلَّی اللهُ علیه وَسَلَّم امر وکړی چې کښته سی او د سُونه تازه کړئ. او امر یې کړی بلال رض چې اذان دې وکړي او اقامت هم. نو آنحضرت صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّم په جماعت لمونځ وکړي بیا تر پایه پوري د حدیث. **فَائِدَه**: مصنف اذان کول د پاره د قضائي لما نځه مطلق وَوَایه. یعنی کی قضاء په کور کښې، او که په مسجد کی، لکن بحر رائق د مجتبیٰ څخه چې مجتبیٰ نسبت کړې دی و امام حلوانيؒ ته داسې وائي چې اذان سُنت د قضاء دی په کور کښې (وکی په مسجد کی قضاء، او نه اذان به نه کوي. ولې چې محلو والا به تشویش او اضطراب کی لوېږي چې داخرنګه اذان دی. او صاحب النجر د ادلیل وائي چې فقهاوو تصریح کړې په دې سَره چې قضائي لمونځونه دی سَرې په کور کښې ګذاري. نه په مسجد کی ولې د سَرې سستي و خلګو ته ښکاره نه سي چې دې سَرې لمونځ قضاء کړئ یعنی د اقامت کول لو څخه، فالواجب الاخفاء، نو پس اذان کول اولیٰ دی په منع سَره یعنی په مسجد کی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

إِذَا اتَّحَدَ مَجْلِسُ الْقَضَاءِ

که یو وو مجلس یعنی ځای د قضاء، او لوړه لمونځو یعنی کی پر یوه ځای قضائي لمونځو، اګر ځول نو پرېښوول د اذان په باقي یعنی ماسوا د اول لما نځه قضائي مکروه نه دی.

فَائِدَه: مونږ د څخه نږدې وویلې چې حلوانيؒ وائي. چې په مسجد کښې د قضائي د لما نځه د پاره اذان نه کوی. ولې چې په خلګو کښې تشویش او اضطراب پیدا کیږي. نو که د تشویش سبب نه وو نو د هر لما نځه قضائي د پاره د اذان او اقامت دواړه کوي، ولې چې په صحیح حدیث کښې د بخاريؒ او مُسلمؒ او نورو کتابو کښې د احادیث مبارکه وو داسې راغلی دی چې په غزا کی د خندق چې یوه مهمه غزا او سخته غزوه د رسول کریم صلی الله علیه وسلم او اصحابو رض څخه، لمونځونه قضاء سوله، الظهر، والعصر، فالمغرب والعشاء، نو رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّم قضاء، اوړه پر ترتیب، او بلال رض یې امر کړی چې د هر لما نځه د پاره آذان او اقامت وکړي. **حَوَاله**: تفصیل د غزا د خندق چې غزوة الاحزاب یې هم بولي. د فقیر په کتاب "البلاغ المبین" فی منهیات الدین" کښې

مطالعه کړئ چې په عربي ژبه دئ. قَالَ المُصنفُ

وَاِذَا سَمِعَ المَسنُونَ اَمسَکَ اوچې واوريدل سي سُنت اذان سامع دې د خبرو څخه ځان وساتي حتیٰ په مراقي کښې مصنفؒ وائې چې د تلاوتہ د قرانٰ کريم دی هم ځان وساتي. دد ے ديارہ چې په خوله سَره اجابت دمُوذن وکړي که څه هم په مسجد کښی وي» قَالَ هُوَ الافضل» ونقل المصنفؒ عَن الفوائِد» چې سَامع که په مسجد کې وُو او تلاوت يې کوَ نو خپل تلاوت ته دې ادامه ورکړي. يعنی اجابت دآذان دی په ژبه نه کوي. او کهٔ په کور کښی تلاوت کاوه نو که د تالي د مسجد اذان وو نو قرائت دی پريږدي او اجابت دی وکړي او که د بل مسجد اذان وو د خپل تلاوت دی کوي.

فائِدہ: داذان مسنون څخه هغه اذان مراد دی چې لحن او تغنی نه وي په کښی او يا د هغه کسانو اذان نه وی چې اذان يې مکروہ وي لکه چې وړاندې تير سوه» مِن قوله ويکرہ التلحين الخ.

„تَحقِيقُ الکَلَامِ فِي اِجَابَةِ الاَذَان“

پوښتنه: چې اجابت او قبلونهٔ داذان په فعل سره يعنی د جماعت وَلما څخه ته تلل سُنت مؤکده او يا واجب دئ **مسئله**: که سړي خبرې کول په فقه شريفه کښی او يا په اصول الفقه کښی اجابت داذان پر واجب دی **مسئله**: که سړی د تگ په حالت کښی اذان واوريدی پس بهتر کار دادی چې ودريږی او اجابت داذان دی وکړي **مسئله**: که سړي ډير اذانونه واوريدل اجابت داول اذان دی وکړي **مسئله**: اجابت داذان په لمانځه کښی نسته که څه هم د جنازی لمونځ وي او د غه رنگه د خوراک په وخت کښی او يا د جماع په حال کښی او يا د قضاء حاجت په وخت کی اجابت داذان نسته **مسئله**: جُنب سړی به اجابت کوي او حائض او نفساء ښځه بی نه کوی. ولی هغه څوک چې د اجابت په فعل سره اهل نه وي اجابت بالقول هم نه دی پر لازم»

فائدہ: په فتاوای بزازيه کښی داسی راغلی دی» که څوک ناست وو او اذان يې واوريدی مندوب دهٔ چې ولاړ سي. درويش وائې چې دا مسئله د نورو کتابونو د فقهي شريفي مطابقت نه لري **مسئله**: که يو سړي د سره څخه د مؤذن سره اجابت نه کی شروع نو سُنت دادی چې پس له اذانه دی اجابت وکړي. که وخت لږ تير سوی وُو. ط.

پوښتنه: چې اجابت د مُوذن وَاجب دی په نيزد خلاصه وَالا. او د فتاوای خانيه والاو د صاحب التحفة» واليه مَال الکمالؒ» او په در مختار کی وائې چې اذان داوريدو په وخت کی هيڅ شغل نه کوي بيله اجابت داذان حتیٰ چې د چا د سلام جواب دی هم نه ورکوي که څه هم ردالسلام واجب دی. او امام مالکؒ وَائې چې اجابت داذان مندوب دی. او دا هم مذهب دی دامام شافعیؒ او د امام احمدؒ او د جمهورو فقها وُو. او دا مذهب مختار کړی دی بدرالدين العينیؒ په شرح کښی د بخاری او امام شهابؒ په شرح کښی د شفاء وائې» وَهُوالصحيح فی المذهب. ولی چې يو وخت آنحضرت صلی الله عليه وَسَلم داذان داوريدو په وخت کښی چې مؤذن وويله اَللّٰهُ اَکبَر ۲ ځلوره وارہ داسی وويله عَلیَ الفِطرة» او د شهادتين په وخت کښی داسی وويله» خَرَجتَ مِنَ النّارِ» يعنی اجابت يې ونه کړي. او يوه جماعت د علماوُ تصريح کړيده چې اجابت بالقول واجب نه دئ. بلکه مستحب دی نو کی اجابت وکړي ثواب به ومومی او کی نه وکړي نه گناه سته او نه کراهت» ط» او دَ التجنيس» څخه داسی څخه داسی نقل کړه سوی دئ. چې مکروہ تحريمی نه دی خبرې په وخت کښی داذان نو که اجابت وای نو خبری کول بايد مکروہ تحريمی وایٔ. او امام طحطاویؒ وَائې» اِنّه اِختَلَفَ التَّصحِيح فِي وُجُوبِ الاِجَابَة بِاللِّسَانِ وَالاَظهَرُ عَدَمُه» يعنی په تصحيح د عُلماؤ يعنی حکم په صحت سره د واجب وائی د اجابت په خوله سره اختلاف سته او اظهر دادہ چې واجب نه دئ. اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه امين. قال المصنفؒ

وَحَوقَلَ فِي الحَيعَلَتَين او وَلَاحَولَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ دې وائې اجابت کوونکی په وَخت کښی د ويلو د مؤذن» حَيَّ عَلَی الصَّلوٰة» او حَيَّ عَلَی الفَلَاحِ **پوښتنه**: چې عمومي ترجمه د وَلَاحَولَ وَلَاقُوَّةَ آ، هغه ده چې

Maktaba Tul Ishaat.com

چې مصنفؒ په مراقي کښې ذکر کړېده هغه دا »لَاحَوْلَ« ځان جګرول نسته د ګناه څخه او نه قوت سته پر عبادت کولو باندې»، مګر په فضل سره د خدای او خصوصي ترجمه یې چې د آذان سره مناسبت لري هغه ده چې امام طحطاویؒ ذکر کړېده. هغه دا سې چې مؤذن چې امر وکړي چې ته ځان تیار کړه و لمانځه ته او راسه و لمانځه ته: او په حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ کې امر وکړي چې ته ځان جوړ کړه و نجات ته دوځې د قیامت» (او د اواړه کار په حرکت سره د بنده ترسره کیږي. او بنده مستقل قدرت نه لري پر هیڅ شيء نو بنده تمناسب ده چې په جواب کې د دغو دوو امرو د مؤذن ووایي چې قدرت نسته ما لره پر حرکت کولو باندې او نه طاقت لرم پر هغه شي چې مؤذن ئې د ما څخه طلب وکړي مګر په قوت د خدای او په توفیق د ده»

مسئله: او ریدونکي د اذان دې په حیعلتینو کښې دا غه د اذان حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ او حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ نه وایي. ولې دا دوې کلمې دا امر دي. که یو سړي دا امر خولې استعمال کړي دا د خولې پیښې بولي. او د پس خند» مثلاً یو څوک وچاته ووایي چې ولاړ» هغه ورته ووایي هو ولاړ سه» خندګ دا پیښې بولي. او نورې کلمې دا ذان خوشنا د خدای ده او ورو سته تر حمد و ثنا دعا قبلیږي. لکه چې اجابت کوونکي یه په اخیر کښې کوي چې راږ سي» اِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى» قَالَ الْمُصَنِّفُ»

وَقَالَ صَدَقْتَ وَبَرَرْتَ" اَوْ مَاشَاءَ اللّٰهُ عِنْدَ قَوْلِ الْمُؤَذِّنِ

او وائی به اجابت کوونکي رښتیا وائې، او ښه کار د وکړې. او یا دِ مَاشَاءَ اللّٰهُ وَایئ په نیږدې د قول د مؤذن چې، اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ یعنې

اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ

د سحار په اذان کښې **پوه سه**: چې ماضي صیغه دلته یعني قَالَ په معنا دا امر ده»

فَائِدَه: پوه سه چې جواب د حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ او حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ په لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ سره ور کول مذهب دی د امام ثوريؒ او د امام اعظمؒ او د ابویوسفؒ او امام محمدؒ. او د امام احمدؒ په صحیح روایت کې ده څخه او د امام مالکؒ په یوه روایت کې. او امام شافعيؒ او د امام احمدؒ په یوه روایت کې او دغه رنګه

د امام مالکؒ په یوه روایت کې. وائې چې په ټوله اذان کې دې هغه کلمې وائي چې مؤذن یې وایي. یعني په حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ او حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ کې او هم دا غه کلمې وایي. او محقق کمال الدین ابن الهمام الحنفيؒ په فتح القدیر کې وایي چې حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ او حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ په وخت کې دې هم دا غه کلمې وائي او هم دې لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ وائي تا چې په ټولو احادیثو سره عمل وکړ سي.

ولې چې د» وَلَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ دوېلو حدیث خوهغه وو چې تیر سُو، او په مسند کې د ابي یعلي په روایت د ابي امامةؓ د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه دا سې راغلي دی: چې ناري کړي نعرې کوونکي د پاره د لمانځه یعني مؤذن ... خلاصې سي دروازې د آسمان او قبلیږي دُعا. پس که پر چا باندې نازله سي بې قرارې یعني په یو سبب سره او یا سختي پس دا سړي دې انتظار وکړي و مؤذن ته» نو چې هغه تکبیر ووائی دی دې هم تکبیر ووائی. او چې هغه تشهد ووایي یعني اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ۲ واره اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ ۲ واره دی هم تشهد ووایي یعني ۴ واره. او چې مؤذن ووایي حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ ۲ واره دی هم دغه کلمه ووایي. او چې مؤذن ووایي حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ ۲ واره دی هم ووائي دغه کلمه بیا تر اخیره پورې - او پس له اجابت څخه متصله دا دُعا وکړي. اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ الْحَقِّ الْمُسْتَجَابِ لَهَا دَعْوَةُ الْحَقِّ وَكَلِمَةُ التَّقْوٰى»، اَحْيِنَا عَلَيْهَا وَاَمِتْنَا عَلَيْهَا وَابْعَثْنَا عَلَيْهَا وَاجْعَلْنَا مِنْ خِيَارِ اَهْلِهَا مَحْيَانَا وَمَمَاتَنَا ثُمَّ يَسْاَلُ اللّٰهَ حَاجَتَهٗ" د دې حدیث روایت طبرانيؒ په کتاب الدُّعَاءِ کښې کړی دی. او حاکمؒ وایي چې دا حدیث صحیح الاسناد دی،

سؤال: چې د مخه د مصنفؒ په کلام کې د مراقي دا سې تیره سوه چې هغه کلمې د حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ او ویل مشابه بهت د پس خند سره لري. او په حدیث فوق الذکر کښې هم هغه کلمې ذکر سوې فکیف التوفیق»

جواب: هر کله چې اجابت کوونکی وویله »حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ او حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ» نو د ده مقصود استهزاء نه ده او نه دا مشابه دا استهزاء سره دی په قرینه د ور وسته ویلو د» وَلَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ» ولې چې د دې څخه دا معلومیږي

چی په حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃِ. او حَیَّ عَلَی الْفَلَاحِ کی دی دی وځان ته امر وکړي چی ارا سته
سره لمانځه ته او ځان باعثه کوي پر اجابت په فعل سره» او بیا یه د خپل ځان د خوا وویله
لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ آه:

مسئله: په مجمع الانهر کی دسحار د اذان د اَلصَّلٰوۃُ خَیْرٌ مِّنَ النَّوْمِ» په اجابت کی
د اجمله هم زیاته کړي»، وَبِالْحَقِّ نَطَقْتَ» د روایت وائي: وَلَا شَکَّ اَنَّ زِیَادَۃَ الْخَیْرِ خَیْرٌ»

مسئله: په اقامت کی دی هم ورته د اجابت د اذان اجابت کوي. لکن په وینا سره د
» قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوۃُ» اجابت وَالادا اسی وائي: اَقَامَهَا اللّٰهُ وَاَدَامَهَا» هکذا روی عن
النبی صلی اللّٰه علیه وسلم کما ذکره الحلبیؒ ط» قَالَ الْمُصَنِّفُ»

ثُمَّ دَعَا بِالْوَسِیْلَةِ فَیَقُوْلُ: اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ

او بیا دی دعا د وسیلی وکړي هغه داسی یا اللّٰهُ چی رب یه د دعوت چی کامل دی یعنی اذان

وَالصَّلٰوةِ الْقَائِمَةِ اٰتِ مُحَمَّدَا نِالْوَسِیْلَةَ وَالْفَضِیْلَةَ وَابْعَثْهُ

او د دغه لمانځه چی ثابت او قائم او دائم دی ورکړي و محمد صلی اللّٰه علیه وسلم ته وسیلة او فضیلت پر نورو
انبیاء علیهم السلام او وه پاځوی دی په

مَقَامًا مَّحْمُوْدَنِ الَّذِیْ وَعَدْتَّهٗ

ځای کښی چی خلک تول حمد وائي هغه
مقام محمود چی تا ای خدایه وعده ورسره کړی ده. چی مقام د شفاعت کبرای دی په قیامت کی.

مسئله: دغه دُعا به مؤذن هم کوي او مجیب هم. لکن دَمخه تر دُعا دی درود شریف ووائي
په حدیث شریف کی چی جابر رض یه روایت کړي د آنحضرت صلی اللّٰه علیه وسلم نه داسی
راغلی دی که یو چا وویله په وخت کښی د اورېدو د آذان» اَللّٰهُمَّ آه حَلَّتْ لَهٗ شَفَاعَتِیْ
یَوْمَ الْقِیَامَةِ» معنا دا چی ثابت به شي او واجب به شي ده له شفاعت زما په ورځ د قیامت»

فائده: په بعض روایا تو کښی د دعی دُعا سره یوه کلمه بله هم راغلی ده هغه دا» اَلدَّرَجَةَ
الرَّفِیْعَةَ»، وزیادة الخیر خیر» **پوښتنه**: چی د دعوة تامه معنا دا ده چی په دی کی نقصان

او عیب او تغیر نشته او نه منسوخه کیږي. امام طحطاويؒ وائي چی مراد دعوة تامه څخه
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دی. او عینيؒ وائي چی تر محمد رسول اللّٰه پوري مراد ده. او د روایت
په نیز تول اذان مراد دی»، وَاللّٰهُ اَعْلَمُ»

وسیله: چی د وسیلي تفسیر آنحضرت صلی اللّٰه علیه وسلم داسی کړی دی: وَهِیَ مَنْزِلَةٌ
فِی الْجَنَّةِ لَا تَنْبَغِیْ اِلَّا لِعَبْدٍ مُؤْمِنٍ مِّنْ عِبَادِ اللّٰهِ. وَاَرْجُوْا اَنْ اَکُوْنَ اَنَا هُوَ فَمَنْ
سَاَلَ لِیَ الْوَسِیْلَةَ حَلَّتْ لَهُ الشَّفَاعَةُ» یعنی وسیله یوه درجه ده په جنت کی چی نه ښائی
مګر یو عبد مؤمن لره» د بندګانو څخه د خدای جل سلطانه» او زما امید دی چی زه به
یم هغه عبد مؤمن. نو څوک چی سؤال وکړي زما د پاره د وسیلي ثابت به سي هغه لره شفاعت
یعنی زه لی په ورځ د قیامت خواه مخواه شفاعت کوم **پوښتنه**: چی په قرآن کریم
کښی داسی راغلی دي» اِبْتَغُوْا اِلَیْهِ الْوَسِیْلَةَ» تاسی طلبوی وسیله د نجاة د عذاب څخه
د هغی وسیلی معنا علم با اللّٰه و صفاته وهکذا جمیع العقائد الحقة والعبادة له تعالیٰ»
او حاصل یه فعل د مامورا تو دی او پرهیز کول د منهیا تو څخه»
دا ترجمه موافقه او برابره ده تولو تفاسیرو سره. او بعض پیران چی د وسیلی تفسیر په پیر
سره کوي یعنی چی د پیر مرید ی وکړي هغه ترجمه د دی ایت نه ده» البته د شیخ کامل مکمل
مریدی مستحب کار دی. لکن پیدا کول د داسی شیخ ډیر مشکل کار دی. وَمِنَ اللّٰهِ التَّوْفِیْقِ

فائده: مراد د مقام محمود څخه شفاعت عظمی د رسول کریم صلی اللّٰهُ علیه وسلم دی
چی تفصیلی بیان یه د عاصی په کتاب کی البلاغ المبین کی وګوره. او دا هم مذهب دی د
د اکثر اهل علم او دا هم ډیر مشهور تفسیر دی. **پوښتنه**: دا مقام چی خدای
جل جلاله یه وعده کړېده په قرآن شریف کی: عَسٰی اَنْ یَّبْعَثَکَ رَبُّکَ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا» او
خدای جل جلاله د وعدی څخه خلاف نه کوي» اِنَّ اللّٰهَ لَا یُخْلِفُ الْمِیْعَادَ» نو طلب د مقام
محمود په دي دعا کی څه فائده لري. **جواب**: مقصود د دی دُعا څخه حصول د
هغه ثواب دی و دُعا کوونکی ته دی چی په فوق الذکر حدیث راغلی ده. **پوښتنه**
آنحضرت صلی اللّٰه علیه وسلم ولی وویله چی» اَرْجُوْا اَنْ اَکُوْنَ» آه

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: دا دپاره دادب دخدای جل شانه سره او بعض علماء وائي چې دغه وخت کې آنحضرت صلی الله علیه وسلم ته دا نوم معلومه چې هغه بنده به زه یم سعدی شیرازی وائي ـ
عطائي شفاعت چنانش دهند ؛ کرامت تمامی ز دوزخ رهند.

فائدۀ مهمة: قهستانیؒ د کنز العباد نه روایت کړی دی چې دا خبره په روح البیان کښې هم موجوده ده. چې مستحبه ده چې سړی اول کلمه د" اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰه " واوری داسی دی وائي صلی الله علیك یا رسول الله" یعنی ترا اجابت وروسته. او کله چې دوهم وار هغه کلمه واوری نو دی دوه گوتی بتهی پر سترگو کښیږدی او داسی دی ووائي " قُرَّةُ عَيْنِيْ بِكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه او دا دعا دی وکړي. " اَللّٰهُمَّ مَتِّعْنِيْ بِسَمْعِيْ وَبَصَرِيْ" نو په دی سره به رسول کریم صلی الله علیه وسلم دده قائد وی په جنت کی. او بل ذکر کړی دی د یلمیؒ په فردوس کی چې دده کتاب دی په روایت دابوبکر الصدیق رضی الله عنه مرفوع وعلیه السلام ته . مَنْ مَسَحَ العَيْنَ. یعنی چا چې دواړی سترگی مسح کړې " بِبَاطِنِ اَنْمِلَةِ السَّبَّابَتَيْنِ بَعْدَ تَقْبِيْلِهِمَا عِنْدَ قَوْلِ الْمُؤَذِّنِ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ. وَقَالَ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ رَضِيْتُ بِاللّٰهِ رَبًّا. وَبِالْاِسْلَامِ دِيْنًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا حَلَّتْ لَهٗ شَفَاعَتِيْ" دا دوه حدیثه که څه هم سند یه قوی نه دی. لکن امام طحطاویؒ وائي: وَبِمِثْلِهٖ يُعْمَلُ فِي الْفَضَائِلِ" او په دغه حدیث او دا غه رنگه حدیثو سره عمل کیږی په فضائلو کښی د اعمالو کی ص۱۶۵

تعجب دی: بعض نام نهاد ملایان په او سنی وخت کښی وائي چې یا رسول الله ویل شرك دی. نَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ ذَالِكَ" آیا قهستانیؒ او یا مصنف د کنز العباد او دیلمیؒ او امام طحطاویؒ او مصنف د روح البیانؒ او جامیؒ چې وائي ـ
زمهجوری برآمد جان عالم ، ترحم یا نبی الله ترحم.. او نور ناموری علماء ـ دا نو دعوت کوونکی وشرك نه دی. او یا دا مشرکان دی ؟ ؟ هغه پرینږده دغو وو حدیثو به دا تو بحی بنداگان څه جواب وائي. البته. ددوی چې دیری دلاوری وی نو دا به وائي چې دا حدیثونه موضوعی دی یعنی دروغ دی پر علیه الصلوة والسلام ـ که څوك ددوی څخه پوښتنه وکړی چې ولی موضوعي دی. دوی به البته په لمن پوری د ابن تیمیهؒ او یا خطیب بغدادی او یا سبط

ابن الجوزی لاسونه ټینگ کړي ـ او یا به ووائي چې دا حدیث په صحاح سته وو کښی نشته نو زه وایم چې ټوله علماء د دین پر دی اتفاق کړی دی. چې د صحیح حدیثو حصر په صحاح سته وو کښی غلطه خبره ده بلکه دا کتابونه صحیح دي. دا امام بخاریؒ نه روایت دی چې وائي. تَرَكْتُ كَثِيْرًا مِّنَ الصِّحَاحِ لِحَالِ الطُّوْلِ"
ترتو لو خو عجیبه خبره لا داده چې دغه ملایان شپه او ورځ د ډیرو لیری ځایو د خلگو په ټیلفون کی خبری کوی او نوری وی، وهی نو پردی یه تصدیق دی. او دوی وائي چې دا خو د دنیا والو حکمت دی. نو زه وایم چې او ریدل د درود یا سلام. او یا یا رسول الله په غوږو د آنحضرت صلی الله علیه وسلم خو بیا د خدای جل سلطانه قدرت دی، البته په دی به هم دی قناعت ونه کړي. ولی دوی به ووائي چې سړی چې مړ شي هغه جماد گرځی نو څرنگه شی اوریدلی سی. نو زه وایم علی تقدیر التسلیم" دا بو جهل به لاس کښی څرنگه سنگریزی لا اله الا الله محمد رسول الله وویل چې په نوکه ثابت ده" صحیح

پوښتنه: چې فقیر داسی وویله علی تقدیر التسلیم ددی معنا داده چې څکه د دوی خبره چې مړی په مرگ سره جماد گرځی ومنم" یعنی اول خو زه دا خبره نه منم. ولی چې په دی خبره کښی خوا نکاری د عذاب القبر نه چې هغه یوه اتفاقی مسئله ده. د اهل السنت والجماعت ـ او په دی خبره کی خوا نکاری د هغه صحیح حدیث نه چې علیه الصلوة والسلام فرمائي: اَلْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِّنْ رِّيَاضِ الْجِنَانِ اَوْ حُفْرَةٌ مِّنْ حُفَرَاتِ النِّيْرَانِ"
داده خاتمه د باب الاذان او اوس ان شاء الله الکریم مقصود اصلی چې لوڅ دی شروع کیږي. اَللّٰهُمَّ وَفِّقْنِيْ لِاِتْمَامِ هٰذَا الشَّرْحِ بِالْخَيْرِ وَالْعَافِيَةِ وَالصِّحَّةِ وَالسَّلَامَةِ وَاجْعَلْهُ لِوَجْهِكَ الْكَرِيْمِ، وَارْزُقْنِيْ الْاِصَابَةَ فِيْ مَسَائِلِ هٰذَا الْكِتَابِ، وَاحْفَظْنِيْ مِنْ كَيْدِ الْحَاسِدِيْنَ. وَشَرِّ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ بِاَفْوَاهِهِمْ مَا لَا يَعْلَمُوْنَ. اَللّٰهُمَّ افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ بِالْحَقِّ وَاَنْتَ خَيْرُ الْفَاتِحِيْنَ. وَمَا ذَالِكَ عَلَيْكَ بِعَزِيْزٍ وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى آلِهٖ وَصَحْبِهٖ اَجْمَعِيْنَ.
بیت ـ نقصان ز قابلست وگرنه علی الدوام ؛ فیض سعادتش بهمه کس برابراست ؛

بَیت: دابارانِ چې پرهمه ووځکووړي... مشرف یې کې دا ذات دکیمیاوَ لې...
بَیت: دحسَد پرغونډي ناست دی حاسدان... ژړاوخواته یه دَغشودي بـاران...
بَیت. دقیامت په ورځ به خه کوي خواران.. چې محسُوده دوی دلاسه وي نالاَن.
بیت... نه بخښنه دمحسُوسته نِې دوَغواړي... پرحسَد بانډي سربېرۀ لوي باري دَبهتان.
بیت... بـه عمل یه دمحسود دي چې قیامت سِی... ومحسُوته کم ضرر دی کم تاوَان
بیت.. کبیرۀ دې گنهونو په اجماع ... داحسَد اوهم غَیبت اوهـم بُهتان..
بیت... نه عُبید خَواصو خَلگو ته حیران یَم ... چې عمل په علم نه کې عَالمان.

عبدالله ایوبی کندهاری

دَ نیکمرغئ زیرئ

دبخت ستوریځ موا وچت پاس پرآسمان سو
ایوبی چې په پښتوژبه گویـان سو

افغـان به نن په سَترۀ شمله گرځی
چې ئې دین نن په پښتوژبه عیان سُو

دسجدی سرونه کښته کړي خپل رب ته
تاریخي نوم نوشته چې دافغان سُو

ایوبی ستا دَقلم توپ اثر و سَنه
نن بنکاره پر امریکا، اوپر ایران سُو

بیله ستا دنوشتو کله قبلیږي
کتابونه، تقریرونه که بیان سُو

رب به نوراً ئې عمر زیات کړي دین خدمت ته
ځکه نن زما حقانِي دغه اعـلان سُو۔

حقانی دروکوټه
۱۴۲۱/۸/۱۶ھ

بَابُ شُرُوُطِ الصَّلٰوةِ وَاَرکَانِهَا

باب دی په بیَان کی دشرطودَ لمانځهٔ اوپه بیان کی دَرکنودَ لمانځه، **پوښتنَه**: مصنفؒ ولې بیَان دَشرطو اوَرکنوپه یوه بـاب کی راوړی. **جَوابْ**: مصنفؒ په مَراقی کښی وَائیُ جمعًا بینهما للتیقظ لما تصح به الصلوٰة، ماجمع کړه دادوه شیان په یوه باب کی دپَارۀ دبیدارۀ کولو دزده کوونکو پـه هَغه شَیانوسرۀ چې په هَغوسرۀ لمونځ صحیح کیږي. **پـوښـتـه**: چې شروط جمع دشرط ده اوشرط په لغت کی عَلامته وائی لکه دود چې عـلامه داورده اوپـه شرعه شریفه کی هغه شی ته وائی چې یوشیُ پرده موقوف وي اودی د هغـه دمَاهیته څخه خارِج وي. لکه اودس دپارۀ دَ لمانځـه. اوشرط وَائي چې درې قسمه دی. یوعَقلی دی لکه تیشـه دپَارۀ د نجار. اوبَل شرعي دی لکه طهارت دپارۀ د لمانځهٔ. اوبَل جَعلی دی لکه دخول دپارۀ دَطـلاق چې سړي ومَا ینی ته وَوَائیُ: اِنْ دَخَلتِ الدَّارفَـانْتِ طَالِقٌ.

او **ارکان** جمع درکن ده رُکن پـه لغت کی قوي جانب ته وَائیُ. اوپـه اصطلاح کښی هغه شیُ ته وائیُ چې دده اودبَل شیُ څخه یوشی جوړیږي. لکه دچارپَائی پښی اونور لرگی. اویا رکوع دسجدی اوقیامروغیرہ دپارۀ د لمانځه. **فـَائِدَة**: پوه سَه چې علماءُد فقهی شریفی اوعلماءِ داصول الفقه، داسِی وَائیُ چې یوشیُ چې د بَل شیُ سره تعلق اورابطه لري. نوشیُ اول یا به په شیُ ثـانی کښی داخِل اوجزء وي او یا نه. که جزء وو هغه ته رُکن د دوهم شی وائیُ لکه رکوع اوسجده مثلًا دپارۀ دَ لمانځهٔ. اوکه داخِل نه وُو. نو یـا به تاثیر ظاهري لري په دوهم شی کی نو هغه ته علت وَائيُ لکه عقد د نـکاح دپارۀ دَرَواوالې دجماع. اوکه مؤثر په حسب دظاهرِهم نه وُو بلکه هغه شِی ثانی ته رسیدَی. هغه ته سبب وَائیُ لکه وخت دلمانځه دپَارۀ دوُجوب دلمانځه اوکه داسِی هم نه وُو لکن شیُ ثانی پر اول موقوفه وو، هغه ته شرط وَائیُ لکه اودَس دپارۀ دلمانځهٔ. اوکه دوهم شیُ پر موقوف هم نه وُو هغه ته عَلامه وَائیُ لکه اذان دپارۀ دَلمانځهٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

ذکره الحموی» ط. قَالَ المُصنفُ

لَابُدَّ لِصِحَّةِ الصَّلٰوةِ مِنْ سَبْعَةٍ وَعِشْرِيْنَ شَيْئًا چاره نسته دپاره صحیح

والې د لمانځه داوه ويشت شيانو ځنې؛ **پوښتنه**: چې شي عام دی رکن ته هم وائي او شرط ته هم. او د لته هم دواړه بيانېږي. **پوښتنه**: په ډېرو کتابونو کښې د فقهې ۱۲ شي موقوف عليه د صحت د لمانځه کنړل سوي دی او مصنفؒ ۲۷ شيان کړه. حتیٰ په پنج گنج کښې وائي: شش درون نماز و شش بيرون. **جواب**: هو لکن د هغو مصنفانو چې ۱۲ يې بيان کړي دی هغو غرض اسانول د حفظ دی پر زده کوونکو باندې خصوصًا نوآموزان، او د مصنفؒ چې ۲۷ بيان کړيدي تحقيق او تفصيل دی مگر بيا هم په دغو ۲۷ کښې هم حصر نه دی: كَمَا سَيَأْتِي إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالىٰ **پوښتنه**: چې محققوا لطحاويٌ د پاره د ضبط او د بيان اجمالي د دغو ۲۷ شيانو داسي بيان کړی دی.

چې **پوښتنه**: چې شروط اجمالاً پر څلور قسمه دي **اوّل شرط د انعقاد** د لمانځه دی فقط لکه نيت او تحريمه، او وخت، او خطبه د پاره د جمعې د لمانځه.

دوهم شرط د انعقاد دوام: د لمانځه د پاره هم لکه طهارت، او ستر عورت او استقبال القبلة چې دا شيان هم په وخت کی د انعقاد د لمانځه غواړي. او هم به په وخت کښې د بقاء د لمانځه غواړي» **دريم شرط د بقاء دی**: د لمانځه يعنی په داخل کښې د لمانځه هغه بيا دوه قسمه دی يو وجودی يعنی چې دا شي به موجودېږی نو لمونځ کېږي او بل عدمی يعنی د غه شي به نه وي نو لمونځ کېږي. پس وجودی شرط لکه قراءت چې په لمانځه کی هم رکن دی او هم شرط دی. په ټولو ارکانو کښې. او عدمی شرط. لکه دا چې په جماعت کښې به مقتدی تر امام د مخه نه وي. او يا دا چې مشتهات ښځه د لمونځ کوونکي پر برابر نه وي او يا دا چې قضائي لمونځونه چې ترتيب لري يعنی تر شپږ کم وي په لمانځه کی به نه ور ياديږي. او **څلورم شرط د اتمام دی**: د لمانځه چې اخيره ناسته ده.

سؤال تاسي قراءت شرط په ټولو ارکانو کښې وبالله او سره د دی چې قراءت صرف په دوو[2]

رکعتو کی فرض دی **جواب**: ظاهرًا که په ناسته کښې يا په رکوع او سجده او يا په دوو رکعتو اخيرو کښې قرائت فرض نه دی لکن تقديرًا فرض دی. ځکه هغه وخت چې فرضي قرائت امام وئيلی وي او بيا اوس په مات سی د امی سړي چې قرائت يې نه وي نو ده خليفه کرځول روا نه دی» كذا فی در المختار» ط؛ عن، قَالَ المُصنفُ

اول پاکی ده د کشف او لوی لې او د سيا ځنې او د حيض او

اَلطَّهَارَةُ مِنَ الْحَدَثِ نفاس ځنې. او بل پاکی د بدن د نجاست خفيفه او غليظه

وَطَهَارَةُ الْجَسَدِ وَالثَّوْبِ وَالْمَكَانِ ځنې» يعنی چې تر مقدار د معفو بالا وي او بل پاکی ده د ځای يعنی هغه ځای چې دی لمونځ په کښې کوي. او بل پاك والی د ځای د لمانځه دی يعنی د پښو ځای او يا د يوې پښې ځای کی بله پورته کړې وه» در مختار. قَالَ المُصنفُ

د داسي نجس ځنې

مِنْ نَجَسٍ غَيْرِ مَعْفُوٍّ عَنْهُ حَتّٰى مَوْضِعَ الْقَدَمَيْنِ چې عفوه نه وي او د معفوعنه بيان د مخه تير سو فتذکر، نو که تر يوه پښه لاندې نجس مانع وو لمونځ يې نه صحيح کېږي. او که تر دواړو پښو مجموعًا لاندې نجس مانع وو هم يې لمونځ نه صحيح کېږي. **مسئله**: که سړی د واړه پښې ايښې واي پر نجس باندې نو تر قدر معفو بالا کيدی. نو ده يوه پښه په هوا ونيوله او پر يوه پښه يې لمونځ کاوه دا کار مکروه دی» قَالَ المُصنفُ

يعنی بل شرط

وَ الْيَدَيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ پاك والی دی د ځای د لاسو او د ورنو د ګونډو **پوښتنه**؛ چې امام حلبيؒ وائي چې فرق نسته په مابين کی د ورنو ګونډو او لاسو او د پښو، او د ځای د سجدی په دی کی که نجاست مانعه په دغو ځايو کښې وي لمونځ يې نه دی روا. ولی چې جوت والی د يو اندام په نجاست پوری داسي دی لکه چې هغه نجاست د ده سره ور سره وي. که څه هم وضع د هغو اندام فرض نه وي، حتی که ځنګلی پر ځمکه که کښېښوولی، که څه هم دا وضع مکروه ده. لکن که پر نجاست مانعه وي لمونځ يې نه دی روا» ط»

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِكَاتِبِهٖ وَلِمُؤَلِّفِهٖ اٰمِين

وَالْجَبْهَةِ عَلَى الْاَصَحِّ اوځای د تندی ایښوولو به هم پاك وي پر صحیح روایت ده حضرت الامام اعظمؒ. په اصح کی مصنفؒ اشاره وکړه یو بل روایت ته د حضرت الامامؒ څخه چی وائي پاك والی دځای د تندی ایښوولو شرط نه دی، ولی چی یو روایت داسی ستر چی سجده یوازی پر پزه بیله تندی روا ده. او که تر پزی لاندی نجاست وو لمونځ روا دی. ولی هغه تر قدر د درهم کم دئ.

مسئله: که سړی پر وچو خشیو یا نورو وچو نجاستو باندی داسی پټو وغیره اوار کړی چی لاندی نجاست نه تر معلومیدی لمونځ پر هغه پټو روا دی. او که نجاست لوند وو او کراسته یه پر آواره کړه. او یا یه پټو دوه دری واره غبرګ کړی. او پر اوار یه کړی په داسی ډول چی د نجاست بوی نه تر اوتی لمونځ پر روادی»، م.

مسئله: که دیوڅا لنګوټه اوږده وه او یو طرف یه چی پاك وو دده پر سر وو او بل طرف یه مردار وو چی هغه مردار طرف ده پاك طرف په ښورولو سره نه ښوری دئ. نو دهغی لنګوټی سره لمونځ روادی والافلا. م، **مسئله**: که خیمه مرداره وه او سړی لمونځ پر کښی کاوه او سر یه دخیمی سره لګیدی لمونځ روادی **مسئله**: که یو کوچنی سړی پر اوږه کښینولی وي چی هغه کوچنی ځان پر خپله ټینګولای سوای لمونځ ور سره روادی. امام طحطاویؒ وائي که څه هم دا کوچنی کپړی یا بدن یه مردار وي. ولی لیا څه کوونکی حامل د نجس نه بلل کیږي. او که داسی کوچنی وو متنجس چی ځان په خپله نه سوای ټینګولای نو لمونځ نه دی ور سره روا. ولی چی لمونځ کوونکی په دی صورت کی حامل د نجاست دئ.

مسئله: سجده یوازی پر تندی کول مکروه تحریمي ده کذا فی ط «، قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَسَتْرُ الْعَوْرَةِ وَلَا يَضُرُّهَا نَظَرُهَا مِنْ جَيْبِهِ وَاَسْفَلِ ذَيْلِهِ

او بل د شروطو څخه د صحت پټول دی د عورت: چی پر دی باندی اجماع د امت ده چی ستر د عورت فرض دی. په مراقی کښی وائي، وَلَوْ فِي ظُلْمَةٍ، که څه هم په تاریکه خونه کښی وي. او که څه هم هیڅ څوك نه وي حتی که یو سړی په تاریکه خونه کښی چی هیڅ څوك هم نه وو لمونځ یه کاوه او

بربنډ وو او سر د دی چی پاکه جامه ورته پرته وه. لمونځ یه دی روا، دلیل په دا دی چی په ستر کښی د عورت دوه حقه دي. یو حق العباد. او بل حق الله نو په تاریك ځای کی که هم حق العباد پر ځای سو یعنی خلګو دی عورت نه ولیدی مګر حق الله نه سو پر ځای.

پوښتنه، خدای جل سلطانه څخه عورت او پټ پټ عورت دواړه علم لري نو پټول د عورت څه فائده لري **جواب**: خدای پاك پر ټول عورت چی علم لري سره د بی ادبی دسړي او پر پټ چی علم لري سره د ادب دسړي. او دا ادب دخدایؒ سره فرض دی چی قدرت سړي لري»، کذا فی بحر الرائق، او امام طحطاویؒ وائي چی ستر د عورت تر دی اندازی پوری لازم دی که په څټو عورت لري او یا د درختی په بلګو یه پټوي او یا په خړو او بوبیه پټوي هم دا کاربه کوي. مګر په ښیښه پټول روا نه دی هغه پټول نه دی»

قوله **وَلَا يَضُرُّ** آه یعنی که لمونځ کوونکی تر ګریوان خپل عورت ولیدی ضرر نه لري. ولی چی معلی ته مسه کول د عورت ورته کتل روادی. لکن خلاف اداب الصلوٰة کما فی النهر»، او برهان الحلبیؒ وائي چی دا نظر مکروه تحریمي دی. او بعض مشائخؒ وائي چی ستر د عورت دخپل ځان څخه شرط د صحت د لمانځه دئ. وَهُوَ خِلَافُ الْمُخْتَارِ» **مسئله**: ستر د عورت خارج د لمانځه په خلوت کی امام حلبیؒ وائي چی واجب دی او شارح وائي چی نه دی واجب»، وَهُوَ الْمُخْتَارُ»

قوله **وَاسْفَل ذَيْلِه** آه یعنی که بل څوك تر لمن لاندی دده عورت وويني لمانځه ته یه تاوان نسته. ولی چی تکلیف په قدر د طاقت وي. او په منع کی د بل چا د کتلو د عورت دده حرج دی.

مسئله: د بعض خلګو خصوصاً د هندوستان دخلګو پر توګ دومره تنګ او قمیص یه لنډ وي. چی په هغه کښی د مصلی د کوناټی نښه او د خوټو نښه معلومیږي لکن پټی وي دا و لمانځه ته تاوان نه لري»، قَالَهُ الْحَلَبِيُّ. **مسئله**: په ثوب کښی د وربینمو او یا په محله مغصوبه کښی لمونځ صحیح دی لکن مکروه تحریمي دی»، ذکره السیدؒ. په مراقی الفلاح کی وائي چی مستحب دا ده چی نر دی په دری جامو کښی لمونځ کوي. دهغه ښو جامو څخه دده «قمیصٌ. وَازَارٌ، وعمامةٌ». او مکروه دی لمونځ په یوائي لنګ کی سره د قدرت پر قمیص

Maktaba Tul Ishaat.com

اونګوټه ،، قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی: خُذُوْا زِیْنَتَکُمْ عِنْدَ کُلِّ مَسْجِدٍ ، ای صَلٰوۃ کذا فسرہ کثیرٌ مِنَ المحدثین ،، او ښځی لره مستحب دی لمونځ په قمیص او پوړنی او پرتګ کښی "

مَسْئَلَه: نړلره کافی ده چی پراخه پټو وغیره کښی چی دده پر اکثر بدن مشتمله وي لمونځ وکړي . چی په حدیث کی دعبادةؓ بن الصامت کی داسی راغلی دي. چی مونږ ته لمونځ راکړی رسُول الله صَلی الله علیه وَسلم په یوه پټو کښی چی پر بدن مبارک یې راپیچلی وه- اود اوږو په مابین کی غوټه کړي وه **مَسْئَلَه**: رَسُولُ اللهِ صَلی اللهُ علیه وَسلم نهی کړی چی یوسړي په یوه جامه کښی لمونځ کوی چی پراوږو یې نه وی غوټه کړی وَلی چی احتمال دښیه کولو اوکشف عورت سته ، وَالکراهةُ تحریمیةٌ ط ،، قالَ المُصَنفؒ

وَاسْتِقْبَالُ الْقِبْلَةِ فَلِلْمَكِّيِّ الْمُشَاهِدِ فَرْضُهُ إِصَابَةُ عَيْنِهَا

او دغه نګه شرط دی د لمانځه دصحت دپاره مخامخ دیدل ومکة المکرمة ته په لمانځه کی اوفرضیت

وَلِغَيْرِ الْمُشَاهِدِ جِهَتُهَا وَلَوْ بِمَكَّةَ عَلَى الصَّحِيحِ

داستقبال په قرآن سره ثابت دي. فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ، او په حدیث سره هم ثابت دی ،، قالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم: لَا یَقْبَلُ اللهُ صَلٰوۃَ اِمْرَءٍ حَتّٰی یَضَعَ الطّهُورَ فِی مَوَاضِعِهٖ وَیَسْتَقْبِلُ الْقِبْلَةَ وَیَقُوْلُ اَللهُ اَکْبَر: **پُوه سَه**: چی مراد دقبلی نه دغه ځای دی دبیتی مبارکی نه خوله دکعبی حتی کی نیت دخونی دکعبی وکړی لمونځ یې نه دی روا ،، مګرکی مراد جهة وُو ،، کذا فِی المَرَاقی: **پوه سَه**: چی په مدینه مُنوره کښی هم اصابت دعین شرط دی ،، وَلی چی قبله دمَدینی وَالو په نص سره ثابته دَه ،، **پوه سَه**: چی سړي دلمانځه دپاره ومکی شریفی ته مخامخ ودریږی. نونیت دَخولی داستقبال القبلة نه غواړی وَهُوَ الاصح م ، اودغیرمشاهد دپاره یعنی چی کعبه شریفه نه وینی استقبالُ دَجهت کافی دی. که څه هم په بنارکی دمکی مکرمی یعنی په اطرافو کی دبنار پر صحیح روایت.

پوه سَه: چی قهستانیؒ وائی چی قبله نوم د هغه جهت دی چی خلک لمونځ ورته کوی

داوی ځکلی نه نیولی بیا تر اوه اسمانه پوری. چی دکعبی شریفی برخونه برابروي . اودا م زده کړه چی آنحضرت صَلی اللهُ عَلیه وَسَلم چی په مکه شریفه کښی او بعض علماء وائی چی لمونځ یې وکعبی شریفی ته کاوه. او بعض علماءٌ وائی چی لمونځ یې بیت المقدس ته کاوه سبب د دی اختلاف دا دی چی عَلیه السَّلام په مکه شریفه کی لمونځ په داسی توګه کاوه چی هم یې کعبی ته مخ وو او هم بیتُ المقدس ته ،، او مختاره هم دا ده چی بیت المقدس تی لمونځ کاوه تا چی نسخه دقبلی دوه واره لازمه نه سی. ولی کی په مکه شریفه کی لمونځ وکعبی شریفی ته کاوه. نو مدینی مُنوری ته راغلی هغه منسُوخه سوه بیا بیت المقدس ته لمونځ کاوه . او بیا شپاړس میاشتی وروسته بیرته مخ کعبی ته په لمانځه کی اړاوه یعنی بیت المقدس هم منسوخ سُو. اوکی په مکه شریفه کښی لمونځ بیت المقدس ته کاوه نو نسخ دهغی قبلی یو وار په مدینه شریفه کښی میانځ ته راغله . په هرصُورت نبی کریم صَلی الله علیه وَسَلم خوښه داوه چی قبله دَ لمانځه دده کعبه شریفه سی. وَلی هغه قبله دابراهیم علیه السلام وَه ،، اوبل سبب باعث پر ایمان دقریش وَه ،،

ولی چی کعبه شریفه ځای دفخر دقریش وَه . لکن با این همه تادبًا مَعَ اللهِ عزوجل سئوال صریح د خدایٔ نه یې نه کاوه لکه چی ددي ایت څخه معلومیږي ،، قَدْ نَرٰی تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِی السَّمَآءِ فَلَنُوَلِّیَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضٰهَا فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ،، الآیة.

اِختِلافُ العُلَمَاءِ مشهوره دا ده چی په وَرځ ددوشنبی ۱۵ رجب په دوهم کال دهجرت پر صحیح روایت. تحویل دَقبلی د بیت المقدس نه وَ کعبه شریفی ته په داسی حال کښی راغلی چی آنحضرت صَلی الله عَلیه وَسلم د مابینین لمونځ په مسجد کی دبنی سلمة کذاره په مابین کی د لمانځه وه چی ورته راغلی چی په باقی لمانځه کی دی مخ وکعبی شریفی ته واړوه- او عَلیه السلام دوه رکعته کړي وه چی مخ یې وکعبی شریفی ته واړاوه او خلکو نرو او ښځو صفونه سره بدل کړه ځکه هغه مسجد ته مسجد ذوالقبلتین تردا اوسه پوری وائی اوامام طحطاویؒ هم دغه مشهوره خبره تحقیق ګڼرلی ده. لکن ظاهر احادیثو مبارکه دَبخاري وغیره پر دی دلالت کوی چی تحویل دَقبلی په مسجد نبویؐ کښی راغلی دی او خارج الصلوٰۃ هم وو

وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ» **دَقُرَيشُو اَويهُودَ يَانُو سَوَالُونَه**: څه وخت چې عليه الصّلوٰة والسلام
په مدينه منوره کښې لمونځ و بيت المقدس ته کا ئ. نو مشرکا نو دمکې به وَيل چې محمد
صلى الله عَليه وَسَلم خو وائ چې زه تابع د دين ابراهيمي يَمه، بَلْ نَتَّبِعُ مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا
نو قبله دابراهيم عليه السلام خو کعبه وَه. او دی لمونځ وَ بيت المقدس ته کوی دا څرنګه
متابعت دی» او يَهود يا نو به وَيُيله چې دا نبي زمونږ د دين متا بعت نه کوی او زمونږ
وقبلې ته لمونځ کوي. او هغه وخت چې تحويل دَقبلې وَکعبې شريفې ته رَاغلي»
نو قريشو به وَيُيله چې زمونږ دکعبې وَخواته راغی سو زر دئ چې زمونږ په دين
کښې به داخِل سی. او يهودو به وَيَله چې دا سړی يعني عَليه الصلوٰة والسلام خپل وَطن
او قوم محبت واختیٔ نو که دی پر حق وَای. نو قبله دانبياء عَليهم السَّلام چې بيت المقدس
وه وَلي پرې بنووَله.

وَرُوښـرو: وګوری چې دښمنا ن دا سلام څه څه تهمتونه بې ځايه پر اسلام وَائي
او دا سِلسله د تهمتو پر اسلام باندی به د تل دَپاره جاري وي. او هم دا اوس چې پر يو غريب
ملک چې تخمينًا شل کاله پردی ملک باندی د وينو وَلې بَيول سوی دي او په لکونه څې
يه کونډ يانې سوي دي. او په لکو کچنيان يه يتيمان سوی دي. او په لکو خلګ دَدَغه
ملک په پردی ملکو کښې دبې عزتی ژوند تيره وي. او ځکې يه تولې شارې او وی جارې سوي
دي. او دا تهُوله د روسيې مَلعُوني دَلاسه. لکن دا اوس پنځه کاله کيږی تخمينًا چې
دطالبانو امارت اِسلامی دافغانِستان پر ۹۵ فی ۱۰۰ باندی حاکِم دئ. او د شريعت غراء تول
احکام په عملی بڼه په کښې جاري دي. کفار د دُنيا په متابعت دامريکا او انګليسا نو دا امارت
اسلامي په رسميت بين المللي نه پيژني او قسم قسم اعتراضات لکه دقريشو او يهودو
پر کوي او فقط د ۵ فی ۱۰۰ حکومت پـه رسميّت پيژني.

عجبه خو لاَ دادَه: چې روس او امريکا چې دقديمه څخه سره دښمنان وَه. او س هم په باطن کې
سره دښمنان دي. په مقابل دامارت اِسلامی افغانستان» سره هم نوا او هم صداء دي
پُوهـه سَـه: چې چونکه نسخ دَقبلې اوله نسخ وَه په اِسلام کښې. او ودی څخه په زړو کې

دخلګو مشکوک او شبهات پيدا کيدَله نو ځکه باري عزوَجل دَقبلې په باره کې ډیر تحقيق
کړي دی»، کَمَا يَظْهَر من مطالعة القرآن الکريم» قَـالَ الْمُصنفُ.

وَالْوَقْتُ وَاِعْتِقَادُ دُخُوْلِهٖ اوبل شرط دَلمانځه وخت دی. او بل اعتقاد او يقين د راتلو دی پر دخول د وخت

پُوهـه سَـه: چې دَغه پنځه وختونه دَ پنځه لمونځو دپاره ثابت په قرآن کريم او په سُنت نبوي او په اجماع د امت مرحومه سره دَی»، قَـالَ اللّٰهُ تَعالىٰ: اِنَّ الصَّلٰوةَ کَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ کِتَابًا مَّوْقُوْتًا، په تحقيق سره لمونځ دی پر مسلمانانو ليکل سوی يعنی فرض مُقيد په وخت سره دی يعنی چې نه دئ تر وخت تاخير ورادَی. او نه ئې تقديم وَرادی. **پُوهـه سَـه**
چې مصنفؒ پـه مَراقي الفلاح کښې اعتراضًا وَيُيلی دی چې پـه ډيرو معتمدو کتابو کې لکه قدوری
مختار» هدايه، کنز، کښې دوخت شرط والی يه په باب شروط الصلوٰة کی نه دی کړی»، وَلَا
اَعْلَمُ سِرَّ عَدَمِ ذِکْرِهِمْ لَهُ» **پوښـتنه**» دغو مصنفا نو خو يه اول کښې دکتاب الصَّلوٰة
وختونه ټوله بيان کړي. نو د مصنفؒ داعتراض پر دوی څه وجه دَه؛ **جَوَابْ**: د مصنفؒ
سوال حَاصِل دادی چې دَغو مصنفينو دَدَغو وختو شرط وَالی نه دی بيَان کړئ او مطلق بيَا ن
د وختو خو شرط والی نه ځندی معلوميږی خصُوصًا عند المتعلم القاصِر عن فهم الدقائق کذا
فی الطحطاوی **پُـوهـه سَـه**: چې وختونه د لمانځه سبب دی دا د اکولو د لمونځو وَلې چې
واجب وَالی د لمونځو پـه دغه وختو پورې تعلق لري. او هم دغه وختونه ظرف او ځای
دی د لمونځو دپاره. وَلې چې ظرف پـه اِصطلاح دفقهې هغه وخت ته وائي چې تر فرض زيات
وی او وختونه د لمونځو هم تر لمانځه بالا دی. او هم دغه وختونه شرط دوجوب دَلمانځه
دی. ولې چې واجب وَالی د لمونځو پر وجوب د وخت موقوف دی. او د شرط هم دا غه معنا دَه.

قال المصنفؒ **وَالنِّيَّةُ** او بل شرط دَلمانځه نيت دَئ **پُوهـه سَـه**: چې نِيت په لغت کښې عزم ته وَائي او عَزم ټينګه اراده ده دَزړه و يوه کار ته او پـه شرع
شريف کې نيت قصد دی د طاعت او نږدې والی و خدای جَل شانه ته پـه يو کار کښې نو هغه کار چه
ازره کاروی. لکه توبـه او پښيماني پر ګناه. او يا بيَره د خدائ جل وَعَـلا څخه او نور اعمال قلبيه

Maktaba Tul Ishaat.com

اوپا د اندامو کارونه لکه لمونځ او روژه حج وغیره **فَائِدَهْ**: د نیت څخه مقصد دا دی چه
یا عبادت د عادت څخه جلا سی، مثلاً یو سړی خوراک او څښاک نه کوی یا ضرورت نه ور ته
لری په تولو ورځ کی او یا طبیب ده ته پرهیز ور کړی وی. نو دا عبادت نه دئ. او چې نیت
وکړی چی زه به نن د پاره د تقرب وخدای جل جلاله ته روژه نیسم نو دا عبادت دی. او بل
مقصد د نیت دا دی چې د یوه قسم عبادت د اقسامو فرق وکړو سی مثلاً لمونځ یو قسم
د عبادت دی چې هغه لره دا اقسام دی. فرض، واجب، سُنت، نفل، نذر، نو چې نیت
وی نو د لمانځه ور لګ به معلوم سی چی مُصلی کوم لمونځ کوی»
او بله فائده د نیت دا ده چې سړی اخلاص خدائ سره په معلومیږی» او اخلاص
یو پټ راز دی په مابین کی د بنده او د رب جل وعلا تر مابین چې پر هغه باندی نه ملک
علم لری چی نوشته یې کړی. او نه شیطان په خبریږی چی فاسد یې کړی. قاله الحموی ط،
پوښتنه: چې نیت قصد ته د زړه وائی او د ژبی خبرو ته فعل اللسان» نو اصل
شرط او فرض خو نیت دی» که د زړه حضور د سړی برابر وی فِعل اللسان ته ضرورت نشته
او که په سبب د مشاغلو د دنیا او یا د غم په سبب یا په بل سَبب احضار د قلب وسړی ته
نه میسر کیدی نو فعل اللسان کافِی دی کذا فی المجتبیٰ» لکن چونکه نن صبا دَ خلګو مشاغِل
او غمونه ډیر دی نو فعل اللسان ته هم ضرورت ستر»
بنهانه فائِدَهْ پوښتنه: چی یو اصلی عبادت دی مثلاً صرف لمونځ او یو کیفیت دَ
عبادت دَی. لکه د لمانځه بنه قیام، او بنه رکوع، او سجده، او خضوع
او خشوع وغیره نو که یو سړی په حضور کی دَ خلګو لمونځ کاوه. او چې خلګ نه وی لمونځ یې نه کاوه
دا سړی په اصل لمانځه کی ریا کاردی نو دَ دغه سړی پر ذمه هغه لمونځ چې دَ حضور
کی د خلګو کړی دی پور دئ. او د هغه لمانځه هیڅ ثواب نه لری په دربار کی د خدای جل جلاله
ولی ده په لمانځه کی چې حق د خدای جل جلاله وو مخلوق شریک کړئ. او خدای جل جلاله
شریکی عبادت نه قبلوي» او که یو سړی په حضور کی دَ خلګو لمونځ په بنه رکوع، او سجده
وغیره سره کاوه» او په خلوت یعنی یواځې لمونځ بیله مراعاته د سُننو او مستحباتو کاوه

یعنی چابک چابک دغه سړی ته د هغه لمانځه چې په حضور کی دَ خلګو په ادب او
احترام سره لمونځ کړی دی د اصلی لمانځه ثواب سته او ګناه یې د اصلی لمانځه څخه
خلاصی دی. اما د بنه کیفیت ثواب یې نسته. ولی چې هغه کښی مخلوق شریک دئ.
دی دوهم قسم ته ریاء فی الکیفیت وائی. او دغه دوهم قسم محمول ده هغه خبره چې
خلاصه والاوائی. لَا رِیَاءَ فِی اَلْفَرَائِضْ»
وَاقِعَه یو ریاء کار شیخ او پیر یوه سړی چې ورَته یې د بنه سړی عقیده
در لوده یوه شپه میلمه کړی او هغه سړی ښې ورَجې او غوښې
وغیره ور ته برابری کړی وی. او ډیره مکلفه ډوډئ سمه کړی وه. ما بنام چې پیر
صاحب ډوډی ته تلی. یو کشنی زوی یې هم ور سره بوتلی، خیر هلته چې ورَغلو او مکلفه
خواړه پر ستر خوان را نکاره نګ کښینول سوه. پیر صاحب په در و ګوتو دوی دری ګولې
د بنورا مثلاً وخوړلې. او یو دوی دری ګولې د ورجو یې مثلاً بورته کړې. او ډوډی یې
بس کړه. کور والا ور ته وویل چې صاحبه ډوډی دی ولې بس کړه. پیر صاحب ور ته
وویل چې زموږ خو هم دومره خوراک دئ» کور والا ډیر تهینګار وکړی چې صاحبه در واخله
موږ دا ګرده ورځ دا دونه تکلیف هم ستا د پاره کړی دئ. پیر صاحب د ریاء پر هیره
لهجه ور ته وویل، که چیری زه په ډک نس ډوډئ وه خورم» بیا د شپې خوب راځی او
خدائ ذکر او عبادت نه سم کولای. خیر ډوډی د پیر صاحب زوی او کور والا په مزه مزه
وخوړله» وروسته تر ډوډئ کور والا پیر صاحب ته وویله چې تبرکاً د ماخستن لمونځ
هم دا زما په کور کی په جماعت را کړه. پیر صاحب د مخه سُو او لمونځ یې په ډیر خشوع او
خضوع او په کامِله سُجده او رکوع ادا کړی. او وروسته یې د کور والا څخه رخصت
واخستئ دی او زوی کورته راغله پیر صاحب چې کورته راو سیدی ماینی ته ئې وویله
چې ستر خوان راواخله. ماینی یې ورته وویله چې ستر خوان څه کوی! پیر صاحب ور ته
وویل چې وږی یم ډوډئ خورم. ماینی یې ورته وویل چې اخیر دخان صاحب میلمه وی
هلته به دی خوړلې وی. په بنو بنو شیانو به دی ځان موړ کړی وائی. پیر صاحب ماینی ته وویل

خمر بیعقله بنځه ۔ که چیرې مادخان صاحب پر سترخوان د خپلې خیټې برابر ډوډۍ خوړلې وای د هغه عقیده زما د بزرګۍ څخه بد لیده. خیرما ینی یه سترخوان راواخستی او پیر صاحب وه وچې ډوډۍ ته وجوړیدی اوخیټه یې پړه ډکه کړه. نوی وه ته وویل چې بابا د ما خستن لمونځ نو هم راوګرځاوه. او دکور پروزړ یه وکړه هغه لمونځ چې تا دخان صاحب کره وکړی هغه خوبل ډول لمونځ وو.

مسئله: که چا داول وار لمونځ په نیه اخلاص اوخالیصا لله شروع کړی او ورو ستر په زړه کښې ریا پیدا سوه پس هغه اول نیت ته اعتبار دئ. او ثواب د کامل لمانځه ور کول کیږی. کذا فی رد المختار وغیره من الکتب الفقهیة. **مسئله:** که څوک یو عبادت په ډیرو نیتو وکړي. د ډیرو عبادتو ثواب خدای جل وعلا ور کوی. مثلاً یو سړي غلوړ کعتونه لمونځ په نیت د صلوٰة الضحٰی. او تحیة المسجد او سنة الوضوٴ وکړي. د ټولو ثواب خدای جل وعلا ور کوی. او یا یو سړي چې ورځ د اختر وه او جمعې ورځ هم وه. او د ما ینې سرې کار هم وکړئ او په یو غسل کی د دړو سرو نیت وکړي خدای جل جلاله د ټولو ثواب ورکوی» ط» قال المصنف.

او بل شرط د لمانځه الله اکبر ویل دي بیله جلاوالی

وَالتَّحْرِیمَةُ بِلَا فَاصِلٍ

د نیت څخه **پوه سه:** چې تحریمه رکن او جزء د لمانځه نه ده بلکه شرط خارج د لمانځه دی پر صحیح روایت او عام مشایخ پر د اغر رایه دی» او **واوره**، چې د تحریم معنا د حراموول دي د شئ نو اول تکبیر ته چې تحریمه وائي ددی کبله چې تحریم حرام ګرځوي پر لمونځ ګذاره باندی مباح شیان لکه خوراك، خبری، وغیره. او شرط والی د تحریمه په قران سره ثابت دئ. وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ» د ټولو مفسرینو پر دې اتفاق دی چې مراد دد غه تکبیر څخه الله اکبر د شروع د لمانځه دی. او اجماع د مجتهدینو هم پر فرضیت ددی تکبیر ده. ولې چې امر د کبر د پاره د وجوب دی او په لمانځه کی بل تکبیر واجب نشته. او په حدیث شریف کی چې روایت یې ابوداؤد کړئ دی. او ترمذی دا حدیث هم حسن ګڼلی دئ. دا سی راغلی دی: مِفْتَاحُ الصَّلٰوةِ الطُّهُوْرُ وَتَحْرِیْمُهَا التَّکْبِیْرُ وَتَحْلِیْلُهَا التَّسْلِیْمُ»

ترجمه: کلی د لمانځه پاکی ده یعنی اودس وغیره او حراموونکی د مباحو کارو په لمانځه کی الله اکبر دی. او حلالوونکی د مباحو شیانو سلام دئ یعنی په اخیر کی د لمانځه ولهذا الحدیث شرح طویل مذکور فی کتب شارحی الحدیث لا یناسب منصب المبتدی المتعلم لهذا الکتاب»

مَسَائِلُ التَّحْرِیمَةِ

مسئله: جوت والی د نیت او تحریمې یو قسم حقیقی دئ. هغه داسی چې نیت دی د شروع په تکبیر سره یوځای وي. داسی تر ټولو افضل کار دئ په اجماع د امامانو د مذهب حنیفی. او بل قسم حکمی دی. هغه داسی چې نیت د لمانځه تر شروع د لمانځه په تکبیر سره وکړي. مثلاً یو سړي چې اودس په تازه کاوه نیت د زړه یې وو چې زه به د ماپښین لمونځ کوم مثلاً۔ او په اودس اخته وو نیسله او د اسر بل داسی کار یې ونه کړی چې فاصل ګڼل کیږي لکه خوراك، چښتک یا د چاسره خبری کول او نور ورته کارونه. نو د لمانځه ځای ته چې ورغلی د تلوار یې نه نیت د خولې وکړی او نه د زړه د دغه سړي لمونځ په هغه د مخه نیت روادئ. ط» **مسئله:** د مخه والې د نیت ترد خول د وخت روادی چې فاصل لکه مذکورات پیدا نه سي. او ابن امیر الحاج د خول د وخت د نیت متقدم د پاره شرط بولي. په یو روایت کښې د امام اعظم **مسئله:** امام حموی وائي چې هر څوك چې پر لمانځه ودریږی په وخت کی د شروع دی د امامت نیت هم وکړي. ولې چې امکان لري چې پر ده پسی داسی څوك اقتداء وکړي چې دی نه وینی لکه ملکی یا جن، او په اشباه والنظائر کی وائي چې نیت د امامت هلته صحیح دی چې په ده پسی کم از کم یو سړي اقتداء کوی» والاول هو المختار عند الفقیر»

مسئله: مقتدی چې نیت د اقتداء په امام پسی کوی په څه وخت کښې بې کوی؟ جواب اکثر علماء د فقهی شریفې پر دی دي چې څه وخت چې امام په ځای کی د امامت ودریږی د مقتدی نیت د اقتداء صحیح دی» وهذا هو المختار للفتوی.

Maktaba Tul Ishaat.com

اوبعض امامان د بخارا وائي چې نيت دا قتداء دَمخه تر تحريمې دامام نزدى رَوا نقله القهستاني
اوبعض علماؤ ډيرې تنگى څخه كار اخستى دى . او وائي چې مقتدى دى نيت دا قتداء
دامام تر اَللّٰهُ وَيلو وروسته اوده اَكبَر تر ويلو د مخه كوى» وهذا حَرَجٌ عَظِيمٌ.
مسئله: كه سړى په نيت د يوه لمانځه دكوره روان شُو . او بيله تنگه يه بل فاصل
نكى پيدا چې د لمانځه ځاى ته ورغلى صرف اَللّٰهُ اَكبر يه وواية او په لمانځه يه شروع
وكړه لمونځ يه صحيح دى كذا قَالَ المُصنفُ فى المَرَاقى» **مسئله**: كه سړي پس له
نيت څخه ذكر وكړى او بيايه شروع په لمانځه وكړه بيله بَل نيته لمونځ يه صحيح دَى» ط،

اِسْتِدْرَاكُ

ماتحريمه شرط دَ لمانځه اوخارج وگنړله يعنى رُكن اوجزء نه ده
دامذهب دُو دامام اعظمؒ اودامام ابويوسفؒ . اوامام محمّدؒ يه رُكن دَ لمانځه بولي.
نوبناء پرد غه اختلاف كه سړى سره نجاست ما نعه د لمانځه وُو . او تر تحريمې وروسته
تر شروع دَ لمانځه د مخه يه هغه نجاست ليرى كړى . د شيخينوؒ پرمذهب يه لمونځ رَوا دى
اود امام محمّد پرمذهب يه لمونځ نه دى رَوا . ولې چې د ده سره په داخل د لمانځه نجاست
وو سره دى . اود غه رنگه يو سړي په وَخت كى دَ تحريمې يه قبلې څخه مَخ چپ وُو . او وروسته
يه وقبلې ته يه ځان سم كړى . پر اول مذهب يه لمونځ روادى . پر دوهم مذهب دى رَوا
او يا په وخت كښى دَ تحريمې يه عورت لڅ وُو . او وروسته يه په لږ عمل هغه پټ كړى
پر اول مذهب يه لمونځ روادى . پر دوهم مذهب نه دى رَوا .
هدَايَت: پوهسه: چې مصنفؒ په مَرَاقى الفلاح كښى وَئيلى دي . چې دپاره دصحت
دتحريمې ۱۵ شرط چې دهغو څخه ۷ ما په متن كى ذكر كړى او باقى ۸ به په شرح كښى راسى
اِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالىٰ: اوزه عُبيدُ الله به هم چې دمَتن شرطونه خَلاص سى . نو هغه شرطونه به هم
بيان كړم چې مصنفؒ په شرح كښى راوړى دى د تفصيل سره كه خداى كوله . او رښتيا
داده چې دغه ۱۵ شرطه د صحت د تحريمې پر يوه ځاى په هيڅ كتاب كښى د فقهى شرايط
نه دى ذكر سوي . اَللّٰهم اِلّا فِي كتَابٍ نقله من هذا المتن وَالشرح.

عامي وائي .. چې نه به وَاول ، دوهم وهكذا تر اوؤم پورې په اول دوهم آه تصريح وكړم
نو اول د هغو شرطو څخه دادى» چې تحريمه دې دَ نيت سره جفت وي حقيقتًا او حكمًا
كماقرانفًا» قَالَ المصنفُ .

وَالْاِتْيَانُ بِالتَّحْرِيمَةِ قَائِمًا

اوراتگ دى په تحريمه سره په ولاړې . دا هم دوهم شرط دى د صحت دَ تحريمې قَال

قَبْلَ انْحِنَائِهِ لِلرُّكُوعِ

د مخه تر كږيدو وركوع ته» **پوهسه**: چې مصنفؒ په مَرَاقى كى وائي . چې لږ كږ والى پروانه لري . او لږ او ډير
كږ والى په دى سره معلوميږى كى لاسونه زنگنونو ته رسيدلى هغه انحناء قليله دَه شرط
دَ تحريمې يه پر ځاى سُو . په برهان كى وائي كه مقتدى وامام ته ورسيدلى په داسې حال كى
چې پر ركوع وُو . نو ده ملا كږه كړه بيا يه اَللّٰهُ اَكبَر ووايه نو كه دغه مقتدى وولاړې ته
نږدى وو يعنى لاسونه يه زنگنونو ته نه رسيدلى . شروع يه صحيح دَه او كه ركوع ته نږدى
وو يعنى لاسونه يه زنگنونو ته رسيدلى شروع يه نه ده صحيح . **پوهسه**: چې دا فرق
په هغه ځاى كښى دى چې ملا يه سمه وى او كه كوږه پشتړ وُو يعنى ملا يه كږه وه د هغه
قرب او بعد وقيامى يا ركوع ته دَده په اجتهاد پورى اړه لري ،،
سؤال: دا سړي چې په داسې حال كى امام ته ورسيږى نو نيت خو پاته سُو . او هغه
هم فرض وو **جواب**: په دې صورت كى نيت قلبى خو موجود دى كه څه دَ نحوله
نيت يه نه دى كړى . وَقد مَرَّ اَنَّ النية القلبية كاف» قَالَ المُصنفُ .

وَعَدَمُ تَاخِيرِ النِّيَّةِ عَنِ التَّحْرِيمَةِ

اوبل شرط دَ صحت دَ تحريمې دادى چې نه به ځنډوى
نيت تر تحريمې . اودا هم دريم شرط دى دصحت دَ تحريمې . دليل د دى مسئلې دادى چې
لمونځ يو عبادت دى . او تجزيه او تقسيم نه قبلوي . نو كه سړي په وخت كښى د تحريمې
نيت نه وى كړى نو هغه خو عبادت نه دى وروسته چې نيت وكړى هغه عبادت سُو .
نو تول لمونځ د عبادت او غير عبادت څخه جوړ سو . وهذا لا يجوز بالاجماع.

مسئله: په تقدیم کی د نیت تر تحریمې حرج نشته کما مر فی مسئلة الوضوء.

مسئله: افضله داده چې نیت او تحریمه سره یوځای وی حقیقتاً دپاره داحتیاط چې د خلافو ووزی **سوال**: روژه هم یو عبادت دی نو په روژه کی ولی تاخیر د نیت روا دی **جواب**: تاخیر نیت په روژه کی چې روا دی دپاره د دفع د حرج او دپاره د آسانې پر روژه والو باندې. ولې چې بعض صائمان په طلوع د سپیدو نه پوهیږی. بحر الصلوٰة کذا فی البحر، او هغه چې طحطاوی وائی چې حرج د روژی خو په تقدیم د نیت تر سپیدو و نیت ترانتظار باسی. او په اول کی د شپې یا په مابین کی د شپې یه فکرنه وي. نو د دی وجهی تاخیر نیت روا دی، فافهم.

او صاحب د جوهره وائی چې قیاس د امام کرخیؒ د لمانځه پر روژې په جواز کی د تاخیر نیت قیاس فاسد دی. ولې چې سقوط د مقارنت د نیت د تحریمې سره دپاره د دفع د حرج دی. نو د احرج خو په تقدیم د نیت تر تحریمې په لمانځه کښې دفع کیږی نو تاخیر ته څه ضرورت دی. او جواز د تاخیر نیت په روژه کښې هم دپاره د دفع د حرج دي، قاله صاحب البحرؒ، قال المصنفؒ،

وَالنُّطْقُ بِالتَّحْرِيمَةِ بِحَيْثُ يُسْمِعُ نَفْسَهُ عَلَى الْأَصَحِّ

او بل شرط د صحت د تحریمې دا دی چې اَللّٰهُ اَکْبَرُ به په ځان اوری پر اصح مذهب داحلوانی شرط دی، **فائده**: پر کاڼه سړی اوریدل د تحریمې او نور شیان چې ورسره به اسی که خدائی کوله، لازم نه دی. ولې چې کوڼ بیله جهره خپله خبره نه سی اوریدلای.

مسئله: پر گونگی باندی د تحریمې په وخت کی شونډو ښورول د شونډو لازم نه دی علم

درویش وائی: چې چونکه په دې مسئلې پورې نورې ډیرې مسئلې مربوطې دي. لهذا د دی مسئلې لوی تحقیق او بنه زده کړه پکار ده، **تولوه سه**: چې مصنفؒ د اصح په ویلو کښې اشاره و اختلاف ته وکړه چې په دې مسئله کښې اختلاف دا دی، چې حضرت الامام الکرخیؒ وائی چې هر هغه کار چې په لفظ یعنی په نطق اللسان پورې تعلق لري،

لکه تحریمه، وغیره. په هغه نطق کښې تصحیح د حروفو شرط ده، لِاَنَّ الْکَلَامَ لَایَحْصُلُ اِلَّا بِالْحُرُوْفِ، او داغر تصحیح الحروف ادنیٰ د مخافت ده، نو د دی مذهب معنا داده که یوه سړی شونډان جوت نیولی وی او په صرف تصور قلبی سره تحریمه یا قراءت وغیره وائي هغه نه دی صحیح، لکه په او سنئ زمانه کی د اکثر عوامو بلکه د بعض ملایانو هم د اغیسی عادت دی. سبب د علم دا دی چې حروف عربیه خپل خپل مخارج لري نو تر هغو چې شونډان او ژبه و نه ښوری کله حروف اداء کیدای سی، لکن صحیح قول دی د امام حلوانیؒ مصنفؒ په مراقی الفلاح کی وائی چې اکثر مشائخ پر دی مذهب دي چې صحیح داده چې جهر حقیقةً دا دی چې په بل یه واوری، او مخافت دا دی چې په خپلو غوږو یه واوري. او امام الهندوانیؒ وائی چې مخافت دا دی چې په خپل ځان یه هم واوری او په نږدې سړی یه هم واوري **سوال**: پر مذهب د هندوانیؒ د جهر او مخافت تو څه فرق دئ. **جواب**: امام طحطاویؒ وائی چې د اسماع سره د ځان اسماع د مَنْ یَّقْرُبُهُ جِدًّا لازم دی غالبًا. **حاصل دا دئ**: چې پر مذهب صحیح هغه کارونه چې په ژبه سره کیږی، او د ژبې وینا موقوفه وی په هغو ټولو کی ادنیٰ د مخافت شرط دئ. یعنی اوریدل په خپلو غوږو. لکه تحریمه، او قراءت سریه که قراءت د ماپښین ما زدیگر د لمانځه. او تشهد د لمانځه. او اذکار، او بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُ اَکْبَرُ ویل پر ذبیحه، او وجوب د سجدهٔ تلاوت، او عتاق د مریئ. او طلاق د ماینی، او اِنْ شَاءَ اللّٰهُ ویل پسله طلاق وغیره او قسم اختل، او نذر کول، او اسلام عند الناس، حَتّٰى لوجرى طلاق زوجته على قلبه وحرك لسانه به من غير تلفظ يسمع نفسه لايقع وان صح الحروف،، مر،

پوه سه: چې بعض ځایونه اوریدل په خپل ځان کافی نه دی بلکه د بل چا اوریدل هم ضروری دی. لکه بیع. او هبة او نکاح وغیرها من العقود قاله القهستانی رحمه الله

فائدهٔ سنیّه: قال المصنفؒ فی المراقی، اشتراط د نیت په عباداتو کی دپاره د اخلاص دی. نو نطق او په خوله ویل شرط نه دئ. بلکه نیت د زړه شی دی لکه

Maktaba Tul Ishaat.com

كفر" حافظ ابن القيم الجوزي" وائي چي نه ده ثابته سوي د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه په سند صحيح اونه په ضعيف سره چي حضرت صلى الله عليه وسلم به په شروع كبني د لمانځه داسې ويله: نَوَيْتُ اَنْ اُصَلِّيَ كذا، اونه دخولي نيت دصحابه كرامو نه ثابت دی. اونه د تابعينو نه ثابت دی. او ابن امير الحاج وائي چي نه د ائمه اربعه وو نه ثابت دی. بلكه داسادات كرام چي لمانځه ته به ولاړ سو صرف اَللهُ اَكْبَر بي وو وايه ، **سوال**: ابن قيم وائي چي نيت دخولي بدعت دئ **جواب**: صاحب البحر وائي چي بدعت دی لكن بدعت حسنه دی ، دپاره ددي چي دعزيمت او قصد سره د زړه فعل دلساني هم يوځای سي ، ځكه هدايه والا وائي چي نيت دخولي: حَسَنٌ لِاِجتماع عزيمته" او په مجمع الروايات کی وائي چي تلفظ په نيت سره بعض علماء مكروه بولي. ولی حضرت عمر رضي الله تعالى بعض نفرو ته چي دخولي نيت يه كاوه ادب وركړی. او بعض علماء وائي مباح دئ. ولی په دی سره تحقيق د فعل القلب كيږي، او د فع دوسوسه كيږي. او حضرت عمر رضي الله عنه چي ادب وركړی دئ. وهغو چا ته ئې وركړی دئ. چي نيت يې په جهره وايه په مخافت كبنو پر وانسته ، **سوال**: بعض مشائخ زمونږ وائي چي تلفظ په نيت سره سُنت دئ. او بعض وائي مستحب دئ. **جواب**: دمشائخو سُنت نبوي نه دی مراد اونه هم مستحب په معنائی مصطلح ده بلكه مراد د سُنت نه سنت او طريقه د بعض مشائخو سُنت مراد ده،" لِاختلاف الزمان وكثرة الشواغِل" او مراد د مستحب نه معنی لغوی ده يعني ښه كار؛ وَقَدْمَرَّ بعض تحقيق مسئلة التلفظ بالنية فتذكر" په هر صورت داغسی تلفظ بالنية لكه بعض موسوس اميان يا ملايان چي كوی" چي په دغه تلفظ کی نيم يا پوره ركعت ختمدی تيرسي مكروه دی او بدعت سيئه دئ. قال

وَنِيَّةُ الْمُتَابَعَةِ لِلْمُقْتَدِیْ

او بل نيت دی د متابعت دامام مقتدي لره لكن سره د نيت د اصل لمانځه او دا ځکه شرط دی د تحريمي **پوهسه**: چي مراد د نيت نه د اصل لمانځه نيت

دی د فرض الوقت نه مطلق لمونځ. ولی چي نفس لمونځ خو فرضو واجبو، سُنتو نفلو ټولو ته شامِل دئ او هم دغه نيت شريك دی په مابين کی دامام او مقتدی لكن چونكه دغه نيت شامِل منفرد ته هم دی نو ځكه نيت د متابعت دامام هم غواړی" وجه د اصل نيت خو هغه ده چي د هغه تيره سوه. يعني چي عبادت د عادت نه جلاسی او د مقتدی اخلاص معلوم سي. او هر چه نيت د متابعت دی د هغه سبب دادی چي فساد د لمانځه د امام د مقتدی لمونځ فاسدوی او فساد د ده د لمانځه هلته راځي. چي مقتدی پر ځان دامام لمونځ لازم كړي. او دا په نيت د متابعت سره كيږي. نو مقتدی به يا داسی نيت كوي چي فرض الوقت كوم او اقتداء می ده په حاضر امام پسی. او يا به داسی نيت كوي چي شروع په لمانځه يه نه صحيح كيږي. لكن صحيح دا ده چي شروع صحيح ده، ولی چي ده په نيت د اقتداء ځان تابع دامام وګرځاوه مُطلقًا او تابع دی بلكه كيدای سي چي دی دامام لمونځ كوي **مسئله**: كه يوچا انتظار وكړی و تكبير ته دامام. بعض علماء وائي چي هم دغه انتظار كافی دی دپاره د اقتداء په امام پسی. لكن صحيح دا ده چي مطلق انتظار د تكبير كافِي نه دئ. ولی چي دا نه معلوميږی چي ده مادةً انتظار كړی دی او كه د اقتداء د پاره. **مسئله**: مقتدی دي د امام تعيين نه كوي مثلاً اقتداء می ده په زيد پسی ولی هغه امام زيد نه وی دده لمونځ باطِل دی **مسئله**: كه د مقتدی صرف گمان دا وو چي دا امام زيد دی او هغه عمرو وو لمونځ يې صحيح دئ. **مسئله**: دامام د پاره نيت د امامت د نرو نه غواړی بلكه نيت د امامت د ښځو غواړی" ولي كه امام د ښځو د امامت نيت ونه كړی د ښځو لمونځ نه دی صحيح"

ډيره مهمه مسئله

پوهسه: چي په حرمينو شريفينو كښی حكومت د ښځو د پاره معلوم ځای ټاكلی دی چي دوئ به په معين ځای كښی په امام پسی اقتداء كوي لكن سره د هغه بعض اوقات بلكه اكثر اوقات خصوصًا په مكه مكرمه کی داسی پيښ سی چي نر او ښځی طوافونه كوي هلته اذان ناری سی. نو دغه ښځي د مابين نه د نرو و ټاكلی ځای ته نسی وتلای. اخير الامر د نرو سره او ښه پر او ښه او

یاد محترم بعض نرو پر لما نځه ودریږي. او سره ددی چی په ټوله فقه شریفه کښې واۍ چی محاذات د ښځی سره په لما نځه کی د نر لمونځ فاسده وي. نو اول کال چی فقیر حج ته تللی وو- ډیرو پښتنو د ما څخه ددغه مشکل په باره کی پوښتنی کولې. ددی مشکل د حل لاره ما داو ګڼله چی د امام څخه د مسجد الحرام پوښتنه وکړم. ددی د پاره چی معلومه کړم چی محاذات د ښځی دده په مذهب کی هم مفسد دی او که نه. نو د امام المسجد الحرام څخه په یوه فرصت کښی چی ما پوښتنه وکړه چی محاذات د ښځی ستاسی په مذهب کی مفسد د نر د لما نځه دی او که څرنګه هغه جواب په نعم ، اکړی یعنی هو مفسد دی نوما عرض ورته وکړئ چی تاسی وینې چی په سوو ښځی په لما نځه کښی د نرو سره محاذي کیږی. او دده څخه می وغوښتل چی تاسی باید دا مشکل حل کړي. ده په جواب کی راته ووېل چی زه د لما نځه په وخت کښی صرف او صرف د هغو ښځو د امامت نیت کوم چی په دا کلی ځای کښی لمونځ کوی. او د ما بین الرجال د ښځو د امامت نه کوم. نو په دغه ډول د ما بین الرجال ښځو لمونځ نه دئ صحیح :

او د فساد د نرد لما نځه د پاره خو اشتراك د نر او د ښځی په لما نځه کښی شرط دی نو دا ما بین الرجال ښځی ګویا داغسی و لاړی دی ،، فافهم فانه سنح غریب.

او بعض علماءٌ وائي چی په شریعت غراء کښی د اسلام دوی منل سوی شرعی قاعدی ستته یوه دا چی: الضَّرُوْرَاتُ تُبِيْحُ الْمَحْظُوْرَاتِ ، یعنی مجبوری و خلکو ته مباح ګرځوی ممنوعات د دین مثلاً اَكْلُ د میتة په حال کی د مخمصة ، او لمونځ په پروتې کول په حال کښی د ډیری نا جوړی او یا په بولو او دَس نه ماتیدل د سلس البول سړي په وخت کښی نز وهکذا انفلات الریح او جرح سائل. او بله قاعده داده : چی. لَا حَرَجَ فِي الدِّيْنِ ، یعنی دومره سختی په اسلام کښی نسته چی د سړی د طاقت څخه دی وتلی وي. او خدای جل جلاله هم وائي : لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا الایة. نو ددی دوو قاعدو په نظر نیولو سره ایستل د دغو په سوو ښځو د ما بین څخه د نرو- نه قدرت د نرو په سر دی بلکه د حکومت سعودی د طاقت څخه هم وتلی کار دئ. نو د امحاذات د ښځو د نرو سره کی

څخه هم امام الحرم د امامت نیت هم وکړی مُفسد د نرو د لمونځو به نه وي. والعلم عند علام الغیوب

مسئله: فی شرح الملاحی عن الذخیرة او قاضیخان ، نقل کړیدی که یو چا د جُمعی په ورځ صرف د جُمعی د لما نځه نیت وکړي او نیت د اقتداء په امام پسی نه وکړي د جُمعی لمونځ یه صحیح دی ولی چی د جُمعی لمونځ بیل ، امامه نه سی کیدای نو نیت د جمعی متضمن دی نیت لره د اقتداء بالامام. ط ، فَقَالَ الْمُصَنِّفُ :

وَتَعِيِيْنُ الْفَرْضِ او مصلی به تعیین کوی د فرضی لما نځه. او دا هم د شپږم شرط د تحریمی دئ. **مسئله**: نیت د تعیین الفرض په ابتداء کی د شروع ضروری دی. حتی که سړي د فرضو نیت وکړئ او لمونځ یه شروع کړی او بیا یه فرض هیر سوه او ګمان یه دا سو چی ما د نفلو نیت کړی دی. نو لمونځ یه پوره کړي پر ګمان د نفلو. وروسته یه ور پیاد سوه چی ما اول وار نیت د فرضو کړي وو- فرض یه د ذمی څخه ساقط سوه. او دغه رنګه که سړي اول وار د نفلو نیت وتاړه او شروع یه په لما نځه وکړه او بیا څندی هیر سوه ګمان یه دا سو چی ما د فرضی لما نځه نیت کړی وو او لمونځ یه پر دغه ګمان پوره کړئ.

او وروسته یه ور پیاد سوه چی ما اول وار د نفلو نیت کړی وُو. فرض یه د ذمی څخه ساقط سوه. او دا اغه رنګه که سړي اول وار د نفلو نیت وتاړه او شروع په لما نځه یه وکړه او بیا څندی هیر سوه ګمان یه دا سو چی ما د فرضی لما نځه نیت کړی وو- او لمونځ یه پر دا اغه ګمان پوره کړي. او وروسته ور پیاد سوه چی ما اول وار د نفلو نیت کړی وو: ټوله لمونځ یه نفلی دی او فرضی لمونځ نه دی ساقط. ددی دواړو مسئلو دلیل دادئ چی نیت مُعتبره هغه دی چی په ابتداء کښی د شروع یه کړي وی ،،

مسئله: وَلَا يُشْتَرِطُ نِيَّةَ تَعِيْنٍ اَه ، یعنی شرط نه دی نیت د تعیین د عدد د رکعاتو ولی چی فروض او واجبات خو معدود محدود او معین دي. نو د فرض او واجب نیت کول مغنی دی د نیت څخه د تعیین د رکعتو. حتی که سړي د سحار د لما نځه نیت د څلورو رکعتو وکړی نیت د څلورو لغوه دی. دوه رکعته دی وکړي لان الخطاء فيما لا يشترط فيه

Maktaba Tul Ishaat.com

التعین لا یضر کما فی الاشباه، ط ص۱۷۹۔

مسئله: چونکه فرضی لمونځونه دشپا نه روز پنځه دی لهذا تعین دمانځنین یا مابنام وغیره ضروری او لازم دی هم پر امام هم پر مقتدی او هم پر منفرد۔

مسئله: که ځانیت دفرض الوقت الحاضر وکړی دغه نیت کافی دی مگر جُمعی دلمانځه دا غسی نیت کافی نه دی. ولی چی فرض الوقت پر صحیح مذهب دمانپښین لمونځ دی

مسئله: که یو سړی مثلاً دڅلور و رکعتو نیت وکړی دفرضُو او نفلو دوارو دپاره، امام ابو یوسفؒ وائي چی دغه ع څلور رکعته فرض دي. ولې چی فرضی لمونځ ترنفلو قوی ترین دی. او امام محمدؒ وائي چی دغه لمونځ یه نه نفل دی او نه فرض په سبب د تعارض، وَ الفتوی عَلی الاَوَّل، ولې چی ضعیف لمونځ چی نفل دی دقوی لمانځه سره چی فرض دی معارضه نه سی کولای. نو نیت د نفلو لغوه دی۔

مسئله: کی نیت دنفلو او دجنازی دلمانځه وکړی هغه لمونځ به نفلی دی. ولې چی نفلی لمونځ کامل لمونځ دی چی رکوع او سجده یه کښی سته بخلاف صلوٰة الجنازه او کی نیت دفرضی لمانځه او دصلوٰة الجنازه وکړی هغه په طریق اولی سره فرضی لمونځ دی۔ قالَ المُصنفؒ۔

وتعیینُ الوَاجِبِ

اوشرط دی معینه کول دواجب. دا هم او ؤم شرط دی دصحت د تحریمی، یعنی که لمونځ واجب وُو. چونکه واجبات ډیر دی نو تعیین دواجب به کوي. لکه نذری لمونځ. او وتر، او دوه رکعته دطواف او دوواخترو لمونځ. لکن عُلماء حضرات وائي چی داخترو په لمانځه او په وترو کښی دی نیت دوترو یاد اخترد لمانځه کوي فقط، ولې چی په دی دوو لمونځو کښی اختلاف سته لکن ددی معنا دانه ده چی دنیت ځخه دواجب دی منع دئ بلکه معنادا ده چی لازم نه دی، کذا قال الامام الطحطاویؒ. وفیه شئی لَا یخفیٰ علی المتأمل او په سُجده سهوه کښی تعیین دسجدو نه غواړي. ولې چی هغه معلوم دئ. او په سجده تلاوت کی تعیین غواړی چی ده سجده شکر ځخه جلا سی۔

عامی وائي: چی تردی ځای هغه شرطونه وُو چی مصنفؒ په نورالایضاح کښی راوړی وَه. او هم دا اوس هغه شرطونه بیا نیږی چی مصنفؒ په مراقی الفلاح کی ترتمامه ده ۱۵ شرطو چی د تحریمی دپاره یه بیان کړی دي. دئ وائي چی اتم شرط دادی چی تحریمه به په لفظ عربي سره وی هغه چالره چی پر عربي تلفظ قدرت لري پر صحیح روایت

مسئله: چی مراد د تحریمی ځخه فقط اَللّٰهُ اَکبَرُ نه دی مراد بلکه هر لفظ چی پر تعظیم دخدائ دلالت کوي. نو که سړی شروع دلمانځه په سُبحانَ اللهِ سره وکی. یا په لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ سره وکړی هم صحیح ده په شرط ددی چی عربي وی، مصنفؒ لِلقادرؒ ووایه ولې عاجزته دعربی ژبی په هر لغت چی دی قدرت پر لري روا ده.

او مصنفؒ ووَیل پر صحیح روایت داقول دیارانو دی. او حضرت الامام الاعظمؒ شروع په غیر عربي سره وقادر ته پر عربي هم روابولي، او بدرُ الدین عینیؒ لکه ده مصنفؒ داغسی رایه ده،

لکن دتاتار خانیه ځخه داسی نقل کړه سوی دی چی شروع دلمانځه په پارسی ژبه روا ده اتفاقاً بین الائمة الثلاثة. لکه چی ووائي: خُدا بزرگ است، او تلبیه هم په پارسی ژبه روا ده اتفاقاً خو ددی ځخه دا معلومیږی چی یارانو دامام اعظمؒ ومذهب ته رجوع کړیده. په تکبیر افتتاح کښی. لکه چی امام اعظمؒ چی په جواز کی دقرائت په پارسی ژبه وقادرته پر عربي وه مذهب ته دیارانو رجوع کړی ده چی قرائت په پارسی وقادرته نه دی روا، کذا فی التوضیح شرح التنقیح،

مصنفؒ په مراقی کښی وائي چی نهم شرط د تحریمی دادئ. چی همزه د اَللّٰه به په مدسره نه وائي او کی وائي شروع یه په لمانځه نه صحیح کیږی. او که اول تکبیر بی مده ووائي او دما بین په تکبیرو کی یو یا دوه په مدسره ووائي لمونځ یه فاسدسُو، کذا فی درالکنوز، ط، او نه باء د اکبر به په مدسره ووائي او اشباع دحرکت هاء دلفظ اَللّٰهُ او یا ساکن ویل یه خطاء ده په لغت کی لمونځ نه په فاسدیږی. او مصنفؒ وائي چی لسم شرط دتحریمی دادی چی پوره جُمله به وائي یعنی اَللّٰهُ اَکبر، وَهُوَ ظاهر الرِّوَایَة عَنْ الاِمَام الاعظمؒ وَبه قال ابُویوسفؒ ومحمدؒ

لکن واجب دا ده چې شروع به په لفظ د الله کوي کې اکبر الله وويل نو شروع به نه ده صحيح بزازيه» ط» **پوه سه**: چې درويش لفظ د مصنف بدل کړي چې هغه داسې وئيلي دي بجملةٍ تامةٍ مِن مبتدأٍ وخبر» ما وويله چې پوره جمله به وائي. نو د درويش پر عبارت هغه سؤال چې طحطاوي پر مصنف کړي نه وارديږي:

هغه سوال دا دی چې شروع څوپه» لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ او په سُبحان الله سره هم روا ده سره د کراهت او مبتداء او خبر په کښې نشته. نو درويش پوره جمله وو ئيله او دغه دوه لفظ پوره جملې دي. مصنف وئيلي دي چې يوولسم[11] شرط د تحريمې دا دی چې شروع په ذکر خالص د رب جل وعلاوي. نو که سړي شروع د لمانځه په اَللّٰهُمَّ اغفِرلِي وکړه نه ده صحيح. ولې چې دا ذکر خالص نه دی بلکه د مصلي حاجت چې طلب د مغفرت دی په ګډ دی. او مصنف وئيلي دي چې دوولسم[12] شرط د تحريمې دا دی چې شروع د لمانځه په صرف بِسمِ الله سره نه کوي ولې چې باء د بِسمِ الله د پاره د تبرك ده ګويا دې داسې وويله بَارَكَ اللّٰهُ لِي» دا خو دعاء ده ثناء نه ده. او مصنف وئيلي دي چې ديارلسم[13] شرط د تحريمې دا دی چې هاء د لفظ د اللّٰهُ به نه حذف کوي. او مصنف وئيلي دي چې څوارلسم[14] شرط د تحريمې دا دی چې هغه الف چې دوهم لام د اللّٰهُ په ولاړ دی چې ودی الف ته هاوي وائي نه حذف کيږي **مسئله**: که چيرې د غه الف قسم اخستونکي حذف کړې» يا د حيوان ذبح کوونکي حذف کې. او يا تکبير وئيونکي حذف کړې يا ئې د اللّٰهُ هاء حذف کړه. په دې کښې اختلاف دی چې قسم يې غوټه سوا او يا يې ذبيحه حلال ده يا تحريمه يې صحيح ده نو احتياطًا دې د غسې نه کوي. كذا قال الامام الطحاوي. او مصنف وئيلي دي چې پنځلسم[15] شرط د صحت د تحريمې دا دی چې د اَللّٰهُ اَكبَرُ سره په جوت داسې شی نه وائي چې تحريمه په فاسده سي. لكه ما يشبه كلام الناس» بزازيه» قَالَ المصنف في نور الايضاح

وَلَايُشتَرِطُ التَّعيِينُ فِي النَّفلِ اوشرط نه دی تعين په نفلو کښې پوه سه: چې په عمومي اصطلاح کې نفل مقابل ته د فرضو واجبو، سنتو وائي. لکن دلته د نفلو څخه مقابل د فرضو واجبو مراد دی.

ولې چې سنتو ته په خصوصي اصطلاح کښې د فقه شريفې هم نفل وائي. كما لا يخفى. نو د دې سببه مصنف په مراقي کښې وائي: فَلو سُنةَ الفجرِ في الاصح» که څه هم سنت د سحار د لمانځه وي چې اکد د سننو دي په اصح روايت کې. نو تراويح هم په نيت د نفلو روا دي. په نيزد اکثرو مشائخو. لکن بيا هم احتياط په تعيين يعنې په معينه کولو کښې دی. مثلاً سُنَّةَ الفجرِ او سُنَّةَ الظهرِ القبليةِ او يا بعدي، يا صلوٰة التراويح وجه د احتياط هغه ده چې مصنف د منية المصلي وائي. چې د خلاف څخه د هغه چا ووزي چې په سنتو کښې نيت د سنتو شرط بولي. لکه بعض فقهاء بلکه صاحب المغنيؒ وائي چې په تراويحو کې نيت د مطلق لمانځه يا نيت د نفلو کافي نه دی. په نيزد بعض متاخرينو بلکه نيت د تراويح شرط دی. او فتاوی خانيه دا رأيه صحيح بللې. قَالَ المُصنفُ

وَالقِيَامُ فِي غَيرِ النَّفلِ اوفرض ده ولاړه په غير کې د نفلو **پوه سه** چې ولاړه فرض متفق عليه ده په فرضو کښې او په واجبو کې، نه په سنتو او نوافلو کې. لکن په سنتو کښې مستحب ده. او اندازه د ولاړې دا ده چې لاسونه يې زنګنونو ته نه رسيږي. که کوږه پشته نه وو.

مسئله: د نفلو ثواب په ولاړې ډيردی. تر ناستې. **مسئله**: په هغه چا قيام فرض ده چې پر ولاړه قادر وي. او پر رکوع او سجده هم قادر وي. نو که يو سړي پر قيامه قادر وو لکن رکوع او سجده يې نه سواي کولای. نو هغه ته اختيار دی که د ولاړې څخه په اشاره رکوع او سجده کوي. او که په ناسته رکوع او سجده په اشاره کوي **مسئله**: که يو سړی داسې وو چې په ولاړې يې عورت لغ کيده ده. چې مانع د لمانځه وو او د ناستې په لمانځه کې كشف العورة نه راتلې نو پر هغه ناسته واجب ده. **مسئله**: که يو سړی داسې وو چې په ولاړه کې بولې توئيدلې. او په ناسته کې بولې نه راتلې پر هغه سړي هم لمونځ په ناستې فرض دی **مسئله**: که د يوه چا ساه لنډې کيدله. نو چې په ولاړې لمونځ کولای د ساه لنډې د سببه مثلاً قراءت يې نسي وئيلای. او په ناستې کې قراءت وئيلای سواي پر هغه سړي لمونځ په ناستې فرض دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

مسئله: که څوک داسې وي چې په وَلاړه کې پُوره قرائت نه سوای ویلای. او په ناسته کښې ویلای سَوایُ هغه سړی دې هم لهونځ په ناستی کوي. **پوهه سَه** چې فرضي وَلاړه یـا واجبه ولاړه یـا سُنت وَلاړه. یا مستحب وَلاړه پـه قدر دَقرائت علی الانحاء المذکورة دَه . اوډا څلور قسم قرائت به پـه بحث کښې دَقرائت راسي اِنْ شَآءَ اللّٰهُ: **مسئله**: پـه هغو رکعتوکې چې قراءت لازم نه وي لکه دَوه رکعته اخیرد فرضي لمانځه نو په هغو رکعتوکې مطلق وَلاړه فرض دَه او اوږد والی یې فرض نه دی» ق، ط» قَـالَ المُصنفُ.

وَالْقِرَائَةُ وَلَوْ اٰيَةً اوفرض پـه لمانځه کې قرائت دقرآن کریم که څه هم یوآیت وي لِقَوْلِهٖ تَعَالٰى: فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ، **پُوهه سَه**: چې قرائت به پـه داسې ډَوَل وي چې دې ئې اوري که کوڼ نه وو او یـا ډیر کړوپ کړوپ اویا ډیر آوازونه چې مانع وو داوږیدو څخه نه وَه. لکه د څه هم ودې مسئلې ته تفصیل ورکړه سو چې تحقیق یـه تیر سُو» او تجدیدًا للبحث درولیش وائې: چې حضرت الامام الکرخیؒ پـه نفس تصحیح الحروف سره کفایت کړی دئ. کې څه هم ویونکی نه واوري. دلیل یـه ډیر معقول دئ یعني قرائت فعل دژبې دی او اوریدَه کار دَغوږو دَئ. فَلَا دَخْلَ لِفِعْلِ الاذُنِ فِی فِعْلِ اللِّسَانِ بطریق الوُجوب» اوپـه بدائع کښې وَائي چې قول دکرخيؒ اصح او اقیس دئ. ونسبه بعضهم الی ابی یوسفؒ. لکن سره ددې قول اول چې سماع دَقرائت شرط دی مفتی به د ډیرو فقهاوؤ دَه، **مسئله**: که سړي بعض حرُوف دَقرائت پـه غوږو واوریده ، او بعض یې نه واوریده. لهونځ یـه نه پـه فاسدیږي. علی الصحیح لعموم البلوی. مُضمرات ، زخیرة ، طحطاويؒ»

پوهه سَه: چې ځای دقرائت وَلاړه ده یا ظاهرًا. یا حکمًا لکه پـه ناسته کې پـه سبب دعُذر. اویا پـه نفلوکې چې قیام پـه کښې شرط نه دَه کما مَرَّ **مسئله**: که سړي قرائت پـه رکوع یـا پـه سجده کښې ووایـه پـه هغه سره فرض دَقرائت نه ساقطیږي.

او مکروه تحریمي دی د لمانځه راګرځول پر واجب دی. او کې پـه سهوه سره وَوایـه سجده سهوه پر لازمه دَه . **پوهه سَه** : چې هغه خبره چې ابوبکر الاصمؒ کړې دَه . چې قرائت پـه لمانځه کښې فرض نه دی بلکه سُنت دئ. باطله دَه پـه ایت سره چې مخکې یې ذکر وسُو.
ولې چې اَمر د، فَاقْرَءُوْا، دپاره دوجوب دَئ. اوقرائت دباندې تر لمانځه خو به اجماع سره فرض نه دئ. نو معلومه سَوه چې دَغه مذکور ایت د لمانځه په باره کې دَئ. او پـه حَدیث نبوي ﷺ هم باطله ده . لکه چې امام مُسلمؒ دابي هریرةؓ څخه روایت کړي دی چې رَسُول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ علیه وَسَلم وو ئیله : لَا صَلٰوةَ اِلَّا بِقِرَائَةٍ» او پـه اجماع دائمة الدین هم باطله دَه »

فائـدَه: حفظ دټوله قرآن کریم قطع نظر د هغوئوا بو څخه چې پـه احادیثو کښې راغلي دي د نبي عَلیه الصلوٰة وَالسَّلام څخه. فرض کفائي دَئ. او یـا دَوَل د دومره قدر چې صرف لمونځ پـه ر واوي فرض عین دی پر هر نر اوښځه. او یـا دَوَل د اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ شریف اودیوه سُورت که څه هم کشـنی وي. واجب دَئ. ولې چې اَلْحَمْدُ لِلّٰه شریف اوضم دَسُورت ور سَره پـه لمانځه کې واجب دَئ. او هغه قدر چې لمونځ پـه رَواوي» پـه هغه کښې اختلاف دئ. امام ابي یوسفؒ او امام محمّدؒ وائي چې مفروض دَقرائت دلمانځه یا یوآیت طویله دَی . لکه ایت الکرسي یا آیة المداینة اویا درې ایتـه کشـنی کشـنی دي. اوحضرت الامام الاعظمؒ وَائي چې فرض قرائت دیو ایت که څه هم ډیر لنډ وي. نو ایت چې مرکب ددوو کلمو څخه وي لکه» ثُمَّ نَظَرَ» کافي دی پـه ظاهر روایت کی. او هرچیـه هغه آیت دی چې یوه کلمه وي لکه "مُدْهَآمَّتَانِ» او یـا یو حرف وي لکه، صٓ، قٓ، نٓ، یَا دوه حرفه وي لکه» حٰمٓ» طٰسٓ، اویـا ډیرحروف وي لکه، حٰمٓعٓسٓقٓ. کٓهٰیٰعٓصٓ پـه هغوکې دمشائخو اختلاف دَی. قدوري وَائي چې صحیح جواز دَئ او مصنفؒ پـه مَراقی کی وائې چې اصح داده چې لمونځ نه دی پـه رَوَا . . .

اَلتَّحقِیقُ فِی هٰذَا البَابِ

پوښتنه: چې قرائت په لمانځه کې فرض عین دئ. په نیزد جمهورو فقهاؤ ود مذهب اوبې دی خبره داسې سوال کېږي دئ چې په مابین کې د رکنیت او زیادت تناقض دئ. ولې چې رکن هغه فعل ته وائي چې په نه کولو سره لمونځ باطل ګرځي. او دزائد فعل په یا ته کېدو سره لمونځ نه فاسدېږي. نو څرنګه قرائت هم رکن دی او هم زائد دئ.

د رویش وائي: چې ددې سوال جواب پردې موقوف دی. چې سړي د رکن اصلي او ده رکن زائد فرق و پېژني. نو **پوښتنه:** چې رکن اصلي د لمانځه هغه فعل دئ چې که بعض اوقات د ضرورت له کبله پاتې شي لکن خلف او عوض یې پرځای وي. لکه رکوع او سجده چې سړي څنګه ترې عاجز وي ترک یې روا دی لکن عوض یې اشاره کول دي. او یا قیام ولاړ چې وعاجز نه د ولاړې پرېښول په لمانځه کې روا دئ. لکن ناسته یې عوض ده وهکذا نور:

او رکن زائد هغه کار ته وائي چې بیله ضرورته یې په بعض احوالو کښې پرېښول بیله عوض روا وي. اِذَا عَرَفْتَ هٰذَا، پس قرائت تر په دې اعتبار رکن وائي چې تنها لمونځ کوونکی ته چې پر قرائت هم قادر وي که قرائت نه وائي. لمونځ یې باطل دی. لکه رکوع سجده قیام چې سره د قدرت پرېښي دی لمونځ فاسد دئ. لکن چونکه د مقتدي څخه سره د قدرت ته قرائت ساقط دی بیله عوض د ده خواد حنیفیانو پر مذهب، او هغه سړي ته هم ترک د قرائت روا دی چې امام ته په رکوع کښې ورسېږي په اتفاق د ټولو امامانو نو په دې اعتبار یا زائد شو. نو د دې جواب څخه توجیه ده هغه قول د امام غزنوي چې په حادی قدسي کې وائي چې قرائت فرض دی لکن رکن نه دئ. اسا نه سوه. ولې چې مراد د غزنوي د ادئ چې قرائت رکن اصلي نه دئ، فافهم.

او د اِهم زده کړه: چې ایت په لغت کې علامې ته وائي او په اصطلاح د شرع او عرف هغې جملې ته وائي. چې په هغې کې یو حکم د احکامو د خدای جل جلاله وي

لکه، اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ، او یا هغه کلام الٰهي دی چې د ما قبل او ما بعد څخه او هغه جلا والی یې هم په شرع ثابت وي. که څه هم کوم حکم معلوم په کښې نه وي. لکه " الٓمٓ " په ټوله قرآن کې لکه " طٰهٰ " یا، کٓهٰیٰعٓصٓ، یا، الٓمٓرٓصٓ یا طٰسٓمٓ، وغیره،،

پوښتنه: چې ظاهر الروایة د حضرت الامام الاعظم هغه چې مصنف ذکر کړې چې یو ایت که څه هم دوې کلمې لکه " ثُمَّ نَظَرَ " د فرضي قرائت د لمانځه د پاره کافي دئ. او بل روایت د ده مبارک څخه دا دی چې یا یو اوږد ده وائي یا درې کښې ایتونه. او د اهم مذهب د یارانو دی قال الامام الطحطاوي، وَالاحتِيَاطُ فِي قَولِهِمَا خُصُوصًا فِي العِبَادَاتِ

پوښتنه: قرائت د لمانځه په څلورو رکعتو کښې فرض دی نو مصنف وائي:

فِي رَكعَتَي الفَرضِ په دوو رکعتو کې د فرضي لمانځه" که دوه رکعته وي که درې رکعته وي او که څلور **مسئله:** په هر دوو رکعتو د پاغې چې قرائت و وائي. فرض پرځای کېږي. او کې فقط په یوه رکعت کې قرائت وو ایه لمونځ یې نه دی صحیح خلافًا لزفرؒ، وَالحسَن البصریؒ:

فَائِدَه: مصنف خو په مراقي کې د غه بې عبارت وئیلی دی چې په هرو دوو رکعتو کښې چې قرائت و وائي کافي دی. لکن قهستاني وائي چې دا ده مصنف خبره قول د بعض فقهاوؤ دئ. او صحیح دا ده چې اوّل دوه رکعته متعین دی د پاره د فرضي قرائت حتی کې په اولو دوو رکعتو کښې قرائت نه وو ایه بلکه په اخیر دوو رکعتو کې وو ایه هغه قضا یې دئ. او لمونځ یه صحیح دئ. ابن امیر الحاج وائي چې دا قول د جمهورو فقهاوؤ دی. او هم دا غه مذهب صحیح دئ. او قاضیخانؒ په شرحه کښې د جامع صغیر هم فتوی پر دا غه قول کړې ده، او رضي الدین په محیط کښې هم دغه قول ته تللی دی. او ذخیره والاهم د غه قول خوښ کړئ دئ. قَالَ المُصَنِّفُ

وَكُلِّ رَكَعَاتِ النَّفلِ وَالوِترِ او قرائت فرض دی په ټولو رکعتو کښې د نفلو، ولې چې هر دوه رکعته د نفلو علیٰ حده لمونځ دئ. **پوښتنه:** مراد د نفلو څخه د لته هغه معنا ده چې

Maktaba Tul Ishaat.com

سنتو ته هم شامل ده یعنی «مَازَادَ عَلَى الفَرَائِضِ وَالوَاجِبَاتِ» او وتر که څیری سُنت وي خو وجه یه ظاهره ده چي په ټولو رکعتو کی قرائت فرض دئ. او که څیری واجب وي نو احتیاطًا دی په ټولو رکعتو کی قرائت ووائي. **پوښتنه**: چي وتر فرض عملي دی په نیز د امام اعظمؒ. نو قرائت په دوو اولو رکعتو کښې فرض دئ. او سُنت مؤکد دی په نیز د یارانو قرائت په ټولو رکعتو کښې غواړي. پس احتیاط دا دی چي په ټولو رکعتو کی قرائت ووائي. ولې چي سُنت په ترک سره د قرائت په یوه رکعت کښې فقط هم فاسدیږي. او په ټولو رکعت کی قرائت ویل لمونځ نه فاسدوي. قَالَ المُصنفُ.

وَلَمْ يَتَعَيَّنْ شَىْءٌ مِّنَ الْقُرْاٰنِ لِصِحَّةِ الصَّلٰوةِ او معینه نه دی هیڅ

شیٔ د قرآن مبارک نه د پاره د صحت د لمانځه «ولې هغه متلو آیت چي تیر سو مطلق دی».
سَوال: تاسي حنیفیانو خو اَلحَمدُ لِلّٰهِ شریفه مُعینه کړیده. **جَوَاب**: چي مُونږ خو هغه واجب بولو فرض یې نه بُولو. په دَلیل د دی قول دَ علیه الصلوٰة والسّلام «لَا صَلوٰةَ اِلَّا بِفَاتِحَةِ اَلکِتَابِ». **پُوښتَنَه**: په دې حدیث شریف سره وَلې فرضیت د الحمدُ لله نه ثابتیږي. **جواب**: دا خبرِ واحد دی او په علمِ اصول الفقه کښې دا ثابته ده، چي په خبرِ واحد سره زیادت پر قرآن نه دی روا، قَالَ المُصنفُ.

وَلَا يَقْرَءُ الْمُؤْتَمُّ بَلْ يَسْتَمِعُ وَيُنْصِتُ وَاِنْ قَرَءَ يُكْرَهُ تَحْرِيْمًا

او قراءت به نه وائي مقتدی بلکه د امام و قرائت ته دی غوږ و نسي. یعنی که امام قرائت په جهر سره وایه او چُپه خوله دی وِ دریږي که امام قرائت په جهر نه وایه. او کی قرائت ووایه مقتدي مکروه تحریمي دئ. قَالَ الاِمَام احمد بن حَنبلؒ دامُت مرحومه اتفاق دی چي دا آیت ده لمانځه په باره کی دی
پوښتنه» امام بزدویؒ په شرح کی د کافی وائي چي قرائت خلف الامام سُنت دی په نیزد امام محمّدؒ د پاره د احتیاط او مکروه دی په نیز د امام اعظمؒ او امام ابو یوسفؒ

او د غه رنګه امام ابوحفص الکبیر النسفیؒ وائي که امام قرائت جهرًا وایه نو قرائت د مقتدي مکروه دی په نیزد شیخینو او امام محمّدؒ وائي چي مکروه نه دی. بلکه مستحب دی او دَ غه امام دا زیا ته کړیده چي په دغه مذهب دامام محمّدؒ مونږ عمل کوو. ولې چي احتیاط په دی دئ. او د غه هم مذهب د صدیق اکبرؓ او ده فاروق اعظمؓ او د علی مُرتضیٰؓ دی
جَواب: کمال الدین صاحِب د فتح القدیر وائي.. «وَمَا يُروى عَن محمّد انه يستحب على سبيل الاحتياط فضعيفٌ» او حق دا دی چي قول د امام محمّدؒ لکه قول د شیخینو دَئ. و تصریح کړی ده امام محمّدؒ پخپلو کتابو کښې چي قرائت خلف الامام نسته.
او په اسنا د د علقمة بن قیسؓ دا حدیث راوړی دئ «اِنَّهٗ مَا قَرَءَ قَطُّ فِيمَا يُجْهَرُ فِيهِ وَمَا لَا يُجْهَرُ» او حضرت الامام لسرخسیؒ وائي چي په قرائت د مقتدي خلف الامام د مقتدي لمونځ فاسدیږي. په نیزد ډیرو صحابهؓ وو. او په کافي کښې وائي چي منع د مقتدي د قرائت څخه نقل کړه سوی ده. د اتیا کسانو د لویو صحابهؓ وو چي یو په هغو کښې علی المرتضیٰ دی، او عبد الله ابن عمرؓ دی. او عبد الله بن عباسؓ دی. او عبد الله بن مسعودؓ دی. او عبد الله بن الزبیرؓ دئ. او د دغو اتیا کسانو په نومانو تصریح کړی اهل حدیثو او ابن الهمامؒ و یئلی دی چي احتیاط هم په عدم القراءت خلف کی دی. ولې چي احتیاط خو عمل دی په ډیر قوي دَلیل سره او مقتضی دا قوي دلیل منع دَ قرائت خصوصًا په مذهب کښې د حنیفیانو. وَقَدْ جَاءَ فِي الحَدِيثِ النبوىِّ اَلذی رواه المصنفؒ فی المراقی قال رَسُول الله صَلَّى الله عَليه وَسَلم» کافی ده تالره یعنی مقتدی مخاطب دئ. قراءة الامام جهرًا اَمْ خَافَتَ»
قَالَ المصؒ فی المراقی: وَاتفق الاِمَامُ الاَعْظَمُ واصحابُه والامام مالکؒ والامام احمد بن حنبل على صحة صَلوٰة المأمُوم مِن غير قرائة شيئًا.
فَائِدَه: په اتباعو کښې د مَذهَب حنیفي تر ټولو خبر د احادیث نبویه وو په انواعو او په صحیح او حسن او ضعیف حدیث سره او بنه خبر په جرح وتعدیل دَ راویانو. فقیه ابوجعفر الطحاوی دی چي شرح مَعَانی الاثار د ده تصنیف دئ. ۱۲. او بل کمال الدین ابن الهُمام مصنف د فتح القدیر؛

۳ اوبل مُلاعلی القاریؒ چې شارح د مشکوٰة دیٔ. ۴ اوبل بدرالدین العینی شارح د بخاری وغیره دی. او په متأخرینو کښې شاه عبدالعزیز المحدث الدهلویؒ دیٔ. او شاه ولی الله المحدث الدهلویؒ دیٔ او شیخ عبدُالحق الدهلویؒ. او تردې علاوه پخپله امام اعظمؒ لوی محدث وُو. لکن اجتهاد او فقاهت پرې غالب وو. او دغه رنګه امام ابویوسفؒ او امام محمّدؒ چې موطاء یې په حدیثو کښې تصنیف دیٔ. او نور محدثین چې د تاریخ په اوراقو کښې ثبت دیٔ.

بیا هم د قرائةُ المُقتدِی خلفَ الامام په باره کې

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ: لَا یَقْرَأَنَّ اَحَدُکُمْ شَیئًا اِذَا جَهَرَ (ای الامام) بِالقرآن. وَرُوِیَ مَنْ كَانَ لَهُ اِمَامٌ فَقِرَاءَةُ الامَامِ لَهُ قِرَاءَةٌ. که چا لره امام وی نو قرائت د امام دده د پاره قِرائت دیٔ. وروی عن عمرؓ، کشکی په خوله کښې د هغه چا چې قرائت خلف الامام وائي ډبره وای. وروی عن رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: که څوک قرائت ووائي خلف الامام پس په خوله کښې دده سکروټه ده. او په بل حدیث کی داسې راغلی دی که څوک قرائت ووائي خلف الامام هغه خطا کړی، فطرة یعنی د دین لاره. روی الاحادیث المذکورة الامام الطحطاوی"

مسائِل اِستِماعُ القرآن

پوُوه سه: چې غوږ نیول و قرائت ته د قرآن عظیم فرض دی په خارِج کښې د لمانځه هم. لکن بعض فقهاءُ وائي چې فرض عین دی. پرهراو ریدونکی. لکن په شرح کښې د منیة المُصلی او په دره منیفه کی وائي چې غوږ نیول و قرآن ته فرض کفائي دی. یعنی که بعض کسانو غوږ ورته نیولی وی او بعض کسان په خبرو یا په بل شغل اخته وي. نو د هغو غاړې نه دی بندی. ولې چې غوږ نیول و قرآن ته د پاره د احترام او د پاره د حق پرځای کولو د قرآن کریم دیٔ.

هغه حق په غوږ ور ته نیولو د بعض کسانو اداکیږی. لکه ر د سلام د مسلمانو ورور چې واجب دی د پاره د اداکولو حق دده. نو په هغه کښې د بعض د ټولو څخه کفایت کوي. او یا د جنازې لمونځ چې د بعض خلګو په کولو سره د مسلمان ورور حق اداء سو نو ځکه بعض د کل څخه کفایت کوي.

بیا هم د قرائةُ المُقتدی خلفَ الامام په باره کی

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: لَا یَقْرَأُ اَحَدٌ مِنْکُمْ شَیْئًا اِذَا جَهَرَ (ای الامام) بِالْقُرْآنِ. وروی مَنْ كَانَ لَهُ اِمَامٌ فَقِرَاءَةُ الاِمَامِ لَهُ قِرَاءَةٌ. که چا لره امام وی نو قرائت د امام دده د پاره قرائت دیٔ" وروی عن عمرؓ، کشکی په خوله کښې د هغه چا چې قرائت خلف الامام وائي ډبره وای. وروی عن رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: که څوک قرائت ووائي خلف الامام پس په خوله کښې دده سکروټه ده" او په بل حدیث کښې داسې راغلی دي که څوک قرائت ووائي خلف الامام هغه خطا کړي فطرة یعنی د دین لاره" روی الاحادیث المذکورة الامام الطحطاویؒ.

مسائل اِستِماع القرآن

پوه سه: چې غوږ نیول و قرائت ته د قرآن عظیم فرض دیٔ په خارج کښې د لمانځه هم" لکن بعض فقهاءُ وائي چې فرض عین دیٔ پرهر اوریدونکی" لکن په شرح کښې د منیة المصلی. او په دره منیفه کی وائي چې غوږ نیول و قرآن ته فرض کفائي دی یعنی که بعض کسانو غوږ ورته نیولی وی او بعض کسان په خبرو یا په بل شغل اخته وي" نو د هغه غاړې نه دی بندی. ولې چې غوږ نیول و قرآن ته د پاره د احترام او د پاره د حق پرځای کولو د قرآن کریم دیٔ. هغه حق په غوږ نیولو د بعض کسانو اداکیږي. لکه رد سلام د مسلمان ورور چې واجب دیٔ د پاره د اداکولو د حق دده، نو په هغه کښې د بعض د ټولو څخه کفایت کوي او یا د جنازې لمونځ چې د بعض خلګو په کولو سره د مسلمان ورور حق اداسو نو ځکه بعض د کل څخه کفایت کوي.

پوښتنه: چې غوږ نیول و قرائت ته د قرآن فرض کفائي سی نو که چیرې بعض مقتدیان

Maktaba Tul Ishaat.com

دامامرو قرائت نه غوږ ونیسو » اوبعض مقتدیان قرائت خلف الامام وائي. نو باید داوړوسته ډله دې گناه گار نه وی **جواب**: دلما نځه قرائت یعنی دامام قرائت دې مبحث څخه خارج دی. ولې دهغه څخه مطلق نهی راغلې دې کما مرّ فی الاحادیث السابقة اوبل په دلیل ددې چې امام چې قرائت په مخافت (کرار) وائي هم پر مقتدی انصات لازم دی که څه هم دامام قرائت خو نه اوري. نو مسئله د استماع دمقتدی یا انصات دهغه جلا مسئله ده شرعي:

او لعض علماء وائي چې استماع (وغوږ نیول وقران ته پرهغه ځا لازم دی چې په قصد د استماع دقران نا ست وي فقط » مثلاً په یو مسجد کی قران مبارك په جهر ویل کیدی. او څه کسان په قصد د استماع دقران ناست وه. نود غو خلگو ته خبری یا بل شغل چې مخل داستماع القران وي حرام دی. اوکه یو سړي پر نلکو اودس کاوه او اواز دقرائت ور سیدی مگر ده غوږ نه ور ته نیوی هغه گناه گار نه دی، لکن دا د مذهب داطلاق سره د ایت کریمه مناسب نه دی. وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ

مسئله: علماء کرامؒ وائي چې پر قاري باندی لازمه ده چې احترام دقران وساتی یعنی په بازارو کی اوپه داسی ځایو کبنی چې خلگ په مشاغلو دنیا اخته وی یا په مباح مجلسو کبنی خبری کوی قاری دی قران نه وائي. ولې چې استماع یې څوك نه کوی. اوکه چیری قاری په داسی ځایو کبنی قرائت وائي. نو قاری ضائع کوونکی د احترام دقران دی. او گناه گار هم دی. اود بازار خلگ گناه گار نه دي. ولې چې پر هغوی استماع دقران لازم سی نو دا خو ډیر حرج دی چې دوی په خپل مشاغل پریږدی. ط،

نو بناءً علی هذا ، دغه دکانداران چې په عمومي بازارو کبنی یې پیتي دقرائت وراچولی وی اوپه ډیر بلند اواز په ذریعه د ټیپ قران وائي شدید گنا گار دي.

فائدۂ مهمة: په لعض مساجدو کی یا په لعض جامع مسجد کبنی قران مبارك په گویا (لاوډ سپیکر) کبنی وائي چې نژدی کورونه یا نژدی دبازار خلق یې اوري اوغوږ نه پر نسی. ایا دا گناه ده که څرنگه **جواب**: پرهغه مذهب چې استماع القران

فرض کفائی بولی، که چیری په مسجد کی څه خلگ موجود وه اوهغو غوږ ور ته نیولی نو د احترام د قران کریم په دغو خلگو پرځای سُود نور واوریدونکو غاړې خلاصی دي اوکه په مسجد کی هیڅ غوږ نیوونکی نه وو نو د قاری غاړې بندی دې. اوپر اول مذهب چې استماع دقران فرض عین بولې. داسی قرائت ویل مطلقاً که په مسجد کی څوك وی که نه وی قاری ته نا جائز دی. ولې پر اوریدونکو په استماع لازمول حرج عظیم دی کما مرّ

پوښتنه: دغه قرائت چې په مسجد کی په گویا کی ویل کیږی اود بازار خلگ یې اوری که څه هم په مسجد کی ډیرو خلگو غوږ ور ته نیولی وی ایا دبازار قرائت نه دی چې وراندی تیره سوه چې شدیده گناه ده» **جواب**: دا قرائت خو په مسجد کی دی که څه هم دبازار خلگ اوري. نو ددې قرائت اود بازار دقرائت فرق سته.

الاحتیاط: دقران مبارك دقرائت باید د احترام وکړه سی فتوی جلا ده او تقوی جلا ده. نو د تقوی دلاری باید داسی لکه معمول چې دی گویا ئی قرائت نه وویل سی او اوریدونکی دی هم تول موانع ویوه خواته کړي او صرف دی دقران مبارك واوریدو ته متوجه سی. **سوال**: لعض ملایان دجمعی تول لمونځ په گویا کی وائي. اویا لعض ملایان دتراویح لمونځ په گویا کبنی کوی ددی رنگه څه حال دی. **جواب**: په فقه شریفه کبنی وائي چې امام دی دومره جهر په قرائت سره کوی چې دده مقتدیان چې په مسجد کی په ده پسی ولاړ وی ضرورت ور نه لری. یعنی اوریدو ته، بې ضرورته دې خپلی غاړې نه ستړی کوي. نو بناء پر دغه مسئله دغه امام چې دجمعی لمونځ په گویا کبنی کوی اوسره ددی چې دده طبعي قرائت اواواز دقرائت هم مسجد وال اوری لمونځ یې مکروه دی. البته دده غرض به داوی چې خلگو ته معلومه سی. اوبنځی هم خبري سی چې زمونږ دجامع ملا صاحب سخت قاری دی. دا بیا بله گناه ده. اود تراویح مقصد دا چې په فلاني جامع کی دختم تراویح کیږی یعنی مرجع هذه الصورة والاولی الی السمعة والریاء ، اودغه ملایان استدلال په دی سره کوی چې په حرمینو شریفینو کبنی لمونځ تول او تراویح په گویا کبنی کوی دا رولیس وائي. دا بیخی لیری قیاس دی ولې چې په حرمینو

شریفینو کی په تهوله کال کی. او په تولو لمونځو کښی دومره خلک سره یوځای کیږی چی د مُلا صاحب او امام الحرمین قرائت او تکبیرونه دی دوی توله واوری. نو هلته ضرورت دی چی د امام الحرمین په قرائت سره چی خاص په عربی لهجه دی او تکلف او لحن هم په کښی نشته د خلکو په زړونو کښی خشوع او خضوع او رقت القلب پیدا کیږی بیت سه توریا کار کجا آن خاک پاک کجا: به بین تفاوت راہست از کجا بکجا:. د قرائت د قرآن کریم پر احترام کولو د اتصریح د علماؤ د مذهب چی وائی مکروه ده دُعا او استغفار په وخت د قرائت القرآن» او دغه رنګه مکروه دی هر هغه کار او شغل چی د قرآن کریم د استماع حائل وی. حتی چی په دغه وخت کی به سلام ترد چا جواب هم نه ورکوی. کرچه هم رد د سلام واجب دی. او عاطس یعنی نږونکی ته به جواب د یرحمك الله نه ورکوی. ولی چی فریضی ته د استماع القرآن خلل پیښوی. نو خلک دی فکر وکړی چی دا مذکوره کارونه ممنوع دی په وخت کی د قرائت القرآن نو خبری بڅرنګه روا وی، دلیل دا دی چی دعا او استغفار خو مستحب کار دی. او رد د سلام واجب دی. او استماع د قرآن فرض، نو عاقل سړی باید فرض د مستحبو او واجبو کار د پاره پری نږدی.

او بل دا چی مقصود د دعا کوونکی او مغفرت غوښتونکی خو طلب د رحمت الهی دی جل شانه او هغه رحمت الهی خو استماع د قرآن هم حاصلیږی چی خدای پاك وائی: لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ» او شاید هغه دُعا چی په وخت کی د تلاوت د قرآن غوك وکړی قبوله به نه سی، ولی چی دا امر الهی څخه خلاف ده: إِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا الآیة. نو هغه بعض صوفیان چی په وخت کی د قرائت د دی ایت: اُدْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ، یا دا ایت: اُجِیبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ، دعا کانی کوی هغه مکروه دی چی تلاوت جاری وی.

مسئله: لمونځ کوونکی د فرضی لمونځ کاوه د دعا څخه ممنوع دی یعنی په لمانځه کی «ولی چی دعا په فرضی لمانځه کی نه ده نبی علیه السلام څخه نقل سوی ده وَلَا عَنِ الأَئمة بعده. نو دا دعا بدعت سیئه دی» او دغه رنګه امام په نفلو کښی دعا نه کوی. ولی چی په قوم باندی تطویل ممنوع دی. هو که مقتدی په دغو دعا کانو راضی او خوشحال وو بیا پروا نه لری.

تله په حدیث کښی د حذیفه رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالیٰ عَنْهُ چی راغلی دی، چی ما په آنحضرت صَلَّی اللّٰه علیه وسلم پسی یوه شپه د تهجد لمونځ وکړی. نو آنحضرت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیهِ وَسَلّم نه ورتلی په ذکر د جنت مګر دی به دریدی او سوال د جنت به یه وکړی. او نه ورتلی پر ذکر د اور مګر دی به دریدی او پناه د اور بی وغوښتله او منفرد چی هر څه دعا کانی چی په مابین کښی د قرائت د قران په لمانځه کښی کوی روا دی بلکه مستحب دی، ط، س، تب، در، نر، قَالَ المصنف رحمه الله

وَالرُّكُوعُ او بل فرض د لمانځه رکوع ده. **پوه سه**: چی رکوع په لغت کی مطلق کږ والی ته وائی لکه په دی محاوره کی رکعت النخلة یعنی کږه سوله د خرما د رختہ. او کم درجه د رکوع کږ والی دی د ملا په داسی شان که لاسونه کښته یوسی زنګنو ته رسیږی. او کمال د رکوع دا دی چی سر او کناتی سره برابر وی. **مسئله**: په بدائع الصنائع کښی وائی چی حسن د امام اعظم څخه روایت کړی دی چی هغه لمونځ کوونکی چی ملا نه غوړوی په رکوع کی» نو که ولاړی ته نږدی وی تر تمام د رکوع نو دا رکوع د فرضو په ځای کی نه دریږی. او که و تمام ته د رکوع نږدی وی دا رکوع کافی ده. ولی اکثر لره حکم د کل دئ. او ورته روایت سراج دا امام کرخی څخه هم کړی دی. او محقق ابن امیر الحاج د دی روایت په تائید کښی وائی: چی د رکوع معنا خو کږ والی د ملا دی. نو چی بعض کږ والی موجود سی او بعض نه وی نو اکثر ته ترجیح ده. او و تمام ته د رکوع هله اقرب بلل کیږی چی لاسونه یې زنګنو ته رسیږی. او تمام یه هغه دی چی ذکر سو. یعنی چی ملا وغوړوی او سر د کناتی سره برابر کړی. دراولش وائی چی پر دی روایت د ډیرو عوامو لمونځ نه دی صحیح ولی چی دوی صرف سر کښته کړی و بس. لکن په شرح کی د مختار وائی چی رکوع عبارت د مطلق انحناء څخه دی. نو په مطلق انحناء سره فرض ده رکوع پر ځای کیږی او په تحفه کښی هم وائی چی قدر مفروض د رکوع په مطلق کږ والی سره ادا کیږی. او په حاوی قدسی کښی وائی چی فرض د رکوع مطلق کږ والی د ملا دی. درویش وائی چی پر روایت د دغو معتبرو کتابو د مذکوره عوامو لمونځ صحیح دی کی څه هم لاسونه و زنګنو ته

Maktaba Tul Ishaat.com

نه رسیږی. لکن احتیاط په اول روایت کی دی کما لا یخفی. **مسئله**: که سړی له وړنۍ په ناستی کاوه نو په رکوع کښی نفس انحناء الظهر کافی ده. **مسئله**: که یوسړی کوږ پښتو وو یعنی ملایه کږه وه. او کږوالی یه دومره وُو لکه رکوع. د هغه د پاره دا کافی ده چی صرف په سر سره دی اشاره ورکوع نه وکړي. یعنی سر دی لږ کښته کړي. ولې چی دی د پوره رکوع څخه عاجزدی یعنی سر د کناتو سره نه سی برابرولای. بلکه سر یه تر کناتو کښته وي.

مسئلة تعديل الاركان

امام ابویوسفؒ او امام شافعیؒ یه فرض بولي. د تعدیل معنا په قول د دوئ ارام کول دی په رکوع او سجده کی په مقدار د یوی تسبیح. او په نیزد امام اعظمؒ او امام محمدؒ سنت مؤکد دی چی دا هم رایه د جمهورو علما ووده. مذهب ده او یا واجب دی په نیزد محققینوؒ مذهب په هر حال چونکه لبعض فقهاء د مذهب قول دابویوسف صحیح گڼلی وی نو باید احتیاطًا یه مراعات وکړو سی. په مراقی الفلاح کی وائي، چی ابومطیع البلخیؒ چی د امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه بالذات شاګرد دی. وائی که چا په رکوع او سجده کښی تر دری واره تسبیح کم ویئیلی لمونځ یه نه دی روا. د رویش وائی اگرچه قول د ابومطیع دمشهورو کتابو څخه د فقه خلاف دئ. لکن امام طحاویؒ وائي چی احتیاطًا دی مراعات وکړو سی. قال المصنفؒ.

والسجود اوبل فرض د لمانځه سجده ده. د رکوع او سجدی د فرض والی دلیل دا قول د باری جل شانه: وَارْكَعُوا وَاسْجُدُوا: **پوهسه**: چی مراد د سجود څخه جنس دی تا چه د دواړو سجدو ته شامل سی مطلب چی د دواړي سجدی فرض دی او مصنفؒ وائي چی دا ثابته په حدیثو مبارکه وو سره ده او په اجماع د امت مرحومه هم ثابته ده، **پوهسه**: چی امام طحاویؒ په لفظ دقیل نقل کړی دی چی په ابتداء کی د اسلام بعض خلګو به سجده کوله بیله رکوع او لبعض مسلمانانو به رکوع بیله سجدی

حتی چی دا ایت نازل سو، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا، **مسئله**: مصنفؒ په مراقی کی وائي چی سجده په ایښوولو سره د تندی یوازی صحیح ده بالاتفاق. او یوازی په ایښوولو سره د پزی نه ده صحیح. او په مجتبیٰ کی وائي که څوك د تندی طرف پر محکَله کښیږدی هم کافی دئ. او معراج والا د ابی جعفرؒ څخه نقل کړی دی، چی ایښوول ده ټولو اطرافو د تندی په اجماع سره شرط نه دئ. کذا فی البحر،

پر هغه خبره چی تجنیس د ابن نصیرؒ څخه روایت کړی ده چی که چیری یوسړی لږ تندی پرکښی د بره کښیښوو او ډیره حصه د تندی یه پر محکَه وه. نو سجده یه روا ده او که لږ حصه پر محکَله وه سجده یه نه ده روا، ضعیفه خبره ده. بل يكفي وضع اقل جزء منها، ط، هو وضع د اکثری حصی د تندی واجب ده. ولی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم همیشه توب کړی دی پر هینګولو د تندی او پزي پر محکَله باندي. ط، د ر،

فائده: باید ایښوول د تندی دی پر طریقه د تعظیم وي. نو که یوسړی تندی هو پر محکَله کښیږدی او د واړی پښی یه پورته نیولی وي سجده یه نه ده روا. ولی چی دا سا تیری دی تعظیم نه دئ. د رویش وائی چی د بعض عوامو دغسی حال دی چی په سجده کی د واړی پښی یه په هوا نیولی وي. نو لمونځ یه نه دی صحیح.

مسئله: که څوك په حال کی د سجدی بار خوږ پر محکَله کښیږدی. او یا زنه کښیږدی او یا پر مقدمی حصی د سر سجده وکړی دا سی سجده په اجماع سره باطله ده. ولی چی تعظیم الهی دد ی اعضاوو په ایښوولو سره نه دی مشروع، **پوښتنه**: که د یوه سړي پر تندی زخم وو او پزه یه هم خوږ یدل. نو دا د مخ رقم سجده ده ته روا ده **جواب**: یا نه ده روا دا سړی به اشاره په سر کوي: قال شيخ الاسلام که یوسړی عاجز وي د سجدی څخه پر هغه ځای چی تا کل سوی دی په شریعت کی. نو د هغه سړي څخه سجده ساقطه ده. او حکم یه نقل کیږی واشاري ته؛ **پوهسه**: چی مصنفؒ په مراقی کی ویئیلی دي چی یوا ځی پر پزه سجده نه د صحیح. لکن دا هلته چی عذر نه وی او که عذر وو بیا خو روا ده. وهذا مذهب الامام الاعظمؒ وبه

وبه اخذ الصاحبانؒ. او په یوه روایت کی د امام اعظمؒ څخه داسی راغلی دی چی صحیح اقتصار پر یوه ادنٰی جزء د پزی او یا تندی که په عذر سره وي او که بیله عذره وي. بدر الدین العینیؒ په شرح کښی د بخاري وائی چی دا صحیح مذهب دی د امام اعظمؒ دی روایت په تائید کښی په کافی کښی وائي چی پر ټوله مخ سجده کول امکان نلري نو مراد بعض د مخ دی. نو لکه اقتصار چی پر یوائې تندی راوړی خو په سبب د دی چی بعض الوجه دی لېن پزه چی وسط الوجه ده خو هم بعض الوجه ده نو اقتصار پر پزه هم راوړی. والسجدة علی الوجه هو المامور به» ط، در، جر کا» او فتح القدیر والاولیٰ چی بعض متاخرینو چی فتوی پر هغه روایت د امام اعظمؒ کړی چی د قول دیارانو برابر دی لکه چی مصنفؒ په مراقی کښی چی د هغی فتوا په اثر وَنیلی دی» لا الانف» هغه فتوی نه قوی درایتًا او نه قوی روایتًا ده. ځکه چی په هدایه کښی وائي چی د امام اعظمؒ د مذهب دلیل ظاهر دی. درویش وائی چی په دی مذهب کی د عوامو د پاره لوی سهولت چی بعض پر تندی سجدی کوی یوازی او بعض پر پزه یوازی سجدی کوی. لکن کلام د مصنفؒ په مراقی کی بناء دی پر احتیاط په ټوله کتاب کی.

پوښتنه: چی مصنفؒ په مراقی کی وائي. چی په حال کی د سجدی کامل طریقه دا ده چی فرض او واجب دواړه پر ځای سي. هغه دا ده چی دواړه لاسونه یې پر ځمکه اېښي دي. او تندی او دواړه زنګنونه به هم په ځمکه ایښ دی. او دواړي پښی به هم پر ځمکه ایښ دی. او ګوتې به هم پر ځمکه ایښ دي. ذکره الکمالؒ وغیره من الفقهاءؒ.

تنبیه: مراد د پښو د ایښوولو څخه پر ځمکه په حال د سجدی کی ایښوول یې د ګوتو د پاسی چی سرونه د ګوتو یې وقبله ته سی. په خلاصه کی وائي: چی ایښوول د پښی پر ځمکه په حال کی د سجدی فرض دی. کی یوه پښه کښیښوله او بله یې پورته ولاړه روادی. یعنی سره د کراهته. په فتح القدیر کی دوجیز څخه داسی نقل راغلی دی. چی ایښوول د دواړو پښو فرض دی نو بیا پر یوه پښه ایښوولو سره څرنګه لمونځ او سجده روا ده؟

جواب: ایښوول د مطلق پښی خو فرض دی که دواړي پښی پورته وي سجده

به نه ده صحیح. مګر د دواړو دا واجب دی. او مراد د صاحب الفتحؒ د فرض څخه فرض عملی دی چی واجب ته هم شامل دی» او شک نسته چی د واجب پریښوول مکروه تحریمي دی.

مسئله: که سړی ظاهر او مخ د پښی پر ځمکه کښیښوو. او یا یې د ګوتو سرونه پر ځمکه کښیښول سجده یې نه ده صحیح. کذا فی الخلاصة. او په خزانة المفتیین کی وائي چی دا ډول سجده مکروه ده. فقط. کذا فی مجمع الانهر والبحر الرائق. ونص صاحب الهدایة فی التجنیس په دې سره که سړي په حال کی د سجدی ګوتې د پښو وقبلی ته نکړي بلکه مخ یعنی د ګوتو سرونه یې پر ځمکه ایښي وي نو داسی سجده مکروه ده.

او مصنفؒ په مراقی کی وائي چی یوازی تندی پر ځمکه ایښوول، او فقط یوازی ایښوول او د یوه زنګانه فقط او د یوې پښی د ګوتو پایونه ایښوول صحیح دی لکن سره د کراهته

شکایت

کښکی علماوو د عصر حاضر په ځای کی دا اوږ دو اوږ دو قصو چی دوی یې و مقتدیانو ته کوی. د اودا سه د غسل، فرائض، سنن مستحبات. بیانولای» چی د خلګو او بڅو هر روز ضرورت ورته سته. او دا غرنګه د لمانځه فرض کارونه، واجب عملونه، سُنت او مستحب عملونه بیا نولای. او د لمانځه کیفیت د رکوع سجدی قیامي او نور مُفسدات د لمانځه یې با التفصیل ورته ښکاره کولای. څومره به ښه وای. او څونه به عوامو فائده وای. او څونه به دوی ته خدای پاک ثوابونه ورکړي وای.

درویش وائي. چه شاید چی د دنه بیانولو د مذکوره مسائلو یوه وجه یې دا وي چی اکثر د دغو ملایانو چی په ګوټو کښی چغاري لغاري وهی په دقائقو د فقهی شریفی ناخبره وي. حتی چی د دوی هم لکه عوام په صحیح وجه په مسائل د اودا سه غسل لمانځه نه وی زده نو بیا له به دوی څرنګه دا دقائق. او بله وجه به دا وي چی د اودا سه غسل لمانځه وغیره د مسائلو د بیانولو په وخت کښی سامعان وزده کړي ته د دغو مسائلو متوجه وي. او لغاري نه وهی. او واعظ خوښه وي چی خلګ دی زما په وعظ

Maktaba Tul Ishaat.com

کی چغاری بغاری وَوَهی. تاچی پـه خلګو کی دا مشهوره سی چی فلانی ملا صاحب عجبه نصیحت کوی خلګ ژروی نوبیا ره خلګ دَدَغه واعظ لا سُونه بچوي. او نوری دنیوی فائدی هم به داسی نصیحت کی نغښتی وي. دا دوهم غرض ډیر بد دی تر اول غرض کما لا یخفی.

باعث پَردَرولیش

چی عربی کشنی کتابونه په عقائدو کی او فقه کی وه آسانه پښتوته په را اړول. دا وُ وچی درولیش د ډیری زمانی څخه په دې فکر کی وُ وچی څرنګه سرې کولای سي چی د خپل قوم پښتنو نرو او ښځو دینی عمومی خدمت وکړی. او څرنګه به ناخبره ورونړه اوخوندوته. به د دوی په مورنی ژبه عقائد ضروریه د اسلام او احکام عملیه فقیهه چی د دوی ورته ضرورت سته بیان کړم. هغه وو چی د خدای جَلَّ شانه څخه می توفیق وغوښتی. او په دی کار می شروع وکړه وَلِلّٰهِ الحَمْدُ چی په دې کار کښی زه خدای جَلَّ شانه کامیابه وګرځولم. چی تر دی اوسه پوری پوری. ما عاجز قدوري په فقه کښی او شروط الصّلوٰة هم په فقه کښی. او نور ظلم به عقائدو کی او هم ابُوالمنتهی پـه عقائدو کښی په سلیس اسانه ژبه می ترجمه کړه او تلاش می وکړی چی د معتبرو کتابونو څخه د فقهی او د معتمدو کتابونو څخه د عقائدو ډیر کار آمد او ضروري مسئلی پر ترجمه د اصلی کتاب بالاکړم. او دغه مذکوره کتابونه لِلّٰه الحمدُ عربستان، پاکستان، بلکه امریکا، جرمنی، لندن، وغیره مما لکو یعنی چیری چی پښتانه ورونړه، اوخوندی موجود دي. ډیر ښه رواج یې موندلی دئ. د درولیش کتابونه رواجیږی مګر حاسِد په کبابیږی. او بل کتاب شهادة الحسنینؓ په دری ژبه هم چهاپ سوی دئ. او هم دا اوس د نُورُ الاِیضَاح چی یو ډیر مختصر او مُعتبر کتاب د فقهی شریفی دی تر ترجمه کولو لاندې دئ. او اول جلد تکمیل سُو. تخمینًا د پنځه سوه مخه په ښا وخوا کښی چی هغه هم اوس لاهور ته د چاپ د پاره برلاړ دی

او ژر به یې ژر به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ وشا نُقتینوته د ستیا بسی. د قارِي فضل الحق صاحب په کتابت، او چاپونکی یې هم دی دئ. او ما حقوق د طباعت هم ورده نه ورکړی دی ولی چی علت غائی یې هم دی دئ. او دوهم جلد به هم اِن شَآءَ اللّٰهُ العزیز کتابت سی. او هم د قاری فضل الحق په کتابت او طباعت به طبع سی. او د هغه حجم او صفحاتی به تر اوله جلد اِنْ شَآءَ اللّٰه ډیری وی ؛

اګرچه نورالایضاح یو مختصر کتاب وُو. لکن د درولیش دا رایه ده چی دا ترجمه یې صُورت کی د فتاوا و خپلو وطنوالو پښتنوته پیش کړم. اِنْ شَآءَ اللّٰهُ العزیز، دا ترجمه به پـه پښتنو ورونړو کښی رواج پیدا کړی او سبب بلکه ښه سبب د زده کړې د مسائلو ضروریه وود فقهی شریفی به وګرځی: وَمَا ذَالِکَ عَلَی اللّٰهِ بِعَزِیْزٍ توکلتُ علیه وَاِلَیْهِ اُنِیْبُ»

اِرَادَه صَمِیمَه

ورونړو اوخوندو. و درولیش ته دښه ژوند او صحت دعا کوئ. ولی چی درولیش قصد لري چی ورو ستـه تر خلاصیدو د ترجمی د نورالایضاح» درولیش اراده صمیمانه کړې ده چی دَ قدوری د نکاح حصه هم ترجمه کړم»
او هم دا مکتبه به یه هم په ښه کتابت سره تا سوته وړاندی کړي



مَکتَبَةُ القِرَاءَةِ وَالتَّجوِیدُ
کانسی روڈ شالدره کوئٹه

کتَبَه احقر فضل الحق حقانِی

ولې چې د نکاح، طلاق، رضاع، وغیره مسئلوته هم عمومي شدید ضرورت ستـه
وَاللّٰهُ المُوفِّقُ و اَللّٰهم للصّواب» داوی څه معترضه خبرې اوس به اصل مقصود ته
رجوع وکړو یعنی ترجمه د باقی نُورُ الایضاح اِن شاءَ اللّٰهُ العزیزُ،،

پـُوهـ سـَـه: چې شرط د صحت د سجدې دا دی چې مصنف وائي. **عَلٰی مَا یَجِدُ حَجْمَهُ**

یعنی سجده دی کوي پر داسې شي چې وَر معلومیږی وساجد ته د هغه شي کلك والی. حتی که سجده کوونکی ډېر کوشش وکړي. تر حال د اینبولو په سر نه کښته کیږی. پس ساجد ته سجده نه ده روا پر پُنبه وو یا وَرېو مگر هغه وخت چې په کور ځچه کښې ډېرې تخته سوي وي. چې بالا نه کښته کیږي او د غه رنگه سجده نه ده روا پر واوره او پر اوړو مگر چې ډېر کلک سوي وي د غه دوه. او پر اېر دنو او جوارئیو، ولې چې د غه شیان ښوي دي او جسمونه ير سخت دی نو یو پر بل قرار نه نیسي بلکه ښوئیږی نو سر خواه مخواه کښته ځي؛ قَالَ المُصَنِّفُ

وَتَسْتَقِرُّ عَلَيْهِ جُبْهَتُهُ او قرار نسی دده تندی پر هغه **مسئلہ** پر غنمو او اوربشو سجده روا ده. ولې چې دانې يه زیږی دي او ډېرې کلکی نه دی یو پر بل قرار نسی، مر، ط،، **پـُوهـ سـَـه**: چې جبهة چې په پښتو تندی ورته وائي تر وروځو لوړه سرتر و پښتو نو پورې. او پر تندی باندی د دوو طرفو دوه جبینان دی چې په پښتو تیکونه ورته وائي. قَالَ المُصَنِّفُ.

وَلَوْعَلٰی کَفِّهِ اَوْطَرَفِ ثَوْبِهِ اِنْ طَهُرَ مَحَلُّ وَضْعِهِ

سجده صحیح ده که څه هم پر ورغوي د ساجد وي پر صحیح روایت "مره او داغه رنگه صحیح ده سجده پر طرف د جامې دَده که پاك وو ځاى د اینبو ولو د کف او د جامې **پـُوهـ سـَـه**: چې د ثوب څخه مراد ثوب ملبوس دَه. لکه د قمیص لمن، یا د لنگوټي شمله، او سجده پر طرف د ثوب د جهت د عذر روا دَه. او بیله عذره مکروه دَه لکه سجده پر ورَله د لنگوټ. او هرچه

سجده ده پر دسمال یا پتوهغه په هرحال روا دَه یعنی که عذر وی او که نه وي. او د عذر یو صورت هغه دی چې په صحاح سته وو کښې راځي. د انس رَضِیَ اللّٰہ عنہ په روایت سره: كُنَّا مَعَ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم فَیَضَعُ اَحَدُنَا طَرَفَ ثَوْبِهٖ فِیْ شِدَّةِ الْحَرِّ مَكَانَ السُّجُوْدِ» ترجمه: مونږ وو سره د نبی علیه السلامه نو اینبودی به یوه زمونږ طرف د جامې خپل په سختی گرمی کښې په ځای کښې د سجدی. او د اهم د عذر صورت دَی چې په ژمی په یخ وطن کی سړي په صحرا کی لمونځ کوي نو تر تندی لاندی طرف الثوب د ډېره یخه اَواره وي.

مسـئلہ: پر هر قسم غالیو که ایرانی وی. که عربستانی وی او که افغانستانی وی او یا د نورو مملکتو چې پاکی وی لمونځ بیله کراهته روا دئ. در، قَالَ المُصَنِّفُ

وَسَجَدَ وُجُوْبًا بِمَا صَلُبَ مِنْ اَنْفِهٖ وَبِجَبْهَتِهٖ وَلَا یَصِحُّ

او سجده دی کوي از روی وجوب پر کلك ځای د پزی. او وجوبًا دی سجده هم کوي پر تندی

الِاقْتِصَارُ عَلَی الْاَنْفِ اِلَّا مِنْ عُذْرٍ بِالْجَبْهَةِ

باندی او نه دی صحیح بس والی د پزی پر سجده مگر هغه وخت صحیح دی چې په تندی کی عُذر مثلًا دانه وي چې پر محکّله یه نه سی اینبو ولائ. **پـُوهـ سـَـه**: چې د دی مسئلو تحقیق پوره عنقریب تیر سو. فتذکر. قَالَ المصنفُ.

وَعَدَمُ اِرْتِفَاعِ مَحَلِّ السُّجُوْدِ عَنْ مَوْضِعِ الْقَدَمَیْنِ

او بل شرط د شرو طو څخه د صحت د سجدی دا دی چې نه به وی پورته ځای د سجدې تر ځای

بِاَکْثَرَ مِنْ نِصْفِ ذِرَاعٍ فَاِنْ زَادَ عَلٰی نِصْفِ ذِرَاعٍ

د اینبو بالا تر نیم گزه. یعنی لږ پورته والی ضرر نه لري. او که تر نیم گزه بالا وو ارتفاع سجده په نه ده روا،،

Maktaba Tul Ishaat.com

فَإِنْ زَادَ عَلٰى نِصْفِ ذِرَاعٍ لَمْ يَجُزِ السُّجُوْدُ إِلَّا لِزَحْمَةٍ

اوکه چیري زیات وو د الوړ والی ترنیم گزه ـ نو سجده نه ده پر روا ـ مگر ما سوا د هغه صورته څخه چي ازدحام د خلگو ډېر وي.

سَجَدَ فِيْهَا عَلٰى ظَهْرِ مُصَلٍّ صَلٰوتَهٗ

او دی سجده وکړي پر شا د هغه چا چي خپل لمونځ کوي. **خلاصه** دا چي که چیري ترنیم گزه پر ارتفاع زیات تر وه بیا سجده نه ده روا. یعني دغې سجدې ته اعتبار نسته. نو کې د غه سجده پر کښېنسته ځای را وگرځول صحیح سوه. او کی لمونځ پوره کړي او هغه معتبره سجده یې ونه کړه لمونځ به یې باطل سو. ولې چي فرض عمل پر کښي پاتې سو: مگر هغه وخت لوړ والی د ځای د سجدې پر ځای د پښو روادي چي ازدحام د خلگو ډېر وي او ځای د سجدې نه وي. بلکه د وروسته صف سړي د مخ د صف د سړي پر ملا سجده کولای لکن هغه لمونځ گذار په لمانځه کښي شريك وي. دا تول د مجبوري له کبله. نو که هغه د مخ و خواته سړي لمونځ نه کاوه او یا په بل لمونځ کاوه د هغه پر شا سجده نه ده روا. او په کفایه کی دا شرط هم راوړی دی چي لمونځ کوونکی زنگنونه به پر ځمکه وي. او په مجتبٰی کی دا هم شرط کړی دی چي هغه بل سړی چي دی لی پر شا سجده کوي هغه به پر ځمکه سجده کوي. لکن قهستاني د مبسوط څخه نقل کړی دی چي سجده د ازدحام پر شا د غیر مصلي هم روا ده. او امام زاهدي وائي چي پر شا د ما کول اللحم لکه پسه وغیره هم روا ده. ونقل عن الحلابي انه يستحب التاخير حتي يزول الزحام «ط م»

واقعه: یوه ورځ درویش په مسجد نبوی د مدینې منورې د لمانځه د پاره بنه پر وخت ورغلم او په یوه صف کی می تحیة المسجد ادا کړه. بیا د رکوع او سجدې ځای می د رلودی. لکن څه وخت چي د لمانځه د جماعت وخت نږدې کیدی خلق ډېر پیدا حتی چي د صفونو په مابینو کی نور صفونه جوړ کړه سوه. د درویش ومخ ته یو لوی بنده

مړي کښېنستی هر څه چي می قبل الصلوٰة ورته وو ویله چي زه به سجده اخیر چیري کوم، نو ده نه منله او نه ایسته کیدی او دا بې وویله «اَللّٰهُ مَالِكٌ»، او بل ځای هم نه وو چي زه هلته ولاړ سم. خیر اقامت وسو او لمونځ شروع سو قیام خو سوه کم مشکل نه وو. او رکوع هم په ادنٰی طریقه وسوه. د سجدې چي وار سو مړي ترما د مخه پر سجده سو کښناستی په دونه غټ وه چي زه پر رکوع وای د ده پر کوناتو ی سرونه سوای ایښو ولای. شا خو چیري ده خو چي زما سر د ده د کونا تو تخو مینځ ته د په حال کی د سجدې پښي راته ازادي کړي. مطلب په دا وو چي زما په پښو نه نیا سه. ما هم هغسي وکړه او سجده می گرده کاملا پر ځمکه وکړه تر اخیره.

نو هلته می په لمانځه کښي دا په زړه کښي راوگرځید له چي په فقه شریفه کښي چي وائي. چي په وخت د زحام پر شا د لمونځ کوونکی سجده وکړي هغه کافي نه ده ولې چي درویش په دغه زحام کی په مابین کی د «رجلي» د مصلي سجده وکړه. چي د ظهر سجدې به امکان نه وو. او سر دا دی چي په فقه شریفه کی وائي چي د حال د رکوع سجده پر شا د بل مصلي نه ده روا. بلکه دی به زنگنونه پر ځمکه ایږدي. فحق القول بان العلوم تتزايد يوما فيوما، قال المصنف»

وَوَضْعُ الْيَدَيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ فِي الصَّحِيْحِ

او ایښول د دواړو لاسو او زنګنو دی. په صحیح روایت کی. مصنف په مراقي الفلاح کی دا عبارت په حذف د مضاف گرځولی دی ای احد الیدین واحد الرکبتین. نو ترجمه د عبارت دا سي کیږي چي بل شرط د صحت د سجدې ایښوول دی د یوه د دوو لاسو او د یوې پښي. د دې ځای تفصيلي بیان د مخه تیر سو. قال المصنف:

وَوَضْعُ شَيْءٍ مِنْ أَصَابِعِ الرِّجْلَيْنِ

او بل شرط د صحت د سجدې ایښوول دی د یو څو گوتو څخه د پښو پر ځمکه لکن گوتي به مخامخ وقبلې ته وي سرونه

حَالَةَ السُّجُوْدِ عَلَى الْأَرْضِ وَلَا يَكْفِي وَضْعُ ظَاهِرِ الْقَدَمِ

د گوتو به پر ځمکه ټکنیه کوي ـ او کافي نه ده د صحت د سجدې د پاره ایښول د مخ د پښي پر ځمکه.

ولې چې ظاهرِ پښې ځاې دسجدې په شریعت کې نه دې. مصنفؒ په مَراقی الفلاح کې دا حدیث دلیل راوړې دې چې آنحضرت صَلی اللّٰهُ عَلیه وسلم وائې: اُمِرْتُ اَنْ اَسْجُدَ عَلیٰ سَبعة اَعْظمٍ عَلی الجَبهة والیدَیْن و الرکبتین و اطراف القَدمینِ» زه امر کړه سوي یم یعنی د جانب څخه دخدای عَزّوَجَلّ چې زه به سجده کوم پر اوو اندو، چې تندی دی او دوه لاسونه دي. او دوه زنگنونه دي او اطراف د پښو دي.

سَوال: امرخو پاره د وجوب وی نو د دی حدیث مفاد خو دا دی چې پر دی اوو اندامو سجده واجب ده. او حَدیث صحیح او متفق عَلیه دی. او سره د دی چې ابینوول د دواړو لاسو او د دواړو زنگنو سُنت دی زموږ په نیز. **جواب:** غرض د مصنفؒ د دی حدیث څخه دا دی چې محل د سجدې خو دغه اعضاء دی او دا صحیح دي او هر چه دا خبره ده چې د ټولو وضع لازمه ده دا علٰحدة حکم دی. مصنفؒ په مَراقی کې وائې چې یوه پښه کښیږدې دی په صحت کې د ه سجده په اختلاف دی. او طحطاویؒ وائي چې ظاهرِ د مختصرِ الکرخی و المحیط، والقدوری عدم جواز دی. قَالَ المصنفؒ

وَ تَقْدِیْمُ الرُّکُوْعِ عَلَی السُّجُوْدِ

یعنی شرط دی د پاره د صحت د رکوع او سجدې د مخه کول د رکوع پر سجده باندی. قَالَ فی المراقِی. لکه چه شرط دی تقدیم د قرائت پر رکوع.

مَسئَلہ: که یو سړی د سجاړ په لمانځ کې رکوع تر قرائت د مخې وکړي. او د رکوع څخه چې راپورته سی بیا هم یې قرائت ونه وایه لمونځ یې فاسِد سُو. او کې وروسته تر رکوع قرائت ووایه نو لمونځ یې صحیح دی. کې دا کار قصدًا وکړي لمونځ یې مکروه دی. او کې سهوًا کړي وو نو سجده سَهوه دې وکړی: کما فی الکافی لو قدم رکنًا علی رکن سَجد لِلسّهو.

مَسئَلہ: بعض علماء وائي چې په مذکوره صُورت کې یعنی چې تر رکوع وروسته قرائت ووائي رکوع یې لغوه سوه بله رکوع به کوی. او سجده نسته ور باندي. **مَسئَلہ:** که یو سړی په اولو دوو رکعتو کی د څلور رکعتی لمانځه قرائت نه ووایه او په اخیرو دوو رکعتو کښې قرائت ووایه لمونځ یې صحیح دی.

پوښتنه: چې مفاد د عبارت د مصنفؒ په نورالایضاح او مراقی الفلاح کښې دا دی که یو سړی رکوع د مخه تر قرائت وکړي. یا سجده د مخه تر رکوع وکړي لمونځ یې فاسِد دی. او په کافی کی هم تصریح پر دَغه سوې دَه. لکن په کافی کی په باب د سجود السهو کی راسی وائي. لَوْقَدّمَ رکنا عَلیٰ رکنٍ یعنی سهوًا سَجَدَ لِلسّهو، د دی عبارت څخه دا معلومیږی چې ترتیب د ارکانو واجب دی.

ولې چې د واجب په پرِیښولو سره جبیره سجده سهوه کیږي. او ورا ندی وئیلی وچې لمونځ په فاسِد سُو. د دی سَره خو دا معلومیږی چې مراعات د ترتیب فرض دی. او مصنفؒ هم تصریح کړې ده بقوله: وَیُشترطُ لِصِحّة الرکوع وَالسجود: پر فرضیت د ترتیب. وهذا اشکال ینبغی حلّهٗ. وقد تفرد صاحِب جامع الفصولین العلامة ابن قاضی سماوة فی کتابه شرح التسهیل بدفعه. لیعنی چې د فرضیت ځای او د وجوب ځای په ترتیب کې د ارکانو جلا دی: فَلا تنا قض بینهما، هغه دا سی چې معنا د فرضیت د ترتیب دا ده چې صحت د رکن ثانی پر وجود د اول رکن موقوف دی. نو که څوک رکوع د مخه تر سجدې وکړي سجدې ته اعتبار نسته باید سجده بیرته راوګرځوي. او معنا د وجوب الترتیب دا ده چې لمونځ یې نه فاسدیږی کې بیرته راوګرځاوه لیعنی هغه ترتیب چې ده خراب کړي وو. فافهم هَدَاك اللّٰهُ» قَالَ المُصنفؒ.

وَالرَّفْعُ مِنَ السُّجُوْدِ اِلیٰ قُرْبِ الْقُعُوْدِ عَلَی الْاَصَحِّ

او شرط د پاره د صحت د سجدهٔ ثانیه پورته کول د سر دی د اولی سجدې څخه تر داسی حَده چې و ناستی ته نږدې سی. که څه هم سم نه کښېنی پر صحیح روایت د امام اعظمؒ څخه

ځای د غور وړ دی

ولې په دی مسائلو کښې روایات مختلفه سته او د مذهبوا ختلاف هم سته. علامه مسکینؒ وائي چې ولاړه د رکوع څخه او ناسته په مابین د سجدتینو دواړه فرض دی. په نیزد امام ابو یوسفؒ نو د ده مذهب

Maktaba Tul Ishaat.com

مقتضیٰ دا ده که چا قومه، او جَلسه، پرېښوله لمونځ یه فاسِد دئ. او امام اعظمؒ او امام محمد یه واجب بُولي. دواړی یعنی چې لمونځ نه پـه فاسدېږی. او د مصنفؒ کلام هم دلته د امام ابویوسفؒ د مذهَب سره موافقت لري. ولحچی دی وائیٌ "ویشترط الرفع آه"

لکن په دی کښی اختلاف دی چې اندازه د رفع د سجدی څخه څومره اندازه دَه. د حضرت الامام الاعظمؒ مذهب خوذکر شُو. ډیرو کتابو د فقهی شریفی فتوی په دَغه مذهب ورکړیده. او ډاډو لښ هم دا مذهب د فتوی دَپاره مناسب بُولي. او بعض مشائخ وَائیٌ چې تندی مرفی د مځکی پورته کړی او بیرته یه کښیږدی لمونځ یه صحیح دی. د ډیرو ځینو وائیٌ چې د دی مذهب هیڅ یوه فقیه نه ځلی او تصحیح نه ده کړي. او نه عالِمته مناسبه دَه چې دا مذهب وعوامو ته بیان کړي. او قدوریؒ وَائیٌ چې هغه قدر رفع غواړي چې خلګ یه رَفع وَبُولي. شیخ الاسلام دا رأیه اصح ګنړلې دَه (یعنی په ادائی کی د فرض لکن مکروه ده،) ط"

او بعض فقهاء وائیٌ چې هغه قدر رفع ضروري دَه چې کتونکی یه رافع وبُولي. دا مذهب عیناً د قدوری مذهب دی لکن پوه سَه: چې مصنفؒ سره د دی چې دلته وَیَشترِطُ وائیٌ مګر په حَاشیه کی د درر دا سِی وَائیٌ. چې ده د لا ئِلو شرعیه وو مقتضی دا ده چې دَا څلور سره کاره واجب دي. یعنی ارام کول پـه رکوع کی. ارام کول په سُجده کښی. او آرام کول په وَلاړه کی د رکوع څخه او آرام په ناسته کی په مَا بین کی د دوو سجدُو. او رفع د رکوع څخه هم واجبه ده. او نفس جلوس بین السجدتین هم واجبه دَه. پـه سبب د مواظبت د آنحضرت صَلّی اللهُ عَلیه وَسَلم پر دَغو کارو. او بل دَلیل د وجوب یه دا دی چې تا ضیخانؒ وَائیٌ چې که چا رفع د رکوع څخه سهوًا پرېښوده سجده سهوه پر لازمه دَه. او ودي ته و ته [illegible] کړیده. نو حکم د نا ستی بین السجدتین هم دغه رنګه دی. وَلې [illegible] بودئ. د ډیرو وائیٌ چې د دغو افعا لو وجُوب مختاره د کمال الدینؒ [illegible] دده شاګرد ابن امیرالحاج هم مختاره دَه. قال وانه الصَّوابُ" د ډیرو [illegible] اما فتوئی هم پر دغه نظریه دَه" ولی چې د قوا نینو سره د فقه شریفی ډیره برابره

ده **پوښتنه**: که یو سړی اول سجده مثلاً پر بالښت وکړه او بیا چا بالښت د ده څخه لیری کړي او بیله پورته کولو د سر دوهمه سجده یه کښنسته پر مځکه وکړه دا دوهمه صحیح ده. بعض علماء وائی چې پر قول د قدوری صحیح دَه. دا خبره غلطه ده، ولې چې مطلق رفع خو فرض با الاجماع ده په دا مذکورصورت کی هیڅ رفع نشته" قال المصنف

وَالعَوْدُ اِلَی السُّجُوْدِ او دا غرنګه فرض دی دوهمی سجدې ته ګرځیده. مصنفؒ په مراقی کی وائیٌ چې سجدهٔ ثانی فرض ده لکه اوله سجده با جماع الامة" ورد فی الحدیث النبویؐ چې آنحضرت صَلی اللهُ علیه وَسَلم چې اوله سجده بی وکړه او سر مبارک بی را پُورته کړي نو بې لاسُونه هم د مځکی څخه را پُورته کړه او بیرته نو بی کښېښول. او دا هَم علیه الصلوٰة وَالسلام وَیلی دی، صَلُّوا کَمَا رَاَیتُمُوْنِی اُصَلِّیْ. تاسی لمونځ کوی لکه تاسی چې نه ولیدم چې لمونځ می وکړئ. او په یو بَل حَدیث شریف کی راغلی دی، چې لاسُونه هم سجده کوي لکه مخ چې کوي. نو څه وخت چې تاسی مخ پر مځکه کښیږدی لاسُونه هم اېږدی او هر وخت چې مخ پورته کړي د مځکی څخه لاسُونه دی هم پورته کوي.

حِکمة تَکرَارِ السُّجُوْدِ

بعض فقهاء وَائیٌ چې د اتکرار د سجدو امر تعبدی دئ. یعنی خدای جَل شانه مونږ امر کړي یو چې دوی سجدی کوئ. کی څه هم مونږ په حکمت نه یو خبر لکه عدد د رکعتو د لمونځو. نو مونږ هغسی کوو بالا په حکمت پسی نه ګرځو. او بعض علماءؒ وائیٌ چې دوهمه سجده د پاره د ترغیم د شیطان ده. چې ډیوه سجده هم و حضرت آدم عَلیه السَّلام ته وکړه. او په بعض روایاتو کښی راغلی دي. چې څه وخت چې ملکو و حضرت آدم علیه السلام ته په امر د خدای پاك سجده وکړه او شیطان نه وکړه. نو څه وخت چې دوی سَرونه راپورته کړه وی لیدَله چې دَ شیطان مَخ د ښاو خواته اووښتی وو او بر

بد نیه داسی و ینبتان ۍ اپوۍ ته سوی وه. لکه د سرکوزی نو ملکو دوهمه سجده وکړه د شکر د پاره، نو خدای پاك مونږ امرکړو، "مُتَا بَعَـةً لِلْمَلَا ئِکَةِ" چې تاسی هم دوی سجدی کوی" ددی روایت څخه دا معلومیږی چې هغه سجده چې ملکی په امر سوی وې سجدهٔ اصطلاحی وه؛ او ادم علیه السلام صرف په ډول د محراب وځته د دوی ولاړوو
او بعض اهل سیر وائې چې اوله سجده د پاره د شکر د ایمان ده او دوهمه سجده د پاره دبقاء پر ایمان ده. او بعض محققانؒ وائې چې اول سجده د پاره د اشاری و هغه ایت کریمی ته ده، "مِنْهَا خَلَقْنَا کُمْ" یعنی د مځکی ما تاسی پیدا کړی یاست" او دوهمه سجده اشاره ده ودی ایت کریمه ته: وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ"
او بعض علماءؒ وائې چې څه وخت چې ټوله اولاده خدای پاك دا آدم علیه السلام څخه راوایستل د پاره د اخذ د میثاق یعنی هغه وعده د "اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَا لُوْا بَلٰى" نو بیا ئې ټوله په سجده سره امرکړه نو هغه کسان چې په وروسته ژوندکی به مسلمانان وی هغو ټولو سجده وکړه او کفارو سه وکړه. نو مسلمانانو چې سرونه راپورته کړه او کفارو ته وکتل چې سجده یه نه وکړه نو مسلمانانو دوهمه سجده وکړه د پاره د شکر، "وَاللهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ وَعِنْدَهٗ اُمُّ الْكِتَابِ وَاِلَيْهِ الْمَرْجِعُ وَالْمَاٰبُ" قال المصنفؒ

وَالْقُعُوْدُ الْاَخِيْرُ قَدْرُ التَّشَهُّدِ

او همدا رنګه فرض ده اخیره ناسته په اندازه د التحیات آه ...

پوهه سه: چې اخیره ناسته خو فرض ده. په اجماع د علماءؒ و د څلورو مذهبو، "اِلَّا مَا لِكًا فَاِنَّهٗ سُنَّةٌ" لکن په مقدار کښی اختلاف دی او د احنافو مذهب دا دی لکه مصنفؒ چې وائې په قدرد التحیات آه دویلو. او دا هم صحیح مذهب دی

سوال: اخیر خو هغه شی ته وائې چې اول هم لری نو د سحار په لمانځه کی یا د جمعې په لمانځه کی خو اوله ناسته نسته. او د غه رنګه د مسافر په رباعی لمانځه کی اوله ناسته نسته.

جواب: مراد دلته اخیر د لمانځه دی یعنی هغه ناسته چې په اخیرکی د لمانځه کیږی که د مخه ناسته لری او که نه لری، "فیشمل الکل" ط"

فائده: مصنفؒ لفظ د قدر وواییه اشاره وده ته وکړه چې دا لتحیات ویل فرض نه دی بلکه نفس ناسته فرض ده. او د التحیات ویل به په واجباتو کی راسی، "ان شَاءَ اللهُ الْعَزِيْزُ"
دلیل د دی مسئلی دا دی چې ابن مسعودؓ ته آنحضرت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څه وخت چې التحیات ورښو ؤله وروسته یه داورته وفرمائیل: اِذَا قُلْتَ هٰذَا اَوْ فَعَلْتَ هٰذَا فَقَدْ قَضَيْتَ صَلٰوتَكَ اِنْ شِئْتَ اَنْ تَقُوْمَ فَقُمْ وَاِنْ شِئْتَ اَنْ تَقْعُدَ فَاقْعُدْ" یعنی په ناسته ولی چې التحیات په ولاړی مشروع نه ده. ترجمه: چې تا دا التحیات ووئیل او یا دی فعل وکړ یعنی په قدرد التحیات کښینستی نو تا پوره کړی لمونځ نو بیا ستا خوښه ده که ولاړیږی ولاړ سه او که کښینې کښینه.

اِخْتِلَافُ الْعُلَمَاءِ:

اخیره ناسته فرض خو ده په اتفاق اما امام مالکؒ یه سُنت بولي. لکن رکن یعنی اصلی د لمانځه ده. دا مذهب دی د یوسف بن عاصمؒ. او په بدائع الصنائع کی وائې چې رکن اصلی نه ده یعنی رکن زائد ده. ولا یخفی ان بين الركنية والزيادة منافاة فافهم،، او صحیح دا ده چې دا ناسته شرط ده. په دلیل د هغی مسئلی چې فقهاءؒ وائې چې که سړي قسم واخستی چې زه لمونځ نه کوم. بیا پر لمانځه ودریدی څرنګه چې د اخیر رکعت د دوهمی سجدی څخه سر راپورته کړی حانث سو. نو که چیری التحیات رکن وای نو دا سړی پس له التحیات حانث وای" لان الكل لا يوجد بدون الجزء. او په سراج او بحر او نهر کی وائې چې وضعه د لمانځه د پاره د تعظیم الهی ده او اصلی تعظیم د قیامی څخه شروع کیږی په رکوع کی تعظیم زیاتیږی او سجده پای د تعظیم ده. او په ناسته کی خو هیڅ تعظیم نسته. بلکه صرف استراحت دی نو رکن نه ده" ط" قال المصنفؒ

وَيُشْتَرَطُ تَاخِيْرُهٗ عَنِ الْاَرْكَانِ

او شرط دی وروسته کول د اخیری ناستی تر ټولو ارکانو. ولی چې قعدهٔ اخیره د پاره د ختم

Maktaba Tul Ishaat.com

دارکانو مشروع ده کما یدل علیه حدیث ابن مسعودؓ **مسئله**: که د چا سجده صلبیه هیره وه چې التحیات یې وو یل ور پیاد سوله هغه سجده دې را وګرځوی. که څه هم پس له سلامه وي چې خبرې نه وې کړې. او کې خبرې کړې وې لمونځ به بیرته را ګرځوي قال المصنفؒ

وَاَدَاءُ اَرْكَانِهَا مُسْتَيْقِظًا

او شرط دی د پاره د اداء د ارکانو او د صحت د هغو کول د هغو په داسې حال کښې چې ویښ وي

مسئله: که یو لمونځ کوونکی قرائت وو ایه یا یې رکوع وکړه او بیده وو هغو ته اعتبار نشته بیرته بې را ګرځوي. او په قعده اخیره کې که بیده وو منیة المصلي وائي کې نه را وګرځول لمونځ یې باطل شو. د ده په نیز قعده اخیره رکن د لمانځه ده والصحیح ما في جامع الفتاوی. چې قعده اخیره د خوب په وخت کښې هم صحیح ده را ګرځیدل نه غواړي. ولې چې دا رکن نه ده بلکه د استراحت د پاره ده او په خوب کې خوبنه استراحت سته »م« قال المصنفؒ

وَمَعْرِفَةُ كَيْفِيَّةِ الصَّلَوَاتِ وَمَا فِيهَا

او فرض دی پیژندل د کیفیت د لمونځو یعنی دا چې

مِنَ الْخِصَالِ الْمَفْرُوضَةِ

دوه رکعته د سحار فرض دي. او څلور رکعته د ماپښین فرض دی وهکذا. او هغه څه چې په دې ټولو لمونځو کې افعال مفروضه دي. لکه چې دوه رکعتونه د سحار فرض او د ونه د ماپښین فرض دي. وجمعیة الخصال باعتبار تعدد الصلوات المفروضة والا في الفرضیة خصلة واحدة. قال المصنف في نور الایضاح

عَلٰى وَجْهٍ يُمَيِّزُهَا عَنِ الْخِصَالِ الْمَسْنُونَةِ

پر داسې طریقه باندې چې فرضي خصلت پیژني چې تمیز د هغه خصلت د خصال مسنونه وو څخه وکړي. **پوښته** او که چې جمعیت د خصال مسنونه ووهم په اعتبار د ډېر والي د مسنونو لمونځو دی. او که داسې نه وي نو سنتیت خو یو خصلت دی په ټولو سنتو کې مثلاً دا به ورته معلومه وي چې څلور قبل الظهر او دوه رکعته بعد الظهر سُنت دی وهکذا السنن الأخر. او دا مراد نه دئ. چې د لمانځه قیام، رکوع وغیره به په صفت د فرضیت پیژني. او سُبحان او تسبیحات به په ډول د سنت پیژني وهکذا قاله المصنف في المراقي،،

پوښته: چې د مصنفؒ د دغه ترجمه چې مونږ وکړه هم دغه مراد ده. که څه هم عبارت د کتاب واضح دلالت نه پر کوي. والتفصیل في شرح الامام الطحطاوي» او مصنف وائي چې دا د اداء د فرضی لمونځو ټولو داسې اعتقاد هم کافي دئ. قال المصنفؒ

اَوْ اِعْتِقَادُ اَنَّهَا فَرْضٌ

او اعتقاد دی لمونځو چې دی ئې په دی پنځو ختو کې اداکوي. مثلاً د سړي عقیده وي چې د سحار فرضي لمونځ څلور رکعته دی. او هر دوه رکعته جلا جلا وکړي او د ماښام لمونځ نیځه رکعته دی فرضي دی لکن دري رکعته یې جلا وکړي او دوه رکعته جلا وکړي وهکذا. قال المصنف

وَاِعْتِقَادُ اَنَّهَا فَرْضٌ حَتّٰى لَا يَتَنَفَّلُ بِمَفْرُوْضٍ

او عقیده به د دی لري چې دغه لمونځ چې زه ئې کوم فرضي دی تا چې نفلي نیت و نه کی په فرضي لمانځه کې. ولې چې فرضي لمونځ په نیت د نفلو نه دئ روا او نفل په نیت د فرضو روا دی کما في التجنیس والمزید والخلاصة، ط» قال المصنفؒ

وَالْاَرْكَانُ مِنَ الْمَذْكُوْرَاتِ اَرْبَعَةٌ اَلْقِيَامُ وَالْقِرَاءَةُ وَالرُّكُوْعُ

په دې کې بالاتفاق چې تیر سوه چې تراووه ویشت هم با لاوه څلور رکنونه دی. چې هغه ولاړه، قراءت، او رکوع

وَالسُّجُوْدُ وَقِيْلَ الْقُعُوْدُ الْاَخِيْرُ مِقْدَارَ التَّشَهُّدِ وَبَاقِيْهَا شَرَائِطُ

او سجده دي. او بعض علماء وائي چې اخیره ناسته په قدر د التحیات آه دا څلور رکنونه دی په لمانځه کې باقي ما نده شرطونه دي: او بعض علماء وائي چې تکبیر تحریمه هم رکن دی. نو به شپږ سي. وقد مر الاختلاف وما هو الصحیح من انهما لیسا برکنین «

بَعْضُهَا شُرُوْطٌ لِصِحَّةِ الشُّرُوْعِ فِي الصَّلٰوةِ وَهُوَ مَا كَانَ خَارِجَهَا

بعض د هغو څخه شرطونه دی د صحت د شروع په لمانځه کې هغه هغه شرطونه دی چې خارج د لمانځه څخه وی. چې هغه پاکی ده د حدث او نجس څخه او ستر د عورت دئ. او استقبال د قبلې دئ. او وخت دی او نیت دی او تحریمه ده. قَالَ المصنفؒ

وَغَيْرُهُ شُرُوْطٌ لِدَوَامِ صِحَّتِهَا

او غیر د هغه څخه شرط د دوام د صحت د لمانځه.

بیت سه یارب تو آنچه من گدا میخواهم :: فزون ز هزار پادشاه میخواهم :: هر کس از در تو حاجتی میخواهد :: من آمده ام از تو ترا میخواهم

قَالَ المُصنفؒ

فَصْلٌ

فِي متعلقات الشروط وفروعها

تَجُوْزُ الصَّلٰوةُ عَلٰى لِبْدٍ وَجْهُهُ الْاَعْلٰى طَاهِرٌ وَوَجْهُهُ الْاَسْفَلُ نَجِسٌ

روا دی لمونځ پر کراسته چې لوړ مخ یې چې سر یې لمونځ پر کوی پاک وي او کښته مخ یې نجس او مردار وي. یعنی په دوه نجاست چې مانع د لمانځه هم وي. **پوښته**: چې مراد د لبد څخه هر هغه شئ دی چې بیړ والی لري کلک چې دوه ځایه کیدای شي. لکه کراسته قالین، کمبله، خښته پرده وغیره كذا في البدائع والخانيه، ومنية المصلي او نور کتابونه د فقهي شریفې.

مسئله: یوه کوړ پچه یې د مردار و وړی د که کړې وه. او دواړه مخه د پوښ یې پاک وه لمونځ پرې روا دئ ط. **مسئله**: لمونځ روا دی پر پوست د پسه چې وړی

یې مرداری وی لکن د ځکې وخواته وي. كما في البدائع والخلاصة. **مسئله** پر یوه داسی پنډه تخته چې دوی تختی ځندې جوړې وي. او لاندی مخ یې مردار وی او لوړ مخ یې پاک وي پر پاک مخ یې لمونځ روا دی. په نیزد امام اعظمؒ او د امام محمدؒ او په دې مذهب فتوا ورکړی ده ابوبکر اسکافؒ. او امام ابو یوسفؒ وائي نه دی روا. او په دی مذهب فتوا ورکړې ده ابوحفص کبیرؒ م، ط». قَال المصنفؒ

وَعَلٰى ثَوْبٍ طَاهِرٍ وَبِطَانَتُهُ نَجِسَةٌ إِذَا كَانَ غَيْرَ مُضَرَّبٍ

او د اغر رنګه لمونځ روا دی پر هغه جامه چې پاکه وی او په ما بین کی نجس استر وي لکن چې مضرب نه وي. **پوښته**: چې مضرب هغه دوه مخی کالي ته وائې چې په ما بین کی استر وار وشی وي او اطراف یې ګنډل سوی وي. او په ما بین کی هم ګیندی وهلی سوي وي. او غیر مضرب هغه ورته کالې دی چې په ما بین کی نه ګنډل سوی وي. او عبارت د طحطاویؒ د پر مجمل دی په دی ځای کی. او دا فرق صاحب المجمع بیان کړی دی. وقال هو الصحيح

مسئله: په قهستانی کی وائې چې پر داسی چینه لمونځ روا دئ. چې استر یې نجس وی او مخ یې پاک وي. او د دی چینی د تخت خوادی تر پښو لا ندی کړی او سجده دی پر لمن کوي: د دی وجه به شاید دا وي. چې د لمنی خوا فراخه وی او نرم وی نو سجده قرار پر نسي. قَال المُصنفؒ:

وَعَلٰى طَرَفٍ طَاهِرٍ وَإِنْ تَحَرَّكَ الطَّرَفُ النَّجِسُ بِحَرَكَتِهِ عَلَى الصَّحِيْحِ

یعنی که کمبله وي او که بوړیا وی او که پټو وي. او د اغر رنګه لمونځ روا دی پر پاک طرف د مذکوره شیانو یعنی چې یو بل طرف یې مردار وی که څه هم طرف نجس په خوځولو د پاک طرف خوځیږي. ولې چې د غه مذکور شیان د ځکې حکم لري نو شرط صرف پاکوالی د ځای د لمونځ کوونکی دی لکه په ځمکه کښې داغه حکم دی» كذا قال الطحطاويؒ»

Maktaba Tul Ishaat.com

تفصیل المقام

په بحر الرائق کښې وائي که یو سرې پر اوارسوي شي لکه مذکوره شیان وغیرها لمونځ کاوه او پر بل طرف د هغه شي مردار ي پرته وه پس اصح دا ده چې لمونځ پر روادی که دا اوارسوي شي لکه کمبله یا غټ پټو وغیره اوکه کشنی وي. لکه د لمانځه مصلی یا د اوبږی دسمال. دلیل په دا دی وئیلی دي چې دغه شیان پر منزله د ځمکې دي نو لمونځ کوونکی د نجاست مستعملوونکی نه بلل کیږي.

او بحر یا ته کړیده چې دا لمونځ باید په طریق اولیٰ راسي. ولې چې فقهاء وائي چې نجاست په ځای کی د رنګنو د مصلی او د غړ لکه د لاسو مانع د لمانځه نه دی نو مذکور نجاست به څنګه مانع وي. او په خلاصه کښې وائي که مصلی آواره کړه یو نازکه جامه پروچ نجس با ندی نو که دغه جامه داسی وه چې هغه نجاست نه ترمعلومیدی لمونځ پر روادی اوکه د نجاست حکایت یه کاوه لمونځ نه دی پر رواء قال المصنفؒ:

وَلَوْتَنَجَّسَ اَحَدُطَرَفَيْ عِمَامَتِهٖ فَاَلْقَاهُ وَاَبْقَى الطَّاهِرَ

که چیری د یو سړی د لنګوټې یو طرف مردار وو. یعنی په نجاست مانعه د لمانځه نو مصلی

عَلٰى رَأْسِهٖ وَلَمْ يَتَحَرَّكِ النَّجِسُ بِحَرَكَتِهٖ جَازَتْ صَلٰوتُهٗ

هغه نجس طرف پر ځمکه واچاوه. او پری شو هغه پاک طرف پرسر با ندی او حال داسی وو چې نه شوریدی هغه طرف نجس په شوره ولو د پاک طرفو

وَاِنْ تَحَرَّكَ لَا تَجُوْزُ

لمونځ یه روادی. مراقی وائي چې مستعمل د نجاست نه دی. او کی هغه مردار طرف په شوره ولو د پاک طرف شوریدی بیا لمونځ نه دی ور سره روا. ولې چې دی حکمًا حامل د نجاست دی. **فائده**: د دی مسئلی نه دا سی فهمیږی چې لڅ سر لمونځ مکروه دی. که مکروه نه وای نو خو لنګوټه بی ګرسره اینبی وا

په لڅ سر بی لمونځ کړی وای **سوال**: شاید د غسی لنګوټې ترلو په سر ی نه والی د سببه وي. **جواب**: چې حکم اول عام دی که ګرمی وي او که یخ نو دا معلوم سوه چې د غسی متنجس لنګوټه د کراهت د لمانځه دی په سرتور سر، قال

وَفَاقِدُمَايُزِيْلُ بِهِ النَّجَاسَةَ يُصَلِّىْ مَعَهَا وَلَا اِعَادَةَ عَلَيْهِ

هغه سړی چې نه لری داسی شی چې نجاست د کالی څخه په زائل کړي لکه اوبه یا بل مائع لکه سرکه وغیره) لمونځ به کوي سره د هغه نجاست او اګر څه هم د لمانځه نشته پر ده باندی که څه هم وخت باقی وي. لیعنی داسی نجاست چې لمونځ ور سره نه وی روا. ولې چې تکلیف په قدر د طاقت دی. لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا،

پوهنه، که د سړي قمیص مردار وي پرتوګ یه پاک وي. قمیص د و کابنی په یوازی پرتیا که کښې دی لمونځ وکړی، او کی قمیص او پرتوګ دواړه مردار وه. لکن داوبږی دسمال یه پاک وو چې کافی د ستر د عورت وو. قمیص او پرتوګ دی دواړه وکابنی دسمال دی لنګ کړی لمونځ دی وکړی. او کی تولیه مردار وه د هغه کالی سره چې په قدر د ضرورت وي د هغه نجس کالی سره دي لمونځ وکی او هغه نور لږ نجس کالی دی وکابنی تقلیلًا للنجاسة بحسب الامکان» قال المصنفؒ

وَلَاعَلٰى فَاقِدِمَايَسْتُرُبِهٖ عَوْرَتَهٗ وَلَوْحَرِيْرًا اَوْحَشِيْشًا اَوْطِيْنًا

او د اغه رنګه اعاده نشته د لمانځه پر هغه چا چې پو ټو ونکی د عورت نه لري که څه ورینبم وي او یا وابنه او یا خټې وي. او لمونځ په لڅ سره وکړی

سوال: د ورینبمنی جامی اغوستل خو نرانه حرام دی نو څرنګه به دی د ورینبمنو جاموسره لمونځ کوي. **جواب**: هو لبس د ورینبمینو جامو حرام دی. او ستر د عورت فرض دی. او فرض د ستر قوی دی تر حرمت د اغوستلو د ورینبمینو جامو» او په اغوستلو کی پر دغه صورت کی ګناه هم نشته: لِاَنَّ مِنْ قَوَاعِدِهِمْ اَنَّ مَنِ ابْتُلِىَ بِبَلِيَّتَيْنِ

اختار اهونهما، فافهم» قَالَ المُصنفُ.

وَاِنْ وَجَدَهُ وَلَوْ بِالْاِبَاحَةِ وَرُبُعُهُ طَاهِرٌ لَاتَصِحُّ صَلٰوتُهُ

اوکه پیدا کړو مُصلی جامه» که څه هم چا په اباحت ورکړې وي چې صرف تا ته لمونځ عَارِيًا په کښې مباح دی یعنی په ملک یې نه وی ورکړې. او حال دا چې څلرمه دَ هغې یا لږ وې نوده ته په لخته لمونځ نه دی رَوَا. پر اصح روایت مثلاً لکه یو سړی چې او به وی ورسره او بل سړي په قدر د اودا سه او به ورکړې نوده ته تیمم نه دی رَوَا.

پوښتنه: د جامې چې څلرمه یا که وی تا سی حکمًا ټوله پاک نه بولئ. او په لخته لمونځ روا نه بولئ. او سره دد ې چې دجامی خوږی ربع مرداری دې. او تا نون خوَادی چې اکثر ته حکم د کل دی. نو بیا دا جامه حکمًا ټوله مرداره وګنړل سی او لمونځ په لغ بدن رواسی

جَوَابٌ: ستر د عورت خو لازم دی. او حکم د نجاست ساقط دی شرعًا نو ځکه به لغ بدن لمونځ نه دی ورته رَوَا. او د ربع حکایت د کل ځنی کیدا ی سی او حکم د کل لری شرعًا په ډیرو ځایو کښې لکه یو دَ غه مذکور ځای. بَل ځای لکه څلرمه دَ سرخَرَیل یا قصر د ربع د پاره دَ ځان خلاصَولو د احرام ځنی دحَج یا دعُمرې. او د مرد جنایت فسته باندې. مصنفُ د وَجَد قید ددی دَ پاره وو وایه که نه خپَله جامه د رلودَه او نه چا په اباحت ورکړی وه. نو لمونځ یې په لخته روادی. او اعاده دلما نځه هم نه ده پر لا زمَه او نه ورته روا دی څنګه وَله دلما نځه تروخت.

مسئله: که د فاقد الثوب سره چا وعده وکړه چې زه جامه در کوم پر ده تاخیر د لما نځه واجب دی. چې قضا یې و نه بیریږی. به نیز د امام اعظمؒ او امام ابو یوسفؒ او امام محمّدؒ وائي که لمونځ قضا کیږی که نه پرید انتظار لازم دی. او مصنفؒ وو یئلہ بالاباحَة لردی سَببه که څوک ود غه لغ سړي ته جامه په ملک ور کړی بیا خو په طریق اولیٰ لمونځ یې په لخته نه دی رَوَا.

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولجمیع المؤمنین وَ المؤمنات: کتبه احقر فضل الحق حقاني

دَ اباحَت اَوْ د تملیک فرق

دادی چې د اباحَت په صورَت کی صرف دَه ته تصرف هغه قدر روادی چې اباحت کونکی ورته اجازه ور کړې دَه. لیعنی دا سړی مالك د نفع اخستلو دی وَبس. او هغه شئی په صورت کی د اباحَت دده په ملك کی نه داخلیږی. او د تملیك په صورت کی دا سَړی مالک د هغه شی ګرځی هر رنګه تصرف چې په کښې کوی ورته روادی. مثال د اباحت لکه یو څوك چې میلما نه لری. او یا میلما نه را ولی دا میلمانه صرف د خوراك حق لری. او چا ته هبه نه سی کولای. ولې چې دی مالك نه دی او نه هم د مالک دَ خوا اجازه د هبی ور ته سوې دَه. او دا بیخي نا رَوَاده چې بې اجازی د صاحب الطعام څوك یو شی دسترخانه ځنی اخلی او کورته یې وَړې. او که څوك په دی میلمستیا کی نیت د زکوٰة وکړی. نه دی ولی زکات تملیك غواړی. او د تملیك مثال زکوٰة دی چې یو غنی فقیر ته ورکړی. نو هغه فقیر اختیار لری کی پخپله په ځان خرڅوی او کی بل چا ته هبه کوی. او کی پر یو چا خرڅوی» بحر، عن»

د میلمنو خصوصًا د طالبانو دا عادت دی. چې څوك چې د دوی خدمَت کوی که څه هم صاحب المنزل نه وی. یو لقمه د غو ښو ور کوی. او بعض طالبان کی په مسجد کی کښنی طالب د حفاظت د مسجد د پاره پرې ایښی وې نو په ډوډی کی غوښې و پیچی سیله اجازی د صاحبُ الضیا فت په جیب کی واچوی. یا یې په دسمال کی غوټه کړی دا دواړه صورتونه نا جائز دې. در»

Maktaba Tul Ishaat.com

اویا په ولاړی لغ پلغ په رکوع او سجده سره کوي. د هدایه شرح دا سی معلومیږي چې دا اخیر قسم او دوهم قسم په فضیلت کښې سره برابر دي. عبارت د هدائي دا سې دی چې هغه څوک چې جامه یا که نه لرېږد نو ده خوښه ده که لمونځ په ولاړی کوي که په رکوع او سجده سره کوي. او که په ناستې کوي په اشاره سره، سبب یه دا دی چې په ناسته کښې پټ والی د عورت غلیظه راځی لکن قیام او رکوع او سجده پاتې سوه. او په ولاړه کښې کشف العورة که موجود دی لکن ارکان مذکوره پرځای سوه. فیمیل الی ایهما شاء «ط، ع، د»

قال المصنف **وَصَلٰوتُهٗ فِیْ ثَوْبٍ نَجِسٍ اَلْکُلِّ اَحَبُّ مِنْ صَلٰوتِهٖ عُرْیَانًا**

او لمونځ د سړي په هغه جامه کې چې ټوله مرداره وي ښه دی تر لمانځه کولو په لخته سره.

پوهسه: چې صاحب د «درایه» وایي. که څوك عورت خپل پټ کړي په پوست د مردار سوي شي چې دباغ یې نه وي سوي لمونځ یې نه دی په کښې روا. او په هغه جامه کښې چې ټوله مرداره وي لمونځ روا دئ. ولې چې نجاست د جلد مذکور اغلظ دی تر نجاست د ثوب، ولې چې پوست په درې واره پریولو نه پاکیږي او جامه پاکیږي.

مصنف په مراقی کی دا سوال کوي چې د جامې تر درې واره پریولو خو د پوست پاکیده آسانه دی چې په هوا وچ کړی او یا یې په لمر وچ کړي، لکن طحطاوي وایي چې نفس د لمر ته غوړول او یا په هوا ځړول د پوست د پاك والي د پاره کافي نه دي. بلکه دا شرط دی چې بدبوئي او فساد یې هم دفع سي. او دا سې د ول کول خو کاهې پوره ورځ په بر کښې نسی، بخلاف غسل الثوب: قال المصنف:

وَلَوْ وَجَدَ مَا یَسْتُرُ بَعْضَ الْعَوْرَةِ وَجَبَ اِسْتِعْمَالُهٗ که پیدا دونه جامه او ټکړه موندنه چې لبعض عورت یې په پوټیدی. نو پرده واجب ده چې هغه جامه به استعمال لوي. یعنی تر هغه ځای چې عورت پر پټیږي هغه خو دې په پټ. نو که دا ټوکړ صرف دومره وو چې د مخ خوا او د شا خوا په پټید له. ولس، خو هغه دی په پټ کړي. ولهذا دوه عورت غلیظه دی نسبت و نورو ځایو ته...

قال المصنف **فَاِنْ لَمْ یَسْتُرْ بِهٖ اِلَّا اَحَدَهُمَا قِیْلَ یَسْتُرُ الدُّبُرَ**

او که نه په پو ټیدله مګر یو د شا او یا د مخ خوا نو بعض علماء وائي چې دبر دی په پټ کی ولې چې دبر په حال کی د رکوع او سجده ی ډیره بده معلومیږی: قال المصنف

وَقِیْلَ یَسْتُرُ الْقُبُلَ او بعض فقهاء وائي چې د مخ خوا دی په پټه کړي. ولې چې هغه و قبلی ته مخامخ دی. او ځای چې د دوهم قیل وجه دا ویلی ده» چې د کُنی غار خو په کُناتو هم پټیږی یعنی کنا تې دی ټینګ سره ونیسی. دا توجیه صحیح نه ده ولې چې د مخ خوا خو بیا په ورنو پټیږی. او دا عذر نګه پټیږی چې لاسونه پر کښیږدی. او دد ې سوال جواب هم امام طحطاوي پر یوه ضعیفه خبره سره ورکړی دی فلا حاجة الی ایراده ثم رد

قال المصنف **وَنُدِبَ صَلٰوةُ الْعَارِیْ جَالِسًا بِالْاِیْمَاءِ مَادًّا رِجْلَیْهِ**

او مستحب دی لمونځ د لغ سړي په ناستې په اشاره سره دا ډول چې پښې دی د قبلی و خوا ته غځولی وي. **پوهسه**: چې دا مذهب د ذخیری والا دئ او منیة المصلی والا وائي چې دا سې به کښېنی لکه په التحیات کی. یعنی نو دی پښې و غوړوی او بر کښېنی دي. او سجده دی لکه په نورو لمونځو کی تورك دی کوي. **پوهسه**: چې دا خلاف په اولویت کی دی د ذخیری پر طریقه خو مبالغه په سترکی د عورت راځی لکن مد (کښول غوړول) د رجلینو و طرفته د قبلی بې ضرورته خلاف الاولی دئ. او د منیة المصلی پر مذهب د مذکور خلاف الاولی څخه خو خلاص سو لکن مبالغه په ستر کی نه راځي، قال المصنف:

فَاِنْ صَلّٰی قَائِمًا بِالْاِیْمَاءِ اَوْ بِالرُّکُوْعِ وَالسُّجُوْدِ صَحَّ

که لمونځ وکړي لغ سړي په ولاړی لکن په اشاره د رکوع او سجدې. او یا په خودی رکوع او سجدی سره لمونځ یې صحیح دئ. د دې صحت وجه دا ده چې د ولاړی په لمانځه کی کرځ

هم فرض دستر العورة پاته سُو. لکن ارکان ثلثه خو پرځای سوه یعنی قیام او رکوع او سجده. لکن دا دلیل صرف په صورت کی د رکوع او سجدی کولو جاری کیږی. نو د دی سببه په بحر الرائق کښی وائی چی ایماء په رکوع او سجده سره په ولاړه نه ده روا. ولی چی د ایماء په صورت کی خو صرف او صرف رکن د قیام حاصل شو ارکان ثلثه خو نه سوه حاصل. او فقهاء په صلوٰة المریض کی وائی که چیری مریض پر قیام یعنی ولاړه قادر وو مګر رکوع او سجده یه نه سوای کولای. نو لمونځ دی په ناستی په اشاره سره وکړی. او ولاړه دده څخه ساقط ده نو مریض ته ولی د ولاړی د اشاره په رکوع او سجده اجازه نه ورکوی فکذا ههنا: والله اعلم بالصواب.

وَعَوْرَةُ الرَّجُلِ مَا بَيْنَ السُّرَّةِ وَمُنْتَهَى الرُّكْبَةِ

او عورة د نر که حروی او که مرئی وی ما بین دی د نو بیا تر پای پوری د زنګانه»

پوهسه: چی مصنفؒ دیر ښه جامع عبارت ووایه. ولی چی د ما بین السرة څخه دا معلومه سوله چی سُرة یعنی نُو عورت نه دئ. او د منتهی الرکبة څخه دا وفهمیده چی زنګون عورت دئ او په حدیث شریف کی هم راغلی دی چی. اَلرُّكْبَةُ مِنَ الْعَوْرَةِ، او دا هم ظاهر روایت دئ.

پوهسه: چی عورت په لغت کی هغه شی ته وائی چی ښکاره کول یه بد معلومیږی. او په شریعت کښی هغه ځای ته بدن وائی چی پټول یه فرض وی. لکه مصنفؒ چی وښو په نرکی چی ورته عبارت د حدیث نبویؐ هم دئ. **پوښتنه**: مصنفؒ لفظ د رجل وو ایه رجل خو په لغت او شرع کی هغه چا ته وائی چی مرانی وهلی وی نو د نابالغ د پاره عورت نسته که څرنګه! **جواب**: په سراج کی وائی چی کشنئ چی سیخی کشنئ وی هغه لره خو عورت نشته او مسه کول یا کتل د شا یعنی کناټو او د مخ دخوا یعنی ذکر ته روادئ. ولی چی په بعض فتاواوو کی راغلی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم په ډیر کشنی والی کی د امام حسنؓ او امام حسینؓ ذکر بی کښاوه او دوی ته به خندله» ط»

مسئله: کشنی چی د لن اشتها وحالت ته ورسیږی بیا چا ته مسه کول یا کتل د کناټو یا د دُبری یا د ذکر نه دی روا په علت د شهوت نه په سبب د تکلیف شرعي. فتامل فی الفرق.

مَسَائِلُ كَشْفِ الْعَوْرَةِ على ما نقله البحر عن الظهيرية

پوهسه: چی حکم د عورت په زنګانه کی سپک دئ تر ورانه نو بناءً علی هذا که سړی یو بل خوك ولیدی چی زنګنونه یه لغ کړی وو. نو دی منع کړی په نرمی سره یعنی ورته ودِ وائی چی دا زنګون دی پټ که چی عورت دئ. او که هغه دده خبره ونه منله نو نور نزاع دی نه ورسره کوی. او که د یوه سړی ورون لغ وو نو منع دی کړی په سختو الفاظو مثلاً. نه شرمیږی چی ورون دی لغ کړی دئ. او که هغه دده خبره ونه منله وهی دی نه. او که د چا کُنه لځه وه اول دی په سختو الفاظو انکار پر وکړی او که هغه دده و خبری ته غوږ ونه نیوی اَدَبْ دی په ضرب وهلو ورکړی کی طاقت وو، لیعنی که نور فساد نه ځندی پیښیدی. او که چا ولیدی چی یو سړی ما بین د» نو، او د سپو ځخی لغ کړی وو. نو اول خودی په نرمی ور ته ووائی چی دا ځای دی پټ کړه. او که هغه ونه منله نو بحث دی ور سره وکړی. او که هغه پر دغه کشف العورة ټینګ سُو. ادب دی د وهلو ور کوی. که څه هم پر قادر وی ولی چی د دی په عورت والی کی اختلاف سته. چی امام فضلیؒ وائی چی دغه ځای عورت نه دئ. ولی چی مزدور کاره خلګ د دغه ځای په لځولو سره عادت دي. که څه هم قول د فضلی ضعیف دئ. ولی تعامُل د خلګو پر ناروا شی دلیل د جواز نه دی. مثلاً په اکثره اسلامی نړی کښی سوا د افغانستان په اومنی حالت کی چی امارت اسلامی د طالبانو پر ۹۵ فی ۱۰۰ مسلط دي. د ږیری خریل رواج دی نو په دی رواج سره خو د ږیری خریل نه روا کیږي.

وَتَزِيْدُ عَلَيْهِ الْاَمَةُ الْبَطْنَ وَالظَّهْرَ

او زیاتروی په پټولو کی مینځه نس خټل او شا. یعنی د نر عورت خو د مینځی هم دی. لکن د مینځی دا دوه ځایه پر نر زیات دی. په عورت والی کښی. **پوهسه**: چی پر مذهب د امام اعظمؒ مینځه عامه ده که صرف مینځه وي. یعنی د خدمت د پاره وي یا د څرڅولو د پاره وي. یا ام الولد وی یعنی د باداره څخه لنګه سوی وي. یا مکاتبه وی یعنی چی د باداره ورته وئیلی وی چی

Maktaba Tul Ishaat.com

دونه روپۍ ر اکړه نو ته آزاده یه - اویا مُتعا ته وی یعنی چې د دوو کسانو منځه سره شریکه وی هغه یو خپله حصه ازاده کړي - او دونه روپۍ نه لري چې د هغه بل شریك حصه هم آزاده کړي. او هغه بل شریك د منځې نه دا وغواړي چې ته کوشش وکړه یا په مزدوري یا په فقر زما د حصې پیسې را برابرې کړه.

پوښتنه: چې تخصیص د قول د امام اعظمؒ په "مُعتقة البعض" کې دی. چې امام په منځه بولي. د پیسو ر کولو تر ختم پورې اویا "ران" وائې دا حره ده. لکن پوره ورپسې نو بیا د دوی په نیز عورت د دوی عورت د حُرې ښځې دی. قَالَ المُصنّفؒ.

وَجَمِيعُ بَدَنِ الْحُرَّةِ عَوْرَةٌ اِلَّا وَجْهَهَا وَكَفَّيْهَا وَقَدَمَيْهَا

او ټول بدن د آزادې حرې ښځې عورت دی یعنی پټول یې فرض دي. مګر مخ د دې او ورغوې د دې. او پښې د دې چې دا دری عورت نه دي. د دې دغه اعضا چې عورت نه ګرځول کیږي په سبب د ضرورت"

مسئله: په بحرالرائق کې وائې چې د نه عورت والی د دغو اعضاوو معنا دا نه ده چې نرانو ته کتل ورته روا دي. بلکه جواز د کتلو مشروط دی په دې سره چې بیره د شهوت به هم نه وي. نو ځکه کتل نه دی روا او مخ نه د ځوانې یا د ښائسته هلک که څه هم عورت نه دی هلته چې کتونکې شک وي په شهوت کې. کذا في شرح المنیه. قَالَ مشائخنا چې په اوس زمانه کې چې فتنې ډیرې سوې هم د ځوا نو ښځو د خوا. او هم د نرو د خوا. نو ځوانه ښځه منع ده د دې نه چې مخ خپل د نرانو په مابین کې ښکاره کوي لکه مکتبیان، او اسکولیانې ځوانانې ښائسته ښځې چې کوي.

پوښتنه: چې بازوه حُرې ښځې عورت دی په نیزد امام اعظمؒ" مراقي وائې چې دا روایة ډیر صحیح دی. او په بل روایت کې د امام اعظمؒ دا سې راغلي چې نه دی عورت دا روایت د منتقی واختاره عبد الله البلخیؒ ط، م، والی روایة البلخیؒ ذهب صاحب الاختیار" ولې چې حاجت سته. د کشف د هغه په وقت د خدمت د کور.

والفتوٰی عَلیٰ ما نقله الکمالُ عَن بعض المشائخؒ: چې ذراع عورت دی په لمانځه کې لعدم الضرورة الیٰ کشفه فی الصلوٰة ولیس بعورة خارج الصلوٰة للضرورة. او زاهدی وائې چې کشف مانع د جواز د لمانځه نه دی لکن کشف یې مکروه دی. **پوښتنه**: چې مصنفؒ په مراقي کې وائې چې د ښود حُرې ظاهر او باطن دواړه عورت نه دی لعموم الضرورة

مسئله: ویښتان د حُرې ښځې عورت دی حتیٰ هغه ویښتان چې لاندې ځړیږي په اصح روایت کښې. وعلیه الفتوٰی. وعلیٰ هذا کم خلرم دو ویښتا نو دی که لخاوی لمونځ یې نه دی صحیح **مسئله**: نرته نه دی روا کتل و هغه ویښتا نو ته د ښځې چې د دې څخه پرې سوي وي. او لعض فقهاءؒ وائې چې مقطوع ویښتا نو ته د ښځې کتل روا دی لکه وینو یا نا روا ته ددې. **مسئله**: په ډیرو کتابو کښې د فقهی شریفې وائې چې آواز د ښځې عورت دی لکه په باب الاذان کښې چې تیره سوه. د دی عورت والی بعض نا پوه کسان دا سې معنا کوي چې د بیګانه ښځې سره نفس خبرې نه دي روا. لکن دا معنا صحیح نه ده. امام مقدسيؒ د امام قرطبیؒ څخه نقل کوي. او دی وائې چې مونږ روا بولو خبرې د بیګانه ښځو سره او مجلس ور سره په نیزد ضرورت. لکن رفع د صوت آواز د دی روا نه بولو. او بدلې غزلې د دی روا نه بولو. ولې په دی سره په حرکت را ځي شهوت د نرو"

مسئله: په اوسنی وخت کښې یوه طائفه سته چې مسلمیان یې بولي. نر یې شوقیان بولي هغه هم غزلې وائې. او ښځې یې هم بدلې وائې. حتیٰ چې بعض په ظاهره صوفیان خلک چې د زوی یا د ورور یه واده وي. نو د نرو میلمنو د پاره شوقیان را اولي چې په شپه تیر ولو سره تخمینًا دری زره کالداري پاکستانی ورکوي. او د ښځو د پاره ښځې د دغه قوم را ولي چې تر سحاره پورې غزلې او بدلې وائې. او د ګویا په ذریعه ټوله کلی او کوڅې ته د دغو ښځو او از و نه رسیږي. او هغه کسان چې ظاهري صوفي ګرت نه لري هغه خود دغو نرو او ښځو را وستل لازم بولي. محترمو دا سخته ګناه ده او ټوله خلګ چې د دغو ښځو غزلې او بدلې اوري ګناه یې د وا ده والا په غاړه ده.

تنه فکر وکه: چې اذان. سره د دی چې ذکر دی و ښځې ته نا روا دی. او تلبیه ویل په

بلند آواز هم و ښځي ته نا روا ده. نو غږ لې او بدلې چې سراسر فتنې دي ځکه په رفع الصوت وښځو ته روا وي. یا ئې نرو ته او ید ه روا وي: چو کفر از کعبه برخیزد کجا ماند مسلمانی.

پوښتنه: چې د ښځې مخ لا سونه او پښې عورت نه دي. نو ولې امارت اسلامي په افغانستان کې ځوانو ښځو یا مراهقو انجونو ته اجازه نه ورکوي چې په ښوونځیو کښې زده کړې وکړي. او سره دد ې چې د غه ښځې چې مکتبونه ځي نور ځا یونه چې عورت دي نه ښکاره کوي. او بله خبره داده چې ولې امارت اسلامي د پوهنتونو ورښځو ته بندیز نه لګوي.

جواب: تا د مخه وا ورېدل چې زمونږ مشا ئخو په او سنۍ زمانه کې چې فتنې ډیری سوي آه نو د غه ښځې چې ښوونځیو ته ځي په کور کښې د سرو ښښتا ن غوږ کړي او ږمنځ یې کې. او پر مخ با ندی سپین واسلین هم وموږي. نو که دوی په لغ مخ مکتب ته روانې سي نو خوف د فتنې د شهوت خو پرېږده عیناً شهوت په نرو کې هم پیدا کیږي. او په دوی کښې هم چې ښه ځوانان ښائسته نرو وینې مونږ لیدلي دي چې د غه ښځې چې په پاکستان کې ښوونځیو ته روانې وې. او نران پر هغو خړ ک ناست وي ښه تر ډیره پر د غو ښځو پسې ګوري. او په اسکولو کې د غه ښځې او هلکان یو ځای زده کړه کوي. او بعض اوقات عشق بازي هم په مابین کښې د دوی پیدا سي. البته ښځې د تعلم حق لري هغه دا چې ولې چې ښوونځي د دوی به د نرو ځنې جلاوي. او ښځې به په محفوظ ئې. سروي کښې را ټولوي او د ښوونځي په دروازه کې بې کښنته کوي د تعلیم ورکونکو سره. لکن امارت اسلامي افغانستان په موجوده وخت کښې چې د ډیرو ستونځو سره مخا مخ دي. او دنیا والو پر دوی افغانستان پسې الغه کړي دی او قسم قسم بندیزونه یې پر لګولي دي او د ځنګ سالې له کبله هم د ډیرو ستونځو سره مخامخ دی. نو دو ی توان او طاقت نه لري چې انجونو او ښځو د پاره دی فوق الذکر تعلیم او تعلم او د تربیې د پاره د ښوونځیو د داري وجوړو ته او ښځو ته خلاصي کړي.

او پا ته هغه **مسئله** چې د پوهنتونو پر ښځو با ندی ولې بندیز نه لګوي د هغې مسئلې جواب دا دی چې د پوهنتونو ښځې په سپیرو پښو په تورو مخا نو په خیرنو کالو کښې په او ښانو

پسې روانې وي. نو هغه ښځې که په سوو په لغ لغ مخ په د ښتو کې ګرځي نران ورته ګوري لا نه. شهوت خو پرېږده» دا وو نظر د درو لیش چې و حضور ته د سوال کوونکو پیش سو.

د بین المللي ادارې ځخه شکایت

دا اداره د دی د پاره قا ئمه سوې ده چې په ټوله نړۍ کې د ظلم، او بربریت، او کشت خون. او د لوږی او غریبې او د بدرۍ مخ ونیسي. دا منشور د دی اداری دی. او س په دې ځای کې **پوښتنه زمونږ دا ده**: چې یو غریب خود مختاره مستقل مملکت چې افغانستا ن دی چې تخمیناً ۲۲ کاله د روسانو د یرغل را ایسې. په لکو شهیدان یې ورکړه. او په لکو جریځ ځکی یې د روسا نو بې صرفه بمباري د لاسه وجاړې سوې. او په لکو ښځې یې کونډې یا نې سوې. او په لکو تنکی نرا و جوړنې یې بې پلاره او بې سرپرسته سوې. او تخمیناً ټوله کاریزونه او ولې یې ورانې سوې او په زرو بلکه په لکو افغانان یې پردی وطنو کښې د مهاجرت په ذلیل ژوند تیره و لو سره مبتلا سوه. وهکذا نورې او نورې خرابۍ چې دنیا وال ټوله پر خبر دي. دا څو کاله د مخه چې خدای جل سلطانه د افغانستان د خلکو عجز او نیاز او غریبي دلیرۍ کولو اراده وکړه. نو د یوی ډیری غریبې طبقې چې د طالبانو په نامه یادیدل. په زړو کښې دا مفکوره پیدا کړه. چې دګران وطن افغانستا ن ځخه دا بې امنې او بې قرارۍ چې نهایته د رجې ته رسیدلې وه. لیرې کړي. هغه وو چې د غه طالبان د حجرو او مدرسو ځخه راووتل او دا پا ځون او تحریک یې شروع کړی.

په ابتداء کښې د تحریک به خلکو او جهانیانو پوری خندل چې ته دا غریب، بې وسه او بې یار او مدد ګاره د له وګوره چې دوئ دافغانستا ن دامنیت راوستلو قصد کړئ دی. لکن دا یې نه وه او ریدلی» *بر فلک بر ترېو د اسرار او: شیئاً بعد شیئاً بعد کار او:* خودی تحریک په ډیرۍ چټکۍ سره د خدای جل وعلا په توفیق سره پر مخ تګ شروع کړی حتی چې د زړو قربانۍ په ورکولو سره هم دا او س پر ۹۵ فی ۱۰۰ ٪ قبه دافغانستا ن قابض دی او عام او تام

Maktaba Tul Ishaat.com

امنیت یې په هغوځایو کښې چې ددوی تر و لکه لاندې راغلي قائم کړې. نوشکایت دائې چې ولې بین الملل دوی په رسمیت نه پیژنی. اود افغانستان څوکی ولې دوی ته نه سپاري. اود افغانستان په یوه کُنج کې چې ۵ فی صده غرنۍ سیمې په ولکه کې لري دهغو مشر په رسمیت لیعنی رئیس جمهور د افغانستان پیژني. اود افغانستان رسمي څوکۍ یې هغه ته سپارلې ده. نو داسې کار ددوی د منشورونو خلاف نه دی! اوبین الملل په یوه بهانه په اشاره د امریکا د خپل منشور خلاف دغه کار رونه کوي. برین عقل ودانش باید گریست. بلکه بالعکس په نامه د صلح راوستلو د افغانستان اور لا تازه کوي. گویا ددوی د صلحې اوبه نه دي چې پر افغانستان یې پاشي. بلکه په حقیقت کې پټرول دي.

دَاسلامي مملکتونو څخه اسلامي گیله

د طالبانو تحریک چې په افغانستان کښې د پای تخت کابل پرنیولو بریالی شو. نو د اسلامي حکومتو څخه سعودي عربستان، عمارات متحده عربیه، او پاکستان ددوی حکومت په رسمیت وپیژندی. اومادی او معنوی مرستې یې ورسره شروع کړې. نور اسلامي حکومتونه سره ددې چې امارت اسلامي افغانستان په موجوده وخت کې پر ۹۵ فی صد باندې قابض دی او د شریعت غرا سره موافق حکمراني کوي. بیا هم ددې حکومت د رسمیت پیژندلو څخه پټه خوله ناست دي. څوک د امریکا په مراعات او څوک د روس په مراعات، نو مونږ د اگیله لرو چې اخیر تاسې خو هم ښه پوهیږی چې د طالبانو د تحریک امارت اسلامي حکومت دی. او سیکولر حکومت نه دی. بلکه حتی المقدور د شریعت نبوی او د قرآن عظیم الشان پر پایو ولاړ حکومت دی نو څخه عذر تاسې لرئ چې دا حکومت په رسمیت نه پیژنئ. آیا تاسې هم عذر هغه د غربیانو دی.

دَرُوس د زړه په څوک بیره و باسي،

دنیا والو ته دا معلومه ده چې د طالبانو اسلامي حکومت په وار وار کړاتو متراتو دا اعلانونه په خبرې منابعو کښې خپاره کړي دي چې زمونږ حکومت د هیڅ حکومت سره کرګاونډي او که غیرګاونډي وي.

هیڅ داسې عداوت نه لرو. چې هغه دې سبب د حملې زمونږ وګرځي په هغوباندې. او نه مونږ د هیڅ حکومت په داخلي چارو کښې لاس وهو. او بین المللی قوانینو ته چې د اسلام د حکومتونو تلی نه وي وفاداره یو. لکن سره ددې د روسانو ناري دي چې د طالبانو حکومت و آسیا ته لوی خطر دی» بلکه ټولې نړۍ ته خطر دی.

د روسانو دا نارو» د دې سببه کیدای سي. اول دا چې چونکه افغانانو څو کاله مخکښې روس ته شکست ورکړی. او د خپل هیواده څخه ئې وشړلی. او په نتیجه کې هغه ټوله اسلامي مملکونه چې روس ۷۰ کاله تر خپل لاندې کړي وه. دا زادی نعرې یې پورته کړي. او روس هم مجبور سو د ټولو ازادي منظوره کړي. نو دا اوس په بهانه د خطر د حکومت امارت اسلامي د طالبانو دی د دغه اسلامي حکومتونه بیره وي. او فوجونه په کښې ځای پر ځای کوي په ظاهره خو وايي... چې زه تاسې د طالبانو د خطر څخه ساتم اوپه حقیقت کښې غواړي چې دغه حکومتونه بیرته تر خپلې ولکې لاندې راولي. او از سره نو یې» اتحاد شوروی جوړ کړي. دوهم چونکه روسانو څخه پیل تمام قدرت یعنی تر یو لک بالا سور فوج په رااوستلو سره. چې توغندی، جنګی طیارې، توپ برداره طیارې هم ور سره وی او قسم قسم خرابوونکی هم ور سره وه او راکټان، او نور ټوله جنګی آلات هم ور سره وه پر افغانستان یې حمله وکړه. او هغه وخت کې تر نیمې دیرد افغانستان خلګ یعنی خلقیان او پرچمیان ددوی طرفداره وه.

افغانستان یې تر خپلې لاندې راوستئ. د روس دا خیال وو چې په دوهم گام به پاکستان قبضه کوم. او تر دریابه به ځان رسوم او د خپل لوی غلیم امریکا سره به جنګ کوم. لکن سره د هغه قدرت کامل د روس یو څو محدود کسان په افغانستان کې باشجاعت تر ځان تیریدونکی خدای پاک په مقابل کې دیوه لک سره فوج چې مجهز په ټولو تجهیزاتو سره هم وو. ودریده. اول د جهاد او جنګ نقشه داوه چې په بوتلانو بې ددوی تانګونه ویشتل او عسکر ددوی بې وژل. او بیا په نیرائی تو پنګچو بې ددوی سره جنګ کاوه. تو رستي عملیات یې هم شروع کړه رفته رفته دغه محدوده ډله روز افزون

مخ پر ویر بدو سوه. اود اسلامی او غیر اسلامی حکومتو دخوا څخه ودوی ته پلیشن رفز
اسلحہ حتی سکتپ توغندی » په لاس کښیوته. پس له څو کاله خونریزی یو. اود رمانو
د بی زره سوی حملو او بمباریو روسانود خپلی کامیابی امید دلاسه ورکړی او هم
په وړخ په وړخ مخ پر کښته کیدو سو. هغه وو په ډیر شرم او حیا گران
وطن (افغانستان) نه په پرینبو. نود روسانو هغه بیره په زړه کی ده چی په هغه وخت
کی ترنیمانی بالا د افغانستان زمونږ طرف داره وه. لاهم مونږ شکست وخوړی
او ترد نیا والو پوری موسترگی کښته سوی.

اوس چی ټوله افغانان سره یو متحد دی نو که د جنگ اسلامی بیرغ پورته کړی زمونږ
به څه حال وی،، دارنگه: روسانو چی داچټک رفتار د طالبانو ولیدی په افغانستان
کی نو دوی ته وهم پیدا سوچی که چیری تر آسیا باندی حمله وکړی. نو به هم په
ورته تیز رفتاری سره پر ماسکو راچار بیره سی.

خبر تیا

روسان کاهی کاهی داسی اعلانونه کوی چی مونږ پر نظامی ځایو د
افغانستان حمله وکړو. روسان دی پوه سی چی په داسی
پټکو بیش رڅو افغان قوم نه بیریږی. افغان قوم بی یارو مددگاره نه دی، کداسلم
فرضا دوی وکړی ودوی ته به په لوی ضرر تمامه سی. او شاید جنگ جهانی سوم به
څندی جوړ سی. او یا به روسانو بیخ کنی وسی.

امریکا دی هم په گریوان کی وگوری

اوهغه وخت دی ور په یاد کړی چی څه
وخت چی شوروی اتحاد پر خپل ځای
وو او امریکا په ټوله نړی کی د هیڅ چا
دونه نه بیریدی لکه د شوروی څخه، او څه وخت چی شوروی یانو پر افغانستان یرغل وکړ
او تریو لک بالا فوجونه یه ورته ور استل او په سوو توپ داره هیلی کاپترونه یه
ورته ور استول. او غتی غتی وسلی او بمانونه یه ورا وچلول. او هوائی میدانونه
یه جوړ کړه. په دی وخت پر امریکا باندی بحرانی حالت جاری سو او پوه سوچی شوروی

اتحاد په دوهم گام کی تودو اوبو ته ور رسیدی، اود امریکا بقاء په خطر کی ده
نو یه د افغانانو په غاړه کی لاس ور واچاوه، او دوی ته ئی اسلحه رامخ کړه او مجاهدینو
او مهاجرینو ته یه د هر قسم نعمتونه یه رامخ کړه.
حتی په اول وهلت کښی د هجرت د هر کور لوی او کښتی نرو او ښځو ته فی نفر
۵۰ کالداری پاکستانی یه ورکولی ،، او بنی بنی خیمی او شړی او کمبلی وغیره یه
ورکولی ،، په دی دول امریکا یانو د افغانستان خلک د شوروی یانو و مخ ته سپر
وکړ ځولک ،، او ددوی وطن افغانستان یه د روسانو د بمبارئ ځای او نښان
وکرځاوه. خو بالآخر امریکا په دی پالیسی کښی کامیابه سوا و شوروی یانو
افغانستان پریښو. بلکه نور هم د امریکا زړه په روسانو خنک سو چی شوروی
اتحاد د رړی وړی سو. او امریکایان بیغمه سوه. بلکه په همت د افغانانو ایستل
د روسانو او سره پاشل د اتحاد شوروی امریکایانو ته د ټولی نړی مشرتوب
او حاکمیت ور په برخه کړی،، نو اوس چی ده طالبانو امارات اسلامیه حکومت
د پنځو کلو رایسته چی پر ۹۵ فی صد مسلط دی او تام امنیت چی د ملک د پاره
لوی نعمت دی قائم دی.
ولی امریکا د دولت په رسمیت نه پیژنی او ولی د افغانستان د خلکو د وجاړه
وطن پر آباره دو کی لوی ونډه نه اخلی. او ولی د مظلوم ملت د افغانستان
پر ستنځو د شفقت څخه کار نه اخلی،،
کوم که خو پرین ده ،، ولی پر مظلوم او رنځیدلی خلکو د افغانستان قسم قسم
سیاسی بندیزونه لگوی او ولی د افغانستان خلک یه په دی بندیزو
سره د لوی کړاو و سره مخامخ کړی دی. کاهی اسامه بن لادن بهانه کړی
او کاهی د ښځو حقوق بهانه کړی او کاهی نه شی توکی بهانه کړی
او په دی ولی عمل نه کوی ،، نو اخت را انبایدانداخت ،، او ولی ده روس
سره چی پخوا د امریکا لوی دښمن هم نو او هم صدا سو د افغانستان

Maktaba Tul Ishaat.com

په باره کښې ،، دیګر چه بګویم وبه که بګویم ،، خدای پاک یار ومددګار حکومت امارات اسلامیه افغانستان باد ،،

تنبیه ؛ درویش وائي که څه هم د طالبانو د تحریک غړي زما یا شاګردان دي یا د شاګردانو شاګردان دي وَهَلُمَّ جرًّا لکن دا ګمان دې څوک نه کوي چې د غه فوق الذکر شکایتونه یا ګلې یا تنقیدونه چې ما وکړه زه د تحریک د خوا پر د غو بیاناتو ګمارل سوی وم بلکه :

دا درویش د خپل وجدان عمدید ه قصی وی تحریک والا به هلته په خبر چې دا کتاب چاپ سي ،، لو امکان لري چې درویش بعض اظهارات به د طالبانو د سیاست سره توفیر ولري ،،

دیناوال دي د هغه بیان پره پر طالبانو نه اچوي ،، بلکه درویش فقط وفقط خپل شخصي نظر او د زړه جوش د قلم په نوک تحریر کړي ،،

مطلب می دادی چه درویش که څه هم په باطن کې د طالبانو د تحریک بلاعوض وغرض وفادار او ټینګ ملاتړ یم ،،

لکن په ظاهره د تحریک طالبان په د غه حیثیت مانه پیژني ولې چه په هیڅ اجتماع عمومی کښې د دوی درویش ته دعوت د ګډون نه دی ورکړی سوی او شاید د دی سبب به هم داوی چه طالبان خبر دي چې درویش سپین ږی سال خورده ده ۸۵ کلو سړی ولې تکلیف ورکوو ؟

او درویش که څه هم في الحال په کوئټه پاکستان کښې اوسیږم لکن چونکه زما د ړی زامن په قندهار کې خپلې خوارې کاري لوزه هم په کال یوار یا دوه واره قندهار ته ځم او هوری خپل لمسیان او زامن وینم او ګاهی نه ورځۍ ګاهی بالا یا کم په قندهار کښې عقیدتمندان او لوړ شناخته ګان دوستانو سره زما په کور کښې ملاقاتونه وکړم ،، لکن هیڅ رسمی حکومتی دائری ته تر او سه نیم ورغلی او شاید د دی سبب هم داوی ، چې دوی په خپلو حکومتی رسمی

کارو کښې معروف دي . نوو لې وختونه ور ضائع کوم . نو شپې پوره کړم بیرته کوټې ته راسم . درویش قبل شروع تحریک الطلبۃ په خپل جامع مسجد کښې په درس مستغرق درس اختنه ووچې روزانه به د ۴۰۰ څلورسوو طالبانو په شاو خوا کښې د زده کړې د پاره راتله . چې تحریک شروع سو . درویش تعلیمی اداره بنده کړه اِلٰی یَوْمِنَا هٰذا .

پوښتنه : دا د ثواب کار چې درس وو او تا بند کړي د هغه په عوض کښې بل د ثواب کار هم کوې . **جَواب** : هُوْ . کوم په د قلم دلاری د طالبانو او د قوم خدمت کوم . برګرانو کتابو حَواشی ، او بعض رسالې په مهمو مسئلو کښې ، او بعض عربي ضروری کتابونه د عقائدو او د فقه پښتو ته را اړول . وَمَا تَوْفِيْقِي اِلَّا بِاللهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَاِلَيْهِ اُنِيْبُ ،

یقول الفقیر بعد الجمل المعترضة نَرْجِعُ اِلٰی شرح الکتاب ، قَالَ المُصنفُ .

وَكَشْفُ رُبْعِ عُضْوٍ مِنْ اَعْضَاءِ الْعَوْرَةِ يَمْنَعُ صِحَّةِ الصَّلٰوةِ

او لڅ والی د څلورمې حصې د یوه اندامه د اندامو څخه د عورت منع کوي صحیح والی د لمانځه . مصنفؒ په مَراقی کې وَائي که هغه عضوه که عورت غلیظه وی او که خفیفه وی که د نروی او که د ښځی . په شرط د دی چې پټوونکی پاک کالي موجود وي . او تر ربع کم څو مانع د صحت نه دی که څه هم کشف یه مکروه دی . **پوښتنه** : چې د لڅ والی د ربع هلته مانع د صحت د لمانځه دی . چې اندازه د اداء د یوه رکن وی که څه هم کشتنی رکن وي . لکه رکوع مثلاً په وَلاړې کې چې طویل رکن دی ربع د عورت په قدر د رکوع لڅه سوه لږ ځای یه نه دی صحیح . او دا مذهب دی د امام ابو یوسفؒ » او په نیز د امام محمدؒ حقیقةً اداء د رکن معتبر دی مثلاً کې په رکوع کښې ربع د عورت لڅ سوه تولی رکوع ته اعتبار دی ، او که په وَلاړه کښې ربعه د عورت لڅ سوه تولې وَلاړې ته اعتبار دی . والفتوی عَلٰی قول ابي یوسفؒ للاحتیاط » ط » او منیة المُصلی وَائي چې اداء د رکن سره د سُنتو شرط دی ، او شارح المنیة وَائي چې هغه اندازه د دریو تسبیحاتو دی .

اولبعض فقهاءؒ وائي چې د احکام هلته دي چې کشف د عورت بیله اختیاره د مصلي وي اوکه چا ربع د عورت په قصد لحظه کړه لمونځ یې فی الحال فاسد شو یعني اندازه د رکن یا حقیقتِ رکن نه غواړي بلااختلافٍ.

قهستاني عن المنیة وعزاه فی البحر الی القنیة. وجری علیه صاحبُ الدر، لکن په بحر رائق کې وائي چې دا قید غریب دی. اومذهب اطلاق دی. یعنې چې قید د بلاقصدٍ غریب دی. اوصحیح مطلق لګ والی دی د ربع دهغه عضو دی چې عورت وي که په اختیار کړې اختیاره وي. **پوهه سه** : چې امام طحطاویؒ په دې ځای کې د کشف العورة یو عبارت وئیلی دی چې امکان لري چې بعض اذهان قاصر دي د هغه په مطلب نه پوهیږي. نو د دې سببه د هغه عبارت الفاظ اومطلب بیانوو. قال واعلم ان الانکشاف الکثیر فی الزمن القلیل لا یمنع" مراد د انکشاف کثیر نه هغه دی چې په قدر د ربع د عورت وي. اومراد د زمن قلیل نه هغه زمانه ده چې په قدر د اداء د رکن نه وي مثلًا د سړي د ربع العورة لګ سوا وبا المفوره یه پټ کړي: قَوْلُهٗ لَا یَمْنَعُ. یعنې نه منع کوي صحت د لمانځه. قَالَ کَا الْقلیل فی الکثیر" لکه چې نه منع کوي صحت د لمانځه لږ لګ والی یعنې چې تر ربع کموي په ډېر زمانه کې مثلًا د سړي په لمانځه کې یو جزء وي ځای تر ربع د عورت کم لګ سو نو ډېره زمانه لګ وو یعنې تر اداء د رکن بالا لمونځ یې صحیح دی.

قَالَ. وَیَمنع الکثیرُ فی الکثیر. او مانع د صحت د لمانځه دي انکشافِ کثیر چې ربع قدر وي په ډېره زمانه کښې یعنې تر اداء د رکن بالا. **پوهه سه** : چې اعتبار د غلرې د عورت مذهب دی د امام اعظمؒ او امام محمدؒ او ابویوسفؒ وائي چې اعتبار اکثر لره د عضوې دی یعني کې اکثر د عضو عورت لګ وُو. لمونځ یې نه دی رَوا. اوکې تر اکثر د عضو العورة کم لګ وو که څه هم تر ربع العورة بالاوی لمونځ یې روادی. والاحتیاطُ فی قولهما کذا فی المنتفی ودر"

د عورت تحقیق

پوهه سه : چې زنګون سره د ورانه یوه عضو ده فی الاصح. اولبعض علماء وائي چې رکبته

جلا عضوه ده او ران کبته جلا. او کښته بند د لاس د بنځې تبع د بازو دی. یعنې دا دوه عضو واحد دی. او ځنګل د بنځې تبع د مړوند ده یعنې هما عضوٌ واحدٌ، او بجلکه د بنځې تبع د پنډۍ ده.

او غوږونه د بنځې د سر نه جلا عضو مستقل دی. او سر یه جلا عضوه ده د بنځې" او د بنځې تی چې کښته ځړېدلي وي لکه د میړه والا بنځې عضو مستقل دی. او ځګر یې جلا عضوه ده. او کې تی جګ ولاړ وو لکه د پېغلې جنلۍ هغه د ځګر تابع دی یعنې دواړه یوه عضوه ده. او ذکر د نر جلا عضوه ده. او خوټې د نر مستقله عضوه ده. په صحیح روایت کې او بعض فقهاء وائي چې غر او خوټي مجموع یو اندام دی. او ما بین د نو تر سیوخې پورې یو عضو کامل دی شا وخوا. او هر کناټي جلا عضوه ده. او کُنه جلا عضوه ده فی الصحیح. اولبعض علماء وائي چې مجموع یوه عضوه ده" کذا فی المراقی مع زیادةٍ، در" قَالَ الْمُصَنِّفُ :

وَلَوْتَفَرَّقَ الْاِنْکِشَافُ عَلٰی اَعْضَاءٍ مِّنَ الْعَوْرَةِ وَکَانَ

که چیرې جلا جلا وو لګ والی پر اندامو د عورت مثلًا یو نیم حصه د فرج د بنځې لڅه وه. او یو څه

جُمْلَتُہَا تَفَرَّقَ یَبْلُغُ رُبُعَ اَصْغَرِ الْاَعْضَاءِ الْمُنْکَشِفَةِ مَنَعَ وَاِلَّا فَلَا

یه شا لڅه وه. او یو څه یه ورون لګ وو او یو څه یه پونړۍ لڅه وه. او دا ټول لګ ځایونه چې جمله یې کړي تر غلرمې د هغه کښې د اعضاء منکشفه پورې رسیدی منع کوي صحت د لمانځه مثلًا په مثال مذکور کې دا مجموع لګ ځایونه څوغلرمې حصې د فرج رسیږي او د غې بنځې لمونځ نه دی صحیح، او که غلرمې حصې د کشف اندام ته رسیدلې مانع د لمانځه نه دی یعنې لمونځ د غې بنځې روادی. مثلًا یو درهم قدر یه یو کناټي لګ وو او یو درهم قدر یه بل کناټي لګ وو. او یو درهم قدر یه شا لڅه وه چې د دې ټولو څخه د کناټي یا د ملا غلرمه نه جوړیږي لمونځ یې روادی. قال المصنف ...

وَقَدْ کَتَبَهٗ بِقَلَمِهٖ اَحْقَرُ فضل الحق حقانی مدرس بجامعة تجوید القرآن کوئٹه

Maktaba Tul Ishaat.com

وَمَنْ عَجَزَ عَنْ اِسْتِقْبَالِ الْقِبْلَةِ لِمَرَضٍ اَوْعَجَزَ عَنِ النُّزُوْلِ

که څوك عاجزه سو د مخامخ کيدو څخه دقبلې شريفې يعنې بچپل قدرت سره په سبب ناجوړئ

عَنْ دَابَّتِهٖ اَوْخَافَ عَدُوًّا فَقِبْلَتُهٗ جِهَةُ قُدْرَتِهٖ وَاَمْنِهٖ

اويا عاجزه سو د راکښته کيدو څخه دهغې دابې چې دی پرسپورو و يعنې بچپله اويا راکښته کيدای سوای. لکن دابه يه سرکښه وه اويا دی سپين ږيری وو چې بچپله بيا نه سوای سپری دای بيله کومکی. اويا دُدښمنه څخه بيريدی. که هغه دُښمن انسان وی اوکه درنده وی. او بيره يه پرځان وه يا پردابه وه. يا پرمال وه. او يا پرېوامانت شوی چې دده سره وو. اويا دی تښتيدی د دښمن څخه سپور» پس قبله دهغه سړي هغه طرف دی چې دی قدرت پرلري. داخو يه ماسوا کی دخائف دا جهت دئ. او په خائف کی هغه طرف دی چې دی په هغه خوا مخ گرځولو کښې په امن وي. ددُښمن څخه»

مسئله: که څوك بيريدی چې مابه دښمن ووينی که زه لمونځ په ولاړې وکړم نو دی دې لمونځ وکړی. او که بيريدی که لمونځ په ناستی کوم دښمن می وينی لمونځ دی په پروتی وکړي په اشاره سره وجهت ته دامن وکړی»

مسئله: که څوك پرکښته کيدو دابې يا پرسپريدو د دابې مثلاً قادر وو په کومك دبل سړي او بل سړی هم وو چې دده سره کومك وکړي. امام اعظمؒ ابوحنيفه دی قادر نه بولي په قدرت د غير. لمونځ يه روادئ. او يا ران وائي چې قدرت دغير معتبر دی حتیٰ چې دی قادر دی لمونځ يه نه دی روا. او که څوك کومکی نه وو لمونځ يه په اتفاق سره روادئ. **مسئله**: که څوك د دښمن څخه تښتيدی پياده لمونځ يه نه دی روا.

مسئله: که سپاره سړي چې پرنزول نه وو قادر دابه لکن دابه يه درولای سوای نو دی دې په اشاره لمونځ وکړي او دابه دی ودروی. او کی نه سوای درولای نو دابه دی روانه وی لمونځ دی په اشاره کوي. او مخ دی وقبلی ته گرځوي که قادر وو. او که نه

وو قادر فَاِلٰى اَىِّ جِهَةٍ صَلّٰى صَحَّ صَلٰوتُهٗ » او بوه سه چې دا تول احکام دفرضي لمانځه دی. او نفلی لمونځونه پر دابه بيله عجزه په صحرا کښې په اتفاق روا دي. وهكذا حال السنن »، ط در، م. قَالَ المصنفؒ:

وَمَنْ اِشْتَبَهَتْ عَلَيْهِ الْقِبْلَةُ

که پرچا پوښيده سوه جهت دقبلې مثلاً تاريکه وه په شپه کی. او ډيری توری وريځې وی په ورځ کی چې نه لمر معلوميدی او نه سايه. **مسئله**: که لمر بکاره وی لکن سړی لکه وريځې چې احستی وي. په علاما تو د قبلی نه پوهيدی. نو يه دی جهل سره دی معذور گڼل کيږي. او د تحري (فکرولو) اجازه ورته سته او که نه. لبعض علماءٌ وائي چې بيا يا د تحري اجازه نه لري. لکن ظهيرالدين مرغينانی وائي چې دی معذور دی تحري دی وکړي. او جوهرة وائي چې ظاهر عبارت دقدوریؒ هم پر دغه دلالت کوي. قَالَ المصنفؒ

وَلَمْ يَكُنْ عِنْدَهٗ مُخْبِرٌ

او نه وو په حضور کی دده خبرورکونکی د جهت دقبلې چې دی پوښتنه څخه وکړي. (قيل) يا خو مخبر وو او ده پوښتنه څخه وکړه مگر هغه نه جواب ورکوئ. **مسئله**: د حضور د مخبرا نداره داده چې دی ورناری کړي هغه يه اوري **مسئله**: په ښو ولوکی د جهت دقبلې اخبار ديوه چا چې عدل وی که نروی او که ښځه که حروی که عبد» مقبول دئ. او که فاسق وو او يا مستور الحال وو نو تحري دی وکړي. او په غالب الرأی سره دی عمل وکړي »، ط، در.

مسئله: که څوك هم دغه چې قبله څخه ورکه د ه سجده تلاوت کوي. **مسئله** که د دغه سړي رايه دقبلی په باره کی يو جهت ته وه لکن مخبر عدل بل جهت وروښو نو امام طحطاوی وائي چې عمل په قول د مخبر عدل پر ده واجب دی. ولی چې اخبار تر تحري بالا دی. او په غاية البيان کی او عنايه کی وائي چې عمل په قول د مخبر مستحب دی واجب نه دئ. قَالَ المصنفؒ

وَلَا مِحْرَابَ تَحَرّٰى وَلَا اِعَادَةَ عَلَيْهِ لَوْ اَخْطَأَ

او محراب ديو مسجد هم نه وو نو دغه سړي دی بچپل فکر په جهت دقبلی ووهی

هرخوات چي د ده غالب گمان سُو هغه طرفته دی لمونځ وکړي. او ر اگرځول د لما نځه کرچيري خطاوتلی وُو. يعنی پسله لما نځه به تحري سره داو ر ته معلومه سوه چي زه په جهت کی دقبلی خطا وَتلی وم خو بيا هم ر اگرځول د لما نځه پري نسته.

مسئله: سره د محرابوليدلوده ته د تحري حق نسته ولی چي جوړول د محرابو غالبًا په حق سره وي. **مسئله:** که څوك دهغه ځای سړي نه وو او اهل علم بالقبله هم نه وو. د بل سړي اخبار ته اعتبار نسته بلکه دی به تحري کوی لمونځ به ادا کوی. اوکه دوو کسانو چي هغه هم مسافران وه په مثل د ده دهغو اخبار ته هم اعتبار نسته ولی هغه کسان هم د اجتهاد څخه خبری کوی. نو دی د بے خپل اجتهاد د بل د اجتهاد په سبب نه پريږي دی. او په فتاوٰ اخانيه کی وائي چي سره د محرابه دی هم تحري وکړي ولی چي دا محرابونه سوي په د محراب د مدينی منوّري په وحی سره نه دی ثابت.

لکن دا خبره خلاف د ټولو کتابو څخه دی اود غه رنګه مخالف د هغه قوله سره د مَا رَاٰهُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَسَنًا فَهُوَ عِنْدَ اللهِ حَسَنٌ **مسئله:** مصنفؒ په مراقی کی وائي چي پردغه سړي چي دقبلی جهت څندی ورک دئ ټکول د دروازو دخلګو نه دی لازم د پاره دمعلومات دجهت دقبلی. **مسئله:** يو سړي د ماښام په وخت کی مسجد ته ورغلی او په مسجد کی تا ريکه وه نويو طرفته ئي لمونځ وکړي چي ده لما نځه څخه فارغه سُو يوبل چراغ راوړي دی مصلی چي رڼا سوه و ر معلومه سوه چي لمونځ دې غيرته دقبلی کړي دی، که دې سړي په اول وار کښی تحري کړي وه لمونځ يه صحيح دی او ر اگرځول د لما نځه ور باندی نسته. او کی تحري نه وه کړي لمونځ دی را وگرځوي. ط، در،

سوال: دی سړي به پر ديوال لاس کړه ولی وای او محراب به ئي څما نته معلوم کړي وای **جواب:** مصنفؒ په مراقی کی وائي چي د لاس تير ول پر ديوال باندي پردغه سړي لازم نه دئ. يو خو دی سببه چي نه بايد چي پر ديواله يو لړم وغيره نه وي. او بل سبب دا دی چي په اکثرو مسجد وکی محراب مانند ه در گيانوي نو که دی لاس وه کړه وی نو بايده چي پر يو درگی به د محراب خيال راتسي.

اولمونځ پرهغه خوا وکړي. او په واقع کی به هغه دقبلی جهت نه وي.

مسئله: صاحب الهدايهؒ په تجنيس کی وائي او په مزيد کی هم ورته مسئله راغلی ده. چي يو سړي په ستر گو ړوند وُو په مسجد کی پر لما نځه ودريدی وخلاف ته دجهت دقبلی. يو ركعت چي وکړي يو بل سړي راغلی او ړوند يه پر قبله برابر کړي او بيا يه اقتداء هم پسی وکړي. نو دا مسئل دوه اړخه لري. يو خو دا دی چي ړوند چي پر لما نځه ودريدی دا سی څوك وو چي ړانده پوښتنه دقبلی څندی کړي وای او که څوك نه وو،

په اول صورت کی دړانده لمونځ هم فاسد دی اود مقتدی دا هم، ولی چي ړانده خو قدرت درلودی چي وقبلی تی لمونځ کړي وای په پوښتنه سره. او په صورت دړانده لمونځ صحيح دی لعدم القدرة. اود مقتدی لمونځ نه دی صحيح. ولی چي ده ته معلومه سوه چي امام يعنی ړوند په ابتداء کښی د لما نځه پر خطا وو. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَاِنْ عَلِمَ بِخَطَائِهٖ فِیْ صَلٰوتِهٖ اِسْتَدَارَ وَبَنٰی اوڅوك چي قبله څندی ور که وه بخپل خطاء وپوهيدی په لما نځه کی نو دې دئ وگرځي وقبلی ته او برکړي لما نځه دی بناء وکړي. يعنی هغه کړي لمونځ يه صحيح دئ. **مسئله:** که دسړي اجتهاد دقبلی په باره کی په لما نځه کی بدل سو هم به گرځي وهغه بل طرفته، ط،

پوښتنه: چي دا اجتهاد بدل والی دا سی دئ لکه نسخ، نو څکه اهل د مسجد قباء چي لمونځ په بيت المقدس کا وه او دوئ نا خبروه چي قبله وکعبی شريفی ته واوښتل نو يو سړي ودوی ته د لما نځه په مابين کی خبر ور کړي چي د بيت المقدس قبله واله منسوخ سُو او قبله کعبه شريفه وگرځيده. نو اهل قباء په هغه لما نځه کی سره وگرځيدل او مخان ير وکعبی ته وگرځول. آنحضرت صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چي په موضوع خبر سُو دوی تی وويل چي ښه مو وکړه. رواه اصحاب السنن،

پوښتنه: څه وجه ده که يو سړي او به داود اسر پيدا کړي او تحري يه وکړه

Maktaba Tul Ishaat.com

پاکی په خیال وَرَغلہ اودس یه په تازه کړی او لمونځ یه وکړی وروسته ورته معلومه سوه چې اوبه مرداری وی فقهاءٔ تولهٔ وائي چې په پاکو اوبو دی اودس تازه کړی او لمونځ دی راوګرځوي. اوپ سړی په جامه کښی تحری وکړی پاکه یه پخیال وَرَغله نو لمونځ یه په کښی وکړی وروسته معلومه سوله چې جامه په قدرمانع دلمانځه مرداره وه. نو علماءٔ وائي چې په پاکه جامه کښی دلمونځ راوګرځوي. او قبلی په باره کښی چې تحری وکړي او یوجهت ته لمونځ وکړي او وروسته تر لمانځه ورته معلومه سی چې خطا وتلی وَم دلمانځ راګرځول پری نسته.

فَمَا الفَرق بَین التحری فی امر القبلة و التحری فی الماء، وَالثواب، **جَوَابُ** سبب دادی چې نجاست داوبو یاد جامی انتقال وطهارت ته شرعًا نه قبلوي او قبلهٔ قابله دانتقال ده ځکه قبله دبیت المقدس وکعبې ته نقل سوه ... : قالَ المصنفُ

وَاِنْ شَرَعَ بِلَا تَحَرٍّ فَعَلِمَ بَعْدَ فَرَاغِهِ اِنَّهٗ اَصَابَ صَحَّتْ

او که شروع وکړه دغه سړي چې قبله څندی دی که وَه یعنی لمونځ یه شروع کړی بیله فکره ملو تحری په جهت کښی دقبلی نو لمونځ چې پوره کړي ورته معلومه سوه کړه هم غالب الظن سره وی چې قبله دغه طرفته وَه چې ما لمونځ ورته وکړي لمونځ یه صحیح دئ. ولې چې حق معلوم سو او هغه دده اشتباه لغوه سوه نو جواز دلمانځه ثابت سو

وَاِنْ عَلِمَ بِاِصَابَتِهٖ فِيْهَا فَسَدَتْ

او که ده ته معلومه سوله چې قبله هم داغه ده چې زه لمونځ ورته کوم د لمانځه په اثناء کښی لمونځ یه فاسد سو بیرته به یې دسره شروع کوي په دلیل ددی چې په لمانځه کښی دده حال قوی سو یعنی قبله یه په تعین وپیژندله او اول د لمانځه دده په ضعیف حال چې تحری وه بناء وه. نو په شروع شریفه کښی بناء د قوی په ضعیف نه ده روا م، ط.

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِمُؤَلِّفِهٖ وَ لِكَاتِبِهٖ اٰمِيْن

كَمَا لَمْ يَعْلَمْ اِصَابَتَهٗ اَصْلًا

لکه چې فاسددی لمونځ دده چې په حق ته رسیدو په امر کښی دقبلی نه وه پوهیږي بالکل یعنی نه قبل الصلوٰة په تحری سره او نه په لمانځه کی او نه بعد الصلوٰة ولې چې فساد دلمانځه دسره ثابت سو او بیا پوره نه سو. قَالَ المصنفُ

وَلَوْ تَحَرّٰى قَوْمٌ جِهَاتٍ وَجَهِلُوْا حَالَ اِمَامِهِمْ تُجْزِئُهُمْ

که چیری دیو قوم تولو ته قبله ورکه وه او توره شپه وه نو هر یوه تحری وکړه او جهات مختلف وو تې لمونځونه وکړه او په حال دامام دوی نا خبره وه چې وکوم جهت ته ولاړدی لمونځ دټولو صحیح دئ. لکن دهغه چا لمونځ نه دی صحیح چې په جهت کی دامام تر امام مخ ولاړوي. کما فِی الصَّلوٰة حَوْلَ الکَعْبَة کَمَا مَرَّ.

په حدیث شریف کی دعامر بن عقبه رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ داسی راغلی دي چې مونږ یعنی اصحاب کرامؓ وو سره دعلیه الصَّلوٰة وَالسَّلَام یعنی په سفر کی او شپه ډیره تاریکه وه. نو مونږ هیڅ چا پردی قدرت نه درلودئ چې قبله پر کوم طرف ده نو هر سړي دا لمونځ پر خپل طبعیت وکړي یعنی هر سړی تحری وکړی او لمونځ یه وجهت ته د تحری وکړی یعنی جهات مختلف وو ته. وروسته معلومه سوه چې مختلف وه او غالبًا به دغه لمونځ په امامت د آنحضرت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وو. او حال د توجه دده هم نا معلومه وُو چې سحار سو مونږ داموضوع په حضور کښی دعلیه الصلوٰة وَالسلام عرض کړه. نو دا ایت نازل سو فَاَیْنَمَا تُوَلُّوْا فَثَمَّ وَجْهُ اللّٰهِ:

درعلیتی وائی سه غرض نقشیست کزما یاد ماند: ... تی را نمی بینم بقائی: مگر ... لی روزی رحمت: کند درحق این مسکین دعائی: چون بقبرم بگذری دامن کشان: از سر ... المجری بخوان:

سه داکتاب به اِنْ شَاءَ اللّٰهُ وسیله کیږي: د عُبید عاصی، هندو کی بن... ورو کی ... :
سه اُحِبُّ الصَّالِحِيْنَ وَلَسْتُ مِنْهُمْ: لَعَلَّ اللّٰهَ يَرْزُقْنِي ... :
بخپل وفضل وکرم ما ته بخښ وکړي خدایه: ته غفور او رحیم او مهربان ... خدایه.

داخدمت دعلم دین چې زه کومه ؛ شاید دا به ؒ شفیع وګرځومه ؛
کہ اہل علم گفتہ اند۔ بہ بہانہ می بخشد ؛ بہ بہانہ می بخشد ؛
داخدمت زما خوارد بخښنې بهانه نه کړې ۔ چې بهاد عبادت خوارله نشته

بنهانه بنووَنه

درویش وائی چې تردی ځایه پورې **اول جلد د نورالایضاح** په توفیق سره دمولی جَلّ سُلطانهٗ پوره سُو او **دوهم جلد** د فصل فی واجبِ الصَّلوٰة، څخه شروع کیږي. او اِن شآء اللّٰهُ العزیز هغه به هم ژر تر ژره د عقیدی تمنداو په حضور کښې پیش سی په توفیق د ربّ جَلّ وَعَلا :

پوښتنه تر سره د کلان سالی خېل۔ ولی په علمی خدمتو کښې ځان ته تکلیفونه اوبد خوابي ورکوی خصوصًا د مختصرو کتابو د عقائدو، لکه نور ظلم، ابوالمنتهی، او یا د فقهی۔ لکه شروط الصلوٰة، قدُوري او نورالایضاح په پښتو کولو کښې۔ **جواب**: ما ډیر وارُونه عرض کړي او دا باعث مې بیا ن کړی لکن بیا هم د پوښتنې په اثر عرض کوم چې هیڅ مَدان باعث خدمت دی دعربي کتابو د زده کوونکو چې بعض مغلق ځایونه ورته په سلیسه عربي ژبه ورته آسانه کړم۔ او بل سبب دا دی چې دَخپل قوم پښتنو په مورنۍ ژبه دین یعنی عقائد داهل السنة والجماعة او احکام د فقهی موافق د مذهب سره د امام اعظم رحمة الله علیه او ده شاګردانو او د ده مذهب د مجتهدانو رحمهم اللّٰهُ بیان کړم۔ چې د هر خوانده نر او ښځې د پاره دا کتابونه د کور استاذ وګرځي۔ اِنْ شآءَ اللّٰهُ العزیز۔
او په دی باب کښې ما عاجز ته ډیر خطونه د، اَحْسَنْتَ ،، را رسیدلی دي هم د نرو ورونړو دخوا او هم د ښځو خوندو دَخوا۔ نو زه به یو لیک د رته خپور کړم او تاسی به ئی مشت نمونه خروار ،، وبولی۔ دا لیک ما ته د سعودی عربستان څخه د مدینې منورې څخه رالیږلی ...

دینی ورور را استولی دی۔ چې نوم یې حاجی عبدُ الستار دی او اصلًا د قندهار دی او دا ډیر کلونه تخمینًا ۲۲ کاله په مدینه منوره کښې سره د اهل و عیال اوسیږی خط دا ئی

دحاجی عبدُ السّتار د خط متن

دعا او سلام دَ طرف څخه د عبد الستار و خپل ګران مهربانه ورور او استاذ ،، مولوی حاجی مُلا عُبیدُ الله اخند ته دی په ښه ساعت کښې ورسیږی، موږ شکر جوړ او روغ یو ستاسو جوړتیا او روغتیا د پاک خدای جَلّ جلالهٗ څخه همیشه غواړم. ګرانه استاذه ستا خط را ورسیدی ډیر ډیر په خوشحاله سوم. خدای جَلّ شانه دی په دې دُنیا او آخرت کښې عوض در کړي۔ حاجی اسد الله راغلی وو او ۲ شپږ شپی یې را سره وکړی۔ او د غه خط می د هغه په لاس در واستاوه خدای دی وکړي چې در ورسیږي ګرانه استاذه ستا خط سما رماته تسلیم سو چې حاجی عبدُ الرحمٰن ته دی ورکړی وُو نو مطالعه می کړی او ډیری ډیری دعاوی می د رته وکړی او اوس غرمه ده مسجد نبوی صلی الله علیه وَسَلم ته د ماپښین د پاره ځم۔ هلته په روضه مبارکه کښې په اخلاص دعا درته کوم :،،
او هر ما ښام ورو سته تر لما نځه د ما ښام هر ما ښام دوه دوه رکعته نفل په روضه مبارکه کښې کوم او ثواب یې تا ته در بخښم او د مغفرت دعا ګانې د رته کوم خدای پاک جَلّ جلاله دی قبولی او مقبولی وګرځوی. ولی چې پخوا زموږ خپل لمونځ نه وو زده حتی چې تا زموږ د پاره دا کتابونه زموږ د مور او پلار، پخپله ژبه را ترجمه کړه۔ او موږ په هر څه پوه سوو۔ او ډیرو خلګو د غه ستا سې کتابونه را څخه وړی دی۔ او خپل کور یې وَ ئیلی دی او ډیری فائدی یې څخه اخستی دی۔ (او دا دیره درباندی مَین دي۔
او دعا ګانې د رته کوی۔ او زما ورور په امریکا کی دی ستا کتاب می ور واستاوه او تلیفون یې ورو سته را سره وکړی په تلیفون کی ستا د کتاب د مطالعی له سببه

Maktaba Tul Ishaat.com

یہ پہ تلیفون کښې د اسې ژړله چې دژړا دلاسه یې په خبرو . نه پوهیدم چې د غونډې ژړله . او بیا مې دکوټې دکتابخانې ادرس ورکړي . نو بیا انډیوال یې پاکستان ته تللی وو . اوستا ګرده کتابونه یې ورو وړه - او په سویډن کې زما اخښی دی . هغه ترې هم ستا کتابونه دپاکستان دلارې ور واستول .

ګرانه استاذه ! داخومره خدمت دی چې تا دی بیوزلو پښتنو ته د اسلام په لاره کې کړی دی دخدای جَلّ جَلاله څخه مې ته اوستا ټوله خاندان اولاد په دنیا او اخرت کښې کامیابه او بریالی غوښتی یاست ، که برنه په رښتیا درویش یم د رسول الله صلی الله علیه وسلم . او هم دې همیشه بنه ژوند دخدای جل جلاله څخه غواړم .

ګرانه استاذه ما ۵ پنځه دعطر وښیښې در واستولې . یوه غټه ښیښه دهغه کتاب فروش ده چې ستا سره یې په کتاب کښې دخط دنوښتنه کولو خدمت کړي دی او کوي یې (مراد قاری محمود خطاط اعظم مولوی فضل الحق صاحب دی) او زما سلامونه هم ورته ووایه . او د استا دغه دعا ګانې د مدینې منورې بسته . او څلور ښیښې ستا دې . ګرانه استاذه ما به دې شیان در استولی وای خو حاجی اسدالله ویل زما بکسه کښې ده یو څو کښنې شیان را کړه . نو ځکه مې دا لږ تحفه در واستوله

ګرانه استاذه !

د ماخستن اذان دحرم شریف نارې سو اوزه ستاسې په دغه خط مشغوله یم . او س به د لمانځه دپاره حرم شریف ته ځم په نامه به خپل استاذ یاد کړم . او وه سرور کائنات رحمۃ للعلمین صلی الله علیه وسلم ته به دخپل استاذ سلامونه ورانډې کړم . او ورته وایم به چې ژړا ژړا چې د ۲۲ کاله چې سلامونه در لیږم والله او ښلی ی بهیږی . خدای جل جلاله می دې دغه محبت نه کموي . فقط

حاجی عبدالستار درویش

ګرانو لیدونکو او مطالعه کوونکو دا یو مختصر خط وو چې ما وه ننګرته وسپاره . په سبب

ددې چې دپاکې روضې څخه دمدینې منورې د آنحضرت صلی الله علیه وسلم دیوه عاشق دخوا راغلی وو . له چیری عاصی ته ولې مکتوبونه چې درویش ته راغلی وننګرته وسپارل دیری ورتې بر اشغال کړي بیت ؎ تا طبع نازکت نزید ملالتی . آن به که نامه بدعا مختصر کنم .

خواجه عبد الله انصاری الهرویؒ رحمۃ الله علیه میگوید ؎

دلا در کار خود میکن نظرها : که در راه توی بینم خطرها : کشا از خواب غفلت چشم بیدار : بگوش هوش گویم خبرها .

نگر در خلق گورستان فگنده .

زیک تیری فنا جمله سپرها .

لباشاکان مه روبند در خاک : که از ایشان درجهان مانده اثرها .

معاصی زهر قهر است ونموده : بکام نفس تو همچون شکرها .

گذرگاه است این دنیای فانی .

نماند مرد عاقل در گذرها .

چو در پیش است مرگ ای پیر انصار : تماشای جهان کن در سفرها .

اللهم اغفر لکاتبہ ولمؤلفہ ولجمیع المؤمنین آمین

وقد کتبہ فضل الحق حقانی غفرلہ الباری

فی ۲۴-۹-۱۴۲۱ھ ۲۲-۱۱-۲۰۰۰ء

مَکتَبۃُ القِراۃِ وَالتَّجوِید

کانسی روڈ شالدرہ - کوئٹہ

د عقیدتمندانو د پاره او هغه کسان چې
معلومات پوره نه لري، د درویش محمد عُبید الله ایوبي
د تصنیفاتو نومان تر سنه ۱۴۲۲ھ ق پورې.

دحضرت ایوبي د تصنیفاتو نومونه

في علم التفسیر (۱) حاشیه بیضاوی درسي. په عقائدو کی. (۲). نورظلم (۳) ابو المنتهی دواړه پښتو. (۳) عصمت الانبیاء عربي پښتو (۴) البیانات الصادقه في بیان الوهابیه، پښتو، پارسي، عربي، (۵) حاشیه پر شرح عقائد (۶) حاشیه پر خیالی ۷ حاشیه پر میر زاهد امور عامه. پر تاریخ کی. ۸ شهادة الحسنین،

په علم فقه او اصول الفقه کی. ۹ شروط الصلوٰة پښتو ۱۰ قدوری صلوٰة پښتو، ۱۱ نورالایضاح ۲ دوهم جلد پښتو ۱۲ نورالایضاح اول جلد. ۱۳. حاشیه پر څو اوراقو د هدایه. ۱۴. حاشیه پر اصول الشاشي. ۱۵. حاشیه پر مسلم الثبوت، ۱۶. حاشیه پر تلویح.

په عروضو کی ۱۷ حاشیه پر مختصر الشافی. په تصوفو کی. ۱۸ حاشیه پر هدایة النافع. په میراث کی ۱۹ حاشیه پر سراجي. په علم حساب کی. ۲۰. حاشیه پر خلاصة الحساب. په ریاضی کی. ۲۱. حاشیه پر تصریح ۲۲. شرح د تصریح ۲۳. حاشیه پر رساله قوشجیه ۲۴. حاشیه پر بست باب. ۲۵ په تبلیغ کی. ۲۶. البلاغ المبین، په علم صرف کښی ۲۷ حاشیه پر مراح ۲۸. حاشیه پر شافیه. په دعاوو کی. ۲۹ مجربات ایوبي (۳۰) وظائف ایوبي» په حکمتو کی ۳۱ حاشیه پر هدایة الحکمت. ۳۲. حاشیه پر صدرا ۳۳. حاشیه پر میبذی ۳۴. حاشیه پر تحریر اقلیدس. په نحو او معانی وو کی ۳۵ حاشیه پر شمه. ۳۶ حاشیه پر هدایة النحو ۳۷. حاشیه پر کافیه. ۳۸. حاشیه پر شرح جامیؒ ۳۹. حاشیه پر عبد الغفور ۴۰. حاشیه پر مطول. په منطق کی. ۴۱ حاشیه ایساغوجي ۴۲. حاشیه پر میر ایساغوجي. ۴۳. حاشیه پر بدیع المیزان ۴۴. حاشیه پر قطبي.


۴۵. حاشیه پر کندیه. ۴۶. حاشیه پر میر زاهد قطبیه ۴۷. حاشیه پر مرزا جلال ۴۸ حاشیه پر حمد الله ۴۹ حاشیه پر قاضی سُلم. په فقر کی. ۵۰ د قدوری نکاح د پښتو. په معانی وو کی ۵۱ حاشیه پر تلخیص المفتاح =

هذه تصانیفی الی هذا الاوان وارجو من الله تعالیٰ
ان یوفقنی مزید التوفیق لتالیف
الشروح الاخر والله الموفق
والمعین والحمد لِلّٰهِ
رب العٰلمین ط
مع الصلوٰة علیٰ سیدنا سید المرسلین محمد واٰله وصحبه اجمعین برحمتك
یا ارحم الراحمین.

نکاح قدوری
مع مسائلِ پښتو

تالیف
ابوالفضل علامه محمد عُبید الله الایوبي

ترتیب وتحریر
احقر فضل الحق حقاني
جامعه تجوید القرآن کوئټه



Maktaba Tul Ishaat.com

اِعلان

خبرتیا

لتجار الکتب وغیرهم

الحمد لله وکفٰی والصلوٰة والسلام علٰی من به الاقتداء والاهتداء وعلٰی آله وصحبه اجمعین.

گرانو کتابفروشانو! په احترام سره تاسی ته عرض کوم چی داکتاب شرح د نورالایضاح په پښتو ژبه د درویش محمد عبید الله مستقل تصنیف او ډیر جان فشانی می په کښی کړیده.

اوبیا په کتابت دده جناب محترم قاري فضل الحق صاحب خوشنویس ډیره عرق ریزی، شب وروز کړی ده. او بیا ډیر رقم یې په خرڅ کړی دی لهذا ما حقوق د طبع وقاري صاحب مذکورته ورهدیه کړی دي.

نو بناءً علٰی هذا هیڅ څوك د طبع ددی کتاب نه لري بلکه هرخونسخی چې دچا په کار وی د قاری مذکور په مراعاتی توګه را نیسی.

او که څوك خلاف ددغه اعلان وکړی نو هغه دقت نولی اوشرعی او پښتنی ستوتجوسره مخامخ سی. هم زما دخوا او هم د کاتب دخوا.

وما علینا الا البلاغ المبین.

د نورالایضاح پښتو د مضمونونو فهرست

د نور الایضاح پښتو د مضمونونو فهرست

د نور الایضاح پښتو د مضمونونو فهرست

Maktaba Tul Ishaat.com

دنور الایضاح پښتو د مضمونو فهرست

دنور الایضاح پښتو د مضمونو فهرست

دنور الایضاح پښتو د مضمونو فهرست

دنور الایضاح پښتو د مضمونو فهرست

Maktaba Tul Ishaat.com

دنور الایضاح پښتو د مضمونونو فهرست

حقانی کمپیوټر سنټر

دکتابت دا لویه اداره ستاسو

داعلی کتابت، پښتو، فارسی، عربی، اردو، انگریزی

دپاره پرانستل سویده. ترڅو هر قسم کتابونه

چاپ ته وسپاری"

مسئول چلوونکی
محمد فضل الحق حقانی

کتبه بقلمه
احقر حقانی غفرله

دَحضرت ایوبؒ دخط متن

اعلان «خبرتیا» لتجار الکتب وغیرهم

الحمد لله وکفٰی والصلوٰة والسلام علی من به الاقتداء والاهتداء وعلی آله وصحبه اجمعین

ګرانو کتابفروشانو ته په احترام سره تاسی ته عرض کوم چې

دا کتاب شرح د نور الایضاح په پښتو ژبه درویش محمد عبید الله سعید

مستقل تصنیف او ډېره جان فشانی ئې پکښې کړې ده

او بیا په کتابت ددی جناب محترم قاری فضل الحق صاحب خوشنویس ډېره

عرقریزی «شپه وروځ کړې دی» او بیا ئې ډېر رقم خرچ پرې کړې دی

لهذا ما حقوق د طبع وه قاری صاحب مذکور ته ورهدیه کړې دي»

نو بنا علیه هیڅ څوک حق د طبع ددی کتاب نه لري بلکه هر څو نسخې

چې ده چاپ په کاروی د قاری مذکور په مراعاتی نرخ ګه راشی

او که څوک خلاف ددغه اعلان وکړې نو بیا به د قانونی اوښتی چې

او پښتنې سره به نش مخامخ سی هم زما د خوا او هم د کاتب د خوا

وما علینا الا البلاغ المبین

محمد ایوب قندهاری عفرله

[illegible]

مکتبه القراءت والتجوید کوئټه

Maktaba Tul Ishaat.com